# مظاهر حق

## د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوي رحمه الله

پښتو ژباړه

مولانا عبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

څلورم جلد ۴

۱. حدیث شریفو ته د اعراب ورکړه
۲. تحت اللفظي ترجمه
۳. د حدیث شریفونو تشریح
۴. د لغاتو حل

کتاب فضائل القرآن

کتاب الدعوات

کتاب المناسک

# مظاهر حق جديد

د مشکوه المصابیح پښتو شرحه

څلورم جلد

۴

**تالیف**

علامه نواب محمدقطب الدين خان دهلوي رحمة الله عليه

**تزئین اوترتیب**

مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

**ځانګړتیاوي**

١ : حديثونه د اعراب سره.

٢ : تحت لفظي ترجمه.

٣ : د حديثونو تخريج.

٤ : د لغاتو حل .

**مباحث**

کتاب فضائل القرآن

کتاب الدعوات

کتاب المناسک

صداقت کتب خانه

بسم الله الرحمن الرحيم

(د مشكٰوة المصابيح پښتو شرحه)

# مظاهر حق

**تاليف:** نواب محمدقطب الدين خان دهلوي رحمة الله عليه

**ترتيب او تزئين:** مولاناعبدالله جاويد غازي پوري (فاضل ديوبند)

**خپرندوی:** صداقت خپرندويه ټولنه

**پښتو ژباړه:** محمد رسول سعيد

**تصحيح کوونکي:** بسم الله رحيمي، مولوي عبدالکريم کريمي، مولوي عبدالجبار

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

**پنځم چاپ:** ۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

**د خپرونو لړ:** ۱۸۳

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**د تر لاسه کولو ځايونه:**

---

**صداقت خپرندويه ټولنه**-کندهار

اوله ناحيه، نوی سړک- کريم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

**کندهار:** صداقت خپرندويه ټولنه- ارگ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴** .

**کابل:** صداقت خپرندويه ټولنه،کوټه سنگي مينه يار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند** :تاج منور خپرندويه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندويه ټولنه.ننگرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتيکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

# د مظاهر حق څلورم جلد فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

# كِتَابُ فَضَائِلِ القُرآن

## (د قرآن کریم د فضائلو بیان)

قرآن کریم څه شي دی؟ دا تر ټولو هغه مقدس او عظیم کتاب دی چي د الله تعالی له خوا د انسانیت د ټولو آخر او تر ټولو عظیم لارښود رسول کریم ﷺ باندي نازل سو چي د ظلم او جهل په تیارو کي د نور ځلانده کونکی او د کفر او شرک د تابوت آخري میخ د پوره انسانیت لپاره د الله تعالی له خوا نازل سوی تر ټولو آخري او ټولو جامع قانون دی او حبل متین (ټینګه رسی) ورته ویل سوي دي.

د قرآن کریم د عظمت او برتری، فضیلت او رفعت لپاره همدا بس دي چي دا د الله تعالی د مځکي او آسمانو د مالک او د لوح او قلم د خالق کلام دی د ټولو عیبونو او نقصو څخه پاک دی د فصاحت او بلاغت هغه آخري نقطه عروج دی چي لوی تر لوی فصیح او بلیغ ددې په وړاندي کوچنیان معلومیږي، د علوم او معارف، فکر او دانش هغه کوه همالیه دی چي د دنیا د لوي مفکر، فلسفي، دانشور او د فکر د خاوندانو نظرونه ددې په مخکي کي ټیټ دي.

د قرآن کریم د تلاوت او ویلو ثواب د بیان اړ نه دی ټول علماء پر دې متفق دي چي هیڅ ذکر او تلاوت د قرآن کریم څخه زیات ثواب نه لري په خاصه توګه په لمانځه کي ددې د قرائت ثواب دومره زیات دی چي د تحریر د دائرې څخه وتلی دی، د قرآن کریم د تلاوت پر وخت د هر حرف په عوض کي لس نیکۍ او په لمانځه کي د هر حرف په عوض کي پنځه ویشت نیکۍ لیکل کیږي.

د قرآن کریم ویل بنده ته د الله ﷻ قرب بخښي، زړه د عرفان الهي او ذکر الله په نور سره منور کوي او د قیامت په ورځ به د الله تعالی په دربار کي شفاعت کوي.

د قرآن کریم د تلاوت ستر مقصد دادی چي هغه تفکر او تذکر یعني د دین او آخرت د امور یادوني ته د توجه باعث دي او د زیات تلاوت په وجه الهي احکام یاد او مستحضر وي تر څو عمل په وکړل سي او عبرت تر لاسه کړل سي، د تلاوت مقصد دا نه دی چي محض اواز او حروف بنه کړل سي او د زړه غفلت په تیارو کي پروت وي کوم څوک چي قرآن کریم وایي مګر عمل نه په کوي نو قرآن د داسي سړي دښمن وي ځکه په حدیث شریف کي راځي چي:

ځيني خلک داسي دي چي قرآن کريم وايي او قرآن پر هغوئ لعنت وايي ځکه چي قرآن کريم يوازي د ويلو شي نه دی بلکه اصل پر هغه عمل کول دي او کوم څوک چي قرآن کريم وايي مګر عمل نه په کوي هغه لکه د قرآن کريم سپکاوی چي کوي نو قرآن کريم ويل او په هغه عمل نه کول به د هغه په حق کي د آخرت د تاوان او نقصان دليل وي.

په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چي تفکر او تذکر او د معنی فهم هغه وخت تر لاسه کېدای سي کله چي په کراره ، ترتيل او د زړه په حضور سره قرآن کريم ويل کيږي ځکه د قرآن کريم تجويد لازم دی او د قرآن کريم ويل مشروع سوي دي ، د فقهي په کتابونو کي مذکور دي چي د قرآن کريم د حق ادا کولو لپاره دا بس دي چي په څلوېښت ورځو کي يو وار ختم کړل سي بلکه په يو کال کي قرآن کريم ختمول هم کافي دي او په عباداتو مثلا تراويح وغيره کي هم يو وار قرآن کريم کم از کم په اووه ورځو کي ختمول پکار دي او څومره چي تر دې په کم وخت کي ختم کړل سي نو غوره دی.

کوم څوک چي په عربي ژبه باندي د نه پوهېدو په وجه د قرآن کريم په معنی نه پوهيږي هغه ته پکار دي چي د زړه په حضور سره د قرآن کريم تلاوت پيل کړي او په خپل ذهن کي دا خيال وساتي چي دا د الله تعالی کلام دی او په دې کي هغه احکام دی چي پر انسانانو يې نازل کړي دي او هغه په داسي عاجزي سره کښېني او تلاوت وکړي دا چي هغه قرآن کريم نه وايي بلکه د احکم الحاکمين کلام اوري.

## د تلاوت ادبونه

قرآن کريم د الله تعالی د کلام او الهي دربار څخه د نازل سوو الفاظو ټولګه ده ددغه کلام نسبت چي چا ته سوی دی هغه د حاکمانو حاکم، د پاچاهانو پاچا او د ټولو کائناتو مالک دی، د قرآن کريم د تلاوت په وخت کي د هغه ادبونو خيال ساتل پکار دي کوم چي ددغه کلام او صاحب کلام د عظمت د شان سره سم وي ځکه نو مناسب دي چي دلته د تلاوت د ادبونو ذکر په وضاحت سره وکړل سي.

۱. تر ټولو مخکي د مسواک سره اودس وکړئ.

۲. تر دې وروسته پر يو پاک ځای په تواضع او عاجزي سره مخ پر قبله د خپل ځان په کم او عاجز ګڼلو سره او د زړه او د ماغ په حضور سره کښېنئ په داسي توګه لکه چي د الله تعالی په مخکي په کښېنستو سره التجاء کوئ.

۳. بيا په اعوذ باالله او بسم الله ويلو سره تلاوت پيل کړئ او په زړه کي دا تصور پيدا کړئ چي

زه د الله تعالی د کلام څخه پرته بل هیڅ نه اورم.

۴. د قرآن کریم آیاتونه په کراره، تدبر، تفکر او ترتیل سره وایاست.

۵. چیري چي د بندګانو په اړه د وعدې او رحمت آیت راسي نو په خوښي او مسرت سره دعاء غواړئ او د خپل ځان لپاره د الله تعالی څخه بخښنه او رحمت غواړئ.

٦. چیري چي د وعید او عذاب په اړه آیت راسي نو د الله تعالی څخه پناه غواړئ.

۷. کله چي د الله تعالی د تقدیس او پاکۍ آیت راسي نو تسبیح وایاست یعني کوم آیت چي د الله تعالی د پاکۍ، لویۍ او بزرګۍ بیانوي د هغه په ویلو سره بیان ووایاست.

۸. د تلاوت په مینځ کي الحاح او زارۍ اختیار کړئ که چیري ژړا نه راځي نو د ژړا په ډول صورت اختیار کړئ خلاصه دا چي قرآن کریم د الله تعالی په دربار کي د حاضرۍ وخت دی ځکه د الله تعالی د عظمت او رفعت احساس په خپل ځان کي په پوره عاجزۍ، ذلت او خشوع سره پیدا کړئ.

۹. ددې هڅه مه کوئ چي قرآن کریم ژر ختم سي او تېز ویل پیل کړئ ځکه چي په فکر او غور سره کم ویل د تلاوت د ادبونو د لحاظ په وجه تر ډېر ویلو غوره دی بیا دا چي د زیات ویلو په وجه د ختم د شمېر څخه پرته نور څه په لاس نه ورځي بلکه دا یو منعه سوی کار دی، نن سبا چي کوم رواج دی چي خلک پوره قرآن کریم په یوه ورځ کي ختمول یا زیات تېز ویل فخر او د کمال خبره ګڼي دا ډېره بده او د غفلت او ناپوهۍ خبره ده. د ځینو بزرګانو څخه چي زیات ویل ثابت دي نو دا د هغوئ کرامت دی په دې باره کي د هغوئ پیروي مه کوئ، خلاصه دا چي په تدبر، ذوق، د زړه په حضور او د تلاوت د رعایت سره چي څومره تلاوت وکړل سي هغه غنیمت وګڼئ.

خواجه پندارد که طاعت مي کند

بې خبر کز معصیت جان مي کند

۱۰. په کوم مجلس کي چي خلک په یو بل کار بوخت وي یا شور او رش وي هلته تلاوت مه کوئ هو که چیري د تلاوت ضرورت وي او بل ځای د تلاوت لپاره نه وي نو تلاوت کول پروا نه لري مګر په کرار اواز سره البته که چیري خلک د تلاوت د اورېدو شوق لري او پته خوله وي نو په لوړ اواز سره تلاوت غوره دی، په حدیث شریف کي راځي چي تلاوت اورېدونکی او تلاوت کونکی دواړه په اجر او ثواب کي شریک دي همدارنګه مصحف (قرآن کریم) ته په کتلو سره ویل د نه کتلو څخه غوره دي ځکه په کتلو سره سترګي او نور

اعصاب هم په عبادت کي شریک وي او د زړه حضور هم زیات تر لاسه کیږي ،

۱۱. قرآن کریم پر رئیل یا یو بل لوړ شي (مثلا بالښت وغیره) باندي ایږدئ تر څو د قرآن کریم تعظیم او تکریم څرګند وي .

۱۲. د تلاوت په جریان کي د دنیوي خبرو ، خوراک او څښاک او نورو ټولو کارونو څخه ځان وساتئ که چیري ضرورت پیښ سي نو د قرآن کریم په بندولو سره خبري وکړئ او ددې وروسته بیا په اعوذ باالله او بسم الله ویلو سره تلاوت پیل کړئ :

۱۳. د غلط ویلو څخه ځان وساتئ په ترتیل او تجوید سره بېله تکلف تلاوت کړئ او په غلطي طریقې سره د اواز او لهجې جوړولو هڅه مه کوئ ، د تلاوت په وخت کي د یو چا د تعظیم ضرورت نسته مګر د یو باعمل عالم، استاد او مور وپلار لپاره دربېدل او د هغوئ تعظیم جائز دي .

۱۴. کله چي قرآن کریم ختمېدو ته نژدې سي نو خپل قریبان، دوستان او ملګري راجمع کړئ او د هغوئ په ګډون کي قرآن کریم ختم کړئ او هغوئ ټول په دعاء کي ګډ کړئ ځکه هغه د دعاء قبلېدو وخت دی .

۱۵. د قرآن کریم ختمولو وروسته د سورة فاتحې او سورة بقره (تر مفلحون پوري) په ویلو سره قرآن کریم بند کړئ ځکه داسي کول غوره دي .

۱۶. په تکیه کولو سره یا په پروته تلاوت کول که څه هم جائز دی مګر غوره دادی چي په ادب سره په کښېنستلو تلاوت وسي .

۱۷. همدارنګه پر لاره په تللو سره تلاوت کول جائز دی .

۱۸. که چیري په ځنګل وغیره ځای کي وي نو په لوړ اواز سره تلاوت کول پکار دي.

۱۹. په نجس او چټل ځای مثلا حمام، مذبح (د حلالېدو ځای) وغیره کي د قرآن کریم تلاوت کول مکروه دی.

۲۰. د قرآن کریم تقطیع ډیر کوچني کول نه دي پکار او نه هغه په ټوټې ټوټې کولو سره متفرق کول پکار دي تر څو د هغه په احترام او عظمت کي کمي رانه سي مګر که چیري ضرورت وي مثلا د کوچنیانو د ویلو لپاره یا دیو مناسب اسانۍ په وجه په یوه یا پنځو پارو باندي وویشل سي نو دا جائز دي .

۲۱. قرآن کریم په داسي لښکر کي وړل چیري چي پر امن باندي باور نه وي مناسب نه دي همدارنګه دارالحرب ته هم قرآن کریم وړل هم نه دي پکار ددې لپاره چي د کافرانو لاس ته

ورنسي او هغوئ يې بې ادبي وکړي.

۲۲. د قرآن کريم دومره آيا تونه په ياد ول چې په هغو سره لمونځ ادا سي پر هر مسلمان فرض عين دي او پوره قرآن کريم يادول فرض کفايه دی که يو سړی يې په ياد کړي نو د ټولو ذمه ساقط کيږي، فقهاء ليکي چې د سورة فاتحې او يوه سورت يادول پر هر مسلمان واجب دي او د پاته قرآن کريم يادول او د هغه احکام پېژندل او زده کول تر نفل لمانځه غوره دي.

۲۳. قرآن کريم ته پښې غزول مکروه نه دي په شرط ددې چې د پښو سره برابر نه وي، همدارنګه که چيري قرآن کريم پر تاخ وغيره ايښی وي نو هغه خوا ته پښې غزول مکروه نه دي.

۲۴. په سفر کي د ساتني لپاره د قرآن کريم په بسته وغيره کي ايښودل او پر هغه تکيه کولو سره بيده کېدلو کي څه پروا نسته.

۲۵. په کومه خونه کي چې قرآن کريم پروت وي هلته په جماع کولو کي څه پروا نسته.

۲۶. د قرآن کريم د تلاوت څخه مخکي دغه دعاء وايا ست:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَشْهَدُ اَنَّ هٰذَا كِتَابُكَ الْمُنَزَّلُ مِنْ عِنْدِكَ عَلٰى رَسُوْلِكَ مُحَمَّدِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ اَجْمَعِيْنَ وَكَلَامُكَ النَّاطِقُ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكَ جَعَلْتَهٗ هَادِيًا مِّنْكَ لِخَلْقِكَ وَحَبْلًا مُّتَّصِلًا فِيْمَا بَيْنَكَ وَ بَيْنَ عِبَادِكَ اَللّٰهُمَّ فَاجْعَلْ نَظَرِيْ فِيْهِ عِبَادَةً وَقِرَاءَتِيْ فِكْرًا وَّفِكْرِيْ فِيْهِ اِعْتِبَارًا اِنَّكَ اَنْتَ الرَّءُوْفُ الرَّحِيْمُ رَبِّ اَعُوْذُبِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَاَعُوْذُبِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنَ.

**ژباړه:** اې الله! زه شاهدي ادا کوم چې دا کتاب تا له خوا ستا پر رسول نازل سوی دی چې د هغه مبارک نوم محمد ابن عبدالله ﷺ دی، د الله ﷻ رحمت دي وي پر هغه د هغه پر اولاد د هغه پر اصحابو او د هغه پر پيروانو او زه شاهدا ادا کوم چې ستا دا کلام ناطق دی ستا د رسول ﷺ پر ژبه دا کلام تا د خپل خوا څخه د خپل مخلوق لپاره لارښوونکی ګرځولی دی او دا دي د خپل ځان او خپلو بندګانو په مينځ کي واسطه ګرځولې ده، اې الله! ته زما نظر په دې کي عبادت کونکی زما قرائت په دې کي فکر کونکی او زما فکر په دې کي عبرت اخيستونکی وګرځوې، بېله شکه ستا ذات ډېر مهربان دی او ته ډېر رحم کونکی يې، اې الله! زه د شيطانانو د وسوسو څخه پناه غوارم او اې الله! زه د دې څخه ستا پناه غوارم چې ما ته شيطانان راسي.

۲۷. د پورتنۍ دعاء وروسته قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ووایاست او بیا دغه دعاء ووایاست:

اَللّٰهُمَّ بِالْحَقِّ اَنْزَلْتَهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ اَللّٰهُمَّ عَظِّمْ رَغْبَتِيْ فِيْهِ وَاجْعَلْهُ نُوْرًا لِبَصَرِيْ وَشِفَاءً لِصَدْرِيْ وَ ذِهَابًا لِهَمِّيْ وَ حُزْنِيْ وَ بَيِّضْ بِهِ وَجْهِيْ وَ ارْزُقْنِيْ تِلَاوَتَهُ وَ فَهْمَ مَعَانِيْهِ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

**ژباړه**: اې الله! تا قرآن په حق سره نازل کړی دی او دا په حق سره نازل سو ، اې الله ! په قرآن کي زما رغبت زيات کړې او زما د سترګو نور او زما د سينې لپاره شفا او زما د فکر او غم ليري کولو سبب يې وګرځوې ، ددې په ذريعه زما مخ منور کړې او د خپل رحمت په صدقه اې تر ټولو مهربانه ذاته ددې تلاوت زما په برخه کړې او ددې په معنی پوهېدل ما ته را په برخه کړې.

۲۸. هره ورځ د تلاوت وروسته په لاسو پورته کولو سره دغه دعاء وایاست:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ الْقُرْآنَ لَنَا فِي الدُّنْيَا قَرِيْنًا وَّفِي الاخِرَةِ شَافِعًا وَفِي الْقَبْرِ مُؤْنِسًا وَ فِي الْقِيَامَةِ صَاحِبًا وَعَلَى الصِّرَاطِ نُوْرًا وَ فِي الْجَنَّةِ رَفِيْقًا وَ مِنَ النَّارِ سِتْرًا .

**ژباړه**: اې الله ! قرآن کريم زما لپاره په دنيا کي هم نشين او په آخرت کي شافع او په قبر کي غمخوار او په قيامت کي دوست او پر پل صراط باندي نور او په جنت کي ملګری او د اور څخه پرده وګرځوې.

بيا تاسو د خپل ديني او دنيوي مقصد لپاره چي کومه دعاء غواړئ هغه ووایاست انشاء الله تعالی ستاسو هره غوښتنه به د مجيب الدعوات په دربار کي د قبوليت په شرف ونازول سي.

ابن مردويه د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ به کله قرآن کريم ختم کړی نو په ولاړه به يې دعاء کول همدا رنګه بيهقي په شعب الايمان کي د ابوهريره ﷺ څخه نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم څوک چي قرآن ووايي د الله ﷻ حمد او ثناء دي وکړي پر حضرت محمد ﷺ دي درود ووايي بيا دي د خپل رب څخه د خپل بخښني دعاء وغواړي نو ښېله شکه هغه په غوره طريقه خير او ښېګڼه وغوښتل.

بيهقي په شعب الايمان کي نقل کړي دي چي کله به رسول الله ﷺ قرآن کريم ختم کړی نو په

**دربېدو سره به يې د الله تعالى ډېر زيات حمد او ثناء بيانول او د حمد او ثناء وروسته به يې دغه كلمات ويل :**

الحمدلله رب العالمين الحمدلله الذي خلق السموات والارض وجعل الظلمات والنور ثم الذين كفروا بربهم يعدلون، لا اله الاالله وكذب العادلون باالله وضلوا ضلالا بعيدا، لا اله الاالله وكذاب المشركون باالله من العرب والمجوس واليهود والنصارى والصائبين ومن دعا لله ولدا ولصاحبه او ندا او شبها او مثلا او سميا او عدلا فانت ربنا اعظم من ان نختذ فيما خلقت والحمدلله الذي لم يتخذ صاحبة ولا ولدا ولم يكن له شريك في الملك ولم يكن له ولي من الذل وكبره تكبيرا الله اكبر كبيرا والحمدلله كثيرا وسبحان الله بكرة واصيلا والحمدلله الذي انزل على عبده الكتاب ولم يجعل له عوجا قيما لتنذر باسا شديدا من لدنه ويبشر المؤمنين الذين يعملون الصالحات ان لهم اجرا حسنا ماكثين فيه ابدا وينذر الذين اتخذ الله ولدا مالهم به من علم ولا لابائهم كبرت كلمة تخرج من افواههم ان يقولون الا كذبا، الحمدلله الذي له ما في السماوات وما في الارض وله الحمد في الاخرة وهو الحكيم الخبير، يعلم ما يولج في الارض وما يخرج منها ومابنزل من السماء.وما يعرج فيها وهو الرحيم الغفور، الحمدلله فاطر السماوات والارض جاعل الملائكة رسلا اولى اجنحة مثنى وثلث ورباع يزيد في الخلق مايشاء ان الله على كل شئ قدير، ما يفتح الله للناس من رحمة فلا ممسك لها وما يمسك فلا مرسل له من بعده وهو العزيز الحكيم ، الحمد لله وسلم على عباده الذين اصطفى آلله خير اما يشركون بل الله خير وابقى واحكم واكرم واعظم مما يشركون ، فالحمدلله بل اكثرهم لا يعملون ، صدق الله وبلغت رسله الكرام وانا على ذالكم من الشاهدين، اللهم صل على جميع الملائكة والمرسلين وارحم عبادك المؤمنين من اهل السماوات والارض واختم لنا بخير وافتح لنا بخير وبارك لنا في القرآن العظيم وانفسنا بالايات والذكر الحكيم ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم.

**ژباړه:** ټول تعریفونه الله ﷻ لره چي د ټول عالم رب دی ټول تعریفونه الله ﷻ لره چي آسمان او مځکه یې پیدا کړل او تیاره او رڼا یې جوړه کړه بیا هم دا کافران د خپل رب سره نور برابروي ، د الله ﷻ څخه پرته بل معبود نسته او هغه خلک دروغجن دي چي د الله ﷻ سره نور برابروي او ګمراه دي هغه خلک او د صحیح لاري څخه خطا سوي دي د الله ﷻ څخه پرته بل معبود نسته او هغه خلک دروغجن دي چي د اهل عرب څخه دي او اورپرسته دي یهود او نصارای او کوکب پرسته چي هغوئ نور د الله ﷻ شریک ګرځوي او کوم کسان چي د الله ﷻ لپاره اولاد یا ښځه یا همثله یا مشابه یا د هغه په ذات او صفاتو کي برابر ثابتوي نو هغوئ هم دروغجن دي او ته خو اې الله ! ددې څخه لوړ او برتر یې چي په خپل مخلوق کي یو څوک خپل سیال وګرځوې ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي چي دځان لپاره یې نه یو ښځه نه اولاد ګرځولی دی او په پاچاهي کي د هغه هیڅوک شریک نسته ، او نسته مرسته کونکي د ذلت په وخت کي او د هغه لوئي بیانوه په لوی ګڼلو سره الله ﷻ تر ټولو په لوی ګڼلو سره الله ﷻ تر ټولو لوی دی ډېر لوی او بې شمېره تعریفونه الله ﷻ لره دي او ټول شیان د الله ﷻ پاکي بیانوي په سهار کي او په ماښام کي او ټول تعریفونه هغه الله ﷻ لري چي هغه پر خپل بنده (محمد ﷺ) باندي نازل کړ چي په هغه کي کوږوالی نسته بالکل سم نازل سو چي د الله تعالی له خوا د یو سخت آفت بیره ورکړي او ایمان لرونکو ته چي نیکي کولو زیری ورکړي ددې چي د هغوئ لپاره ښه بدله ده چي په هغه کي به همېشه اوسي او هغوئ پوه کړي چي وایي الله ﷻ د ځان لپاره اولاد جوړ کړی دی-هغوئ ته ددې خبري هیڅ خبر نسته نه د هغوئ پلرونو او نیکه ګانو ته څومره بده خبره ده چي د هغوئ د خولې څخه وځي دا ټول درواغ دي چي دوئ یې وایي ټول تعریفونه هغه الله ﷻ لره دي چي د هغه په ملک کي هغه ټول شیان دي کوم چي په آسمانو او مځکه کي دي او ټول تعریفونه هغه لره دي په عالم آخرت کي او هغه د لوی حکمت خاوند او د هري خبري خبر لرونکی دي هغه په ټولو شیانو پوهیږي کوم چي په مځکه کي داخلیږي او د هغه څخه وځي او کوم چي د آسمانو څخه راکښته کیږي او آسمانو ته خیږي هغه لوی رحم کونکی او زیات بخښنه کونکی دی ټول تعریفونه هغه الله لره دي چي پیدا کونکی دی د ټولو اسمانو او مځکو او ملائکي خپل پیغام رسونکي ګرځونکی دی چي وزرونو والا دي د چا دوه وزره دي د چا درې وزره دي د چا څلور ، په خپل مخلوق کي هغه زیاتوب کوي څرنګه چي غواړي یقینا الله ﷻ پر ټولو شیانو لوی قدرت لرونکی دی څه چي الله تعالی پر خلکو باندي خپل رحمت کوي نو د هغه منعه کوونکی هیڅوک نسته او څه چي منعه کړي نو هیڅوک د هغه څخه پرته د هغه ورکونکی نه سته او هغه

زبردست او د حکمتو خاوند دی ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي او د الله ﷻ سلامتي دي وي د الله ﷻ پر هغه بندګانو کوم چي هغه خوښ کړي دي ایا الله ﷻ غوره دی یا هغه چي کافران او مشرکان یې د الله ﷻ برابر ګرځوي بلکه الله ﷻ تر ټولو غوره دی او هغه تل پاته کېدونکی ذات دی هغه ټینګ حکم والا او هغه عزت والا دی د هغه ټولو شیانو څخه کوم چي کافران یې شریک ګرځوي تر ټولو عظمت والا دی ټول تعریفونه الله لره دي مګر اکثر خلک دا خبره نه مني ، الله ﷻ رښتیا فرمایلي دي او د هغه کریم رسولانو د هغه پیغام صحیح صحیح رسولی دی او زه پر دې باندي د ټولو شیانو شاهدي ورکونکی یم اې الله ! خپل رحمت نازل کړې پر ټولو ملائکو باندي پر ټولو پیغمبرانو باندي او رحم وکړي پر خپل مؤمنانو بندګانو باندي د آسمانو د اوسیدونکو څخه او د ځمکو د اوسیدونکو څخه ، زموږ خاتمه په خېر کړې او د خیر دروازه پر موږ خلاصه کړې او برکت واچوي زموږ لپاره د قرآن کریم په علومو کي موږ ته د قرآني آیاتو او د خپل مستحکم ذکر څخه ګټه راکړې اې زموږ ربه ! زموږ دغه دعاء قبوله کړې یقیناً ته زموږ دعاوي اورېدونکی او زموږ د زړو په خبرو خبرېږې .

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ　　(لومړی فصل)

### د قران زده کونکی او ښوونکی تر ټولو غوره دی

﴿۲۰۰۷﴾: عَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ . رواه البخاري

د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي غوره هغه څوک دئ چي قرآن زده کړي او بل ته یې وښیي . بخاري

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\۷۴، رقم: ۵۰۲۷.

**تشریح**: مطلب دادی چي کوم څوک قرآن کریم زده کړي لکه څرنګه چي د زده کولو حق دی او بیا یې نورو ته وښیي نو هغه تر ټولو غوره دی لکه څرنګه چي قرآن کریم او د هغه علوم د دنیا تر ټولو کتابونو او علومو افضل او لوړ دی همداسي قرآن کریم د علومو پوهېدونکي هم د دنیا په خلکو کي تر ټولو لوړ او د هر علم پیژندونکي څخه افضل او لوړ دی .

د زده کولو د حق څخه مراد دادی چي په قرآني علومو کي غور او فکر وکړل سي او د هغه احکام او معنې او د هغه حقائق په ذهني او قلبي بیداری سره زده کړي .

## د قران زده کولو فضیلت

﴿۲۰۰۸﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ

وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ فَقَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ أَوْ الْعَقِيقِ

او موږ په صفه کي ناست وو نو وه يې فرمايل: په تاسو کي څوک غواړي چي بطحان يا عقيق (بازارو) ته هره ورځ ولاړ سي

فَيَأْتِيَ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كلنا

او د هغو څخه لوی قبو والا دوه اوښه پرته د ګناه څخه او پرته د قرابت څخه (يعني په روا طريقه) راولي موږ وويل: دا خبره موږ ټول خوښوو،

نُحِبُّ ذٰلِكَ قَالَ أَفَلَا يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَعْلَمُ أَوْ يَقْرَأُ آيَتَيْنِ مِنْ

رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي هر څوک دي مسجد ته ځي د قرآن کريم دوه آياتونه دي وايي بيا دي يې بل ته و ښيي

كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ

داسي کول د هغه لپاره د دوو اوښو څخه غوره دي او درې آياتونه به د درو اوښو څخه غوره وي او څلور آياتونه به

لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ. رواه مسلم

د څلورو اوښو څخه غوره وي او د آياتو شمير به د اوښو د شمير څخه غوره وي. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۱\ ۵۵۲، رقم: ۲۵۱- ۸۰۳.

**د لغاتو حل**: بناقتين كوماوين: اي فيحصل ناقتين عظيمتي السنام وهي من خيار مال العرب (غټ قوب لرونکي اوښان).

**تشريح**: صفه: هغه سايه لرونکې دکانچه وه کوم چي د مسجد نبوي مخته جوړه سوې وه او هغه صحابه کرام چي کور او ځای به يې نه وو او نه به يې ښځه او کوچنيان درلودل او د عبادت

او زهد لوړ مقام ته رسیدلي وه هغوئ به په دغه صفه کي اوسېدل او هر وخت به يې د نبوت د دربار څخه فیض تر لاسه کوئ لکه هغه چي د اسلام تر ټولو لومړنۍ اقامتي او روزنيز ښوونځی وه چي د هغه معلم په خپله رسول کریم ﷺ وو او د زده کونکو ډله د صحابه کرامو څخه عبارت وه.

بطحان مدینې منورې ته نژدې د یو شېلې نوم دی همدارنګه عقیق هم د یو ځای نوم دی چي د مدینې منورې شاوخوا درې یا څلور مېله فاصله باندي واقع دی په دغه دواړو ځایو کي به په هغه زمانه کي بازار جوړېدی چي په هغو کي به د اوښانو رانیول او پلورل کېدل او دا خو څرګنده ده چي د اهل عرب په نزد اوښ يو ارزښتناک شی وو په خاصه توګه د لوی بوک لرونکي اوښ، نو رسول الله ﷺ په ډېره فصیحه توګه د مذکوره سوال په کولو سره هغه شي ته رغبت ورکړ کوم چي پاته کېدونکی دی او د هغه شي څخه يې نفرت بیان کړ کوم چي په دنیوي اعتبار د هر څومره قیمت او بیه والا وي مګر په پای کي فاني او ختمېدونکی دی.

مګر دا خبره باید په ذهن کي وي چي رسول الله ﷺ د هغوئ د پوهولو لپاره یوازي د مثال په توګه وفرمایل کنه نو د دنیا ټول شیان هم د یو آیت په مقابله کي هیڅ حقیقت او قدر نه لري.

﴿۲۰۰۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُحِبُّ

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا خوښوي

أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ قُلْنَا نَعَمْ

په تاسو کي څوک دا خبره چي هغه خپل کور ته راسي نو درې غټې بلاربې اوښې خپل په کور کي تر لاسه کړي، موږ عرض وکړ موږ دا خبره خوښوو،

قَالَ فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ. رواه مسلم

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي په تاسو کي د قرآن کریم درې آیاتونه په لمانځه کي ووایي نو دا آیاتونه تر غټو بلاربو اوښو غوره دي. مسلم

**تخریج**: صحیح مسلم: ۱\ ۵۵۲، رقم: ۲۵۰- ۸۰۲.

**د لغاتو حل**: خلفات: ای حاملات (بلاربي اوښي).

## د قران کريم د ماهر فضيلت

﴿۲۰۱۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل : د قرآن ماهر د هغه ملائکو سره دئ چي بزرګي او نيکي وي يعني هغه ملائکي چي په لوح محفوظ کي د الله تعالی کتابونه ليکي، او هغه چي قرآن په بندوالي بندوالي وايي او هغه ته ويل مشکل وي نو هغوئ ته دوه برابر ثواب تر لاسه کيږي . بخاري او مسلم .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۶۹۱، رقم: ۴۹۳۷. ومسلم: ۱\۵۴۹، رقم: ۲۴۴- ۷۹۸.

**تشريح**: د قرآن کريم ماهر هغه سړی دی د چا چي قرآن کريم ښه په ياد وي او په ښه رواني يي وايي او د هغه لپاره قرآن کريم ويل هيڅ مشکل او ستونزمن نه وي ، همدارنګه د ملائکو څخه هغه ملائکي مراد دي کوم چي د لوح محفوظ څخه کتابونه راوړي يا هغه ملائکي مراد دي کوم چي د بندګانو د اعمالو پر ليکلو مامور دي .

ددغه ارشاد خلاصه داده چي د قرآن کريم ماهر د هغه عظيمو ملائکو سره دی په دې توګه چي هغه په دنيا کي د هغوئ په ډول عمل کوي او په آخرت کي چي هغه ته کوم منازل او درجې تر لاسه کيږي په هغو کي به ملائکي دده ملګري وي .

د چا چي قرآن کريم ښه ياد نه وي او هغه په درېدو درېدو سره وايي نو هغه ته دوه زيري ورکړل سوي دي يو ثواب د ويلو او دوهم ثواب د هغه مشقت چي هغه ته د قرآن کريم په ويلو کي وي ، همدارنګه د قرآن کريم د ويلو ترغيب ورکړل سوی دی مګر ددې مطلب دا نه دی چي کوم څوک په درېدو درېدو سره قرآن کريم وايي هغه د قرآن کريم د ماهر څخه زيات ثواب تر لاسه کوي ځکه د قرآن کريم ماهر ته خو ډېر زيات ثواب ورکول کيږي په دې توګه چي د ملائکو د ملګرتيا په ډول د عظيمي نيکبختي زيری ورکړل سوی دی، په هر حال خلاصه دا چي افضل خود قرآن کريم ماهر دی مګر په درېدو درېدو سره د ويونکي لپاره هم د مشقت په اعتبار يو ډول فضيلت او ثواب ثابت دی .

﴿۲۰۱۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حسد نه دئ پکار

إِلَّا عَلَى اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءِ النَّهَارِ

مګر د دوو کسانو سره : يو هغه ته چي الله تعالى قرآن په برخه کړئ وي يعني د هغه قرآن کريم ياد وي او هغه شپه او ورځ قرآن کريم وايي او عبادت کوي

وَرَجُلٌ أَتَاهُ اللهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ . متفق عليه

او دويم هغه څوک چي الله تعالى مال ورکړی وي او هغه شپه او ورځ په نيکو کارو کي خرڅ کوي . بخاري او مسلم

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۷۳، رقم: ۵۰۲۵، ومسلم ۱\۵۵۸، رقم: ۲۶۶- ۸۱۵.

**تشريح**: د حسد معنى داده چي د بل چا څخه د نعمت زوال او د ځان لپاره د هغه نعمت د غوښتني خواهش کول، حضرت ميرک رحمه الله وايي چي د حسد دوه قسمونه دي ۱: حقيقي، ۲: مجازي، د حقيقي مطلب دادی چي د يو چا څخه د نعمت د زائل کېدو خواهش وي د حسد دا ډول د قرآني احکامو او تعليماتو او حديث په اړه د ټولو علماؤ په نزد په اتفاق سره حرام دی، د مجازي مطلب دادی چي د يو چا سره د يو نعمت په لېدو د ځان لپاره هم د هغه تر لاسه کېدو خواهش وکړي بېله دې چي د هغه بل چا څخه د زائل کېدو خواهش وکړي، د مجازي حسد دغه ډول ته غبطه ويل کيږي چي هغه ته رشک (قصد کېدل) هم وايي ، حسد مجازي يعني غبطه که چيري په دنيوي شيانو کي وي نو هغه مستحب ده مثلاً يو څوک د مسجد پر جوړېدو باندي دا خواهش وکړي چي کاشکي زما سره هم روپۍ وای نو ما به هم داسي مسجد جوړ کړی وای دا قصد حسنه دي او پر دې باندي ثواب هم سته.

په هر حال دلته په حديث کي د حسد څخه مراد غبطه ده مګر په دغه حديث کي د غبطې اجازه يوازي په دوو شيانو کي منحصر کول مقصد نه دي بلکه مطلب دادی چي هيڅ نعمت تر دوو نعمتو زيات نه دی چي د هغه تر لاسه کولو هڅه وکړل سي ځکه مظهر رحمه الله فرمايي چي د هيچا لپاره دا مناسب نه ده چي هغه د بل چا سره د نعمت په لېدو د هغه نعمت د تر لاسه کولو خواهش وکړي هو که چيري هغه نعمت داسي وي چي د الهي قرب ذريعه ګرځي لکه د قرآن کريم

تلاوت، صدقه خیرات او داسي نوري نیکۍ نو دداسي نعمت د تر لاسه کولو خواهش کول بنه کار دی.

د قرآن کریم د نعمت ورکولو څخه مراد دادی چي هغه ته د قرآن کریم د تلاوت کولو او یادولو توفیق ورکړل سوی وي د هغه قرآن کریم داسي په یاد وي لکه څرنګه چي یادول پکار دي همدارنګه په قرآن کریم کي بوخت پاته کېدلو څخه مراد دادی چي د قرآن کریم تلاوت کوي د هغه مفهوم او معنی یادوي او د هغه په علومو او احکامو کي فکر او غور کوي یا دا چي د هغه په اوامرو او نواهي باندي عمل کول او یا دا چي هغه په لمانځه کي وايي.

## د قران ویونکي او نه ویونکي مثال

﴿۲۰۱۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مثال

الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ وَمَثَلُ

د هغه مؤمن چي قرآن وايي د نارنج (غټ لیمبو) په ډول دئ چي د هغه خوشبويي ښه او خوند یې خوږ وي او مثال

الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلِ التَّمْرَةِ لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ وَمَثَلُ

د هغه مؤمن چي قرآن نه وايي د هغه خرما په ډول دئ چي په هغه کي خوشبويي هم نه وي او خوند یې خوږ وي او مثال

الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ

د هغه منافق چي قرآن کریم نه وايي د مړغوني په ډول دئ چي په هغه کي خوشبويي هم نسته او خوند یې هم تریخ دئ

وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا

او د هغه منافق حال چي قرآن وايي د ریحان په ډول دئ چي بوی یې ښه او خوند یې

مُرٌّ. متفق عليه و في رواية المؤمن الذي يقرا القرآن و يعمل به كالاترجة

والمؤمن الذي لا يقرا القرآن و يعمل به كالتمرة .

تريخ دئ . بخاري او مسلم ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د هغه مؤمن حال چي قرآن وايي او په هغه عمل كوي د نارنج په ډول دئ او د هغه مؤمن حال چي قرآن نه وايي او په هغه عمل كوي د خرما په ډول دئ .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۵۵، رقم: ۵۴۲۷، ومسلم ۱\۵۴۹، رقم: ۲۴۳- ۷۹۷.

**د لغاتو حل**: الأترجة: نوع من الثمر (نارنج).

**تشريح**: د قرآن كريم ويونكى مسلمان د نارنج په ډول داسي سو چي هغه خوندور ځكه دى چي په هغه كي د ايمان نور ځاى سوى دى او خوشبويي لرونكى ځكه دى چي نه يوازي دا چي خلك د هغه د قرائت او تلاوت په اورېدو سره ثواب تر لاسه كوي بلكه د هغه څخه قرآن كريم هم زده كوي .

## د قران ويونكي او نه ويونكي درجې

﴿۲۰۱۳﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ . رواه مسلم

د حضرت عمر بن خطاب ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى ددې كتاب (قرآن) په ذريعه يو قوم لوړوي او بل قوم كښته كوي . مسلم

**تخريج**: صحيح مسلم: ۱\۵۵۹، رقم: ۲۶۹- ۸۱۷.

**تشريح**: مطلب دا دى چي څوک قرآن كريم وايي او په هغه عمل كوي نو الله تعالى په دنيا او آخرت كي د هغه درجې لوړوي په دې توګه چي په دنيا كي هغه ته د عزت او وقار ژوند وركوي او په عقبى كي يې د هغه خلكو سره يو ځاى كوي پر كومو چي يې خپل انعام كړى دى ، داسي سړى چي نه قرآن كريم وايي او نه عمل په كوي د هغه درجې كښته كوي.

## د قران اورېدو لپاره د ملائكو شوق

﴿۲۰۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ أُسَيْدَ بْنِ حُضَيْرٍ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ

د حضرت ابو سعيد خدري ﷛ څخه روايت دئ چي اسيد بن حضير وويل : يوه شپه ما

مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ إِذْ جَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ

سورة بقرة ویل او زما آس زما سره تړلی وو ناڅاپه ما ولیدل چي آس په ترپکو سو زه پټه خوله سوم

فَسَكَنَتْ فَقَرَأَ فَجَالَتْ فَسَكَتَ فَسَكَتَتْ ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتْ الْفَرَسُ فَانْصَرَفَ

آس هم آرام سو ما بیا لوستل پیل کړل آس بیا په تړپو سو ، زه پټه خوله سوم آس هم آرام سو ، ما بیا لوستل پیل کړل آس بیا هم هغسي په تړپو سو په پای کي مي لوستل بند کړل

وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ وَلَمَّا اَخره رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى

او زما زوی یحیی د آس سره نژدې بیده وو زما سره بیره پیدا سول چي آس ورته ونه رسیږي نو د خپل زوی پورته کولو لپاره ورغللم ،په دې حال کي زما نظر پر آسمان ولویدئ

السَّمَاءِ فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ فلما اصبح حدث النبي صلى

ما ولیدل چي د وریځ په ډول یو شی خپور سوئ دئ چي په هغه کي ډیر شیان بلیږي ، کله چي سهار سو نو دا پېښه مي رسول الله ﷺ ته بیان کړه ،

الله عليه وسلم فقال اقرا يا ابن حضير اقرا يا ابن حضير قال فاشفقت

رسول الله ﷺ وفرمایل : اې ابن حضیر ! ویل به دي ، اې ابن حضیر ! ویل به دي، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما زوی یحیی نژدې وو

يارسول الله ان تطايحي وكان منها قريبا فانصرفت اليه ورفعت راسي الى

او زما سره بیره پیدا سول چي آس یې ونه وهي له دې کبله ما ویل پرېښودل ، او آسمان ته چي مي وکتل

السماء فاذا مثل الظلة فيها امثال المصابيح فَخَرَجَتْ حَتَّى لَا أَرَاهَا قَالَ

نو د وریځي په ډول راته څرګند سو چي په هغه کي ډیر شیان بلیدل، بیا چي زه د باندي راووتم نو هیڅ هم نه وه، رسول الله ﷺ وفرمایل :

وَتَدْرِي مَا ذَاكَ قَالَ لَا قَالَ تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ

ته پوهیږې چي دا څه وه ؟ ما عرض وکړ : نه، رسول الله ﷺ وفرمایل : دا ملائکي وې چي ستا

قرائت اوریدو لپاره راغلې وې که تا لوستل جاري ساتلې وای نو سهار ته به

يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا لَا تَتَوَارَى مِنْهُمْ . متفق عليه و اللفظ للبخاري و في مسلم عرجت في الجو بدل فخرجت على صيغة المتكلم .

خلکو ملائکې لیدلې او ملائکې به د خلکو د نظر څخه نه پټېدلای . بخاري او مسلم .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۳۱، رقم: ۵۰۱۸، ومسلم ۱\۵۴۸، رقم: ۲۴۲-۷۹۶.

**تشريح**: د آس د ټوپ وهلو وجه دا وه چې حضرت اسید رضی الله عنه قرآن کریم وایه نو د قرائت اورېدو لپاره ملائکې راغلې وې او د هغو په لېدو سره آس په ټوپو سو، او کله چې اسید رضی الله عنه تلاوت بند کړی او ملائکې پورته سوې نو آس هم ټوپونه وهل بند کړل .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ارشاد کې : اقراء یا ابن حضیر : اې ابن حضیر! تا به تلاوت جاري ساتلای ، دلته د اقراء معنی ابن حجر رحمه الله داسې لیکلې ده چې سورة بقره همېشه وایه چې د داسې عجیب او غریب حالت راتلو سبب دی که په راتلونکې کې هم ددغه سورت د ویلو په دوران کې داسې صورت وړاندې سي نو تلاوت جاري ساته یعنې تا هغه وخت تلاوت کول ولې پرېښودی بلکه زیاتوب دې ولې ونه کړ تا ته پکار وه چې تا په هغه صورت کې زیات تلاوت کړی وای، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه ارشاد په جواب کې اسید رضی الله عنه وویل چې اې دالله رسوله ! زه په دې خبر نه وم...الخ، ددې څخه دا څرګنده سوه چې دلته ترجمه د علامه طیبي رحمه الله د وضاحت سره سم سوې ده .

د وریځې په ډول یو شی دی، وجه تشبیه یې داده چې ملائکې د قرآن کریم د اورېدو لپاره دومره زیاتې راغلې وې که څوک یې ووینې نو داسې به محسوس کړي چې د پردې په ډول یو شی دی چې د لیدونکې او آسمان تر مینځ حائل سوی دی ، حضرت اسید رضی الله عنه هغه شی په وریځ تعبیر کړ او په هغه کې څراغونه بلېدل دا په اصل کې : هغه ملائکو مخونه وه چې د څراغانو په ډول ځلانده وه .

## د قران تلاوت د رحمت د نازلېدو سبب دی

﴿۲۰۱۵﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُورَةَ الْكَهْفِ وَإِلَى جَانِبِهِ حِصَانٌ

د حضرت براء رضی الله عنه څخه روایت دئ چې یو سړي سورة کهف لوستئ او د هغه سره نژدې آس وو

مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ فَجَعَلَتْ تَدْنُو وَتَدْنُو وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ

چي په دوو رسيو تړلی وو، پر هغه آس د وريځي په ډول يو شی خپور سو بيا نور هم نژدې سو او آس د هغه په ليدو سره په ټوپو سو،

فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ. متفق عليه

کله چي سهار سو نو هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي دا پېښه بيان کړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا سکينه (رحمت) وو چي د قرآن کريم د ويلو له کبله نازل سو. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۷، رقم: ۵۰۱۱، ومسلم ۱\۵۴۷، رقم: ۲۴۰- ۷۹۵.

**تشريح**: سکينه د زړه تسکين ته وايي او هغه رحمت ته چي د هغه په سبب زړه پاک او نوراني کيږي د نفس تياري ختميږي او حضور او ذوق پيدا کيږي، سکينه که څه هم نه ليدونکی شی دی مګر کله کله د وريځي په صورت کي لېدل کېدای سي.

## د سورة فاتحې فضيلت

﴿۲۰۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِي

د حضرت ابو سعيد بن المعلي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما په مسجد کي لمونځ کوئ چي نبي کريم ﷺ راته آواز وکړ

النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أُجِبْهُ ثُمَّ اتيته فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ

ما جواب نه ورکړ: بيا چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ اې دالله رسوله! ما لمونځ کوئ،

أُصَلِّي قَالَ أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ {اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ} ثُمَّ قَالَ أَلَا

رسول الله ﷺ راته وفرمايل: ايا الله تعالی دا حکم نه دئ کړئ (استجيبوا.....): هر کله چي تاسو رسول را وبلي نو تاسو د الله جل جلاله او رسول ﷺ پر بلنه هغه ته جواب ورکوئ او د هغه فرمانبرداري کوئ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل:

أُعَلِّمُكَ أَعْظم سُوْرَة فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ أَخَذَ بِيَدِي

ايا زه تاته د مسجد څخه د وتلو وړاندې يو داسي سورت ونه ښيم چي د قرآن کريم ترټولو لوی سورت دئ، رسول الله ﷺ زه تر لاس ونيولم،

فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ قُلْتُ يا رسول الله انك قلت لَأُعَلِّمَنَّكَ سُورَةً من القرآن

بيا چي ما د مسجد څخه د وتلو اراده وکړه نو عرض مي وکړ اې د الله رسوله! تاسو فرمايلي وه چي زه به درته د قرآن کريم عظيم سورت درته وښيم

قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُوتِيتُهُ. رواه البخاري

رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه الحمد لله رب العالمين، دئ په دې کي اووه آياتونه دي چي (په لمانځه) کي څو څو واره ويل کيږي او دا قرآن عظيم دئ چي ما ته راکړل سوی دئ. بخاري

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۵۶، رقم: ۴۴۷۴.

**تشريح**: د استجيبوا څخه دا معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ د لمانځه په حالت کي په جواب ورکولو سره لمونځ نه فاسد کېدی لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ ته په لمانځه کي په خطاب کولو سره لمونځ فاسد نه سو.

سورة فاتحې ته يې لوی سورت ځکه وويل چي هغه د الله تعالی په نزد لوی قدرت لري او د الفاظو د اختصار سربېره د هغه فائدې او معناوي ډيري زياتي دي ځکه ويل سوي دي چي په سورة فاتحه کي د دين او دنيا ټول مقاصد راغي بلکه ځيني عارفين وايي څه چي په مخکنيو آسماني کتابو کي دي هغه ټول په قرآن کريم کي دي او هغه ټول په سورة فاتحه کي دي او څه چي په سورة فاتحه کي دي هغه ټول په بسم الله کي دي.

هغه اووه آياتونه چي د هغو څخه په اصل کي د قرآن کريم د غه آيت ته اشاره سوې ده: لقد اتيناک سبعا من المثاني و القرآن العظيم، اې محمد ﷺ! موږ تا ته هغه اووه آياتونه درکړي دي کوم چي په لمانځه کي په وار وار ويل کيږي، او يا دا چي په هغه اووه آياتو کي ثناء سوې ده په فصاحت او اعجاز سره او د دغه اووه آياتونو څخه مراد سورة فاتحه ده، او موږ تا ته قرآن عظيم درکړی دی دلته د قرآن عظيم څخه هم مراد سورة فاتحه ده ځکه سورة فاتحه د معنی او فائدو په

اعتبار د قرآن کریم اعظم جز دی ځکه نو د مبالغې په توګه یې وفرمایل چې دا قرآن عظیم دی.

## د سورة بقره فضیلت

﴿۲۰۱۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَجْعَلُوا بُيُوْتَكُمْ مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِيْ تُقْرَأُ فِيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ. رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل کورونه هدیرې مه جوړوئ ځکه چې شیطان د هغه کور څخه وځي په کوم کي چې سورة بقرة ویل کیږي. مسلم

**تخریج**: صحیح مسلم ۱۱/۵۳۹، رقم: ۲۱۲- ۷۸۰.

**تشریح**: هدیرې مه جوړوئ: ددې مطلب دادی لکه څرنګه چې هدیرې د الله جل جلاله د ذکر، عبادت او تلاوت څخه خالي دي همداسي خپل کورونه ددغه شیانو څخه مه خالي کوئ چې په هغه کي د مړو په ډول پراته یاست او د الله جل جلاله ذکر وغیره نه کوئ بلکه په خپلو کورونو کي لمونځ هم کوئ د الله جل جلاله په ذکر کي هم بوخت اوسئ او د قرآن کریم تلاوت هم کوئ، رسول الله ﷺ هغه شي ته لارښوونه وفرمایل چې په ذکر او بوختیا کي افضل او د کور او کورنۍ لپاره ډېر ګټور دی چې هغه قرآن کریم دی، وه یې فرمایل شیطان د هغه کور څخه تښتي په کوم کي چې سورة بقره ویل کیږي، ددې مطلب دادی چې د قرآن کریم تلاوت په خاصه توګه د سورة بقره تلاوت نه یوازي دا چې په کور کي د رحمت او برکت دروازې خلاصوي بلکه ددې یوه ګټه داده چې په داسي کور کي د شیطان نحوست او د هغه د مکر او چم څخه خوندي کېدل وي، هسي خو په عامه توګه د قرآن کریم تلاوت د رحمت او برکت باعث دی مګر دلته یې سورة بقره په خاصه توګه ذکر کړل ځکه چې په دغه سورة کي د الله جل جلاله مبارک نومونه ډېر ذکر سوي دي.

## د قیامت په ورځ د قران کریم شفاعت

﴿۲۰۱۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابو امامة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي:

اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيْعًا لِأَصْحَابِهِ اقْرَءُوا الزَّهْرَاوَيْنِ

قرآن وایاست ځکه چې د قیامت په ورځ به دا شفاعت کوي او دا دوه سورتونه چې ډیر ځلانده دي (یعني سورة

الْبَقَرَةَ وَسُورَةَ آلِ عِمْرَانَ فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ

بقرة او سورة آل عمران) وايا ست ځکه چې دا دوه سورتونه به د قيامت په ورځ د وريځي دوې ټوټې

غَيَابَتَانِ أَوْ فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ أَصْحَابِهِمَا اقْرَءُوا سُورَةَ

يا دوه سايه كوونكي شيان يا د مرغانو دوه صف بسته سيل وي چې د خپل ويونكي د لوري به جګړه كوي او سورة

الْبَقَرَةِ فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا يَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ. رواه مسلم

بقرة وايا ست ځکه چې ددې سورت هميشه ويل د بركت باعث دئ او نه ويل يې د حسرت او ندامت باعث دئ ددې د ويلو يوازې هغه خلك توان نه لري چې سست او ناراسته وي. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم: ۱/ ۵۵۳، رقم: ۲۵۲- ۸۰۴.

**د لغاتو حل**: غيابتان: وهي باليا ءين ما يكون أدون منهما في الكثافة وأقرب إلى رأس صاحبهما كما يفعل بالملوك فيحصل عنده الظل والضوء جميعا (سايه كوونكي)

**تشريح**: قرآن كريم وايا ست: ددې مطلب داد يچې د قرآن كريم تلاوت او د هغه په مفهوم او معنى كې د غور او فكر كولو نعمت د خپل ځان لپاره د نيكبختۍ سبب وګڼئ او د هغه پر تلاوت كولو باندې همېشتوب كوئ.

سورة بقره او سورة آل عمران ته يې ځلانده سورتونه ويلي دي، ددې مطلب دادى چې دغه دواړه سورتونه د نور او هدايت او د ثواب د زياتوب په وجه ځلانده دي لكه چې د الله ﷻ په نزد په دغه دواړو سورتو كې او په پاته سورتو كې د سپوږمۍ او ستورو نسبت دى چې دا سورتونه د سپوږمۍ په منزله دى نسبت نورو سورتو ته چې هغه ټول د ستورو په منزله دي.

د قيامت په ورځ د خپل ويونكي په حق كې ددغه سورتونو بركات په متشكل توګه ظاهرېدل په درو صورتو كې بيان سوي دي: اول صورت خو دا بيان سوى دى چې دا سورتونه به د قيامت په ورځ د خپل ويونكو لپاره د ورځي دوې ټوټې وي چې د حشر په ميدان كې په دربدو سره به هغه د لمر د ګرمۍ او تېزۍ څخه د ساتني لپاره پر هغه سايه كوي، دوهم صورت دا بيان سوى دى چې هغه سايه كونكي به دوه شيان وي يا په بل شكل كې ددې مفهوم دا هم دى چې دوئ به پر خپل ويونكو باندې سايه كونكي وي، فرق يوازې دادى چې په دغه صورت كې د

هغه سایه لرونکو شیانو سایه به د اول صورت په نسبت کمه وي او هغوئ به د خپل ویونکي سر ته نژدې وي لکه څرنګه چې د آمیرانو او پاچاهانو پر سرو د سایوان وغیره سایه کیږي همدارنګه په دغه صورت کي د هغوئ پر سرونو باندي به سایه هم وي او رڼا به هم وي، دریم صورت دا ښودل سوی دی چې د مرغانو په ډول به صف تړلي دوې ټوټې وي چې د هغه سایه به هم وي چې د خپل ویونکو له خوا به ددې خبري وکالت او سفارش کوي چې هغوئ د اخرت په ټولو ابدي سعادتونو سره و نازول سي.

علامه طیبي رحمه الله فرمایي چې په: کان هما غمامتان او غیابتان او فرقان من طیر صواف: کي د او حرف د تنویع (اظهار اقسام) لپاره دی، مطلب یې دادی چې دا درې سره صورتونه به په یو وخت کي وي چې د هغه تعلق به د خپلو ویونکو د حال مناسب وي اول یعني د وریځي د صورت تعلق به د هغه سړي سره وي چې هغه دغه دوه سورتونه ویلي وي مګر په معنی او مفهوم پوه سوی نه وي دوهم یعني د سایه د شي تعلق به د هغه سړي سره وي چې هغه دا سورتونه ویلي هم وي او په معنی یې هم پوه سوی وي او نورو ته یې هم د دغه سورتونو تعلیم ورکړی وي.

﴿۲۰۱۹﴾: وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نواس بن سمعان رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي:

يَقُولُ يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَهْلِهِ الَّذِينَ كَانُوا يَعْمَلُونَ بِهِ تَقْدُمُهُ

د قیامت په ورځ به قرآن کریم او ددې ویونکی او پر دې عمل کوونکی دا سي راوستل سي چې د قرآن کریم دوه سورتونه یعني.

سُورَةُ الْبَقَرَةِ وَآلُ عِمْرَانَ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ ظُلَّتَانِ سَوْدَاوَانِ بَيْنَهُمَا شَرْقٌ

سورة بقرة او سورة آل عمران به د هغوئ وړاندي وي لکه چې دا دوه سورتونه د وریځي دوې ټوټې دي یا د ورځي توري ټوټې دي چې په هغو کي ځلا وي

أَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا. رواه مسلم.

یا د صف بسته مرغانو دوه سیلونه دي چې د خپل ویونکي شفاعت به کوي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۱\ ۵۵۴، رقم: ۲۵۲- ۸۰۵.

**د لغاتو حل**: شَرق: اي ضوء ونور. (رڼا او نور).

**تشريح**: يؤتى بالقرآن: قرآن کريم به راوستل سي، ددې مطلب دادی چې د قيامت په ورځ به يا خو قرآن کريم ته د شکل او صورت په ورکولو سره د حشر ميدان ته راوستل سي او يا به دهغه ثواب راوستل سي.

کانوا يعملون: او په هغه يې عمل کوی ددې څخه دا خبره ثابته سوه چې کوم سړی قرآن کريم خو وايي مګر عمل نه په کوي نو هغه د اهل قرآن څخه نه دی او نه قرآن کريم د داسي کس شفاعت کوي بلکه د داسي سړي په حق کي قرآن کريم د تاوان سبب دی.

تقدمه ...الخ: مطلب دادی چې د سورة بقره او سورة آل عمران ثواب مخکښي وي، ځيني حضرات فرمايي چې د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کي قرآن کريم ته ظاهري شکل او صورت ورکړل سي ټول خلک به يېويني لکه څرنګه چې د حشر په ميدان کي د تلو لپاره نور ټولو اعمالو ته صورت ورکول کيږي.

ظلتان سوداوان: د وريځي دوې ټوټې دي، ددې مطلب دادی چې د ګڼ توب په وجه به هغه ټوټې توري وي د داسي وريځي سايه آرام رسونکې او د سکون باعث وي.

بينهما شرق: او په هغوئ کي يو ځلا ده، ددې څخه دا خبره څرګنديږي چې که څه هم د وريځي هغه ټوټې به ډيري ګڼې وي مګر ددې سربيره د رڼا څخه به مانع نه وي او ځيني حضرات وايي چې دلته د شرق معنی د درز ده، مطلب يې دادی چې ددغه دواړو سورتو په مينځ کي چې د وريځي د ټوټو په صورت کي به وي د بسمله په ذريعه فرق وي چې په دواړو سورتو کي امتياز پاته وي.

## اية الكرسي تر ټولو عظيم ايت دی

﴿۲۰۲۰﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابو المنذره! تا ته څرګنده ده چې

مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي

د قرآن کريم کوم آيت ستا لپاره لوی دئ ما عرض وکړ الله جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابو المنذر! ايا ته پوهيږې

أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ قُلْتُ { اللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ }

چي د قرآن کريم کوم آيت ستا لپاره لوی دئ ما عرض وکړ : الله .... الحي القيوم. (يعني آية

قَالَ فَضَرَبَ فِي صَدْرِي وَقَالَ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ . رواه مسلم

الکرسي) ، رسول الله ﷺ د دې په اوريدو سره زه پر سينه ووهلم او وه يې فرمايل : اې ابو المنذر ستا علم دې مبارک وي . مسلم

**تخريج**: صحيح مسلم: ۱\۵۵۶، رقم: ۲۵۸- ۸۱۰.

**تشريح**: په اول وار چي رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه نو ابی بن کعب رضي الله عنه څه جواب ور نه کړ بلکه الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ته يې وسپارل ، بيا په دوهم وار رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه نو جواب يې ورکړ ، په دې اړه علماء وايي چي ابی رضي الله عنه په اول وار د ادب په وجه جواب ور نه کړ او په دوهم وار چي رسول الله ﷺ بيا پوښتنه وکړه نو د رسول الله ﷺ د سوال سره سم جواب يې ورکړ يعني په داسي کولو سره هغه په ډېر لطيف انداز کي ادب او فرمانبرداري دواړه جمع کړل لکه څرنګه چي د اهل کمال طريقه ده ، مګر ځيني حضرات وايي چي په اول وار کله رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه نو ابی رضي الله عنه ته جواب معلوم نه وو مګر کله چي په دوهم وار رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه نو د الله تعالی له خوا د ادب په سبب د سوال جواب هغه ته منکشف کړل سو نو هغه جواب ورکړ.

آيت الکرسي تر ټولو عظيم سورت ځکه ګرځول سوی دی چي په دې کي توحيد ، تعظيم الهي، اسماء حسنی او د الله تعالی د صفاتو په ډول عظيم او عالي مضامين بيان سوي دي .

﴿۲۰۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ وَكَّلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه ټاکلم لپاره د ساتني

زَكَاةِ رَمَضَانَ فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ

د رمضان د زکوة ، ما ته يو سړی راغلی هغه په دواړو لاسو سره خپل لمن يا لوښی ډکول پيل کړل ، ما هغه ونيوئ او ورته وه مي ويل زه تا بيا يم

إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ إِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ قَالَ

نبي كريم ﷺ ته ، هغه راته وويل : زه اړيم او زما پر ذمه د اولاد نفقه ده او سخت ضرورتمند يم ،
د ابو هريرة ﷺ بيان دئ چي د هغه ددې خبرو په اورېدو سره

فَخَلَّيْتُ عَنْهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ

ما هغه پرېښودی، سهار چي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ را
څخه پوښتنه وكړه چي اې ابو هريرة ! ستا هغه غل څه سو

الْبَارِحَةَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ

د برايي شپې؟ ما عرض وكړ: اې د الله رسوله ! هغه د سختي اړتيا څرګندونه كړه او د كورنۍ
شكايت يې وكړ ما هغه پرېښودئ،

سَبِيلَهُ قَالَ أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ

رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه تا ته دروغ وويل هغه بيا راځي ، د رسول الله ﷺ په فرمايلو سره
زما يقين سو چي هغه به بيا راځي

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ سَيَعُودُ فَرَصَدْتُهُ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ

زه په كمين كي ناست وم نو هغه راغلئ او بيا يې په دواړو لاسو غله ډكول پيل كړل ما هغه ونيوئ

فَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ

او ورته وه مي ويل چي نن به دي خامخا رسول الله ﷺ ته بيايم، هغه راته وويل : ما پرېږده زه ډير اړيم

وَعَلَيَّ عِيَالٌ لَا أَعُودُ فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ

او د كورنۍ ټول خرڅ زما پر ذمه دئ بيا به زه نه راځم، بيا زما رحم پر راغلئ او ما هغه
پرېښودئ، سهار چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ راته وويل:

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا

اې ابو هريرة ! تا د خپل بندي (غله) سره څه وكړل ؟ ما وويل: اې د الله رسوله ! هغه د سختي
اړتيا څرګندونه وكړه

حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فقال أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ

او د کورنۍ د خرڅ شکایت یې وکړ زما زړه پر وسوځېدی او هغه مي پرېښودئ، رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه دروغ درته وویل

وَسَيَعُودُ فعرفت انه سيعود القول رسول الله ﷺ انه سيعود فَرَصَدْتُهُ

او هغه به بیا راځي، نو زما یقین سو چي هغه به بیا راځي ځکه چي رسول الله ﷺ وفرمایل چي هغه به بیا راځي، نو د هغه لپاره په کمین کي کښېنستم

فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ وَهَذَا آخِرُ

هغه بیا راغلئ او په دواړو لاسو سره یې غله ډکول پیل کړل، ما هغه ونیوئ او ورته وه مي ویل: او دا په درو ځلو کي آخري وار دئ

ثَلَاثِ مَرَّاتٍ أَنَّكَ تَزْعُمُ لَا تَعُودُ ثُمَّ تَعُودُ قَالَ دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ

تا ویلي وه چي زه به بیا نه راځم او بیا راغلې، هغه وویل: ما پرېږده زه درته یو څو داسي کلمې ښیم چي په هغه سره به الله تعالی درته ګټه ورسوي،

اللَّهُ بِهَا إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ { اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ

هر کله چي ته د خوب لپاره بسترې ته ولاړسې نو آیة الکرسي ووایه،

الْقَيُّومُ } حَتَّى تَخْتِمَ الْآيَةَ فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ وَلَا يَقْرَبُكَ

د الله ﷻ د لوري به پر تا همیشه یو ساتونکی و تاکل سي (یعني ملائکه) او نژدې به نسي تا ته

شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

شیطان تر سهار پوري ، د دې په اورېدو سره ما هغه پرېښودئ، سهار چي کله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ قُلْتُ زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللَّهُ بِهَا

تا خپل بندي (غل) سره څه چلن وکړ ؟ ما عرض وکړ : هغه ما ته دا وويل چي زه تا ته دا سي يو څو کلمې ښيم چي تا ته به الله تعالى ګټه درکړي له دې کبله هغه ما پرېښودئ ،

قَالَ أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ قُلْتُ لَا قَالَ ذَاكَ شَيْطَانٌ . رواه البخاري

رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه دا رېښتيا وويل که څه هم هغه درواغجن دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تا ته څرګنده ده چي د درو ورځو راهسي ستا سره خبري کونکی دا څوک دئ ؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ما ته نه ده څرګنده ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه شيطان وو . بخاري

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۴۸۷، رقم: ۲۳۱۱.

## د سورة فاتحه او سورة بقره د اخيري اياتو فضيلت

﴿۲۰۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَيْنَمَا جِبْرِيلُ قَاعِدٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو وار حضرت جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ نَقِيضًا مِنْ فَوْقِهِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ

لوړي د دروازې د خلاصېدو په ډول آواز واورېدئ ، هغه خپل سر پورته کړ او وه يې ويل : دا د آسمان يوه دروازه

فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ فَقَالَ هَذَا مَلَكٌ نَزَلَ إِلَى

خلاصه سوې ده چي تر دې وړاندي هيڅکله نه ده خلاصه سوې او نن خلاصه سوې ده بيا د دې دروازې څخه يوه ملائکه راکښته سول

الْأَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ فَسَلَّمَ فَقَالَ أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ

مځکي او جبرائيل عليه السلام وويل چي دا ملائکه نن مځکي ته راکښته سوې ده ، د دې وړاندي نه ده راکښته سوې ، هغې ملائکي (د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره) سلام وکړ او وه يې ويل : تاسو ته دې زيری وي چي تاسو ته دوه داسي نورونه درکړل سوي دي

يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ فَاتِحَةُ الْكِتَابِ وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ. رواه مسلم

چي ستاسو څخه وړاندي هيڅ يو نبي ته نه دي ورکړل سوي يعني فاتحة الکتاب او د سورة بقرې آخري برخه، په دې کي چي کوم حرف تاسو وايا ست د هغو ثواب به درکړل سي. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۱\ ۵۵۴، رقم: ۲۵۴-۸۰۶.

**د لغاتو حل**: نقيضا: اى صوت (ر،غ).

**تشريح**: فنزل منه: يعني د هغه دروازې څخه يوه ملائکه راکښته سوه دا د راوي الفاظ دي چي هغه د رسول الله ﷺ څخه همداسي اوريدلي دي، سورة فاتحه او سورة بقره يې په نور سره تعبير کړې ده او هغو ته د نور ويلو وجه داده چي دا سورتونه او آياتونه به د قيامت په ورځ د رڼا په شکل کي وي چي خپل ويونکو تر مخ به ځي.

د سورة بقرې د آخري برخي د کوم ځای څخه تر کوم ځای پوري آياتونه مراد دي؟ په دې اړه صحيح خبره داده چي د : لله ما في السموات وما في الارض .... څخه د سورة تر پای پوري مراد دي د حضرت کعب ﷛ څخه همداسي منقول دي.

په يوه يوه حرف کي: د حرف څخه مراد کلمه (آيت يا د آيت ټوټه) ده، د سورة فاتحې او سورة بقرة په آخري آياتونو کي دوه ډوله کلمې دي يو ډول خو هغه دي چي پر دعاء باندي مشتمل دي لکه: اهدنا الصراط المستقيم، يا غفرانک ربنا، او دوهم ډول هغه دي چي يوازي پر حمد او ثناء باندي مشتمل وي، کله چي هغه کلمات وويل سي کوم چي دعائيه دي نو ويونکي ته هغه شي ورکول کيږي کوم چي په هغه کلمو کي ذکر دي همدارنګه کله چي هغه کلمې وويل سي کوم چي پر حمد او ثناء باندي مشتمل دي نو هغه ته د هغه ثواب ورکول کيږي کوم چي د قرآن کريم پر حروفو باندي ورکول کيږي.

﴿۲۰۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآيَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَ بِهِمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ. متفق عليه

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د سورة بقرې په پای کي دوه آياتونه دي څوک چي يې د شپې ووايي نو هغه ورته بس دي يعني د هر ډول آفت او شر

ثخه به يې وساتي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\ ۳۱۷، رقم: ۴۰۰۸، ومسلم ۱\ ۵۵۵، رقم: ۲۵۵- ۸۰۷.

**تشريح**: بس دي: مطلب دا دی چي په هغه شپه کي د دغه آياتو د ويلو په وجه د انسان او جناتو د شر څخه خوندي وي يعني دغه آياتونه د هغه لپاره د شر او بلاء د فع کونکي دي يا دا مطلب دی چي دغه دوه آياتونه د هغه په حق کي د قيام الليل او عبادت لپاره د شب بيداري قائم مقام دي.

## د سورة کهف اخري لس اياتونه په يادول

﴿۲۰۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ. رواه مسلم

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د سورة کهف د پيل لس آياتونه ياد کړي نو هغه به د دجال د فتنې څخه وساتل سي. مسلم

**تخريج**: صحيح مسلم: ۱\ ۵۵۵، رقم: ۲۵۷- ۸۰۹.

**تشريح**: د دجال څخه مراد يا خو هغه دجال دی کوم چي په آخره زمانه کي قيامت ته نژدې راځي او خلک به په مکر او فريب کي اچوي يا هغه درواغجن او چم کونکی مراد دی کوم چي په خپل درواغو او چم سره خلک پريشانه کوي.

د ترمذي په روايت کي چي وروسته په دوهم فصل کي راځي دا منقول دي چي څوک د سورة کهف اول درې آياتونه ووايي نو هغه به د دجال د فتنې څخه محفوظ وي، ځينو حضراتو په دغه دواړو آياتو کي دا مطابقت پيدا کړی دی چي څوک لس آياتونه ياد کړي هغه به د دجال د شر څخه محفوظ وي که چيري هغه ورسره مخامخ سي، او کوم څوک چي درې آياتونه ووايي نو هغه به د دجال د فتنې څخه خوندي سي که چيري هغه ورسره مخامخ نسي.

خلاصه دا چي د دجال فتنه به د هغه د ملاقات په صورت کي ډېره سخته وي په نسبت د هغه فتنې کوم چي د عدم ملاقات په صورت کي وي کوم څوک چي دغه لس آياتونه ياد کړي هغه به د ملاقات د فتنې څخه محفوظ وي او کوم څوک چي دغه درې آياتونه وايي نو هغه به د هغه فتنې څخه محفوظ وي په کوم کي چي خلک د دجال سره د مخامخ کېدو پرته اخته کيږي.

## د سورة اخلاص فضيلت

﴿۲۰۲۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا په تاسو كي څوک

يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ قَالُوا وَكَيْفَ يَقْرَأُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ قَالَ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ. رواه مسلم و رواه البخاري عن ابي سعيد.

د شپې دريمه برخه قرآن نه سي ويلای؟ صحابه كرامو عرض وكړ اې دالله رسوله! دريمه برخه قرآن څنګه و وايي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: قل. هوالله احد (سورة اخلاص) د دريمي برخي قرآن سره سم دئ، مسلم او بخاري.

**تخريج**: صحيح مسلم ۱\۵۵۶، رقم: ۲۵۹ – ۸۱۱. و صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۳\۳۴۷، رقم: ۷۳۷۴

**تشريح**: په قرآن كريم كي په بنيادي توګه دري ډوله مضامين مذكور دي: ۱: **قصص** يعني قصې، ۲: احكام، ۳: توحيد، په سورة قل هو الله احد كي د الله تعالى توحيد ډېر په لوړ او بليغ انداز كي بيان سوی دی يا داسي وايي چي په ټول قرآن كريم كي د توحيد په باره كي چي كوم بيان سوی دی سورة قل هو الله احد د هغه خلاصه او حاصل دی ځكه نو د سورة قل هو الله احد ويل د دريمي برخي د قرآن ويلو برابر دي.

خينو حضرات ويلي دي چي د دغه ارشاد مطلب دادی چي قل هو الله احد د دريمي برخي قرآن د اصل ثواب په اندازه مضاعف كيږي، په دغه دوو قولو كي يو باريک فرق پيدا سو د قول مطلب دا سو كه چيري يو څوک دغه سورت دري واره و وايي نو دا نه لازميږي چي هغه د پوره قرآن كريم ثواب حاصل سي او د دوهم قول مطابق دغه سورت په دري واره ويلو سره د پوره قرآن كريم اصل ثواب حاصليږي.

﴿۲۰۲۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا عَلَى سَرِيَّةٍ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو سړی د لښكر سردار و ټاكئ

وَكَانَ يَقْرَأُ لِأَصْحَابِهِ فِي صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ بِقُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ فَلَمَّا رَجَعُوا

او هغه به د خپلو ملګرو امامت هم كوئ هغه به په لمانځه كي قرائت په قل هو الله احد ختموئ.

کله چي خلک را ستانه سول

ذَكَرُوا ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَلُوهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذٰلِكَ

نو رسول الله ﷺ ته يې ددې يادونه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دده څخه پوښتنه وکړئ چي داسي يې ولي کول،

فَسَأَلُوهُ فَقَالَ لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمٰنِ وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللّٰهَ يُحِبُّهُ. متفق عليه

د هغه څخه پوښتنه وسول نو هغه وويل: په قل هو الله احد کي د الله ﷻ صفت دئ نو غواړم چي زه يې وو ايم، په دې خبره سره رسول الله ﷺ وفرمايل: دې سړي ته وو اياست چي الله ﷻ هم دی خوښوي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۴۷، رقم: ۷۳۷۵، ومسلم ۱\۵۵۷، رقم: ۲۶۳- ۸۱۳.

**تشريح**: پر قل هو الله باندي په ختمولو سره: ددې مطلب دادی چي هغه به د هر لمانځه په آخري رکعت کي د سورة فاتحې سره قل هو الله احد ويل، ليکن علامه ابن حجر ددې وضاحت دا کړی دی چي هغه سړي به د سورة فاتحې يا د دوهم سورت وروسته قل هو الله احد ويل، په دې اړه د اول قول وضاحت ډېر غوره دی ځکه په دغه صورت کي د ټولو علماؤ په نزد لمونځ بېله کراهته ادا کيږي.

﴿۲۰۲۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُحِبُّ هٰذِهِ السورة قل هو الله احد قَالَ إِنَّ حُبَّك اياها أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي و روي البخاري معناه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي اې د الله رسوله! زما دا سورت (قل هو الله احد) ډېر خوښ دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ددې خوښول به تا جنت ته بوزي. ترمذي او بخاري

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۵۵، رقم: ۷۷۴م. والترمذي ۵\۱۵۶، رقم: ۲۹۰۱.

## د معوذتين فضيلت

﴿۲۰۲۸﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلَتْ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. رواه مسلم

د حضرت عقبة بن عامر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نن شپه عجيبه آياتونه نازل سوي دي چي تر ننه پوري ددې په ډول نه دي ليدل سوي، هغه قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس دي. مسلم

**تخريج**: صحيح مسلم ۱\۵۵۸، رقم: ۲۶۴- ۸۱۴.

## رسول الله ﷺ قل هو الله احد او معوذتين د شپې پر ځان چوف كول

﴿۲۰۲۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د شپې بسترې ته تلئ

كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ وَ قُلْ أَعُوذُ

نو دواړه لاسونه به يې يو ځای كړل بيا به يې هغه دم كول بيا به يې پر هغو قل هو الله احد، قل

بِرَبِّ الْفَلَقِ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ

اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس چف كول، بيا به يې دواړه لاسونه پر ټول بدن تر كومه ځايه چي به يې لاسونه رسيدل ګرځول

يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَفْعَلُ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ

او د سر او مخ څخه به يې لاس ګرځول پيل كول او د بدن د مخكي برخي ګرځولو سره به يې پر ټول بدن ګرځول او درې واره به يې داسي كول.

متفق عليه و سنذكر حديث ابن مسعود لما اسرى برسول الله ﷺ في

باب المعراج ان شاء الله تعالی .

بخاري او مسلم. او ډير ژر به د ابن مسعود حديث كوم وخت چي رسول الله ﷺ شب معراج ته تللى وو په باب معراج كي بيان كړل سي انشاء الله .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۲، رقم: ۵۰۱۷، لم نجده عند مسلم.

**تشريح**: د دغه حديث څخه په څرګنده خو دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ پر خپلو لاسو باندي دم مخكي كوى او ويل به يې وروسته پيل كول ، ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ دا طريقه ځكه اختيارول چي د ساحرانو (جادوګرانو) مخالفت وسي ځكه هغوئ مخكي وايي او بيا وروسته دم كوي، ځيني حضرات وايي چي ددې مطلب دادی چي مخكي به يې د دم كولو اراده كول بيا به يې ويل او د هغه وروسته به يې دم كوى، او د ابن مسعود رضي الله عنه حديث به په باب معراج كي ذكر كړل سي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د قيامت په ورځ تر عرش لاندي درې شيان وي

﴿۲۰۳۰﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

ثَلَاثَةٌ تَحْتَ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَلْقُرْآنُ يُحَاجُّ الْعِبَادَ لَهُ ظَهْرٌ وَّبَطْنٌ

د قيامت په ورځ به تر عرش لاندي درې شيان وي: يو خو به قرآن د بندګانو د لوري جګړه كوي ، د قرآن يو ظاهر دئ او يو باطن،

وَّالْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ تُنَادِيْ أَلَا مَنْ وَصَلَنِيْ وَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللهُ.

رواه في شرح السنة

دويم امانت، او دريم قرابت دا دواړه شيان يا يوازي قرابت به په لوړ آواز خلكو ته وايي چا چي زه يو ځای كړم الله به هغه د خپل رحمت سره يو ځای كړي او چا چي زه پريكړم الله به هغه پريكړي . شرح السنة

**تخریج**: البغوي في شرح السنة ۱۳\۲۲-۲۳، رقم: ۳۴۳۳.

**تشريح**: تر عرش لاندې به درې شيان وي، دلته په اصل کي ددې څخه کنايه ده چي د قيامت په ورځ به درې شيانو ته د الله تعالى په دربار کي قرب او اعتبار تر لاسه وي او الله تعالى به د هغوئ حق او د هغوئ ثواب چي د هغه اختيارونکو ته ورکول کيږي نه ضائع کوي.

د بندګانو سره به جګړه کوي: ددې مطلب دادی چي کومو کسانو په دنيوي ژوند کي د قرآن کريم تعظيم نه وي کړی او په هغه يې عمل نه وي کړی نو د قيامت په ورځ به قرآن کريم د هغوئ سره جګړه کوي يعني هغوئ ته به سزا ورکوي او کومو کسانو چي په دنيوي ژوند کي د قرآن کريم تعظيم هم کړی وي او په هغه يې عمل هم کړيوي نو قرآن کريم به د هغوئ له خوا جګړه کوي يعني د الله تعالى په دربار کي به د هغوئ له خوا وکالت او شفاعت کوي.

د قرآن لپاره ظاهر هم سته: ددې مطلب دادی چي په قرآن کريم کي کوم احکام وغيره بيان سوي دي د هغو معنى بالكل ظاهره او واضح ده چي اکثر خلک په پوهيږي په هغه کي د خاص غور او فکر ضرورت نسته همداسي د باطن مطلب دادی چي د قرآن کريم ځيني معناوي داسي دي چي په هغو د پوهېدو لپاره د غور او فکر او تفسير ضرورت وي يا داسي به ووايو چي په هغو باندي هر سړی نه سي پوهېدلای بلکه خواص او عالمان په پوهيږي.

په دغه ارشاد کي دې ته اشاره ده چي کوم خلک په قرآن کريم باندي عمل نه کوي د هغوئ څخه به د قيامت په ورځ د قرآن کريم په باره کي د هر سړي د پوهي او د هغه د علم په اندازه مؤاخذه کيږي، د امانت څخه حقوق الله او حقوق العباد مراد دي چي د هغو ادا کول لازم دي.

## قران کريم په ترتيل سره دويلو فضيلت

﴿۲۰۳۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په آخرت کي به)

يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ اقْرَأْ وَارْقَ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي

قرآن ويونکي بنده ته وويل سي: قرآن وايه او د جنت درجو ته خيژه داسي په کراره کراره يې وايه لکه څنګه چي تا په دنيا کي په کراره کراره وايه، او ستا آخري درجه به (په جنت کي) د قرآن اخري آيت وي. احمد، ترمذي، ابوداؤد او نسائی.

**تخریج**: الامام احمد في مسنده ۲\ ۱۹۲، وابوداؤد ۲\ ۱۵۳، رقم: ۱۴۶۴، والترمذي ۵\ ۱۶۳، رقم: ۲۹۱۴

**تشریح**: د صاحب قرآن څخه هغه څوک مراد دی کوم چي همېشه د قرآن کریم تلاوت هم کوي او عمل هم په کوي هغه سړی مراد نه دی چي تلاوت خو کوي مګر عمل نه په کوي بلکه مخکي ښودل سوي دي چي داسي سړی به د جزاء او انعام مستحق نه بلکه د قرآن کریم په لعنت کي به اخته وي ځکه کوم څوک چي قرآن کریم وايي او عمل نه په کوي نو قرآن کریم پر هغه لعنت وايي دلته دا روایت په فکر کي ساتل پکار دي چي کوم سړی په قرآن کریم عمل وکړي هغه لکه چي همېشه قرآن کریم ووایه که څه هم په حقیقت کي یې نه وي ویلی او کوم څوک چي په قرآن کریم عمل ونه کړي نو هغه لکه چي قرآن کریم ویلی نه دی که څه هم په حقیقت کي یې ویلی وي، خلاصه دا چي د قرآن کریم محض تلاوت کول کافي نه دی بلکه بنیادي شی په قرآن کریم باندي عمل کول دي.

ووایه، یعني قرآن کریم ووایه او د ویل سوو آیاتونو په اندازه د جنت درجو ته خېژه هر څو آیاتونه چي ته ووایې هغو مره درجو ته به ستا رسیدل وي، په یوه روایت کي نقل سوي دي چي د قرآن کریم څو مره آیاتونه دي د جنت هغومره درجې دي که یو څوک ټول قرآن کریم ووایي نو هغه به د جنت د ټولو لوړو درجو څخه هغه درجې ته ورسیږي د کوم چي هغه اهل وي.

دا مخکي ښودل سوې ده چي د قرآن کریم د تلاوت د ادابو څخه تر ټولو لوړ او اعلی ادب دا هم دی چي قرآن کریم په ترتیل سره یعني په کراره کراره په لهجه او په پوره سکون او وقار سره وویل سي، په دغه حدیث کي دې ته اشاره ده چي کوم حافظ قرآن کریم په ترتیل سره وایي نو په جنت کي به د هغه لویه مرتبه وي.

د قرآن کریم د آیاتونو شمېر د کوفیانو د اوصول په اعتبار چي د هغوئ د قرآئت فن او اصول زموږ په خوا کي رواج دي شپږ زره دوه سوه اوه دیرش ۶۲۳۷ دي، ددې څخه پرته نور اقوال هم سته د نور زیات وضاحت لپاره د تجوید او قراءت کتابو ته مراجعه کولای سئ.

## د قرآن کریم څخه خالي زړه د وران کور په مثال دی

﴿۲۰۳۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ. رواه الترمذي و الدارمي وقال الترمذي هذا حديث صحيح.

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا په زړه کي چي د قرآن هيڅ هم نه وي هغه د وران کور په ډول دئ . ترمذي ،دارمي، او ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۶۲، رقم: ۲۹۱۳، والدارمي ۲\۵۲۱، رقم: ۳۳۰۶.

**تشريح**: د کور رونق د او سيدونکي سره دی ، کور که هر څومره ښکلی او پراخ وي مګر په هغه کي او سيدونکی نه وي نو د هغه حقيقت نسته بلکه د کور وداني د هغه قيمت او ارزښت له منځه ځي همداسي د انسان معامله ده که د انسان زړه د ايمان او د قرآن د نور څخه خالي وي نو د هغه هيڅ ارزښت نسته ، د پورتني ارشاد مطلب دادی که چيري يو څوک بالکل قرآن کريم نه پيژني او نه پر هغه ايمان لري نو هغه د وران کور په ډول دی او کوم څوک چي قرآن کريم ويلای سي او هغه وايي .په پوهيږي او پر هغه ايمان هم لري نو د هغه باطن د ايمان په نور سره آباد دی اوس دا فرق پاته سو چي کوم څوک په قرآن کريم لږ پوهيږي او د هغه باطن به د ايمان په دولت سره آباد وي او څوک چي يې زيات پيژني د هغه باطن به هم زيات آباد وي .

## د قران کريم د مشغوليت اثر

﴿۲۰۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ

د حضرت ابوسعيد رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ وَذِكْرِي عَنْ مَسْأَلَتِي أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا

الله تعالی فرمايي : څوک چي د قرآن ويلو بوختيا د دعاء او ذکر څخه غافل کړي زه به هغه ته تر

أُعْطِي السَّائِلِينَ وَفَضْلُ كَلَامِ اللَّهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللَّهِ عَلَى خَلْقِهِ .

رواه الترمذي والدارمي و البيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

غوښتونکي زيات ورکړم او د کلام الله بزرګي پر نورو کلامو داسي ده لکه زما بزرګي چي پر ټول مخلوقات ده . ترمذي، دارمي ، بيهقي

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۶۹، رقم: ۲۹۲۶، والدارمي ۲\۵۳۲، رقم: ۳۲۵۶.

**تشریح**: د الله ﷻ د ارشاد مطلب دادی چي کوم څوک قرآن کریم یادوي د هغه په معنی او مفهوم پوهيږي او په قرآن کریم کي پر ذکر سوو احکامو او هدایاتو باندي په عمل کولو کي بوخت وي او د هغه دغه بوختیا د هغه افکارو، اورادو او دعاوو څخه کوم چي د کلام الله څخه پرته دي منع کوي یعني هغه په قرآن کریم کي د بوختیا په وجه نه ما یادوي او نه زما څخه څه غواړي نو زه هغه ته د غوښتونکو څخه هم زیات ورکوم ځکه چي د قرآن کریم سره دومره بوختیا په حقیقت کي ددې خبري دلیل دی چي هغه سړي خپل هر خواهش او خپل هر مطلب الله تعالی په سپارلو سره د هغه پاک کلام سره یې تعلق قائم کړی دی نو د هغه ددغه عظیمي جذبې سره سم به هغه ته اجر ورکول کیږي.

دلته په دې خبره پوهېدل پکار دي چي د حدیث قدسي د پیل الفاظ دادي چي من شغله القرآن عن ذکري، نو ددې تقاضا خو دا وه چي په پای کي ذکر کونکی او غوښتونکی بیان سوی وای چي زه هغه ته تر هغه شي غوره ورکوم کوم چي ذکر کونکو او غوښتونکو ته ورکوم مګر دلته یوازي د غوښتونکو ذکر سوی دی او د ذکر کونکو ذکر نه دی سوی، ددې وجه داده چي ذکر هم په حقیقت کي دعاء غوښتل دي د کریم د حمد او ثناء او د هغه د ذکر مقصد دا وي چي ما ته یو څه راکړي ځکه ددې ارشاد په پای کي هم د غوښتو پر ذکر باندي اکتفاء وکړل سوه.

د حدیث آخري جمله: وفضل کلام الله ...الخ: چیري چي دا احتمال لري چي دا جمله او حدیث قدسي تتمه یعني د الله تعالی ارشاد دی نو دا احتمال هم لري چي د الله تعالی کلام نه دی بلکه د رسول الله ﷺ ارشاد دی او دا احتمال زیات صحیح دی.

## د قران کریم پر هر حرف باندي لس نیکۍ

﴿۲۰۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي

قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لَا أَقُوْلُ الم

د الله د کتاب څخه یو حرف ووایي هغه ته به د یوه حرف په بدله کي یوه نیکي ورکول کیږي او هره نیکي به د لسو نیکیو سره سمه وي، زه (الم) ته یو حرف نه وایم

حَرْفٌ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ. رواه الترمذي والدارمي و

قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب اسنادا .

بلكي الف يو حرف دئ، لام بل حرف دئ او ميم بل حرف دئ. ترمذي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۶۱، رقم: ۲۹۱۰، والدارمي ۲\۵۲۱، رقم: ۳۳۰۸.

## قران كريم د هدايت چينه ده

﴿۲۰۲۳﴾: وَعَنِ الْحَارِثِ الْاَعْوَرِ قَالَ مَرَرْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ

د حضرت حارث اعور رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د كوفې يو مسجد ته ورغلم نو وينم چي خلك په بېكاره خبرو كي بوخت دي ،

فِي الْأَحَادِيثِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ اَوَقَدْ فَعَلُوهَا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ:

ددې وروسته حضرت علي رضي الله عنه ته ورغلم او هغه ته مي دا پېښه بيان كړل، حضرت علي رضي الله عنه وويل ايا هغوئ داسي وكړل ؟ ما عرض وكړ :هو، حضرت علي رضي الله عنه وويل :

اما إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ

خبردار! ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: خبردار! فتنه واقع كېدونكي ده

فَقُلْتُ مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ كِتَابُ اللّٰهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ

ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! ددې څخه به خلاصون څنګه تر لاسه كېږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله جل جلاله په كتاب باندي په عمل كولو سره چي په هغه كي تر تاسو وړاندي پېښي دي

وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ مَنْ تَرَكَهُ مِنْ

او ستاسو څخه وروسته خبرونه ، او ستاسو په منځ كي (د حلال، حرام وغيره) حكم دئ او (حق و باطل) كي پريكړه كونكى قول دئ . او هغه شيان پالتو نه دي ، كوم متكبر چي قرآن پرېښودئ

جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللّٰهُ وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللّٰهُ وَهُوَ حَبْلُ اللّٰهِ الْمَتِينُ

نو هغه به الله هلاک كړي او چا چي د قرآن كريم څخه پرته په بل شي كى هدايت ولټوئ الله جل جلاله به

هغه گمراه کړي ، قرآن کریم د الله تعالی ټېنګه او سیده رسی ده ،

وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ

قرآن کريم د حکمت څخه ډک ذکر او بيان دئ او قرآن کريم يوه داسي سيده لار ده چي په هغه کي کوږوالی نسته او ددې په پيروي سره په خواهشاتو کي کوږوالی نه پېښيږي

وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ وَلَا يَخْلَقُ عَنْ كَثْرَةِ الرَّدِّ وَلَا

او د قرآن په ژبه کي د يو بلي ژبي اقتباس نسته ، ددې فصاحت ته هيڅ کلام نه سي رسيدلای او علماء ددې په ويلو نه مړيږي او قرآن په (تل ويلو) سره نه زړيږي ،

تَنْقَضِي عَجَائِبُهُ هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا { إِنَّا سَمِعْنَا

او ددې عجائب نه ختميږي ، او قرآن کريم يو داسي کلام دئ چي کله پيريانانو واوريدئ نو د يوې لمحې د دريدو څخه پرته يې وويل موږ عجيب او غريب قرآن واوريدئ

قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ} مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ وَمَنْ عَمِلَ بِهِ

چي د هدايت لاره ښيي له دې کبله موږ ايمان راوړ او چا چي د قرآن سره سم وويل نو رېښتيا يې وويل او چا چي عمل په وکړ

أُجِرَ وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث اسناده مجهول و في الحارث مقال .

نو هغه ته به ثواب ورکړل سي او چا چي ددې سره سم پريکړه وکړه هغه انصاف وکړ او چا چي د قرآن په لور خلک راوبلل هغه ته سيده لار وښودل سوه . ترمذي، او دارمي، ترمذي ويلي دي ددې حديث اسناد مجهول دي او په حارث اعور کي خبري سته .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۵۶، رقم: ۲۹۰۶، والدارمي ۲\۵۲۶، رقم: ۳۳۳۱.

**تشريح**: د متکبر څخه مراد د قرآن کريم منکر دی يعني هغه سړی چي نه پر قرآن کريم ايمان راوړي او نه يې پر قرآن کريم عمل وکړ او څرګنده ده ، چي داسي بدبخته سړي هغه څوک کېدای

سي چي د هغه په زړه کي غرور او تکبر او د تعصب جراثيم وي.

من ترکه من جبار قصمه الله: دلته د قصم څخه مراد ماتول او بهلول دي ځکه د دې جملې لفظي ترجمه دا کېداى سي چي کوم متکبر قرآن کريم پرېښودى الله تعالى د هغه غاړه پرېکوي ليکن په عامه توګه سره د دې دا ترجمه کيداى سي چي الله تعالى به هغه څوک هلاک کړي ځکه د مفهوم او حقيقت په اعتبار په دواړو کي فرق نسته بلکه د دواړو مطلب دادى چي کوم څوک د قرآن کريم څخه انکار کوي يا عمل نه په کوي نو الله تعالى به هغه د خپل رحمت څخه ليري کړي چي د هغه نتيجه هلاکت او تباهي ده پر خلاف د هغه سړى چي پر قرآن کريم ايمان هم راوړي او عمل هم په کوي نو الله تعالى به هغه خپل رحمت ته نژدې کړي او لوړي مرتبې به ورکړي.

علامه طيبي رحمه الله فرمايي کوم څوک چي د قرآن کريم يو داسي آيت يا يوه کلمه باندي هم عمل کول پرېږدي (يعني د انکار او تکبر په وجه عمل کول پرېږدي) چي پر هغه عمل کول واجب وي يا د تکبر په وجه د هغه آيت يا کلمې قرائت ونه کړي نو هغه سړى کافر کيږي هو که يو څوک محض د سستۍ يا ضعف په وجه د قرآن کريم تلاوت پرېږدي مګر د هغه زړه د قرآن کريم د عظمت او حرمت څخه ډک وي نو په دې کي څه پروا نسته البته هغه د ثواب څخه محروم کيږي.

انساني خواهشات د حق څخه باطل ته نه مائل کيږي: د دغه پوره جملې مطلب دادى چي کوم څوک د قرآن کريم پيروي کوي د هغه پر احکامو عمل کوي او د خپل ژوند په هر اړخ کي د قرآن کريم د لارښووني غوښتونکى وي نو هغه د هري ګمراهۍ او ضلالت څخه خوندي وي.

که دلته دا اشکال پيدا سي چي اهل بدعت او روافض او خوارج يا د اوسنۍ زمانې نوري دلي هم د قرآن څخه استدلال کوي او د قرآن کريم لارښوونه مني مګر د دې سربيره هغوئ د ګمراهۍ څخه خوندي نه وي؟ د دې جواب دادى چي اول خو دا خبره محل نظر ده چي د قرآن کريم څخه د هغوئ استدلال او د قرآن کريم د لارښووني دعوا پر خپل حقيقت مبني ده که څنګه، ځکه د قرآن کريم څخه د دوئ استدلال بالکل غلط دى هغوئ مخکي د خپل خيالاتو او نظرياتو يو عمارت جوړوي بيا د هغه د ټينګوالي لپاره د قرآن کريم نوم اخلي همدارنګه هغوئ د قرآني آياتو د هغه د حقيقي مفهوم او معناوو څخه په بېلولو خپل خيالات او نظرياتو باندي د مبنلولو هڅه کوي دا خبره په زيات وضاحت داسي ويل کيداى سي چي اهل حق خپل خيالات او عقائد چي د قرآن تابع جوړوي قرآن چي واضح هدايت دى د هغه په رڼا کي هغوئ خپل عقيدې سموي، د دې پر خلاف د ګمراه ذهن او فکر خلک قرآن کريم د خپل خيالات او نظرياتو تابع جوړوي او

دنیا ته ددې باور ورکولو هڅه کوي چي هغوئ څه وايي د قرآن کریم څخه په استدلال کولو سره يې وايي حالانکه دا غلط دي.

دوهمه خبره داده چي ددغه خلکو دلیلونه په دې توګه هم کامل نه وي چي هغوئ په خپل ذهن کي دا ګمراه کونکي تصور قائمولو سره چي اصل او کامل لارښووني یوازي د قرآن کریم څخه تر لاسه کېدای سي حدیثونه او نور ذرائع چي د قرآن فهمۍ لپاره ضروري دي هغه بالکل نظر انداز کوي حالانکه د قرآ ن کریم حقیقي مفهوم او اصل مقصد احادیث نبوي ، اقوال صحابه او ارشادات علماء څخه واضح کېدای سي مګر هغوئ دا کوي چي نه خو حدیث ته پاملرنه کوي چي د هغه څخه د کلام الله مقصد واضح کیږي او نه د هغه حضراتو د فیض او اقوال څخه استفاده او تقلید کوي کوم چي په کلام الله باندي د پوهېدو او د هغه د اصل مقصد او منشاء ته په رسیدو کي پوره ګټل کیږي مثلا صحابه کرام، تابعین او نور د امت علماء کرام.

نو په دې خبره پوهېدل پکار دي چي هغوئ د قرآن کریم څخه په استدلال کولو کي په خپل خیال د قرآن کریم د لارښووني سربیره ګمراه نه دي بلکه د هغوئ د ګمراهۍ سبب دادی چي هغوئ د قرآن کریم صحیح لارښوونه نه اختیاروي یا داسي ووایو چي هغوئ قرآن کریم لارښود او د هدایت چینه نه ګڼي بلکه هغوئ خپل نظریات او اعتقادات په تابع جوړولو سره اختیاروي نو د قرآن کریم د اختیارولو سربېره د قرآن کریم حقیقي منشاء او مقصد او د هغه اصل مفهوم او معناوو ته د هغوئ رسیدل نه کیږي.

خلاصه دا چي د قرآن کریم هدایت هغه وخت صحیح کیږي کله چي دا ذرائع او وسائل په پوره قلبي اعتقاد سره اختیار کړل سي کوم چي د قرآن کریم پر فهم باندي موقوف دي ددې څخه پرته د قران کریم پوره پوهه نسي تر لاسه کېدای او نه د قرآن کریم اصل مفهوم او منشاء ته رسیدل ممکن دي او هغه نبوي حدیثونه ، د صحابه کرامو اقوال او د امت د علماؤ ارشادات دي څکه حضرت جنید رحمه الله فرمایلي دي چي:

کوم څوک چي قرآن کریم یاد نه کړي او حدیثونه زده نه کړي او نه پوهیږي نو د هغه پیروي دي نه کیږي او کوم څوک چي زموږ په ډله او زموږ په مسلک کي پرته د علم داخل سي او هغه همېشه پر خپل جهل قناعت وکړي نو هغه د شیطان مسخره ده څکه زموږ علم د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ سره مقید دي.

علامه طیبي رحمه الله د مذکوره جملې په وضاحت کي فرمایي چي اهل هوس یعني بدعتیان او ګمراه خلک پر دې قادر نه دي چي د قرآن کریم په اصلي معنی او مفهوم کي تغیر او تبدیل

وكړي يا په هغه كي كوږوالى پيدا كړي په دغه صورت كي به په لايزيغ به الاهواء كي حرف د (به) د تعديې لپاره وي.

د دغه ژبي سره نوري ژبي نه يو ځاى كيږي: ددې مطلب دادى چي قرآن كريم په اعتبار د الفاظو هم د فصاحت او بلاغت هغه نقطه عروج دى چي د دنيا تر ټولو لوى فصيح او بليغ د قرآن كريم د آيات مقابله نه سي كولاى يا ددې جملې څخه مراد دادى چي د قرآن كريم تلاوت د مؤمنانو پر ژبو مشكل نه وي كه څه هم هغوئ عرب نه وي ځكه د قرآن كريم تلاوت او د هغه د آياتو قرائت پر زړونو باندي د خوشحالى هغه فضا خپروي كوم چي د عربي ژبي سره د ناخبرتيا سربيره د قرآني الفاظو په ادا كولو كي لږ هم مشكل نه محسوس كيږي لكه څرنگه چي د الله تعالى ارشاد دى: ولقد يسرنا القرآن للذكر، او موږ قرآن كريم د پوهېدو لپاره اسان كړى دى.

علماء په دې نه مړيږي: ددې مطلب دادى چي د قرآن كريم علوم او معارف دومره پراخ او همه گير دي چي لوى تر لوى عالم هم د هغه د ټولو علومو احاطه نسي كولاى او نه د هغه د نكات او حقائق په دې اندازه سره ادراك كېداى سي چي د هغه طلب تحقيق كومي مرحلې ته په رسيدو سره ختميږي او د هغه د ادراك څخه موړ سي لكه چي يو سړى د خوراك څخه موړ سي نور د هغه طلب بند سي او خواهش د نور قبلولو څخه انكار كوي، ددې پر خلاف علماء چي هغوئ د قرآني حقائقو او معارفو څخه په يو مفهوم باندي خبر سي نو د هغوئ اشتياق نور زيات سي او د هغوئ د لټون خواهش ددې تقاضا كوي چي د تر لاسه سوي مفهوم څخه هم زيات څه معلوم سي همدا رنگه د دغه طلب خواهش او لټون لره يو حد قانع نه وي.

نه زړيږي: ددې مطلب دادى چي قرآن كريم په وار وار ويلو او ډېر تلاوت سره او په هغه كي د مذكوره احوالو او احكامو د اورېدو لذت او د هغه په كيفيت كي څه كمي نه واقع كيږي بلكه يو څوک چي كله هم قرآن كريم وايي يا د هغه قرائت اوري نو هر وار هغه ته د مخكي په مقابله كي زيات خوږوالى او لذت محسوس كيږي كه څه هم د هغه په معنى او مفهوم پوهيږي او كه نه پوهيږي.

## د قران كريم د حافظ مور او پلار ته تاج

﴿۲۰۳۶﴾: وَعَنْ مُعَاذِ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت معاذ جهني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي

قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُهُ أَحْسَنُ

قرآن وايي او څه چي په دې کي دي په هغه عمل کوي، نو د قيامت په ورځ به د هغه مور او پلار ته تاج ور پر سر سي او د هغه تاج رڼا به يې د

مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهٰذَا. رواه احمد وابوداؤد.

دنيا د لمر د رڼا څخه غوره وي، که هغه رڼا په دنيا کي ستاسو کورو ته راسي بيا تاسو پوهيدای سي چي هر کله د مور او پلار دا مرتبه ده نو د هغه کس به څومره درجې وي چي په قرآن يې عمل کړی وي. احمد او ابوداؤد.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۳\۴۴۰، وابوداؤد: ۲\۱۴۸، رقم: ۱۴۵۳.

**تشريح**: من قرا القرآن: ددې مطلب دادی چي (کوم څوک خپله قرآن کريم په ښه ډول ووايي) مگر عطاء طيبي رحمة الله عليه وايي چي ددې مطلب دادی چي کوم څوک قرآن کريم ياد کړي يعني د هغه په نزد د قرآن کريم حفظ کول مراد دي.

لو کانت فيکم (که ستاسو په کورو کي لمر وي) ددې مطلب دادی چي کله لمر د آسمان د لوړوالي څخه په راکښته کېدو سره ستاسو کورونو ته راسي نو هغه رڼا به د قيامت په ورځ ددغه تاج د رڼا په مقابل کي کمزورې وي يعني د لمر رڼا د مبالغې په توگه بيان سوې ده که لمر د خپل موجوده رڼا سره ستاسو په کورونو کي دننه سي نو څرگنده ده چي د هغه وخت رڼا به زياته معلوميږي په نسبت د موجوده صورت د رڼا کله چي لمر د کور څخه د باندي او ډېر زيات لوړ وي. د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي کله د قرآن کريم د ويونکی (يا حافظ) او په قرآن کريم باندي د عمل کونکي مور او پلار په دغه عظيمي مرتبې او نعمت سره و نازول سي نو بيا خپله د هغه سړي مرتبه او سعادت به څومره وي چي هغه په خپله قرآن کريم وايي او عمل په کوي

## د قران کريم يوه معجزه

﴿۲۰۲۷﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِي إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ. رواه الدارمي

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي ؛ ي : كه قرآن كريم په پوست كي بند كړل سي او بيا په اور كي واچول سي نو هغه نه سوځي . (مطلب دا چي څوک يې ووايي او عمل په وكړي پر هغه اور اثر نه كوي د پوست څخه مراد دانسان بدن دئ)
دارمي .

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\ ۵۲۲، رقم: ۳۳۱۰.

**تشريح**: ځيني حضرات وايي چي دا په حقيقت كي د رسول الله ﷺ په زمانه كي يوه معجزه وه چي په يو پوست وغيره كي په نغښتلو سره به يې په اور كي واچوى نو اور به اثر نه پر كوى دا هم داسي وه لكه د نورو انبياؤ عليهم السلام معجزې .

مگر ځيني نور حضرات وايي چي دلته د پوست څخه مراد د انسان زړه او د هغه پوست او بدن دى چي د كوم چا په زړه كي د قرآن كريم رڼا راسي او هغه په قران كريم عمل كوي نو هغه به د دوږخ د اور او عذاب څخه خوندي وي .

## د حافظ قران شفاعت

﴿۲۰۳۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺوفرمايل : چا چي قرآن ووايه

فَاسْتَظْهَرَهُ فَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ وَشَفَّعَهُ فِي عَشْرَةٍ

او هغه يې ياد كړ بيا يې د هغه حلال حلال او حرام يې حرام وگڼل نو الله تعالى به يې په جنت كي داخل كړي او د هغه د كورنۍ څخه د لسو كسانو په حق كي د هغه شفاعت قبليږي

مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب و حفص بن سليمان الراوي ليس هو بالقوي يضعف في الحديث .

كوم چي قطعي دوږخيان وي . احمد ، ترمذي ، ابن ماجة ، دارمي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ حضرت حفص بن سليمان كمزورى راوي دئ .

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۱\ ۱۴۸، ۱۴۹، والترمذي ۵\ ۱۵۸، رقم: ۲۹۰۵، وابن ماجه ۱\ ۷۸، رقم: ۲۱۶. لم نجده عند الدارمي.

## سورة فاتحه بې مثاله سورت دی

﴿۲۰۳۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاُبَيِّ بْنِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ابی بن کعب ته وفرمايل :

كَعْبٍ كَيْفَ تَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ فَقَرَأَ أُمَّ الْقُرْآنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

ته په لمانځه کي څنګه وايې ؟ ابی بن کعب سورة فاتحه وويل ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا أُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ وَلَا فِي الزَّبُورِ

په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واک کي چي زما ساه ده چي دا سي هيڅ سورت نه په تورات کي نازل سوی دئ، نه په انجيل کي ، نه په زبور کي

وَلَا فِي الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا وَإِنَّهَا سَبْعٌ مِنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي

او نه په قرآن کي ، په دې سورت کي اووه اياتونه دي او دا سورة عظيم دئ چي

أُعْطِيتُهُ. رواه الترمذي و روي الدارمي من قوله ما انزلت و لم يذكر ابي

ابن كعب وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

ما ته راکړل سوئ دئ . ترمذي او دارمي د ابی بن کعب څخه نه دئ ذکر کړئ ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۴۳، رقم: ۲۸۷۵، والدارمي ۲\۵۳۸، رقم: ۳۳۷۳.

**تشريح**: د سبع مثاني او قرآن عظيم په باره کي په اول فصل کي د يو حديث په تشريح کي بنو دل سوې دي چي د دې څخه سورة فاتحه مراد ده هلته يې په تفصيل سره وضاحت سوی دی.

## د قران کريم زده کولو، ويلو او په هغه د عمل کولو حکم

﴿۲۰۴۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قرآن کريم زده کړئ

فَاقْرَءُوهُ فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَهُ فَقَرَأَهُ وَقَامَ بِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ

او بیا یې وایا ست ځکه چي څوک قرآن کریم زده کړي بیا یې وایي او د شپې عبادت کوي د هغه مثال د هغه کڅوړي په ډول دئ چي په هغه کي

مِسْكًا تَفُوحُ رِيحُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَيَرْقُدُ وَهُوَ فِي جَوْفِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ وُكِئَ عَلَى مِسْكٍ. رواه الترمذي و النسائي وابن ماجة .

مشک بند وي چي د هغه خوشبويي هر لوري ته خپريږي او د هغه چا حال چي قرآن یې زده کړ او په زړه کي یې پاته سو یعني نه یې وایي او نه عمل په کوي د مشکو د هغه کڅوړي په ډول دئ چي د هغه خوله بنده کړي وي او مهرور باندي لګېدلی وي . ترمذي، نسائي او ابن ماجه .

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۴۴، رقم: ۲۸۷۶، وابن ماجه ۱\ ۷۸، رقم: ۲۱۷.

**تشریح**: تعلموا القرآن: (قرآن زده کړئ) ددې مطلب دادی چي قرآن کریم ویل زده کړئ نه یوازي دا چي د هغه د الفاظو ادا کول زده کوئ بلکه د هغه د مفهوم ، معنی او تفسیر علم تر لاسه کړئ.

ابو محمد جوني رحمة الله عليه فرمايي چي قرآن زده کول او نورو ته ښودل فرض کفایه دي او مسئله داده چي په لمانځه کي د فرض قرائت په اندازه سورتونه یا آیاتونه زده کول د هر مسلمان لپاره فرض عین دي .

امام نووي رحمة الله عليه فرمايي چي د سورة فاتحې څخه زیات د قرآن کریم د آیاتونو یا سورتونو په یادولو کي بوختیا د نفل لمانځه تر بوختیا افضل دي ځکه چي هغه فرض کفایه دی کوم چي تر نفل لمانځه زیات اهم دی .

د ځینو متاخرینو فتوا ده چي د قرآن کریم په حفظ کي بوختیا د هغه علومو تر بوختیا افضل دي کوم چي فرض کفایه دي یعني د کومو علومو تر لاسه کول چي فرض عین دي د قرآن کریم په حفظ کي بوخت کېدل د هغه د بوختیا څخه غوره نه دي .

د مشکو د کڅوړي مثال په دې توګه ورکړل سوی دی چي د قرآن کریم د زده کوونکی او ویونکي سینه د یوې کڅوړې په ډول ده چي په هغه کي قرآن کریم د ړي په ډول دی کله چي هغه قرآن وایي نو د هغه له برکته هغه په کور کي خپریږي او د هغه اوریدونکي ته رسیږي د حدیث د آخري جملې مطلب دادی چي کوم څوک قرآن کریم زده کړي مګر نه یې وایي او نه عمل په کوي نو د قرآن کریم برکت هغه ته نه رسیږي او نه نورو ته رسیږي ځکه هغه د ژي د هغه کڅوړي په ډول

سو چي د هغه خوله بنده سوې ده او د هغه په وجه نه خو د مشک خوشبويي خپريږي او نه د هغه څخه چا ته کټه رسيږي.

## د اية الكرسي او سورة مومن لومړنيو اياتوويلو برکت

﴿۲۰۴۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ حم الْمُؤْمِنَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي (حم المؤمن

إِلَى { إِلَيْهِ الْمَصِيرُ } وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ حِينَ يُصْبِحُ حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُمْسِيَ وَمَنْ

تر اليه المصير) پوري او آية الكرسي د سهار په وخت کي وويل نو هغه تر ماښام پوري په ساتنه کي وي او چا چي

قَرَأَهُمَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُصْبِحَ. رواه الترمذي و الدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب.

دا دواړه ماښام وويل نو هغه تر سهاره پوري خوندي وي. ترمذي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ،

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۵۴، رقم: ۲۸۷۹، والدارمي ۲\ ۵۴۱، رقم: ۳۳۸۶.

**تشريح**: د حم څخه تر اليه المصير پوري د سورة مؤمن لومړنی اياتونه داسي دی:

حم ، تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللهِ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ غَافِرِ الذَّنبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ،

ژباړه: ددغه کتاب نازلېدل د الله تعالى غالب او دانا له خوا دي چي گناه بخښونکی توبه قبلونکی او سخت عذاب ورکونکی او صاحب د کرم دی د هغه څخه پرته بل معبود نسته او د هغه پر خوا بيرته واپس کېدل دي.

## قران کريم په لوح محفوظ کي کله وليکل سو؟

﴿۲۰۴۲﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ أَنْزَلَ مِنْهُ

الله تعالی د آسمانو او ځمکي پيدا کولو څخه دوه زره کاله وړاندي کتاب وليکئ بيا د دغه کتاب څخه الله تعالی

آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ وَلَا يُقْرَأَانِ فِي دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبُهَا

دوه آياتونه نازل کړل په دې دوو آياتو سورة بقرة ختميږي په کوم کور کي چي دا آياتونه دري شپې پرله پسې وويل سي

شَيْطَانٌ. رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

شيطان هغه کور ته نژدې نه راځي، ترمذي، دارمي ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۴۱، رقم: ۲۸۸۲، والدارمي ۲\ ۲۴۵، رقم: ۸۸۳۳.

## د سورة کهف د لومړنيو درو اياتو ويلو فضيلت

﴿۲۰۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د سورة کهف اول دري آياتونه وو ايي هغه به د دجال د فتنې څخه خوندي سي. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۴۹، رقم: ۲۸۸۶.

**تشريح**: په اول فصل کي د ابو درداء رضی الله عنه يو حديث تير سوی دی چي په هغه کي دا فرمايل سوي دي چي کوم څوک د سورة کهف لومړني لس آياتونه ياد کړي هغه به د دجال د فتنې څخه خوندي سي او دلته د درو آياتونه ذکر کيږي د هغه حديث په تشريح کي د دغه حديث په ذکر کولو سره په دغه دواړو حديثو کي يو مطابقت خو هلته بيان سوی دی او د مطابقت دوهمه وجه دا هم کېدای سي چي مخکي خو د لسو آياتونو د يادولو پورتنی خاصيت او برکت زيری

ورکړې وو او بیا وروسته د فضل د وسعت له مخي پر درو آیاتونو ویلو باندي هم دا زیری ورکړل سو.

## سورة یاسین د قران کریم زړه دئ

﴿۲۰۴۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د هر شي زړه وي

وَقَلْبُ الْقُرْآنِ يس وَمَنْ قَرَأَ يس كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ

عَشْرَ مَرَّاتٍ. رواه الترمذي والدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب

او د قرآن کریم زړه سورة یس دئ نو څوک چي سورة یاسین وایي د هغه لپاره د لسو قرآنو ویلو ثواب لیکل کیږي. ترمذي ،دارمي، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ.

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\۱۴۹، رقم: ۲۸۸۷، والدارمي ۲\۵۴۸، رقم: ۳۴۱۶.

**تشریح**: د قرآن کریم زړه سورة یاسین دی یعني د قرآن کریم د علومو او معارف خلاصه او د هغه حاصل سورة یاسین دی په دې توګه چي په دغه سورت کي د قیامت احوال او د قرآن کریم اعلی مقاصد مذکور دي.

## د سورة طه او سورة یاسین فضیلت

﴿۲۰۴۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی

تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَرَأَ (طٰهٰ) وَ (يس) قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفِ

د آسمانو او مځکو د پیدائښت څخه زر کاله وړاندي سورة طه او سورة یاسین ولوستل،

عَامٍ فَلَمَّا سَمِعَتِ الْمَلَائِكَةُ الْقُرْآنَ قَالَتْ طُوبٰى لِأُمَّةٍ يُنْزَلُ هٰذَا عَلَيْهَا وَطُوبٰى

ملائکو چي دا سورتونه واوریدل نو ویې ویل هغه امت مبارک دئ چي پر هغوئ به دا قرآن نازلیږي او زیری دي وي

لِأَجْوَافٍ تَحْمِلُ هٰذَا وَطُوبٰى لِأَلْسِنَةٍ تَتَكَلَّمُ بِهٰذَا. رواه الدارمي

هغه زړو ته دي چي دا سورتونه يا قرآن کريم پورته کوي يعني يادوي يې او هغه ژبو ته دي خوشحالي وي چي دا قرآن يا دا سورتونه وايي.

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۴۷، رقم: ۳۴۱۴.

**تشريح**: الله تعالى دغه سورتونه وويل: ددې مطلب دادی چي الله تعالى دا سورتونه د ملائکي په مخکي ظاهر کړل او د هغوئ په مخکي يې ددغه سورتونو د تلاوت ثواب بيان کړ يا دا چي الله تعالى خپلو ملائکو ته دا سورتونه و ښودل او د مذکوره سورتونو معاني او مطالب يې هغوئ ته الهام کړل.

د علام ابن حجر رحمة الله عليه مطابق ددې مطلب دادی چي الله تعالى خپلو ځينو ملائکو ته حکم ورکړ چي هغوئ د نورو ټولو ملائکو په مخکي دا سورتونه او د هغو فضيلت و ښيي.

فلما سمعت الملائكة القرآن: دلته د قرآن څخه مراد قرائت دی يعني هغه ملائکو ددغه سورتونو قرائت واوريدی چي د قرآن څخه هم مراد طه او سورة ياسين دي لکه څرنګه چي د کلام الله د پوره مجموعې نوم قرآن دی همداسي يو څه برخي ته هم قرآن ويل کيږي نو قرآن د کل او جز دواړو نوم دی.

## د سورة حم الدخان برکت

﴿۲۰۴۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: څوک چي سورة حم دخان

فِي لَيْلَةٍ أَصْبَحَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و عمر بن ابي خثعم الراوي يضعف وقال محمد يعني البخاري هو منكر الحديث.

د شپې ووايي نو هغه به په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره به اويا زره ملائکي بخښني دعاء غواړي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ، عمرو بن ابی خثعم ددې حديث راوي ضعيف دئ، امام بخاري ويلي دي هغه منکر الحديث دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۱۵\۱۵۰، رقم: ۲۸۸۸، حديث موضوع.

﴿۲۰۴۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانَ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ غُفِرَ لَهُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و هشام ابو المقدام الراوي يضعف .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي حم الدخان د جمعې په شپه ووايي نو د هغه بخښنه کيږي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ هشام ابو المقدام راوي ضعيف دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۵۰، رقم: ۲۸۸۹.

## د مسبحات فضيلت

﴿۲۰۴۸﴾: وَعَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ

د حضرت عرياض بن سارية رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به ويل

الْمُسَبِّحَاتِ قَبْلَ أَنْ يَرْقُدَ وَيَقُولُ إِنَّ فِيهِنَّ آيَةً خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد و رواه الدارمي عن خالد بن معدان مرسلا و قال الترمذي هذا حديث حسن غريب

د بيده و څخه وړاندي مسبحات ويل (دغه اووه سورتونه: سبحان الذي اسرى بعبده، سورة حديد، سورة حشر، سورة صف، سورة جمعة، سورة تغابن، سورة اعلى ) او فرمايل يې په دې سورتو کي يو آيت دئ چي تر زرو آياتو غوره دئ. ترمذي ، ابوداؤد او دارمي، دا حديث د خالد بن معدان څخه مرسلا روايت کړئ دئ ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: سنن ابي داود ۵\ ۳۰۴، رقم: ۵۰۵۷، والترمذي ۵\۱۶۶، رقم: ۲۹۲۱.

**تشريح**: مسبحات هغه سورتونو ته وايي چي د هغو پيل په لفظ د سبحان، سبح، يسبح يا سبح څخه کيږي او هغه سورتونه اووه دي ۱: سبحان الذي اسرى بعبده ....، يعني سورة بني اسرائيل، ۲: سورة حديد ، ۳: سورة حشر ، ۴: سورة صف، ۵: سورة جمعه، ۶: سورة تغابن، ۷: سورة اعلى .

په دغه کي يو آيت دی چي د زرو آياتو څخه غوره دی په دې باره کي ځيني حضرات وايي چي هغه آيت: لو انزلنا هذا القرآن.... دی او ځيني نور وايي چي هغه آيت دا دی:

(هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ)

مګر د علامه طيبي رحمة الله عليه په نزد په دغه سورتو کي يو آيت په متعين کولو سره بنودل ډېر مشکل دي چي هغه آيت دغه دی هغه وايي لکه څرنګه چي د ليلة القدر يا د جمعې په ورځ د قبوليت د ساعت په باره کي څه متعين کېدای نه سي همداسي دا آيت هم پټ دی، علماء ليکي چي د علامه طيبي رحمة الله عليه دغه خبره زياته صحيح ده.

## د سورة ملک فضيلت او برکت

﴿۲۰۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ سُورَةً

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په قرآن کريم کي يو سورت

مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ وَهِيَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ. رواه احمد و الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة.

د ديرشو آياتو دئ، دې سورت د يو سړي شفاعت وکړ نو هغه و بخښل سو او هغه سورت تبارک الذي بيده الملک .. دئ. احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۲\ ۲۹۹، ۳۲۱، وابوداؤد ۲\ ۱۱۹، رقم: ۱۴۰۰، والترمذي ۵\ ۱۵۱، رقم: ۲۸۹۱، والنسائي في السنن الکبری ۶\ ۴۹۶، رقم: ۱۱۶۱۲، وابن ماجه ۲\ ۱۲۴۴، رقم: ۳۷۸۶.

**تشريح**: شفعت (دغه سورت شفاعت وکړ) ددې په معنی کي دوه احتماله دي يو خو دا چي د دغه لفظ په ذريعه په ماضي زمانه کي خبر ورکړل سوی دی چي يو سړي به سورة تبارک الذي وايه او د دغه سورت به ډېر زيات قدر کوی کوم وخت چي هغه وفات سو نو دغه سورت به د الله تعالی په دربار کي شفاعت وکړ چي د هغه په نتيجه کي به هغه سړی د عذاب څخه وژغورل سو، دوهم احتمال دا دی چي شفعت د مستقبل په معنی کي استعمال سوی دی چي مطلب يې دا دی کوم څوک دا سورت وايي د هغه په باره کي به دا د قيامت په ورځ شفاعت کوي او الله تعالی به د هغه شفاعت قبلوي.

﴿۲۰۵۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي د نبي کریم ﷺ په اصحابو کي یو سړي

وَسَلَّمَ خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ وَهُوَ لَا يَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ

پر یو قبر خیمه ودروله او د هغه فکر نه وو چي دا قبر دئ، ناڅاپه هغه ولیدل چي هغه سړی

تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

تبارک الذي بيده الملک وایي تر څو چي هغه سورة ختم کړ، هغه صحابي د رسول الله ﷺ په خدمت کي دا ټينبه بيان کړل،

النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ.

رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا سورة (د ګناهو څخه) منع کونکی دئ، خلاصون ورکونکی دئ او ویونکي ته د الله د عذاب څخه خلاصون ورکوي. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ.

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\۱۵۱، رقم: ۲۸۹۰.

**تشریح**: چیري چي دا احتمال دی چي خیمه درونکي په هغه قبر کي د مړي څخه د سورة ملک تلاوت د خوب په حالت کي اوریدلی دی نو هلته دا احتمال هم سته چي د بیداری په حالت کي به يې اوریدلی وي بلکه زیات صحیح هم دادی.

سورة ملک منع کونکی دی: ددې مطلب دادی چي دغه سورت د خپل ویونکي د قبر د عذاب څخه یا د ګناهونو چي د قبر د عذاب باعث وي ساتونکی وي یا دا چي خپل ویونکی ددې څخه ساتي چي د حشر په ورځ هغه ته تکلیف ورسیږي.

## د خوب څخه مخکي د رسول الله ﷺ معمول

﴿۲۰۵۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به تر هغه وخته پوري نه بېدېدئ تر څو

الم تَنْزِيلُ وَتَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ. رواه احمد والترمذي والدارمي و قال الترمذي هذا حديث صحيح وكذا في شرح السنة و في المصابيح غريب

سورة الم تنزيل او تبارک الذي بيده الملک به يې نه وويل، احمد، ترمذي، دارمي، او ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح دئ

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۳\۳۴۰، والترمذي ۵\۱۵۲، رقم: ۲۸۹۲، والدارمي ۲\۵۴۷، رقم: ۳۴۱۱، والبغوي في شرح السنة ۴\۴۷۲، رقم: ۱۲۰۷، ومصابيح السنة ۲\۱۲۳، رقم: ۱۵۵۴.

**تشريح**: د امام ترمذي رحمه الله په نزد خو دا حديث صحيح دی همداسي امام محي السنة هم دغه حديث ته صحيح ويلي دي مګر په مصابيح کي يې ويلي دي چي دا حديث غريب دی لکه چي په څرګنده د دوئ په قول کي تضاد معلوميږي مګر د حقيقت په اعتبار د دوئ په قول کي څه تضاد نسته ځکه د يوه حديث غريب کېدل د هغه د صحيح کېدو خلاف نه دی وجه يې داده چي داسي هم کيږي چي يو حديث په فني او اصطلاحي توګه غريب وي مګر د حقيقت په اعتبار هغه صحيح وي.

## د سورة زلزال، اخلاص او کافرون فضيلت

﴿۲۰۵۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَّانَس بن مالك قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زُلْزِلَتْ تَعْدِلُ نِصْفَ الْقُرْآنِ وَقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ

سورة اذا زلزلت الارض د نيم قرآن سره سم دئ او قل هو الله احمد د دريمي برخي

الْقُرْآنِ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ. رواه الترمذي

قرآن سره سم دئ. او قل يا ايها الکافرون د څلورمي برخي قرآن سره سم دئ. ترمذي

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۵۳، رقم: ۲۸۹۴.

**تشريح**: په قرآن کريم کي مبداء او معاد بيان سوی دی، اذا زلزلت الارض هم په ډېر ښه او مؤثر انداز کي بيان سوی دی ځکه دا سورت د نيم قرآن برابر سو، قل هو الله احد د دريمي برخي د قرآن برابر کېدو وجه د لومړني فصل د حديث په تشريح کي بيان سوي دي.

قل يا ايها الکافرون د څلورمي برخي د قرآن برابر په دې توګه دی چي په قرآن کريم کي توحيد، نبوت، احکام او قصص دا څلور مضامين مذکور دي او په قل يا ايها الکافرون کي د توحيد ډېر اعلی بيان دی ځکه دا سورت د څلورمي برخي قرآن برابر سو.

## د سورة حشر د اخري درو اياتو فضيلت

﴿۲۰۵۳﴾: وَعَنْ مُعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ

د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي

قَالَ حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ

په سهار كي دري واره (أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ) وويل

الرَّجِيمِ وَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ وَكَّلَ اللّٰهُ بِهِ سَبْعِينَ أَلْفَ

او دري آياتونه يې د سورة حشر د پاي څخه ولوستل نو الله تعالى پر هغه اويا زره ملائكي تاكي

مَلَكٍ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنْ مَاتَ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ مَاتَ شَهِيدًا وَمَنْ

چي تر ماښام پوري پر هغه رحمت ليږي او د هغه لپاره دعا كوي او كه هغه په دغه ورځ مړ سي نو شهيد به مړ سي او څوك چي

قَالَهَا حِينَ يُمْسِي كَانَ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ. رواه الترمذي و الدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب.

دا كلمات او آياتونه د ماښام په وخت كي ووايي نو د هغه هم دغه مرتبه ده. ترمذي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۱۶۷، رقم: ۲۹۲۲. والدارمي ۲\۵۵۰، رقم: ۳۴۲۵.

## هره ورځ سل واره د قل هو الله احد ويلو تاثير

﴿۲۰۵۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ كُلَّ يَوْمٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي هره ورځ

مِائَتَيْ مَرَّةٍ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ مُحِيَ عَنْهُ ذُنُوبُ خَمْسِينَ سَنَةً إِلَّا أَنْ يَكُونَ

عَلَيْهِ دَيْنٌ. رواه الترمذي والدارمي و في روايته خمسين مرة ولم يذكر

الا ان يكون عليه دين .

دوه سوه واره قل هو الله احد ... ووايي نو د هغه د پنځوسو کالو ګناهونه ليري کيږي مګر د پور ګناه يې نه بخښل کيږي . ترمذي، دارمي، او په يوه روايت کي د دوو سوو پر ځای د پنځوسو الفاظ دي او په دې روايت کي د پور لفظ نسته .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۵۴- ۱۵۵، رقم: ۲۹۸۹، والدارمي ۲\ ۵۵۳، رقم: ۳۴۳۸.

**تشريح**: الا ان يكون عليه دين (مګر دا چي پر هغه پور باندي وي) ددې دوه مطلبه کېدای سي يو خو دا چي د پور ګناه نسي معاف کېدای دوهم دا چي د چا پر ذمه د پور نه ادا کولو ګناه وي نو د هغه نوري ګناوي هم نسي معاف کېدای يعني په دغه صورت کي د دغه سورة ويل به هيڅ تاثير نه کوي ، د دين (پور) څخه مراد د بندګانو حقوق دي .

## د خوب څخه مخکي قل هو الله احد ويل

﴿۲۰۵۵﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنَامَ عَلَى

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي پر خپله بستره

فِرَاشِهِ فَنَامَ عَلَى يَمِينِهِ ثُمَّ قَرَأَ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَقُولُ

د بېده کېدو اراده وکړي نو پکار ده چي پر راسته اړخ پريوځي او بيا سل واره قل هو الله احد .... ووايي کله چي د قيامت ورځ راسي نو الله تعالی به ده ته فرمايي

لَهُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا عَبْدِيَ ادْخُلْ عَلَى يَمِينِكَ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب

اې زما بنده ! ته په جنت کي د راسته اړخ څخه داخل سه . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۵۴- ۱۵۵، رقم: ۲۸۹۸.

**تشريح**: پر راسته اړخ پريوتل سنت دي، څوک چي د بېده کېدو پر وخت پر راسته اړخ پريوځي قل هو الله احد ووايي نو يو خو هغه د رسول الله ﷺ اطاعت وکړ دوهم هغه داسي سورت ووايه چي په هغه کي د الله تعالی صفات بيان سوي دي ځکه نو داسي کس ته د پورتني نيکبختی زيری ورکړل سوی دی .

په دغه حدیث شریف کي دې ته اشاره ده چي په جنت کي کوم باغونه او ماڼۍ د جنت راسته خوا ته دي هغه به تر هغه باغونو او ماڼیو غوره دي کوم چي د جنت چپه خوا ته دي.

## د سورة اخلاص فضیلت

﴿۲۰۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ فَقَالَ وَجَبَتْ قُلْتُ وَمَا وَجَبَتْ قَالَ الْجَنَّةُ . رواه مالك والترمذي والنسائي.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د یو سړي څخه قل هو الله احد ویل واورېدل، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: واجب سو، ما پوښتنه وکړه څه شي واجب سو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د دې سړي لپاره جنت واجب سو، مالک، ترمذي، نسائي.

**تخریج**: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۰۸، رقم: ۱۸، والترمذي ۵\ ۱۵۴، رقم: ۲۸۹۷، والنسائي ۲\ ۱۷۱، رقم: ۹۹۳.

**تشریح**: د جنت واجب کېدل محض د الله تعالی فضل او کرم او د هغه د وعدې سبب دی چي هغه د خپل نیک او پیرو کاره بندګانو په باره کي فرمایلې ده.

## د سورة کافرون فضیلت

﴿۲۰۵۷﴾: وَعَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ اَبِيْهِ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا

فروة بن نوفل د خپل پلار څخه روایت کوي چي هغه وویل ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله! ما ته یو داسي شی راوښیه

أَقُولُهُ إِذَا أَوَيْتُ إِلَى فِرَاشِي فَقَالَ اقْرَأْ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ فَإِنَّهَا بَرَاءَةٌ مِنَ الشِّرْكِ . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي.

چي د شپې بستري ته د تللو په وخت کي یې ووایم، رسول الله ﷺ وفرمایل: قل یا ایها الکافرون وایه ځکه چي دا سورت د شرک څخه بیزاري څرګندوي.، ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\ ۴۴۲، رقم: ۳۴۳۰، وابوداود ۵\ ۳۰۳، رقم: ۵۰۵۵، والدارمي ۲\ ۵۵۱، رقم: ۳۴۲۷.

## د سورة فلق او سورة الناس وظيفه

﴿۲۰۵۸﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره سفر کوئ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْجُحْفَةِ وَالْأَبْوَاءِ إِذْ غَشِيَتْنَا رِيحٌ وَظُلْمَةٌ شَدِيدَةٌ فَجَعَلَ

د جحفة او ابواء په منځ کي چي تيزي هواء او تاريکی موږ ايسار کړو ،

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ بِأَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَأَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ

رسول الله ﷺ قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس ويلو سره دعاء کول پيل کړل

وَيَقُولُ يَا عُقْبَةُ تَعَوَّذْ بِهِمَا فَمَا تَعَوَّذَ مُتَعَوِّذٌ بِمِثْلِهِمَا . رواه ابوداؤد .

او ما ته يې وويل اې عقبة ! ته هم ددې دوو سورتو په ذريعه پناه غواړه ځکه چي په دې اړه دا دواړه سورتونه تر ټولو غوره دي . ابوداؤد

**تخريج**: سنن ابي داود ۲\۱۵۳، رقم: ۱۴۶۳.

﴿۲۰۵۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ خُبَيْبٍ قَالَ خَرَجْنَا فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ وَظُلْمَةٍ

د حضرت عبد الله بن خبيب ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د باران په يوه شپه کي چي ډيره تاريکي

شَدِيدَةٍ نَطْلُبُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَأَدْرَكْتُهُ فَقَالَ قُلْ

وه د رسول الله ﷺ په لټه کي ووتلو ، نو موږ رسول الله ﷺ پيدا کړ ، رسول الله ﷺ چي موږ وليدلو نو وه يې فرمايل : ووايه ،

قلت ما اقول قال قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ

ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! څه ووايم ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : قل هو الله احد ، قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس . سهار او ماښام درې درې

مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي .

واره وايه، ستا لپاره د هر شي بس دي . ترمذي، ابوداؤد، نسائي .

**تخريج**: سنن ابي داود ۵\ ۳۲۰، رقم: ۵۰۸۲ والترمذي ۵\ ۵۳۰، رقم: ۳۵۷۵، والنسائي ۸\ ۲۵۰، رقم: ۵۴۴۳.

﴿۲۰۶۰﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِقْرَأْ سُورَةَ هُودٍ اَوْ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! ايا (د پناه تر لاسه کولو لپاره) زه سورة هود يا

سُورَةَ يُوسُفَ قَالَ لَنْ تَقْرَأَ شَيْئًا اَبْلَغَ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ قُلْ اَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ .

رواه احمد والنسائي والدارمي .

سورة يوسف وايم ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : په دې اړه د الله جل جلاله په نزد د قل اعوذ برب الفلق څخه بل غوره شی نسته . احمد، نسائي او دارمي .

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۱۴\ ۱۴۹، ۱۵۹، والنسائي ۱\ ۱۵۸، رقم: ۹۵۲، والدارمي ۲\ ۵۵۳، رقم: ۳۴۳۹.

**تشريح**: لن تقرا شيئا ابلغ عند الله: ددې مطلب دادی چي د آفاتو، شر او مصيبت څخه د پناه غوښتلو په اړه دا سورت يعني قل اعوذ برب الفلق څخه کامل او غوره هيڅ بل سورت نسته ځکه دا سورت تر ټولو زيات کامل دی چي په هغه کي د هر مخلوق د شر او فساد څخه پناه غوښتل سوې ده، قل اعوذ برب الفلق من شر ما خلق: ته ووايه چي زه د سحر د شر څخه د ټولو مخلوقاتو د مالک پناه غواړم.

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي ددې مطلب دادی چي د پناه غوښتلو په اړه د دغه دواړو سورتونو يعني قل اعوذ برب الناس او قل اعوذ برب الفلق څخه زيات کامل بل هيڅ سورت نسته .

ابن مالک رحمة الله عليه وايي چي ددغه جملې څخه مقصد ددغه دواړو سورتونو په ذريعه د پناه غوښتلو شوق ورکول دي يعني د علامه طيبي او ابن مالک د دواړو د قول خلاصه داده چي په دغه ارشاد کي يوازي يو سورت يعني قل اعوذ برب الفلق ذکر سوی دی او د قرينې څخه دوهم سورت يعني قل اعوذ برب الناس هم مفهوم کيږي ځکه دلته دواړه سورتونه مراد دي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د قران کريم د پيروي کولو حکم

﴿۲۰۶۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرِبُوْا الْقُرْآنَ وَاتَّبِعُوْا غَرَائِبَهُ وَغَرَائِبُهُ فَرَائِضُهُ وَحُدُوْدُهُ.

د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قرآن معاني بيان کړئ او د غرائبو يې پيروي وکړئ او د قرآن غرائب د هغه فرضونه او حدود دي يعني امرونه او منعي. بيهقي

**تخريج:** البيهقي في شعب الايمان ۲\۴۲۷، رقم: ۲۲۹۳.

**د لغاتو حل:** أعرِبوا: اى بينوا ما في القرآن من غرائب اللغة وبدائع الاعراب. (معاني بيانول).

**تشريح:** ددې وضاحت سوی دی چي د قرآن کريم غرائب څه دي، فرمايي چي د قرآن کريم فرائض او د هغه حدود د هغه غرائب دي اوس په دې هم پوه سئ چي د فرائضو او حدود څخه مراد منهيات دي يعني هغه شيان چي د هغه څخه منع فرمايل سوې ده، خلاصه دا چي د قرآن کريم د اطاعت او پيروی مطلب دادی چي قرآن کريم د کومو شيانو حکم ورکړی دی هغه وکړل سي او د کومو شيانو څخه چي يې منع کړې ده د هغو څخه پرهيز وکړل سي.

### د قرانکريم ويلو فضيلت

﴿۲۰۶۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِيْ غَيْرِ الصَّلَاةِ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِيْ غَيْرِ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنَ التَّسْبِيْحِ وَالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْبِيْحُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّدَقَةِ وَالصَّدَقَةُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّوْمِ وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِّنَ النَّارِ.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په لمانځه کي قرآن ويل غوره دئ تر ماسيوا د لمانځه ويلو څخه، او پرته تر لمانځه ويلو د تسبيح او تکبير څخه غوره دئ، او تسبيح او تکبير تر صدقې غوره دئ

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۲\۴۱۳، رقم: ۲۲۴۳.

**تشريح**: لكه څرنګه چي د لمانځه په حالت كي د قرآن كريم ويل د لمانځه څخه پرته ويلو څخه غوره دى همدارنګه د لمانځه څخه پرته په نورو وختونو كي د قرآن كريم تلاوت د تسبيح او تكبير او نورو اورادو او اذكارو څخه افضل دى ځكه قرآن كريم نه يوازي دا چي الهي كلام دى بلكه په دې كي د الله تعالى احكام هم مذكور دي.

تسبيح او تكبير او نورو اوراد او اذكار د الله تعالى په لار كي د خپل مال خرڅ كولو څخه فضل دي كه څه هم مشهوره داده چي عبادت هغه دى چي د هغه فائده د خپل ذات څخه پرته نورو ته هم ورسيږي مثلا صدقه افضل ده تر عبادت لازم (مثلا تسبيح او اذكار وغيره) چي د هغه څخه ګټه يوازي خپل تر ځان پوري محدود وي مګر دا خبره د ذكر څخه پرته د نورو عباداتو سره خاص ده ذكر ددې څخه مستثنى دى ځكه چي د الله تعالى ذكر تر ټولو لوى او تر ټولو افضل دى (د دې مطلب دا سو چي د الله تعالى ذكر تر ټولو متعديه عباداتو افضل دى مګر په دې باره كي دا خبره ياد ساتل پكار دي چي ددين تعليم ددغه حكم څخه مستثنى دى ځكه چي محض ذكر د دين د تعليم او تعلم څخه غوره نه دى په كتاب العلم كي چي كوم حديثونه تير سوي دي د هغو څخه دا خبره په وضاحت معلوميږي چي د علم دين تعليم او تعلم د ذكر څخه افضل دى بلكه حقيقت خو دادى چي علم دين د ذكر د ډول څخه دى) لكه څرنګه چي په صحيح حديثونو كي فرمايل سوي دي چي د الله تعالى ذكر د الله تعالى په لار كي د سرو او سپينو زرو د خرڅ كولو څخه غوره او افضل دى.

صدقه تر روژې زيات ثواب لري يعني د الله تعالى په لار كي او د هغه د رضا لپاره خپل مال مصرف كول د نفلي روژې څخه افضل دى ځكه چي د صدقې فائده متعدي ده يعني ددې څخه نورو خلكو ته هم فائده رسيږي او د روژې فائده يوازي تر خپل ځان پوري محدود ده مګر د روژې په اړه دا حديث هم په ذهن كي ساتل پكار دي چي الله تعالى فرمايي د انسان پر هر عمل لس برابر ثواب حاصليږي مګر روژه زما لپاره ده او زه به ددې جزاء وركوم (يعني د روژې ثواب لا محدود دى).

په دغه دواړو روايتو كي په ظاهره اختلاف معلوميږي ځكه د اول روايت څخه معلوميږي چي صدقه تر روژې افضله ده او ددغه روايت خلاصه داده چي روژه د صدقې څخه افضله ده علماء كرام ليكي چي په دغه مطابق سره دا ظاهري تضاد ختميږي چي د افضيلت په اعتبار غوره دى او روژه دار د الله تعالى صفت اختياروي په دې توګه چي هغه د خوراك او څښاك

ځخه ځان منعه کوي .

## قران کريم ته په کتلو سره ويل تر يادو ويلو غوره دی

﴿۲۰۶۳﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَوْسٍ الثَّقَفِيِّ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ

حضرت عثمان بن عبدالله بن اوس الثقفي (رض) د خپل نيکه ځخه روايت کوي چي

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِرَاءَةُ الرَّجُلِ الْقُرْآنَ فِيْ غَيْرِ الْمُصْحَفِ أَلْفُ دَرَجَةٍ وَقِرَاءَتُهٗ فِي الْمُصْحَفِ تُضَعَّفُ عَلٰى ذٰلِكَ إِلٰى أَلْفَيْ دَرَجَةٍ .

رسول الله ﷺ وفرمايل : د قرآن په ياد ويل زر درجې ثواب لري او قرآن کريم ته په کتلو سره ويل دوه زره درجې ثواب لري .

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۲\۴۰۷، رقم: ۲۲۱۸.

**تشريح**: مطلب دادی چي قرآن کريم ته په کتلو د تلاوت ثواب تر بېله کتلو تلاوت زيات دی او په دې کي د تلاوت د زياتوب وجه داده چي په قرآن کريم کي کتونکی ته په تلاوت کي غور او فکر او خشوع زياته حاصلېږي د قرآن کريم زيارت ور په برخه کيږي او قرآن کريم ته لاس ور وړل کيږي هغه لوړېږي همدارنګه نه يوازي دا چي د قرآن کريم د عظمت او احترام اظهار کيږي بلکه څرنګه چي منقول دي د قرآن کريم زيارت هم عبادت دی اکثر صحابه کرامو او تابعينو به د قرآن کريم په کتلو سره تلاوت کوی د حضرت عثمان رضي الله عنه په باره کي منقول دي چي د تلاوت په وخت کي قرآن کريم ته د کتلو په وجه د هغه سره دوه قرآن کريمه د ځيري کېدو حالت ته رسيدلي وه .

## د زړه زنګ ليري کول

﴿۲۰۶۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذِهِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دغه

الْقُلُوْبَ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيْدُ إِذَا أَصَابَهُ الْمَاءُ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا

زړونه زنګ نيسي لکه ځنګه چي اوسپنه په اوبو سره زنګ نيسي، پوښتنه وسول : اې دالله رسوله ! کوم شی

جِلَاؤُهَا ؟ قَالَ كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ . روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان .

زړونه ځلانده کوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : مرګ ډير يادوئ او قرآن كريم واياست . بيهقي دا څلور سره حديثونه په شعب الايمان كي روايت كړي دي .

**تخريج** : البيهقي في شعب الايمان ٢\٣٥٣، رقم: ٢٠١۴.

**تشريح** : مطلب دادى چي د ګناه او معصيت صادرېدل او په نيكيو كي د غفلت په وجه زړه ته زنګ لګيږي نو د زړه د رڼا ذريعه وښودل سوه چي مرګ زيات يادول او د قرآن كريم په تلاوت كي په بوختيا سره زړه ته رڼا تر لاسه كيږي .

## تر ټولو ستر سورت

﴿۲۰۶۵﴾ : وَعَنْ أَيْفَعَ بْنِ عَبْدِ الْكَلَاعِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ سُوْرَةِ

د حضرت ايفع بن عبد الكلاعي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي په قرآن كريم كي كوم سورت تر ټولو لوى دئ ؟

الْقُرْآنِ أَعْظَمُ ؟ قَالَ ( قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) قَالَ فَأَيُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ أَعْظَمُ ؟

رسول الله ﷺ وفرمايل : قل هو الله احد .بيا هغه پوښتنه وكړه بل كوم آيت عظيم دئ ؟

قَالَ آيَةُ الْكُرْسِيِّ (اَللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ) قَالَ فَأَيُّ آيَةٍ يَا نَبِيَّ اللهِ

رسول الله ﷺ وفرمايل : آية الكرسي ، بيا يې پوښتنه وكړه اې د الله رسوله ! تاسو د خپل ځان او

تُحِبُّ أَنْ تُصِيْبَكَ وَأُمَّتَكَ ؟ قَالَ خَاتِمَةُ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فَإِنَّهَا مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَةِ

امت لپاره كوم آيت خوښوئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د سورة بقرې آخري آيا تونه ځكه دغه د الله جل جلاله د رحمت د خزاني څخه

اللهِ تَعَالٰى مِنْ تَحْتِ عَرْشِهِ أَعْطَاهَا هٰذِهِ الْأُمَّةَ لَمْ تَتْرُكْ خَيْرًا مِّنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ . رواه الدارمي

او د الله جل جلاله تر عرش لاندې نازل سوي دي او دا آياتونه هغه زما امت ته داسي ورکړي دي چي په دې کي د دين او دنيا دواړو ښېګڼي پرتې دي. دارمي

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۴۰، رقم: ۳۳۸۰.

**تشريح**: مخکي يو حديث تېر سوی دی چي په هغه کي سورة فاتحه ته ډېر لوی او تر ټولو عظيم سورت ويل سوي دي او دلته قل هو الله احد ته تر ټولو عظيم الشان سورت ويل کيږي که څه هم په دغه دواړو حديثو کي په ښکاره تضاد معلوميږي مګر په حقيقت کي څه تضاد او اختلاف نسته ځکه سورة فاتحه په دې اعتبار عظيم الشان سورت دی چي دا د الله تعالی پر حمد، دعاء او عبادت باندي مشتمل دی او د قرآن کريم خلاصه ده او سورة اخلاص (قل هو الله احد) په دې اعتبار سره تر ټولو عظيم الشان دی چي په دې کي د الله تعالی د وحدانيت صفت په ډېر لوړ او بليغ انداز کي بيان سوی دی.

د سورة بقره د آخري برخي څخه امن الرسول تر پايه سورت مراد دی دلته د پوښتنه کونکي په جواب کي د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي زه دا خبره خوښوم او زما په نزد دا شي محبوب دی چي د سورة بقره د آخري برخي د آياتو ثواب او برکت ما ته او زما امت ته د ټول قرآن د برکت او فائدې څخه مخکي ورسيږي ځکه دغه آياتونه د دين او دنيا پر ټولو خبرو باندي حاوي دي، په دغه ټولو آياتو کي د امن الرسول څخه اشاره ده د اسلام او احکامو اطاعت او پابندي ته، واليک المصير کي اشاره ده په آخرت کي د عمل جزا ته او په لا يکلف الله نفسا .. کي اشاره ده د دنيوي او اُخروي ګټو ته.

## سورة فاتحه شفاء ده

﴿۲۰۶۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ مُّرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِّنْ كُلِّ دَاءٍ. رواه الدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبدالملک بن عمير رحمه الله څخه مرسلا روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سورة فاتحه د هري ناروغی لپاره شفاء ده. دارمي، بيهقي په شعب الايمان کي

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۳۸، رقم: ۳۳۷۰، البيهقي في شعب الايمان ۲\۴۵۰، رقم: ۲۳۷۰.

**تشريح**: مطلب دادی چي که چيري يو څوک سورة فاتحه په ايمان او يقين سره ووايي نو ددې برکتونه ديني، دنيوي، ظاهري باطني د هر ډول ناروغی او مصيبت څخه شفا او خلاصون تر

لاسه كيږي .

علماء كرام ليكي چي په هر ډول بدني او روحاني ناروغۍ كي د سورة فاتحې په ليكلو سره هغه ځهل، څښل يا زړول كټه رسوي او ناروغ ته سكون تر لاسه كيږي .

## د سورة ال عمران فضيلت

﴿۲۰۶۷﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانٍ قَالَ مَنْ قَرَأَ آخِرَ آلِ عِمْرَانَ فِيْ لَيْلَةٍ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ . رواه الدارمي

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روايت دئ چي څوک چي د سورة آل عمران آخري برخه د شپې تلاوت كړي نو دهغه لپاره د شپې د قيام (تهجد) ثواب ليكل كيږي . دارمي

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\ ۵۴۴، رقم: ۳۳۹۶.

**تشريح**: د آل عمران د آخري برخي څخه : ان في الخلق السموات والارض ... تر پايه پوري آياتونه مراد دي، د شپې مطلب د شپې ابتدائي برخه هم كېداى سي او آخري برخه هم يعني د شپې په ابتداء كي دغه آياتونه ووايي يا د شپې په آخري برخه كي ، د رسول الله ﷺ په اړه دا نقل سوي دي چي د تهجد لمانځه لپاره به پورته كېدى نو هغه وخت به يې اودس وغيره څخه مخكي دغه آياتونه ويل .

## سورة ال عمران د جمعې په ورځ ويل

﴿۲۰۶۸﴾ : وَعَنْ مَكْحُوْلٍ قَالَ مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ آلِ عِمْرَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ إِلَى اللَّيْلِ . رواهما الدارمي

د حضرت مكحول ﷺ څخه روايت دئ څوک چي د جمعې په ورځ سورة آل عمران ووايي نو د هغه لپاره تر شپې پوري ملائكي دعاء او استغفار كوي .دارمي

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\ ۵۴۴، رقم: ۳۳۹۷.

## د سورة بقره اخري درې اياتونه ښځو ته ښوول

﴿۲۰۶۹﴾ : وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ

د حضرت جبير بن نفير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى

خَتَمَ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ بِآيَتَيْنِ أُعْطِيْتُهَا مِنْ كَنْزِهِ الَّذِيْ تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَعَلَّمُوْهُنَّ

سورة بقره پر دوو آیاتو ختم کړې ده دا دواړه آیاتونه ما ته د هغه خزانې څخه راکړل سوي دي چي تر عرش لاندي ده دا آیاتونه خپله زده کړئ

وَعَلِّمُوْهُنَّ نِسَاءَكُمْ فَإِنَّهَا صَلَاةٌ وَّقُرْبَانٌ وَّدُعَاءٌ". رواه الدارمي مرسلا

او خپلو ازواجو ته یې وښیاست ځکه چي دا آیاتونه رحمت دي د الله تعالى د نژدیوالي ذریعه دي او دعاوي دي. دارمي مرسلا.

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۴۲، رقم: ۳۳۹۰.

## د جمعې په ورځ د سورة هود ویلو حکم

﴿۲۰۷۰﴾: وَعَنْ كَعْبٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِقْرَؤُوْا سُوْرَةَ هُوْدٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رواه الدارمي مرسلا.

د حضرت کعب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د جمعې په ورځ سورة هود وایاست. دارمي مرسلا

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۴۵، رقم: ۳۴۰۳.

## د جمعې په ورځ د سورة کهف ویلو حکم

﴿۲۰۷۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ اَضَاءَ لَهُ النُّوْرُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ. رواه البيهقي في الدعوات الكبير

د ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د جمعې په ورځ سورة کهف تلاوت کړي نو د هغه لپاره د دوو جمعو په منځ کي د ایمان نور ځلانده کیږي. بیهقي.

## د سورة الم تنزیل ویلو برکت

﴿۲۰۷۲﴾: وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ قَالَ اِقْرَؤُوْا الْمُنْجِيَةَ وَهِيَ (آلم تنزيل)

د حضرت خالد بن معدان رحمه الله څخه روایت دئ چي خلاصون ورکوونکی سورت وایاست او هغه

الم تنزيل دئ

فَإِنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّ رَجُلاً كَانَ يَقْرَؤُهَا مَا يَقْرَأُ شَيْئًا غَيْرَهَا وَكَانَ كَثِيْرَ الْخَطَايَا

ځکه چي ما ته دا خبره څرګنده سوې ده چي يو سړي به دا سورت وايه او دده پرته به يې هيڅ شی نه وايه او هغه سړی ډير ګناهکار وو،

فَنَشَرَتْ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ قَالَتْ رَبِّ اغْفِرْ لَهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُكْثِرُ قِرَاءَتِيْ فَشَفَّعَهَا

دې سورت پر هغه باز وګان خپاره کړل او ويل يې اې پروردګاره ! دی وبخښې ځکه چي ده به زه ډير ويلم، نو الله تعالی يې شفاعت قبول کړ،

الرَّبُّ تَعَالٰى فِيْهِ وَقَالَ اكْتُبُوْا لَهُ بِكُلِّ خَطِيْئَةٍ حَسَنَةً وَّارْفَعُوْا لَهُ دَرَجَةً وَقَالَ

او وه يې فرمايل : دده د هري ګناه په بدله کي يوه نيکي وليکئ او دده درجه پورته کړئ او خالد

أَيْضًا إِنَّهَا تُجَادِلُ عَنْ صَاحِبِهَا فِي الْقَبْرِ تَقُوْلُ اللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ مِنْ كِتَابِكَ

هم وويل چي دا سورت د خپل ويونکي د لوري جګړه کوي او وايي اې الله ! که زه ستا د کتاب

فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ وَإِنْ لَّمْ أَكُنْ مِنْ كِتَابِكَ فَامْحُنِيْ عَنْهُ وَإِنَّهَا تَكُوْنُ كَالطَّيْرِ

څخه يم نو زما شفاعت دده په حق کي قبول کړې او که ستا په کتاب کي نه يم نو ما د خپل کتاب څخه ليري کړې ، حضرت خالد وويل : دا سورت به په قبر کي د يو مرغه په ډول وي

تَجْعَلُ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ فَتَشْفَعُ لَهُ فَتَمْنَعُهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَقَالَ فِيْ (تَبَارَكَ)

چي خپل وزر به پر خپل ويونکي کښيږدي او د هغه شفاعت به کوي او دی به د قبر د عذاب څخه ژغوري او خالد وويل د سورة تبارک الذي بيده الملک

مِثْلَهُ وَكَانَ خَالِدٌ لَّا يَبِيْتُ حَتّٰى يَقْرَأَهُمَا وَقَالَ طَاوُوْسٌ فُضِّلَتَا عَلٰى كُلِّ سُوْرَةٍ

فِي الْقُرْآنِ بِسِتِّيْنَ حَسَنَةً . رواه الدارمي

په اړه هم داسي خبره ده . او خالد چي به تر څو پوري دا دوه سورتونه ونه ويل د شپې به نه بيده کېدئ ، او طاؤس راوي وويل چي دې دوو سورتو ته د قرآن پر نورو سورتو په اندازه د شپېتو

نيكيو عظمت وركړل سوي دي. دارمي

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۴۶، رقم: ۳۴۰۸.

**تشريح**: حضرت خالد رحمه الله يو جليل القدر تابعي دی د اوويا ۷۰ صحابه كرامو د ليدني او صحبت شرف ورته حاصل دی، همدارنګه طاوس رحمه الله هم د مشهورو تابعينو څخه دی، د خالد او طاووس دواړو څخه پورتني ذكر سوي روايتونه كه څه هم مرسل دي چي دلته د صحابي واسطه ذكر سوې نه ده مګر په حكم كي مرفوع دي ځكه دا ډول خبري يوازي د رسول الله ﷺ څخه معلوميدای سي چي د صحابي په ذريعه تابعي ته رسيدلي وي ځكه نو دا خبره په ذهن كي ساتل پكار دي چي دغه روايتونه ددغه حضراتو خپل اقوال نه دي بلكه مرفوع روايتونه دي.

پر هغه يې خپل وزر خپور كړ: ددې مطلب دادی چي هغه سورت يا د هغه ثواب د مرغه شكل اختيار كړ او خپل وزر يې پر ويونكي خپور كړ چي پر هغه سايه وكړي يا دا چي هغه د خپل رحمت وزر خپاره كړل يعني په خپل پناه كي يې واخيستی او د هغه له خوا يې شفاعت او وكالت وكړ په قبر كي جګړه كوي: ددې مطلب دادی چي كوم څوک دا سورت همېشه وايي نو په قبر كي د عذاب د سپكوالي يا په قبر كي د پراخۍ او وسعت يا دا ډول نورو اسانيو او سهولت شفاعت كوي، د حضرت طاوس رحمه الله د روايت الفاظ دادي چي دغه دواړو سورتو ته د قرآن كريم پر هر سورت فضيلت وركړل سوی دا د هغه صحيح روايت خلاف نه دی چي سورة بقره د سورة فاتحې وروسته د قرآن كريم تر ټولو سورتونو افضل دی، د سورة بقره فضيلت په دې اعتبار دی چي په دې كي ډېر لوړ او اعلى مضامين مذكور دي او په دغه دواړو سورتو ته ځكه فضيلت حاصل دی چي دا خپل ويونكي د قبر د عذاب څخه ساتي.

## د سورة ياسين په ويلو سره حاجتونه پوره كيږي

﴿۲۰۷۳﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ مَنْ قَرَأَ (يس) فِي صَدْرِ النَّهَارِ قُضِيَتْ حَوَائِجُهُ. رواه الدارمي مرسلا

د حضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله څخه روايت دئ چي ما ته څرګند سوې ده چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي چي څوک د ورځي په پيل كي سورة ياسين ووايي د هغه حاجتونه پوره كيږي. دارمي مرسلا

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۴۹، رقم: ۳۴۱۸.

## دزکندن په وخت کي د سورة یاسین ویلو حکم

﴿۲۰۷۴﴾: وَعَنْ مُعْقِلِ بْنِ يَسَارِ الْمُزَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت معقل بن يسار المزني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ قَرَأَ ( يس ) اِبْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ فَاقْرَؤُوْهَا عِنْدَ مَوْتَاكُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

چا چي یوازي د الله د رضا لپاره سورة یاسین وواېه د هغه مخکني ګناه معاف کیږي نو دا سورت تاسو د خپلو مړو په وړاندي وایاست . بیهقي

**تخریج**: البيهقي في شعب الايمان ۲\ ۴۷۹، رقم: ۲۴۵۸.

**تشریح**: د ګناهو څخه صغیره ګناهونه مراد دي چي هغه ددغه سورت په برکت بخښل کیږي همدارنګه کبیره ګناه هم بخښل کیږي که د الله تعالی فضل او کرم او رحمت شامل حال وي . د مړو څخه مراد قريب الموت (یعني مرګ ته نژدې کسان ) دي، مطلب دادی چي کوم څوک مرګ ته نژدې وي د هغه په وړاندي سورة یاسین ویل پکار دي چي هغه د خپل ژوند په آخري ګړي کي هغه واوري او د هغه معنی ته د هغه توجه وي همدارنګه ددې اوریدل به د هغه د ویلو په حکم کي سي چي د هغه د مغفرت او بخښني سبب به وي ، یا د مړو څخه مراد دا هم کېدای سي چي دغه سورت به د خپل مړي د بخښني زيات احتياج وي .

## سورة بقرة د قران کریم عظمت دی

﴿۲۰۷۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامًا وَإِنَّ سَنَامَ الْقُرْآنِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ وَإِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ لُبَابًا وَإِنَّ لُبَابَ الْقُرْآنِ الْمُفَصَّلُ .

رواه الدارمي

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د هر شي لوړتيا وي او د قرآن لوړتيا سورة بقرة ده او د هر شي خلاصه وي او د قرآن خلاصه مفصل دئ يعني سورة حجرات څخه د قرآن کريم تر پايه پوري . دارمي .

**تخریج**: سنن الدارمي ۲\ ۵۳۹، رقم: ۳۳۷۷.

**تشريح**: سورة بقره د قرآن کريم رفعت او لوړي ځکه ده چي نه يوازي دا چي د قرآن کريم په سورتونو کي تر ټولو لوی سورت دی بلکه په دغه سورت کي ډېر زيات احکام هم مذکور دي.

مخکي په څو ځايو کي ښودل سوي دي چي مفصل د سورة حجرات څخه د قرآن کريم تر ختم پوري يعني تر سورة الناس پوري سورتو ته ويل کيږي دا سورتونه د ټول قرآن کريم خلاصه دي په دې توګه چي قرآن کريم کوم مضامين په اختصار او اجمالي توګه په متفرق سورتو کي ذکر سوي دي هغه په دغه سورتو کي په يو ځای او په تفصيل سره بيان سوي دي ځکه نو دغه سورتو ته د مفصل ويلو وجه تسميه هم ډېره ښه ده .

﴿۲۰۷۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامًا وَإِنَّ سَنَامَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د هر شي لوړتيا وي او د قرآن لوړتيا

الْقُرْآنِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ وَإِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ لُبَابًا وَإِنَّ لُبَابَ الْقُرْآنِ الْمُفَصَّلُ .

رواه الدارمي

سورة بقرة ده او د هر شي خلاصه وي او د قرآن خلاصه مفصل دئ يعني سورة حجرات څخه د قرآن کريم تر پايه پوري . دارمي .

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۳۹، رقم: ۳۳۷۷.

**تشريح**: سورة رحمان ته د قرآن کريم ښکلا ځکه ويل سوي دي چي په دې کي د دنيا او آخرت د نعمتونو بيان دی د حورو د اوصافو بيان دی چي د جنت ناوي به وي او د دغه حورو د زېوراتو وغيره بيان دی .

## د سورة واقعه تاثير

﴿۲۰۷۶﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

قَرَأَ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ لَّمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ اَبَدًا وَكَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ يَّأْمُرُ

بَنَاتِهِ يَقْرَأْنَ بِهَا فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

هره شپه سورة واقعه وايي هغه به په فاقه (لوږه) کي هيڅ کله اخته نه سي او ابن مسعود به خپلو زامنو ته ويل چي دا سورت هره شپه واياست . دا دواړه حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي نقل کړي دي .

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۲\۴۹۱، رقم: ۲۴۹۸.

**تشريح**: د فاقه معنی محتاج او اړتيا ده، ددغه ارشاد مطلب دادی چي کوم څوک هره ورځ د شپې سورة واقعه وايي نو د هغه لپاره محتاجي د تاوان او پريشانۍ باعث نه ګرځي په دې وجه هغه ته د صبر او قناعت دولت ورکول کيږي يا دا چي داسي سړي ته د زړه محتاجي نه وي يعني د ظاهري محتاجۍ سربېره د هغه زړه مستغني وي ځکه چي د هغه زړه ته وسعت او پراخي تر لاسه کيږي الهي معرفت تر لاسه کيږي او د توکل او اعتماد سرمايه د هغه زړه او روح پيدا کوي او ددې سبب دا وي چي هغه سړی ددغه سورت د معنی او مفهوم څخه استفاده کوي .

په هر حال په دې خبره پوهېدل پکار دي چي شارع هغه عباداتو او نيکيو ته رغبت ورکړی دی چي نه يوازي په اخروي توګه د فلاح او سعادت باعث دي بلکه په دنيوي امورو کي هم ګټور او مؤثر دي چي د هغه حصول ددين لپاره ممد او معاون دي او د هغه مقصد دا وي چي خلک په هر حال په څه نا څه عبادت او نيکو کارو کي بوخت وي .

## د سورة اعلی فضيلت

﴿۲۰۷۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ هٰذِهِ السُّوْرَةَ (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى) رواه أحمد .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به سورة سبح اسم ربک الاعلی ډير خوښوئ ، احمد

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۱\۹٦.

**تشريح**: رسول الله ﷺ به سورة اعلی يعني سبح اسم ربک الاعلی ډېر زيات خوښوی چي په هغه کي دغه آيت : ان هذا لفي الصحف الاولی صحف ابراهيم وموسی – دی چي د قرآن کريم پر حقانيت او صداقت شاهد او د مشرکينو او اهل کتاب د خيالاتو او اعتقاداتو ټينګ ترديد دی.
حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله رسوله ! د حضرت ابراهيم عليه السلام په صحيفو کي څه وه ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل په هغه کي ټول مثالونه بيان

سوي دي مثلا ويل سوي دي چي اې مسلط نفسه او فريب خوره پاچا ما ته دنيا ته دده لپاره نه وې لېږلې چي تا دنيا جمع کول پيل کړل بلکه ما ته دنيا ته دده لپاره لېږلې وې چي ته د مظلومانو د ښېرا څخه ځان وساتې که څه هم مظلوم کافر وي، د سليم الطبع او عقلمند انسان لپاره لازم دي چي هغه يوازي د درو شيانو طمع وکړي ۱: معاد يعني د آخرت لپاره د توښې تيارول، ۲: يا د خپل ژوند د اصلاح ۳: يا د غير حرام څخه د لذت او ګټې تر لاسه کول، د عقلمند لپاره لازم دي چي پر خپل زمانې باندي نظر کونکی وي خپل حال ته متوجه وي او د خپل ژبې حفاظت کونکی وي څوک چي د خپل خبرو د خپل اعمالو سره محاسبه وکړي د هغه کلام به زيات نه وي هغه به يوازي هغه کلام کوي چي ضروري وي .

ابوذر رضي الله عنه وايي چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! د حضرت موسى عليه السلام په صحيفو کي څه وه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په هغه کي عبرتونه يعني بېرونکي خبري وې مثلا په هغو کي ويل سوي وه چي ما ته پر هغه سړي تعجب دی چي پر مرګ باندي يقين لري مګر دده سربېره هغه خوشحاله هم وي ما ته پر هغه سړي تعجب دی چي دنيا او د هغه انقلابويني او بيا هم په هغه سره مطمئن وي او ما ته پر هغه سړي تعجب دی چي سبا ته د قيامت پر ورځ يقين لري او بيا هم عمل نه کوي .

## جامع سورت

(۲۰۷۹): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ أَتَى رَجُلٌ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغلی

فَقَالَ أَقْرِئْنِي يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ اقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ الر فَقَالَ كَبُرَتْ سِنِّي
او ويې ويل اې د الله رسوله ! ما ته (د ويلو لپاره) يو شی راوښيه ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ته دغه درې سورتونه وايه چي د هغه په پيل کي (الر) دي ، هغه وويل زما عمر زيات سوئ دئ

وَاشْتَدَّ قَلْبِي وَغَلُظَ لِسَانِي قَالَ فَاقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ حاميم فَقَالَ مِثْلَ
زما زړه سخت دئ او ژبه مي غټه ده يعني دده کبله دا سورتونه نه سم يادولای، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ته په دې سورتو کي درې سورتونه وايه چي د هغه په پيل کي (حم) دئ ، هغه هم هغه وويل کوم چي يې مخکي ويلي وه ،

مَقَالَتِهِ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَقْرِئْنِي سُورَةً جَامِعَةً فَأَقْرَأَهُ رسول الله

او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! ما ته يو داسي سورت پکار دئ چي جامع وي يعني په هغه کي ډيري خبري يو ځای سوي وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ حَتّٰى فَرَغَ مِنْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ وَالَّذِي

اذا زلزلت الارض ووايه، تر څو چي د هغه څخه فارغ سو يعني ټول سورت يې ووايه، بيا هغه سړي وويل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي

بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِيدُ عَلَيْهَا أَبَدًا ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ مَرَّتَيْنِ . رواه احمد وابوداؤد .

ته سو يې په حق راليږلي ياست زه به تر دې هيڅکله زيات نه کړم ، بيا چي هغه سړی ستون سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا سړی کامياب سو ، دا الفاظ رسول الله ﷺ دوه واره وفرمايل . احمد او ابوداؤد .

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۲\۱۶۹، وابوداؤد ۲\۱۱۹، رقم: ۱۳۹۹.

**تشريح**: د کومو سورتونو په پيل کي چي لفظ د الر وي د هغو شمېر پنځه دی د دغه سورتونو په باره کي رسول الله ﷺ پوښتنه کونکي ته وفرمايل چي په دې کي يو درې سورتونه وايه .

سورة اذا زلزلت الارض ته جمع سورت ځکه ويل سوي دي چي په دغه سورت کي دغه يو آيت دی : فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره ومن يعمل مثقال ذرة شرا يره، چا چي د ذرې په اندازه نيکي وکړه هغه به ويني او چا چي د د ذرې په اندازه بدي وکړه هغه به هم ويني .

په دغه آيت کي هغه ټول شيان راغلي دي چي د هغو د کولو حکم ورکړل سوی دی او د هغو د مجموعې نوم دی خېر او ښېګڼه او هغه ټول شيان هم په دې کي شامل دي چي د هغو څخه د ځان ساتلو حکم سوی دی چي د هغو د مجموعې نوم شر او بدي ده.

## د سورة التکاثر فضيلت

﴿۲۰۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا يَسْتَطِيعُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا په تاسو کي څوک هره

أَحَدُكُمْ أَنْ يَّقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ ؟ قَالُوْا وَمَنْ يَّسْتَطِيْعُ أَنْ يَقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ

ورځ د زرو آياتو توان لري ؟ صحابه كرامو عرض وكړ څوك د دې توان لري چي هره ورځ زر

فِيْ كُلِّ يَوْمٍ ؟ قَالَ أَمَا يَسْتَطِيْعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّقْرَأَ ( أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ) . رواه البيهقي في شعب الإيمان

آياتونه ووايي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا په تاسو كي څوك د دې توان لري چي هره ورځ الهاكم التكاثر ووايي . بيهقي په شعب الايمان كي .

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۲\ ۴۹۸، رقم: ۲۵۱۸.

**تشريح**: مطلب دا دى كه چيري يو څوك هره ورځ دغه سورت وايي نو هغه ته د زرو آياتونو ثواب وركول كيږي ځكه په دغه سورت كي د دنيا څخه بې رغبتي سوې ده او آخرت ته د متوجه كېدو ترغيب وركړل سوى دى .

## د قل هو الله احد ويلو تاثير او بركت

﴿۲۰۸۱﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سعيد بن المسيب رضي الله عنه څخه مرسلا روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ مَنْ قَرَأَ ( قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ) عَشَرَ مَرَّاتٍ بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ

څوك چي لس واره قل هو الله احد ... ووايي نو د هغه لپاره به په جنت كي يوه ماڼۍ جوړه سي او د

قَرَأَ عِشْرِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ قَرَأَهَا ثَلَاثِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ

څوك چي يې شل واره ووايي نو د هغه لپاره به په جنت كي دوې ماڼۍ جوړې سي او څوك چي يې ديرش واره ووايي نو د هغه لپاره به په جنت كي

لَهُ بِهَا ثَلَاثَةُ قُصُوْرٍ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِذًا

درې ماڼۍ جوړې سي . ( د دې په اورېدو سره ) حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه وويل په الله جل جلاله دي مي قسم وي اې د الله رسوله !

لَنُكَثِّرَنَّ قُصُوْرَنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللهُ أَوْسَعُ مِنْ ذٰلِكَ.

رواه الدارمي

داسي خو به موږ په جنت کي ډیر محلونه جوړ کړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: الله ﷻ تر دې هم زیات اوسع دئ، یعني د هغه فضل ډیر پراخ دئ. دارمي.

**تخریج**: سنن الدارمي ۲\۵۵۱، رقم: ۳۴۲۹.

## د شپې د قران کریم ویلو اثر

﴿۲۰۸۲﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلاً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ

د حضرت حسن رضي الله عنه څخه مرسلا روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د شپې

فِيْ لَيْلَةٍ مِائَةَ آيَةٍ لَمْ يُحَاجَّهُ الْقُرْآنُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَمَنْ قَرَأَ فِيْ لَيْلَةٍ مِائَتَيْ آيَةٍ

سل آیاتونه ووایي نو د هغه سره به په هغه شپه کي قرآن جګړه نه کوي او څوک چي د شپې دوه سوه آیاتونه تلاوت کړي

كُتِبَ لَهُ قُنُوْتُ لَيْلَةٍ وَمَنْ قَرَأَ فِيْ لَيْلَةٍ خَمْسَمِائَةٍ إِلَى الْأَلْفِ أَصْبَحَ وَلَهُ قِنْطَارٌ

د هغه لپاره د شپې د قیام (تهجد) ثواب لیکل کیږي او څوک چي د شپې د پنځو سوو څخه تر زرو پوري آیاتونه ووایي نو هغه به په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره به د قنطار

مِنَ الْأَجْرِ قَالُوْا وَمَا الْقِنْطَارُ؟ قَالَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا. رواه الدرامي

په اندازه ثواب وي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه: قنطار څه ته وایي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دوولس زره (درهم یا دینار). دارمي.

**تخریج**: سنن الدارمي ۲\۵۵۷، رقم: ۳۴۵۹.

**تشریح**: قرآن کریم به د هغه سره جګړه نه کوي: ددې مطلب دادی چي کوم څوک قرآن کریم نه وایي او د هغه سره تعلق نه ساتي نو قرآن کریم د هغه دښمن سي او پر هغه لعنت وایي نو د شپې د قرآن کریم یو څو آیاتونه ویل په هغه شپه کي د قرآن کریم د دښمنۍ دفع او د هغه د حق ادا کولو لپاره کافي دي.

سړي دم کوی او رسول الله ﷺ به دغه عمل خوښوی.

دار قطني او ابن عساکر د زیب ابن سائب رضی الله عنه څخه نقل کوي چي نبي کریم ﷺ د سورة فاتحې په ویلو سره پر هغه دم کړی او د دغه سورت په ویلو سره به یې خپل نارې مبارکي د هغه د بدن پر هغه برخه و موږلې کوم ځای چي به درد وو.

بزار رحمه الله په خپل مسند کي د انس بن مالک رحمه الله څخه نقل کړي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل کوم څوک چي خپل اړخ پر بستره کښیږدي (یعني د ښېده کېدو اراده وکړي) او بیا د سورة فاتحه او قل هو الله احد په ویلو سره هغه پر ځان دم کړي نو هغه د هر آفت او بلا څخه خوندي سو مګر دا چي مرګ یې راغلی وي یعني د مرګ څخه یې هیڅ شي نسي خوندي کولای.

عبد حمید په خپل مسند کي د ابن عباس رضی الله عنه څخه په مرفوع طریقه دا روایت نقل کړی دی چي فاتحه الکتاب یعني سورة فاتحه د ثواب په اعتبار د قرآن کریم د دوه پر درې برخي سره برابر ده، ابو الشیخ طبراني، ابن مردویه، دیلمي او ضیاء مقدسي روایت کوي چي د نبي کریم ﷺ ارشاد دی ما ته د عرش د خزانې څخه څلور شیان راکړل سوي دي د دغه خزانو څخه د دغه څلورو شیانو څخه پرته بل هیڅ شی هیچا ته نه دی ورکړل سوی او هغه څلور شیان دا دي:

۱- ام الکتاب (سورة فاتحه)، ۲: آیت الکرسي، ۳: د سورة بقرې آخري آیاتونه، ۴: سورة کوثر.

ابو نعیم او دیلمي د ابوذر رضی الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل سورة فاتحه د هغه شي څخه کفایت کوي کوم چي د قرآن کریم بل هیڅ سورت او آیت کفایت نه کوي که سورة فاتحه د ترازو په یوه پله کي واچول سي او پاته قرآن کریم په بله پله کي واچول سي نو یقینا سورة فاتحه به د اوو قرآنو برابر وي.

ابو عبید رحمه الله په فضائل قرآن کي د حسن بصري رحمه الله څخه روایت کوي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل کوم څوک چي سورة فاتحه ووایي هغه ګویا تورات، انجیل، زبور او قرآن کریم ووایه. په تفسیر وکیع، کتاب المصاحف ابن انباري، کتاب العظمة، ابو الشیخ او حلیة اولیاء ابو نعیم کي منقول دي چي ابلیس ملعون د زارۍ او نوحه کولو لپاره څلور واره پر خپل سر خاوري اچولي دي ۱: اول هغه وخت کله چي هغه ملعون وګرځول سو، ۲: دوهم هغه وخت کله چي هغه د آسمان څخه مځکي ته راکښته کړل سو، ۳: دریم هغه وخت کله چي نبي کریم ﷺ په نبوت سره مشرف سو، ۴: څلورم هغه وخت کله چي سورة فاتحه نازل سوه.

ابو الشیخ په کتاب الثواب کي لیکلي دي چي کوم چا ته یو اړتیا پېښه سي نو هغه ته پکار ده چي هغه سورة فاتحه ووایي او د هغه وروسته د خپل حاجت لپاره دعاء وکړي انشاء الله تعالی د هغه اړتیا او حاجت به پوره سي.

ثعلبي رحمة الله عليه د شعبي رحمة الله عليه څخه روایت کوي چي یو سړی د هغه په خدمت کي حاضر سو او د ګردي (پښتورګو) د درد شکایت یې وکړ نو هغه ته یې وویل چي تا ته پکار دي چي د اساس القرآن په ویلو سره د درد پر ځای دم کړې انشاء الله تعالی شفا به تر لاسه کړې، هغه سړي پوښتنه وکړه چي اساس القرآن څه ته وایي، شعبي رحمة الله عليه ورته وویل فاتحه الکتاب یعني سورة فاتحه.

په مشائخ مجرب أعمال کي دا مذکور دي چي سورة فاتحه اسم اعظم دی دا سورة د هر مطلب او حاجت لپاره ویل پکار دی په دې اړه د سورت د ویلو دوې طریقې منقول دي:

۱: اول دا چي دغه سورت د سهار د سنت او فرض په مینځ کي یو څلوېښت ۴۱ واره هره ورځ تر څلوېښت ورځو پوري داسي وویل سي چي د بسم الله الرحمن الرحیم میم د الحمد د لام سره یو ځای کړل سي یعني بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العالمین ....، دغه سورت تر ټاکل سوو ورځو پوري په مذکوره طریقې سره د ویلو وروسته به انشاء الله مطلب تر لاسه سي، که د یو ناروغ یا جادو سوي شفا مطلوب وي نو په مذکوره طریقې سره د دغه سورت په ویلو سره پر اوبو دي یې دم کړي او هغه دي پر ناروغ یا جادو سوي باندي وڅښل سي انشاء الله تعالی شفاء به تر لاسه کړي.

۲: دوهم دا چي د نوي میاشتي د یکشنبې په ورځ د سهار د سنت او فرض لمانځه په مینځ کي د بسم الله الرحمن الرحیم د میم د الحمد لله د لام سره د یو ځای کولو د قید څخه پرته اوویا ۷۰ واره دي دغه سورت ووایي د هغه وروسته دي هره ورځ همداسي کوي مګر داسي چي هره ورځ د مذکوره شمېر څخه لس واره کمي کوي یعني د یکشنبې په ورځ اویا واره په دوهمه ورځ شپیته واره او په دریمه ورځ پنځوس واره همدارنګه لس لس واره کمول پکار دي تر دې چي د شنبې په ورځ ختم سي که په اوله میاشت کي مطلب تر لاسه سي خو ډېره ښه کنه نو په دویمه میاشت او دریمه میاشت کي دي همداسي وکړي انشاء الله تعالی مقصد به یې پوره سي.

د امراض مزمنه (پخوانیو ناروغیو) د شفا لپاره دغه سورت پر چیني پیالې یا غاب باندي په ګلاب او مشک او زعفران سره په لیکلو څښل یو مجرب عمل دی همدارنګه د غاښو درد، د نس درد او نورو دردو لپاره اووه واره د سورة فاتحې په ویلو سره دم کول مجرب دی.

## د سورة بقرې فضائل

د سورة بقرې هم ډېر زيات فضيلتونه نقل سوي دي، په صحيح مسلم كي د انس بن مالك رضي الله عنه څخه دا قول منقول دی چي په موږ كي به چا سورة بقره او سورة آل عمران وايه نو په موږ كي به د هغه مرتبه او عظمت ډېر لوړ كېدی ددې خبري تائيد ددې څخه هم كيږي چي رسول الله ﷺ يو ځای ته لښكر لېږی د هغه لښكر د امير په ټاكلو كي تردد پيدا سو رسول الله ﷺ د هغه لښكر هر كس را وغوښت د هغه څخه يې پوښتنه كول چي تا د قرآن كريم كوم سورت ياد كړی دی د هغه چي به كوم سورت ياد وو هغه به يې ښودی تر دې چي يو زلمي ته واری ورسيدی چي په عمر كي تر ټولو كوچنی وو رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وكړه چي ستا كوم سورت په ياد دی هغه وويل چي فلانی او فلانی سورت او سورة بقره هم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستا سورة بقره هم په ياد ده هغه زلمي وويل هو ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ځه ته ددغه لښكر امير وټاكل سوې .

بيهقي په شعب الايمان كي دا روايت نقل كړی دی چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سورة بقره د هغه د حقائقو او نكاتو سره د دوولس كالو په وخت كي وويل او په كومه ورځ چي هغه دغه سورت ختم كړی نو په هغه ورځ يې يو اوښ ذبح كړ او د رسول الله ﷺ په اصحابو يې وخوړی .

په دې اړه د ابن عمر رضي الله عنه څخه دا هم منقول دي چي هغه تر اتو كلو پوري ددغه سورت په ويلو كي خپل ځان بوخت وساتی د اته كاله وروسته يې دا سورت ختم كړی ، خلاصه دا چي د رسول الله ﷺ او اصحابو كرامو په نزد دغه سورت ته چي كوم عظمت او فضيلت تر لاسه وو هغه بل هيڅ سورت ته تر لاسه نه وو .

ددغه سورة د مجرب خواصو څخه يو دادی چي په كوم فصل كي پر كوچنيانو غټي دانې (د كال دانې) راخيږي نو هغه وخت چي د كوم كوچني روغتيا منظور وي د هغه په مخكي دي په تش نس دغه سورت په تجويد او ترتيل سره وويل سي او پر هغه دي دم كړل سي انشاء الله تعالى روغتيا به تر لاسه كړي ، كله چي دغه سورت پيل كړل سي نو دوه نيم پاوه وريجي دي چي په هغه كي مستې او بوره هم ګډه سي او په هغه مجلس كي دي يې يو مستحق ته د خوراک لپاره وركړي .

## د سورة كهف د آيت فضائل

په در منثور كي منقول دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل كوم څوک چي د سورة كهف لومړني لس آياتونه په ياد كړي هغه به د دجال د فتنې څخه خوندي سي همدارنګه هغه څوک به هم د

دجال د فتنې څخه خوندي وي کوم چې ددغه سورت آخري لس آیاتونه په یاد کړي او کوم څوک چې د بېده کېدو پر وخت د سورة کهف لس آیاتونه وایي هغه به ددجال د فتنې څخه وساتل سي او کوم څوک چې د بېده کېدو پر وخت ددغه سورة آخري برخه وایي نو د هغه لپاره به د قیامت په ورځ د هغه د قرائت څخه د هغه تر قدمه پوري نور وي (ددغه جملې په معنی کي دوه احتماله دي يو خو دا چې چیري دی تلاوت کوي هلته به د هغه ځای څخه بیا تر هغه ځایه پوري چیري چې دی د قیامت په ورځ ولاړ وي د هغه لپاره نور وي او یا دا چې د قرائت د ځای څخه مراد د ویونکي مخ دی یعني د قیامت په ورځ به د هغه لپاره د هغه د مخ څخه د هغه تر پښو پوري نور وي).

په یو بل روایت کي دي چې کوم څوک د جمعې په ورځ سورة کهف وایي نو د هغه جمعې څخه تر بلي جمعې پوري به د هغه د صغیره ګناهو کفاره وي همدارنګه په یو بل روایت کي دي چې په کوم کور کي سورة کهف ویل کیږي په هغه شپه په هغه کور کي شیطان نه داخلیږي.

## د سورة ملک او سورة یاسین وغیره فضیلت

د نبي کریم ﷺ ارشاد دی کوم څوک چې د ماخستن وروسته څلور رکعته لمونځ وکړي په داسي توګه چې په اولو دوو رکعتو کي قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد ووایي او په وروسته دوو رکعتو کي تبارک الذي او الم تنزیل السجده ووایي نو د هغه لپاره ددغه څلورو رکعتو ثواب دداسي څلورو رکعتو د ثواب په اندازه لیکل کیږي کوم چې په لیلة القدر کي وکړل سي، همدارنګه په یو بل روایت کي دي چې کوم څوک د ماښام او ماخستن د لمانځه په مینځ کي سورة تبارک الذي او الم تنزیل السجده وایي نو ګویا هغه په لیلة القدر کي شپه رڼه کړل.

په یو بل روایت کي د حضرت کعب رضی الله عنه څخه روایت دی چې کوم څوک د شپې الم تنزیل السجده او تبارک الذي وایي نو د هغه لپاره اویا ۷۰ نیکۍ لیکل کیږي او د هغه اویا بدۍ لیري کیږي او اویا درجې یې لوړیږي، او په یوه روایت کي دي چې کوم څوک د شپې الم تنزیل السجده او تبارک الذي وایي نو الله تعالی د هغه لپاره د لیلة القدر د ثواب په ډول ثواب لیکي.

ابن خریس، ابن مردویه، خطیب او بیهقي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل په تورات کي د سورة یاسین نوم معمه اېښودل سوی دی د هغه مطلب دادی چې دغه سورت د خپل ویونکي لپاره د دنیا او آخرت پر ټولو نیکیو او ښېګڼو باندي مشتمل دی د خپل ویونکي څخه د دنیا او آخرت مصیبت دفع کوي او د هغه څخه د آخرت

بهره لیري کوي او ددې نوم رافعه، یا دافعه، یا خافضه او یا قاضیه هم ابښودل سوی دی ددې مطلب دادی چي دغه سورت د مؤمنانو مرتبه لوړوي او کافران کښته کوي او د خپل ویونکي څخه هره بدي دفع کوي او د هغه هر حاجت پوره کوي ، کوم څوک چي دغه سورت وایي نو د هغه په حق کي د شل حجونو ثواب دی او کوم څوک چي دغه اوري نو د هغه په حق کي دداسي دینارو برابر دی کوم چي د الله تعالی په لار کي (جهاد) خرڅ کړل سي او کوم څوک چي دا لیکي او څښښي یې نو د هغه په نس کي زر نوره ، زر برکتونه او زر رحمتونه داخلیږي او د هغه څخه هره کینه او هر ډول درد او تکلیف وځي .

په یوه روایت کي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل زه دا خوښوم چي سورة یاسین زما د امت د هر کس په زړه کي وي (یعني د هر چا په یاد وي) او رسول الله ﷺ وفرمایل کوم څوک چي هره ورځ د سورة یاسین پر ویلو باندي همېشتوب کوي او بیا هغه مړ سي نو هغه ته د شهادت مرګ په برخه کیږي او رسول الله ﷺ وفرمایل چي کوم څوک د ورځي په شروع کي (یعني د سهار د لمانځه وروسته) سورة یاسین وایي نو د هغه حاجتونه پوره کیږي .

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي کوم څوک سورة یاسین د سهار په وخت کي وایي نو هغه ته تر ماښام پوري د هغه ورځي آساني ورکول کیږي او کوم څوک چي د شپې په لومړني برخه کي وایي نو هغه ته تر سهار پوري د هغه شپې اساني ورکول کیږي، بیهقي د ابو قلابه رحمه الله علیه څخه چي د سترو تابعینو څخه دی روایت نقل کوي چي کوم څوک سورة یاسین ووایي د هغه بخښنه کیږي او کوم څوک چي د لوږي په حالت کي دغه سورت ووایي نو هغه مړیږي او کوم څوک چي په داسي حالت کي ووایي چي لاره ځیني ورکه وي نو خپل لار به تر لاسه کړي او کوم څوک چي په داسي حالت کي ووایي چي خپل حیوان ځیني ورک سوی وي نو هغه به تر لاسه کړي او کوم څوک چي د خوراک په حالت کي کله چي د خوراک د کمی بېره وي دغه سورت ووایي نو هغه خوراک به کافي سي او کوم څوک چي سورة یاسین مړي یا مرګ ته نژدې کس ته ووایي نو هغه پر هغه مړي یا مرګ ته نژدې کس باندي به اساني وسي او کوم څوک چي دغه سورة د یو ښځي په مخکي ووایي چي هغه د کوچني د پیدا کېدو په سخت کي درد کي اخته وي نو د هغه د کوچني په پیدا کېدو کي به اساني تر لاسه سي او کوم څوک چي دغه سورت ووایي نو لکه چي هغه پوره قرآن کریم یو ولس واره ووایه او په یاد ولرئ چي د هر شي زړه وي او د قرآن کریم زړه سورة یاسین دی .

مقبري رحمه الله وایي که چیري یو ډول بېره وي د وخت د حکومت څخه یا دد ښمن څخه د

تکلیف رسیدو اندېښنه وي نو سورة یاسین دي ووایي انشاء الله د هر ډول بېري او اندېښنې څخه به خوندي سي ، د نبي کریم ﷺ ارشاد دی څوک چي د جمعې په ورځ سورة یاسین او الصافات ووایي او بیا د الله تعالی څخه یو شی وغواړي نو الله تعالی به هغه شی ورکړي .

ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چي موږ به د رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه کېدل په دې پېژندل چي رسول الله ﷺ به دغه آیت : سبحان ربک رب العزة عما یصفون... الخ، وایه او رسول الله ﷺ به فرمایل کوم څوک چي د لمانځه څخه وروسته دغه آیت درې واره وایي نو ېبله شکه هغه په پوره پیمانې سره ثواب تر لاسه کړ، رسول الله ﷺ به دا هم فرمایل چي د چا دا خبره خوښه وي چي هغه د قیامت په ورځ د پوره ثواب وړ سي نو هغه ته پکار ده چي هغه د خپل مجلس په آخر کي کله چي د ولاړېدو اراده ولري دغه آیت : سبحان ربک ..الخ، ووایي .

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي الله تعالی ما ته سبع طول (یعني اووه لوی سورتونه) د قرآن کریم په شروع کي د تورات پر ځای راکړی دی د الرات څخه (یعني هغه سورتونه چي په شروع کي یې الر یا المر وي) تر طواسین (یعني هغه سورتونه چي د هغو په شروع کي طس یا طسم وي) پوري د انجیل پر ځای راکړي دي ، د طواسین او حامیمون (یعني هغه سورتونه چي د هغو په شروع کي حم وي) په مینځ کي سورتونه د زبور پر ځای راکړل سوي دي او د حامیمون او مفصل په ذریعه ما ته امتیاز او فضیلت راکړل سوی دی ، زما څخه مخکي هیڅ نبي دغه سورتونه نه دي ویلي .

ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چي د هر شي یو خلاصه وي او د قرآن کریم خلاصه حامیمون دی ، د سمرة ابن جندب رضی الله عنه څخه مرفوع روایت دی چي حامیمون د جنت د باغو څخه باغونه دي .

د نبي کریم ﷺ ارشاد دی چي حامیمون اووه دي (یعني هغه سورتونه چي په شروع کي یې حم دی ) او د دوږخ دروازې هم اووه دي په دې کي هر حم به د قیامت په ورځ د دوږخ پر هره دروازه ولاړ وي او هر یو به عرض کوي چي اې پروردګاره ! د دغه دروازې په ذریعه هغه سړی په دوږخ کي داخل مه کړې کوم چي پر ما باندي ایمان درلودی او زه یې ویلم ، او رسول الله ﷺ وفرمایل لکه څرنګه چي د هري درختي میوه وي همداسي د قرآن کریم میوې حامیمون دي هغه باغونه دي ارزاني کونکي ، مړونکي د تجارت ځای نو کوم څوک چي دا خوښوي چي هغه د جنت په باغو کي تفریح وکړي نو هغه ته پکار دي چي هغه حامیمون ووایي .

بیهقي په شعب الایمان کي نقل کړي دي چي نبي کریم ﷺ به تر هغه وخته پوري نه بېده کېدی تر څو چي به یې تبارک الذي او حم السجده ویلي نه وای ، په یو بل روایت کي دي چي

كوم څوک د جمعې په شپه کي حم الدخان او سورة ياسين ووايي نو هغه به په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه بخښنه به سوې وي ، په يو بل روايت کي دي چي کوم څوک د جمعې په شپه يا د جمعې په ورځ حم الدخان وايي نو الله تعالى د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړوي او په يوه روايت کي دي چي کوم څوک د جمعې په شپه سورة دخان وايي نو هغه په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه بخښنه سوې وي او د هغه نکاح به د حور عين سره کيږي او کوم څوک چي د شپې سورة دخان وايي نو د هغه مخکني گناهونه بخښل کيږي .

رسول الله ﷺ فرمايلي دي کوم څوک چي الم تنزيل ، ياسين ، اقتربت الساعة او تبارک الذي وايي نو دغه سورتونه به د هغه لپاره نور وي او د شيطان او شرک څخه به ورته پناه ورکړي او د قيامت په ورځ به يې درجې لوړي سي .

په يو بل روايت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم څوک چي هره شپه اقتربت الساعة وايي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ په داسي حال کي را پورته کړي چي د هغه مخ به د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په شان ځلانده وي ، او همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي د سورة اذا وقعت او سورة رحمن ويونکي به د ځمکي او آسمان د اوسيدونکي په مينځ کي د ساکن الفردوس په نامه بلل کيږي يعني دغه خوشبخته کسان به په جنت الفردوس کي کوم چي تر ټولو لوړ جنت دی اوسيږي .

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي سورة الواقعه سورة الغنى دی دا وايا ست او خپل اولادو ته يې ښيا ست او په يوه بل روايت کي دي چي دا خپلو ښځو ته ښيا ست .

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي هغې به ښځو ته دا ويل چي په تاسو کي دي څوک د سورة واقعه د ويلو څخه هيڅ شی منع نه کړي .

روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سړي ته وفرمايل : کله چي ته د بېده کېدو لپاره خپلي بسترې ته ځې نو سورة حشر وايه ، او په يو بل روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل کوم څوک چي په الله تعالى سره د شيطان څخه پناه غواړي او بيا درې واره د سورة حشر آخري برخه ووايي نو الله تعالى اويا زره ملائکي را استوي او هغه شيطانان تر مابنام پوري د هغه څخه ليري ساتي او د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي کوم څوک د سورة حشر آخري آياتونه په ورځ يا شپه کي وايي او په هغه ورځ يا شپه کي هغه مړ سي نو د هغه لپاره جنت واجب سو .

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي زه دا خوښوم چي زما د امت د هر کس په زړه کي تبارک الذي وي (يعني د هر چا دغه سورت په ياد وي ) .

عکرمه ابن سیان رحمه الله وایي چي ما د اسماعیل رحمه الله په مخکي قرآن کریم وایه کله چي زه سورة والضحی ته ورسېدم نو هغه وفرمایل چي د سورة والضحی څخه وروسته تر آخر پوري د هر سورت پر ختمېدو باندي الله اکبر وایه ځکه چي ما د عبدالله ابن کثیر رحمه الله په مخکي قرآن کریم وایه او زه سورة والضحی ته ورسېدم نو هغه ماته وویل چي ددغه سورت وروسته تر آخر پوري الله اکبر وایه ، ابن عباس رضي الله عنه هم ددې خبري حکم کړی دی هغه فرمایي چي ددې خبري حکم ابی بن کعب رضي الله عنه وکړی او هغه ما ته وویل چي ما ته رسول الله ﷺ ددې خبري حکم کړی دی.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي اذا زلزلت د نیم قرآن کریم برابر دی او والعادیات هم د نیم قرآن کریم برابر دی او رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي کوم څوک د شپې زر آیاتونه وایي هغه به د الله تعالی سره په داسي حال کي ملاقات کوي چي خاندي به وویل سول اې دالله رسوله ! د زرو آیاتو ویلو طاقت څوک لري ؟. رسول الله ﷺ وفرمایل د بسم الله الرحمن الرحیم په ویلو سره الهاکم التکاثر ...الخ، وایاست او بیا یې وفرمایل قسم دي مي په هغه ذات وي چي د هغه په قبضه کي زما روح دی دغه سورة د زرو آیاتو برابر دی .

ابو الشیخ په عظمت کي او ابو محمد سمرقندي د قل هو الله احد په فضائلو کي د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت کوي چي د خیبر یهود د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او وه یې ویل چي اې ابوالقاسم ﷺ ! الله تعالی ملائکي د نور حجاب څخه، آدم علیه السلام د حماء مسنون (یعني ورستو غوښو) څخه ، ابلیس د اور د شغلي څخه ،آسمان د دود څخه او مځکي د اوبو د ځګ څخه پیدا کړه نو تاسو موږ د خپل رب په باره کي وښیاست چي الله تعالی د کوم شي څخه پیدا سو؟ نبي کریم ﷺ هغوئ ته هیڅ جواب ورنه کړتر دې چي حضرت جبرائیل علیه السلام دغه سورت یعني قل هو الله احد راوړ ، ددې مطلب دادی چي اې محمد ﷺ! ته دوئ ته ووایه چي الله تعالی یوازي دی نه د هغه اصول سته او نه فروع او نه د هغه څوک شریک دی، الله الصمد الله تعالی بې پروا او مستغني دی نه هغه خوراک کوي او نه هغه یو شي ته اړتیا او ضرورت لري ، ددغه ټول سورت په ویلو سره یې هغوئ ته واوروئ ، په دغه سورت کي نه د جنت ذکر دی او نه د دوږخ ، نه د حلالو شیانو ذکر دی او نه د حرامو شیانو بلکه دغه سورت الله تعالی یوازي خپل ځان ته منسوب کړی دی نو دغه سورت په خاصه توګه د الله تعالی لپاره دی یعني ددغه سورت په ذریعه الله تعالی د خپل ذات او صفات او د وحدانیت حقیقت ښودلی دی ځکه نو کوم څوک چي دغه سورت دري واره ووایي لکه چي هغه ټول وحي (یعني قرآن کریم) ووایه، کوم څوک چي دغه سورت دېرش واره ووایي نو په هغه ورځ د دنیا هیڅ سړی د هغه د فضیلت برابر نه وي

مگر هغه څوک چې هغه تر دې هم زیات دغه سورت ووایي ، کوم څوک چې دغه سورت دوه واره ووایي نو هغه به په جنت الفردوس کې اوسیږي او کوم څوک چې خپل کور ته د داخلېدو پر وخت دغه سورت درې واره ووایي نو هغه به د فقر او محتاجۍ څخه لیرې وي .

په یو بل روایت کې دي چې یوه شپه رسول الله ﷺ ټوله شپه داسې تېره کړه چې تر سهاره پورې یې دغه سورت وایه . په یو بل روایت کې دي چې کوم څوک قل هو الله احد ووایي نو هغه لکه چې د قرآن کریم دریمه برخه وویل ، او په یو بل روایت کې دي چې کوم څوک دغه سورت دوه سوه واره ووایي نو د هغه د دوو سوو کالو ګناه بخښل کیږي (یعني د هغه ډېر زیات ګناهونه بخښل کیږي ) .

او په یو بل روایت کې دي چې کوم څوک قل هو الله احد پنځوس واره ووایي د هغه د پنځوسو کالو ګناه بخښل کیږي ، په یو بل روایت کې دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل کوم څوک چې هره ورځ دوه واره قل هو الله احد ووایي نو د هغه لپاره پنځلس سوه نیکۍ لیکل کیږي او د هغه د پنځوسو کالو ګناه ختمیږي مګر دا چې پر هغه پور باندې نه وي .

ابن سعید ، ابن خریس ، ابویعلي او بیهقي په دلائل کې د حضرت انس ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ د شام په هیواد کې وو چې جبرائیل ﷺ نازل سو او وه یې ویل اې محمد ﷺ ! معاویه ابن معاویه مزني (صحابي) وفات سوی دی ، ایا تاسو غواړئ چې د هغه جنازه وکړئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل هو ، نو جبرائیل ﷺ خپل وزر پر مځکه ووهئ چې په هغه سره د ده لپاره هر شي په کښته کېدو سره د مځکې د مخ سره یو ځای سوه تر دې چې د معاویه جنازه په پورته کېدو سره مخته راغلل ، نبي کریم ﷺ د هغه د جنازې لمونځ د ملائکو د دوو صفو سره وکړی او په هر صف کې شپږ لکه ملائکې وې ، حضرت جبرائیل ﷺ وویل چې هغه قل هو الله احد هر وخت په ولاړه ، ناسته ، تلو ، راتلو او بېده کېدو پر وخت ویل .

په یو بل روایت کې د انس ﷺ څخه منقول دي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په تبوک کې ملګري وو چې یوه ورځ لمر راوختی نو په هغه کې داسې رڼا او داسې نور وو چې ددې څخه مخکې موږ هیڅکله لیدلی نه وو نبي کریم ﷺ د لمر د دغه رڼا او نور په باره کې د تعجب اظهار کوی چې ناڅاپه جبرائیل ﷺ راغلی نو د هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې د لمر لپاره داسې څه پېښه ده چې زه یې په داسې رڼا او نور سره وینم کوم چې مخکې مې هیڅکله داسې لیدلی نه دی ، هغه وویل ددې سبب دادی چې نن په مدینه کې معاویه ابن معاویه لیثي ﷺ وفات سوی دی (دا هغه معاویه دی کوم چې مخکې یادونه سوې ده مزن د هغه د عامي قبیلې نوم دی او لیث د

هغه د خاص قبیلې نوم دی ځکه هغه ته مزني هم ویل کیږي او لیثي هم) نو الله تعالی د هغه لپاره اوویا زره ملائکي راواستولې چي د هغه د جنازې لمونځ وکړي، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې جبرائیل! د دغه فضیلت او اکرام سبب څه دی؟ جبرائیل علیه السلام وفرمایل د دې وجه داده چي هغه به قل هو الله احد ډېر زیات وایه په ولاړه، ناسته، تلو، راتلو او د ورځي او شپې به یې دغه سورت ډېر زیات وایه ځکه چي دغه سورة ستا د رب په نسبت دی، څوک چي دغه پنځوس واره وایي نو الله تعالی د هغه پنځوس زره درجې لوړوي او د هغه څخه پنځوس زره بدۍ لیري کوي او د هغه لپاره پنځوس زره نیکۍ لیکي او کوم څوک چي تر دې هم زیات ووایي نو الله تعالی د هغه څخه هم زیات ثواب ورکوي بیا جبرائیل علیه السلام وویل ایا زه ستا لپاره دا مځکه را ټوله کړم چي تاسو د هغه د جنازې لمونځ وکړلای سئ رسول الله ﷺ وفرمایل هو نو رسول الله ﷺ د هغه د جنازې لمونځ وکړ.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي درې شیان داسي دي چي څوک یې د ایمان د تکمیل په وجه اختیار کړي نو هغه چي د جنت د کومي دروازې څخه وغواړي په جنت کي به داخل سي او د کومي حور عین سره وغواړي نکاح به وکړي هغه درې شیان دادي ۱: خپل قاتل معاف کړي، ۲: پور په پټه ادا کړي، ۳: د هر فرض لمانځه وروسته قل هو الله احد ووایي، (ددې په اوریدو سره) حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل که چیري یو څوک په دغه درو شیانو کي یو شی هم اختیار کړي نو د پورتني ثواب او نیکخبتۍ حقدار به وي.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي کوم څوک هره ورځ پنځوس واره قل هو الله احد وایي نو هغه به د قیامت په ورځ د هغه د قبر څخه په داسي ویلو بلل کیږي چي اې د الله مدح کونکې! په جنت کي داخل سه.

په یو بل روایت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل د کوم چا چي د خوراک کولو پر وخت بسم الله ویل هیر سي نو هغه ته پکار ده چي کله د خوراک څخه فارغ سي نو قل هو الله احد دي ووایي او رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي کوم څوک په خپل کور کي د داخلېدو پر وخت قل هو الله احد وایي نو نه یوازي دا چي د هغه کورنۍ بلکه همسایګان به هم د فقر او محتاجۍ څخه لیري وي.

په یو بل روایت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل یوه ورځ جبرائیل علیه السلام په ډېر ښه او خوشحاله صورت کي ما ته راغلی او ویې ویل اې محمد ﷺ! علی اعلی (الله تعالی) پر تاسو سلام وایي او فرمایي چي د هر ذات لپاره د نسب لړۍ وي او زما د نسب لړۍ قل هو الله احد دی

نو ستا په امت کي چي کوم څوک ما ته په داسي حال کي راسي چي هغه قل هو الله احد زر واره ويلي وي نو زه به هغه ته خپل نشان ورکړم هغه به خپل عرش ته نژدې کړم او د داسي اوويا کسانو په حق کي به د هغه شفاعت قبول کړم چي د عذاب مستحق وي او که ما پر ځان دا نه واى واجب کړي چي کل نفس ذائقة الموت يعني ما دا کليه نه واى جوړه کړې چي هر ساه لرونکى شى به د مرګ خوند ګوري نو ما به د هغه روح نه قبض کولاى .

په يو بل روايت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم څوک چي د جمعې د لمانځه وروسته قل هو الله احد ، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس اووه واره وايي نو الله تعالى به هغه تر دوهمي جمعې پوري د بديو څخه خوندي کړي .

په يو بل روايت کي دي چي کوم څوک قل هو الله احد زر واره وايي نو د هغه دغه ويل به د الله تعالى په نزد تر دې خبري زيات محبوب او خوښ وي چي هغه د الله تعالى په لار کي زر آسونه سره د جلو او زين ورکړي .

حضرت کعب احبار رضی اللہ عنہ وايي چي کوم څوک قل هو الله احد وايي نو الله تعالى د هغه غوښه پر اور حراموي .

او همدارنګه د کعب احبار رضی اللہ عنہ څخه دا هم روايت دي چي کوم څوک هره ورځ په شپه او ورځ کي لس واره قل هو الله احد او آيت الکرسي باندي همېشتوب کوي نو هغه د الله تعالى رضا واجبوي او هغه به د انبياؤ سره وي او د شيطان څخه د هغه ساتنه کيږي .

په يو بل روايت کي دي چي کوم څوک د عرفات په ورځ د لمر د زوال څخه وروسته زر واره قل هو الله حد وايي او د هغه وروسته د الله تعالى څخه يو څه و غواړي نو الله تعالى به يې هغه ته ورکړي ، او په يو بل روايت کي دي چي کوم څوک دغه سورت زر واره وايي نو هغه خپل نفس د الله تعالى څخه واخيستى يعني د اور څخه يې خوندي کړى .

او په يو بل روايت کي دي چي کوم څوک دغه سورت دوه سوه واره وايي نو هغه ته به د پنځه سوه کالو د عبادت ثواب ورکول کيږي .

په يو بل روايت کي دي چي د نبي کريم ﷺ په باره کي منقول دي چي کله رسول الله ﷺ د حضرت علي رضی اللہ عنہ نکاح د بي بي فاطمې رضي الله عنها سره وکړه نو رسول الله ﷺ اوبه را وغوښتلې او هغه يې په خوله و لغړولې او بيا يې هغه بوتلل او د هغې په ګرېوان او د دواړو اوږو په مينځ کي يې وپاشلې او د قل هو الله احد ، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس په ويلو سره يې هغه د الله تعالى په پناه کي ورکړل ، او په يو بل روايت کي دي چي کوم څوک د

سهار د لمانځه وروسته د يو چا سره د خبرو کولو مخکې اوويا واره قل هو الله احد ووايي نو په هغه ورځ د هغه له خوا د پنځوسو صديقينو تر عمل پوري رسيږي.

=========

## بَابُ اٰدَابِ التِّلَاوَةِ (د تلاوت د ادبو بيان)

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د قران ساتنه کوئ

﴿۲۰۸۳﴾: عَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِيْ عُقُلِهَا.

**متفق عليه**

د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قرآن خبر ګيري کوئ زما دي په هغه ذات قسم وي د چا په لاس کې چې زما ساه ده څرنګه چې اوښ د رسۍ څخه وزي تر دې ژر قرآن د سينې څخه وزي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۷۹، رقم: ۵۰۲۳، ومسلم ۱\۵۴۵، رقم: ۲۳۱- ۷۹۱.

**د لغاتو حل**: تفصيا: اى فرارا وتخلصا (تېښته او خلاصون).

**تشريح**: يعني د اوښ ساتونکی او مالک که چيري د خپل اوښ څخه غفلت وکړي نو اوښ د رسۍ څخه په وتلو تښتي همدارنګه که قرآن کريم نه ويل کيږي نو هغه د اوښ څخه هم ژر د سينې څخه وځي يعني ډېر ژر به هير سي.

### د قران کريم يو ادب

﴿۲۰۸۴﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بد دئ

لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَقُوْلَ نَسِيْتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ نُسِّيَ وَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ

د يو سړي دا ويل چې د قرآن کريم فلانی او فلانی آيات مي هير کړه، بلکي داسي دي وايي چې

زما څخه هیر کړل سو ، تاسو قرآن کریم یادوئ

فَإِنَّهُ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ . متفق علیه و زاد مسلم بعقلها

ځکه چي هغه د انسانانو د سینو څخه ژر وځي تر حیوانانو . بخاري ، او مسلم دا الفاظ زیات نقل کړي دي چي اوښ په رسۍ سره تړلی وي .

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۹\۷۹، رقم: ۵۰۳۲، ومسلم: ۱۱\۵۴۴، رقم: ۲۸۸– ۷۹۰.

**تشریح**: دلته یو ادب ښودل سوی دی چي که چیري د یو چا د قرآن کریم یو سورت یا آیت په یاد نه وي نو هغه دي د هغه دا څرګندونه وکړي په داسي وخت دغه ویل چي زما څخه هیر سوی دی ځکه منع دی چي داسي ویل پر دې خبره دلالت کوي چي هغه قرآن پرې ایښی دی او د بې پرواهۍ په سبب ځیني هیر سوی دی ، څرګنده ده چي د قرآن د عظمت د شان خلاف دی داسي ویل چي را څخه سو ګویا د دغه سعادت او نعمت په تر لاسه کولو کي د خپل تقصیر او کوتاهۍ اظهار دی چي صحیح دی .

## د صاحب قران یو مثال

﴿۲۰۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ . متفق علیه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قرآن د یا دونکی مثال په مثل د خاوند د اوښانو تړل سوو دی که خبر یې اخلي نو وه به یې ساتي او که ایله یې کړي نو ولاړ به سي . بخاري او مسلم.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۹\۷۹، رقم: ۵۰۳۱، ومسلم ۱۱\۵۴۳، رقم: ۲۲۶– ۷۸۹.

## تر څو چي موزړه وي قران وایاست

﴿۲۰۸۶﴾: وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ . متفق علیه .

د حضرت جندب بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قرآن كريم تر هغو واياست تر څو چي زړونه مو ورسره لګېدلي وي هر كله چي طبعيت مو موړ سي نو ځيني ولاړ پېږئ . بخاري او مسلم .

**تخريج** : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۹\۱۰۱، رقم: ۵۰۶۰، ومسلم ۱\۲۰۵۳، رقم: ۳- ۲۶۶۷.

**تشريح** : ابن ملك رحمة الله عليه وايي چي د قرآن كريم په تلاوت كي تر هغه وخته بوخت كېدل پكار دي تر څو چي زړه غواړي د زړه نه غوښتلو په صورت كي قرآن كريم نه ويل ښه دي د زړه د حضور څخه تر ويلو افضل دي مګر دلته د دغه حديث څخه دا خبره معلومېږي چي انسان ته پكار دي چي هغه خپل عادت جوړ كړي او خپل نفس په رياضت كي واچوي چي تر زيات وخت پوري په ويلو سره زړه تنګ نه سي بلكه زيات خوښي او فرحت محسوس سي ځكه كاهل او تنګ زړه چي د رياضت عادي نه وي ډېر ژر تنګيږي ځيني خو داسي وي چي د يوې پارې په ويلو سره پر خپل طبعيت باندي بوج محسوس كوي او تنګيږي او حال دا چي هغه خلك چي د رياضت عادي وي يوه پاره بلكه تر دې هم زيات په دومره شوق او ذوق سره وايي چي نه خو د هغوئ پر طبعيت بوج وي او نه د هغوئ زړه تنګيږي .

## د رسول الله ﷺ قرائت

﴿۲۰۸۷﴾ : وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د حضرت انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي نبي كريم ﷺ به څنګه قرائت وايه ؟

وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَتْ مَدًّا ثُمَّ قَرَأَ { بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ } يَمُدُّ بِبِسْمِ

هغه وويل : رسول الله ﷺ به حروف په اوږدولو سره ويل بيا هغه بسم الله الرحمن الرحيم ويلو وروسته وښودل چي اوږدوالى به يې كوى پر (بسم الله)

اللهِ وَيَمُدُّ بِالرَّحْمَنِ وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ . رواه البخاري .

او اوږدوالى يې كوى د (رحيم) پر لفظ باندي . بخاري .

**تخريج** : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۹\۹۱، رقم: ۵۰۴۶.

**تشريح** : د رسول الله ﷺ قرائت به اوږد وو ، ددې مطلب دادى چي رسول الله ﷺ به حروف مد او لين په اندازه د معروف مد چي د ارباب وقوف د قوائدو او شرائطو مطابق وي .

علامه طیبي رحمه الله فرمايي چي مدونه درې دي: واو، الف، يا، په دې باره کي دا قاعده ده چي کله هغه په اندازه د همزه وي نو د الف په اندازه د هغه مد کول پکار دي ځيني حضرات وايي چي د دوو الفو څخه تر پنځو الفو پوري مد کول پکار دي.

د الف د اندازې څخه د اواز اوږدول مراد دي کله چي وويل سي با،يا،تا، او که چيري د دغه حروفو مد تشديد وي نو په اندازه د څلورو الفو مد کول پکار دي په اتفاق سره لکه دابة، او که چيري د هغه وروسته حرف ساکن وي نو په اندازه د دوو الفو مد کول پکار دي په اتفاق سره لکه صاد او يعلمون او که چيري ددې وروسته د پورتنيو حروفو څخه پرته بل حرف وي نو مد کول نه دي پکار بلکه يوازي پر هغه اواز اکتفاء کول پکار دي چي د هغه حرف د وتلو اندازه وي لکه اياک، دا خبره په ذهن کي ساتل پکار دي چي په بسم الله کي کوم مد دی هغه ټول ددې د قبيل څخه دي.

## د خدای ﷻ په نزد تر ټولو غوره اواز

﴿۲۰۸۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اَذِنَ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِلنَّبِيِّ أَنْ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی هيڅ شی داسي نه اوري لکه څرنګه چي د نبي آواز اوري هر کله چي هغه په خوش آوازي سره قرآن وايي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۸، رقم: ۵۰۲۳، ومسلم ۱\۵۴۵، رقم: ۲۳۲- ۷۹۲.

**تشريح**: مطلب دادی چي هسي خو د نبي کريم ﷺ آواز په خپله د هر چا تر اواز ښه او خوږ وو مګر کله چي نبي کريم ﷺ قرآن کريم په خوش اوازۍ يعني تجويد او ترتيل سره وايه نو هغه وخت به د هغه آواز د کائناتو د هر آواز څخه خوندور او شيرين وو او داسي دي ولي نه وي د الله کلام او د الله رسول يې وايي نو ظاهره ده چي د کائناتو يوه يوه ذره يوازي د ساه لرونکو نه بلکه د غير ساه لرونکو هم په وجد کي راځي دا خبره ويل کيږي چي الله تعالی هغه آواز څومره خوښوي او څومره هغه قبلوي د هغه دغه قبوليت د کائناتو د هيڅ يو داسي شي څخه نه تر لاسه کيږي چي په هغه کي آواز وي او اوريدل کيږي.

﴿۲۰۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَذِنَ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى هيڅ شی په دومره توجه سره نه اوري لکه څرنګه چي د نبي خوش آوازي اوري هر کله چي هغه په لوړ آواز سره قرآن وايي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۵۱۸، رقم: ۷۵۴۴، ومسلم ۱\۵۴۵، رقم: ۲۳۳- ۷۹۲.

## قران كريم او خوش اوازي

﴿۲۰۹۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ. رواه البخاري.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک زموږ څخه نه دئ څوک چي په خوش آوازي سره قرآن نه وايي. بخاري

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۵۰۱، رقم: ۷۵۲۷.

**تشريح**: مطلب دادی چي قرآن كريم په خوش آوازۍ سره ويل پکار دي په شرط ددې چي حروف، حرکات، مد، تشديد يا داسي نور شيان پکښي تغير نسي همدارنګه د راګ په ډول هم نه وي بلکه په دې باره کي مسئله داده چي يو سړی په قصد سره قرآن كريم د راګ په ډول وايي نو هغه د حرام د فعل مرتکب کيږي ددې څخه پرهيز کول ضروري دي.

## د قران كريم اورېدل

﴿۲۰۹۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ لِي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل

وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ اقْرَأْ عَلَيَّ قُلْتُ آقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أُحِبُّ

او هغه ﷺ پر منبر ناست وو: زما په وړاندي قرآن ووايه، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! زه ستاسو په وړاندي قرآن ووايم حال دا چي قرآن خو پر تاسو نازل سوی دی؟ رسول الله ﷺ

وفرمایل : زه د بل چا څخه اوریدل زیات خوښوم،

أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِيْ فَقَرَأْتُ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى أَتَيْتُ إِلَى هٰذِهِ الْآيَةِ

ابن مسعود رضي الله عنه وایي : ما د رسول الله ﷺ په وړاندې سورة نساء وویل او کله چې زه دې آیت ته

{ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا } قَالَ

راورسیدم : (فکیف ....) یعني دا یهود وغیره به څه کوي هر کله چې موږ د هر یو قوم څخه یو شاهد وړاندې کړو یعني د هغوئ نبي چې هغه به د هغوئ پر اعمالو او افعالو شاهدي ورکوي او تا هم موږ پر دې امت شاهد وګرځوو ، د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل :

حَسْبُكَ الْآنَ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ . متفق علیه

بس کړه ، ددې وروسته ما نبي کریم ﷺ ته وکتل نو ما ته څرګنده سوه چې د رسول الله ﷺ د دواړو سترګو څخه اوښکي رواني وې . بخاري او مسلم .

**تخریج** : صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۲۵۰، رقم: ۴۵۸۲، ومسلم ۱\ ۵۵۱، رقم: ۲۴۷-۸۰۰.

**تشریح** : د ابن مسعود رضي الله عنه قول چې قرآن کریم خو پر تاسو نازل سوی دی ددې مطلب دادی چې قرآن کریم خپله پر تاسو نازل سوی دی څکه نو قرآن کریم ویل هم ستاسو حق دی او څرنګه چې دا نازل سوی دی هم هغسي یې تاسو ویلای سئ د بل چا به څه مجال وي چې هغه ستاسو په مخکي قرآن کریم ووایي، ددې په جواب کي رسول الله ﷺ وفرمایل چې زه دا خوښوم ...الخ، ددې مطلب دادی چې ځیني وختونه داسي کیږي چې زما خواهش وي چې د بل چا څخه قرآن کریم واورم او دا هغه وخت وي چې په هغه کي پر عارف باندې د سکوت حالت خپریږي لکه چې ویل کیږي من عرف الله کل لسانه ، یعني چا چې الله و پیژندی د هغه ژبه پټه خوله سوه ددې زلمي پر خلاف د عارف یو بل حالت وي چې د هغه په باره کي ویل کیږي من عرف الله طال لسانه یعني چا چې الله تعالی و پیژندی د هغه ژبه خلاصه سوه .

خلاصه دا چې ځیني وختونه خو عارف په حالت د تحیر او استغراق کي وي چې سکونت اختیاروي او ځیني هوښیار کیږي چې هغه وخت حقائق او معارف وغیره بیانوي .

د بل چا څخه د قرآن کریم په اوریدو کي یوه فائده دا هم وي چې د قرآن کریم د آیاتو مفهوم او معنی په ښه ډول په فهم کي راځي غور او فکر د کمال درجې ته رسیږي .

د سورة نساء په حدیث کي د پورتني آیت مقصد د قیامت د ورځي یادول دي ځکه چي رسول الله ﷺ د هغه ورځي خوف او د خپل امت ضعف په فکر کولو سره و ژړل دا ددې خبري څرګنده نښه ده چي رسول الله ﷺ پر خپل امت باندي ډېر مهربان دی، صلی الله علیه الف الف صلوة کلما ذکره الذاکرون وکلما غفل عن ذکره الغافلون.

## د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه سعادت

﴿۲۰۹۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ابی بن کعب ته وفرمایل:

إِنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِي أَنْ اقرا عليك الْقُرْآنَ قَالَ أَاللّٰهُ سَمَّانِي لَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَقَدْ

الله تعالی ما ته حکم راکړئ دئ چي زه ستا په وړاندي قرآن کریم ووایم، ابی بن کعب عرض وکړ: الله تعالی ستا سو په وړاندي زما نوم اخیستئ دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو،

ذُكِرْتُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالَ نَعَمْ فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ. وَفِي رِوَايَةٍ اَنَّ اللّٰهَ اَمَرَنِيْ

ابی وویل (سبحان الله) د دواړو جهانو پروردګار زما ذکر کړئ دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، د دې په اورېدو سره د ابی بن کعب رضی الله عنه د سترګو څخه اوښکي رواني سوې، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی ما ته حکم راکړئ دئ

اَنْ اَقْرَاَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالَ وَسَمَّانِيْ قَالَ نَعَمْ فَبَكٰى. متفق عليه

چي ستا په وړاندي لم یکن الذین کفروا، ووایم، ابی عرض وکړ: ایا الله تعالی زما په نوم اخیستو سره فرمایلي دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، ددې په اورېدو سره ابی بن کعب رضی الله عنه په ژړا سو. بخاري او مسلم

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\۷۲۵، رقم: ۴۹۶۰، ومسلم ۱\۵۵۰، رقم: ۲۴۵-۷۹۹.

**تشریح**: حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه په ټولو صحابه کرامو کي ستر قاري وو، رسول الله ﷺ د هغه دغه امتیاز او شرف د صحابه کرامو په مخکي داسي بیان کړ چي اقراکم.... ابی، په تاسو کي تر ټولو ستر قاري ابی رضی الله عنه دی.

د حضرت ابی رضی الله عنه قول "الله سماني لک": ددې مطلب دادی چي ایا په خاصه توګه الله تعالی زما نوم اخیستی دی او هغه دا خبره د خپل عاجزۍ د اظهار په وجه وکړه چي زه ددې لائق

چیري یم چي الله تعالی په خاصه توګه زما نوم واخلي او تاسو ته حکم وکړي، او یا هغه دا خبره د ذوق او لذت له مخکي کړې وي او د خپل دغه عظیم سعادت او شرف اظهاريې وکړی چي الله تعالی ما ته دغه عظیمه مرتبه راکړه.

دغه عظیم شرف په اوریدو سره د حضرت ابی رضي الله عنه د سترګو څخه اوښکي راتلل د خوشحالی په وجه وې داسي خوښي چي حقیقي عاشق ته د محبوب د وصال او د محبوب د کرم پر وخت حاصلیږي په داسي صورت کي د زړه حزن او سکون تر لاسه کېدو سره د سترګو څخه اوښکي روانیږي.

په خاصه توګه د سورة لم یکن ویلو حکم ځکه وسو چي دغه سورت د الفاظو په اعتبار ډېر مختصر هم دی او په دې کي فائدې هم ډېري زیاتي دي ځکه چي په دغه سورت کي د دین اصول، وعد او وعید او د اخلاص وغیره اعلی مضامین مذکور دي.

ددې حدیث څخه دا خبره معلومه سوه چي د قرآن کریم ماهر او د اهل علم د فضل په مخکي قرآن کریم ویل مستحب دي که څه هم ویونکي تر اوریدونکي افضل وي.

## دار الحرب ته د قران کریم وړلو څخه منعه

﴿۲۰۹۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسَافَرَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمایلې ده چي

بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ. متفق علیه و في روایة لمسلم لاَ تُسَافِرُوْا بِالْقُرْآنِ فَإِنِّي لاَ آمَنُ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ.

قرآن کریم دي د دښمنانو هیواد ته یوړل سي، د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: په سفر کي د ځان سره قرآن کریم مه وړئ ځکه چي زه ددې اطمینان نه لرم چي د دښمن لاس ته به ورسي. مسلم.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\ ١٣٣، رقم: ٢٩٩٠، ومسلم ١٣\ ١٤٩٠، رقم: ٩٢- ١٨٦٩.

**تشریح** دلته یو ډېر باریک اشکال پیدا کیږي او هغه دا چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي خو مصحف لیکل سوی نه و نو بیا رسول الله ﷺ دا څرنګه وفرمایل چي د قرآن کریم په اخیستلو سره دي سفر نه کیږي، ددې جواب دادی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي که څه هم پوره قرآن

کریم لیکل سوی نه وو مگر بیا هم څه چې نازل سوی وو هغه به خلکو په خپلو خپلو صحیفو کې لیکی او ظاهره خبره ده چې هغه د قرآن په حکم کې وو یا دا چې رسول الله ﷺ دا خبره د وړاند وینې په توګه فرمایلې ده چې زما څخه وروسته کله چې قرآن کریم په پوره توګه یو ځای ولیکل سي او د مصحف شکل ورکړل سي نو هغه دې د کفارو ملک ته نه وړل کیږي داسې نه چې د کفارو لاس ته ورسي او د هغه بې حرمتې وکړي، ځینې علماء فرمایي چې په دارالکفر کې قرآن کریم د ځان سره وړل مکروه دی او مسئله داده که چیري یو څوک یو کافر ته یو خط وغیره لیکي نو په هغه کې د یو آیت لیکل پروا نه لري ځکه رسول الله ﷺ هرقل ته چې کوم خط لیکلی وو په هغه کې دغه آیت: تعالوا الی کلمه ...الخ، لیکلی وو.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### غریبو مهاجرینو ته زیری

﴿۲۰۹۴﴾: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَلَسْتُ فِي عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چې زه د غریبو مهاجرو د یو ډلې سره ناست (یعني

وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُولُ

اصحابه صفه)، او دا حال دا چې د لوڅېدو له کبله به ځینو خلکو د یو بل پرده کول او زموږ په منځ کې یو ویونکي قرآن کریم وایه، ناڅاپه رسول الله ﷺ تشریف راوړ

اللهِ ﷺ فَقَامَ عَلَيْنَا فَلَمَّا قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ سَكَتَ الْقَارِئُ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ

او زموږ په خوا کې ودریدئ قرآن ویونکی پټه خوله سو، رسول الله ﷺ سلام وکړ او بیا یې

مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ قُلْنَا كُنَّا نَسْتَمِعُ إِلَى كِتَابِ اللهِ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي

پوښتنه وکړه تاسو څه کول؟ موږ عرض وکړ د الله تعالی کتاب مو اوریدئ، رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه الله لره هر ډول تعریف دئ چې هغه

جَعَلَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ قَالَ فَجَلَسَ وَسْطَنَا

زما په امت کې داسې خلک پیدا کړي دي چې زه په مستقله توګه په هغو کې شتون لرم، د راوي

بيان دئ ددې وروسته رسول الله ﷺ زموږ په منځ کي کښېنستئ چي خپل عظيم شخصيت زموږ

لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِينَا ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ هٰكَذَا فَتَحَلَّقُوا وَبَرَزَتْ وُجُوهُهُمْ لَهُ

د خلکو په منځ کي مساوي جوړ کړي ، بيا رسول الله ﷺ د ګوتي کړۍ جوړه کړه او وه يې فرمايل: داسي کښېنئ نو موږ د رسول الله ﷺ په وړاندي هم هغسي کړۍ جوړه کړه چي زموږ مخونه رسول الله ﷺ ته متوجه وه.

فَقَالَ أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: د مفلس مهاجرينو ډلي تاسو ته دي زيرى وي چي تاسو به د قيامت

تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذَاكَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ.

رواه ابوداؤد.

په ورځ جنت ته د شتمنو څخه نيمه ورځ وړاندي داخل سئ او دا نيمه ورځ به پنځه سوه کاله وي. ابوداؤد.

**تخريج**: سنن ابي داود ۴\۷۲، ۷۳، رقم: ۳۶۶۶.

**تشريح**: وان بعضهم ... الخ: ددې مطلب دادی چي د کومو کسانو سره د خپل ملګري په نسبت که جامه وي او هغه د خپل ملګري شا ته ناست وي چي د جامې کمېدو په وجه د هغه بدن معلوم نه سي نو د لوڅ بدن څخه مراد د ستر څخه پرته د بدن پاته برخه د جامې څخه لوڅېدل دي او د ستر څخه پرته د بدن پاته برخه هم د عام نظر څخه د ساتلو په وجه نه يوازي دا چي د هغه مقدسو کسانو کمال د شرم او حياء په درجه کي وو بلکه دا خبره د انساني ادب او تهولني خلاف وه بلکه دا خبره دا نساني ادب او تهولني خلاف ده چي د بدن يو برخه دي خلاصه پرېښودل سي کومه چي په عامه توګه سره نه خلاصيږي ، ددغه حالت بيانولو مقصد د صحابه کرامو د هغه مقدسي ډلي د فقر او افلاس اظهار دی چي هغوئ د خپل بدن پټولو لپاره په پوره توګه جامه هم نه درلودل او هغوئ به په مجلس کي د يو بل سره په جخت کېدو کښېنستل تر څو يو ډول پرده تر لاسه سي.

هغه وخت رسول الله ﷺ موږ ته سلام وکړ ، ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي کوم څوک قرآن کريم وايي نو هغه ته سلام کول نه دی پکار بيا کله چي هغه پټه خوله سي نو هغه وخت سلام

کول پکار دي لکه څرنګه چي د فقهي مسئله ده ځکه علماء کرام فرمايي که يو سړی قرآن ويونکي ته سلام وکړي نو هغه ته د سلام جواب ورکول ضروري نه دي .

صحابه کرام د قرآن کريم په ويلو کي د بوختيا سربېره رسول الله ﷺ دا خبره چي تاسو څه کوئ ولي پوښتنه وکړه ددې لپاره چي د هغوئ د جواب په اورېدو سره هغوئ ته دغه عظيم زيری واوروي .

د : امرت ان اصبر نفسي ... الخ څخه دغه آيت کريمه ته اشاره ده :

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلاَ تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلاَ تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا.

سورة كهف آية ۲۸

**ژباړه:** او خپل ځان د هغه کسانو سره په ناسته کي مقيد ساته چي سهار او ماښام (يعني همېشه) د خپل رب عبادت محض د هغه د رضا لپاره کوي او د دنيوي ژوند د رونق له مخکي ستا سترګي د هغوئ څخه آخوا کېدل نه دي پکار او د داسي کس مه منه چي د هغه زړه موږ د خپل ياد څخه غافل کړي او هغه په خپل نفساني خواهشاتو پسي ځي او د هغه دغه حال د حد څخه تېر سوی دی .

د راوي د الفاظو ليعدل ... الخ مطلب دادی چي رسول الله ﷺ خپل ځان زموږ په مينځ کي د ناستي په اړه د تولو سره د عدل معامله کوي چي د رسول الله ﷺ نژدې کېدل د ټولو سره يو ډول وي يعني که چيري رسول الله ﷺ د يوه سړي سره کښيني نو پاته خلک به د هغه نيکبختۍ ته پسخېدل او د هر يوه خواهش به دا وو چي رسول الله ﷺ زما سره کښيني ځکه رسول الله ﷺ د يوه سړي سره د ناستي پر ځای په مينځ کي کښېنستی تر څو د قرب سعادت و ټولو ته يو ډول حاصل سي ، علامه طيبي رحمة الله عليه د دغه جملې معنی داسي ليکلې ده چي رسول الله ﷺ زموږ په مينځ کي ځکه کښېنستی چي زموږ په مينځ کي مساوات وکړي او د خپل ذات مبارک په ذريعه موږ ټولو ته شرف ورکړي .

ټول خلک په دائره جوړولو سره کښېنستل، ددې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک ته مخامخ په حلقه جوړولو سره کښېنستل په داسي توګه چي د ټولو مخونه رسول الله ﷺ ته سوه ، ددې مطلب دادی چي ټول خلک رسول الله ﷺ ته داسي کښېنستل چي رسول الله ﷺ د ټولو مخونه ويني .

د قیامت په ورځ به تاسو ته پوره نور حاصل وي، دلته دا اشاره ده چي د قیامت په ورځ به شتمن او دولتمند کسانو پوره نور حاصل نه کړي ځکه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد مبارک دی چا چي خپل آخرت صحیح وساتي هغه خپل دنیا ته تاوان ورسوی او چا چي خپل دنیا صحیح وساتل نو هغه خپل آخرت ته تاوان ورسوی نو کوم شی چي فنا کېدونکی دی د هغه په مقابله کي هغه شی اختیار کړئ کوم چي باقي پاته کېدونکی دی (یعني آخرت).

او تاسو به تر شمتنو کسانو نیمه ورځ مخکي په جنت کي داخلېږي په دې باره کي دا خبره په فهم کي ساتل پکار دي چي دلته هغه فقراء مراد دي کوم چي صالح او صابر وي همدارنګه د شتمن څخه هغه شتمن مراد دي کوم چي صالح او شاکر وي او د خپل مال حق (صدقه، زکوة وغیره) ادا کونکي وي هغوئ به د حشر په میدان کي ودرول سي او پوښتنه به ځیني وسي چي تاسو مال د کوم ځای څخه او په کومه ذریعه حاصل کړی او هغه مو په کوم کوم ځای کي خرڅ کړی هغوئ به په دغه کتاب او حساب کي بوخت وي او فقراء به جنت ته داخل سي.

د دې څخه یوه خبره معلومه سوه چي د قیامت په ورځ به د الله تعالی د فضل او کرم او د هغه په رحمت کي به د فقراؤ برخه تر شمتنو زیاته وي ځکه شمتنو کسانو خو په دنیا کي راحت او نصرت تر لاسه کړی وو او فقراء د هغه څخه محروم وه.

## په تجوید او ترتیل سره د قران کریم ویلو حکم

﴿۲۰۹۵﴾: وَعَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ. رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة والدارمي.

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو قرآن ته په خپلو آوازو (ترتیل او تجوید) سره ښکلا ورکړئ. احمد، ابوداؤد، ابن ماجة او دارمي.

**تخریج**: الامام احمد في مسنده ۴\ ۲۸۵، وابوداود ۲\ ۱۵۵، رقم: ۱۴۶۸، وابن ماجه ۱\ ۴۲۶، رقم: ۱۳۴۲، والدارمي ۲\ ۵۶۵، رقم: ۳۵۰۰.

**تشریح**: د ښکلا ورکولو څخه مراد داد چي قرآن کریم په تجوید او ترتیل او د آواز په نرمی او لطافت سره وویل سي دا خبره مخکي هم ښودل سوې ده او اوس بیا پوه سئ چي په راګ کي د قرآن کریم ویل چي په حروفو یا حرکاتو کي زیاتوب یا کمي وي حرام دي او داسي قرآن کریم ویونکي فاسق دی او اورېدونکی ګناه کار دی او دداسي سړي د داسي قرآن ویلو څخه منع کول

واجب دي ځکه دا يو ډېر قبيح بدعت دی .

## د قران کريم پر هېرولو باندي وعيد

﴿۲۰۹۶﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت سعد بن عبادة ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

مِنْ امْرِئٍ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَنْسَاهُ إِلَّا لَقِيَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ . رواه ابوداؤد والدارمي .

قرآن ووايي او بيا يې هير کړي نو د قيامت په ورځ به د الله په وړاندي په داسي حال کي ملاقات کوي چي د هغه لاس به پرې سوی وي . ابوداؤد او دارمي .

**تخريج**: سنن ابي داود ۲\۱۵۸، رقم: ۱۴۷۴، والدارمي ۲\۵۲۹، رقم: ۳۳۴۰.

**تشريح**: د حنفيه په نزد د هېرېدو څخه مراد دادی چي په کتلو سره هم قرآن نسي ويلای او د امام شافعي ﷫ په نزد ددې معنی داده چي هغه قرآن کريم په ياد کړي او بيا يې هېر کړي يا دا مطلب يې دی چي قرآن کريم ويل پرېږدي که هير يې وي او که هېر يې نه وي .

شاه محمد اسحاق ﷫ به فرمايل چي ددې مطلب دا هم کېدای سي چي د استعداد والا لپاره هېرېدل دادي چي په ياد سوی قرآن بېله کتلو ونه ويلای سي او د غير استعداد والا لپاره هېرېدل دادي چي په کتلو سره يې هم نسي ويلای .

د دې څخه معلومه سوه چي د قرآن کريم د زده کولو او يادولو څخه وروسته هېرول لويه گناه ده پکار دي چي د قرآن کريم په باره کي د غفلت او کوتاهۍ لار اختيار نه کړل سي بلکه قرآن کريم همېشه ويل پکار دي .

## تر درو ورځو کم د قران کريم ختمولو مسئله

﴿۲۰۹۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَفْقَهُ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي

د حضرت عبد الله ابن عمرو ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي تر درو شپو په کم وخت کي قرآن کريم ختم کړ هغه په قرآن پوه نه سو . ترمذي، ابوداؤد او دارمي .

**تخريج**: سنن ابي داود ۲\۱۱۶، رقم: ۱۳۹۴، والترمذي ۵\۱۸۲، رقم: ۲۹۴۹، والدارمي ۱\۴۱۸، رقم: ۱۴۹۳.

**تشريح** علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي ددې مراد دادی چي کوم څوک تر درو ورځو يا درو شپيو په کم وخت کي قرآن کريم ختم کړي نو هغه د قرآن په ظاهري معنی خو پوهېدای سي مګر د قرآن کريم حقائق او معارفو ته د هغه رسيدل نه سي کېدای ځکه په دغه شيانو کي درې ورځي خو ډېره ليري خبره بلکه کلونه کلونه هم بس نه دي نه يوازي دا بلکه په دغه لنډ وخت کي د يو آيت يا د يوې کلمې دقائق او نکات هم په فهم کي نسي راتلای، دلته د نفي څخه مراد د پوهېدو نفي ده نه د ثواب نفي يعني ثواب خو په هر صورت کي حاصلېږي او بيا دا چي د خلکو په پوهه کي هم فرق وي چي د هغه لپاره اوږد وخت هم څه حقيقت نه لري.

په سلفو کي ځينو کسانو د دغه حديث پر ظاهري مفهوم باندي عمل کړی دی د هغه خلکو معمول وو چي همېشه به يې قرآن کريم په درو ورځو کي ختموی او تر درو ورځو کم ختم کول به يې مکروه ګڼل او نورو کسانو بيا ددې پر خلاف عمل کوی ځينو خلکو به په يوه شپه او ورځ کي يو وار او ځينو خلکو به دوه دوه واره او ځينو خلکو به درې درې واره قرآن کريم ختموی بلکه د ځينو کسانو په اړه تر دې پوري ثابته ده چي هغوئ به په يوه رکعت کي يو وار قرآنکريم ختموی کېدای سي چي هغه خلکو د دغه حديث په باره کي دا خيال کړی وي چي ددې اړه د اشخاصو په اعتبار مختلف ده يعني د دغه حديث تعلق د هغه خلکو سره دی کوم چي کم فهمه وي که تر درو ورځو په کمه موده کي قرآ کريم ختم کړي نو ددې پر ظاهري معنی باندي هم پوهېدای نسي يا د هغوئ په نزد دا خبره وي چي په دغه حديث کي د فهم نفي ده او په دغه صورت کي ظاهره ده چي په څو مره کم وخت کي قرآن کريم ختم کړل سي نو ثواب حاصلېږي.

ځينو کسانو به په دوو مياشتو کي قرآن کريم ختموی او ځينو کسانو به په هره مياشت کي او ځينو به په لس ورځو کي او ځينو به په اووه ورځو کي قرآن کريم ختموی.

د بخاري او مسلم روايت دی چي نبي کريم ﷺ عبد الله ابن عمر رضي الله عنه ته وفرمايل چي قرآن کريم په اووه ورځو کي ختموه او تر دې زياتوب مه کوه.

## ختم الاحزاب

د مشائخو او عارفينو په اصطلاح کي په اووه ورځو کي د قرآن کريم ختمولو ته ختم الاحزاب ويل کيږي، د ملاعلي قاري رحمه الله د وضاحت سره سم د ختم الاحزاب تر ټولو لوی صحيح ترتيب فمي بشوق دی، ملاعلي قاري رحمه الله فمي بشوق ته د ختم الاحزاب صحيح

ترتیب څکه ویل دی چي د ځینو کسانو په نزد د ختم الاحزاب طریقه داده چي د جمعې په ورځ د قرآنکریم د شروع څخه تر سورة مائده پوري وویل سي ، د شنبې په ورځ د سورة انعام څخه د سورة توبې تر اخر پوري ، د یکشنبې په ورځ سورة یونس څخه تر سورة مریم پوري، د دوشنبې په ورځ د سورة طه څخه د سورة قصص تر آخر پوري، د سه شنبې په ورځ د سورة عنکبوت څخه د سورة ص تر آخر پوري ، د چار شنبې په ورځ د سورة زمر څخه د سورة رحمان تر اخر پوري ، د پنجشنبې په ورځ د سورة واقعه څخه د قرآن کریم تر پایه پوري وویل سي ، د اکثرو حاجتو د پوره کولو لپاره دغه ختم مجرب ګڼل سوی دی ، همدارنګه د فمي بشوق په ترتیب سره ختم د رزق د پراختیا او د نورو حاجاتو د تر لاسه کولو لپاره مجرب ښودل سوی دی ، په دغه ترتیب سره د قرآن کریم د ویلو دا هم ویل سوي دي چي شروع دي د جمعې د ورځي څخه وکړل سي، په هر حال د پورتني بحث خلاصه دا سوه چي د فمي بشوق په ترتیب سره ختم د قرآن علیحده شی دی او ختم الاحزاب بل شی دی او د ملا علي قاري رحمه الله د قول خلاصه داده چي علماء کرامو د قرآن کریم د ختمولو څو ترتیبو بیان کړي دي مګر تر ټولو زیات صحیح ترتیب فمي بشوق دی نو د ملا علي قاري رحمه الله د قول سره سم ختم الاحزاب او د فمي بشوق ترتیب یو شی دی .

اوس په دې هم پوه سئ چي فمي بشوق او د هغه ترتیب څه شي دی ؟ د فمي بشوق په ترتیب سره د قرآن کریم ختمولو مطلب دادی چي د قرآن کریم اووه منزلونه په اووه ورځو کي داسي وویل سي چي د هغه په پیل کي د فمي بشوق حروف واقع دي یعني د ف څخه سورة فاتحې ته اشاره ده او د م څخه سورة مائده ته اشاره ده او د ي څخه سورة یونس ته د ب څخه سورة بني اسرائیل ته او د ش څخه سورة شعراء ته او د واو څخه سورة والصافات ته او د ق څخه سورة ق ته اشاره ده ، نو ددغه حروفو د مجموعې نوم فمي بشوق دی او د قرآن کریم دغه ختم حضرت علي رضی الله عنه ته منسوب دی چي هغه به په دغه ترتیب سره قرآن کریم ختموی .

اوس بېرته د حدیث مفهوم ته راسئ په دې اړه د نووي رحمه الله قول دی چي د حدیث حکم د اشخاصو په اعتبار مختلف دی یعني هغه خبره چي د هغه تعلق د کم فهمه او کم علمه سره وي نو کوم کسان چي پر قرآني علومو او معارفو باندي نظر لري او د قرآن کریم په دقائقو او معارفو باندي د پوهېدو صلاحیت لري نو هغوئ هم دومره اقتصار کولای سي چي هغوئ قرآن ووایي نو د ویلو پر وخت د قرآن کریم د آیت کمال او فهم هم هغوئ ته حاصلیږي او کوم څوک چي د علم د توسیع او خپرېدو یا د خلکو د فیصلو کولو یا دا ډول نورو کارونو کي بوخت وي نو هغه دي پر دومره ویلو باندي اکتفاء وکړي چي په هغه سره د هغه په کارونو کي حرج واقع نسي

همدارنګه کوم څوک چي د علم په تر لاسه کولو یا د خپلي کورنۍ د ژوند د اړتیاوو په برابرولو کي بوخت وي نو د هغه لپاره هم دا حکم دی، د پورتنیو کسانو څخه پرته د نورو کسانو لپاره دا حکم دی چي هغوئ څومره ویلای سي وه دي یې وایي په شرط د دې چي زیات ویل د ستړیا او د الفاظو د تېز ادا کولو حد ته و نه رسیږي.

## قران کریم په لوړ اواز ویل غوره دی که په کښته؟

﴿۲۰۹۸﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل

اَلْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ.

رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب

په لوړ آواز سره قرآن ویونکی د هغه چا په ډول دئ چي صدقه په څرګنده ورکړي او په کراره قرآن ویونکی د هغه چا په ډول دئ چي په پټه صدقه ورکړي. ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ.

**تخریج**: سنن ابي داود ۲\۸۳، رقم: ۱۳۳۳، والترمذي ۵\۱۶۵، رقم: ۲۹۱۹، والنسائي ۵\۸۰، رقم: ۲۵۶۰.

**تشریح**: په پټه صدقه ورکول تر ښکاره صدقې ورکولو غوره دي، ددغه حدیث مفهوم دادی چي همدارنګه د قرآن کریم په کراره ویل تر لوړ آواز ویلو غوره دي.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي څرنګه چي په کرار آواز سره د قرآن کریم د فضیلت په باره کي حدیثونه منقول دي همداسي په لوړ آواز د قرآن کریم ویلو د فضیلت په اړه هم حدیثونه منقول دي په دواړه ډوله حدیثو کي مطابقت دادی چي په کرار آواز سره ویل د هغه چا لپاره افضل دي چي په ریا کي د اخته کېدو بېره ولري او په لوړ اواز سره ویل د هغه چا په حق کي افضل دي کوم چي په ریا کي د لوېدو بېره نلري په شرط د دې چي د لوړ آواز په وجه لمونځ کونکو، بېدو خلکو او یا بل چا ته تکلیف ونه رسیږي، په لوړ آواز سره قرآن کریم ویل ځکه افضل دي چي په داسي کولو سره نورو ته هم ګټه رسیږي یا نور خلک د قرآن کریم په اورېدو سره هغه زده کوي یا اورېدونکو ته ثواب رسیږي په لوړ آواز سره قرآن کریم ویل د دین د شعار او د الله تعالی د کلام څرګندونه ده د ویونکي زړه ته بېداري حاصلیږي د هغه توجه بلي خوا ته نه ځي د هغه د زړه غفلت لیري کوي او د خوب غلبه کموي او دا چي مسلمانانو ته د عبادت شوق ورکوي په هر

حال د ګټو څخه يوه ګڼه كه مقصود وي نو بيا په دې صورت كي په لوړ آواز سره ويل به افضل وي.

## د قران كريم د پوره پيروی تاكيد

﴿۲۰۹۹﴾: وَعَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنِ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث ليس اسناده بالقوي

د حضرت صهيب ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د قرآن كريم حرام كړي شيان حلال وګڼل هغه په قرآن ايمان نه راوړئ، ترمذي، وويل د دې حديث اسناد قوي نه دي.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۶۵، رقم: ۲۹۱۸.

**تشريح**: مطلب دادی چي الله تعالى په خپل كتاب كي كوم شيان حرام كړي دي كه چيري يو څوک حلال وګڼي نو هغه كافر سو او كله چي هغه كافر سو نو بيا پر قرآن كريم باندي د هغه ايمان څرنګه وي، يا د دې مطلب دادی چي كوم څوک پر قرآن كريم باندي كامل ايمان نه راوړی او په هغه شيانو سره د حلال په شان معامله وكړي كوم چي الله تعالى حرام ګرځولي دي يعني هغه په قرآن كريم كي د مذكوره حرام او منع شيانو ارتكاب كوي.

## د رسول الله ﷺ قرائت

﴿۲۱۰۰﴾: وَعَنِ اللَّيْثِ ابْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ أَنَّهُ سَأَلَ

حضرت ليث بن سعد د حضرت ابو مليكه او هغه د يعلي بن مملک (رض) څخه روايت كوي چي هغه پوښتنه وكړه

أُمَّ سَلَمَةَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

د بي بي ام سلمة (رض) څخه د رسول الله ﷺ د قرآن په اړه، هغې د رسول الله ﷺ د قرائت صفت دا بيان كړ چي د رسول الله ﷺ به يو يو حرف واضح وو، ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

**تخريج**: سنن ابي داود ۲\ ۱۵۴، رقم: ۱۴۶۶، والترمذي ۵\ ۱۶۷، رقم: ۲۹۲۳، والنسائي ۲\ ۱۸۱، رقم: ۱۰۲۱.

**تشريح** مطلب دا دی چي رسول الله ﷺ به قرآن کريم داسي وايه که چيري يو چا به غوښتل چي د قرائت حرفونه وشمېري نو دا ممکنه وه يعني قرآن کريم يې په ښه ترتيل او تجويد سره وايه.
علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي د بي بي ام سلمه رضي الله عنها په اړه منقول الفاظ دوه احتماله لري يا خو هغې د رسول الله ﷺ د قرائت کيفيت په الفاظو کي بيان کړيا دا چي هغه قرآن کريم په داسي ويلو سره اوروئ لکه څرنګه چي به رسول الله ﷺ وايه.
د ابن عباس رضي الله عنه په اړه منقول دي چي هغه به فرمايل بېله ترتيله د ټول قرآن کريم ويلو په نسبت يو سورت په ترتيل سره ويل زما په نزد غوره دي.

﴿۲۱۰﴾: وَعَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ

حضرت ابن جريح د ابن ابي مليكة څخه او هغه د بي بي ام سلمة څخه روايت کوي چي هغې وويل د رسول الله ﷺ په قرائت کي به

ﷺ يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ يَقُولُ { الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ } ثُمَّ يَقِفُ ثُمَّ يَقُولُ

يو يو حرف بيل بيل او واضح وو، يعني رسول الله ﷺ به الحمد لله رب العلمين وويل او دريدئ به، بيا به يې

{ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ } ثُمَّ يَقِفُ . رواه الترمذي و قال ليس اسناده بمتصل لان الليث روى هذا الحديث عن ابن ابي مليكة من يعلي بن مملك عن ام سلمة و حديث الليث اصح .

الرحمن الرحيم، وويل او دريدئ به، ترمذي وويل ددې حديث سند متصل نه دئ ځکه چي ليث دا حديث د ابن ابي مليكة څخه هغه د يعلي بن مملک څخه او هغه د بي بي ام سلمة څخه روايت کړئ دئ د ليث حديث زيات صحيح دي.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵/ ۱۷۰، رقم: ۲۹۲۷.

**تشريح** ځيني علماء وايي چي دغه حديث د استدلال قابل نه دی او اهل بلاغت دا روايت نه قبلوي ځکه د قاعدې له مخي وقف تام پر مالک يوم الدين باندي دی ځکه امام ترمذي فرمايي چي په دې باره کي صحيح حديث د حضرت ليث رضي الله عنه دی.

د جمهورو علماؤ (چي حنفيه هم په دوئ کي ګډ دي د دوئ په نزد هم پر مالک يوم الدين باندي وقف دی) په نزد په دا ډول آياتونه کي چي په خپلو کي يو تر بل مربوط او متعلق وي وصل غوره دی او د جزري رحمة الله عليه قول دی چي وقف مستحب دی د هغه د ليل دغه حديث دی او د شوافع مذهب هم دادی د دغه حديث په باره کي د جمهورو څخه دا جواب ورکړل سوی دی چي دا وقف ځکه وو چي اوريدونکو ته وښيي چي د دغه آياتونو ابتداء د کوم ځای څخه ده.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### قرائت يوازي د خوش اوازۍ نوم نه دی

﴿۲۱۰۲﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشريف راوړ او موږ

نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَفِينَا الْأَعْرَابِيُّ وَالْأَعْجَمِيُّ قَالَ اقْرَءُوا فَكُلٌّ حَسَنٌ وَسَيَجِيءُ

هغه وخت قرآن کريم وايه، او په موږ کي صحرايي خلک هم وه او عجمي (يعني غير عرب) خلک هم وه، رسول الله ﷺ وفرمايل: وه يې وايا ستاسو ټول صحيح دئ او ډير ژر به راسي

أَقْوَامٌ يُقِيمُونَهُ كَمَا يُقَامُ الْقِدْحُ يَتَعَجَّلُونَهُ وَلَا يَتَأَجَّلُونَهُ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

داسي قومونه چي قرآن به داسي سيده کړي لکه څنګه چي غشی سيده کيږي او د قرآن کريم الفاظ به په ښه ښکلا سره وايي تلوار به کوي په هغه کي به د وخت انتظار نه کوي يعني په دنيا کي به د هغه ګټه تر لاسه کړي او په آخرت کي به هيڅ نه وي. ابوداؤد او بيهقي.

**تخريج**: سنن ابي داود ۱\ ۵۲۰، رقم: ۸۳۰، البيهقي في شعب الايمان ۲\ ۵۳۸، رقم: ۲۶۴۲.

**تشريح**: عجم هغه خلکو ته وايي چي عرب نه وي، حضرت جابر رضي الله عنه چي د کوم مجلس ذکر کوي په هغه کي داسي صحابه کرام هم وه چي د هغوئ تعلق د عربو سره نه وو بلکه هغوئ فارسي، رومي او حبشي وه لکه حضرت سلمان (فارسي) رضي الله عنه، حضرت صهيب (رومي) رضي الله عنه او حضرت بلال (حبشي) رضي الله عنه.

که څه هم په هغه مجلس کي د موجوده صحرائي او عجمي خلکو قرائت د عربو په ډول نه

وو مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ هغوئ ته وويل چي ستاسو د ټولو قرائت ښه او د ثواب وړ دی ځکه چي تاسو ددنيا په مقابله كي آخرت ته ترجيح وركړې ده كه تاسو خپله ژبه او آواز ښكلی كړی نه وي نو دا ستاسو لپاره ضروري نه ده او ستاسو څخه وروسته به يو داسي ډله پيدا كېدونكې وي چي هغوئ به قرآن كريم داسي سيده كړي لكه غشی چي سيده كيږي يعني خپل آوازونه او قرآني الفاظ به ښه سم كړي او د مخارجو په ادا كولو كي به ډېر زيات تكليف كوي مګر د هغوئ دغه ټول تكليف به د آخرت لپاره نه وي بلكه د خپل شهرت ، خپل عزت ، فخر او دنيا ته د ښودني او اورولو لپاره به داسي كوي .

نو ددغه حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي داسي خلک به محض د دنيوي ګټي لپاره قرآن كريم وايي او د آخرت د ثواب سره به يې هيڅ په قصد كي نه وي ځكه هغوئ به دنيا ته پر آخرت ترجيح وركوي يا داسي چي دين به دنيا په بدله كي خرڅوي .

خلاصه دا چي د قرآن كريم ويلو په باره كي غور او فكر او د آياتو په معنی كي استغراق ته د اوليت مقام تر لاسه كېدل پكار دي محض د مخارج او صحيح الفاظو د ادا كولو او خوش آوازۍ سره ويل هيڅ په كار نه رائي .

﴿۲۱۰۳﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِقْرَؤُوا

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : واياست

الْقُرْآنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ وَأَصْوَاتِهَا وَإِيَّاكُمْ وَلُحُوْنَ أَهْلِ الْعِشْقِ وَلُحُوْنَ أَهْلِ

قرآن د عربو په لهجه او آواز سره او خپل ځان د مينه ناكو غزلو او د اهل كتابو د لحن څخه ساتئ ،

الْكِتَابَيْنِ وَسَيَجِيْئُ بَعْدِيْ قَوْمٌ يُرَجِّعُوْنَ بِالْقُرْآنِ تَرْجِيْعَ الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ لَا

زما وروسته به يو قوم راسي چي قرآن كريم به په ښكلا سره وايي (يعني په غزلو كي) او د سندرو په ډول به يې وايي او حالت به يې دا وي چي قرآن كريم به د حلق څخه كښته نه ځي

يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ مَفْتُوْنَةٌ قُلُوْبُهُمْ وَقُلُوْبُ الَّذِيْنَ يُعْجِبُهُمْ شَأْنُهُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وزرين في كتابه .

يعني پر زړه به يې هيڅ اثر نه كوي ددې خلكو زړونه به په فتنه كي پريوتلي وي او د هغه خلكو

زړونه هم چي هغوئ ته د سندرو په ډول ددې ویل ښه ځرګندېږي . بیهقي او زرین .

**تخریج**: البیهقي في شعب الایمان ۲\ ۵۴۰، رقم: ۲۶۴۹.

**تشریح** عرب بېله تکلفه او په اساني سره قرآن کریم وایي د هغوئ آواز د هغوئ د زړه د خواهش سره سمیږي د هغوئ په مخکي د موسیقۍ وغیره په ډول قواعد نه وي نو هغوئ په تکلف کولو سره د خپل آواز او لهجې جوړولو هڅه کوي ځکه ویل سوي دي چي هر مسلمان ته پکار ده چي هغه قرآن کریم په هغه خاص لهجه او آواز کي ووایي کوم چي د قرآن کریم د عظمت او حقیقت مطابق وي او هغه د اهل عرب لهجه ده ، په دغه جمله کي د بلحون العرب واصواتها لفظ د اصواتها د عطف تفسیري په توګه دی .

د عاشقانو او اهل کتاب د طریقو مطابق : ددې څخه مراد دادی چي څرنګه چي عاشقان او شاعران خپل نظمونه او غزلې په آواز او ترنم سره وایي او د موسیقۍ او راګ رعایت کوي تاسو همدارنګه قرآن کریم مه وایاست یهود او نصارا به هم خپل کتابونه په داسي غلطي طریقې سره ویل ځکه د هغو په ډول د ویلو څخه هم منع وفرمایل سوه .

د هغوئ زړونه به په فتنه کي اخته سي : ددې مطلب دادی چي هغوئ به د دنیا په محبت کي اخته سي او چونکه خلک به د هغوئ آوازو ته ښه وایي ځکه نو هغوئ به په نوري زیاتي ګمراهۍ کي اخته سي او همداسي د هغوئ اوازونه اورېدل او دهغوئ څخه خوند اخستلو په وجه هغوئ ته ښه ویل هم غلط کار دی او حال دا چي غلط کارکوونکي ته ښه ویل هم ګمراهي او ضلالت دی .

## قران کریم په ترتیل سره دویلو حکم

﴿۲۱۰۴﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ حَسِّنُوْا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيْدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا . رواه الدارمي

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي قرآن کریم په خپلو آوازو سره په ښه ډول وایاست ځکه چي په خوش آوازۍ سره د قرآن ښکلا زیاتیږي . دارمي

**تخریج**: سنن الدارمي ۲\ ۵۶۵، رقم: ۳۵۰۱.

## د حسن قرائت معيار

﴿۲۱۰۵﴾: وَعَنْ طَاوُوْسٍ مُرْسَلاً قَالَ سُئِلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ

د حضرت طاؤس څخه مرسلا روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول : څوک

النَّاسِ أَحْسَنُ صَوْتًا لِلْقُرْآنِ ؟ وَأَحْسَنُ قِرَاءَةً ؟ قَالَ مَنْ إِذَا سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ

په قرآن ويلو کي ښه آواز لري ؟ او څوک د قرائت په اړه ښه دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوک چي ته د هغه قرائت واورې

أُرِيْتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللّٰهَ قَالَ طَاؤُسٌ وَكَانَ طَلْقٌ كَذٰلِكَ . رواه الدارمي

نو دا حس کړې چي هغه د الله څخه بيريږي ، طاؤس وايي حضرت طلق رضي الله عنه همدا سي لوستل کول . دارمي.

**تخريج**: سنن الدارمي ۲\۵۶۳، رقم: ۳۴۸۹.

**تشريح**: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چي که چيري يو څوک قرآن کريم وايي او د هغه په اوريدو سره ستاسو په زړو کي اثر کيږي يا دا چي د هغه په باره کي دا څرګندہ سي چي هغه د قرآن کريم د ويلو پر وخت د الله تعالی څخه بېريږي مثلا د هغه رنګ د الله تعالی د بيري څخه بدل سي يا زيات ژاړي نو پوه سئ چي د قرآن کريم په ويونکو کي هغه د خپل آواز او قرائت د مؤثر کېدو په اعتبار تر ټولو غوره دی.

حضرت طلق رحمة الله عليه يو جليل القدر تابعي دی کله چي به هغه قرآن کريم وايه نو د الله تعالی خوف به پر هغه خپرېدی ، د نوموړي په اړه د مشکوة مؤلف ليکلي دي چي هغه صحابي دی.

## د قران کريم په اړه يو څو احکامات

﴿۲۱۰۶﴾: وَعَنْ عُبَيْدَةَ الْمُلَيْكِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عبيدة الملیکي رضي الله عنه څخه چي د رسول الله ﷺ د نژدې خلکو څخه دئ روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ وَاتْلُوْهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ مِنْ

اې اهل قرآن ! تاسو د قرآن څخه ډډه مه کوئ او په شپه او ورځ کي قرآن وايا ست لکه څرنګه چي

لوستل يې پکار دي

آنَاءِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَفْشُوْهُ وَتَغَنَّوْهُ وَتَدَبَّرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ

او قرآن خپور کړئ او قرآن په ښکلي آواز سره وایاست او څه چې په قرآن کې دي په هغه کې فکر وکړئ چې خلاصون او بریالیتوب مو په برخه سي

وَلاَ تُعَجِّلُوْا ثَوَابَهُ فَإِنَّ لَهُ ثَوَابًا. رواه البيهقي في شعب الإيمان

او ددې په ثواب کې تلوار مه کوئ ځکه چې ددې لوی ثواب (په اخرت) کې دئ. بيهقي.

**تخریج**: البيهقي في شعب الايمان ۲\۳۵۰، رقم: ۲۰۰۷.

**تشریح**: پر قرآن کریم تکیه مه کوئ: ددې مطلب دادی چې د قرآن کریم په ویلو او د هغه د حق په ادا کولو کې کوتاهي او غفلت مه کوئ بلکه قرآنکریم وایاست او د هغه حق ادا کوئ په دې توګه چې د هغه حروف په ښه ډول ادا کوئ او د هغه په معنی ځان پوهوئ او عمل په کوئ.

علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي چې پر قرآن کریم باندي تکیه لګول پر هغه باندي په تکیه کولو سره کښېنستل یا پریوتل او یا هغه ته پښې غزول یا یو شی وربا ندي ایښودل او هغه ته شا کول، یا تر پښو لاندي کول دا ټول شیان حرام دي، د قرآنکریم څخه فال اخیستل مکروه دي بلکه د ځینو مالیکه په نزد حرام دي.

د قرآن کریم د ویلو په وخت کې د څلورو خبرو خیال ساتل پکار دي: ۱- اول خو دا چې الفاظ صحیح او سم ادا کړل سي، ۲- دوهم دا چې د هغه په معنی او مفهوم باندي پوهېدل پکار دي، ۳- دریم دا چې د معنی او مفهوم په مقصد باندي پوهېدل پکار دي، ۴- او څلورم دا چې څه وویل سي په هغه عمل وکړل سي.

قرآن ظاهر کړئ، یعني قرآن کریم په لوړ آواز وایاست چې نور خلک یې واوري او د هغوئ هم د قرآن کریم د ویلو شوق پیدا سي، قرآن کریم نورو خلکو ته وښیاست په قرآن کریم عمل کوئ او خپل ژوند د قرآن کریم مطابق وګرځوئ څه چې په هغه کې مذکور دي په هغه کې غور او فکر کوئ ددې مطلب دادی چې کوم آیاتونه د تنبیه، وعید او د آخرت په باره کې راغلي دي په هغه آیاتو کې ښه غور او فکر کوئ تر څو د دنیا څخه بې رغبتي او آخرت ته میلان راسي.

==========

# بَابُ اِخْتِلافِ الْقِرَائَتِ وَجَمْعِ الْقُرانِ

## د قرائت اختلاف او د قران يو ځای کولو بيان

د مشکوة شريف په اکثرو نسخو کي يوازي باب ليکل سوی دی، ددې مطلب دادی چي دا باب د قرآن کريم سره اړوند دی مګر په ځينو نسخو کي دلته دا عنوان ليکل سوی دی: باب اختلاف القرآن وجمع القرآن- يعني د قرائت او لغاتو اختلاف او د قرآن کريم د جمع کېدو بيان، د قرآن کريم کتابت يعني د هغه د مصحف په شکل کي ليکل.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د قرائت اختلاف

﴿۲۱۰۷﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ

د حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي ما د هشام بن حکيم بن حزام څخه

يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سورة فرقان واوريدئ چي د هغه طريقې څخه خلاف وو په کومه طريقه چي ما وايه، او دا سورت خپله رسول الله ﷺ

أَقْرَأَنِيهَا فَكِدْتُ أَنْ أَعْجَلَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَمْهَلْتُهُ حَتَّى انْصَرَفَ ثُمَّ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ

ما ته ښودلی وو، نژدې وو چي زه په دې اړه د هشام سره په جګړه اخته سم، مګر ما د آرامتيا څخه کار واخيستئ او هغه ته مي وخت ورکړ تر څو چي هغه سورت ختم کړ بيا ما د هغه په غاړه کي د هغه څادر واچوئ

فَجِئْتُ بِهِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي سَمِعْتُ

او په راکشولو مي د رسول الله ﷺ ته راويست او رسول الله ﷺ ته مي وويل: اې د الله رسوله!

هَذَا يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَأْتَنِيهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

دا (هشام) سورة فرقان د هغه طريقې څخه خلاف وايي په کومه طريقه چي تا ما ته ښودلی دئ،

رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسِلْهُ اقْرَأْ فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

اې عمر! دی پرېږده، بيا يې هشام ته وفرمايل: ته يې ووايه، (يعني سورة فرقان) نو هشام په هغه طريقه ووايه په کومه طريقه چې ما ځيني اوريدلی وو، رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَكَذَا أُنْزِلَتْ ثُمَّ قَالَ لِي اقْرَأْ فَقَرَأْتُ فَقَالَ هَكَذَا

دا سورت داسې نازل سوی دئ بيا رسول الله ﷺ ما ته د ويلو لپاره وفرمايل: ما په خپله طريقه ووايه، رسول الله ﷺ چې واوريدئ نو وه يې فرمايل:

أُنْزِلَتْ إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ .

متفق عليه و اللفظ لمسلم

دا سورة داسې نازل سوئ دئ بيا يې وفرمايل: دا قرآن په اوو حروفو (يعني اوو طريقو) نازل سوی دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۷۳، رقم: ۲۴۱۹، ومسلم ۱۱\۵۶۰، رقم: ۲۷۰.

**تشريح**: د دغه حديث په معنی او مفهوم کې د علماؤ ډېر زيات اختلاف دی او د دې په تشريح او وضاحت کې تقريباً څلوېښت اقوال نقل سوي دي په هغو کې يو قول دا هم دی چې دا حديث د متشابهاتو څخه دی چې د هغه حقيقي معنی (بېله الله ﷻ) هيچا ته معلومه نه ده.

ځيني حضرات وايي چې د قرائت اختلاف که څه هم د اوو طريقو څخه زيات منقول دي مګر هغه ټول اختلافات اووه وجو ته راجع دي او هغه اووه وجې دادي :۱-د د اختلاف اوله وجه د کلمې په ذات کې يعني د کلمې د کمۍ او زياتوب اختلاف، ۲- دوهمه وجه د جمع او واحد د صيغې سره تغير کېدل، ۳: دريمه وجه د مذکر او مؤنث اختلاف، ۴: څلورمه وجه د حروف صرفي اختلاف يعني تخفيف او تشديد، فتحه او کسره او د ضمه اختلاف لکه مَيِّتٌ هم ويل کيږي او مَيْتٌ هم، همداسې يَقْنُط او يَقنِطُ او يَعرِشُ يَعرُش او داسې نور، ۵: پنځمه وجه د حرکاتو اختلاف، ۶: شپږمه وجه د حروفو اختلاف لکه لکن الشياطين چې ځيني دغه نون په تشديد سره وايي او ځيني يې د نون په تخفيف سره وايي، ۷: اوومه وجه د لغاتو د ادا کولو اختلاف لکه تفخيم او اماله.

د مظاهر حق جدید په اول جلد باب العلم کي دغه باب په نسبت ددې ځای زيات په وضاحت سره بيان سوی دی .

## هر قرائت صحيح دی

﴿۲۱۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ آيَةً وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د يو سړي څخه قرآن ويل واوريدل چي د هغه

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ خِلَافَهَا فَجِئْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

طريقې خلاف وو په کومه طريقه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی وو ، هغه سړی ما رسول الله ﷺ ته راوستئ

فَأَخْبَرْتُهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ فَقَالَ كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ فَلَا تَخْتَلِفُوا فَإِنَّ

او ښېنه مي ورته بيان کړه ، ما وليدل چي د ښېنې په اوريدو سره د رسول الله ﷺ پر مخ مبارک باندي د ناخوښۍ اثر ښکاره سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو دواړه سم او ښه وايياست په خپل منځ کي اختلاف مه کوئ ځکه چي

مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا . رواه البخاري

کوم خلک ستاسو څخه وړاندي تير سوي دي هغوئ په خپل منځ کي د اختلاف په کبله هلاک سوي دي . بخاري.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۵\ ۷۰، رقم: ۲۴۱۰،

**تشريح** دلته د اختلاف څخه مراد د قرآن کريم هغه وجهو څخه د يوې وجي انکار دی چي د هغه مطابق قرآن کريم نازل سوی دی لکه څرنګه چي مخکي هم ښودل سوي دي، د قرآن کريم څومره قرائتونه چي منقول او رواج دي هغه ټول صحيح او پر حق دي په هغو کي د يوه قرائت څخه هم انکار کول نه دي پکار ځکه که يو څوک د هغه څخه د يوه قرائت انکار هم وکړي نو لکه چي هغه د قرآن کريم څخه انکار وکړ دلته دا هم په ذهن کي ساتل پکار دي چي ځيني قرائتونه متواتر دي او ځيني احاد، متواتر هغه اووه قرائتونه دي کوم چي ويل کيږي .

﴿۲۱۰۹﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ يُصَلِّي فَقَرَأَ

د حضرت ابی بن کعب رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي زه په مسجد کي وم چي یو سړی راغلئ او لمونځ يې وکړ هغه قرآن په داسي طريقه ووايه چي

قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ ثُمَّ دَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ قِرَاءَةً سِوَى قَرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَلَمَّا

ما د هغې طريقې څخه انکار وکړ ، يو بل سړی راغلی او هغه د بل سړي خلاف قرائت ووايه ۔

قَضَيْنَا الصَّلَاةَ دَخَلْنَا جَمِيعًا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقُلْتُ إِنَّ هَذَا قَرَأَ قِرَاءَةً

کله چي موږ د لمانځه څخه فارغ سو نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ما عرض وکړ دغه سړي په داسي ډول قرآن وايه

أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ وَدَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَأَمَرَهُمَا النبي ﷺ

چي زما غوږونو قبول نه کړ ، دا دويم سړی چي راغلی نو ده د هغه سړي خلاف قرآیت وايه ، رسول الله ﷺ هغو دواړو ته د ويلو حکم ورکړ ،

فَقَرَأَ فَحَسَّنَ شَأْنَهُمَا فَسَقَطَ فِي نَفْسِي مِنَ التَّكْذِيبِ وَلَا إِذْ كُنْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ

هغوی وويل ، او نبي کريم ﷺ د هغو دواړو خلکو د ويلو تعريف وکړ ، په دې سره زما په زړه کي سخته شبه او شک پيدا سو ، لکه چي ما هغه دروغ وګڼئ او دا شبه او شک د جاهليت د شبهې او شک څخه هم زيات وو ،

فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَا قَدْ غَشِيَنِي ضَرَبَ فِي صَدْرِي فَفِضْتُ عَرَقًا

کله چي رسول الله ﷺ زما حالت وليدئ نو زما پر سينه يې خپل لاس مبارک را تير کړ او زه خوله خوله سوم

وَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَرَقًا فَقَالَ لِي يَا أُبَيُّ أُرْسِلَ إِلَيَّ أَنْ اقْرَأْ الْقُرْآنَ

او زما دا حالت سو لکه چي زه د بيري څخه الله تعالی په لوړ ګورم ، بيا رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : اوس ما ته ملائکه راوليږل سوه او حکم راکړل سو چي ته قرآن کريم وايه

عَلَى حَرْفٍ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّانِيَةَ اقْرَأْهُ عَلَى حَرْفَيْنِ

په یوه طریقه، ما الله ﷻ ته عرض وکړ چي زما پر امت اساني وکړي، بیا ما عرض وکړ، الله تعالی ما ته بیا په دوو طریقو د قرآن ویلو حکم وکړ،

فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّالِثَةَ اقْرَأْهُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ وَلَكَ

ما بیا غوښتنه وکړه او عرض مي وکړ چي زما پر امت اساني وکړي، نو په دریم وار په اوو طریقو د قرآن ویلو حکم وسو،

بِكُلِّ رَدَّةٍ رَدَدْتُكَهَا مَسْأَلَةٌ تَسْأَلُنِيهَا فَقُلْتُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي اللَّهُمَّ اغْفِرْ

او الله تعالی وفرمایل: څومره واره چي موږ تا ته حکم درکړئ دئ هغومره واره ته زموږ څخه سوال وکړه (یعني دري ځله) تا زموږ څخه سوال کړئ دئ نو دري واره زموږ څخه دعاء وغواړه چي موږ هغه قبوله کړو، ما (نبي کریم ﷺ) وویل: اللهم اغفر لامتي اللهم اغفر

لِأُمَّتِي وَأَخَّرْتُ الثَّالِثَةَ لِيَوْمٍ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ حَتَّى إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. رواه مسلم

لامتي (اې الله زما امت و بخښې، اې الله زما امت و بخښې)، او د دریم وار دعاء مي د هغه ورځي لپاره وساتل چي زما څخه به ټول مخلوق شفاعت وغواړي تر دي چي حضرت ابراهیم علیه السلام به هم زما څخه غوښتنه وکړي. مسلم.

**تخریج**: صحیح مسلم ۱\۱ ۵۶۱- ۵۶۲، رقم: ۲۷۳- ۸۲۰.

**تشریح**: زما په زړه کي د تکذیب وسوسه پیدا سوه، کله چي رسول الله ﷺ د دواړو د قرائت تحسین او تائید وکړ نو د حضرت أبی په زړه کي د تکذیب وسوسه او شبه ځکه پیدا سوه چي رسول الله ﷺ خو دواړو قرائتو ته ښه وویل حالانکه قرآن کریم د الله تعالی کلام ځکه هغه په یو خاص طریقې سره ویل پکار دي دا څرنګه ممکن ده چي یو کلام دي څو کسان په مختلفو طریقو سره وایي او د هغو ټولو ویل دي صحیح وي.

داسي شبه او وسوسه چي د جاهلیت په ورځو کي هم پیدا سوې نه وه: ددې مطلب دادی چي د جاهلیت په زمانه کي زما زړه او د ماغ د ایمان او یقین په رڼا سره منور نه وو مګر اوس د الله تعالی په فضل سره زما زړه او د ماغ د اسلام په نور منور دی او د یقین او معرفت نعمت را ته حاصل دی نو دا وسوسه او شبه هم زیاته لویه معلومه سوه.

ځو مره واره چې ما تا ته حکم درکړی دی : ددې مطلب دادی چې موږ تا ته درې واره حکم درکړ یعني یو وار خو د یوه قرائت مطابق، دوهم وار د دوهم قرائت مطابق او دریم وار د اووه قرائتو مطابق د قرآن کریم د ویلو حکم درکړ اوس ته ددغه درو سره په عوض کې زموږ ځخه درې سواله وکړه چې موږ درې سره پوره کړو، نو رسول الله ﷺ درې سره سواله د خپل امت د بخښنې لپاره وکړل ځکه چې اصل شی خو مغفرت دی که مغفرت نه وي نو د هیچا خلاصون ممکن نه دی لکه ځرنګه چې د الله تعالی ارشاد دی :

وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ

ژباړه: اې الله! که ته موږ و نه بخښې او پر موږ رحم ونه کړې نو بېله شکه موږ د تاوانیانو ځخه سو.

مګر رسول الله ﷺ پر دې موقع باندې مغفرت پر درو برخو تقسیم کړ دوه مغفرته خو رسول الله ﷺ د خپل امت لپاره یعني د ګناه کبیره او ګناه صغیره کونکو لپاره وغوښتل او دریم مغفرت یې د ټول مخلوق لپاره د قیامت ورځې لپاره پرېښود ، دې ته شفاعت کبری وایي یعني د قیامت په ورځ چې ټول به نفسي نفسي وايي او هیڅ نبي او پیغمبر به د مخلوق د شفاعت جرات نه کوي نو په پای کې به شافع محشر سرکار دوعالم ﷺ ته درخواست وکړل سي چې تاسو د پروردګار په دربار کې د مخلوق شفاعت وکړئ نو نبي کریم ﷺ به د ټولو شفاعت وکړي ، همدارنګه هغه دوهمه دعاء چې د هغه د قبولیت دعاء د الله تعالی د دربار ځخه هغه وخت سوې ده او رسول الله ﷺ د نن یعني قیامت د ورځې لپاره پرې اېښې وه هغه به دلته په کار ورځي.

که ځه هم ټول مخلوق تر دې چې ټول انبیاء به د رسول الله ﷺ د شفاعت خواهش کوي مګر په دغه ځای کې د ابراهیم علیه السلام نوم په خاصه توګه ذکر سوی دی ځکه ابراهیم علیه السلام د نبي کریم ﷺ ځخه وروسته په ټولو انبیاؤ کې افضل دی.

## د قرائت په اختلاف سره پر دیني احکامو تاثیر نه لوېږي

﴿۲۱۱۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه ځخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهُ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ وَيَزِيدُنِي حَتَّى انْتَهَى

ما ته جبرائیل علیه السلام (قرآن) په یوه طریقه و ښودئ ، ما الله تعالی ته د (اساني) لپاره

رجوع وكړه او هميشه به مي په اساني كي زياتي غوښتني كولې تر څو چي

إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ . قال ابن شهاب بلغني ان تلك السبعة الاحرف انما هي في الامر تكون واحدا لا تختلف في حلال و لا حرام . متفق عليه .

اوو طريقو ته راورسيدو . د ابن شهاب راوي بيان دئ چي هغه اووه طريقې په دين كي متفق او يو برابر دي او په حرام او حلال كي هيڅ اختلاف نسته . بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۲۳، رقم: ۴۹۹۱، ومسلم ۱\۵۶۱، رقم: ۲۷۲- ۸۱۹.

**تشريح** مطلب دادی چي د قرائت په اختلاف سره په قرآن كريم كي مذكوره احكام او مسائلو كي تغير او تبديل نه كيږي يعني داسي نه كيږي چي د قرآن كريم يو آيت په يوه قرائت ويل كيږي او په هغه آيت كي د يو شي د حلال كېدو ذكر موجود وي او بيا هغه آيت په دوهم قرائت سره ويل كيږي نو هغه د قرائت په اختلاف سره په حكم كي تغير راسي او هغه شی چي په اول قرائت سره حلال ثابت وو اوس په دوهم قرائت سره هغه حرام سو داسي نه ده بلكه په يوه قرائت سره د يو شي د حلال كېدو حكم ثابتيږي نو په دوهم قرائت سره هم د هغه شي د حلال كېدو حكم ثابتيږي خلاصه دا چي د قرائت د اختلاف تعلق يوازي د الفاظو، لهجې او آواز سره دی د احكامو او معنی سره د دې هيڅ تعلق نسته .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د قران كريم په قرائت كي د اسانی لپاره د رسول الله ﷺ خواهش

﴿۲۱۱۱﴾: عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ لَقِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيلَ

د حضرت ابی بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ د جبرائيل عليه السلام سره ملاقات وكړ

فَقَالَ يَا جِبْرِيلُ إِنِّي بُعِثْتُ إِلَى أُمَّةٍ أُمِّيِّينَ مِنْهُمُ الْعَجُوزُ وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ

او وه يې فرمايل : اې جبرائيل ! زه يو بې علمه قوم ته رالېږل سوی يم او په دې قوم كي سپين سري ښځي او سپين ږيري خلك دي ،

وَالْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ وَالرَّجُلُ الَّذِي لَمْ يَقْرَأْ كِتَابًا قَطُّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ الْقُرْآنَ

هلکان پکښي دي او انجوني دي، او داسي خلک هم سته چي هغو هیڅکله کتاب نه دی ویلی ، جبرائیل علیه السلام وویل : اې محمد ﷺ ! قرآن کریم

أُنزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ . رواه الترمذي و في رواية لاحمد و ابي داؤد قال

په اوو طریقو باندي را استول سوی دی . ترمذي او د احمد او ابوداؤد په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي جبرائیل علیه السلام وویل :

ليس منها الا شاف كاف و في رواية للنسائي إِنَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ عَلَيْهِمَا

او په دې اوو طریقو کي هره طریقه د کفر او شرک د ناروغی لپاره شفاء ده او د دین اسلام په حق کیدو کي کافي ده او د نسائي په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته جبرائیل او میکائیل علیهما السلام راغلل ،

السَّلَام أَتَيَانِي فَقَعَدَ جِبْرِيلُ عَنْ يَمِينِي وَمِيكَائِيلُ عَنْ يَسَارِي فَقَالَ

جبرائیل علیه السلام زما راسته لوري ته کښېنستئ او میکائیل علیه السلام زما چپه لوري ته کښېنستئ ، او جبرائیل علیه السلام وویل :

جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام اقْرَأْ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ قَالَ مِيكَائِيلُ اسْتَزِدْهُ حَتَّى

قرآن کریم په یوه طرز وایه او میکائیل علیه السلام نبي کریم ﷺ ته وویل نور زیات کړه ، تر دي

بَلَغَ سَبْعَةَ أَحْرُفٍ فَكُلُّ حَرْفٍ شَافٍ كَافٍ .

چي د قرآن کریم قرائت اووه طریقو ته ورسیدئ او په هغو کي هره طریقه شافي او کافي ده .

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\ ۱۷۸، رقم: ۲۹۴۴، الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۲۴، وابوداؤد ۲\ ۱۶۰، رقم: ۱۴۷۷، والنسائي ۲\ ۱۵۴، رقم: ۹۴۰.

**تشریح** بې علمه قوم ته: ددې مطلب دا دی چي زه یو داسي قوم ته را لیږل سوی یم چي په هغه کي زیات داسي خلک دي چي په ښه ډول لیک او لوست نسي کولای که زه هغوئ ته د یوه قرائت مطابق قرآن کریم وښیم نو هغوئ به پر هغه قادر نسي د مثال په توګه په هغوئ کي داسي خلک دي چي د هغوئ ژبه یوازي پر اماله یا فتحه باندي چلیږي او ځیني خلک داسي دي چي د هغوئ پر ژبه باندي ادغام یا اظهار غالب وي بیا دا چي په دغه خلکو کي سپین سري ښځي او

سپین ږیري هم دي او کم عمره کوچنیان هم دي نو د هغوئ لپاره ممکن نه ده چي هغوئ د خپل سپین ږیرتوب یا کم عمرۍ په وجه یو خاص قرائت زده کړي نو د هغوئ لپاره ضروري ده چي څو قرائتونه وي او کوم یو چي ورته اسان وي د هغه مطابق قرآن کریم ووایي.

## قران کریم د سوال کولو ذریعه مه جوړوئ

﴿۲۱۱۲﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّهُ مَرَّ عَلَى قَاصٍّ يَقْرَأُ ثُمَّ سَأَلَ فَاسْتَرْجَعَ

د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د یو قصه ویونکي سړي سره تیر سو چي په قرآن ویلو سره یې خیرات غوښتئ، د دې په لیدو سره هغه وویل انا لله وانا الیه راجعون،

ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَلْيَسْأَلِ اللَّهَ بِهِ فَإِنَّهُ

بیا یې وویل: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوریدلي دي څوک چي قرآن ووایي نو پکار دي چي د هغه په ذریعه د الله جل جلاله څخه سوال وکړي

سَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ يَسْأَلُونَ بِهِ النَّاسَ. رواه احمد والترمذي

او هغه وخت نژدې دئ چي داسي خلک به پیدا سي چي په قرآن ویلو باندي د خلکو څخه خیرات غواړي. احمد او ترمذي.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۴\۴۳۲، والترمذي ۵\۱۶۴، رقم: ۲۹۱۷.

**تشريح**: په دغه حدیث کي د هغه کسانو لپاره تنبیه او وعید دی کوم چي قرآن کریم د خیر غوښتلو یعني سوال کولو ذریعه جوړوي هسي خو دا خبره بذاته د انساني شرف خلاف ده چي یو سړي د خپل الله جل جلاله په پرېښودو سره د ځان په ډول یو انسان څخه سوال کوي او هغه د دغه بد کار لپاره د قرآن کریم ذریعه جوړوي ځکه نو فرمایل سوي دي چي د قرآن کریم په ویلو سره د انسان په مخکي د سوال لاس مه غزوه ځکه چي هغه خپل د هغه ذات محتاج دی نو ستا حاجت به څه پوره کړي د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي د الله تعالی څخه د دعاء غوښتلو غوره طریقه داده چي کله د رحمت یا د جنت ذکر راسي نو د الله تعالی څخه د هغه د رحمت او جنت غوښتونکی سه او کله چي د عذاب آیت یا د دوږخ ذکر راسي نو د الله تعالی پناه غواړه یا دا چي د قرائت څخه د فارغه کېدو وروسته هغه دعاوي غواړه کوم چي ماثوره دي او په دې وخت کي داسي دعاوي غوښتل پکار دي کوم چي د آخرت سره متعلق وي او په دین او دنیا کي د مؤمنانو د غوره والي او خیر لپاره وي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

### قران کریم د دنیاوي ګټې لپاره پر وسیله ګرځولو باندې تنبیه

﴿۲۱۱۳﴾: عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ يَتَأَكَّلُ بِهِ النَّاسَ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ عَظْمٌ لَيْسَ عَلَيْهِ لَحْمٌ. رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت بریدة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې قرآن کریم وایي او ددې له کبله د خلکو څخه خوري (یعني د دنیا تر لاسه کولو ذریعه یې جوړه کړي) نو هغه به د قیامت په ورځ په داسي صورت کي راوستل سي چې د هغه پر مخ به غوښه نه وي یوازي هډوکي به وي. بیهقي.

**تخریج**: البیهقي في شعب الایمان ۲\۵۳۲، رقم: ۲۶۲۵.

### بسم الله د قران کریم یو ایت دی

﴿۲۱۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّورَةِ حَتّٰى تَنَزَّلَ عَلَيْهِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به د یوه سورت څخه د بل سورت فرق نه سو کولای تر څو چې د دوو سورتو په منځ کي د فرق کولو لپاره بسم الله الرحمن الرحیم نازل سوه. ابوداؤد.

**تخریج**: سنن ابي داود ۱\۴۹۹، رقم: ۷۸۸

**تشریح**: دا حدیث په وضاحت سره دا ثابتوي چې بسم الله الرحمن الرحیم د قرآن کریم یو آیت دی چې د دوو سورتو په مینځ کي د فرق او امتیاز څرګندولو لپاره نازل سوی دی لکه څرنګه چې د حنفیه مذهب دی.

### د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ سره یوه واقعه

﴿۲۱۱۵﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنَّا بِحِمْصَ فَقَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ سُورَةَ يُوسُفَ فَقَالَ

د حضرت علقمه رضی الله عنه څخه روایت دئ چې موږ په حمص (شام) کي وو چې یوه ورځ ابن مسعود

رضي الله عنه سورة يوسف تلاوت وکړ ،

رَجُلٌ مَا هٰكَذَا أُنْزِلَتْ فَقَالَ عَبْدُاللّٰهِ وَاللّٰهِ لَقَرَأْتُهَا عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

يوه سړي وويل : دا سورت داسي نه دئ نازل سوئ ، عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وويل : په الله جل جلاله دي مي قسم وي ما دا سورت د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي ويلي وو ،

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنْتَ فَبَيْنَمَا هُوَ يُكَلِّمُهُ إِذْ وَجَدَ مِنْهُ رِيحَ الْخَمْرِ

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : تا ښه وو ايه، همدا خبري رواني وې چي د هغه سړي د خولې څخه د شرابو بوی راغلئ ،

فَقَالَ أَتَشْرَبُ الْخَمْرَ وَتُكَذِّبُ بِكِتَابِ اللّٰهِ فَضَرَبَهُ الْحَدَّ . متفق عليه

ابن مسعود رضي الله عنه وويل ته شراب څښې او (قرائت د) کتاب الله دروغجن ګڼې ، بیا پر هغه شرعي حد جاري سو . بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۴۷، رقم: ۵۰۰۱، ومسلم ۱\۵۵۱، رقم: ۲۴۹- ۸۰۱.

**تشريح**: که چيري د ابن مسعود رضي الله عنه قرائت مشهور (يعني متواتر) وو نو هغه سړي د ده د قرائت په تکذيب کولو سره د کتاب الله تکذيب وکړ نو د هغه د دغه انکار او تکذيب يقينا هغه د کفر په حد کي داخل کړی وو او که د ابن مسعود رضي الله عنه قرائت شاذ وي نو د هغه دغه تکذيب به د کتاب الله تکذيب ته نه مستلزم کيږي ځکه ويل کيږي چي په دغه صورت کي د ابن مسعود رضي الله عنه هغه سړي ته دا ويل چي ته د کتاب الله تکذيب کوې تغليظا او تهديدا وو او په ظاهره دا خبره صحيح معلوميږي چي دلته د ابن مسعود رضي الله عنه قرائت د شاذ مطابق سورة يوسف وايه دا وجه ده چي ابن مسعود رضي الله عنه د هغه سړي د مرتد کېدو حکم ونه لګوی بلکه يوازي د شرابو پر حد جاري کولو يې اکتفاء وکړه .

علامه طيني رحمة الله عليه فرمايي چي ابن مسعود رضي الله عنه هغه سړي ته دا خبره تغليظا کړې ده ځکه قرائت او قرآن د اصل کلمې څخه انکار او دروغ ګڼل کفر دی نه د هغه لهجه او ادا کول د کلمو .

خلاصه دا چي هغه سړي د لهجې او د کلماتو د ادا کولو څخه انکار کړی وو او د اصل قرآن کريم يا د اصل قرائت څخه يې انکار نه وو کړی ځکه ابن مسعود رضي الله عنه پر هغه يوازي د شرابو حد جاري کړ او د مرتد کېدو حد يې پر جاري نه کړ .

د حديث د ظاهري مفهوم څخه يو بله مسئله هم اخيستل کيږي هغه دا چي عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه هغه سړي ته د شراب څښلو سزا ورکړه يعني پر هغه يې حد جاري کړ حال دا چي د شراب څښلو ثبوت د هغه د خولې څخه راتلونکي بوی دی ، د علماؤ د يو ډلې دا مذهب دی يعني د هغوئ په نزد د شراب څښلو جرم محض د خولې څخه د شرابو د بوی په راتلو باندي هم ثابتيږي مګر حنفيه او شوافع دواړو مذهب دادی چي د شراب څښلو جرم محض د خولې څخه بوی پر راتلو باندي نه ثابتيږي او نه پر داسي چا باندي حد جاري کيږي کله چي د هغه د خولې څخه د شرابو بوی راسي او د دې څخه پرته د هغه د شرابو څښلو بل ثبوت نه وي ځکه ډېر واره د ترش سيب او امرت بوی د شرابو د بوی مشابه وي .

کوم چي د ابن مسعود رضي الله عنه د دغه واقعې تعلق دی نو په دې اړه د دغه حضراتو له خوا دا دليل کيږي چي کېدای سي هغه سړي خپله د شرابو څښلو اقرار کړی وي يا د هغه پر شراب څښلو باندي شاهد قائم سوی وي ځکه نو پر هغه باندي حد جاري کړل سو .

## د قران کريم جمع کولو شروع

﴿۲۱۱۶﴾: وَعَنْ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ فَإِذَا

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ابوبکر رضي الله عنه د اهل يمامه د وژلو په ورځو کي زه راوغوښتلم او زه د هغوئ په خدمت کي حاضر سوم ،

عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهُ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِنَّ عُمَرَ أَتَانِي فَقَالَ إِنَّ

ومي ليدل چي حضرت عمر رضي الله عنه ناست دئ ، حضرت ابوبکر رضي الله عنه ما ته وويل چي عمر بن خطاب رضي الله عنه ما ته راغلئ او وه يې ويل :

الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْآنِ وَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ

د يمامه په جګړه کي ډېر قاريان شهيدان سوي دي زما سره بيره ده که په داسي مختلفو ځايو کي قاريان شهيدان کيږي

بِالْقُرَّاءِ بِالْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبَ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْآنِ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَأْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْآنِ

نو د قرآن لويه برخه به ضائع سي ، زما په خيال مناسب دادي چي تاسو د قرآن د يو ځای کولو حکم ورکړئ ،

قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ تَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د عمر رضی اللہ عنہ د دې خبري په اورېدو سره ما عمر رضی اللہ عنہ ته وويل : ته هغه کار څنګه کوې چي رسول الله ﷺ نه دئ کړئ ، عمر رضی اللہ عنہ وويل :

عُمَرُ هَذَا وَاللهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللهُ صَدْرِي لِذَلِكَ

په الله دي مي قسم وي دا کار غوره دئ نو عمر رضی اللہ عنہ زما سره په دې اړه خبري اترې کولې تر څو چي الله تعالى زما سينه هم ددې کار لپاره خلاصه کړل

وَرَأَيْتُ فِي ذَلِكَ الَّذِي رَأَى عُمَرُ قَالَ زَيْدٌ قَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ

او کوم مصلحت چي عمر رضی اللہ عنہ په دې کي ليدلی وو ما ته هم د هغه علم تر لاسه سو ، زيد بن ثابت رضی اللہ عنہ وايي ددې وروسته ابوبکر رضی اللہ عنہ وويل اې زيده ! ته يو زلمی سړی يې ، عقلمند يې ،

لَا نَتَّهِمُكَ وَقَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَتَبَّعْ

پر تا هيڅ تهمت نسته ، او ته د رسول الله ﷺ د وحي ليکوال وې نو ته د قرآن کريم اياتونه ولټوه

الْقُرْآنَ فَاجْمَعْهُ فَوَاللهِ لَوْ كَلَّفُونِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَيَّ

او يو ځای يې کړه ، زيد بن ثابت رضی اللہ عنہ وايي په الله جل جلالہ دي مي قسم وي که حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ما ته د غره پورته کولو خدمت سپارلی وای نو هغه خدمت به زما لپاره اسانه وای

مِمَّا أَمَرَنِي بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْآنِ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلُونَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ

تر دغه خدمت چي د قرآن يو ځای کول يې زما پر ذمه کړل، د زيد بن ثابت رضی اللہ عنہ بيان دئ د ابوبکر رضی اللہ عنہ د حکم اورېدو سره ما عرض وکړ تاسو هغه کار څنګه کوئ کوم چي رسول الله ﷺ نه دئ کړئ ؟

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هُوَ وَاللهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ أَبُو بَكْرٍ يُرَاجِعُنِي

ابوبکر رضی اللہ عنہ وويل په الله دي مي قسم وي دا کار غوره دئ ، نو ابوبکر رضی اللہ عنہ زما سره په همدې اړه خبري اترې کولې چي

حَتَّى شَرَحَ اللهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ لَهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

الله تعالى زما سينه هم ددې لپاره خلاصه كړل د كوم كار لپاره چې د ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه سينه خلاصه كړل سوې وه ،

فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الْعُسُبِ وَاللِّخَافِ وَصُدُورِ الرِّجَالِ حَتَّى

نو ما د قرآن كريم لټول داسي وكړه چې ما به د خرما د پاڼو يا ښاخونو او سپينو ډبرو څخه يا د خلكو يعني قاريانو او حافظانو د سينو څخه جمع كوئ تر دې چې

وَجَدْتُ آخِرَ سُورَةِ التَّوْبَةِ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ لَمْ أَجِدْهَا مَعَ أَحَدٍ

د سورة توبة آخري برخه ما د ابوخزيمة انصاري رضي الله عنه سره تر لاسه كړه او د هغه څخه پرته دا برخه مې د بل هيچا سره تر لاسه نه كړل

غَيْرِهِ { لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ } حَتَّى خَاتِمَةِ بَرَاءَةَ فَكَانَتِ الصُّحُفُ

او هغه آيت (لقد جاءكم رسول من انفسكم ) تر پايه پوري، نو دا ترتيب سوې صحيفې

عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ حَيَاتَهُ ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ .رواه البخاري .

د حضرت ابوبكر رضي الله عنه سره وې تر څو چې هغه ژوندى وو بيا الله تعالى هغه وفات كړئ نو تر ژوند پوري د حضرت عمر رضي الله عنه سره وې او د هغه وروسته د هغه د لور بي بي حفصې (رض) سره وې . بخاري .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۱۰-۱۱، رقم: ۴۹۸۶.

**د لغاتو حل**: العُسُب: جمع عسيب، وهو جريدة النخل: (د خرما د درختي پوستكي). اللخاف: هي الحجارة البيضاء العلساء (سپينه ډبره).

**تشريح**: يمامه د يو ښار نوم دى حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په خپل خلافت كي د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه په مشرتابه كي يو لښكر هلته وليږى او د هغه ځاى د اوسيدونكو سره سخته جګړه وسوه چې په هغه كي مسيلمه كذاب هم قتل كړل سو ، د مسلمانانو لښكر ته هم ډېر زيات ځاني تاوان ورسيدى د مسلمانانو د لښكر په شهيدانو كي هغه مقدس كسان هم شامل وه د كومو په سينو كي قرآن كريم محفوظ وو يعني حافظان او قاريان وه د ځينو حضراتو تحقيق دادى چې په

دغه جگړه کي د شهيدانو شمېر اووه سوه وو او ځينو تر دوولس سوه پوري ښودلی دی ، ددغه تشويش ناک حالت سره سم حضرت عمر ﷺ ته خيال راغلی چي د قرآن کريم د حفاظت په اړه يوازي پر يوه ذريعه يعني حافظانو باندي اعتماد او باور کول مناسب نه دي بلکه داسي عظيم امانت د حافظانو د سينو سره سره پر کاغذ باندي هم د محفوظ کولو انتظام کول پکار دي نو هغه دا يادونه حضرت امير المؤمنين حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته وکړه د سوچ او فکر وروسته پر دې خبره اتفاق سو ، حضرت زيد ﷺ يې را وغوښتی او پر دغه عظيم خدمت يې مامور کړی چي تا به د رسول الله ﷺ وحي ليکلې ، ددې مطلب دادی چي تا به اکثر د رسول الله ﷺ وحي ليکلې د اکثر قيد ځکه لګول سوی دی چي د رسول الله ﷺ د وحي ليکونکي څلوېښت صحابه کرام وه چي په هغوئ کي خلفاء اربعه هم وه ، د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د ارشاد خلاصه دا وه چي ته د وحي ليکوال يې ځکه د قرآن کريم جمع کولو په اړه ستا امانتداري او فرض پېژندنه يقيني او منل سوې ده .

## د نبوت په زمانه کي قرآن کريم په کوم شکل وو؟

د رسول الله ﷺ په زمانه کي قرآن کريم پوره ليکل سوی وو مګر په مصحف (کتابي شکل) او يو ځای نه وو بلکه په بېلا بېل توګه ليکل سوی وو يو څه برخه د خرماوو پر پاڼو ليکل سوې وه او يو څه برخه د ډبرو پر ټوټو او يو څه برخه پر هډوکو وغيره ليکل سوی وو کله چي به قرآن کريم نازليدی او رسول الله ﷺ به پر خپلو کاتبانو باندي په مذکوره شيانو باندي کوم چي به موجود وو پر هغه به يې قلم بند کوی ، د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته حضرت ابوبکر صديق ﷺ د حضرت عمر فاروق ﷺ په مشوره لکه څرنګه چي مخکي تفصيل بيان سو د قرآن کريم هغه بېلا بيلي برخي يو ځای کولو سره جمع کړې نو کله چي هغه بېلا بيلي ورقي په کوم کي چي قرآن کريم ليکل سوی وو په بېلا بېل توګه تر لاسه سوې او جمع سوې .

نن سبا چي د قرآن کريم سورتونه په کوم ترتيب زموږ په مخکي دي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د سورتونو ترتيب دا نه وو بلکه د سورتونو دغه ترتيب د رسول الله ﷺ څخه وروسته د صحابه کرامو په اجتهاد سره رامنځته سوی دی هو د آياتونو ترتيب د رسول الله ﷺ په مخکي او د هغه د حکم سره سم په عمل کي راغلی دی او ددې صورت به دا وو چي جبرائيل ﷺ به د وخت سره سم يو آيت راوړی نو دا به يې هم فرمايل چي دغه آيت په فلاني سورت کي د فلاني آيت څخه مخکي يا د فلاني آيت څخه وروسته دی او په لوح محفوظ کي هم د قرآن کريم آياتونه

په دغه ترتیب سره لیکل سوی دی بیا د هغه ځای څخه قرآنکریم د دنیا آسمان ته راوړل سو او بیا د هغه ځای څخه د ضرورت سره سم حضرت جبرائیل علیه السلام په سورتونه او آیاتونه رسول الله ﷺ ته راوړل ، خلاصه دا چي د قرآن کریم د نزول ترتیب هغه نه وو کوم چي په اوسني ترتیب سره دی ، حضرت جبرائیل علیه السلام به هر کال په رمضان المبارک کي د رسول الله ﷺ سره یو وار د پوره قرآن کریم تکرار د نزول د ترتیب سره سم کوی او په کوم کال چي رسول الله ﷺ د دنیا څخه تشریف یووړی په هغه کال کي یې دوه واره تکرار وکړی .

لم اجدها مع احد غیره : ددې مطلب دادی چي د سورة براة په آخري برخه کي د ابوحزیمه رضی الله عنه څخه پرته د بل سره لیکل سوی تر لاسه نه سو هسي خو پوره قرآن کریم د حافظانو په سینو کي محفوظ وو د رسول الله ﷺ په زمانه کي صحابه کرام مثلا ابی بن کعب ، معاذ ابن جبل، زید ابن ثابت او ابی درداء او داسي نورو صحابهٔ کرامو قرآن کریم یاد کړی وو .

د حدیث د آخري جملو مطلب دادی چي زید ابن ثابت رضی الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د حکم سره سم قرآن کریم جمع کړ او پر دې د ټولو صحابه کرامو اتفاق سو او هغه په ډېرو صحیفو کي منتقل کړل سو او تر اوسه یې لا د یوه مصحف شکل اختیار کړی نه وو ، هغه صحیفې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره وې او د هغه وروسته دغه صحیفې د حضرت عمر رضی الله عنه سره د هغه تر ژوند پوري وې بیا د هغه وروسته د هغه لور بي بي حفصې رضي الله عنها سره وې او بیا حضرت عثمان رضی الله عنه هغه صحیفې یعني پوره قرآن کریم په یوه مصحف کي جمع کړ او څو مصحفونه یې ولیکل او د اسلامي نړۍ څو ښارونو ته یې ولېږل لکه څرنګه چي په راتلونکي حدیث کي ددې ذکر راځي .

**د حضرت عثمان رضی الله عنه په ذریعه د قران کریم ترتیب او جمع**

﴿۲۱۱۷﴾:وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ قَدِمَ عَلَى عُثْمَانَ وَكَانَ

د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دئ چي حذیفة رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه په خدمت کي حاضر سو ، او دا وخت

يُغَازِي أَهْلَ الشَّأْمِ فِي فَتْحِ إِرْمِينِيَةَ وَأَذْرَبِيجَانَ مَعَ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَأَفْزَعَ

حضرت عثمان رضی الله عنه د شام او عراق د مجاهدینو لپاره چي د ارمینیه او اذربایجان د جګړې لپاره تیارېدل د جهاد سامان په برابرولو کي بوخت وو ،

حُذَيْفَةَ اخْتِلَافُهُمْ فِي الْقِرَاءَةِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لِعُثْمَانَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ

د خلکو هغه اختلاف چي هغوئ قرآن مجيد د قرائت سره بسم کوئ حذيفة يې په شک او بيره کي اخته کړی وو ، حذيفة د عثمان رضي الله عنه په خدمت کي حاضر سو او وه يې ويل : اې امير المؤمنين !

أَدْرِكْ هَذِهِ الْأُمَّةَ قَبْلَ أَنْ يَخْتَلِفُوا فِي الْكِتَابِ اخْتِلَافَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى

دامت د مسئلې تدارک (بندوبست) وکړئ تر دې وړاندي چي هغوئ په کتاب الله کي اختلاف وکړي لکه څرنګه چي يهود او نصارا اختلاف کړئ وو ، (د دې په اوريدو سره)

فَأَرْسَلَ عُثْمَانُ إِلَى حَفْصَةَ أَنْ أَرْسِلِي إِلَيْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِي الْمَصَاحِفِ

حضرت عثمان رضي الله عنه بي بي حفصې ته سړی وليږئ او ورته وه يې ويل : کومي صحيفې چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ترتيب کړي وې هغه موږ ته را وليږه موږ به هغه د نقل اخيستو وروسته بيرته در کړو ،

ثُمَّ نَرُدُّهَا إِلَيْكِ فَأَرْسَلَتْ بِهَا حَفْصَةُ إِلَى عُثْمَانَ فَأَمَرَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَعَبْدَ

نو بي بي حفصې هغه صحيفې حضرت عثمان رضي الله عنه ته را وليږلې ، حضرت عثمان رضي الله عنه زيد بن ثابت ، عبد الله بن زبير ،

اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ

سعيد بن عاص او عبد الله بن حارث بن هشام ته حکم وکړ چي هغوئ دغه صحيفې نقل کړي نو هغوئ هغه صحيفې نقل کړې ،

فَنَسَخُوهَا فِي الْمَصَاحِفِ وَقَالَ عُثْمَانُ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّينَ الثَّلَاثَةِ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ

حضرت عثمان رضي الله عنه د زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه پرته چي هغه د انصارو څخه نه وو پاته درو قريشو ته دا حکم وکړ که په قرآن کريم کي يو ځای په يو لغت کي ستاسو او د زيد بن ثابت په منځ کي اختلاف راسي

أَنْتُمْ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِي شَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ فَاكْتُبُوهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَإِنَّمَا نَزَلَ

نو د لغت قريش د ژبې سره سم يې وليکئ ځکه چي قرآن د قريشو په ژبه کي نازل سوی دئ ، نو

بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوا حَتَّى إِذَا نَسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ رَدَّ عُثْمَانُ الصُّحُفَ

هغوئ همداسي وكړل او كله چي هغه صحيفې نقل سوې او د هغو زيات نقلونه وايستل سول نو حضرت عثمان رضي الله عنه د بي بي حفصې صحيفې بيرته وركړې

إِلَى حَفْصَةَ وَأَرْسَلَ إِلَى كُلِّ أُفُقٍ بِمُصْحَفٍ مِمَّا نَسَخُوا وَأَمَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ

او خپل ترتيب سوي صحيفې يې ټولو ښاوخواته وليږلې او حكم يې جاري كړ چي ددې صحيفو

الْقُرْآنِ فِي كُلِّ صَحِيفَةٍ أَوْ مُصْحَفٍ أَنْ يُحْرَقَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي

پرته كوم مصحف يا صحيفه چي تر لاسه سي هغه دي په اور كي وسوځول سي، ابن شهاب رضي الله عنه وايي

خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ انه سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ فَقَدْتُ آيَةً مِنَ

خارجه بن زيد بن ثابت ماته بيان وكړ چي ما د زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه دا اوريدلي دي چي كله موږ صحيفو نقل كولو ته ناست وو نو ما

الْأَحْزَابِ حِينَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ قَدْ كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د سورة احزاب يو آيت تر لاسه نه كړ چي ما درسول الله ﷺ څخه اوريدلى وو،

وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ

هغه آيت مو ولټوئ نو موږ هغه د خزيمة بن ثابت انصاري رضي الله عنه څخه تر لاسه كړ او هغه آيت دادئ

{ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ } فَأَلْحَقْنَاهَا فِي سُورَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ . رواه البخاري

(من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه) نو موږ دا آيت هم د دې سورة سره په صحيفو كي ګډ كړ. بخاري.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۱۱،۱۱، رقم: ۴۹۸۷و ۴۹۸۸.

**تشريح** كرماني رحمه الله د بخاري په شرح كي ليكلي دي چي لفظ د يغازي د معنى په اعتبار د يُغزى په معنى كي استعمال سوى دى لكه چي ددې لفظ مطلب دادى: كان عثمان يجهز اهل

الشام واهل العراق لغزوة هاتين الناحيتين وفتحهما، ژباړه : حضرت عثمان ﷛ په هغه ورځو کي د اهل شام او اهل عراق لپاره ددغه دواړو هيوادونو د جنګ او د هغوئ د فتح لپاره د جهاد د سامان په جمع کولو کي بوخت وو . نو په حديث کي ددغه لفظ ژباړه هم ددغه وضاحت سره سم سوې ده او کرماني ﷬ هم دا ليکلي دي چي ارمينيه نواح روم (بنير لطين) کي د يوې سيمي نوم دی او اذربايجان د تبريز په سيمو کي يوه سيمه وه .

ملا علي قاري ﷬ او شيخ عبدالحق محدث دهلوي ﷬ د کان اسم او د يغازي فاعل حذيفه ليکلی دی او ملاعلي قاري د قاموس په حوالې سره هم ليکلي دي چي دارمينيه او اذربائيجان يو سيمه وه نو په دې ډول حديث کي اذربائيجان تعميم بعد تخصيص په ډول ذکر سو، هغوئ د يهود او نصارا په ډول په کلام الله کي اختلاف پيل کړ ، ددې مطلب دادی چي څرنګه يهود او نصارا په تورات او انجيل کي تغير او تبديل وکړی او د خپل خواهشاتو مطابق يې په کلام الله کي کمي او زياتوب وکړ نو داسي ونه سي چي مسلمانان هم داسي کول پيل کړي او هغوئ هم په دغه فتنه کي اخته سي ځکه ددغه فتنې را پورته کېدو څخه مخکي تاسو يو تدبير وکړئ، حضرت حذيفه ﷛ د حضرت عثمان ﷛ په مخکي د خپل دغه بيري اظهار وکړ نو حضرت عثمان ﷛ پر دغه مهمي مسئلې باندي د فکر کولو لپاره خلک را جمع کړل چي د هغو شمېر تقريبا پنځوس زره شاوخوا وو، حضرت عثمان ﷛ خلکو ته وفرمايل چي ما ته دا خبره معلومه سوې ده چي د قرآن کريم په ويونکو کي ځيني خلک يو بل ته دا وايي چي زما قرائت ستا تر قرائت غوره دی يعني هغوئ د يو بل د قرائت سره اختلاف کوي حالانکه داسي کول کفر ته نژدې دی، خلکو ووېل نو ستا سو څه رايه ده او ددې د بندولو لپاره تاسو څه مناسب ګڼئ ؟ حضرت عثمان ﷛ ووېل زه خو دا مناسب ګڼم چي ټول خلک پر يو مصحف باندي جمع کړم تر څو اختلاف پيدا نه سي ، خلکو ووېل تاسو چي کوم شی مناسب ګڼلی دی هغه ډېر غوره دی ددې وروسته حضرت عثمان ﷛ دا اراده وکړه چي خلک پر يوه مصحف جمع کړي نو په حديث فارسل عثمان ﷛ ...الخ، (حضرت عثمان ﷛ بي بي حفصې رضي الله عنها ته پيغام ولېږی) دا خبره په تفصيل سره بيان سوې ده چي کلام الله د قريشو د لغت سره سم نازل سوی دی بيا د رسول الله ﷺ په درخواست په دې باره کي وسعت او پراخي وکړل سوه يعني دا اجازه ورکړل سوه چي هر سړي دي د خپل لغت سره سم وايي اوس حضرت عثمان ﷛ چي دا ولېدل چي دغه اختلاف په امت کي د يو لوی انتشار او په دين کي د يو لوی فتنې باعث کيږي نو حکم يې وکړ چي د قريشو د لغت څخه پرته نور ټول لغات دي منسوخ کړل سي او ټول خلک دي قرآن کريم د

قریشو د لغت مطابق وايي نو په حدیث کي د حضرت عثمان ﷛ د الفاظو : فاكتبوا بلسان قريش.. همدا مطلب دی .

سخاوي ﷬ په مصحف عثماني کي د قرآن کریم د نقل کولو پر وخت د مذکوره نقل کونکو په مینځ کي کېدونکي ځیني اختلافات بیان کړي دي هغه لیکي چي یو وار د لفظ تابوت په باره کي اختلاف پیدا سو ، حضرت زید ﷛ وویل چي دغه لفظ دي التابوه ولیکل سي مګر د نورو حضراتو وینا وه چي التابوت لیکل پکار دي ددې وروسته خلکو حضرت عثمان ﷛ ته رجوع وکړه نو هغه وفرمایل چي دغه لفظ په ت سره یعني التابوت ولیکئ ځکه د قریشو په لغت کي دغه لفظ همداسي دی ، بیا خلکو د حضرت عثمان ﷛ څخه د لم يتسن لفظ په باره کي پوښتنه وکړه نو هغه وفرمایل چي په دغه لفظ کي (ه) ولیکئ ، ددغه مصحف څخه پرته هر هغه صحیفه یا مصحف دي وسوځول سي...الخ: دلته په څرګنده دا معلومېږي چي دلته د هري صحیفې څخه مراد هغه صحیفې دي کوم چي د بي بي حفصې رضي الله عنها سره وې او د مصحف څخه مراد هغه صحیفې دي کوم چي نورو خلکو جمع کړي دي او د هغوئ سره وې مګر دا احتمال هم دی چي په دغه لفظ في كل صحيفة او مصحف کي لفظ د او د راوي د شک اظهار لپاره وي.

د حدیث په ظاهري مفهوم کي دا هم معلومېږي چي د بي بي حفصې رضي الله عنها سره کومي صحیفې وې هغه حضرت عثمان ﷛ د وعدې پوره کولو سره سم يې بیرته بي بي حفصې ته ورکړې مګر بیا دوهم وار په تر لاسه کولو سره يې سوځلي دي، مګر سخاوي ﷬ په دې باره کي په تفصیل سره لیکلي دي چي کله حضرت عثمان ﷛ د مصحف عثماني د پوره کولو څخه فارغ سو نو بي بي حفصې ته يې خپلې صحیفې بیرته واستولې د هغه صحیفو او مصحف څخه پرته نور ټولي صحیفې يې وسوځلې نو هغه صحیفې د بي بي حفصې سره وې مګر هغې د ورکولو څخه انکار وکړ ، د بي بي حفصې د وفات ؒ خه وروسته مروان هغه صحیفې د هغه د ورور عبدالله بن عمر ﷛ څخه را وغوښتلې او ددې بیري څخه چي دا صحیفې د باندي را ونه ځي او خلک يې په لیدو سره بیرته په اختلاف کي اخته نه سي هغه يې وسوځلې .

حضرت عثمان ﷛ چي کوم مصحف د تیارولو وروسته د نړۍ شا وخوا ته لیږلی وو د هغو د شمېر په باره کي مختلف اقوال منقول دي مشهوره خبره داده چي د هغه مصاحفو شمېر پنځه وو مګر ابوداؤد وايي چي ما د ابوحاتم سجستاني څخه اوریدلي دي چي د هغو شمېر اووه وو په هغو کي یو مکې ته واستول سو ، یو شام ته ، یو یمن ته ، یو بحرین ته ، یو بصرې ته ، یو

کوفې ته او يو مدينې منورې ته واستول سو .

## د مصحف د خرابو سوو ورقو مسئله

په دې اړه د علماء کرامو اختلاف دی چي د مصحف په هغه زړو او خرابو ورقو څه وکړل سي کوم چي د هغه څخه ګټه نسي اخيستل کېدای يعني هغه ويل او تلاوت کول ممکن نه وي ايا د هغو سوځل غوره دي او که پريولل، ځيني حضرات وايي چي د هغو سوځل غوره دي چي د سوځلو په صورت کي د کلام الله د ذلت او بې حرمتۍ واقع کېدو امکان نه پاته کيږي، پر خلاف د پريولو چي د هغه پريولل سوي اوبه پر مځکه بهيږي او تر پښو لاندي کيږي، د ځينو علماؤ قول دی چي پريولل غوره دي او د هغه اوبه دي په پاک ځای کي واچول سي بلکه غوره داده چي د هغه اوبه وڅښېنل سي ځکه چي هغه د هر مرض دوا او د سيني د علتونو شفاء ده .

## د حضرت عثمان ﷺ کارنامه

اوس دا سوال پيدا کيږي چي حضرت عثمان ﷺ د مصحف عثماني څخه پرته نوري ټولي صحيفې ولي وسوځلې ؟ ددې جواب دادی که چيري هغه صحيفې سوځل سوې نه وای او هم داسي پاته سوې وای نو کېدای سي چي وروسته د خلکو د اختلاف او فتنې باعث سوي وای ، حضرت عثمان ﷺ ددغه مصلحت په وجه چي اختلاف پاته نه سي هغه صحيفې وسوځلې هغه ارنګه د حضرت عثمان ﷺ دغه فعل د طعن سبب نسي ګرځېدای ځکه چي پر هغه خو طعن هغه وخت کېدای سو چي د شريعت څخه دا ثابته وای چي د قرآن کريم ورقې سوځل بې ادبي ده ځکه چي دا خبره ثابته نه ده او بيا دا چي د هغه دغه فعل پر مصلحت مبني وو نو پر هغه باندي هيڅ الزام نه وارد کيږي .

## د قرآن کريم اول جامع

علماء کرامو ليکلي دي چي د قرآن کريم جمع کېدل درې واره سوي دي اول خو خپله د رسول الله ﷺ په زمانه کي مګر هغه وخت پوره قرآن کريم په يوه مصحف کي په ترتيب سره جمع سوی نه وو ، دوهم د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په مخکي جمع سو يعني اول جامع قرآن حضرت ابوبکر صديق ﷺ دی او هغه تر ټولو اول سړی دی چي کتاب الله يې جمع کړ ، په دريم وار د حضرت عثمان ﷺ په زمانه کي قرآن کريم جمع سو چي حضرت عثمان ﷺ ټول صحابه کرام جمع کړل او د هغوئ په مشوره يې قرآن کريم په مصاحف کي په ترتيب سره د قريشو د لغت مطابق نقل کړ او بيا يې هغه مصاحف شاوخوا ته واستول ، دا خبره د پنځه ويشتم ۲۵ هجري کال ده .

د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ او حضرت عثمان ﷛ د واړو د قرآن په جمع کولو کي فرق دادی چي حضرت ابوبکر صدیق ﷛ قرآن کریم په دې خوف سره جمع کړ د قرآن کریم یو برخه ولاړه نه سي او حضرت عثمان ﷛ په دې وجه جمع کړ چي په امت کي د اختلاف او انتشار فتنه پیدا نه سي ، همدارنګه ویل کیږي چي حضرت عثمان ﷛ په حقیقت کي قرآن کریم نه دی جمع کړی بلکه هغه امت د اختلاف د لاري څخه د ساتني لپاره پر یوه لغت (لغت قریش) باندي قائم او جمع کړی.

## د سورة برائت په شروع کي د بسم الله نه ویلو وجه

﴿۲۱۱۸﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قُلْتُ لِعُثْمَانَ مَا حَمَلَكُمْ على أَنْ عَمَدْتُمْ إِلَى

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دئ چي ما حضرت عثمان ﷛ ته وویل : تا

الْأَنْفَالِ وَهِيَ مِنَ الْمَثَانِي وَإِلَى بَرَاءَةٌ وَهِيَ مِنَ الْمِئِينَ فَقَرَنْتُمْ بَيْنَهُمَا وَلَمْ

سورة انفال چي د مثاني څخه دئ او سورة براءة چي له مئین څخه دئ ولي یو د بل سره یو ځای کړل . یعني تا دواړه سورتونه یو د بل سره یو ځای کړل او د فرق لپاره دي په منځ کي

تَكْتُبُوا سَطْرَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وَوَضَعْتُمُوهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ مَا

بسم الله الرحمن الرحیم نه ولیکل، او بیا دا چي تا سورة انفال د اوو اوږدو سورتو سره یو ځای کړ

حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ قَالَ عُثْمَانُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يَأْتِي

حال دا چي هغه د هغه سورتو سره یو ځای کول پکار دي چي تر سلو آیاتو زیات ایاتونه ولري د دې وجه څه ده ؟ حضرت عثمان ﷛ وفرمایل: د رسول الله ﷺ په زمانه کي څو آیاتونو والا سورتونه نازل سوي وه

عَلَيْهِ الزَّمَانُ وَهُوَ تَنْزِلُ عَلَيْهِ السُّوَرُ ذَوَاتُ الْعَدَدِ فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الشَّيْءُ

او د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا وو چي کله به یو شی نازلیدئ نو رسول الله ﷺ به د وحي

دَعَا بَعْضَ مَنْ كَانَ يَكْتُبُ فَيَقُولُ ضَعُوا هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ

لیکونکو څخه یو څوک راغوښتئ او حکم به یې ورکړ چي دا آیاتونه په هغه سورت کي ولیکئ

چي په هغه کي داسي د اسي بيان دئ،

فِيهَا كَذَا وَكَذَا وَإِذَا نَزَلَتْ عَلَيْهِ الْآيَةَ فَيَقُولُ ضَعُوا هٰذِهِ الْآيَةَ فِي السُّورَةِ

او سورة انفال د هغه سورتو څخه دئ چي په مدينه کي وړاندي نازل سوئ دئ، او سورة براءة د

الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا وَكَانَتِ الْأَنْفَالُ مِنْ أَوَائِلِ مَا أُنْزِلَتْ بِالْمَدِينَةِ

قرآن کريم د هغه برخي څخه دئ چي په پای کي نازل سوی دئ او د سورة انفال مضمون د هغه

وَكَانَتْ بَرَاءَةٌ مِنْ آخِرِ الْقُرْآنِ نزولا وَكَانَتْ قِصَّتُهَا شَبِيهَةً بِقِصَّتِهَا فَقُبِضَ

مضمون مشابه دئ کوم چي په سورة براءة کي تر لاسه کيږي ، رسول الله ﷺ وفات سو

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُبَيِّنْ لَنَا أَنَّهَا مِنْهَا فَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ

او موږ ته يې دا بيان نه وفرمايې چي براءة د سورة انفال څخه دئ (يا نه) نو د نبي کريم ﷺ د نه بيانولو له کبله

قَرَنْتُ بَيْنَهُمَا وَلَمْ أَكْتُبْ بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

او ددواړو سورتونو د مشابهت له کبله موږ دواړه يو ځای کړل او ددواړو په منځ کي مو د بسم الله الرحمن الرحيم فاصله نه ورکړل،

فَوَضَعْتُهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد.

او بيا موږ دواړه سورتونه په طوال کي ګډ کړل او دواړه مو له دې کبله بيل بيل کړل چي د دواړو په يو کېدو کي هم شبه وه او په دوو کېدو کي هم. احمد، ترمذي، ابوداؤد.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۱\۵۷، والترمذي ۵\۲۵۴، رقم: ۳۰۸۶، وابوداود ۱\۴۹۸، رقم: ۷۸۶.

**تشريح** د قرآن کريم سورتونه داسي ويشل سوي دي چي د سورة بقرې څخه تر سورة يونس پوري سورتو ته طوال وايي، په عربي ژبه کي طوال اوږدو ته وايي او د قرآن کريم ابتدائي اووه سورتونه اوږده دي ځکه نو په دغه مناسبت سره د هغو نوم سبع طوال يعني اووه اوږده سورتونه سو، د سورة يونس څخه تر سورة شعراء پوري سورتونو ته مئين وايي، مئين د مائة جمع ده او په عربي ژبه کي مائة سل ته وايي او دا سورتونه تر سلو آياتونو زيات دي يا سل ته نژدې دي

ځکه نو دغه سورتو ته مائين وايي ، او د سورة شعراء څخه تر سورة حجرات پوري سورتو ته مثاني وايي دا سورتونه تر سل سل آياتو کم دي او بيا دا چي ددغه سورتو مضمون او قصې مکرر دي ځکه نو دې ته مثاني وايي، د سورة حجرات څخه د قرآن کريم تر پايه پوري سورتونو ته مفصل وايي ځکه ددغه سورتو په مينځ کي د بسم الله الرحمن الرحيم فاصله نژدې ده ، دا درې ډولونه سوه بيا په دې کي آخري ډول يعني د مفصل هم درې ډولونه دي ۱: طوال، ۲: اوساط، ۳: قصار .

د سورة حجرات څخه تر والسماء ذات البروج پوري سورتونو ته طوال مفصل وايي ، د والسماء ذات البروج څخه تر سورة لم يکن پوري سورتونو ته اوساط مفصل وايي او د سورة لم يکن څخه تر پايه پوري سورتونو ته قصار مفصل وايي ، ددغه تفصيل په ذهن کي ساتلو سره اوس د حديث مطلب ته راسئ حضرت عثمان رضي الله عنه ته د حضرت عباس رضي الله عنه د ويلو مطلب دا وو چي سورة انفال د مثاني څخه دی ځکه چي هغه تر سلو آياتو کم دی او سورة براة د مئين څخه دی ځکه چي هغه تر سلو آياتونو زيات دی نو تاسو د قرآن کريم د جمع کولو پر وخت دغه دواړه سورتونه په طوال کي ولي کنښېنودل پکار خو دا وه چي سورة انفال په مثاني کي وای او سورة براة په مئين کي وای او په پای کي يو خبره دا هم ده چي ددغه دواړو سورتونو په مينځ کي بسم الله الرحمن الرحيم نه ده ليکل سوې .

حضرت عثمان رضي الله عنه چي د هغه د خبري کوم جواب ورکړی دی د هغه خلاصه داده چي ددغه دواړو سورتونو په مينځ کي اشتباه پيدا سوې ده د يوې وجي خو دغه دواړه سورتونه يو سورت دی په دې سبب دا په طوال کي اېښودل او د دواړو په مينځ کي بسم الله الرحمن الرحيم نه ليکل صحيح سول او په يوې وجي دغه دواړه سورتونه بېل بېل سورتونه دي ځکه نو د دوئ په مينځ کي فاصله راوړل سول .

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

# كِتَابُ الدَّعْوَاتِ

## د دعاوو بيان

ددعاء معنی ده د اعلی ذات څخه د ادنی شیانو د عاجزي په توګه غوښتل، امام نووي رحمه الله فرمايي چي په هره زمانه کي او د هر ځای علماؤ پر دې اتفاق دی چي دعا غوښتل مستحب دي د هغو دليل د قرآن او حديث د ظاهري او واضح مفهوم څخه پرته د انبياء عليهم السلام فعل هم دی ځکه چي ټولو انبياء کرامو عليهم السلام به دعاء غوښتل.

مګر د ځينو زاهدانو او اهل معارف دا وينا هم ده چي دعا نه غوښتل افضل دي ځکه چي په داسي کولو سره د الله تعالی د رضا او د خپل قسمت او تقدير د راضي کېدو په پوره توګه اظهار کيږي، شاه محمد اسحاق رحمه الله ددغه زاهدانو او اهل معارف د قول په اړه وايي چي دا قول پر هغه خاص کيفيت باندي محمول دی کوم چي ځيني وختونه پر ځينو مردان حق باندي خپريږي او په هغه کي رضا بقضاء غالب وي لکه څرنګه چي د حضرت ابراهيم عليه السلام واقعه ده چي هغه په اور کي واچول سو نو حضرت جبرائيل عليه السلام هغه ته وويل چي تاسو دعا وغواړئ او خپل پروردګار ته د خپل خلاصون او سلامتيا لپاره خواست وکړئ، نو هغه وفرمايل چي الله تعالی زما په حال خبر دی ما ته د خواست کولو او دعاء غوښتلو ضرورت نسته.

### اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

**د رسول الله ﷺ شفقت**

﴿۲۱۱۹﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر نبي

دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ وَاِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِاُمَّتِي

يوه دعاء قبليږي ، هر نبي په خپل دعاء غوښتلو کي تلوار وکړ خو ما هغه دعاء د قيامت په ورځ د خپل امت د شفاعت لپاره پټه ساتلې ده ،

الى يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنۡ شَاءَ اللّٰهُ مَنۡ مَاتَ مِنۡ أُمَّتِي لَا يُشۡرِكُ بِاللّٰهِ شَيۡئًا. رواه مسلم و للبخاري اقصر منه.

زما دا دعاء انشاء الله زما په امت كي هغه چا ته رسيدونكې ده چي په داسي حال كي مړ سوى وي چي د الله تعالى سره يې هيڅوک نه وي شريک کړی. مسلم او بخاري لږ لنډ حديث بيان کړئ دئ.

**تخريج**: صحيح مسلم ١\١٨٩، رقم: ٣٣٨-١٩٩، والبخاري (فتح الباري) ١١\٩٦، رقم: ٦٣٠٤.

**تشريح**: د هر نبي لپاره يو دعا ده: ددې مطلب دادى چي الله تعالى هر نبي ته حکم کړی دی چي د خپلو مخالفينو د تباهۍ لپاره ښېرا وكړي نو هغه به ښېرا كول او الله تعالى به هغه قبلول نو ددغه ښېرا په اړه رسول الله ﷺ وفرمايل چي الله تعالى هر نبي ته د دعا غوښتلو حق وركړى دى او بيا د هغه د قبوليت يقين يې هم وركړى دى نو هر نبي د خپل دغه حق په استعمال كي تلوار وكړ لكه څرنګه چي نوح عليه السلام د خپل امت د هلاكت او تباهۍ لپاره ښېرا وكړه او د هغه نتيجه دا سوه چي هغه ټول امت په طوفان كي غرق سو ،همدارنګه حضرت صالح عليه السلام د خپل امت د تباهۍ لپاره ښېرا وكړه او هغه د حضرت جبرائيل عليه السلام د يو آواز په ذريعه د هلاكت په شپلو كي د همېشه لپاره پټ سوه مګر ما خپل دعاء خوندي وساتل يعني د خپلو مخالفينو پر ضرر رسولو مي صبر وكړ او د هغوئ لپاره مي ښېرا ونه كړه لكه چي زه رحمة للعالمين يم زما شان دا نه دى چي زه ښېرا وكړم او د خلكو لپاره د تباهۍ او بربادۍ سبب سم ما خپل دغه حق كوم چي ما ته تر لاسه سوى دى د قيامت لپاره ساتلى دى د قيامت په ورځ به زه په دغه دنيا كي د ښېرا پر ځاى د هر هغه امتي په حق كي شفاعت كوم كوم چي په ايمان سره ددغه دنيا څخه رخصت سوى وي كه څه هم هغه ګناه كاروي.

دلته په دې خبره هم پوه سئ چي شفاعت به پر څو ډوله وي ځيني خلک به د رسول الله ﷺ د شفاعت په نتيجه كي په دوږخ كي نه داخليږي او ځيني به د دوږخ څخه ووځي او ځيني به جنت ته ژر داخل سي او د ځينو به په جنت كي لوړي درجې وي. اللهم ارزقنا شفاعة نبينا عليه الف الف صلوة. آمين.

﴿۲۱۲۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَتَّخِذُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله ! ما ستا څخه يو عهد اخيستئ دئ

تُخْلِفَنِيهِ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَأَيُّ الْمُؤْمِنِينَ آذَيْتُهُ شَتَمْتُهُ لَعَنْتُهُ جَلَدْتُهُ

چي ته د هغه خلاف نه كوي زه هم يو بشر يم كوم مؤمن ته چي ما تكليف وركړى وي كوم مؤمن ته چي ما بد ويلي وي كوم مؤمن چي ما وهلى وي

فَاجْعَلْهَا لَهُ صَلَاةً وَزَكَاةً وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهُ بِهَا إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . متفق عليه

نو دا ټول شيان ته د هغه په حق كي رحمت وګرځوې او د هغه لپاره يې د ګناهو د پاكۍ سبب وګرځوې او د خپل نژدېوالي ذريعه يې جوړه كړې چي د هغه په ذريعه د قيامت په ورځ تا ته نژدې سي . بخاري او مسلم

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۷۱، رقم: ۶۳۶۱، وصحيح مسلم ۴\۲۰۰۸، رقم: ۹۰- ۲۶۰۱.

**تشريح**: لفظ د : انما انا بشر - د عذر تمهيد دى چي زه هم يو انسان يم كله نا كله د بشريت د تقاضا سره سم د يو چا څخه ناراضه كېږم .

لفظ د فاي المؤمنين د هغه شي تفصيل او بيان دى د كوم لپاره چي رسول الله ﷺ د خپل ارشاد : اللهم اتخذت ...الخ په ذريعه د الله تعالى په دربار كي خواست وړاندي كړي، په هر حال د رسول الله ﷺ د دغه دعا خلاصه داده چي كوم مؤمن ته زما له خوا كوم تكليف رسيدلى وي نو هغه تكليف د هغه په حق كي د رحمت سبب وګرځوې .

نقل سوي دي چي يو وار بي بي عائشې رضي الله عنها د دغه شي په طلب كي د ډېري سختۍ څخه كار واخيست تر دې چي د رسول الله ﷺ د لمن په نيولو سره ولاړه سوه رسول الله ﷺ د هغې پر دغه عمل باندي وفرمايل : قطع الله يدك : الله تعالى دي ستا لاس پرې كړي، بي بي عائشې رضي الله عنها دا خبره ډېر سخته محسوس كړه او سمدستي يې د رسول الله ﷺ لمن پرېښودل او د غصې څخه ډكه كښېنستل ، رسول الله ﷺ چي هغې ته تشريف راوړ او د هغې د دغه كيفيت يې وليدى نو د هغې د خوشحاله كولو لپاره يې وفرمايل : اللهم اني اتخذت عندك عهد ...الخ،

علماء كرام ليكي چي د كوم چا لپاره ښېرا وكړل سي نو د هغه لپاره دا مسنون دي چي هغه

ددغه بنېرا په بدله کي پورتنۍ دعا هم خامخا وکړي .

## دعاء په يقين سره غواړئ

﴿۲۱۲۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوک دعاء غواړي

يَقُلْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ ارْزُقْنِي إِنْ شِئْتَ وَلْيَعْزِمْ

نو داسي دي نه وايي چي الله ! ما و بخښې که ته وغواړې، پر ما رحم وکړې که ته و غواړې، ما ته رزق راکړې که ته وغواړي، بلکه په دعاء کي پخه اراده وکړي

مَسْأَلَتَهُ إِنَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ لَا مُكْرِهُ لَهُ . رواه البخاري

ځکه چي الله تعالی څه غواړي هغه کوي پر هغه څوک زور کونکی نسته . بخاري

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۴۸، رقم: ۷۴۷۷.

**تشريح**. مطلب دادی چي د الله تعالی څخه څه غواړئ نو هغه په يقين سره غواړئ يعني داسي وايا ست اې الله ! زموږ فلانی مطلب پوره کړې هغه چي څه غواړي کوي يې او دا مه واياست که ته وغواړې نو زموږ فلانی مطلب پوره کړې ځکه چي په داسي کولو سره د الله تعالی له خوا د دعا په قبوليت کي شک پيدا کيږي حالانکه د دعاء د قبوليت په اړه يقين درلودل پکار دي.

ځکه چي هغه د دعا د قبوليت دعوه کړې ده او الله تعالی د خپل وعدې خلاف ورزي نه کوي او بيا دا چي د الله تعالی ذات بې پروا او مستغني دی په يو کار کولو يا نه کولو کي پر هغه د چا زور نسته بلکه هغه کوي څه چي وغواړي ځکه د خپل دعا سره دا ويل که ته وغواړې بالکل بې ګټي او بې حاصله دي .

## دعاء غوښتل مه پرېږدئ

﴿۲۱۲۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوک

يَقُلْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ وَلَكِنْ لِيَعْزِمْ وَلْيُعَظِّمْ الرَّغْبَةَ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا

يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ. رواه مسلم.

دعاء غواړي نو داسي دي نه وايي چي الله ما و بخښې كه ته وغواړې، بلكه دعاء دي په پو
يقين او شوق سره غواړي ځكه چي الله كوم شى وركوي نو دهغه وركول ورته گران نه وي. مس

**تخريج**: صحيح مسلم ۲۰۶۳\۴، رقم: ۸- ۲۶۷۹.

﴿۲۱۲۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د بنده دعاء قبليږي

مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَ

ترڅو پوري چي هغه د گناه كولو يا د قرابت د پرې كولو دعاء ونه غواړي او ترڅو پوري چي
هغه تلوار نه كوي، پوښتنه وسول چي اې د الله رسوله!

الِاسْتِعْجَالُ قَالَ يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يستجاب لِي
فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ. رواه مسلم

تلوار څنگه؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تلوار دا چي دعاء غوښتونكي دا ووايي ما دعاء
وغوښتل يعني په څو واره مي دعاء وغوښتل مگر هغه قبوله نه سول او ددې وروسته هغه
نااميده كښيني او دعاء پريږدي. مسلم

**تخريج**: صحيح مسلم ۲۰۹۶\۴، رقم: ۹۲- ۲۷۳۵.

**د لغاتو حل**: فيستحسر: اى ينقطع ويمل. (قطع سي).

**تشريح**: ددغه حديث مطلب دادى چي څرنگه د دعا د قبوليت لپاره يقين او پر الله تعالى باندي پوره باور شرط دى همدارنگه دا خبره هم ضروري ده چي دعا د هغه شيانو لپاره وغوښتل كوم چي مباح وي، دلته دا هم ښودل سوې ده چي د مؤمن دعا هغه وخت قبليږي كله چي هغه د يو گناه شي ونه غواړي او نه د قرابت ختمولو دعا وكړي او نه د تلوار څخه كار واخلي.

د گناه د شي غوښتلو مطلب دادى چي يو سړى داسي دعاء وغواړي چي اې الله! فلانى سړى و بخښې په داسي حال كي چي دده يقين وي چي هغه كافر مړ سوى دى، څرگنده ده چي دا

ډول دعا غوښتل او بیا د هغه د قبولیت توقع کول لیري خبره ده ، همدارنګه د محال او غیر ممکن شیانو دعا غوښتل او بیا د هغه د قبولیت امید کول هم ډېره بې عقلي ده مثلا یو بې عقل سړی دا دعا و غواړي چي اې الله ! زما او زما د پلار په مینځ کي بېلوالی راولې ، ددغه حدیث د مفهوم سره سم د مؤمن داسي غیر ایماني دعا هم نه قبلیږي .

د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي دا خبره د مؤمن د شان سره سمه نه ده چي کله د دعاء په قبلېدو کي ځنډ محسوس کړي نو په ستړي کېدو سره کښېني او دعاء غوښتل پرېږدي ځکه چي دعاء هم عبادت دی او د عبادت څخه ستړی کېدل د مؤمن لپاره په هیڅ حال کي مناسب نه دي بیا دا چي د دعاء په قبولیت کي ځنډ یا خو ددې لپاره وي چي د هغه وخت نه وي راغلی ځکه چي د ازل څخه د هر شي د تکمیل یو وخت ټاکل سوی دی تر څو پوري چي هغه وخت راغلی نه وي هغه شی نه واقع کیږي یا دعاء غوښتونکی چي کومه دعاء غواړي د هغه په تقدیر کي د هغه دعاء قبلېدل نه وي لیکلي په دې صورت کي هغه ته ددغه دعاء په بدله کي د آخرت ثواب ورکول کیږي یا په قبلېدو کي تاخیر ددې لپاره وي چي په دعاء غوښتلو کي د پوره عاجزۍ او پوره عبودیت اظهار وکړي ځکه الله تعالی په دعاء کي ددغه شیانو اختیارونکي ډېر خوښوي .

## د خپل مسلمان ورور لپاره دعاء قبلیږي

﴿۲۱۲۴﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْوَةُ

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د مسلمان دعاء

الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِاَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا

د خپل مسلمان ورور لپاره د هغه په نه شتون کي قبلیږي ، د دعاء غوښتونکي سر ته نژدې یوه ملائکه ټاکل کیږي او هر کله چي هغه

دَعَا لِاَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ . رواه مسلم

د خپل ورور لپاره دعاء کوي نو ملائکه پر هغه آمین وایي او بیا ملائکه دعاء غوښتونکي ته وایي او ستا لپاره دي هم دده په ډول وي . مسلم

**تخريج**: صحيح مسلم ۴\ ۲۰۹۴، رقم: ۸۸- ۲۷۳۳.

**تشریح**: دلته په خاصه توګه د هغه دعاء د قبلېدو زيری ورکړل سوی دی کوم چي د خپل مسلمان وررور لپاره د هغه په نه موجودتيا کي د ژبي څخه راوځي، همدارنګه چيري يو څوک د مسلمان وررور لپاره د هغه په مخکي په خپل زړه کي يا په پټه دعاء وکړي نو هغه دعاء هم په دغه زيري کي داخله ده.

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د دعاء کونکي سره ملائکه ټاکل کيږي چي هغه د دعاء پر وخت د الله تعالی په دربار کي دا شفاعت کوي چي الهي ددغه سړي دعاء دده د وررور په حق کي قبوله کړې او بيا هغه دعا کونکی په مخاطب کولو سره ورته وايي چي څرنګه ددغه دعاء په نتيجه کي ستا وررور خېر او ښېګڼې ته ورسيدی همداسي دي الله تعالی تا ته درکړي.

**د ښېرا کولو څخه منعه**

﴿۲۱۲۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْعُوا عَلَى

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ښيراوي مه کوئ

أَنْفُسِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللّٰهِ

د خپل ځان لپاره او مه خپل اولاد ته ښيراوي کوئ ځکه چي کيدای سي د ښيرا ساعت د هغه ساعت سره سم سي کوم چي د دعاء قبلېدو ساعت وي

سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءٌ فَيَسْتَجِيبُ لَكُمْ. رواه مسلم و ذكر حديث ابن عباس اتق دعوة المظلوم في كتاب الزكوة

او ستاسو ښيرا هم قبوله سي مسلم، د ابن عباس حديث چي د مظلوم د (بد) دعاو څخه وبيريږئ په کتاب الزکوة کي بيان سوی دئ.

**تخريج**: صحيح مسلم ۱۴\۲۳۰۴، رقم: ۷۴-۳۰۰۹.

**تشریح**: د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی چي ځيني وختونه داسي وي چي په هغه کي د الله تعالی په دربار کي هره دعاء قبليږي ځکه نو داسي بايد نه وي چي کوم وخت تاسو د ځان لپاره يا د خپل اولاد او مال لپاره ښېرا کوئ او هغه وخت د قبلېدو وي او بيا ستاسو ښېرا قبوله سي چي د هغه په نتيجه کي به تاسو ته تاوان ورسيږي او پښيمانه به سئ، ددې څخه معلومه سوه چي ناپوه کسان کله نا کله د خپل ځان، اولاد يا مال لپاره د غصې په وخت کي ښېراوي کوي

داسي كول مناسب نه دي . او د ابن عباس ﷺ حديث چي د مظلوم د ښېرا څخه و بيرېږئ.....، په كتاب الزكوة كي نقل سوى دى .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### دعاء عبادت ده

﴿۲۱۲۶﴾: عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ ثُمَّ قَرَأَ { وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ }. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

دعاء عبادت دئ ، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ : وقال ربكم...... : او ستاسو پروردگار ويلي دي چي زما څخه دعاء غواړئ زه به يې قبلوم، احمد ، ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۴\ ۲۷۶، وابوداود في السنن ۲\ ۱۶۱، رقم: ۱۴۷۹. والترمذي في السنن ۵\ ۱۹۴، رقم: ۲۹۶۹، وابن ماجه ۲\ ۱۲۵۸، رقم: ۳۸۲۸، والنسائي في الكبرى ۶\ ۴۵۰، رقم: ۱۱۴۶۴

**تشريح**: رسول الله ﷺ د مبالغې په توگه وفرمايل چي دعاء كول عبادت دى ځكه دعاء هغه عبادت دى چي په هغه كي بنده الله تعالى ته متوجه كيږي د الله تعالى د ذات څخه پرته د هر يو ذات څخه استغناء كوي د الله تعالى د ذات څخه پرته د بل هيچا څخه نه بيريږي او نه اميد لري او بيا دا چي په دعاء كي اخلاص وي د الله تعالى حمد او شكر وي د الله تعالى څخه سوال كيږي د الله تعالى د وحدانيت اظهار كيږي د خپل مقصد او مطلب د پوره كولو لپاره الله تعالى ته توجه او رغبت كيږي او د الله تعالى سره مناجات كيږي او د الله تعالى په مخكي د خپل ځان ذليل كولو او عاجز كولو سره د كمال عبوديت اظهار كيږي او الله تعالى ته فرياد كيږي او د هغه څخه مرسته غوښتل كيږي .

رسول الله ﷺ د خپل ارشاد د توثيق په اړه د دليل په توگه د قرآن كريم دغه آيت ووايه چي ددې څخه معلومه سي چي دعاء مامور به ده يعني د دعاء كولو حكم سوى دى او ددغه حكم تعميل يعني پر دعاء غوښتلو باندي ثواب وركول كيږي او څرگنده ده چي كوم شى د درجې وي هغه ته عبادت ويل كيږي، ددغه آيت آخري برخه هم پر دې دلالت كوي چي دعاء عبادت دى لكه

چي مخكي ويل سوي دي : ان الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين: كوم كسان چي زما د عبادت يعني دعاء په اړه تكبر كوي هغوئ به ډېر ژر ذليل او خوار كېدو سره په دوږخ كي داخل سي .

## د عاء د عبادت خلاصه ده

﴿۲۱۲۷﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ. رواه الترمذي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دعاء د عبادت مغز دئ . ترمذي

**تخريج** : الترمذي في السنن ۵\۴۲۵، رقم: ۳۳۷۰، وابن ماجه في السنن ۲\۱۲۵۸، رقم: ۳۸۲۹.

**تشريح** مطلب دادى چي دعاء د عبادت خلاصه ده او ددې مقصد بالذات دى ځكه چي د عبادت حقيقت او خلاصه عاجزي او د خپل ځان ذليل او كم ګڼل دي او دا شيان په دعاء كي حاصلېږي.

## د دعاء فضيلت

﴿۲۱۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ شَيْءٌ اَكْرَمَ عَلَى اللّٰهِ تَعَالَى مِنَ الدُّعَاءِ . رواه الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله په نزد د دعاء څخه هيڅ شى زيات ستر نه دئ . ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ويلي دا حديث حسن غريب دئ.

**تخريج** : الترمذي في السنن ۵\۴۲۵، رقم: ۳۳۷۰، وابن ماجه في السنن ۲\۱۲۵۸، رقم: ۳۸۲۹.

**تشريح** د دعاء څخه زيات د لوړي مرتبې هيڅ شى نسته : ددې مطلب دادى چي اذكار او عبادات هيڅ شى د دعاء برابر نه دى ، د رسول الله ﷺ دغه ارشاد د قرآن كريم ددغه آيت سره خلاف نه دى : ان اكرمكم عند الله اتقاكم : د الله تعالى په نزد په تاسو كي ډېر زيات د لوړي درجې والا هغه څوک دى كوم چي په تاسو كي تر ټولو زيات پرهيزګاروي .

## دعاء تقدير بدلوي

﴿۲۱۲۹﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ. رواه الترمذي

د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تقدير د دعاء پرته بل هيڅ شی نه سي بدلولای او په عمر کي د نيکۍ څخه پرته بل هيڅ شی زياتوالی نه سي کولای. ترمذي

**تخريج:** الترمذي في السنن ۱۴\۳۹۰، رقم: ۲۱۳۹.

**تشريح:** د تقدير څخه مراد د داسي ناخوښه شي پېښېدل دي چي د هغه څخه انسان بيرېږي، د حديث مطلب دادی چي کله بنده ته د دعاء کولو توفيق ورکړل سي نو الله تعالی د هغه څخه داسي شيان ليري کوي.

## د تقدير اقسام

د تقدير دوه ډولونه دي ۱: مبرم، ۲: معلق، تقدير مبرم خو د الله تعالی نه بدلېدونکي فيصله وي کوم شی چي پېښېدونکی وي په هغه کي هيڅ تغير او تبديل ممکن نه دی او په تقدير معلق کي د ځينو اسبابو په وجه تغير او تبديل هم کيږي، دلته په دغه حديث کي د تقدير په اړه ويل سوي دي چي هغه په دعاء سره بدليږي نو هغه تقدير معلق دی او تقدير مبرم نه دی.

## په نيکۍ سره د عمر د زياتوب مطلب

د حديث شريف څخه دا خبره معلوميږي چي په نيکۍ سره په عمر کي زياتوب راځي نو په دې باره کي پوه سه چي دلته د عمر کمي او زياتوب د تقدير معلق په اعتبار نه دی يعني په تقدير کي دا ليکل سوي دي چي فلانی سړی نيکي وکړي نو دومره عمر به يې وي او که نيکي ونه کړي نو دومره عمر به يې وي، ددې صورت دادی چي په لوح محفوظ کي داسي ليکل سوي دي مثلا که چيري فلانی سړی حج وکړي يا جهاد وکړي نو د هغه عمر به څلوېښت کاله وي او که چيري جهاد او حج دواړه وکړي نو د هغه عمر به شپېته کاله وي، که هغه سړی حج هم وکړي او جهاد هم وکړي نو د هغه عمر زيات سو او که هغه يوازي جهاد وکړ يا يوازي حج يې وکړ نو د هغه عمر به څلوېښت کاله وي نو د هغه د عمر انتهاء چي شپېته کاله وو کم سو.

ځيني حضرات د دغه حديث مطلب دا بيانوي چي کوم سړی نيکي وکړي د هغه عمر ضائع

نه سو يعني لکه چي د هغه عمر زيات سو په دې اعتبار دلته دا ويل سوي دي چي نيکي د انسان په عمر کي زياتوب راولي .

## دعاء د بلاوو دفع ده

﴿۲۱۳۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الدُّعَاءَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دعاء

يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ فَعَلَيْكُمْ عِبَادَ اللّٰهِ بِالدُّعَاءِ . رواه الترمذي و

رواه احمد عن معاذ بن جبل وقال الترمذي هذا حديث غريب

هغه شی ته ګټه رسوي چي نازل سي (يعني بلا او ستونزي) او د هغه شی څخه چي تر اوسه نه وي نازل سوی له دې کبله اې دالله بندګانو ! دعاء پر خپل ځان لازمه کړئ . ترمذي، احمد، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۱۵، رقم: ۳۵۴۸.

**تشريح** کوم شی چي سوی وي د هغه لپاره ددغه دعاء د ګټور کېدو مطلب دادی چي کوم مصيبت او آفت نازل سوی وي که چيري هغه د خلکو څخه وي نو په دعاء کولو سره دفع کيږي او انسان ته سکون او اطمينان حاصليږي او که چيري هغه مبرم وي نو بيا هم د دعاء ګټه څرګنديږي په دې توګه چي الله تعالی هغه ته د صبر توان ورکوي چي د هغه په نتيجه کي نه يوازي دا چي د هغه مصيبت او آفت زغمل د هغه لپاره اسان سي او هغه په راضي سي بلکه هغه دا هم نه غواړي چي په په مصيبت او آفت کي اخته سي ځکه چي د صبر د تر لاسه کېدو وروسته د هغه د اطاعت جذبه دومره قوي کيږي چي هغه په مصيبت او آفت کي هم داسي احساس کوي لکه څرنګه چي خلک په دنيا کي د نعمتونو او راحتونو لذت محسوس کوي .

کوم شی چي سوی نه وي د هغه لپاره دعاء په دې توګه ګټوره ده چي هغه د نازليدو څخه منع کوي په شرط ددې چي د هغه تعلق هم د تقدير معلق سره وي .

﴿۲۱۳۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

يَدْعُو بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللّٰهُ مَا سَأَلَ أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهُ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ. رواه الترمذي

د الله تعالی څخه يو شی غواړي يا خو الله تعالی د هغه سوال او غوښتنه پوره کوي يا د هغه څخه بدي چي د دعاء برابر وي ليري کوي تر څو پوري چي هغه د يوې ګناه يا د قرابت پرې کولو دعاء و نه غواړي. ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۳۱، رقم: ۳۳۸۱.

## د الله ﷻ څخه فضل غواړئ

﴿۲۱۳۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلُوا

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالی څخه د هغه

اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يُسْأَلَ وَأَفْضَلُ الْعِبَادَةِ انْتِظَارُ الْفَرَجِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

فضل غواړئ ځکه چي الله تعالی غوښتل ډير خوښوي او غوره عبادت د پراختيا انتظار دئ. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۲۸، رقم: ۳۵۷۱.

**تشريح**: د پراختيا د انتظار کولو مطلب دادی چي دعاء غوښتونکی د غير الله څخه د شکايت او ناامیدی د اظهار کولو پرته ددې اميد لري چي هغه د کوم مصيبت او غم ليري کولو دعاء غواړي هغه به انشاء الله تعالی خامخا ليري سي، که په دعاء قبلېدو کي په ځرګنده هر څومره ځنډ وسي مګر هغه د اميد لمن هيڅ کله نه پرېږدي او په هيڅ وخت کي هم هغه د الله تعالی د فضل او کرم څخه د يوې لحظي لپاره هم نه نا اميده کيږي، دا يو اشاره ده صبر ته چي د صبر طاقت نه يوازي دا چي د انسان په قوت اراده کي د زياتوب سبب ګرځي بلکه د الله تعالی پر ذات باندي د پوره اعتماد او يقين جذبه پيدا کوي او په دې کي خو شک نسته چي د صبر جزاء او انعام ډېر او بې شمېره دی.

## د الله ﷻ څخه نه غوښتل د الله ﷻ د ناراضګۍ سبب دی

﴿۲۱۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ. رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله تعالى څخه سوال نه کوي الله تعالى د هغه څخه ناراضه کيږي. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ٥\٤٢٦، رقم: ٣٣٧٣.

## عافيت غوښتل

﴿۲۱۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فُتِحَ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي

لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ وَمَا سُئِلَ اللّٰهُ شَيْئًا يَعْنِي

د چا لپاره د دعاء دروازه خلاصه سي نو د هغه لپاره د رحمت دروازې هم خلاصي سي او د الله تعالى څخه چي کوم شی وغوښتل سي

أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يُسْأَلَ الْعَافِيَةَ. رواه الترمذي

په هغه کي د الله تعالى په نزد تر ټولو غوره شی عافيت دئ. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ٥\٥١٥، رقم: ٣٥٤٨.

**تشريح**: د حديث د آخري برخو مطلب دادی چي الله تعالى عافيت غوښتل ډېر خوښوي او د بل هيڅ شي غوښتل تر دې نه خوښوي، د عافيت معنى د دنيا او آخرت ټول ظاهري او باطني ناخوښه شيان ټول آفتونه او مصيبتونه ټولي ناروغۍ او بلاوو څخه سلامتيا او حفاظت غوښتل دي، نو عافيت د دنيا او آخرت پر ټولو شيانو باندي حاوي دی. چا چي عافيت و غوښتی هغه د دنيا او آخرت ټول خيرونه وغوښتل ځکه الله تعالى عافيت غوښتل خوښوي.

## په خوشحالي او پراخي کي ډيري دعاوي غواړئ

﴿۲۱۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللَّهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

څوک چي دا خوښوي چي د سختۍ په وخت کي الله تعالی د هغه دعاء قبوله کړي نو هغه ته پکار دي چي د پراختيا او خوښي په وخت کي ډيري دعاوي و غواړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۳۱، رقم: ۳۳۸۲.

## د دعاء کولو پر وخت د قبلېدو يقين کوئ

﴿۲۱۳۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُوا اللَّهَ وَأَنْتُمْ

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی څخه دعاء

مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

غواړئ په دې يقين سره چي هغه ضرور قبلونکی دئ او په دې خبره پوه سئ چي الله تعالی د غافل زړه دعاء نه قبلوي. ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۸۳، رقم: ۳۴۷۹.

**تشريح**: د حديث د اولنۍ برخي مطلب دادی چي د دعاء پر وخت تاسو ته په داسي حالت کي کېدل پکار دي چي د هغه سبب تاسو د دعاء د قبوليت مستحق وګرځئ مثلا په نېک کار کي بوختيا او د خرابو کارونو څخه ساتنه وي، د دعاء چي کوم شرطونه دي د هغو رعايت کيږي مثلا توجه الی الله، د زړه حضور او اخلاص حاصل وي، آخري خبره داده چي ستاسو پر زړه باندي د قبوليت يقين او اعتماد وي او پر نه قبلېدو او نااميدۍ باندي غالب وي، يا مراد دادی چي د دعاء غوښتلو پر وخت تاسو ته پوره باور کول پکار دي چي الله تعالی خپل وسيع او لا محدود فضل په وجه موږ نه نااميده کوي او زموږ دعاء به خامخا قبلوي.

## د دعا پر وخت لاسونه!

﴿۲۱۳۷﴾: وَعَنْ مَالِكِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت مالک بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي

سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْأَلُوهُ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا، و في رواية ابن

تاسو د الله څخه دعاء غواړئ نو دلاسو په دننه خوا یې غواړئ (یعني ورغوي خپل لوري ته کړئ) او هغه د شا د لوري څخه مه غواړئ ،

عباس قال سَلُوا اللّٰهَ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا فَإِذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوا بِهَا وُجُوهَكُمْ . رواه ابوداؤد .

او د ابن عباس په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله تعالی څخه د لاسو دننه خوا څخه غواړئ او د هغه د شا د خوا څخه یې مه غواړئ او هر کله چي تاسو د دعاء څخه فارغ سئ نو لاسونه پر مخ راتیر کړئ . ابوداؤد

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۱۶۴، رقم: ۱۴۸۶.

**تشريح**: مطلب دادی چي د دعاء پر وخت لاسونه پورته کوئ او هغه داسي ایږدئ چي د لاسونو د ننه خوا یعني ورغوي مخ ته وي لکه څرنګه چي د دعاء پر وخت معمول دی ، په اړول سوو لاسو باندي دعاء مه غواړئ ، د استسقاء حالت ددې څخه استثناء دی ځکه چي هغه وخت د لاسونو په اړولو سره دعاء غوښتل منقول دي او په باب الاستسقاء کي ددې بیان سوی دی .

## د دعاء پر وخت پورته سوي لاسونه

﴿۲۱۳۸﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَبَّكُمْ

د حضرت سلمان رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو پروردګار

حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا. رواه الترمذي و ابوداؤد والبيهقي في الدعوات الكبير .

ډیر حیاناکه دئ، بې غوښتني ورکونکی دئ او هغه ددې څخه حیاء کوي چي بنده د هغه په لور لاس پورته کړي او هغه د هغه لاسونه خالي راستانه کړي. ترمذي، ابوداؤد او بیهقي

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\ ۵۲۰، رقم: ۳۵۵۶، وابوداود في السنن ۲\ ۱۶۵، رقم: ۱۴۸۸.

## د دعاء وروسته لاسونه پر مخ راتېرول

﴿۲۱۳۹﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ. رواه الترمذي

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د دعاء لپاره لاسونه پورته کول نو تر هغو به یې نه کښته کول تر څو پورې چي پر مخ به یې راتیر نه کړل. ترمذي

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۳۲، رقم: ۳۳۸۶.

## رسول الله ﷺ جامع دعاوي خوښولې.

﴿۲۱۴۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحِبُّ الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ وَيَدَعُ مَا سِوَى ذٰلِكَ. رواه ابوداؤد

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به هغه دعاوي خوښولې کومي چي به جامع وې او کومي چي به داسي نه وې نو هغه به یې پرېښودلې. ابوداؤد.

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\ ۱۶۲، رقم: ۱۴۸۳.

**تشریح** جامع دعاء هغه دعاء ته وایي چي په هغه کي الفاظ خو کم وي مګر هغه د دنیوي او اُخروي امورو باندي حاوي وي لکه دغه دعاوي:

ربنا آتنا في الدنیا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النار: اې الله! موږ په دنیا کي هم خېر راکړې او په آخرت کي هم خیر راکړې او موږ د اور د عذاب څخه وساتې.

اللهم اني اسئلک العفو والعافیة في الدین والدنیا والآخرة: اې الله! زه ستا څخه په دین کي په دنیا کي او په آخرت کي عفو او عافیت غواړم.

دا ډول نورې هم ډېرې جامع دعاوي سته چي په حدیثو کي منقول سوي دي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ داسي دعاوي پرېښودلي کوم چي جامع نه وې بلکه د يو خاص مطلب او مقصد په باره کي وي مثلاً دغه دعاء: ارزقني زوجة حسنة: اې الله ! ما ته ښائسته ښځه راکړې، مگر دا خبره هم بايد په فکر کي وي چي دا د رسول الله ﷺ د عادت په اعتبار ويل سوي دي چي رسول الله ﷺ به زيات وخت جامع دعاوي غوښتلې مگر کله نا کله يې د يو خاص مطلب لپاره هم دعاء غوښتل ثابت دي.

**غائبانه دعاء قبليږي**

﴿۲۱۴۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېر ژر قبليدونکې دعاء هغه ده چي غائب يې د غائب لپاره وکړي. ترمذي، ابوداؤد.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۳۰۹، رقم: ۱۹۸۰. و ابوداود في السنن ۲\۱۸۶، رقم: ۱۵۳۵.

**تشريح**: د کوم چا لپاره چي د هغه په نه موجودتيا کي دعاء کوي نو د هغه دعاء ژر قبليږي ځکه داسي دعاوي يو چا ته د ښوونې يا اورولو لپاره نه کيږي بلکه په خاص اخلاص او خلوص کيږي.

**د ښه خلکو څخه د دعاء غوښتنه**

﴿۲۱۴۲﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د عمرې کولو اجازه وغوښتل،

فِي الْعُمْرَةِ فَأَذِنَ لِي وَقَالَ أَشْرِكْنَا يَا أُخَيَّ فِي دُعَائِكَ وَ لَا تَنْسَنَا فَقَالَ كَلِمَةً مَا

رسول الله ﷺ اجازه راکړه او ويې فرمايل: زما کشره وروره ! په خپلو دعاوو کي ما هم گډ لره چي هير دي نه سي، رسول الله ﷺ دا يو داسي خبره وفرمايل

يَسُرُّنِي أَنَّ لِي بِهَا الدُّنْيَا. رواه ابوداؤد والترمذي و انتهت روايته عند قوله ولا تنسنا.

چي زما د ټولي دنيا په مقابله کي خوښه ده. ابوداؤد، ترمذي،

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۱۶۹، رقم: ۱۴۹۸، والترمذي في السنن ۵\۵۲۳. رقم: ۳۵۶۲.

**تشريح**: د رسول الله ﷺ فرمايل سوې هغه کلمه ده چي د هغه په بدله کي ټوله دنيا تر لاسه کېدل هم د حضرت عمر رضي الله عنه لپاره د خوشحالۍ باعث نه وو ، په دې باره کي دوه احتماله دي يو خو دا چي د کلمې څخه مراد د رسول الله ﷺ حضرت عمر رضي الله عنه ته د هغه د عمرې لپاره د تلو په وخت کي فرمايل وي يعني په دعاء کي يادول او د دعاء پر وخت نه هېرول، مګر دا احتمال هم دی چي رسول الله ﷺ په دغه وخت کي يو بله خبره فرمايلې وي چي د حضرت عمر رضي الله عنه په نزد تر ټولي دنيا قيمتي وي او هغه خبره دلته په حديث کي نه وي نقل سوې ، رسول الله ﷺ چي حضرت عمر رضي الله عنه ته د دعاء کوم خواست وکړ نو په دې کي يوازي دا دي چي د ذات نبوت له خوا د عبوديت په مرتبه او مقام کي د عجز اظهار دی بلکه په داسي کولو سره د امت خلکو ته ددې ترغيب هم ورکړل سوی دی چي د الله تعالی د نيکو او عابد بندګانو او ښو خلکو څخه د خير دعاء غوښتل کېدای سي که څه هم هغوئ د مرتبې په لحاظ کم وي ، او دلته د رسول الله ﷺ په داسي لطيف انداز کي وينا امت ددې څخه خبرول دي چي خپل دعاوي دي يوازي د خپل ځان لپاره نه خاصوي بلکه په دعاوو کي دي په خاص توګه هغه دعاوو کي چي د قبوليت پر مقام غوښتل کيږي خپل قريبان، دوستان او ملګري هم شامل کړي.

په پای کي يوه خبره دا هم ده چي ددغه حديث څخه د حضرت عمر رضي الله عنه د عظمت او بزرګۍ اظهار هم کيږي رسول الله ﷺ هغه ته د دعاء خواست وکړ دا داسي دی لکه چي د هغه د عظمت او بزرګۍ تصديق يې وکړ.

## هغه خوشبخته چي دعاء يې نه رد کيږي

﴿۲۱۴۳﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د درو کسانو

تُرَدُّ دَعْوَتُهُمُ الصَّائِمُ حِينَ يُفْطِرَ وَالْإِمَامُ الْعَادِلُ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ يَرْفَعُهَا

دعاء نه رد کيږي يو د روژه دار دعاء هغه وخت چي هغه روژه ماتوي، دويم د عادل حاکم دعاء، دريم د مظلوم دعاء چي د هغه دعاء الله تعالی

اللّٰهُ فَوْقَ الْغَمَامِ وَيَفْتَحُ لَهَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ وَيَقُولُ الرَّبُّ وَعِزَّتِي لَأَنْصُرَنَّكَ

وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ. رواه الترمذي.

د وريځي پورته وړي او د مظلوم د دعاء لپاره د آسمان دروازې خلاصي سي او الله تعالى فرمايي: زما دې په خپل عزت قسم وي خامخا به ستا مرسته كوم كه څه لږ وخت وروسته وي. ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۹، رقم: ۳۵۹۸.

**تشريح**: د مظلوم دعاء وريځي ته پورته كېدل او د هغه لپاره د آسمانو دروازې خلاصېدل دا په اصل كي كنايه ده ددې څخه چي د مظلوم دعاء ژر پورته كيږي او قبليږي.

﴿۲۱۴۴﴾: وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ دَعْوَةُ الْوَالِدِ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې ډوله دعاوي قبليږي او دهغو په قبلېدو كي هيڅ شک نسته: د پلار دعاء، دويم د مسافر دعاء، او دريمه د مظلوم دعاء. ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۴\۲۷۷، رقم: ۱۹۰۵، وابوداود في السنن ۲\۱۸۷، رقم: ۱۵۳۶، وابن ماجه في السنن ۲\۱۲۷۰، رقم: ۳۸۶۲.

**تشريح**: د پلار دعاء: ددې مطلب دادی چي پلار د خپل اولاد لپاره دعاء وكړي يا ښېرا وكړي نو هغه ژر قبليږي او كله چي د پلار دعاء قبليږي نو د مور دعاء په طريقه اولى قبليږي كه څه هم دلته په حديث كي د مور په باره كي ذكر نه دی سوی ځكه مور پر خپل اولاد باندي د پلار په نسبت ډېر شفيقه وي.

د مسافر د دعاء په باره كي دوه احتماله دي يو خو دا چي د مسافر دعاء د هغه چا په حق كي قبليږي چي د هغه سره احسان او ښه چلن وكړي او د هغه ښېرا د هغه چا په حق كي قبليږي چي هغه ته تكليف او ضرر ورسوي او د هغه سره بد چلن كوي يا دا چي د مسافر دعاء مطلقا قبليږي كه هغه يې د ځان لپاره وكړي او يا د بل چا لپاره.

د مظلوم د دعاء مطلب دادی چي كوم څوک د مظلوم مرسته وكړي يا هغه ته داد ور كړي او مظلوم د هغه لپاره دعاء وكړي نو د هغه دعاء قبليږي همدارنګه كوم څوک چي پر مظلوم ظلم

کوي يا کوم څوک چي د ظالم په تائيد کولو سره مظلوم ته ذهني، روحاني او بدني تکليف رسوي او مظلوم د هغه لپاره ښېرا وکړي نو د هغه دغه ښېرا قبليږي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### خپل ادنا حاجت هم د الله جل جلاله څخه غواړئ

﴿۲۱۴۵﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : پکار ده چي تاسو خپل

رَبَّهُ حَاجَتَهُ كلها حَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ . زاد في رواية عن ثابت

حاجتونه يوازي د الله څخه وغواړئ تر دې چي د څپليو تسمه مو وشکيږي نو هغه هم د الله څخه غواړئ ، او د ثابت بناني په روايت کي دا الفاظ دي چي

البناني مرسلا حتى يساله الملح و حَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ . رواه الترمذي

مالګه دي هم غواړي او تر دي چي د څپليو تسمه وشکيږي نو هغه دي هم د الله څخه غواړي . ترمذي .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۷۸۲، رقم: ۳۶۸۲،

**د لغاتو حل**: شِسع بكسر المعجمة وسكون المهملة، اى شراكهما (تسمه).

**تشريح**: د مشکوة مصنف رحمة الله عليه ته پکار وه چي هغه د زاد في رواية پر ځای داسي ويلي وای چي رواه الترمذي و زاد في رواية، په دوهم روايت کي دغه جمله حتى يساله شسعه..الخ، يعني که چيري د هغه د څپلی تسمه هم وشکيږي نو هغه دي هم د الله تعالى څخه غواړي دا الفاظ مکرر ذکر سوي دي او دا ځکه مکرر دي چي پر دې خبره دلالت وکړي چي د الله تعالى څخه په غوښتلو کي پر هيڅ پړاو باندي د سائل لپاره څه بنديز او محرومي نسته الله تعالى پر خپلو بندګانو باندي ډېر مهربان دی هغوئ چي څه غواړي الله تعالى يې ورکوي نو بندګانو ته پکار دي چي هغوئ خپل هر حاجت که څه هم ادنا شی وي د الله تعالى څخه غواړي او يوازي د هغه پر ذات باور وکړي .

ابو علي دقاق رحمة الله عليه وايي چي دا خبره د معرفت نښه ده چي خپل هر حاجت که هغه لوی وي

او كه كوچنى وي د الله تعالى څخه وغوښتل سي او دلته يې د حضرت موسى عليه السلام ډېر ښه مثال وړاندي كړى دى چي يوې خوا ته خو د الله تعالى د ديدار شوق و سو نو هغه د الله تعالى په حضور كي دغه تر ټولو لوى درخواست وړاندي كړ : رب ارني انظر اليک : اې زما ربه ! ما ته وښيه چي زه تا ووينم، بلي خوا ته د اوربشو د ډوډۍ محتاج سو نو پروردګار ته يې عرض وكړ : رب لما انزلت الي من خير فقير : اې الله ! ما ته د مال او رزق څخه يو شى را واستوې نو زه د هغه محتاج يم .

## په دعاء كي لاسونه پورته كول

﴿۲۱۴۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په دعاء كي لاسونه دومره پورته كول چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والى به څرګند سو . بيهقي

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

﴿۲۱۴۷﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ يَجْعَلُ أُصْبَعَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ وَيَدْعُوْا.

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د دواړو لاسو د ګوتو سرونه د دواړو اوږو برابر ساتل او بيا به يې دعاء غوښتل . بيهقي

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

**تشريح**: په دغه حديث كي چي د دعاء پر وخت د لاسو پورته كولو كومه اندازه ښودل سوې ده دا د لاسو پورته كولو اوسط درجه ده او رسول الله ﷺ به د دعاء پر وخت زيات وخت خپل لاسونه دومره پورته كول، تر دې ځايه د اولني حديث تعلق دى چي د هغه څخه د لاسونو زيات پورته كول معلوميږي مګر دا صورت پر ځينو وختو محمول دى يعني په دعاء كي چي ډېر زيات استغراق او مبالغه وي مثلاً د استسقاء يا سخت آفات په وخت كي نو رسول الله ﷺ به خپل لاسونه مبارک دومره پورته كول چي د بغلو سپين والى به يې معلوم سو .

## د دعاء وروسته لاسونه پر مخ تېرول

﴿۲۱۴۸﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت سائب بن زید ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ به

كَانَ إِذَا دَعَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ مَسَحَ وَجْهَهُ بِيَدَيْهِ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في "الدعوات الكبير"

دعاء غوښتل نو دواړه لاسونه به يې پورته کړل او بيا به يې دواړه لاسونه د دعاء وروسته پر مخ راتير کړل. دري سره حديثونه بيهقي په دعوات كبير كي نقل كړي دي.

**تخریج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

**تشریح**: علامه طيبي رحمه الله وايي چي دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي نبي کريم ﷺ به د دعاء وروسته لاسونه پورته کول او که چيري د دعاء پر وخت به يې لاسونه پورته نه کړل نو هغه به يې پر مخ نه را تېرول د لمانځه په حالت کي، په طواف کي او د ښځه کېدو پر وخت او د خوراک وروسته همدارنګه پر نورو ځايو باندي رسول الله ﷺ چي کومي دعاوي کولې نو په هغو کي لاسونه پورته کول منقول دي او رسول الله ﷺ به په دغه وختونو کي لاسونه هم پر مخ مبارک نه را تېرول.

### د دعاء ادب

﴿۲۱۴۹﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ الْمَسْأَلَةُ أَنْ تَرْفَعَ يَدَيْكَ حَذْوَ

حضرت عکرمة ﷺ د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت کوي چي هغه وويل: د دعاء غوښتلو طريقه داده چي دواړه لاسونه

مَنْكِبَيْكَ أَوْ نَحْوَهُمَا وَالِاسْتِغْفَارُ أَنْ تُشِيْرَ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ وَالِابْتِهَالُ أَنْ تَمُدَّ

تر اوږو پوري يا هغه ته نژدې پورته کړل سي او د استغفار طريقه داده چي ته په خپل يوه ګوتي سره اشاره وکړې او په دعاء کي د عاجزي طريقه داده چي ته خپاره کړې

يَدَيْكَ جَمِيْعًا، وفي رواية قَالَ وَالِابْتِهَالُ هٰكَذَا وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَجَعَلَ ظُهُوْرَهُمَا

مِمَّا يَلِي وَجْهَهُ. رواه ابوداؤد.

خپل دواړه لاسونه او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي ابن عباس رضي الله عنه وويل: د عاجزئ طريقه داده د دې ويلو سره ابن عباس خپل دواړه لاسونه پورته کړل او د لاسو شا يې خپل مخ ته نژدې کړل. ابوداؤد

**تخريج:** سنن ابي داود ۲\۱۶۵، رقم: ۱۴۸۹.

**تشريح** په يوې گوتي سره اشاره کوئ: دلته د گوتي څخه مراد د مسواک گوته ده چي د شهادت گوته هم ورته وايي او ددې څخه مقصد سب دی يعني نفس اماره او ملعون شيطان ملامتول او د هغه د بديو څخه پناه غوښتل دلته د يوه قيد ځکه لگول سوی دی چي په دوو گوتو سره اشاره کول مکروه دي، رسول الله ﷺ يو سړی په دوو گوتو سره په اشاره کولو وليدی نو هغه ته يې وفرمايل چي په يوې گوتي سره اشاره کوه.

د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي ابن عباس رضي الله عنه په دعاء کي د ډېر عجز د اظهار په ذريعه وښودل هغه خپل دواړه لاسونه دومره پورته کړل چي د بغلو سپين والي يې معلوم سو او لاسونه يې د سر برابر ته ورسېدل.

## د لاسو ډېر پورته کول بدعت دی

﴿۲۱۵۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ يَقُوْلُ إِنَّ رَفْعَكُمْ أَيْدِيَكُمْ بِدْعَةٌ مَا زَادَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى هٰذَا يَعْنِي إِلَى الصَّدْرِ. رواه احمد

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي په دعاء کي لاسونه ډېر پورته کول بدعت دئ، رسول الله ﷺ تر دې زيات لاسونه نه دي پورته کړي، يعني تر سينې پوري. احمد

**تخريج:** مسند الامام احمد ۲\۶۱.

**تشريح** ابن عمر رضي الله عنه د لاسو ډېر پورته کولو ته ځکه بدعت وويل چي هغه خلکو به خپل لاسونو په اکثرو وختو کي زيات پورته کول او په حالات او مواقع کي به يې څه فرق نه کوی حالانکه هغوئ ته پکار وه چي هغوئ د يو مقصد لپاره لاسونه تر سينې پوري پورته کړي او او يا د بل مقصد لپاره يې د اوږو څخه پورته کړي.

په دې خبره دا ډول پوه سئ چي د رسول الله ﷺ د لاسو پورته کولو مقدار د حالاتو او مواقع په اختلاف وو او رسول الله ﷺ به اکثر تر خپل سينې پوري لاسونه پورته کول او پر يو

ځای به یې د سینې ځخه پورته کول مگر ابن عمر رضي الله عنه چې کومو کسانو ته تنبیه ورکړه هغوئ د موقع او حالت اعتبار نه کوی بلکه هره وخت به یې او په هري دعاء کي به یې لاسونه ډېر زيات پورته کول ځکه نو ابن عمر رضي الله عنه د هغوئ د دغه عمل ځخه د بيزاری اظهار وکړ او هغه يې د سنت خلاف وګرځوی.

**د دعاء پر وخت خپل ځان اول کړئ**

﴿۲۱۵۱﴾: وَ عَنْ اُبَيِّ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د يو چا يادونه کول

ذَكَرَ أَحَدًا فَدَعَا لَهُ بَدَأَ بِنَفْسِهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب صحيح .

او بيا به يې د هغه لپاره د دعاء کولو اراده کول نو لومړی به يې د ځان لپاره دعاء پيل کول . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب صحيح دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۴۳۲، رقم: ۳۳۸۵.

**تشريح**: په دغه حديث کي د امت لپاره ښوونه ده که چيري يو ثوک د يو چا لپاره دعاء کوي نو مخکي دي د خپل ځان لپاره دعاء کوي او بيا دي د هغه سړي لپاره کوي مثلا داسي دعاء دي کوي: اللهم اغفرلي ولفلان : اې الله ! ما ته بخښنه وکړې او فلاني سړي ته بخښنه وکړې .

**د دعاء په نيتجه کي د درو شيانو ځخه يو شی خامخا حاصليږي**

﴿۲۱۵۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان چي

مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ وَلَا قَطِيعَةُ رَحِمٍ إِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ بِهَا

دعاء غواړي او په هغه کي د يو داسي شی دعاء نه وي چي په هغه کي د ګناه کولو يا د خپلوۍ پرې کولو ذکر وي نو الله تعالی دعاء غوښتونکي ته

إِحْدَى ثَلَاثٍ إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِمَّا أَنْ

د درو شيانو څخه يو شی خامخا ورکوي : يا خو دهغه مقصد ژر ورپوره کړي، يا د هغه دعاء د آخرت لپاره ذخيره جوړه کړي،

يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا قَالُوا إِذًا نُكْثِرُ قَالَ اللهُ أَكْثَرُ . رواه احمد

يا د دعاء غوښتونکي هغومره بدي ليري کړي څومره چي هغه په دعاء کي د خپل ګټي يا غوښتني کړي وي ، صحابه کرامو عرض وکړ اوس به نو موږ ډيري دعاوي کوو، رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی فضل ډير زيات دئ . احمد

**تخريج** : الامام احمد في مسنده ۳\۱۸.

**تشريح** د الله تعالی فضل ډېر زيات دی : ددې مطلب دادی چي الله تعالی ستاسو د دعاء په نتيجه کي تاسو ته څه چي غواړئ تر هغه زيات درکوي کوم چي تاسو غوښتي دي .

**هغه پنځه دعاوي چي نه رد کيږي**

﴿۲۱۵۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمْسُ دَعَوَاتٍ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د پنځو کسانو دعاوي

يُسْتَجَابُ لَهُنَّ دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ حَتَّى يَنْتَصِرَ وَدَعْوَةُ الْحَاجِّ حَتَّى يَصْدُرَ وَدَعْوَةُ

دي چي هغه خامخا قبليږي : يو د مظلوم دعاء تر څو چي هغه د (ظالم څخه) بدله واخلي ، دويم د حاجي دعاء تر څو پوري چي کور ته راستون نه سي،

الْمُجَاهِدِ حَتَّى يَقْعُدَ وَدَعْوَةُ الْمَرِيضِ حَتَّى يَبْرَأَ وَدَعْوَةُ الْأَخِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ

دريم د جهاد کونکي دعاء تر څو پوري چي هغه د جهاد څخه فارغ نه سي ، څلورم د ناروغ دعاء تر څو پوري چي هغه روغ نه سي (يا وفات سي) ، پنځم د يو مسلمان د خپل مسلمان ورور لپاره

الْغَيْبِ ثُمَّ قَالَ وَأَسْرَعُ هٰذِهِ الدَّعَوَاتِ إِجَابَةً دَعْوَةُ الْأَخِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير

په غياب کي، بيا يې وفرمايل چي دغه دعاء تر ټولو ژر قبليږي . بيهقي .

**تخريج** : رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

# بَابُ ذِكْرِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ اِلَيْهِ

## د الله ﷻ ذکر او د الله ﷻ د قرب بیان

تقرب الی الله یعني د الله تعالیٰ قرب او نژدېوالی تر لاسه کول، د الله تعالی د ذکر په ذریعه د الله تعلی قرب تر لاسه کول هم مراد کیدای سي او د نوافلو په ذریعه د الله تعالی قرب تر لاسه کېدل هم مراد کېدای سي.

## د الله تعالی د ذکر ډولونه

د الله تعالی ذکر په زړه سره هم کیږي او په ژبه سره هم، او غوره دادی چي په زړه او ژبه دواړو سره د الله تعالی ذکر وسي او که په یوه سره وي نو بیا د زړه ذکر افضل دی، په زړه سره د ذکر کولو هم دوه ډولونه دي یو ډول خو دادی چي د الله تعالی په عظمت، جبروت، ملکوت او د هغه د قدرت په نښانو کي چي په ځمکي او آسمانو کي وي فکر او استغراق وکړي او دا ډول ذکر ته ذکر خفي وایي.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي ذکر خفي اویا (۷۰) درجې افضل دی چي حفظه (اعمال لیکونکي ملائکي) یې هم نه اوري، د قیامت په ورځ کله چي الله تعالی ټول مخلوقات د حساب او کتاب لپاره راجمع کړي نو حافظین به د هغه د ټول یادداشت سره حاضر سي کوم چي هغوئ لیکلي او محفوظ کړی وي د هغه ټول ثبت په لېدو سره به الله تعالی هغوئ ته فرمایي چي وګورئ زما د بندګانو په اعمالو کي بل یو شی پاته سوی دی، هغوئ به ووایي چي ای پروردګاره! د بندګانو د اعمالو په اړه چي څه موږ ته معلوم وه او څه موږ یاد کړي دي موږ هغه ټول په دغه ثبت کي جمع کړي دي په دغه ثبت کي موږ هیڅ داسي یو شی نه دی پرې اېښي چي د هغه څخه موږ خبر یو بیا به الله تعالی بنده ته په مخاطب کولو سره وفرمایي چي زما سره ستا داسي نیکي محفوظ ده چي هغه هیچا ته نه ده معلومه او هغه ذکر خفي دی زه به تا ته د دې نیکۍ اجر درکوم.

په زړه سره د ذکر دوهم ډول دادی چي الله تعالی بندګانو ته کوم احکام ورکړی دی که د هغو تعلق د امر سره وي او که د نهې سره وي نو د هغه د ادا کولو پر وخت الله تعالی یاد کړل سي په زړه سره د ذکر په دغه دواړو ډولو کي اول ډول ذکر غوره او اعلی دی.

ځیني فقهاء وایي چي د ذکر اطلاق یوازي په ژبه سره د الله تعالی پر ذکر باندي کیږي او د

قول مختار مطابق ددې غوره درجه داده چې هغه يوازې په ځان واورول سي يعني د ذکر کونکي آواز کرار وي چې په خپله يې اوري ، ددغه فقهاء په نزد تر دغه درجې کم ذکر معتبر نه دى او دا فقهاء وايي چې د زړه د ذکر حيثيت د علم او تصور د زړه فعل دادى مگر دې ته به ذکر نه وايو ذکر هغه ته وايي چې د هغه تعلق د ژبې سره وي اوس دا نسي ويل کيداى چې ددغه خبرې څخه د فقهاؤ مقصد څه شي دى که چيرې مطلب يې دا وي چې په لغوي توگه د زړه پر فعل باندې د ذکر اطلاق نه کيږي نو دا خبره د هغه شي خلاف ده کوم چې د لغت په کتابو کې موجود ده په صحاح او قاموس کې ليکل سوي دي چې ذکر د نسيان ضد دى او ظاهره ده چې دا خپله د زړه فعل دى ځکه څرنگه چې د هيرې تعلق د زړه سره دى همداسې ددې د ضد يعني ذکر تعلق هم د زړه سره دى ، مگر دا بېله خبره ده چې کوم څه په ژبه سره ادا کيږي هغه ته هم ذکر ويل کيږي .

خلاصه دا چې لفظ د ذکر د زړه او ژبې د فعل په مينځ کې مشترک دى لکه څرنگه چې د زړه فعل ته ذکر وايي همداسې د ژبې فعل ته هم ذکر ويل کيږي او لکه څرنگه چې په ژبه سره ذکر معتبر دى همداسې په زړه سره هم معتبر دى بلکه په زړه سره ذکر کول افضل دى ، د طريقت مشائخ فرمايي چې د ذکر دوه ډولونه دي قلبي او لساني ، او د ذکر قلبي اثر د ذکر لساني تر اثر زيات قوي او افضل دى .

ځيني فقهاء د ذکر قلبي څخه انکار کوي ، کېداى سي چې د هغوئ مراد دا وي چې شريعت په کوم ځاى کې د ژبې د ذکر تعليم ورکړى وي لکه تسبيحات، قرائت، او د لمانځه څخه وروسته اذکار وغيره نو هلته په زړه سره ذکر کول کافي نه دى بلکه په ژبه سره ذکر کول پکار دي ، ددغه فقهاؤ مراد دا نه دى چې د زړه پر ذکر باندې اُخروي ثواب نه مرتب کيږي .

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ　(لومړى فصل)

### د ذکر کوونکو فضيلت

﴿۲۱۵۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هريرة او ابو سعيد (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ

هر کله چې خلک د الله ﷻ د ذکر لپاره کښيني نو ملائکې چاپيره سي او پر هغوئ رحمت خپور

الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ. رواه مسلم

سي سکینه پر نازله سي او الله تعالی هغه مقربو ملائکو ته چي د هغه نژدې دي د دې خلکو ذکر کوي. مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۴\۲۰۷۴، رقم: ۳۹-۲۷۰۰.

**تشریح** سکینه د زړه د سکون او اطمینان نوم دی چي د هغه په وجه د دنیا د خوندونو خواهش او د الله تعالی څخه پرته د بل شي لذت او طلب د زړه څخه وځي او د الله تعالی په ذات کي استغراق او استحضار او هغه ته توجه په برخه کیږي، د سکینې نازلېدل د دغه آیت څخه هم ثابت دي: (الا بذکر الله تطمئن القلوب) خبردار اوسئ! د الله تعالی په ذکر سره زړونو ته اطمینان او سکون تر لاسه کیږي.

﴿۲۱۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ فِي

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې پر لاره روان وو چي

طَرِيقِ مَكَّةَ فَمَرَّ عَلَى جَبَلٍ يُقَالُ لَهُ جُمْدَانُ فَقَالَ سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ سَبَقَ

په لاره کي يوه غونډۍ را غلل چي جمدان نومېده د دې په لېدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: راځئ دا جمدان غونډۍ ده

الْمُفَرِّدُونَ قَالُوا وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا

وَالذَّاكِرَاتُ. رواه مسلم

مفردونو وړاندي والي تر لاسه کړ، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! مفردون کوم خلک دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د الله ﷻ ډېر ذکر کونکي خلک او ښځي. مسلم

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۴\۲۰۶۲، رقم: ۴-۲۶۷۶.

**تشریح** ما المفردون؟ (مفردون څوک دی؟): دلته د صحابه کرامو د حقیقت په باره کي پوښتنه وسوه چي د مفردون صفت څه شي دی؟ رسول الله ﷺ د پورته ذکر سوي جواب په ذریعه د مفردون صفت ته اشاره وکړه چي حقیقي یوازیوالي چي د اعتبار وړ دی هغه د الله تعالی د یاد لپاره د نفس یوازیوالي دی، نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ د مکې څخه په راتلو

كي د خپلو ملګرو سره جمدان غره ته ورسيدی چي د مکې څخه د يوه منزل پر پړاو واقع دی ، نو د صحابه کرامو خپلو کورونو ته د ژر تلو شوق پيدا سو ځيني صحابه کرامو د خپل قافلې د ملګرو څخه په بېلېدو په تيزي سره مخکي سول چي تر نورو مخکي خپل وطن ته ورسيږي، کوم صحابه کرام چي وروسته پاته سوي وه رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمايل کور نژدې سوی دی په تلوار درځئ ځکه چي مفردون (د قافلې څخه بېل سوي) مخکي رسيدلي دي ، دلته صحابه کرامو د مفردون د صفت پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ چي کوم جواب ورکړ د هغه خلاصه دا وه چي ددغه مفردون (يعني مخکي تلونکو کسان) د دوئ په باره کي څه پوښتنه کوئ د هغوئ مطلب خو ظاهر دی چي دغه کسانو کور ته په رسيدو کي تر موږ مخکي سوي دي د هغه کسانو په اړه پوښتنه وکړئ چي په نيکی کي مخکي سي ، نو واورئ ! په نيکيو کي سبقت کونکي هغه خلک دي خپل نفس د الله تعالی د ياد او د هغه د ذکر لپاره يوازي او بېل کړي يعني هغوئ د خلکو څخه په بېلېدو سره د الله تعالی په ذکر او ياد کي بوخت وي .

د الله تعالی ډېر يادولو څخه مراد دادی چي بېله غفلت او کوتاهی د الله تعالی پر ذکر باندي همېشتوب اختيار کړل سي که چيري غفلت او کوتاهي وسي نو هغه په سمدستي ختمولو سره د الله تعالی په ذکر او ياد کي بوخت سي .

ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي د لمانځه وروسته، سهار، مابنام، په بېده کېدو، ناستي او همداسي په نورو وختونو کي د الله تعالی په ډېر ذکر کولو سره درجه تر لاسه کيږي .

## د ذکر کونکو او نه ذکر کونکو مثال

﴿۲۱۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ . متفق عليه

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د الله جل جلاله ذکر کوي او څوک چي د الله ذکر نه کوي هغوئ د مړه او ژوندي په ډول دي . بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١١ \ ٢٠٨، رقم: ٦٤٠٧، مسلم في الصحيح ١ \ ٥٣٩، رقم: ٢١١- ٧٧٩.

**تشريح**: مطلب دادی چي د الله تعالی ذکر د ذاکر د زړه ژوند دی او د دې څخه غفلت د زړه مرګ دی او څرنګه چي ژوندی سړی د خپل ژوند څخه د باندي ورکيږي همدارنګه ذکر کونکي د

خپل عمل څخه دباندي وركيږي او څرنگه چي د مرگ څخه وروسته مړي ته خپل ژوند نه ترلاسه كيږي همداسي د الله تعالى د ذكر څخه غافل د خپل عمل څخه نه برخمن كيږي ، يو چا څومره ښه ويلي دي :

زندگاني نتوان گفت حياتي كه مراست زنده آنست كه بادوست وصالي دارد

## ذكر د الله ﷻ د تقرب باعث دی

﴿۲۱۵۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي :

اللّٰهُ تَعَالَى أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ

زما بنده چي زما په اړه كوم گمان كوي زه د هغه لپاره هم هغسي يم (يعني د هغه د گمان سره سم معامله ورسره كوم) او هر كله چي زما بنده ذكر كوي نو زه د هغه سره موجود يم كه هغه ما په زړه

ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ . متفق عليه .

كي يادوي نو زه يې هم په زړه كي يادوم ، كه په مسجد كي زما ذكر كوي نو زه يې هم ذكر په داسي ډله كي كوم چي د هغه څخه غوره دئ . بخاري او مسلم

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۳\ ۳۸۴، رقم: ۷۴۰۵، ومسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۶۱، رقم: ۲-۲۶۷۵.

**تشريح**: انا عند ظن عبدي (زه د خپل بنده تر گمان نژدې يم) : ددې مطلب دادی چي زما بنده زما په اړه كوم گمان لري زه د هغه لپاره هم هغسي يم او د هغه چا سره هم هغسي معامله كوم كوم چي د هغه زما څخه توقع وي كه هغه زما څخه د عفو او معافی امید لري نو هغه ته معافي كوم او كه هغه زما د عذاب گمان لري نو بيا عذاب وركوم .

ددغه ارشاد په ذريعه ترغيب وركول كيږي چي د الله تعالى د رحمت او د هغه د فضل او كرم اميد د هغه د عذاب پر خوف باندي غالب كېدل پكار دي او د هغه په باره كي ښه گمان درلودل پكار دي چي هغه به ما په خپل بې پايه بخښني او لامحدوده رحمت سره ونازوي .

په يوه روايت كي نقل سوي دي چي الله تعالى به د يو سړي په اړه د دوږخ حكم وكړي كله چي هغه د دوږخ پر غاړه ودرول سي نو هغه به ووايي اې زما ربه ! ستا په اړه زما گمان ښه وو ، الله

تعالی به فرمايي چي د ی بېرته را ولیځ زه د خپل بنده تر ګمان نژدې يم کوم چي هغه زما په اړه لري ، د اميد مطلب او حقيقت دا دی چي عمل وکړل سي او بيا د بخښني اميد ولري بېله عمله يوازي پر اميد باندي تکيه کول يخه او سپنه تړکول دي يعني دا سي اميد هيڅ ګټه نه لري .

کله چي هغه ما يادوي نو زه د هغه سره يم : ددې مطلب دا دی چي کوم څوک زما په ياد کي بوخت وي نو زه هغه د لا زياتو نيکيو او ښېګڼو توفيق ورکوم پر هغه رحمت نازلوم او د هغه مرسته او ساتنه کوم .

**الله ﷻ ته لږ توجه کول ....**

﴿۲۱۵۸﴾: وَ عَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُ

د حضرت ابوذر ﷜ څخه روايت دیځ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی فرمايي :

عَزَّ وَجَلَّ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ اَمْثَالِهَا وَأَزِيْدُ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ

څوک چي يوه نيکي کوي هغه ته د لسو نيکيو ثواب رسيږي بلکه تر دې هم زيات، او څوک چي يوه بدي کوي

فَجَزَاؤُهُ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا اَوْ اَغْفِرُ وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا وَمَنْ

هغه ته د يوې بدۍ سزا او يا معافوم يې ، او څوک چي زما په لور يوه لوېشت راسي (زما په اطاعت کي) نو زه د هغه په لور يو ګز وړاندي کيږم او څوک چي

تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَمَنْ اَتَانِي يَمْشِي اَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً وَمَنْ

زما په لور کرار کرار راځي زه هغه ته منډه ورځم او څوک چي ما ته د مځکي د اندازې برابر ګناه

لَقِيَنِي بِقُرَابِ الْاَرْضِ خَطِيئَةً لَا يُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَقِيتُهُ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً. رواه مسلم .

سره راسي او زما سره يې څوک نه وي شريک کړیځ زه به ورسره د هغو مره بخښني سره يو ځای سم . مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۳۰۶۸/۱۴، رقم: ۲۲- ۲۶۸۷.

**تشریح**: اللہ تعالی څومره مهربان او کریم دی د هغه محبت څومره پراخ دی پر خپلو بندګانو باندې څومره مهربانه دی د هغه د عفو شان څومره بې پایه دی او د هغه فضل څومره بې اندازې دی د هغه لږ اندازه د دغه حدیث څخه معلومیږي، د حدیث حاصل دادی چې بنده الله تعالی ته لږ توجه او رجوع وکړي نو هغه د الله تعالی د دربار څخه د هغه تر توجه زیات التفات او رحمت هغه ته رسیږي.

## د تقرب الهي ثمره

﴿۲۱۵۹﴾: وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی فرمایي:

قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ

څوک چې زما یو دوست ته تکلیف ورکړي زه د هغه سره د جنګ اعلان کوم، یو مؤمن بنده د فرضونو په غوره شکل کې د ادا کولو په ذریعه نژدې کیږي

أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى

او همیشه داسې وي چې هر کله زما بنده ما ته د نفلو په ذریعه نژدېوالی تر لاسه کوي حتی چې زه د هغه سره مینه کوم

احببته فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ فَكُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ

او هر کله چې زه هغه دوست کړم نو زه د هغه سماعت جوړ سم چې په هغه سره اوري او د هغه سترګې جوړې سم چې په هغو سره ويني

وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ وَلَئِنْ

او د هغه لاسونه جوړ سم چې په هغه سره نيول کوي او د هغه پښې جوړې سم چې په هغه سره ګرځي او هر کله چې هغه زما څخه یو شی و غواړي نو زه یې ورکوم، او هر کله چې زما په ذریعه

اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ

پناه و غواړي زه پناه ورکوم، او کوم کار چې زه کوم په هغه کې شک او توقف نه کوي مګر د

هغه مؤمن بنده روح قبض کولو کي ما ته تردد او تامل وي

الْمُؤْمِنِ يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ ولا بد له منه . رواه البخاري

چي مرګ بد ګڼي حال دا چي واقعه داده چي کوم شی هغه بد ګڼي زه هغه نه خوښوم مګر د مرګ څخه په هیڅ حالت کي خلاصون نسته .بخاري

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١١\٣٤٠، رقم: ٦٥٠٢.

**تشريح**: فقد اذنته بالحرب: ددې يو مطلب خو هغه دی کوم چي د ژباړي څخه معلوميږي يعني کوم څوک چي زما ولي ته ضرر رسوي نو ددغه بد حرکت په وجه زه د هغه سره د خپل جګړې اعلان کوم ، يا مطلب دادی چي زه د ځان سره د هغه د جګړې اعلان کوم نو هغه سړي زما ولي ته په ضرر رسولو سره لکه زما سره چي جګړه کوښکی وي، ائمه وايي چي داسي هيڅ ګناه نسته چي د هغه د کونکي په باره کي الله تعالی دا فرمايلي وي چي د هغه سره د جګړې اعلان کوي پرته ددغه ګناه څخه يعني د الله تعالی محبوب بنده او ولي ته د تکليف او ضرر رسولو او سود خوړلو ، او د سود خوړونکي په باره کي د الله تعالی دا ارشاد دی : فاذنوا بحرب من الله ورسوله : که تاسو ددې (سود) څخه نه منع کيږي نو د الله تعالی او د هغه د رسول له خوا د جګړې اعلان واورئ .

معلومه سوه چي دغه دواړه ګناهونه د ډېر نفرت وړ او بد ترين دي او په دغه دواړو کي د دنيا او اخرت د پوره تباهۍ خطره ده او ددې وجه داده چي د بنده سره د الله تعالی جګړه د هغه د بدۍ پر خاتمې دلالت کوي ځکه د چا سره چي الله تعالی جګړه وکړي نو هغه هيڅکله کاميابي او نجات نسي تر لاسه کولای .

څه چي ما پر هغه فرض کړي دي: ددې مطلب دادی چي کوم شيان ما پر هغه واجب کړي دي يعني اوامر او مناهي ددغه شيانو په اختيارولو سره چي بنده د الله تعالی تقرب تر لاسه کوي هغه زما تر ټولو زيات محبوب دی ددغه شيانو په اندازه بل هيڅ داسي شی نسته چي د هغه په اختيارولو سره بنده ددغه درجې تقرب تر لاسه کړي .

زه د هغه سماعت سم : په دې اړه علامه خطابي رحمه الله فرمايي چي ددې مطلب دادی چي زه پر بنده باندي هغه کارونه او اعمال آسانه کوم د کوم تعلق چي د اندامو سره دی او هغه ته د هغه اعمالو او افعالو توفيق ورکوم .

ځيني علماء ددې مطلب دا بيانوي چي الله تعالی د هغه بنده خواص او د هغه اندامونه د

خپل رضا او خوښۍ سبب ګرځوي نو هغه بنده په خپل غوړو يوازي هغه خبري اوري كوم چي د الله تعالى په نزد غوره وي او همدارنګه هغه په خپل سترګو سره يوازي هغه شيان ويني كوم چي الله تعالى يې خوښوي، ځيني حضرات ددې مطلب دا ليكي چي الله تعالى پر هغه بنده باندي خپل محبت غالبوي او د هغه نتيجه داښي چي هغه داسي شيان ويني كوم چي الله تعالى يې خوښوي او هغه شيان اوري كوم چي الله تعالى يې خوښوي او په دې اړه الله تعالى د هغه مرسته كونكى او سازګار سي او د هغه غوږونه، سترګي، لاسونه او پښې د هغه شيانو ځخه ساتني كوم چي هغه يې نه خوښوي .

زه تردد كوم : يعني الله تعالى فرمايي چي زه د خپل مهربانۍ په سبب چي د هغه بنده شامل حال وي د هغه د ژوند په ختمولو كي تردد كوم ځكه چي مرګ د هغه لپاره يو خوښ شى نه وي مګر د مرګ ځخه تېښته نسته او دا فيصله سوى كار دى چي په دغه دنيا كي كوم يو ساه لرونكى راغلى دى پر هغو به مرګ خامخا راځي ځكه هغه ته مرګ وركوم بيا دا چي د هغه مرګ د هغه لپاره د خير سبب كيږي ځكه چي د مرګ ځخه وروسته عظيم الشان سعادتونو او لوړو درجو ته رسيږي مثلا د الله تعالى حضور د جنت نه ختمېدونكي نعمتونه او داسي نور د مرګ ځخه وروسته تر لاسه كيږي .

دلته په دې خبره هم پوه سئ چي د تردد معنى د داسي دوو شيانو په مينځ كي تحير او مخته شاته كېدل دي چي د هغه په باره كي دا يقيني علم نه وي چي په دغه دواړو شيانو كي كوم شى زيات غوره دى ، ځرګنده ده چي د الله تعالى پر ذات باندي د تردد ددغه معنى اطلاق قطعا ناممكن او محال دى نو د الله تعالى ددغه ارشاد مطلب به دا وي چي زه د خپل يو فيصلې په پوره كولو كي داسي ځنډ او توقف نه كوم لكه ځرنګه چي يې يو متردد سړي په يو كار او معامله كي كوي .

د مؤمن بنده د روح قبض كولو معامله داسي ده چي زه په هغه كي لږ توقف كوم چي پر هغه مؤمن بنده باندي مرګ اسان وي د هغه زړه هغه ته مائل سي او هغه خپله د مرګ د راتلو خواهش مند سي ، بيا ددې وروسته هغه د مقربينو په ډله كي په داخلېدو سره په اعلى عليين كي خپل ځاى تر لاسه كړي .

## ملائكي په اهل ذكر پسي ګرځي

﴿۲۱۶۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله د ملائکو يوه ډله ده

يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوا قَوْمًا يَذْكُرُونَ اللَّهَ

چي په لارو کي هغه لټوي کوم چي د الله جَلَّ ذکر کوي هر کله چي هغوئ په يو ځای کي د الله جَلَّ ذکر کوونکي تر لاسه کړي

تَنَادَوْا هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ قَالَ فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا

نو خپلو ملګرو ته آواز وکړي چي خپل مقصد ته راسئ ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه ملائکي راسي او په خپلو وزرو سره د الله جَلَّ ذکر کوونکي پټ کړي او د دنيا تر آسمان پوري

قَالَ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ مِنْهُمْ مَا يَقُولُ عِبَادِي قَالُوا يَقُولُونَ

خپرې سي ، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : هر کله چي هغه ملائکي ستنې سي نو د هغوئ پروردګار د هغوئ څخه پوښتنه کوي حال دا چي هغه په خپلو بندګانو تر دوئ زيات خبردار دئ ، الله ﷻ ملائکو ته وايي چي زما بندګان څه وايي ؟ ملائکي ورته وايي :

يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ وَيَحْمَدُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ قَالَ فَيَقُولُ هَلْ رَأَوْنِي قَالَ

ستا حمد او ستا د بزرګۍ او عظمت ذکر يې کوئ ، بيا الله تعالى د ملائکو څخه پوښتنه کوي ايا زه هغوئ ليدلى يم ؟ ملائکي ورته وايي:

فَيَقُولُونَ لَا وَاللَّهِ مَا رَأَوْكَ قَالَ فَيَقُولُ وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْكَ

قسم په خدای هغوئ ته نه يې ليدلې ، الله تعالى وايي که هغوئ زه ليدلى وای نو د هغوئ به څه حال وای ؟ ملائکي ورته وايي که هغوئ ته ليدلى وای

كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيدًا وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحًا قَالَ يَقُولُ فَمَا

نو ستا ډير زيات عبادت به يې کولای او ستا ډيره زياته بزرګي به يې بيانولای او ستا ډيره پاکي به يې بيانولای ، بيا الله تعالى پوښتنه کوي

يَسْأَلُونِي قَالَ يَسْأَلُونَكَ الْجَنَّةَ قَالَ يَقُولُ وَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَا وَاللَّهِ يَا

هغوئ زما څخه څه غواړي ؟ ملائکي ورته وايي: هغوئ جنت در څخه غواړي، الله تعالی پوښتنه کوي: ايا هغوئ جنت ليدلی دئ ؟ ملائکي ورته وايي : يا، په الله دي مو قسم وي

رَبِّ مَا رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا

هغوئ جنت نه دئ ليدلی ، الله تعالی ورته وايي که هغوئ جنت ليدلی وای ؟ ملائکي ورته وايي که هغوئ ليدلی وای

كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً قَالَ فَمِمَّ يَتَعَوَّذُونَ

نو د جنت غوښتنه، خواهش او شوق به يې نور هم زيات سوی وای ، بيا الله تعالی پوښتنه کوي هغوئ د څه شي څخه پناه غواړي ؟

قَالَ يَقُولُونَ مِنَ النَّارِ قَالَ يَقُولُ فَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ مَا

ملائکي ورته وايي د دوږخ د اور څخه ، الله تعالی پوښتنه کوي ايا هغوئ دوږخ ليدلی دئ ؟ ملائکي وايي : يا، په الله دي مو قسم وي اې پروردګاره

رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا

هغوئ دوږخ نه دی ليدلئ، الله تعالی فرمايي که هغوئ دوږخ ليدلی وای نو څه حال به يې وای ؟ ملائکي به وايي که هغوئ دوږخ ليدلی وای نو د هغه څخه به ډير ليري تښتېدلای

وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً قَالَ فَيَقُولُ فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ قَالَ يَقُولُ

او بيريدای ، الله تعالی فرمايي : زه تاسو شاهدان جوړوم چي ما هغوئ و بخښل ، (د دې په اوريدو سره ) په هغو ملائکو کي يوه ملائکه وايي

مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ فِيهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ قَالَ هُمُ

په هغو خلکو کي خو يو داسي کس هم وو چي په هغوئ کي يې ګډون نه درلودئ د يو کار لپاره راغلئ وو هلته کښينستئ ، الله تعالی فرمايي هغوئ (ذکر کونکي)

الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقَى جَلِيسُهُمْ . و في رواية البخاري قَالَ إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّارَةً

داسي خلک دي چي د هغوئ سره ناست کس هم محروم کيدلای نه سي . بخاري ، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : د الله تعالی د ملائکو يوه ډله ده

فُضُلًا يَبْتَغُوْنَ مَجَالِسَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوا مَجْلِسًا فِيهِ ذِكْرٌ قَعَدُوا مَعَهُمْ

چي زيات گرځي او گښت کوي دا ډله د الله ﷻ د ذکر مجلسونه لټوي هر کله چي دا ملائکي يو داسي مجلس تر لاسه کړي چي په هغه کي د الله ﷻ ذکر کيږي نو هغوئ هم هلته کښيني

وَحَفَّ بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِأَجْنِحَتِهِمْ حَتَّى يَمْلَئُوا مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا

خپل وزرونه پر خپاره کړي په هغه ټوله فضاء کي چي د آسمان او د دې مجلس په منځ کي ده ،

فَإِذَا تَفَرَّقُوا عَرَجُوا وَصَعِدُوا إِلَى السَّمَاءِ قَالَ فَيَسْأَلُهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ

هر کله چي د ذکر الهي کوونکو دا مجلس پای ته ورسيږي نو دا ملائکي آسمان ته خيژي او اووم آسمان ته ورسيږي نو الله تعالی پوښتنه کوي حال دا چي

أَعْلَمُ مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ فَيَقُولُونَ جِئْنَا مِنْ عِنْدِ عِبَادٍ لَكَ فِي الْأَرْضِ يُسَبِّحُونَكَ

الله تعالی تر هغوئ زيات د ذکر کوونکو په حال خبر دئ ، چي تاسو د کوم ځای څخه راغلي ياست ؟ ملائکي وايي موږ ستا د هغه بندگانو څخه راغلو چي په ځمکه کي يې ستا پاکي

وَيُكَبِّرُونَكَ وَيُهَلِّلُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ وَيَسْأَلُونَكَ قَالَ وَمَاذَا يَسْأَلُونِي قَالُوا

او ستا عظمت بيانوئ، ستا کلمه وايي او تا په بزرگي سره يادوي او ستا څخه سوال کوي ، الله تعالی پوښتنه کوي هغوئ زما څخه څه غواړي ؟ ملائکي وايي

يَسْأَلُونَكَ جَنَّتَكَ قَالَ وَهَلْ رَأَوْا جَنَّتِي قَالُوا لَا أَيْ رَبِّ قَالَ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا

هغوئ ستا څخه جنت غواړي ، الله تعالی پوښتنه کوي ايا هغوئ زما جنت ليدلی دئ ؟ ملائکي به وايي : يا ، اې پروردگاره ، الله تعالی به وايي که هغوئ زما جنت ليدلی وای نو څه حال به يې وای ؟

جَنَّتِي قَالُوا وَيَسْتَجِيرُونَكَ قَالَ وَمِمَّ يَسْتَجِيرُونَنِي قَالُوا مِنْ نَارِكَ يَا رَبِّ

ملائکي وايي هغوئ ستا څخه پناه غواړي ، الله تعالی به فرمايي چي هغوئ زما پناه د څه شي

څخه غواړي ؟ ملائکي به وايي ستا د اور څخه ،

قَالَ وَهَلْ رَأَوْا نَارِي قَالُوا لَا قَالَ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا نَارِي قَالُوا وَيَسْتَغْفِرُونَكَ

نو الله تعالی به فرمایي چي ایا هغوئ زما اور لیدلی دی ؟ ملائکي وايي :یا، الله تعالی به و فرمایي که هغوئ زما د دوږخ اور لیدلی وای نو څه حال به يې وای ! ملائکي بیا وايي هغوئ ستا څخه بخښنه غواړي ،

قَالَ فَيَقُولُ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ فَأَعْطَيْتُهُمْ مَا سَأَلُوا وَأَجَرْتُهُمْ مِمَّا اسْتَجَارُوا

الله تعالی به فرمایي هغوئ ما و بخښل او د هغه شی څخه مي پناه هم ورکړه چي د هغه څخه يې پناه غوښتل ،

قَالَ فَيَقُولُونَ رَبِّ فِيهِمْ فُلَانٌ عَبْدٌ خَطَّاءٌ إِنَّمَا مَرَّ فَجَلَسَ مَعَهُمْ قَالَ

ملائکي وايي اې پروردګاره ! په هغوئ کي فلانی بنده هم وو چي ډیر ګناه کار دئ هغه یو ځای تلئ چي په لاره کي د دغه خلکو سره کښینستئ،

فَيَقُولُ وَلَهُ غَفَرْتُ هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ .

الله تعالی به فرمایي : ما هغه هم و بخښئ دا یو داسي ډله ده چي د هغوئ سره کښینستونکی هم محروم کیدلای نه سي .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۰۸، رقم: ۶۴۰۸، ومسلم ۴\۲۰۶۹، رقم: ۲۵- ۲۶۸۹.

**د لغاتو حل**: فُضُلا : جمع فاضل، وهو من فاق اصحابه و اقرانه علما وشرفا.

**تشريح**: څرګنده ده چي د الله تعالی علم د کائناتو پر ذره ذره باندي حاوي دی هغه د یوه یوه فرد د یوې یوې لمحې د حالاتو څخه خبر دی ځکه نو ددې خبري سوال نه پیدا کیږي چي الله تعالی د ذکر کونکو بندګانو په باره کي چي پوښتنه کوي نو هغه د علم تر لاسه کولو لپاره کوي بلکه هغه د پیژندلو سربیره محض الزاما د ملائکو څخه پوښتنه کوي چي پر هغوئ د انسان کمال عبدیت څرګند سي ځکه د حضرت آدم عليه السلام د پیدا کېدو پر وخت دغه ملائکو ویلي وه چي اې پروردګاره ! ته آدم عليه السلام او د هغه اولاده ولي پیدا کوې هغوئ به په دنیا کي د فسق او فساد څخه پرته بل هیڅ نه کوي، ستا تسبیح او تقدیس خو موږ کولا یسو او هغه موږ کوو ځکه نو الله

تعالی د هغه ملائکو څخه په داسي سوال کولو سره پر هغوئ د انسان بزرګي څرګندوي او په داسي کولو سره ملائکو ته ښودل غواړي چي تاسو ولیدل د کوم مخلوق په باره کي چي تاسو غلط ګمان درلودی نو هغه مخلوق اوس زما عبادت او زما یاد او زما په ذکر کي څرنګه بوخت دی چي تاسو خپله د هغه شاهدي ورکوئ.

د بخاري په روایت کي دغه سوال (که هغوئ جنت لیدلی وای نو د هغوئ به څه حال وای) او د ملائکو له خوا دغه جواب (که هغوئ جنت لیدلی وای نو ...الخ) هم منقول دی مګر د مسلم په روایت کي یوازي سوال نقل سوی دی جواب نه دی ذکر سوی ددې وجه داده چي د بخاري په روایت کي دغه جمله یوازي د سوال لپاره ده مګر د مسلم په روایت کي دغه سوالیه جمله د تعجب لپاره ده، د دواړو روایتونو د آخري جملې په ذریعه د امت په خلکو کي د اهل ذکر د ناستي ترغیب ورکړل سوی دی چي د الله تعالی په یاد او د هغه په ذکر کي بوخت کسان د الله تعالی د نیک او صالح بندګانو هم نشیني او ملګرتیا اختیارول د کامیابۍ او سعادت خبره ده، یو عارف څومره ښه خبره کړې ده چي د الله تعالی صحبت (یعني د هغه یاد او د هغه په ذکر کي بوختیا اختیار کړئ که داسي نسئ کولای نو بیا د هغه مقدس بندګانو ملګرتیا او صحبت اختیار کړئ کوم چي د الله تعالی صحبت یې اختیار کړی دی.

## د ذکر څخه غفلت

﴿۲۱۶۱﴾: وَعَنْ حَنْظَلَةَ ابْنِ الرَّبِيْعِ الْأُسَيْدِيِّ قَالَ لَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ كَيْفَ

د حضرت حنظلة بن ربیع اسیدي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي زما سره حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ملاقات وکړ او وه یې فرمایل: اې حنظلة! ستا څه حال دئ؟

أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ قُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ مَا تَقُولُ قُلْتُ نَكُونُ

ما ورته وویل حنظله منافق سو، ابوبکر رضي الله عنه وویل: پاکي ده الله لره دا څه وایې؟ ما ورته وویل

عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ

کله چي موږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یو او هغه موږ ته نصیحت کوي او د دوږخ او جنت یادونه راته کوي نو موږ ته داسي محسوس کېږي لکه دوږخ او جنت چي موږ په خپلو سترګو سره وینو

فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ

خو کله چي موږ د رسول الله ﷺ څخه ولاړ سو او د ښځو،

وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيرًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ فَوَاللَّهِ إِنَّا لَنَلْقَى مِثْلَ هَذَا

اولاد، مځکو او باغو په کارونو بوخت سو نو په دغه خبرو کي موږ ډيري هيري کړو، ابوبکر رضي الله عنه وويل: په الله دي قسم وي زموږ هم دغه حال دئ،

فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو زه او ابوبکر رضي الله عنه دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو

فَقُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا

او ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! حنظلة منافق سو، رسول الله ﷺ وفرمايل :

ذَاكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ

د دې څه سبب دئ؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! کله چي موږ ستا په خدمت کي يو او تاسو موږ ته نصيحت کوئ او زموږ په وړاندي د دوږخ او جنت ذکر کوئ نو موږ داسي محسوس کوو چي لکه جنت او دوږخ چي موږ په خپلو سترګو سره وينو

فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيرًا

مګر کله چي ستاسو څخه ولاړ سو او ښځي، اولاد، مځکو او باغو په جګړو کي بوخت سو نو موږ ډيري خبري هيري کړو،

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنْ لَوْ تَدُومُونَ

(د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما روح دی که تاسو هميشه په هغه حال کي ياست

عَلَى مَا تَكُونُونَ عِنْدِي وَفِي الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ وَفِي

په کوم حال کي چي زما سره په ناسته کي ياست او دالله جل جلاله په ياد کي بوخت ياست نو د الله ملائکو به ستاسو په بسترو

طُرُقِكُمْ وَلَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رواه مسلم

او ستاسو په لارو کي ستاسو سره مصافحه کولای ، مگر حنظله دا يو ساعت وي ، رسول الله ﷺ دا الفاظ درې واره وفرمايل : (يعني يو ساعت د حضور قلب لپاره وي او يو ساعت د دنيا د غفلت او بوختيا وي او دا حالت د منافق والي نه دئ .) .مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲۱۰۶\۴، رقم: ۱۲- ۲۷۵۰.

**د لغاتو حل**: عافسنا : اى خالطنا ولاعبناهم وعالجنا امورهم و اشتغلنا بمصالحهم. (د كورنى سره بوختيا)

**تشريح**: ملائكي به ستاسو سره مصافحه كوي، ددې مفهوم دادی چي په داسي صورت كي به ملائكي په ډاگه يعني د ټولو په مخكي ستاسو سره مصافحه كوي او تاسو به د هغوئ سره مصافحه كوئ ، د علانيه قيد ځكه لګول سوی دی چي ملائكي خو د اهل ذكر سره په خفيه توګه مصافحه كوي كوم چي په دنيا كي نه ليدل كيږي .

په لېدو كي : ددې څخه مراد دادی چي د فراغت په حالت كي او د بوختيا په حالت كي، مطلب دا چي په پورته ذكر سوي صورت كي كه تاسو په يو كار كي بوخت ياست يا فارغ ياست هر وخت به ملائكي ستاسو سره مصافحه كوي .

دا يو ساعت دی او هغه يو ساعت دی: ددې مطلب دادی چي يو وخت داسي وي كله چي پر تاسو باندي د حضور حالت خپور سي تر څو تاسو د خپل پروردګار حقوق ادا كړای سئ او په ذكر كي بوخت اوسئ او يو وخت داسي وي چي پر تاسو باندي د غفلت غلبه وي چي تاسو د خپل نفس او د خپلو متعلقينو حقوق ادا كړای نو د خپل او خپلو متعلقينو د حقوقو د ادا كولو پر وخت د ذكر او حضور څخه غفلت تاواني نه دی چي په دې صورت كي تاسو خپل ځان منافق وګڼئ ځكه د خپل زړه څخه دا بېره و باسئ چي تاسو خدای مه كړه منافق سوي ياست .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د الله ﷻ د ذكر فضيلت او اهميت

《۲۱۶۲》: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو خبر نه كړم

بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ

ستاسو د هغه اعمالو څخه چي ستاسو د پاچا په خیال کي غوره اعمال دي او ډیر پاک اعمال دي
او ستاسو په درجو کي ډیر لوړ اعمال دي او ستاسو لپاره

انفاق الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَخَيْرٍ لَّكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ

تر سرو زرو او سپينو زرو خرڅ کولو څخه غوره دي او ستاسو لپاره تر دې غوره دي چي تاسو
(په جګړه کي) د خپلو دښمنانو سره يو ځای سئ تاسو د هغوئ غاړي وهئ

وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ قَالُوا بَلَى قَالَ ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى . رواه مالك و احمد
والترمذي و ابن ماجة الا ان مالكا وقفه على ابي الدرداء

او هغوئ ستا غاړي وهي؟ صحابه کرامو عرض وکړ : هو، اې د الله رسوله ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه د الله تعالى ذکر دئ . مالک، احمد، ترمذي، ابن ماجة . مگر امام مالک دا موقف ذکر کړي دئ پر ابو درداء باندي .

**تخريج**: الامام مالک في الموطا ١\ ٢١١، رقم: ٢٤، والامام احمد في المسند ٦\ ٤٧٧، والترمذي في السنن ٥\ ٤٢٨، رقم: ٣٣٧٧، وابن ماجه في السنن ٢\ ١٢٤٥، رقم: ٣٧٩٠.

**تشريح**: په ځرګنده خو دا معلوميږي چي دلته د ذکر څخه مراد هغه ذکر دی کوم چي په ژبه او زړه دواړو سره وي او د دغه حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي د الله تعالى ذکر تر صدقې، خيرات، جهاد او نورو ټولو اعمالو افضل دی .

**غوره عمل**

﴿۲۱۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن بسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو صحرائي رسول الله ﷺ ته راغلی

وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ ؟ فَقَالَ طُوبَى لِمَنْ طَالَ عُمْرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ قَالَ

او وي ويل: څوک غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زيری دئ د هغه چا لپاره چي اوږد
عمر يې وي او غوره اعمال يې پکښي وکړل، بيا هغه پوښتنه وکړل :

يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ أَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِّنْ

ذِكْرِ اللهِ. رواه أحمد والترمذي

اې د الله رسوله کوم عمل تر ټولو غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا چې ته د دنیا څخه بیلیږې نو ستا ژبه د الله په ذکر کې لنده وي، احمد او ترمذي.

**تخریج**: الامام احمد في المسند ۴\۱۸۸، والترمذي ۴\۴۸۹، رقم: ۲۳۲۹.

**تشریح** لکه څرنګه چې د ژبې وچېدل د ژبې بندېدو لپاره کنایه ده همدارنګه د ژبې لوندوالی د ژبې د روانېدو لپاره کنایه ده یا دا چې دلته د ژبې د لوندوالي څخه دا مراد دی چې تر مرګ پورې پر ذکر باندې همېشتوب وسې په دې توګه چې د الله تعالی د ذکر په سره وچه پاته سوې نه وي کله چې ساه خېژي.

په حدیث شریف کې د ذکر سوې ذکر څخه ذکر جلي مراد دی او ذکر خفي هم مراد دی، د ژبې په اړه دواړه احتماله دي قلبي ژبه هم مراد کېدای سي او قالبي ژبه هم یعني که په زړه سره ذکر وکړل سي او که په ژبه سره مګر که چېرې په دواړو سره وي نو ډېر ښه دی.

## د ذکر حلقې د جنت باغونه دي

﴿۲۱۶۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا قَالُوا وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ قَالَ حِلَقُ الذِّكْرِ. رواه الترمذي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چې تاسو د جنت په باغو کې تیرېږئ نو میوه خوري کوئ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه د جنت باغونه کوم دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله د ذکر حلقې. ترمذي.

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\۴۹۸، رقم: ۳۵۱۰.

**تشریح** مطلب دا دی چې کله تاسو پر یو داسې مجلس باندې تیرېږئ چېرې چې خلک د الله تعالی په ذکر کې بوخت وي نو تاسو هم په هغه مجلس کې ګډون کوئ او د الله تعالی په ذکر کې بوخت کیږئ، د لته د ذکر حلقو ته د جنت په باغو کې د داخلېدو په سعادت سره نازول کیږي.

امام نووي رحمه الله فرمایي څرنګه چې ذکر کول مستحب دی همدارنګه د ذکر په حلقو کې ناسته هم مستحب ده، ذکر په زړه سره هم کیږي او په ژبه سره هم کیږي مګر غوره دا دی چې په دواړو سره وي لکه څرنګه چې دا خبره مخکې په تفصیل سره بیان سوې ده که چېرې ذکر یوازې په ژبه سره وي نو هم د ثواب څخه خالي نه دی.

نقل سوي دي چي يو سړي خپل شيخ ته وويل چي زه په ژبه سره الله تعالی یادوم مګر زما زړه په غفلت کي وي ، شيخ صاحب ورته وويل چي الله يادوه او شكر ادا كوه چي الله تعالی ستا يو اندام په خپل ياد كي بوخت كړی دی.

**د ذکر څخه خالي وخت ...**

﴿۲۱۶۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي کښېني

مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرُ اللّٰهَ فِيْهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللّٰهِ تِرَةٌ وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا

په يو مجلس كي او هلته يې د الله ﷻ ذکر ونه کړ د الله تعالی د لوري به هلته ناسته پر هغه د افسوس او تاوان وي، څوک چي په خپله بستره کي پريوتئ

لَا يَذْكُرُ اللّٰهَ فِيْهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللّٰهِ تِرَةٌ . رواه ابوداؤد

او د الله ﷻ ذکر يې ونه کړنو پر هغه به د الله ﷻ د لوري افسوس او تاوان وي . ابوداؤد .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۱۸۱، رقم: ۴۸۵۶.

**د لغاتو حل**: تِرَة: اى تبعة ومعاتبة: (افسوس او زيان).

**تشريح**: د دغه حديث شريف مطلب دادی چي په هر وخت او هر حال کي په ناسته، ولاړه ، بېده کېدو ، پورته کېدو ، شپه او ورځ کي د الله تعالی په ذکر کي بوخت کېدل پکار دي ، کوم وخت چي د الله تعالی د ذکر څخه خالي وي هغه به د قيامت په ورځ د پښيماني او افسوس سبب وي، يو چا څومره ښه ويلي دي :

چو اول شب آهنگ خواب آورم — بـه تسبيح نامت شتاب آورم
وگرنيم شب سربرآرم زه خـواب — تـرا خوانم و زيزم از ديده آب
وگربا مرادست راهم به قـسـت — همه روز تا شب پناهم به تست

**په کوم مجلس کي چي د الله ﷻ ذكر نه وي**

﴿۲۱۶۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُوْمُوْنَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ فِيْهِ إِلَّا قَامُوْا عَنْ مِثْلِ جِيْفَةِ حِمَارٍ وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً . رواه

احمد و ابوداؤد.

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي خلك په يو ځاى كي كښيني او ولاړيږي او په هغه ناسته كي د الله ذكر ونه كړي نو د هغه د هغه ځاى څخه ولاړيدل د مردار خره په ډول دئ او پر هغه به حسرت وي. احمد او بوداؤد.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۲\ ۵۱۵، وابوداود في السنن ۵\ ۱۸۰، رقم: ۴۸۵۵.

**تشريح**: د دغه حديث څخه د هغه نامبارك مجلس په باره كي د حسرت او افسوس اظهار كيږي كوم چي د الله تعالى د ذكر څخه خالي وي، د ارشاد مبارك خلاصه داده چي په كوم مجلس كي د الله تعالى ذكر نه وي هغه د مردار خره په ډول دى او كوم خلك چي هلته ناست وي هغوئ لكه چي د مردار خره په خوړلو سره ولاړ سول.

﴿۲۱۶۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا جَلَسَ قَوْمٌ

د ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم خلك چي يو ځاى كښيني

مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللّٰهَ فِيهِ وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ. رواه الترمذي.

او په هغه مجلس كي د الله ﷻ ذكر ونه كړي او نه پر خپل نبي ﷺ درود ووليږي نو هغه مجلس به پر هغوئ د حسرت وي كه الله ﷻ و غواړي نو عذاب به وركړي او كه وغواړي نو وه به يې بخښي. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۳۰، رقم: ۳۳۸۰.

**تشريح**: په عذاب كي اخته كېدل به د هغو د تېرو ګناهونو په سبب وي او د بخښني دار او مدار به يوازي د الله تعالى په فضل او د هغه پر رحمت باندي وي، په دغه حديث كي دې ته اشاره ده كه چيري د مجلس غړي الله تعالى يادوي نو الله تعالى هغوئ په عذاب كي نه اخته كوي بلكه په يقيني توګه سره د هغوئ بخښنه او مغفرت كوي.

## ګټوري خبري

﴿۲۱۶۸﴾: وَعَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ

د حضرت ام حبیبة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هره

كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهُ إِلَّا أَمْرٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ أَوْ ذِكْرُ اللَّهِ.

رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب.

خبره د انسان پر هغه وبال دئ هغه ته ګټه نه ورکوي پرته د هغه خبري څخه چي په هغه کي د نیکۍ کولو لارښوونه وکړي یا د بدۍ څخه منع وکړي یا د الله ﷻ ذکر وکړي. ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ویلي دا حدیث غریب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۱۴\ ۵۲۵، رقم: ۲۴۱۲، وابن ماجه في السنن ۱۲\ ۱۳۱۵. رقم: ۳۹۷۴.

**تشریح**: د دغه حدیث شریف څخه په څرګنده دا معلومیږي چي په انساني خبرو کي هیڅ ډول اباحت نسته مګر علماء کرام وایي چي دغه ارشاد په شرعي توګه د ناخوښه او غیر صحیح خبرو څخه د منع کولو لپاره پر تاکید او مبالغې محمول دی، په دې کي خو هیڅ شک نسته چي مباح کلام د آخرت په اعتبار نافع نه دی او نه ددې څه اثر مرتب کیږي په اخرت کي خو به هغه کلام نافع او ګټور وي کوم چي محض د دیني تقاضا سره سم وي مثلا امر بالمعروف او نهي عن المنکر او د الله تعالی ذکر، یا داسي ویل کیږي چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد د مفهوم په اعتبار داسي دی چي د انسان هر کلام د هغه لپاره د افسوس باعث دی چي په هغه کي د هغه لپاره څه ګټه نه وي پرته د هغه کلام څخه چي د هغه تعلق د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او د الله تعالی د ذکر او داسي نورو شیانو سره وي، په دغه تاویل سره نه یوازي دا چي ټول مذکوره حدیثو کي مطابقت پیدا کیږي بلکه هغه اشکال هم نه پاته کیږي کوم چي د مباح خبرو په اړه پیدا کیدی.

## د ذکر څخه بغیر ډیري خبري دزړه د سختۍ سبب دی

﴿۲۱۶۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُكْثِرُوا

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ډیري خبري مه کوئ

الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللَّهِ الْقَلْبُ الْقَاسِي. رواه الترمذي.

د الله ﷻ د ذکر پرته ځکه چې د الله ﷻ د ذکر څخه پرته ډیري خبري کول زړه سختوي او کوم خلک چې د الله څخه ډیر لیري دي د سخت زړو خلک دي . ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۴\۵۲۵، رقم: ۲۴۱۱.

**تشريح** د خبرو ډیروالي ته د زړه د سختئ سبب ځکه ویل سوي دي چې په عامه توګه ډیري خبري کونکی سړی یوازي خپل خبري کوي او په خلکو یې منل غواړي هغه صحیح او پر حق خبري بالکل نه اوري او نه د خپل خبري څخه پرته د بل چا خبره صحیح ګڼي که څه هم هغه حقیقت ته نژدې هم نه وي د هغه تر ټولو لوی خواهش د خلکو سره بانډار او ارتباط وي د الله تعالی خوف د هغه په نزد هیڅ ارزښت نه لري او د آخرت څخه بې پرواهي د هغه شعار وي .

## غوره سرمایه

﴿۲۱۷۰﴾: وَعَنْ ثُوْبَانَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ { وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ }

د حضرت ثعبان رضي الله عنه څخه روایت دئ چې کله دغه آیت نازل سو (والذین یکنزون....) کوم خلک چې سره او سپین یو ځای کوي،

كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ

نو هغه وخت موږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کي وو ، ځینو صحابه کرامو وویل :

نَزَلَتْ فِي الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لَوْ عَلِمْنَا أَيُّ الْمَالِ خَيْرٌ فَنَتَّخِذَهُ فَقَالَ أَفْضَلُهُ

دا آیت یوازي د سرو او سپینو زرو په اړه نازل سوی دئ کاش چې موږ ته څرګنده سوې وای چې کوم مال غوره دئ . نو موږ به هغه یو ځای کړو، رسول الله ﷺ چې دا واوریدل نو وه یې فرمایل :

لِسَانٌ ذَاكِرٌ وَقَلْبٌ شَاكِرٌ وَزَوْجَةٌ مُؤْمِنَةٌ تُعِينُهُ عَلَى إِيمَانِهِ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة .

غوره مال د الله ﷻ ذکر کونکې ژبه ده او د الله ﷻ شکر کونکی زړه دئ او هغه مؤمنه ښځه ده چې د خاوند د دین او ایمان مرستیاله وي . احمد . ترمذي او ابن ماجه .

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۵\۲۷۸، والترمذي في السنن ۵\۲۵۹، رقم: ۳۰۹۴، وابن ماجه في السنن ۱\۵۹۶، رقم: ۱۸۵۶.

**تشریح** په څرګنده خو دا معلومیږي چي صحابه کرامو د ظاهر مال څخه د یو شي د تعین د خواهش اظهار کړی وو مګر په حقیقت کي د هغوئ مراد دا وو چي تاسو یو داسي شی وښیاست چي د ظاهري مال څخه پرته وي او داسي سرمایه وي چي زموږ په پیښیدونکو اړتیاوو کي ګټور ثابت سي ، رسول الله ﷺ د هغوئ د حقیقي مراد سره سم هغه شیان وښودل کوم چي ګټور دي او د هغو په غوره سرمایه کیدو کي هیڅ شک نسته .

د خپل خاوند د ایمان مرستیاله وي: ددې مطلب دادی چي د خپل خاوند په دیني کارو او فرائضو په ادا کولو کي مرسته کونکې وي مثلاً د لمانځه وخت سي نو هغه ته لمونځ وریادوي ، د روژې وخت راسي نو هغه ته د روژې نیولو په اړه د هغه ضروریات پوره کوي او ددې څخه پرته د نورو عباداتو په وخت کي د هغه سره هر ډول مرسته کوي او د خاوند لپاره داسي حالات پیدا کوي چي هغه په نیکو کارو کي بوخت پاته سي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

### الله ﷻ د ملائکو په مخکي په ذاکرینو فخر کوي

﴿۲۱۷۱﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ مُعَاوِيَةُ عَلَى حَلْقَةٍ فِي الْمَسْجِدِ

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي یوه ورځ حضرت معاویة رضي الله عنه یو مسجد ته ورسیدئ چیري چي حلقه جوړه سوې وه ،

فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ قَالُوا جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللَّهَ قَالَ آللَّهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ

هغه پوښتنه وکړه تاسو دلته څنګه ناست یاست ؟ هغوئ وویل : موږ دلته د الله ﷻ د ذکر لپاره ناست یو ، معاویة رضي الله عنه وویل : ستاسو دي قسم په خدای وي چي تاسو ددې څخه پرته د بل شي

قَالُوا وَاللَّهِ مَا أَجْلَسَنَا غيره قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَمَا كَانَ

لپاره ناست نه یاست ؟ هغوئ وویل : قسم په خدای موږ پرته ددې څخه د بل هیڅ شي لپاره نه یو ناست ، حضرت معاویة وویل : خبردار اوسئ چي ما پر تاسو باندي د تهمت لګولو لپاره قسم نه دئ درکړئ او

أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَلَّ عَنْهُ حَدِيثًا مِنِّي وَإِنَّ

د رسول الله ﷺ څخه د کم حدیث نقل کولو کي زما تر مرتبې کم هیڅوک نسته (یعني زه احتیاط کونکی راوي یم)

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ مَا

یوه ورځ رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو یوې حلقې ته تشریف یووړ او د هغوئ څخه یې پوښتنه وکړه

أَجْلَسَكُمْ ههنا قَالُوا جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللّٰهَ وَنَحْمَدُهُ عَلَى مَا هَدَانَا لِلْإِسْلَامِ وَمَنَّ

تاسو دلته څنګه ناست یاست؟ صحابه کرامو عرض وکړ موږ دلته د الله جل جلاله د ذکر کولو لپاره ناست یو، او موږ د هغه تعریف کوو چي هغه موږ ته د اسلام لار راوښودل او په موږ یې دا

بِهِ عَلَيْنَا قَالَ آللّٰهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ قَالُوا اللّٰهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَاكَ قَالَ أَمَا

احسان وکړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ستاسو دي قسم په خدای وي چي تاسو ددې لپاره ناست یاست؟ صحابه کرامو عرض وکړ هو، قسم په خدای موږ یوازي ددغه لپاره ناست یو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: خبردار اوسئ

إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَلَكِنَّهُ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ. رواه مسلم

ما پر تاسو د تهمت لګولو لپاره تاسو ته قسم نه دئ درکړئ بلکه ما ته جبرائیل علیه السلام راغلئ او ما ته یې وویل چي الله تعالی په خپلو ملائکو کي پر تاسو فخر کوي. مسلم

**تخریج**: صحیح مسلم ۴\۲۰۷۵، رقم: ۴۰-۲۷۰۱.

**تشریح**: رسول الله ﷺ د تاکید او ټینګار په توګه په قسم سره پوښتنه وکړه، نه په دې وجه چي خدای مه کړه رسول الله ﷺ هغوئ په خپلو خبرو کي دروغجن ګڼل، د حدیث د آخري جملې مطلب دادی چي کله د الله تعالی نېک بندګان په خلکو کي په حلقه جوړولو سره کېنیني او د الله تعالی ذکر او د هغه په یاد کي په ډلییز توګه بوخت وي نو الله تعالی خپلو ملائکو ته فرمایي چي زما دغه بندګانو ته وګورئ! ما پر دوئ د دوئ نفس، د دوئ خواهشات او شیطانان څرنګه مسلط کړي دي مګر ددې سربېره دوئ زما په عبادت او ذکر کي بوخت دي نو د دوئ د عبودیت

تقاضا داده چي د دوئ تعريف ستاسو څخه زيات وسي په دې وجه چي تاسو ته زما په عبادت كي مشقت او تكليف نه وي ليكن د دوئ عبادت ستاسو د عبادت په نسبت داسي دی چي په هغه كي محنت، تكليف او مشقت دی.

## د الله ﷻ ذكر كول

﴿۲۱۷۲﴾: وَ عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ بُسْرٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ شَرَائِعَ

د حضرت عبد الله ابن بسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت كي عرض وكړ اې د الله رسوله ! د اسلام احكام (يعني نفلونه)

الْإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ فَأَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ قَالَ لَا يَزَالُ لِسَانُكَ

پر ما ډير غالب سوي دي ما ته يو داسي شی راوښيه چي زه پر و مو ښلم، (يعني زما لپاره بس وي) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا ژبه دي هميشه

رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللهِ . رواه الترمذي و ابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د الله ﷻ په ذكر لنده وي. ترمذي، ابن ماجه، او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۴۲۷، رقم: ۳۳۷۵، وابن ماجه ۲\۱۲۴۶، رقم: ۳۷۹۳.

## د ذكر كوونكي فضيلت

﴿۲۱۷۳﴾: وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي

الْعِبَادِ أَفْضَلُ وَ أَرْفَعُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا

د قيامت په ورځ به د الله ﷻ په نزد كوم بنده افضل او د لوړي درجې خاوند وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ ډير يادوونكي خلك

وَالذَّاكِرَاتُ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمِنَ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ قَالَ لَوْ ضَرَبَ

او ښځي، بيا پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! ايا د الله ﷻ ذكر كوونكى د الله ﷻ په لار كي تر

بِسَيْفِهِ فِي الْكُفَّارِ وَالْمُشْرِكِينَ حَتَّى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا فان الذَّاكِرُونَ

جهاد كوونكي هم غوره دي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كه هغه (مجاهد) خپله توره پر كافراو او مشركانو وچلوي تر څو چي د هغه توره ماته سي او هغه خپله په وينو رنګ سي (يعني شهيد سي) بيا هم د الله ﷻ ذكر كوونكى

اللهَ أَفْضَلَ مِنْهُ دَرَجَةً . رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث غريب .

تر هغه په مرتبه كي غوره دئ . احمد، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**تخريج** : الامام احمد في مسنده ۳\۷۵، والترمذي ۵\۴۲۸، رقم: ۳۳۷۶.

**تشريح** : مطلب دادى چي په جهاد كي زخمي كېدونكي خو ښېل دى كه چيري جهاد دې حد ته ورسيږي چي مجاهد په خپلو وينو كي رنګ سي بيا هم د الله تعالى ذكر كونكي به غوره وي.

## د الله ﷻ په ذكر سره د شيطان څخه حفاظت

﴿۲۱۷۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَلشَّيْطَانُ جَاثِمٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ فَإِذَا ذَكَرَ اللهَ خَنَسَ وَإِذَا غَفَلَ وَسْوَسَ . . رواه البخاري تعليقا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان د انسان په زړو كي ګونډې لګوي هر كله چي انسان د الله ذكر په زړه سره كوي نو شيطان ځيني شا ته سي او هر كله چي د الله د ذكر څخه غافل سي نو وسوسې په زړه كي وراچوي . بخاري.

**تخريج** : لم نجده.

## د ذكر مثال او د هغه فضيلت

﴿۲۱۷۵﴾ : وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

د حضرت مالك رحمه الله څخه روايت دئ چي ما ته دا څرګنده سوې ده چي رسول الله ﷺ

يَقُولُ ذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ كَالْمُقَاتِلِ خَلْفَ الْفَارِّيْنَ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ

فرمايلي دي : په غافلو خلكو كي د الله ﷻ ذكر كونكى د هغه كس په ډول دئ چي د

تنبتېدونکو د ښمنانو سره جنګیږي او په غافلو خلکو کي د الله ﷻ ذکر کونکی

كَغُصْنٍ أَخْضَرَ فِيْ شَجَرٍ يَابِسٍ، وَفِيْ رِوَايَةٍ: مَثَلُ الشَّجَرَةِ الْخَضْرَاءِ فِيْ وَسَطِ

د شنه ښاخ په ډول دئ چي په وچه درخته کي وي. او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هغه د هغه شنې درختي په ډول دئ چي د درختو په منځ کي وي

الشَّجَرِ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ مِثْلُ مِصْبَاحٍ فِيْ بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَذَاكِرُ اللهِ فِي

او په غافلو انسانانو کي د الله ﷻ ذکر کونکی په تاريکو کورو کي د څراغ په ډول دئ، او د الله ﷻ ذکر کوونکی په

الْغَافِلِيْنَ يُرِيْهِ اللهُ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ حَيٌّ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ يُغْفَرُ

غافلانو کي داسي دئ چي الله هغه ته په ژوند کي جنت د هغه ځايه ورښيي، او په غافلو انسانانو کي د الله ﷻ ذکر کونکي ته به د هغه د ګناهو په شمير

لَهُ بِعَدَدِ كُلِّ فَصِيْحٍ وَأَعْجَمَ وَالْفَصِيْحُ بَنُوْ آدَمَ وَالْأَعْجَمَ الْبَهَائِمُ. رواه رزين

د هر فصيح او عجمي بخښنه کيږي، د فصيح څخه مراد انسانان دي او د عجم څخه مراد حيوانان دي. رزين.

**تخريج**: رواه رزين.

**د الله ﷻ ذکر تر ټولو زيات خلاصون ورکونکی عمل دی**

﴿۲۱۷۶﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ مَا عَمِلَ الْعَبْدُ عَمَلاً أَنْجٰى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ. رواه مالك والترمذي وابن ماجه

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روايت دئ چي بنده کوم عمل کوي په هغو کي د الله ﷻ د ذکر څخه پرته بل هيڅ عمل د الله ﷻ د عذاب څخه نجات ورکونکی نسته. مالک، ترمذي او ابن ماجه

**تخريج**: مالک في الموطا ۱\۲۱۱، رقم: ۲۴، والترمذي ۵\۴۲۸، رقم: ۳۳۷۷، وابن ماجه ۲\۱۲۴۵، رقم: ۳۷۹۰.

**تشريح**: مطلب دا دی چي د ذکر په مثل هيڅ عمل نسته چي د قيامت په ورځ د الله تعالی د

عذاب څخه زيات د خلاصون ورکولو سبب وي، خلاصه دا چي د الله تعالى ذکر په ټولو اعمالو کي غوره دی.

## د ذکر کوونکي سعادت

﴿۲۱۷۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ اَنَا مَعَ عَبْدِيْ إِذَا ذَكَرَنِيْ وَتَحَرَّكَتْ بِيْ شَفَتَاهُ. رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: زه د خپل بنده سره يم تر څو پوري چي هغه ما يادوي او د هغه دواړي شونډي زما په ذکر سره ښوري. بخاري

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري) معلقا ۱۳\۴۹۹،

## د الله جل جلاله ذکر د زړه د صفائي باعث دی

﴿۲۱۷۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ كَانَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل:

يَقُوْلُ لِكُلِّ شَيْءٍ صَقَالَةٌ وَصَقَالَةُ الْقُلُوْبِ ذِكْرُ اللّٰهِ وَمَا مِنْ شَيْءٍ اَنْجٰى مِنْ

د هر شي پاکي سته او د زړه پاکي د الله جل جلاله ذکر دئ، او هيڅ شی د الله جل جلاله د عذاب څخه

عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ قَالُوْا وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ؟ قَالَ وَلَا اَنْ يَّضْرِبَ

ساتونکی د الله جل جلاله د ذکر څخه پرته نسته، صحابه کرامو عرض وکړ ايا د الله جل جلاله په لاره کي جهاد هم نه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا هم نه دی

بِسَيْفِهِ حَتّٰى يَنْقَطِعَ. رواه البيهقي في الدعوات الكبير

که څه هم د جهاد کوونکي توره په جګړه کي ماته سي. بيهقي

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

**د لغاتو حل**: صَقالة: اى تجلية و تخلية و تزكية. (ځلا او پاکي).

# بَابُ اَسْمَاءِ اللهِ تَعَالٰی

## (د الله جل جلاله د مبارکو نومانو بیان)

په دې خبره پوه سئ چې د الله تعالی نوم توقیفي یعني پر سماع او د شارع پر اذن موقوف دی، ددې مطلب دادی چې کوم نوم د شریعت څخه منقول دی هغه ویل پکار دی خپل د عقل څخه نوم اخیستل پکار نه دی که څه هم هغه نوم د معنی په اعتبار د شریعت د نقل سوي نامه سره سم وي مثلاً الله تعالی عالم ویل پکار دي مگر عاقل دي نه ویل کیږي، جواد ویل پکار دي مگر سخي نه سي ویل کېدای ، همدارنگه شافي ویل پکار دي مگر طبیب نسي ویل کېدای ، بنده ته پکار دي چې هغه د الله تعالی صفات په خپل ځان کي د پیدا کولو تر خپله توانه هڅه وکړي ، په راتلونکو مخونو کي د الله تعالی د نومو د وضاحت او د نورو عباداتو په تشریح کي د الله تعالی د صفاتو د تر لاسه کولو چې کوم تلقین سوی دی په هغه په پوره توگه عمل کول پکار دي چې د هغه صفاتو د تر لاسه کولو وروسته خپل ذات د انوار الهیه عکس او خپل ژوند د اسلامي اخلاقو د تعلیم پیرو جوړ کړي. اللهم وفقنا و یسرلنا حصولها.

د یوه بزرگ په اړه نقل سوي دي چې هغه ته به یو شوک د بیعت لپاره راتلی نو مخکي به یې هغه ته حکم کوی چې اودس وکه او بیا راسه کله چې به هغه اودس وکړی او را به غلی نو د هغه مخکي به یې د الله تعالی مبارک نومونه په پوره عظمت او جلال سره په لوړ آواز ویل بیا به یې په هغه سړي کي چې د کوم مبارک نوم تاثیر ولیدی نو د هغه تعلیم به یې ورکوی په دې امید چې هغه ته د مقصد تر لاسه کېدل اسان او ژر وسي.

## اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

### د الله جل جلاله نومونه یادول

(۲۱۷۹): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِلّٰهِ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د الله تعالی

تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ اسْمًا مِائَةً اِلَّا وَاحِدًا مَنْ اَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ . و في رواية و

هو وتر يحب الوتر . متفق عليه .

نهه نيوي نومونه يعني يو كم سل نومونه دي څوک چي يې ياد کړي هغه به په جنت كي داخليږئ او په يوه روايت كي دا هم دي چي الله تعالى طاق دئ او طاق خوښوي . بخاري او مسلم

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۷۷، رقم: ۷۳۹۲، ومسلم ۱۴\۲۰۶۳، رقم: ٦- ۲٦۷۷.

**د لغاتو حل**: احصاها : اى من آمن بها او عدها كلمة على طريق الترتيل تبركا .

**تشريح**: په دغه حديث شريف كي ويل سوي دي چي د الله تعالى نهه نيوي ۹۹ نومونه دي، ددې څخه شمېر او تحديد مراد نه دى چي د الله تعالى بس هم دومره نومونه دي ځکه د الله تعالى ډېر نومونه دي په راتلونكو مخونو كي د نهه نيوي نومونو وروسته يو څو نور نومونه هم ذكر كيږي ، مگر دلته د نهه نيوي ۹۹ شمېر ذكر كولو څخه مراد او مقصد دادى چي په حديث شريف كي د الله تعالى كوم خاصيت بيان سوى دى چي څوک دا په ياد کړي هغه به په جنت كي داخليږي نو هغه ددغه نهه نيوي نومونو سره خاص دى .

د احصاها لفظ په باره كي د علماؤ اختلاف دى ، بخاري او داسي نورو ددې معنى هغه ليكلې ده كوم چي د ژباړې څخه څرگندېږي يعني دغه نومونه يې ياد کړل او دا قول زيات صحيح دى په ځينو روايتو كي د احصاها پر ځاى حفظها هم منقول دى ، ځيني علماء وايي چي ددې معنى داده چي هغه وواياست او ايمان پر راوړئ يا د هغه په معنى ځان پوه کړئ او د هغه په معنى عمل وكړئ .

هو وتر يحب الوتر : ددې مطلب دادى چي الله تعالى طاق اعمال او اذكار خوښوي او مراد ددې څخه دا دى چي الله تعالى په ټولو اعمالو كي هغه عَمل خوښوي د كوم چي بنياد پر اخلاص باندي وي او محض د الله تعالى لپاره سوى وي .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د الله تعالى (۹۹) نومونه او د هغو تفصيل

﴿۲۱۸۰﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِلّٰهِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى

تَعَالٰى تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ اسْمًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا

نهه نيوي نومونه دي څوک چي دا په ياد کړي هغه به جنت ته داخليږي (او هغه نومونه دا دي):
هغه الله دئ د هغه څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته

هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ

هغه ډير مهربان دئ، هغه ډير رحم کونکی دئ، حقيقي پاچا دئ ډير پاک دئ بې عيبه او د سلامتې خاوند دئ امن ورکولو والا دئ ساتونکی او نګهبان دئ غالب او بې مثل دئ

الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ الْغَفَّارُ الْقَهَّارُ الْوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الْفَتَّاحُ

د ورانو کارو سمونکی دئ تکبر کوونکی دئ پيدا کونکی دئ، پيدا کونکی دئ صورت جوړونکی دئ ډير بخښونکی، زبردست د غلبې خاوند دئ، پرته د معاوضې ډير څه ورکونکی دئ، رزق پيدا کولو او رسولو والا دئ، خلاصونکی او حکم ورکونکی دئ

الْعَلِيمُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الْخَافِضُ الرَّافِعُ الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ

د ظاهر او باطن علم لرونکی روزي او د بندګانو زړه تنګونکی دئ روح قبض کونکی دئ د بندګانو زړه او رزق پراخوونکی دئ د کافرانو پست کونکی دئ د مؤمنانو لوړونکی دئ يا خپل درګاه ته نژدې کونکی، عزت ورکونکی، ذلت ورکونکی، ليدونکي،

الْحَكَمُ الْعَدْلُ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ الْحَلِيمُ الْعَظِيمُ الْغَفُورُ الشَّكُورُ الْعَلِيُّ

حکم کونکي داسي چي څوک د هغه حکم نه سي رد کولای، انصاف کونکی، باريک ليدونکی پر خپلو بندګانو لطف او مهرباني کونکی، د زړه خبري پيژندونکی، بردبار، بنديانو ته عذاب ورکولو کي تلوار نه کونکی، بزرګ او برتر چي په ذات او صفات کي يې هيڅوک سيال نسته، ډير بخښونکی په ډيره اندازه شناس لږ عمل باندي ډير ثواب ورکونکی، ډير د لوړې مرتبې والا،

الْكَبِيرُ الْحَفِيظُ الْمُقِيتُ الْحَسِيبُ الْجَلِيلُ الْكَرِيمُ الرَّقِيبُ الْمُجِيبُ الْوَاسِعُ

داسي لوی چي هيڅوک تر هغه لوی نسته، عالم د آفتو څخه ساتونکی، بدنو او روحو ته توان ورکونکی، حساب اخيستونکی او کفايت کونکی، لوړې مرتبې والا، ډير سخي، ډير ورکونکی د هر شي ساتونکي او د بندګانو حال پيژندونکي، وسيع العلم او وسعت ورکونکی،

الْحَكِيمُ الْوَدُودُ الْمَجِيدُ الْبَاعِثُ الشَّهِيدُ الْحَقُّ الْوَكِيلُ الْقَوِيُّ الْمَتِينُ الْوَلِيُّ

د کارو سمونکی ، د پوه او فرمانبردارو سره دوستي کونکي ، په ذات او افعالو کي شريف او بزرگ د مرگ څخه وروسته ژوندی کونکی ، مړي د قبرو څخه پورته کونکی ، د غافلانو زړونه د غفلت څخه بيداره کونکی ، حاضر او ظاهر پر غائب باندي خبر لرونکی ، د پاچاهۍ او خدايي وړ ، د خلکو کارونه سمونکی د لوی زور او توان خاوند ، ټول کارونه سمونکی د مؤمنانو دوست او مرستيال ،

الْحَمِيدُ الْمُحْصِي الْمُبْدِئُ الْمُعِيدُ الْمُحْيِي الْمُمِيتُ الْحَيُّ الْقَيُّومُ الْوَاجِدُ

په خپل ذات او صفاتو کي تعريف کونکی يا تعريف کړل سوی ، د هر شي په علم سره احاطه کونکی ، په لومړی وار پيدا کونکی ، دويم وار پيدا کونکی ، ژوندی کونکی ، زړونه د ايمان په نور سره ژوندي کونکي ، د بدنو او زړو وژونکی ، هميشه ژوندی ، خپله قائم او مخلوقات قائمونکي ، غني چي هيڅ شي ته اړ نه وي ،

الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ الْأَوَّلُ الْآخِرُ

بزرگ او برتر ، په خپل ذات ، صفاتو او افعالو کي بې مثله او بې مثاله ، په ذات او صفاتو کي يوازي ، بې پرواه ، بې نيازه ، د لوی قدرت خاوند ، قدرت ښکاره کوونکی ، دوستان په خپل بارگاه کي عزت ته وړاندي کونکي ، د ښمنان د خپلي مهرباني څخه ليري کونکي ، تر هر چا لومړی ، د ټولو موجوداتو وروسته ،

الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ الْوَالِيَ الْمُتَعَالِي الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ الْعَفُوُّ الرَّءُوفُ مَالِكُ

ښکاره او ښکاره ، هغه ذات چي د خپل وجود د ښکاره نښو څخه ښکاره وي ، هغه ذات چي د وهم او خيال څخه مخفي دئ ، لوی کارساز ، لوړ مرتبه ، نيکی کونکی ، توبه قبلونکی ، بدله اخيستونکی ، گناهونه او غلطۍ معافونکی ، ډير مهربان ، د ټولي دنيا د نظم خاوند ،

الْمُلْكِ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِي الْمَانِعُ الضَّارُّ

د بزرگۍ او بخښني خاوند ، عدل او انصاف کونکی ، د قيامت په ورځ ټول مخلوق يو ځای کونکی ، د هر شي څخه بې پرواه ، بې پروا کونکی ، بندگان د هلاکت او تاوان څخه

خلاصونكی، نافرمانو ته تاوان رسونكی،

النَّافِعُ النُّورُ الْهَادِي الْبَدِيعُ الْبَاقِي الْوَارِثُ الرَّشِيدُ الصَّبُورُ . رواه الترمذي والبيهقي في الدعوات الكبير وقال الترمذي هذا حديث غريب .

ډير ګټه رسونكی، آسمان په ستورو سره ځلانده كونكی او مځكي په انبياؤ ، صالحانو او عالمانو سره ځلانده كونكی، لاربښوونكی او هدايت كونكی، پرته د مثال څخه د عالم پيداكونكی، هميشه باقي پاته كېدونكی، هميشه اوسيدونكی، په موجوداتو كي د فنا وروسته باقي پاته كېدونكی، لاربښوونكی، د دنيا راهنما، بردبار چي په عذاب وركولو كي تلوار نه كوي، ډير صبرناك . ترمذي، بيهقي، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۵۳۰، رقم: ۳۵۰۷، البيهقي في الدعوات.

**تشريح**: هو الله الذي لا اله الا هو : دا جمله مستانفه (يعني يوه عليحده جمله ده) او د هغه نهه نيوي ۹۹ نومو بيان دی كوم چي مخكي تېر سوي دي .

د دغه كلمې څو مرتبې دي لومړی دا چي منافق دا كلمه ووايي او د هغه زړه د تصديق څخه خالي وي يعني هغه د زړه د تصديق او باور پرته د خپل ځان مسلمان ښكاره كولو لپاره دا كلمه يوازي په ژبه سره ادا كوي نو دا كلمه د هغه د دنيا لپاره خو نافع ګرځي په دې توګه چي د دې په وجه د هغه ځان، مال او كورنۍ خوندي سي مګر د آخرت په اعتبار دا كلمه هغه ته هيڅ ګټه نه رسوي .

دوهم دا چي دغه كلمه په ژبه سره د ويلو سره د زړه اعتقاد هم وي مګر د تقليد محض په توګه د دغه درجې په صحيح كېدو كي مختلف قولونه دي او صحيح قول دادی چي دا درجه صحيح ده، دريم دا چي د دغه كلمې په ويلو سره اعتقاد قلبي هم وي مګر داسي اعتقاد چي د الله تعالی د قدرت د نښانو په لېدو سره حاصل سوی وي د اكثرو علماؤ په نزد دغه درجه هم معتبره ده .

څلورم دا چي په ژبه سره د دغه كلمې د ادا كولو اعتقاد جازم هم وي يعني د دليل قطعي له مخي حاصل سوی وي او په اتفاق سره دغه درجه مقبوله ده، پنځم دا چي د دغه كلمې ادا كونكی داسي وي چي هغه د زړه په سترګو سره د دغه كلمې معنی پيژني يعني هغه ته په پوره توګه عرفان حق حاصل وي او دغه لوړه درجه ده، دا تفصيل خو په هغه صورت كي دی كله چي دغه كلمه په ژبه سره ادا كړل سي ، دوهم شكل دادی چي دغه كلمه په زړه سره ووايي يعني په

ژبه سره يې ادا نه کړي نو په دې صورت کې دا تفصيل دی که د يو عذر مثلاً د ګونګتوب وغيره په وجه دغه کلمه په ژبه سره نسي ادا کولای نو دغه کلمه د دنيا او آخرت دواړو په اعتبار خلاصون ورکونکې ده او که د عذر څخه پرته يې په ژبه سره ادا نه کړي نو بيا په آخرت کې ددې هيڅ فائده نسته ، امام نووي رحمة الله عليه پر دې خبره د اهل سنت اجماع نقل کړې ده .

===========

**الله** جل جلاله : د الله تعالى اسم ذات دی، ددې معنى ده هغه ذات چې د عبادت وړ دی، اکثر علماء وايي چې د الله تعالى په نومو کې دغه نوم تر ټولو لوی د او ويل سوي دي چې عوامو ته پکار ده چې هغوئ دغه نوم پر خپل ژبه جاري کړي او د خشيت او تعظيم په توګه په دغه نامه سره ذکر کوي او خواصو ته پکار ده چې هغوئ ددغه نامه په معنى کې غور او فکر کوي او په دې پوه سي چې ددغه نوم اطلاق يوازي پر هغه ذات کيږي کوم چې دصفات الوهيت جامع دی او خواص الخواص ته پکار ده چې هغوئ په خپل زړه په الله کي مستغرق ولري او ددغه ذات څخه پرته بل هيچا ته التفات ونه کړي او يوازي د هغه څخه و بيريږي ځکه چې هغه حق او ثابت دی د هغه څخه پرته هر شی فاني او باطل دی لکه چې په بخاري کې نقل سوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : د شاعرانو په کلام کې تر ټولو صحيح کلام د لبيد شاعر دی :

الا کل شئ ما خلا الله باطل : ياد لرئ چې د الله تعالى څخه پرته هر شي باطل دی .

**خاصيت** : کوم څوک چې د الله تعالى اسم ذات (الله) زر واره وايي نو هغه به صاحب د يقين سي او کوم څوک چې د هر لمانځه وروسته سل واره وايي نو د هغه باطن به پراخ سي او هغه به صاحب کشف سي .

**الرحمن** جل جلاله: بخښونکی، **الرحيم** جل جلاله: مهربان: ددغه دواړو نومو څخه د بنده نصيب دادی يعني د الله تعالى د صفاتو خپلولو په اړه ددغه نومو تقاضا داده چې د الله تعالى مبارک ذات ته پوره توجه وي پر هغه ذات باندي توکل او باور وکړل سي خپل باطن د هغه په ذکر کي بوخت وساتل سي د غير الله څخه بې پرواهي وکړل سي د الله تعالى پر بندګانو باندي رحم وکړل سي د مظلوم مرسته وکړل سي او ظالم په ښه طريقه سره د ظلم څخه منع کړل سي د الله تعالى عبادت او د هغه د ذکر څخه غفلت کونکي خبردار کړل سي ګناه کار ته د رحمت نظر وسي نه دا چې هغه ته د سپکاوی په نظر وکتل سي د خپل توان سره سم د شرعي امورو په خپرېدو کي هڅه وکړل سي او د خپل توان سره سم د اړو او محتاجو کسانو اړتياوي پوره کولو هڅه وکړل سي.

**خاصيت** : کوم څوک چې د هر لمانځه وروسته سل واره الرحمن الرحيم وايي نو الله تعالى به د

هغه د زړه ځخه غفلت، هيره او سختي ليري کړي او ټول مخلوق به پر هغه مهربان او مشفق وي.
**الملک** جلّ جلاله: حقيقي پاچا، يعني هغه د مځکي او آسمان او د ټول عالم حقيقي پاچا دی، دواړه جهانه د هغه په تصرف او واک کي دي هغه د ټولو ځخه بې نيازه دی او ټول د هغه محتاج دي.
کوم بنده چي د الله تعالی دغه حيثيت او صفت و پيژني نو اوس پر هغه لازم دي چي د هغه د دربار بنده او غلام سي او د هغه فرمانبرداري په ذريعه د هغه د دربار ځخه عزت وغواړي او پر بنده باندي لازم دي چي د هغه په قدرت او تصرف سره تعلق پيدا کړي د هغه ځخه پرته د هر چا ځخه بې نيازي اختيار کړي نه چا ته خپل ضرورت او اړتيا بيان کړي او نه د چا ځخه و بيريږي او نه د چا ځخه اميد ولري خپل زړه او خپل نفس د دنيا حاکم سي او خپل اندامونه او قوت په واک کي لرلو سره د هغه د اطاعت او عبادت او د شريعت په فرمانبرداری کي ځان ولګوي چي په صحيح معنی د خپل وجود د دنيا حاکم سي.
**خاصيت** : کوم ځوک چي دغه نوم د القدوس سره (يعني الملک القدوس) په پابندي سره وايي نو که چيري هغه د پاچاهۍ خاوند وي نو د هغه پاچاهي به الله تعالی قائم او دائم ولري او ځوک چي د پاچاهۍ خاوند نه وي نو د دغه په برکت به د هغه خپل نفس مطيع او فرمانبردار سي او کوم ځوک چي دغه د عزت لپاره وايي نو د هغه مقصد به تر سره سي او په دې باره کي دغه عمل ډېر مجرب دی.
شاه عبد الرحمن رحمة الله عليه د دې خاصيت ليکلی دی چي کوم ځوک دغه نوم هره ورځ نيوي واره وايي نو نه يوازي دا چي ځلانده به سي بلکه حاکمان او پاچاهان به ورته مسخر سي او د عزت او احترام د زياتوب لپاره دا مجرب دی.
**القدوس** جلّ جلاله : ډېر پاک : ويل سوي دي چي کوم ځوک په دې پوه سي چي الله تعالی ډېر پاک دی نو اوس هغه ته پکار دي چي د دې ارزو وکړي چي الله تعالی به هغه په هر حالت کي د عيوب او آفاتو ځخه د ليري کولو او د ګناهونو د نجاست ځخه پاک ساتي.
**خاصيت** : کوم ځوک چي دغه مبارک نوم هره ورځ د لمر دزوال پر وخت وايي نو د هغه زړه به پاک سي او ځوک چي د جمعې د لمانځه وروسته دغه نوم د السبوح (يعني القدوس السبوح) د ډوډۍ پر ټوټه وليکي او وه يې خوري نو د ملائکي صفت به يې سي او د بيري پر وخت د دښمنانو ځخه د ساتني پر وخت چي دغه نوم ځو مره ويل کيږي وه دي يې وايي او مسافر دي هم دغه نوم وايي او هيځکله دي نه عاجزه کيږي او که چيري دغه نوم درې سوه او نولس ۳۱۹ واره پر يو خواږه شي وويل سي او په دښمن وخوړل سي نو هغه به پر مهربان سي.

**السلام** جل جلاله: بې عیبه او سلامت، ددغه نوم څخه د بنده نصیب دادی چي هغه خپل ځان د هر خراب کار او هري بداخلاقی څخه وژغوري ، قشیري رحمه الله وایي چي ددغه نوم څخه د بنده نصیب دادی چي هغه په قلب سلیم سره خپل مولا ته رجوع وکړي ، ځیني حضرات دا وایي چي مسلمان د هغه د ژبي او د هغه د لاس څخه خوندي او سلامت وي بلکه هغه د مسلمانانو سره د ډېر زیات شفقت معامله کوي کله چي هغه یو داسي مسلمان ووینی چي د هغه څخه په عمر کي زیات وي نو دا وایي چي دی تر ما غوره دی ځکه چي ده زما په نسبت زیات عبادت او اطاعت کړی دی او په ایمان او معرفت کي تر ما مخته والی لري او که یو داسي مسلمان ووینی چي په عمر کي تر هغه کوچنی وي نو دا دي وایي چي دی تر ما غوره دی ځکه چي ده زما په نسبت کم گناهونه کړي دي او که چیري د یو مسلمان ورور څخه یو کوتاهي وسي او هغه بخښنه وغواړي نو د هغه معذرت قبلولو سره د هغه کوتاهي دي معاف کړل سي .

**خاصیت** : که یو څوک دغه مبارک نوم پر یو ناروغ سړي باندي سل واره ووایي نو انشاء الله تعالی هغه ته به روغتیا او شفاء تر لاسه سي او که یو څوک دغه مبارک نوم ډېر وایي نو د ییري څخه به بې خوفه سي .

**المؤمن** جل جلاله : امن ورکونکی، ددغه نوم څخه د بنده نصیب دادی چي هغه د الله تعالی د مخلوق څخه یوازي د خپل شر او خپل بدی نه بلکه د نورو د بدیو او شر څخه هم په امن کي وساتي .

**خاصیت** : کوم څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وایي یا یې ولیکي او د ځان سره یې وساتي نو الله تعالی به هغه د شیطان د شر څخه په امن کړي او هر څوک به د هغه مرسته کونکی وي او د هغه ظاهر او باطن به د الله تعالی په امان کي وي او کوم څوک چي دغه نوم ډېر وایي نو د الله تعالی مخلوق به د هغه فرمانبرداره وي .

**المهیمن** جل جلاله : د هر شي په بنه ډول ساتونکی، ددغه نوم څخه د بنده نصیب دادی چي د خرابو عادتونو ، خرابو عقیدو او خرابو شیانو مثلا حسد، کینه او داسي نورو څخه د خپل زړه ساتنه وکړي خپل اعمال صحیح کړي او خپل قوت او خپل اندامونه په هغه شیانو کي د بوختیا څخه وساتي کوم چي زړه د الله تعالی څخه په غفلت کي اچوي .

**خاصیت** : کوم څوک چي د غسل کولو څخه وروسته دغه مبارک نوم یو سل او پنځلس ۱۱۵ واره ووایي نو هغه به د غیب او باطن په خبرو خبردار سي او کوم څوک چي دغه نوم ډېر وایي نو هغه به د ټولو آفاتو څخه پناه تر لاسه کړي او د جنتیانو په ډله کي به شامل سي .

**عزیز** جل جلاله : غالب او بې مثله چي هیڅوک پر هغه غالب نه وي، ددغه مبارک نامه څخه د بنده

نصیب دادی چي خپل نفس، خپل خواهشات او شیطان باندي غالب وي په علم او عمل کي بې مثله سي او د الله تعالی د مخلوق په وړاندي لاس ونه غزوي او د غیر الله په مخکي د سوال لاس اوږد ولو سره خپل ځان ذلیل نه کړي.
ابو العباس مریسي رحمة الله علیه وايي چي قسم په خدای ما خو عزت د الله تعالی د مخلوق څخه په لوړ همتی اختیارولو (یعني د چا په مخکي مي لاس نه غزولو) کي لیدلی دی.
ځیني علماء وايي چي الله تعالی هغه ځوک ا غالب او بې مثله وګڼي چا چي د هغه احکام او د هغه شریعت او د هغه په فرمانبرداری کي ځان بې مثله جوړ کړئ او چا چي په دغه شیانو کي بې پرواهي وکړه نو هغه د الله تعالی عزت ونه پیژندی. د الله تعالی ارشاد دی:
و لله العزة ولرسوله وللمؤمنين ولكن المنافقين لايعلمون، او عزت خو الله، د هغه رسول او مؤمنانو لره دی مګر منافقان په دې نه پوهیږي.
**خاصیت**: کوم ځوک چي دغه مبارک نوم د سهار د لمانځه وروسته یو څلوېښت ۴۱ واره وايي نو هغه به په دنیا او آخرت کي د چا اړ نه سي او د خواری وروسته به عزیز سي ددې څخه پرته د دغه مبارک نامه عجیب او غریب خاصیتونه مذکور دي.
**الجبار** جل جلاله: د وران کارو سمونکی، او ځیني علماء وايي چي ددې معنی داده چي بندګان هغه شي ته راوستونکی کوم چي د هغه اراده کوي، ددغه نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د فضائل او کمال تر لاسه کولو سره د خپل نفس خرابي سمه کړي او پر تقوا او پرهیزګاری باندي په همېشتوب کولو سره پر خپل نفس غالب وي او په همداسي د کمال درجې ته ورسیږي.
قشیري رحمة الله علیه وايي چي په ځینو کتابو کي دا نقل سوي دي چي الله تعالی فرمايي د هغه شي په باره کي ستا خواهش څه وي او زما مشیت بل څه وي هغه چي زه یې اراده وکړم که ته په هغه راضي سې د کوم چي زه اراده کوم (یعني د هغه شي په باره کي یو فیصله وسي) ته هغه بېله چون او چرا ومنې او په هغه راضي سې نو ته چي کومه اراده کوې زه به په هغه کي ستا کفایت کوم (یعني د هغه بنه بدله به درکوم) او که ته په هغه راضي نه سې نو بیا هغه به کیږي چي زه یې اراده وکړم او ته به محروم پاته سې.
**خاصیت**: ځوک چي د مسبحات عشر څخه وروسته دغه نوم یو ویشت ۲۱ واره وايي نو هغه به د ظالمانو د شر څخه په امان کي وي او کوم ځوک چي دغه نوم همېشه وايي نو هغه به د غیبت او د مخلوق د بدویلو څخه بې بیري او په امان وي او د اهل دولت او پاچاهی څخه به وي او که یو ځوک دغه نوم پر ګوتمې باندي په لیکلو سره په ګوته کړي نو د خلکو په زړونو کي به د هغه

هيبت او شوكت وي .

**المتكبر** جل جلاله : ډېر بزرگ، ددغه نامه څخه د بنده نصيب دادی چي کله هغه ته د الله تعالی بزرگي معلومه سي نو اوس هغه ته پکار ده چي هغه نفساني خواهشاتو ته ميلان او شهواني خوندو ته د رغبت څخه تکبر يعني پرهيز وکړي ځکه دغه شيانو ته رغبت کول د حيوانانو کار دی که چيري هغه ته رغبت کوي نو د حيوانانو سره به شريک سي بلکه د هر هغه شي څخه تکبر کول پکار دي کوم چي باطن د حق څخه منع کوي او الله تعالی ته د رسيدو څخه پرته هر شي سپک ګڼل او د تواضع او تذلل طريقه اختيارول پکار دي او د خپل ذات څخه د تکبر ټولي دعوې زائلول پکار دي چي نفس پاک سي او په هغه کي د الله محبت ځای کړل سي او همداسي به د نفس اختيار باقي پاته سي او نه د غير الله سره قرار .

**خاصيت** : کوم څوک چي د خپل ښځي سره د مباشرت (کوروالي) پر وخت د دخول څخه مخکي دغه مبارک نوم لس واره وايي نو انشاء الله تعالی پرهيزګار زوی به ورکړل سي او کوم څوک چي د هر کار په پيل کي دغه مبارک نوم ډېر وايي نو انشاء الله تعالی خپل مراد ته به ورسيږي .

**الخالق** جل جلاله : د مشيت او حکمت موافق د پيدا کونکي شي اندازه کونکی .

**خاصيت** : کوم څوک چي دغه مبارک نوم ډېر ډېر وايي نو الله تعالی به د هغه لپاره يوه ملائکه پيدا کړي چي د هغه لپاره به تر قيامت پوري عبادت کوي او الله تعالی به ددغه مبارک نامه په برکت د هغه زړه او مخ روښانه او منور کړي .

شاه عبد الرحمن رحمة الله عليه ليکلي دي چي کوم څوک د شپې دغه نوم ډېر وايي نو د هغه زړه او مخ به ځلانده او منور وي او پر ټولو کارو به حاوي وي .

**الباري** جل جلاله : پيدا کونکی .

**خاصيت** : څوک چي دغه مبارک نوم په اونۍ کي سل واره وايي نو الله تعالی به هغه په قبر کي نه پريږدي بلکه رياض قدس ته به يې واستوي او کوم حکيم يا علاج کونکی چي دغه نوم په دوام سره وايي نو هغه چي کوم علاج کوي هغه به کامياب وي .

**المصور** جل جلاله : صورت جوړونکی، د پورتنيو درو نومونو څخه د بنده نصيب دادی چي کله هغه شی ويني او کله هم د يو شي تصور وکړي نو د الله تعالی په قدرتونو او عجائبو کي غور او فکر وکړي کوم چي په هغه شي کي موجود دی .

**خاصيت** : کومه ښځه چي وچه وي او د اولاد څخه محرومه وي نو هغې ته پکار دي چي اووه ورځي روژې ونيسي او هره ورځ د روژې ماتولو پر وخت يوويشت ۲۱ واره دغه نوم پر اوبو

باندي په ویلو سره دم کړي او هغه اوبه وڅښي انشاء الله تعالی نیک اولاد به یې په برخه سي، کوم څوک چي د یو سخت او مشکل کار په وخت کي دغه نوم ډېر وایي نو هغه کار به انشاء الله تعالی پر اسانه سي.

**الغفار** ﷻ: د بندګانو ګناهونه بخښونکی او د هغوئ عیبونه پټونکی، ددغه نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه دا خبره په ښه ډول په ذهن کي کښېنوي چي ګناهونه د الله تعالی څخه پرته بل هیڅوک نه سي بخښلای او هغه ته پکار دي چي هغه د خلکو عیبونه پټ کړي که د چا څخه قصور او کوتاهي وسي نو هغه ورته معاف کړي او پر ځان همېشه په خاصه توګه د سهار په وخت کي استغفار لازم کړي.

**خاصیت**: کوم څوک چي د جمعې د لمانځه وروسته سل واره دغه کلمات وایي (یا غفار اغفرلي ذنوبي) اې بخښونکې! زما ګناهونه و بخښې، نو الله تعالی به یې د هغو خلکو څخه وګرځوي کوم چي بخښل سوي دي.

**القهار** ﷻ: د هغه د قدرت په وړاندي ټول عاجز او مغلوب دي، ددغه نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه پر خپل لوی دښمنانو باندي په غالب کېدو سره هغوئ عاجز او مغلوب کړي او د هغه لوی دښمنان نفس او شیطان دی.

**خاصیت**: څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وایي نو الله تعالی به د هغه د زړه څخه د دنیا محبت لیري کړي او د هغه خاتمه به په خیر کړي او الله تعالی به د هغه په زړه کي د نیکو اعمالو شوق او محبت پیدا کړي او کوم څوک چي دغه مبارک نوم د خپل یو کار لپاره سل واره وایي نو د هغه کار به اسان سي او څوک چي یې همېشه وایي نو د هغه د زړه څخه به د دنیا محبت ووځي او که یو څوک یې د سنت او فرضو لمونځو په مینځ کي سل واره د مقهوري په نیت وایي نو لوی تر لوی دښمن په یې مقهور او مغلوب سي.

**الوهاب** ﷻ: بېله بدلې ډېر ورکونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د الله تعالی په لار کي بېله غرضه او بېله کوم عوض خپل سر او مال مصرف کړي.

**خاصیت**: کوم څوک چي د فقر او تنګدستی تکلیف او مصیبت زغمي نو هغه ته پکار دي چي دغه مبارک نوم همېشه وایي نو الله تعالی به د هغوئ څخه داسي خلاصون ورکړي چي حیران به سي او څوک چي دغه مبارک نوم د ځان سره لیکلی ساتي نو همداسي اثر به یې تر لاسه کړي او څوک چي د څاښت د لمانځه وروسته د سجدې یو آیت ووایي او بیا په سجده کي د سر په ایښودو سره اووه واره دغه مبارک نوم ووایي نو هغه به د مخلوق څخه بې نیازه او بې پروا سي

او که خپل یو حاجت پوره کول غواړي نو په نیمه شپه کي دي د خپل سرای یا مسجد په غولي کي درې واره سجده وکړي بیا دي لاس پورته کړي او د غه مبارک نوم دي سل واره ووایي نو انشاء الله تعالی حاجت به یې خامخا پوره سي.

شاه عبدالغفور رحمة الله عليه فرمایي چي د رزق د پراختیا لپاره د څاښت په وخت کي دي څلور رکعته لمونځ وکړي او د لمانځه څخه د فارغه کېدو وروسته دي سجدې ته ولاړ سي او یو سل څلور واره دي یا وهاب ووایي که چیري دومره وخت ورسره نه وي نو بیا پنځوس واره دي یې ووایي انشاء الله تعالی په رزق کي به یې پراختیا په برخه سي.

**الرزاق** جل جلاله: رزق پیدا کونکی او مخلوق ته رزق رسونکی، رزق هغه شي ته وایي چي د هغه څخه گټه پورته کړل سي او بیا د رزق دوه ډولونه دي ۱: ظاهري، ۲: باطني، باطني رزق هغه دی چي نفس او زړه ته فائده ځیني رسیږي لکه علوم، معارف او داسي نور، او ظاهري رزق هغه دی چي د هغه څخه بدن ته گټه رسیږي مثلاً د خوراک او څښاک شیان او اسباب یعني جامې وغیره، دد غه نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه پر دې خبره پوره یقین او اعتماد ولري چي د الله تعالی څخه پرته بل هیڅ ذات د رزق ورکولو وړ نه دی او هغه دي د رزق توقع یوازي د الله تعالی څخه لري او خپل ټول امور دي هغه ته سپاري او په خپل لاس او ژبه سره دي خلکو ته بدني او روحاني رزق رسوي یعني څوک چي محتاج او اړ وي پر هغوئ دي خپل مال مصرفوي او څوک چي بې علمه او گمراه وي نو هغوئ ته علم ورکړي لاربښوونه دي ورته وکړي او د هر مسلمان لپاره دي د خیر دعاوي کوي او داسي نور.

د یو عارف څخه پوښتنه وسوه چي ستا د خوراک او څښاک بند وبست څرنگه کیږي؟ هغه جواب ورکړ چي کله ما ته د خپل خالق عرفان حاصل سوی دی ما هیڅکله هم د خپل رزق فکر نه دی کړی، همداسي د یو عارف څخه پوښتنه وسوه چي قوت (غذا) څه شي دی؟ هغه وویل: حي الذي لا یموت، هغه پاک ذات یعني الله داسي ژوندئ دی چي د هغه لپاره مرک نسته یعني د هغه ذکر.

**خاصیت**: څوک چي د صبح صادق راختلو څخه وروسته او د سهار د لمانځه مخکي د خپل کور په څلورو خواوو کي دغه مبارک نوم لس لس واره وایي په داسي توگه چي د راسته خوا څخه ویل پیل کړي او مخ د قبلې څخه ونه گرځوي نو د هغه په کور کي به ناروغي او مفلسي پاته نه سي.

**الفتاح** جل جلاله: حکم کونکی، او ځینو ویلي دي چي د رزق او رحمت دروازې خلاصونکی، دد غه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د خلکو په مینځ کي د صلح او انصاف لپاره د فیصلې

کولو هڅه او سعي کوي او د مظلومانو مرسته کوي او د خلکو دنیوي او اُخروي اړتیاوي پوره کولو اراده ولري.

قشیري رحمه الله فرمایي چې کوم څوک په دې پوه سي چې الله تعالی د رزق او د رحمت د دروازو خلاصونکی، اسباب تیارونکی او د ټولو شیانو سمونکی دی نو اوس هغه ته د الله تعالی څخه پرته د بل چا سره خپل زړه نه لګول پکار دي.

**خاصیت**: څوک چې د سهار د لمانځه وروسته پر خپل سینه دوا ړه لاسونه کښېږدي او اویا واره دغه مبارک نوم وایي نو د هغه د زړه څخه خیري وځي او د زړه د باطن ډېر صفائي به یې په برخه سي.

**العلیم** جل جلاله: په ظاهر او باطن پوه، یو چا څومره ښه ویلي دي چې کوم څوک په دې پوه سي چې الله تعالی زما په حال ښه خبر دی نو اوس هغه ته پکار ده چې کله هغه الله تعالی په یو مصیبت کي اخته کړي نو پر هغه صبر وکړي او که هغه ته یو څه ورکړي نو پر هغه شکر ادا کړي او د هغه څخه د خپلو خطاوو د بخښني او معافی غوښتونکی وي.

په ځینو کتابو کي منقول دي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته فرمایي که تاسو په دې پوهیږئ چې زه تاسو هر وخت وینم نو بیا تاسو ولي ما په لیدونکو کي تر ټولو حقیر ګڼئ یعني د نورو څخه تاسو ییریږئ او شرم کوئ چې ستاسو خرابي او جرم ونه ویني مګر د یو خرابی او جرم پر وخت زما څخه نه ییریږئ او نه شرم کوئ په داسي حال کي چې ستاسو پر یوه یوه حرکت زما نظر وي، ددې مطلب دادی چې (نعوذبالله) زما په مقابله کي تاسو دنیاوالو ته ډېر اهمیت ورکوئ.

**خاصیت**: څوک چې دغه مبارک نوم ډېر وایي نو الله تعالی هغه ته خپل معرفت ډېر ورکوي او کوم څوک چې د لمانځه وروسته یا علیم الغیب سل واره وایي نو هغه صاحب کشف جوړیږي او که څوک غواړي چې هغه ته د یو پټ شي علم وسي نو هغه ته پکار دي چې د ماخستن د لمانځه وروسته په مسجد کي سل واره دغه نوم ووایي بیا بیده سي انشاء الله تعالی د هغه شي حقیقت به ورته ښکاره سي.

**القابض** جل جلاله: د بندګانو روزي یا زړه تنګونکی او د هغوئ روح قبض کونکی.

**خاصیت**: که یو څوک دغه مبارک نوم تر څلوېښت ورځو پوري هره ورځ د ډوډۍ یا بل شي پر څلورو ګولو ولیکي او وه یې خوري نو انشاء الله تعالی هغه به د لوږي او د قبر د عذاب څخه په امان کي وي.

**الباسط** جل جلاله: د بندګانو په روزي کي پراختیا کونکی یا د هغو زړه پراخونکی، ددغه دواړو نومو (القابض الباسط) څخه د بنده نصیب دادی چې هغه نه د یو مصیبت او تکلیف په وخت

كي نا اميده سي او نه د هغه د بخښني او ورکړي پر وخت بې فکري اختيار کړي او تنګي د هغه د عدل نتيجه وګڼي او پر هغه دي صبر وکړي او پراخي او وسعت دي د هغه د فضل ثمره وګڼي او پر هغه دي شکر کونکی سي .

قشيري رحمه الله وايي چي دغه دواړه کيفيته (يعني د زړه تنګوالی او پراخي) د عارفانو پر زړه جاري کيږي کله چي د الله تعالی بيره پر غالبه سي نو د هغوئ زړه تنګ سي او کله چي د رحمت اميد پر جاري سي نو د هغوئ زړه پراخ سي .

د حضرت جنيد بغدادي رحمه الله په اړه منقول دي چي هغه وفرمايل خوف زما زړه تنګوي ، اميد زما زړه پراخوي ، حق ما جمع کوي او مخلوق ما منتشر کوي او د بنده د شان تقاضا داده چي د تنګۍ او پريشانۍ په حالت کي د ناکرارۍ څخه پرهيز وکړي او د وسعت او پراخۍ پر وخت د بې ځايه خوشحالۍ او بې ادبۍ څخه پرهيز وکړي چي د دغه شيانو څخه لوی لوی خلک بيريږي

**خاصيت** : کوم څوک چي سهار وختي د لاس په پورته کولو سره دغه مبارک نوم لس واره وايي او بيا خپل لاسونه پر مخ را تېر کړي نو هغه ته به هيڅکله دا ضرورت نه محسوس کيږي چي هغه چا ته د خپل يو حاجت پوره کولو لپاره خواست وکړي .

**الخافض** جل جلاله : د کافران خوار او ذليل کولو سره يا هغوئ د خپل دربار څخه په ليري کولو سره کښته کونکی .

**خاصيت** : څوک چي درې روژې ونيسي او په څلورمه ورځ په يو ځای کي دغه مبارک نوم اوويا واره ووايي نو پر د ښمنانو به بريا ليتوب تر لاسه کړي .

**الرافع** جل جلاله : د مؤمنانو مرسته کونکی يا هغوئ ته د خپل دربار په قرب ورکولو سره لوړونکی، د دغه دواړو نومو (الخافض او الرافع) څخه د بنده نصيب دادی چي هغه دي پر خپل هيڅ حالت باندي هم اعتماد نه کوي او نه دي پر خپل علومو او اعمالو باندي پر يو شي باور کوي او هغه شي دی کښته او مغلوب کړي کوم چي الله تعالی د هغه د کښته کولو حکم کړی دی مثلاً نفس او خواهشات او هغه شي دي لوړ کړي کوم چي الله تعالی د هغه د لوړولو حکم کړی دی لکه زړه او روح، نقل سوي دي چي يو سړی خلکو په هواء کي په الوتلو وليدی نو د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي ته دغه مرتبې ته څرنګه ورسيدی ؟ هغه وويل: ما خپل هوا يعني خواهشات کښته وغورځول نو الله تعالی د فضاء هواء ما ته مسخره کړه .

**خاصيت** : کوم څوک چي دغه مبارک نوم د يخ په موسم کي د شپې په وخت کي يا په غرمه کي دوه سوه واره ووايي نو الله تعالی به هغه په مخلوق کي بزرګ او بې نيازه کړي .

**المعز** ﷻ : عزت ورکونکی .

**خاصيت** : کوم څوک چي دغه نوم مبارک د دوشنبې په شپه يا د جمعې په شپه يوسل او څلوېښت ۱۴۰ واره ووايي نو د مخلوق په نظر کي به د هغه هيبت او شوکت پيدا سي او هغه به د الله تعالی څخه پرته د بل چا په خوف کي اخته نه سي .

**المذل** ﷻ : ذلت ورکونکی. ددغه دواړو مبارکو نومو (المعز او المذل) څخه د بنده نصيب دادی چي هغه به هغه خلک عزيز ګڼي کوم چي الله تعالی د علم او معرفت په وجه عزيز کړي دي او هغه خلک به ذليل او خوار ګڼي کوم چي الله تعالی د کفر او ضلالت په سبب ذليل او خوار ګرځولي دي .

**خاصيت** : که يو څوک د يو ظالم او حاسد څخه بيريږي نو هغه ته پکار دي چي دغه مبارک نوم پنځه اويا ۷۵ واره ووايي او د هغه وروسته دي سجده وکړي او د الله تعالی په دربار کي دي داسي ووايي چي اې الله ! د فلاني ظالم يا حاسد د شر څخه ما ته امان راکړې نو الله تعالی به هغه ته امان ورکړي .

**السميع** ﷻ : اوريدونکی، **البصير** ﷻ : ليدونکی، په دغه مبارکو نومو کي د بنده نصيب دادی چي هغه د شريعت خلاف ويلو، اورېدلو، لېدلو او کولو څخه پرهيز وکړي او الله تعالی پر خپلو وينا وو او کړنو باندي حاضر او ناظر وګڼي .

امام غزالي رحمه الله فرمايي چا چي د غير الله څخه هغه شی پټ کړ کوم چي يې د الله تعالی څخه نه پټوي نو هغه لکه د الله تعالی نظر چي حقير وګڼی او کوم څوک چي په دې پوهېدو سره يو ګناه وکړي چي الله تعالی هغه ويني نو هغه لوی جرات وکړ ، او چا چي په دې ګمان سره يو ګناه وکړه چي الله تعالی هغه نه ويني نو هغه لوی کفر وکړ او ډېر لوی کفر يې وکړی، ځکه د تعليق بالمحال په توګه ويل کيږي که ته د خپل خدای يو جرم کوې نو په داسي ځای کي يې وکړه چيري چي هغه تا نه ويني ، مطلب دادی چي داسي هيڅ يو ځای نسته چي د الله تعالی د نظر څخه پټ وي او کله چي داسي ځای نسته چيري چي خدای تا نه ويني نو بيا ګناه مه کوه .

**خاصيت** : کوم څوک چي د غه مبارک نوم (السميع ﷻ) د پنجشنبې په ورځ د څاښت د لمانځه وروسته پنځه سوه واره ووايي او د يو قول مطابق هره ورځ د څاښت د لمانځه وروسته سل واره ووايي او د ويلو په مينځ کي هيڅ خبري ونه کړي او د هغه وروسته چي کومه دعاء وغواړي هغه به قبوله سي او که يو څوک د سهار د سنت او فرض لمانځه په مينځ کي دغه نوم (البصير ﷻ) په پوره او صحيح عقيده سره سل واره ووايي نو انشاء الله تعالی هغه به د الله تعالی د مهربانی

سره خاص سي.

**الحكم** ﷻ : حكم كوونكى چي د هغه حكم هيڅوک نه سي رد كولاى، ددغه نامه څخه د بنده نصيب دادى چي كله هغه په دې پوه سي چي الله تعالى داسي حاكم دى چي د هغه حكم او فيصله هيڅوک منع كولاى نه سي نو اوس هغه ته پكار ده چي د هغه هر حكم ومني او د هغه د مشيت او قضا تابعدار سي كوم څوک چي د هغه په مشيت او قضا راضي نه سي نو الله تعالى به پر هغه خپل مشيت او خپله فيصله په زور جاري كړي او كوم څوک چي په رضا او د زړه په خوشحالى سره هغه ومني نو الله تعالى به يې په خپل رحمت او كرم سره ونازوي او د خوشحالى او اطمينان ژوند به تېروي او هغه به د غير الله په مخكي خپل فرياد چا ته نه كوي.

**خاصيت** : څوک چي دغه مبارک نوم د جمعې په شپه او د يو قول مطابق په نيمه شپه يا غرمه كي دومره زيات ووايي چي بې هوښه سي نو الله تعالى به د هغه باطن د پټو رازو خزانه وګرځوي.

**العدل** ﷻ : انصاف كوونكى، په دې باندي د پوهېدو وروسته چي الله تعالى انصاف كوونكى دى بنده ته پكار دي چي د هغه د احكامو او فيصلو سره په ځان كي خوف او تنګي پيدا نه كړي بلكه دا يقين ولري چي هغه زما په اړه څه فيصله كړې ده هغه عين انصاف دى نو پر هغه باندي د توكل او باور په ذريعه دي راحت او اطمينان پيدا كړي او څه چي الله تعالى هغه ته وركړي دي هغه دي پر ځان باندي د مصرف كولو څخه نه منع كوي چيري چي مصرف كول د شريعت او عقل له مخي مناسب وي او د هغه د عدل څخه دي وبيرېږي او د هغه د فضل او كرم دي اميدوار وي او په ټولو كارو كي دي د افراط او تفريط څخه پرهيز وكړي او ميانه روي دي اختيار كړي.

**خاصيت** : څوک چي دغه مبارک نوم د ډوډۍ پر شلو ټوټو باندي وليكي او وه يې خوري نو الله تعالى به ټول مخلوق د هغه لپاره مسخر كړي.

**اللطيف** ﷻ : پر خپلو بندګانو باندي نرمي كوونكى او باريک بين چي د هغه لپاره نژدې او ليري يو ډول دي، ددغه نامه څخه د بنده نصيب دادى چي هغه د دين او دنيا په امورو كي غور او فكر وكړي او په نرمۍ سره خلک د حق لاري ته را وبلي.

**خاصيت** : كوم چا ته چي د معيشت اسباب تيار نه وي او په فقر او مفلسۍ كي اخته وي يا په غربت كي وي يا ناروغ وي او څوک يې علاج نه كوي يا د هغه لور وي چي څوک يې په نكاح نه غواړي نو هغه ته پكار دي چي اول په ښه ډول اودس وكړي بيا دوه ركعته نفل وكړي او د غه مبارک نوم د خپل مقصد په نيت سره سل واره ووايي انشاء الله تعالى د هغه مشكل به الله

تعالی اسان کړي ، همدارنګه د انجونو د نصیب خلاصولو لپاره د ناروغیو څخه د روغتیا تر لاسه کولو لپاره او د اسبابو د تر لاسه کولو لپاره دغه مبارک نوم سل واره ویلو باندي همېشتوب اختیارول پکار دي، ددغه نامه په اړه د پیرانو عمل دادی چي د هر دیني او دنیوي کار لپاره په یو خالي ځای کي ددغه نوم د دعاء د شرائطو سره شپاړلس زره درې سوه یو څلوېښت (۱۶۳۴۱) واره ویل کیږي انشاء الله تعالی مراد به یې تر لاسه سي.

**الخبير** ﷻ : د زړه د خبرو او د ټولو شیانو خبر لرونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي کله هغه په دې پوه سي چي الله تعالی زما د زړه رازونو خبر دی نو اوس هغه ته پکار ده چي هغه هم په یاد ولري او د هغه د یاد په مخکي نور یادونه هیر کړي ، د ضلالت د لارو څخه پرهیز وکړي پر خپل ذات باندي ریارکای پریږدي د باطن په اصلاح کي دي بوخت سي او غفلت دي نه کوي او ددین او دنیا د غوره او ښو خبرو خبر لرونکی دي وي.

**خاصيت** : کوم څوک چي د نفس اماره په جال کي راګېر وي نو هغه دي دغه مبارک نوم ډېر وايي انشاء الله تعالی خلاصون به تر لاسه کړي.

**الحليم** ﷻ: بردبار چي مؤمن ته په عذاب ورکولو کي تلوار نه کوي بلکه هغه ته مهلت ورکوي چي په توبه کولو سره خلاصون تر لاسه کړي، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د بدو خلکو پر تکلیف رسولو باندي صبر وکړي، تر خپل ځان لاندي کسانو ته په سزا ورکولو کي تامل وکړي او د غصب او غصې څخه لیري اوسي او د حلم هغه مرتبې ته د رسیدو هڅه وکړي که چیري یو څوک د هغه سره بد وکړي نو هغه دي ورسره نیکي کوي.

**خاصيت** : که یو څوک دغه مبارک نوم پر کاغذ باندي ولیکي او پریولي او هغه او به په کښت یا درختي کي واچوي نو د تاوان څخه به خوندي سي او په هغه کي به برکت راسي او د هغه څخه به پوره ثمره تر لاسه سي.

**العظيم** ﷻ : په ذات او صفاتو کي د شعور د حد څخه هم زیات بزرګ او لوړ ، یعني د خپل ذات او صفاتو په اعتبار د هغه بزرګي، لوئي او عظمت دومره زیات دی چي د انسان عقل او د هغه فهم د هغه د عظمت په مخکي کونین هم حقیر وګڼي، د دنیا لپاره دي د هیڅا په مخکي سر نه کښته کوي خپل نفس دي حقیر وګڼي او الله تعالی چي د کومو شیانو د کولو حکم کړی دی هغه دي وکړي او د کومو شیانو څخه چي د ځان ساتني حکم کړی دی د هغه څخه دي ځان وساتي او کوم شیان چي الله تعالی ته خوښ دي په هغو کي د بوختیا سره دي خپل نفس ذلیل کړي چي د الله تعالی رضا ورته په برخه سي.

**خاصیت** : کوم څوک چي دغه مبارک نوم همېشه وايي نو هغه به د مخلوق په نظر کي عزيز او عزتمند سي .

**الغفور** ﷻ : ډېر بخښونکی، ددغه نامه څخه د بنده نصيب دادی چي په شپه او ورځ کي په خاصه توګه په سهار او ماښام کي استغفار پر ځان لازم کړي او هغه چا ته بخښنه او عفوه وکړي کوم چي ده ته تکليف رسوي .

**خاصیت** : که يو چا ته ناروغي وي مثلا تبه، د سردرد او داسي نور نو هغه ته پکار دي چي دغه نوم پر کاغذ وليکي او د هغه نقش دي پر ډوډۍ باندي په جذب کولو سره وخوري نو الله تعالی به شفاء او خلاصون ورکړي او کوم څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وايي نو د هغه د زړه تياري به ليري سي ، په يو حديث کي نقل سوي دي چي کوم څوک سجده وکړي او په سجده کي (يا رب اغفرلي) اې زما پروردګاره! ما وبخښې، درې واره وايي نو الله تعالی به د هغه مخکني او وروستني ګناهونه و بخښي .

کوم څوک چي د سرپه درد اخته وي يا بله ناروغي يې په بدن کي وي نو هغه ته پکار دي چي د يا غفور مقطعات دي په درې واره ليکلو سره وخوري انشاء الله تعالی شفاء به تر لاسه کړي .

**الشکور** ﷻ : قدر دان او پر لږ عمل باندي ډېر ثواب ورکونکی، ويل کيږي چي يو سړی (چي مړ سوی وو) په خوب کي وليدل سو نو د هغه څخه پوښتنه وسوه چي ستا سره الله تعالی څه معامله وکړه ؟ هغه سړي وويل کله چي الله تعالی زما سره حساب وکړ نو زما د نيکيو پله سپکه سوه او د ګناهو پله پر غالبه سوه ، ناڅاپه د نيکيو په پله کي يوه کڅوړه را اېله سوه چي په هغه سره پله درنه سوه ما چي دا وليدل نو وه مي ويل چي دا څه شي دي نو ما ته وښودل سوه چي دا هغه يو موټ خاوره ده چي تا د خپل يو مسلمان ورور پر قبر اچولې وه ، ددې څخه معلومه سوه چي د الله تعالی فضل او کرم پر څومره معمولي عمل باندي هم بنده په بې پايه او زيات ثواب او رحمت نازوي ، ددغه نامه څخه د بنده نصيب دادی چي د الله تعالی شکر دي ادا کړي په دې توګه چي ټول نعمتونه د هغه په ګټلو سره خپل هر اندام د هغه په کار کي بوخت وساتي د کوم لپاره چي هغه الله تعالی پيدا کړي دي ، د خلکو سره دي ښه چلن کوي او د هغوئ شکر دي ادا کوي ځکه چي په حديث شريف کي راغلي دي : لا يشکر الله من لا يشکر الناس: هغه څوک د الله تعالی شکر نه ادا کوي څوک چي د خلکو شکر نه ادا کوي .

**خاصیت** : د چا چي ژوند تنګ وي يا د هغه د سترګو په رڼا او د زړه په نور کي کمي پيدا سوې وي نو دغه مبارک نوم دي يو څلوېښت واره پر اوبو باندي په دم کولو سره وڅښي او پر سترګو

دي يې ومو ږي انشاء الله تعالى شفاء به تر لاسه كړي.

**العلي** جلاله: د لوړي مرتبې خاوند، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي د الله تعالی د ظاهري او باطني اطاعت او عبادت په ذريعه خپل نفس ذليل كړي او خپل ټول توان د علم او عمل په تر لاسه كولو كي مصرف كړي تر دې چي هغه تر ټولو لوړ او عالي كمالاتو او مرتبو ته ورسيږي.

په حديث شريف كي راغلي دي چي الله تعالى اعلى امور خوښوي ځكه چي ددې په وجه بنده لوړو مرتبو ته رسيږي او ادنا امور نه خوښوي ځكه د حضرت علي رضي الله عنه دا مقوله ده چي لوړ همتي د ايمان څخه پيدا كيږي.

**خاصيت**: كوم څوک چي دغه مبارک نوم همېشه وايي يا يې د ځان سره ليكلی ساتي كه هغه بې قدره وي نو د لوړي مرتبې خاوند به سي او كه په فقر او مفلسۍ كي اخته وي نو شتمن به سي او كه د سفر په تكليفو كي راګير وي نو خپل خواږه هيواد ته به ستون سي.

**الكبير** جلاله: لوی، داسي لوی چي د هغه په لويي كي څوک سيال نه وي، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي د هغه لويي همېشه په ياد ولري تر دې چي د هغه څخه ماسوا د بل چا لويي بالكل هېره كړي، د علم او عمل په ذريعه خپل نفس د پوره جوړولو هڅه وكړي چي د هغه د كمال او فيض څخه نور خلک مستفيد سي په تواضع او انكساري اختيارولو كي مبالغه كوي او د خلكو خدمت او د الله تعالى عبادت پر ځان لازم وګڼي.

**خاصيت**: څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وايي نو هغه به بزرگ او د لوړي مرتبې خاوند وي، كه حاكمان پر دغه نامه همېشتوب وكړي نو پر خلكو به يې رعب او دبدبه غالبه وي او د هغوئ ټول كارونه به په ښه ډول سر ته رسيږي.

**الحفيظ** جلاله: عالم د آفاتو او تاوانو څخه ساتونكی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب ادی چي هغه خپل اندامونه د گناهونو څخه خوندي وساتي او په خپل ټولو كارو كي د الله تعالى پر فيصلو او د هغه پر مشيت اكتفاء وكړي او د هغه پر قضا او قدر راضي سي.

د يو بزرگ څخه دا قول نقول سوي دي چي الله تعالى د كوم چا اندامونه محفوظ وساتي نو دهغه زړه يې محفوظ وساتی او د چا زړه چي يې محفوظ وساتی نو د هغه رازونه يې محفوظ وساتل.

نقل سوي دي چي يوه ورځ ناڅاپه د يو بزرگ او صالح سړي نظر پر يو منعه سوي شي ولوېدی نو هغه سمدستي د الله تعالى په دربار كي عرض وكړ چي اې الله! ما ته د خپل بنائي د

بقاء ارزو ځکه وه چي په ستا په عبادت کي په کار راسي اوس ستا د حکم د مخالفت سبب وګرځيدی نو اې الله ! دغه بنائي زما څخه واخلې نو د هغه بنائي ولاړه او ړوند سو ، هغه به د شپې لمونځ کوی ، د سترګو ړندېدو وروسته هغه پريشانه سو تر دې چي هغه د اوداسه لپاره د اوبو اخيستو هم محتاج سو اوس چي اوبه نه سي را اخيستلای نو په لمانځه او عبادت کي خنډ پيدا سو نو بيا يې الله تعالی ته عرض وکړ چي اې الله ! ما خپله ويلي وه چي زما بنائي واخله مګر اوس په شپه کي ستا د عبادت لپاره ما ته ددې ضرورت دی ، ددې وروسته الله تعالی بيرته بنائي ورکړه او هغه سم سو .

**خاصيت** : که يو څوک دغه مبارک نوم وليکي او پر راسته موټ يې وتړي نو هغه به د ډوبېدو، سوځېدو، پيريانو او بد نظر وغيره څخه خوندي وي .

**المقيت** ﷻ: د بدن او روح لپاره غذا پيدا کونکی او هغه ته قوت ورکونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي کله په دې پوه سي چي هغه غذا پيدا کونکی دی او قوت ورکونکی دی نو اوس هغه ته پکار دي چي د هغه د الله تعالی د ذکر په مخکي د خپل غذا ذکر يعني د خپل غذا فکر هېر کړي ځکه چي حقيقي غذا خو د هغه ذکر او د هغه ياد دی.

څرنګه چي د حضرت سهل څخه نقل سوي دي چي د هغه څخه د قوت په باره کي پوښتنه وسوه نو هغه وفرمايل چي هغه حي الذي لا يموت، داسي ژوندی دی چي نه مړ کيږي، د هغه ذکر دی او بنده ته پکار دي چي هغه غذا او قوت د خپل بادار څخه پرته د بل چا څخه ونه غواړي، د الله تعالی ارشاد دی : وان من شئ الا عندنا خزائنه وما ننزله الا بقدر معلوم، داسي هيڅ شی نسته چي د هغه زموږ سره خزانې نه وي او موږ هغه د خپل اندازې سره سم نازلوو .

بنده ته پکار دي چي هغه خپل هر متعلق ته غذا ورکړي چي د هغه مستحق وي نورو ته ګټه رسول ، ګمراهانو ته هدايت کول او په لوږو باندي خوراک خوړل د هغه امتياز وګرځي .

قشيري رحمة الله عليه فرمايي چي د قوت مختلف انواع دي يو خو دا ظاهري غذا او خوراک چي پر هغه د انسان د ژوند دار او مدار دی مګر ځيني بندګان داسي دي چي الله تعالی د عبادت توفيق د هغوئ د نفس غذا او د مکاشفات صدور د هغوئ د زړه غذا او همېشه مشاهدات د هغوئ د روح قوت ګرځوي ، الله تعالی چي خپل يو نيک بنده په خپل اطاعت او عبادت کي بوخت کړي او همداسي يو بنده چي د خپل نفساني خواهشاتو څخه په قطع نظر کولو سره په پوره حضور او اخلاص يوازي خپل مولا ته متوجه کيږي نو الله تعالی د هغه لپاره يو داسي څوک تياکي چي د هغه خبر اخلي او خدمت يې کوي او د هغه په ذريعه د هغه د ژوند ضروريات

په خپله پوره کیږي مګر کله چي یو بنده د نفساني خواهشاتو د تکمیل په لور متوجه کیږي نو الله تعالی د هغه د خواهش پوره کېدل هغه ته پرېږدي او د هغه څخه د خپل مرستي سایه پورته کوي.

**خاصیت**: که یو څوک یو غریب سړی ووینئ یا په خپله غریب وي یا یو کوچنی د خپلو بدو کارو څخه نه منع کیږي یا ډېر ژاړي نو پر یو خالي پیاله یا بل شي باندي دي دغه مبارک نوم اووه واره دم کړي او بیا دي په هغه پیاله کي اوبه واچوي او په هغه دي یې وڅښي یا چا ته چي ضرورت وي په هغه دي یې وڅښي، همدارنګه که چیري یو روژه نیونکي ته د هلاکت ېېره وي نو دغه مبارک نوم دی په یوه ګل باندي ووایي او بوی دي یې کړي انشاء الله تعالی هغه ته به غذا او تقویت تر لاسه سي او د روژې نیولو وړ به سي.

**الحسیب** ﷻ: په حال کي کفایت کونکی یا د قیامت په ورځ حساب اخیستونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د اړو کسانو کفایت کونکی یعني د هغوئ اړتیاوي پوره کونکی سي او د خپل نفس محاسبه وکړي.

قشیري رحمة الله عليه فرمایي چي د الله تعالی د بندګانو کفایت کول دادی چي د هغوئ په هر حال کي او هر کار کي مرسته کونکی وي او د هغوئ هر کار پوره کوي کله چي بنده په دې پوه سي چي الله تعالی زما لپاره کافي او زما هر مراد او زما هر کار پوره کونکی دی نو اوس هغه ته پکار ده چي هغه پر هیڅ یو دنیوي شي باندي باور ونه کړي بلکه هغه ته د خپل مقصد په تر لاسه کولو کي هیڅ دنیوي شي څخه د ضرورت پر وخت فائده ونه رسیږي کله چي هغه ته پر هغه شي باندي باور هم وي نو د هغه څخه نه پریشان کیږي بلکه دا یقین لري چي الله زما په مقدر کي څه فیصله کړې وي هغه به هر صورت کي کیږي که چیري په قسمت کي د مقصد تر لاسه کېدل لیکلي وي نو هغه به خامخا تر لاسه کیږي که څه هم دنیوي اسباب مایوس کونکي وي او که په قسمت کي د مقصد تر لاسه کېدل نه وي لیکلي نو هغه به نه تر لاسه کیږي که څه هم دنیاوي اسباب هر څومره زورور وي، او بیا دا چي کوم څوک د الله تعالی له خوا پر پېښېدونکي شي باندي که چیري مطلوب نه وي اکتفاء وکړي نو الله تعالی به هغه سړی پر هغه شي راضي او مطمئن کړي کوم چي د هغه لپاره فیصله سوې وي او ددې اثر به دا وي چي داسي بنده د خپل دغه وصف په وجه د خپل مطلوب عدم حصول د هغه د حصول په مقابله کي او فقر د غناء په مقابله کي به رضا او رغبت اختیار او قبول کړي او په سبب د مشاهده او تصرف د بادار د حصول مقصد اسباب او ذرائع نه تیارېدو باندي مطمئن سي.

**خاصیت**: کوم څوک چې د غله، حاسد، بد همسایه او دښمن د شر څخه بېریږي او تنګیږي او زړه څخه پریشان وي نو هغه دې تر یوه اونۍ پورې سهار او ماښام سل ځله حسبي الله الحسیب ووايي الله تعالی به یې د دغه شیانو د شر او پریشانۍ څخه خوندي کړي.

**الجلیل** جل جلاله: بزرګ قدر، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دا دی چې هغه د صفتونو په ذریعه د خپل نفس په ښکلي کولو سره د لوړې مرتبې خاوند شي.

**خاصیت**: که یو څوک دغه مبارک نوم په مشک او زعفران سره په لیکلو د ځان سره وساتي او ویې خوري نو ټول خلک به د هغه تعظیم او عزت کول شروع کړي.

**الکریم** جل جلاله: ډېر سخي او ډېر ورکونکی چې د هغه ورکول هیڅکله نه بندیږي او نه د هغه خزانې خالي کیږي، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دا دی چې هغه د الله تعالی مخلوق ته بېله وعدې مال او صدقه ورکوي او د هغوئ هر ډول مرسته کوي او د خرابو اخلاقو او کړو څخه پرهیز کوي.

**خاصیت**: څوک چې خپل بسترې ته په رسیدو سره دغه مبارک نوم تکرار وايي چې په ویلو ویلو کې ویده شي نو د هغه لپاره ملائکې دعا کوي او وايي چې: کرمک الله تعالی دې تا بزرګ کړي او ته دې مکرم او معزز شې. ویل کیږي چې حضرت علي رضي الله عنه دغه مبارک نوم ډېر وایه په دې وجه هغه ته کرم الله وجهه ویل کیږي.

**الرقیب** جل جلاله: د هر شي ساتنه کونکی، او ځینو ویلي دي چې د بندګانو په احوالو او عملو خبردار، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دا دی چې هغه په هر وخت او هر حال کې په الله تعالی باندې نظر ولري د هغه څخه پرته د بل چا څخه سوال ونه کړي چې د غیر الله ته التفات ضرور شي او الله تعالی چې هغه د چا پر ساتنې ټاکلی دی د هغوئ په ساتنه کې هیڅ کوتاهي ونه کړي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې تاسو ټول راعي یعني ساتونکي یاست او ستاسو ټولو څخه به د خپل رعیت په باره کې محاسبه کیږي یعني د چا پر ساتنې او خبر اخیستو چې تاسو ټاکل شوي یاست د هغوئ د ساتنې او خبر اخیستنې حال به ستاسو څخه پوښتل کیږي چې تاسو خپل فرض تر کومه حده ادا کړی دی.

قشیري رحمه الله وايي چې د دغه طائفې یعني اولیاء الله په نزد د مراقبې حقیقت دا دی چې بنده باندې په زړه سره د الله تعالی یاد غالب وي او دا یقین وي چې الله تعالی زما په حال خبر دی نو هغه دې په هر حال کې هغه ته رجوع کوي او هر وخت دې د هغه د عذاب څخه بېریږي او

صاحب مراقبه د الله تعالی د هیبت له کبله د شریعت خلاف خبري تر هغه چا زیاتي پرېږدي کوم چي د الله تعالی د بیري گناه پرېږدي او کوم څوک چي د خپل زړه رعایت کوي نو د هغه هیڅ لمحه د الله تعالی د یاد او د هغه د اطاعت څخه خالي نه وي ځکه چي هغه ښه پوهیږي چي الله تعالی به زما څخه د یوې یوې لمحې او د یوه یوه عمل حساب اخلي که څه هم هغه کوچنی عمل وي یا لوی عمل وي.

د الله تعالی د یو ولي په باره کي نقل سوي دي چي د هغه د وفات وروسته هغه یو چا په خوب کي ولیدی نو د هغه څخه یې پوښتنه وکړه چي الله تعالی ستا سره څه معامله وکړه؟ هغه وویل: الله تعالی زه و بخښلم او پر ما یې خپل احسان وکړ مگر پوره حساب یې واخیستی تر دې چي زما څخه یې د هغه عمل مؤاخذه هم وکړه چي په کومه ورځ زما روژه وه نو کله چي د روژه مات وخت راغلی نو ما د یو ملگري د دوکان څخه د غنم یو دانه را پورته کړه او بیا مي ماته کړه، ما ته سمدستي خیال راغلی چي د غنم دغه دانه زما په ملکیت کي نه وه په دې خیال سره ما هغه دانه پر هغه ځای کښېښودل اوس چي زما حساب واخیستل سو نو د هغه غنم د ماتولو په قدر نیکي زما د نیکیو څخه واخیستل سوه.

د فکر کولو خبره ده چا ته چي دا معلومه سي چي هغه ته یوه ورځ د الله تعالی په دربار کي د دومره کوچنۍ خبري حساب هم ورکول دي نو ایا هغه به دا وزغمي چي خپل عمر په باطل شیانو کي ضائع کړي او خپل وخت په کوتاهیو او غفلت کي تېر کړي.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي تاسو د خپلو اعمالو په خپله محاسبه کوئ تر دې مخکي چي ستاسو څخه ستاسو د اعمالو حساب واخیستل سي.

**خاصیت**: کوم څوک چي پر خپل ښځي، اولاد او یا مال باندي دغه مبارک نوم په اووه واره ویلو سره د هغه پر څلورو خواوو دم کړي نو هغوئ به د ټولو دښمنانو د آفتو او بیري څخه بې خوفه سي.

**المجیب** جل جلاله: د عاجزانو دعاء قبلونکی او د بلونکي جواب ورکونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه په اوامرو او نواهي کي د الله تعالی فرمانبرداري وکړي او اړو کسانو اړتیاوي پوره کړي.

**خاصیت**: څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وایي او بیا دعاء وکړي نو د هغه دعاء به ژر قبلیږي او که د ځان سره یې لیکلی وساتي نو الله تعالی به یې په امان کړي.

**الواسع** جل جلاله: د پراخ علم والا او په خپل نعمتونو سره ټول پالونکی، ددغه مبارک نامه څخه د

بنده نصيب دادى چي په خپل علم كي ، په خپل سخاوت كي او په معارف او اخلاق كي د پراختيا پيدا كولو هڅه وكړي ، د ټولو انسانانو سره په ورين تندي مخامخ سي او د دنيوي مقصدو په تر لاسه كېدو كي فكرمند نه سي .

**خاصيت** : كوم څوک چي دغه مبارک نوم ډېر ډېر وايي نو الله تعالى به هغه د قناعت او بركت په دولت سره ونازوي .

**الحكيم** ﷻ : دانا او د حكمت خاوند ، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادى چي په كتاب الله كي ذكر سوي صفات حميده خپل كړي او د هغه سره د تعلق پيدا كولو هڅه وكړي او په خپل ټولو كارو كي د حكمت څخه كار واخلي او هغه ته پكار دي چي د ناپوهۍ څخه پرهيز وكړي او هيڅ يو كار د الله تعالى د رضا پرته ونه كړي .

د ذوالنون مصري رحمة الله عليه په باره كي ويل كيږي چي هغه وفرمايل : ما واورېدل چي د لوېديځ په سيمه كي يو سړى د خپل علم او حكمت په وجه ډېر مشهور او معروف دى نو زه د هغه ليدني ته ورغلم ، زه څلوېښت ورځي د هغه پر دروازه پروت وم او كتل مي چي هغه به د لمانځه پر وخت مسجد ته راتلى نو حېران او پرېشان به ګرځيدى او ما ته يې هيڅ توجه نه كول ، ددغه كړني څخه زه تنګ سوم نو يوه ورځ مي پوښتنه وكړه چي محترمه زه د څلوېښتو ورځو څخه دلته پروت يم مګر ته ما ته هيڅ توجه نه كوې او نه زما سره خبري كوې ما ته يو نصيحت وكړه او د حكمت خبري را ته وښيه چي هغه په ياد كړم، هغه وويل ايا ته به په هغه عمل وكړې كه يا؟ ما وويل هو، كه الله تعالى توفيق راكړى نو خامخا به عمل په وكړم ، بيا هغه د حكمت او موعظت څخه ډكي دغه خبري ما ته وكړې چي دنيا صحيح مه ګڼه ، فقر غنيمت وګڼه ، بلا نعمت وګڼه ، منع يعني نه تر لاسه كېدل عطا يعني تر لاسه كېدل وګڼه، خواري عزت وګڼه، مرګ حقيقي ژوند وګڼه ، اطاعت او عبادت د خپل عزت ذريعه وګڼه او توكل خپل معاش وګرځوه .

از سينه محو كن همه نام و نشان غير الا كسي كه مي دهد از وى نشان ترا

**خاصيت** : كه يو چا ته په يو كار كي پريشاني وي او هغه نه پوره كيږي نو هغه ته پكار دي چي دغه مبارک نوم همېشه وايي انشاء الله تعالى كار به يې تر سره سي .

**الودود** ﷻ : د فرمانبردار دوست يا د اولياء الله په زړو كي محبوب، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادى چي هغه د الله تعالى د مخلوق لپاره هغه شى خوښ كړي كوم چي د ځان لپاره خوښوي او پر هغوئ تر خپل وس پوري احسان كوي ، د رسول الله ﷺ ارشاد دى : په تاسو كي يو څوک تر هغه وخته د كامل مؤمن ويلو وړ نه دى تر څو چي د خپل مسلمان ورور لپاره هغه

شي خوښ نه کړي کوم چې د ځان لپاره خوښوي.

د الله تعالی دوست کېدل دادي چې هغه پر خپل بندګانو باندي رحمت نازل کړي د هغوئ تعريف کوي هغوئ ته نيکي رسوي او الله تعالی د بندګانو دوست کېدل دادي چې د هغه تعظيم وکړي او په خپل زړه کي د هغه هيبت او لوئي ولري، په حديث شريف کي راغلي دي چې الله تعالی فرمايي: زما په دوستانو کي لوی دوست هغه دی چې بېله ورکړي زما عبادت کوي يعني د بخښني او ورکړي په اميد نه بلکه زما د رضا او خوښي لپاره عبادت کوي.

**خاصيت** : که د ښځي په خاوند کي لاتعلقي پيدا سي او تعلقات يې خراب سي نو دغه مبارک نوم دي د خوراک پر يو شي باندي زر واره دم کړي او په هغه دي وخوړل سي انشاء الله تعالی په مينځ کي به يې اتفاق او الفت پيدا سي او که په دواړو يې وخوري نو ډېره ښه ده.

**المجيد** جل جلاله : بزرګ او شريف ذات، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب هغه د يکوم چې د العظيم په اړه تېر سوی دی.

**خاصيت** : که يو څوک د ابرص، جزام يا بلي ناروغۍ باندي اخته وي نو هغه ته پکار دي چې هغه د ايام بيض په ورځو کي روژې ونيسي او د روژې ماتولو په وخت کي دغه نوم ډېر ډېر ووايي او پر اوبو باندي په دم کولو سره يې وڅيښي انشاء الله تعالی شفاء به تر لاسه کړي او کوم څوک چې خپل سيالانو او هم جنسو ته د عزت او احترام په نظر نه سي کتلای نو هغه دي هر سهار دغه مبارک نوم نهه نيوي واره وايي او پر ځان دي يې دم کړي انشاء الله تعالی عزت او احترام به تر لاسه کړي.

**الباعث** جل جلاله : د مړو د قبرو څخه راپورته کونکی او ژوندي کونکي او د غافلانو زړه د غفلت څخه بېداره کونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چې هغه جاهلو خلکو ته په تعليم ورکولو سره او د اخرت د نعمتونو په شوق ورکولو سره هغوئ ته د دنيا څخه د بې رغبتۍ په احساس ورکولو سره او د آخرت د نعمتونو په راغب جوړولو سره د جهالت او غفلت څخه بيدار کړي او د هغوئ مړه زړونه را ژوندي کړي او د خپل ځان څخه دي ددې شروع وکړي او ددې وروسته دي نورو ته متوجه سي.

**خاصيت** : که يو څوک غواړي چې د هغه زړه ته حقيقي ژوند حاصل سي نو هغه دي د بېده کېدو پر وخت پر خپل سينه لاس کښېږدي او دغه مبارک نوم دي سل واره وايي انشاء الله تعالی د زړه مړتوب به يې ليري سي او په انوارو به منور سي.

**الشهيد** جل جلاله : په ظاهر او باطن باندي خبردار، قشيري رحمة الله عليه فرمايي چې اهل معرفت د

الله تعالی سره د هغه د ذات څخه پرته د بل هیڅ مونس خواهش نه لري بلکه حقیقت خو دادی چي هغوئ یوازي د هغه ذات څخه خوشحاله او مطمئن وي ځکه چي یوازي الله تعالی د هغوئ پر ټولو حالو نظر لري او هغه د هغوئ په ټولو کارو او افعالو خبر دی، الله تعالی فرمایي:

او لم یکف بربک انه علی کل شئ شهید: ایا ستا پروردګار! ستا لپاره په دې خبره کي کافي نه دی چي هغه په هر شي خبر دی.

ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه دي ددې خبري خیال وساتي چي د هغه پروردګار هغه په داسي ځای کي ونه ویني کوم چي د هغه لپاره ممنوع وي یعني په خراب ځای کي، او په داسي هیڅ ځای کي یې غیر موجود ونه ویني چیري چي هغه ته د موجود کېدو حکم سوی دی یعني د نیکۍ په ځای کي، او ددغه یقین په وجه الله تعالی زما حال تر ما ښه پېژني او زما په حال ښه خبر دی، د غیر الله په مخکي د خپلو اړتیاوو وړاندي کولو او غیر الله تعالی د امید په نظر رغبت او میلان کولو څخه منع سي او پر بنده باندي ددغه مبارک نامه یوه تقاضا دا هم ده چي هغه همېشه د رښتیا شاهد سي او د رښتیا ویلو مراعت کوي.

**خاصیت**: که د یو چا زوی نافرمانه وي یا د هغه لور ناصالحه وي نو هغه ته پکار ده چي هره ورځ سهار د هغه پر تندي خپل لاس کښېږدي او د هغه مخ آسمان ته په پورته کولو سره دغه مبارک نوم یو ویشت واره ووایي نو الله تعالی به یې فرمانبردار او صالح کړي.

**الحق** جل جلاله: په شهنشاهۍ سره قائم او د خدایي لائق، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي کله هغه پوه سي چي د هغه ذات حق دی نو د هغه په مقابله کي د مخلوق یاد او د هغوئ طلب پرېږدي او ددغه مبارک نامه تقاضا داده چي بنده په خپل ټولو خبرو، کارو او حالاتو کي حق خبره او حق ویل پر خپل ځان لازم کړي.

**خاصیت**: که د یو چا یو شی ورک وي نو د یو کاغذ پر څلورو کونجانو دي دغه نوم ولیکي او د کاغذ په مینځ کي دي د هغه شي نوم ولیکي او بیا په نیمه شپه کي د هغه کاغذ پر ورغوي باندي په ایښودو سره دي آسمان ته په نظر کولو سره د الله تعالی څخه ددغه مبارک نامه په برکت او ددغه نامه د وسیلې په ذریعه د هغه شي د ترلاسه کولو دعاء وکړي انشاء الله تعالی هغه شی به هم هغسي تر لاسه کړي یا د هغه یو برخه به تر لاسه سي، او که یو بندي په لوځ سره دغه مبارک نوم یو سل اته واره ووایي نو الله تعالی به یې خلاصون ورپه برخه کړي.

**الوکیل** جل جلاله: کارساز، د الله تعالی ارشاد دی: وکفی بالله وکیلا: یعني په کار جوړېدو کي الله تعالی کفایت کوي، او: وعلی الله فتوکلوا ان کنتم مؤمنین: که تاسو مؤمنان یاست نو خپل هر

کار الله تعالی ته وسپارئ، ومن یتوکل علی الله فهو حسبه: څوک چي پر الله باندي باور او اعتماد کوي نو الله تعالی د هغه لپاره کافي دی، او : وتوکل علی الحي الذي لا یموت: یعني پر داسي ژوندي ذات باندي باور کوئ چي د هغه لپاره مرګ نسته، وتوکل علی العزیز الرحیم: او پر هغه ذات باندي توکل کوئ چي غالب او مهربان دی.

ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه د کمزورو او لاچاره کسانو مرسته کونکی جوړ سي او د هغوئ کارونه درست کړي د هغه د اړتیاوو په پوره کولو کي دومره هڅه وکړي لکه هغه دي د هغوئ لپاره وکیل وي.

**خاصیت** : که چیري د آسماني برېښنا را لوېدو بېره وي یا د تېزباد، اوبو او اور څخه بېره وي نو ددغه مبارک نامه وظیفه دي کوي انشاء الله تعالی خلاصون به تر لاسه کړي او که یو څوک دغه مبارک نوم د یو بیري په ځای کي ووایي نو بې خوفه به سي.

**القوي** جل جلاله : قوت والا، **المتین** جل جلاله : په ټولو کارو کي هموار، ددغه دواړو مبارکو نومو څخه د بنده نصیب دادی چي هغه پر نفساني خواهشاتو باندي غالب او قوي وي او ددین په معامله کي سخت او قوت والا وي او د شرعي احکامو په نافذ کولو او خپرولو کي سستي او کمزوري نه کوي.

**خاصیت** : که د یو چا دښمن قوي وي او د هغه په دفاع کي عاجز او کمزوری وي نو هغه دي لږ اوړه واغړي او د هغویو زر سل ګولې دي جوړي کړي بیا دي یوه یوه ګوله پورته کوي او یا قوي دي پر وایي او هغه ګوله دي د دښمن د دفاع په نیت د چرګ مخته غورځوي نو الله تعالی به د هغه دښمن مغلوب او مقهور کړي او که دغه مبارک نوم د جمعې په شپه ډېر وویل سي نو د هیري ناروغي به ختمه سي او که یو کوچنی د تي څخه پرې سوی وي او هغه کوچنی بې صبري کوي نو دغه نوم دي ولیکل سي او په هغه کوچني دي وځښل سي انشاء الله تعالی هغه ته به صبر او کرار راسي، همدارنګه که چیري د ښځي په شېدو کي کمي وي نو دغه مبارک نوم دي ولیکي او وه دي یې څښني د هغې په شیدو کي به زیاتوب راسي، که چیري یو څوک د حکومت یا یو وظیفې د تر لاسه کېدو خواهش لري نو هغه دي د یکشنبې په ورځ په اول ساعت کي د خپل مقصد په نیت دغه مبارک نوم (المتین جل جلاله) درې سوه شپیته ۳۶۰ واره ووایي انشاء الله تعالی مقصد به یې تر سره سي.

**الولي** جل جلاله: مرسته کونکی او د مؤمنانو دوست، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د مسلمانانو سره دوستي وکړي د دین په تائید او حمایت کي هڅه وکړي او د مخلوق په

ارتیاوو پوره کولو کي هڅه وکړي.
قشیري رحمه الله وايي چي د الله تعالی د نښانو څخه دادي چي الله تعالی کوم څوک دوست کړي نو هغه ته همېشه د خیر، برکت او ښېګڼي توفیق ورکوي تر دې چي هغه بنده که چیري د بشریت د غوښتني سره سم د یو بدۍ اراده وکړي نو الله تعالی یې د هغه څخه ساتي او که چیري هغه ناڅاپه په هغه بدۍ کي اخته سي نو په هغه کي یې اخته نه پرېږدي بلکه ژر یې توبه په برخه کوي او د هغه څخه یې راګرځوي ځکه ویل سوي دي چي: اذا حب الله عبدا لم یضره ذنب: الله تعالی چي د چا دوست سي نو هغه ته ګناه تاوان نه رسوي.
او که چیري په عبادت او اطاعت کي کوتاهي ته د هغه مېلان وي نو الله تعالی هغه ته په اطاعت او عبادت کي د بوختیا توفیق ورکوي او دا خبره د بنده د نیکبختۍ نښه ګرځي کله چي ددې برعکس د بنده د شقاوت او بدبختۍ علامه ده او د الله تعالی د دوستۍ یو بله علامه دا ده چي الله تعالی د خپل اولیاؤ په زړو کي د داسي بنده محبت ځای کړي چي د هغه په وجه اولیاء الله د هغه بنده سره تعلق ساتي.
**خاصیت**: کوم څوک چي دغه مبارک نوم ډېر ډېر وایي نو هغه به د مخلوق د زړه په خبرو خبردار سي او که د یو چا ښځه یا مېنځه داسي عادت لري چي د هغه لپاره د اذیت سبب وي نو هغه ته پکار دي چي د هغه ښځي یا مېنځي مخته راسي نو دغه نوم دي ډېر وایي الله تعالی به هغه د صلاحیت پر لاره برابر کړي.
**الحمید** جل جلاله: د خپل ذات او صفاتو تعریف کونکی یا تعریف سوی، ددغه مبلرک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي همېشه د حق تعریف کونکی وي په صفات کمالیه سره خپل ذات سمسور کړي یا د خپل اعمال حسنه او اخلاق حمیده په وجه د الله تعالی او د هغه د مخلوق په نظر کي داسي ثابت سي چي د هغه تعریف وکړل سي.
**خاصیت**: څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وایي نو د هغه افعال به غوره وي او که پر یو چا باندي فحش ویل او بد ویل غالب وي چي په هغه سره د خپل ځان پر محفوظ ساتلو قادر نه وي نو هغه ته پکار دي چي دغه مبارک نوم پر یو پیاله ولیکي یا د ځیني حضراتو په قول دغه نوم دي پر یو پیالې باندي نیوي واره ووایي او همېشه دي په هغه پیاله کي اوبه څښي انشاء الله تعالی د فحش ویلو او بد ویلو څخه به خوندي سي.
**المحصي** جل جلاله: د هغه علم پر هر شي باندي احاطه سوی او د هغه په نزد د ټولو مخلوقاتو شمېر ظاهر دی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي که هغه د حرکت په حال کي وي او که

د سکون په حال کي وي یعني په هیڅ وخت کي په غفلت کي اخته نه وي او د هغه یوه یوه ساه د الله تعالی په یاد کي وي ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي جنتیان به پر هغه وخت باندي ډېر افسوس کوي کوم چي د الله تعالی د یاد څخه پرته تېر سوی وي.

او ددې هغه دي کوي چي پر خپل اعمال او باطني احوالو باندي خبر وي او ددغه نامه تقاضا داده چي الله تعالی په کومو نعمتو سره نازولی دی هغه وشمېري چي د هغه په شکر ادا کولو سره د الله تعالی په وړاندي خپل ځان عاجز او محتاج وګڼي او همدارنګه خپل ګناهونه و شمېري او د هغه په وجه شرمنده او معذرت خواه وي او د هغه ورځي او وخت په یادولو سره حسرت او افسوس کوي کوم چي د الله تعالی د اطاعت او د هغه د یاد څخه خالي تېره سوې وي

**خاصیت** : څوک چي د جمعې په شپه دغه مبارک نوم یو زریو واره ووایي نو الله تعالی به هغه د قبر د عذاب او د قیامت د عذاب څخه وساتي.

**المبدي** ﷻ : په اول وار پیدا کونکی، **المعید** ﷻ: بیا پیدا کونکی، ددغه دواړو نومو څخه د بنده نصیب دادی چي هغه په هره معامله او هر شي کي الله تعالی ته اول وار هم او دوهم وار هم رجوع وکړي په نیکی پیدا کولو کي هڅه کوي او کوم نیک عمل چي ونه کړل سي یا په کوم عمل کي کمي او کوتاهي سوې وي د هغه اعاده وکړي یعني بیا یې وکړي.

**خاصیت** : کومه ښځه چي حمل داره وي او د حمل د نقصان بېره وي یا په زېږدنه کي ځنډ کېږي نو خاوند ته پکار دي چي دغه مبارک نوم (المبدئ) نیوي واره ووایي او د شهادت ګوته د هغې پر نس څلور خواته وګرځوي انشاء الله تعالی د حمل د نقصان بیره به یې نسي پاته او د ولادت څخه به په اطمینان او بېله ضرره خلاصه سي، او کوم څوک چي پر دغه مبارک نامه باندي همېشتوب کوي نو د هغه د ژبې څخه به هغه خبري راوځي کوم چي صحیح او د ثواب سبب وي.

که د یو چا یو قریب یا بل څوک غائب وي او د هغه د راتګ او خیریت خواهش مند وي نو کله چي د هغه کور والا بېده وي دغه مبارک نوم دي د کور په څلورو کونجانو کي اویا واره ووایي او د هغه وروسته دې ووایي : یا معید فلانی سړی ما ته بېرته راولې د هغه خیریت راته معلوم کړې ، اووه ورځي به تېري سوي نه وي چي هغه به بېرته راسي یا د هغه د خیریت معلومات به راسي ، که د یو چا یو شی ورک وي نو هغه دي یا معید ډېر وایي انشاء الله تعالی هغه شی به تر لاسه کړي.

**المحي** ﷻ : ژوندی کونکی، **الممیت** ﷻ : وژونکی، یعني الله تعالی د ایمان د نور په ذریعه زړونه ژوندي کوي او په بدن کي ژوند پیدا کوي او هغه بدن ته مرګ ورکوي او زړونه د غفلت

او ناپوهی په وجه مړه کوي، ددغه دواړو مبارکو نومو څخه د بنده نصیب دادی چي هغه د علم څخه په ګټي رسولو او د معرفت الهي په شمع ځلانده کولو سره زړونو ته د ژوند او تازګي دولت وبخښي او نفساني خواهشات او شیطاني خطرات او وسوسې ختمي کړي چي نه د ژوند ارزو کوي او نه د مرګ ارزو کوي بلکه د قضا او قدر تابعدار سي، او دغه دعاء د رسول الله ﷺ څخه نقل سوې ده:

اللهم احييني ما كان الحيوة خيرا لي وتوفني اذا كانت الوفاة خيرا لي واجعل الحيوة زيادة في كل خير واجعل الموت راحة من كل شر

اې الله! ما ته ژوند راکړې تر څو چي ژوند زما لپاره غوره وي او ما ته مرګ راکړې کله چي مرګ زما لپاره غوره وي او زما ژوند په خېر او ښېګڼي کي د زیاتوب سبب او مرګ د هري بدی څخه د راحت باعث وګرځوې.

**خاصیت**: که یو څوک د درد، ناروغی، تکلیف او یو اندام د ضائع کېدو په بېره کي وي نو هغه دي دغه مبارک نوم (المحي جل جلاله) اووه واره ووایي الله تعالی به د هغه څخه خلاصون ورکړي، که یو څوک ددغه مبارک نامه پر ویلو همېشتوب اختیار کړي نو د هغه زړه ته به ژوند او بدن ته به قوت تر لاسه سي او څوک چي پر خپل نفس باندي قادر نه وي او د شریعت د پیروی په اړه د هغه نفس پر هغه غالب وي یعني هغه د شریعت د پیروی څخه منع نه کوي نو هغه ته پکار دي چي د بېده کېدو پر وخت پر سینه لاس کښېږدي او دغه مبارک نوم (الممیت جل جلاله) دي دومره ووایي چي په ویلو ویلو کي بېده سي نو الله تعالی به د هغه نفس فرمانبرداره وګرځوي.

**الحي** جل جلاله: د ازل څخه تر ابد پوري ژوندی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د الله تعالی د یاد په ذریعه ژوندی وي او خپل ځان د هغه په لار کي قربان کړي یعني د الله تعالی په لار کي په شهیدو سره ابدي حیات تر لاسه کړي.

**خاصیت**: که یو څوک ناروغ وي نو دغه مبارک نوم دي ډېر ووایي نو انشاء الله تعالی روغتیا به تر لاسه کړي او څوک چي هره ورځ اوویا واره دغه مبارک نوم ووایي نو د هغه عمر به اوږد وي او د هغه په روحاني قوت کي به زیاتوب وي.

**القیوم** جل جلاله: خپله هم قائم او د مخلوقاتو هم قائمونکی او خبر اخیستونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه د الله تعالی څخه پرته د نورو ټولو څخه بې پروا سي.

قشیري رحمة الله عليه وایي څوک چي په دې پوه سي چي الله تعالی قیوم دی نو هغه د ناروغی او فکر څخه خلاصون تر لاسه کړی او په راحت سره به ژوند تېروي او س هغه ته پکار ده چي نه بخل

وکړي او نه د دنیا شیانو ته ازربنت ورکړي.
**خاصیت**: کوم څوک چې سهار دغه مبارک نوم ډېر ډېر وايي نو د خلکو په زړو کې به د هغه تصرف ظاهر وي یعني ټول خلک به هغه محبوب او دوست کړي او څوک چې دغه مبارک نوم ډېر ډېر وايي نو د هغه ټول کارونه به د هغه د غوښتني سره سم پوره کیږي.
**الواجد** جل جلاله: غني چې په هیڅ شي کې د چا محتاج نه وي، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چې د عالیه کمالاتو په تر لاسه کولو کې هڅه وکړي چې د الله تعالی د فضل په وجه د غیر الله څخه مستغني او بې پروا سي.
**خاصیت**: که یو څوک د ډوډۍ خوړلو پر وخت د هري ګولۍ سره دغه مبارک نوم وايي نو هغه د خوراک به د هغه په نس کې نور سي او که یو څوک په خلوت (یوازیوالي) کې دغه مبارک نوم ډېر وايي نو شتمن به سي.
**الماجد** جل جلاله: بزرګ، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب هغه دی کوم چې د الواجد په اړه ذکر سوی دی،
**خاصیت**: څوک چې دغه مبارک نوم په خلوت کې دومره زیات ووايي چې بې هوشه سي نو د هغه پر زړه به انوار الهي ظاهر سي او که څوک یې ډېر ډېر وايي نو د الله تعالی د مخلوق په نظر کې به د مرتبې خاوند سي.
**الواحد** جل جلاله، **الاحد** جل جلاله: په ذات او صفاتو کې یوازي، د دغه مبارکو نومو څخه د بنده نصیب دادی چې هغه په عبادت او بندګۍ کې یوازي جوړ سي لکه څرنګه چې د هغه معبود یوازي دی او په داسي فضائلو سره خپل ځان سمسور کړي چې هیڅ شی د هغه په مثل نه وي.
**خاصیت**: که د چا زړه د خلوت څخه په خوف کې وي نو هغه ته پکار دي چې دغه مبارک نوم زر واره ووايي انشاء الله تعالی د هغه د زړه څخه به بېره لیري سي او الله تعالی ته به مقرب او نژدې سي او که د چا د زوی پیدا کېدو خواهش وي نو دغه مبارک نوم دي ولیکي او د ځان سره دي یې وساتي الله تعالی به زوی ورکړي.
**الصمد** جل جلاله: بې پروا، بې نیازه چې د چا محتاج نه وي او ټول د هغه محتاج وي، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چې په خپل هر حاجت کې الله تعالی ته رجوع وکړي د خپل رزق څخه بې فکره سي او د الله تعالی پر ذات توکل وکړي د دنیا د حرامو شیانو څخه ځان وساتي د مخلوق څخه خپل ځان بې پروا ساتي او د مخلوق د اړتیاوو پوره کولو هڅه کوي.
**خاصیت**: کوم څوک چې سهار یا په نیمه شپه کې سجده وکړي او دغه مبارک نوم یو سل او

پنځلس ۱۱۵ واره ووايي نو الله تعالی به هغه صادق الحال او صادق القول کړي او د چا په ظلم کي به نه راګير کيږي او څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وايي نو هغه به ورې نه پاته کيږي او که د او داسه په حالت کي يې ووايي نو د مخلوق څخه به بې پروا سي.

**القادر** جلاله، **المقتدر** جلاله : قدرت والا او قدرت ظاهرونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي هغه خپل نفس د خواهشاتو او خوندو څخه پر منع کېدو باندي قادر وي.

**خاصيت** : که څوک په اوداسه کي پر هر اندام باندې دغه مبارک نوم وايي نو د چا په ظلم کي به اخته نه سي او هيڅ دښمن به پر کامياب نه سي او که يو مشکل کار ورته پيش سي نو يو څلوېښت واره دي دغه مبارک نوم ووايي انشاء الله تعالی په اسانۍ به سرته ورسيږي.

که يو څوک په پابندي سره دغه مبارک نوم وايي نو غفلت به يې په هوښياری بدل سي او څوک چي د خوب څخه د پورته کېدو پر وخت دغه مبارک نوم شل واره وايي نو د هغه ټول کارونه به الله تعالی ته راجع سي.

**المقدم** جلاله: دوستانو ته د خپل دربار څخه د عزت په ورکولو سره رامخته کونکی.

**المؤخر** جلاله: دښمنان د خپل لطف او کرم څخه په ليري ساتلو وروسته کونکی.

ددغه دواړو نومو څخه د بنده نصيب دادی چي هغه په نيکۍ کي د پرمختګ په اختيارولو سره خپل ځان مخکي کړي يعني د نورو په مقابله کي خپل ځان غوره جوړ کړي او هغه خلک مخکي کړي کوم چي د الله تعالی د مقربينو څخه دي او نفس او شيطان او هغه خلک چي د الله تعالی د دربار څخه شړل سوي دي شاته وغورځوي او خپل ټول کارونه د ضابطې او قاعدې سره سم سرته ورسوي مثلا مخکي هغه کار وکړي کوم چي تر ټولو زيات ضرورت وي او الله تعالی تر ټولو مقدم کړی وي او تر ټولو وروسته هغه عمل اختيار کړي کوم چي تر ټولو وروسته ضروري وي.

**خاصيت** : که يو څوک د جنګ په مېدان کي دغه مبارک نوم (المقدم جلاله) وايي يا يې په ليکلو سره د ځان سره وساتي نو هغه ته به هيڅ تاوان نه رسيږي او څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وايي نو د هغه نفس به د الله تعالی د اطاعت لپاره فرمانبرداره او مطيع سي.

کوم څوک چي دغه مبارک نوم (المؤخر جلاله) سل واره وايي نو د هغه ټول کارونه به په خير سرته ورسيږي او څوک چي يې يو څلوېښت واره وايي نو د هغه نفس به فرمانبردار سي.

**الاول** جلاله: تر ټولو مخکي، **الاخر** جلاله: تر ټولو وروسته، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي د الله تعالی د عبادت او د هغه د احکامو پر ځای کولو کي تلوار وکړي او د الله تعالی لپاره خپل ځان قربان کړي تر څو حيات ابدي يې په برخه سي.

**خاصیت** : که د یو چا نارینه اولاد نه وي نو دغه مبارک نوم (الاول جل جلاله) دي تر څلوېښت ورځو پوري هره ورځ څلوېښت واره وایي انشاء الله تعالی مراد به یې پوره سي . ځیني حضرات فرمایي که چیري د چا د زوی یا بل حاجت وي نو د څلوېښت جمعو په شپو کي دي هره شپه دغه مبارک نوم زر واره وایي انشاء الله تعالی حاجت به یې پوره سي .
کوم څوک چي د خپل عمر په آخري شیبو کي وي او د هغه ټول ژوند په بدو کارو او ګناهو کي تېر سوی وي نو دغه مبارک نوم (الاخر جل جلاله) دي خپل وظیفه وګرځوي انشاء الله تعالی خاتمه به یې په خیر وي .
**الظاهر** جل جلاله: د خپل مصنوعاتو او مخلوقاتو په اعتبار چي د هغه د کمال صفاتو دلیل دی ښکاره.
**الباطن** جل جلاله: د خپل ذات د حقیقت په لحاظ د وهم او ګمان څخه مخفي.
**خاصیت** : څوک چي د اشراق د لمانځه وروسته دغه مبارک نوم (الظاهر جل جلاله) پنځه سوه واره وایي نو الله تعالی به د هغه سترګي ځلانده او منوري کړي ، او که چیري د طوفان او باد او باران بېره وي نو دغه مبارک نوم دي ډېر وایي انشاء الله تعالی امن او عافیت به تر لاسه کړي ، که یو څوک دغه مبارک نوم د خپل کور پر څلورو دیوالو دم کړي نو د هغه دیوالونه به محفوظ او سلامت پاته سي .
څوک چي هره ورځ (الباطن جل جلاله) درو دېرش ۳۳ واره وایي نو الله تعالی به هغه د اسرارو خاوند جوړ کړي او که یو څوک یې همېشه وایي نو پر چا چي یې نظر سي هغه به یې دوست سي .
**الوالي** جل جلاله: کارساز او مالک، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب هغه دی کوم چي د الوکیل جل جلاله په تفصیل کي تېر سوی دی .
**خاصیت** : که څوک غواړي چي د هغه کور یا د بل چا کور آباد وي او د باران او نورو آفتو څخه خوندي وي نو هغه ته پکار دي چي په کوزه کي (چي اوبه نه وي ور لوېدلي) دغه مبارک نوم ولیکي او په هغه کوزه کي اوبه واچوي او هغه اوبه د کور پر دیوالو توی کړي نو انشاء الله تعالی د هغه کور به محفوظ او سلامت پاته سي .
ځیني حضراتو لیکلي دي چي د دغه مبارک نامه (الوالي جل جلاله) په درې سوه واره ویلو سره هم دغه مقصد تر لاسه کېږي ، او که یو څوک د تسخیر په نیت دغه مبارک نوم یوولس واره ووایي نو هغه سړی به یې مطیع او فرمانبرداره سي .

**المتعالي** ﷻ : د ډیري لوړي مرتبې والا، ددې نامه څخه د بنده نصیب هغه دی کوم چي په (العلي) کي ذکر سو.

**خاصیت** : که چیري یو کس دغه نوم مبارک ډیر وایي نو د هغه چي کوم مشکلات راتلونکي وي هغه ټوله حل کیږي او ځیني حضرات وایي چي کومه ښځه د حمل په ورځو کي دغه نوم مبارک وایي نو هغه د حمل د ټولو تکلیفو څخه به وژغورل سي.

**البر** ﷻ : ډېر احسان کوونکی: ددې نامه څخه د بنده نصیب دادی چي هغه د خپل مور او پلار، استاد، قریبانو او د ټولو متعقلینو سره ښه معامله وکړي.

**خاصیت** : د طوفان، باد او باران او یو بل آفت په وخت کي دغه مبارک نوم ویل پکار دي انشاء الله تعالی د هر ډول تاوان څخه به خوندي وي، که چیري دغه مبارک نوم په اووه واره ویلو سره پر یو کوچني باندي دم کړل سي نو هغه د الله تعالی په امن کي ورکړل سو او هغه کوچنی به تر بالغ کېدو پوري د هر آفت او مصیبت څخه خوندي سي.. ځیني حضرات وایي که یو څوک په شراب څښلو یا زنا کي اخته وي نو هغه دي هره ورځ اووه واره دغه مبارک نوم وایي انشاء الله تعالی د هغه زړه به د دغه ګناهو څخه راوګرځي.

**التواب** ﷻ: توبه قبلونکی، د توبې اصلي معنی رجوع کول یعني ګرځېدل دي، کله چي د دغه لفظ نسبت بنده ته کیږي نو ددې څخه مراد ګناه نه کول دي یعني پر خپله ګناه باندي په شرمنده کېدو سره الله تعالی ته رجوع کول او کله چي د دغه لفظ نسبت الله تعالی ته کیږي نو ددې لفظ څخه مراد دا وي چي د رحمت او توفیق سره ګرځېدل یعني بنده ته د رحمت او توفیق په نظر متوجه کېدل، د دغه تفصیل وروسته په دې پوه سئ چي کله یو بنده په ګناه کي اخته کیږي نو الله تعالی د هغه د توبې اسباب میسر کوي او هغه ته د توبې توفیق ورکوي او هغه د ګناهونو د عواقبو څخه په بېرولو سره د عذاب په خوف ورکولو سره او د آخرت د سزا په احساس ورکولو سره هغه د غفلت د خوب څخه بېداره کوي او د هغه په زړه او شعور کي د خپل جرم احساس او پر ګناه باندي د شرمندګۍ توفیق ورکوي، ددې وروسته هغه بنده په توبې او ندامت سره الله تعالی ته رجوع کوي او بیا الله تعالی په خپل فضل او رحمت سره هغه بنده ته متوجه کیږي یعني هغه بخښي، نو په حقیقت کي د الله تعالی توبه یعني د هغه توجه او د بنده پر توبه یعني د هغه پر رجوع مقدم کیږي که د الله تعالی توجه نه وي نو بنده ته د رجوع کولو نوبت نه سي رسیدلای ځکه ویل سوي دي چي : تاب علیهم لیتوبوا : الله تعالی هغوئ ته متوجه سو چي هغوئ هغه ته رجوع وکړي یعني توبه وکاږي، شعر: توبه کنم بشکنم توبه دهي نکشنم.

ځکه نو بنده ته پکار دي چې همېشه د الله تعالی د رحمت امید ولري د توبې د قبولیت امید ولري د ناامیدی دروازه بنده کړي په دې توګه چې د رحمت د نازلېدو څخه ناامیده نه سي د نورو خطاوي معافوي او که د یو چا څخه څه کوتاهي وسي نو نه یوازي دا چې هغه معاف کړي بلکه په انعام او اکرام سره هغه ته متوجه سي د الله تعالی څخه توبه طلب کړي پر ګناهو باندي شرمنده او پښیمانه سي د عبرت غوږونه خلاص ولري او په توبه کي تاخیر ونه کړي تر څو دغه حکم : عجلوا التوبة قبل الموت- د مرګ څخه مخکي په توبه کي تلوار وکړئ، پر ځای راورل سي.

دلته یو د عبرت څخه ډک حکایت واورئ، ویل کېږي چې د یو پاچاهی وزیر وو چې د هغه نوم عیسی ابن عیسی وو، یوه ورځ هغه د سپرو د یو ډلي سره روان وو لکه څرنګه چې په عامه توګه کېږي خلکو په خپلو کي پوښتني کولې چې دا څوک دی ؟ دا څوک دی؟ په لاره کي یو سپین سرې هم ناسته وه هغې چې خلک په پوښتني کولو ولیدل چې خلک یو د بل پوښتني کوي چې دا څوک دی؟ او دا څوک دی؟ دا یو بنده چې د حق څخه لویدلی دی او په دې حالت کي اخته دی (یعني د دنیا په شان او شوکت سره مطمئن او بوخت دی)، عیسی ابن عیسی دا خبره واورېدل نو سمدستي خپل ځای ته راغلی او وزارت یې پرېښودی او د توبې په دولت سره مشرف سو همدارنګه د دنیا ټول شان او شوکت یې ترشا کړی او په مکه مکرکه کي مقیم سو او هلته یې هستوګنه کول.

**خاصیت** : که یو څوک د څاښت د لمانځه وروسته درې سوه شپیته واره دغه مبارک نوم وایي نو الله تعالی به هغه په توبه نصوح (یعني داسي پخې توبې چې د هغه وروسته ګناه نه وي) ونازوي ، او که یو څوک دغه مبارک نوم ډېر وایي نو د هغه ټول کارونه به په خیر او خیریت تر لاسه سي او نفس به د اطاعت او عبادت څخه پرته سکون او کراري تر لاسه کړي ، کوم څوک چې د څاښت د لمانځه وروسته دغه کلمې وایي : اللهم اغفرلي وتب علي انک انت التواب الرحیم. نو الله تعالی به د هغه ګناهونه معاف کړي.

**المنتقم** جل جلاله : د کافرانو او سرکښانو څخه د عذاب په ذریعه بدله اخیستونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دا دی چې هغه د خپلو دښمنانو څخه چې نفس او شیطان دی بدله واخلي او تر ټولو لوی دښمن نفس دی او د هغه سزا داده چې کله هم په یو ګناه کي اخته سي یا په عبادت کي کوتاهي وکړي نو د هغه څخه بدله واخلي، په دې توګه چې هغه په عقوبت او سختۍ کي اخته کړي ، د بایزید بسطامي رحمه الله په باره کي نقل سوي دي چې هغه وفرمایل: زه د شپې

په اورادو او وظيفه کي بوخت وم چي يوه شپه زما نفس سستي وکړه نو ما هغه ته دا سزا ورکړه چي تر يو کال پوري مي نفس د اوبو څخه محروم کړی .

**خاصيت** : که يو څوک د خپل دښمن پر ظلم باندي صبر او د هغه څخه دفاع نه سي کولای نو هغه دي تر درو جمعو پوري دغه مبارک نوم په پابندۍ سره وايي انشاء الله تعالی د هغه دښمن به دوست سي او د هغه د ظلم څخه به خلاصون تر لاسه کړي .

که د يو مقصد د تر لاسه کېدو لپاره د هغه مقصد په نيت دغه مبارک نوم په نيمه شپه کي وويل سي نو انشاء الله تعالی مقصد به يې تر لاسه سي .

په يو بل روايت کي د يو صحابي څخه منقول دي چي په هغه کي د الله تعالی يو مبارک نوم (المنعم جل جلاله) هم نقل سوی دی کوم څوک چي پر دغه نامه باندي همېشتوب کوي نو هيڅکله به د چا محتاج نه سي .

**العفو** جل جلاله : د ګناهونو او کوتاهيو څخه عفوه کونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب هغه دی کوم چي د الغفور جل جلاله په تفصيل کي تېر سوی دی، شيخ عبدالحق رحمة الله عليه د اسماء الحسنی په تشريح کي ليکي چي د العفو معنی د سيئاتو محوه کونکی (يعني د ګناهونو ختمونکی) او ګناهونه معاف کونکی، که څه هم د معنی او مفهوم په اعتبار د غفور سره سم دی مګر عفو تر غفور زيات بليغ دی، ځکه د غفران معنی ده ستر او کتمان او د غفار معنی به دا سي چي ګناهونه پټونکی او حال دا چي د عفو مطلب دادی چي د ګناهونو په کولو سره ختم کونکی، که بنده هر څو مره ګناه کاروي نو د الله تعالی د شان عفو سره سم د هغه له خوا د معافۍ او بخښني امېد لرونکی سي، ځکه ويل کيږي چي په هيڅ ګناه سره دي د تحقير او تذليل سلوک نه کيږي ځکه دا ليري خبره نه ده چي الله تعالی هغه د شريعت د حدود او د دين د احکامو د پابندۍ په وجه وبخښي او د هغه ګناهونه معاف کړي .

رد مکـن بدرا چه داني در ازل — نام او در نامه نيکان بود
ور رود برجای نيکان اين ګمان — بر تو روز جزا تاوان بود

ددغه مبارک نامه د بنده څخه تقاضا داده چي د خلکو کوتاهی او خطاوي معاف کړي تر څو د الکاظمين الغيظ والعافين عن الناس په ډله کي داخل سي .

**خاصيت** : که يو څوک ډېر ګناه کاروي نو هغه ته پکار ده چي دغه مبارک نوم خپل وظيفه وګرځوي انشاء الله تعالی ټول ګناهونه به يې معاف سي .

**الرؤف** جل جلاله : ډېر مهربان، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب هغه دی کوم چي د الرحيم په

تفصیل کي تېر سوی دی، ویل کېږي چي د یو چا همسایه ډېر خراب وو کله چي هغه مړ سو نو د هغه د جنازې لمونځ یې ادا نه کړ، وروسته هغه یو چا په خوب کي ولیدی او پوښتنه یې ځیني وکړه چي الله تعالی ستا سره څه چلن وکړ؟ هغه وویل زه الله تعالی و بخښلم مګر هغه سړي ته چي زما د جنازې لمونځ یې ادا نه کړی دا خامخا وو ایه چي: لو انتم تملکون خزائن رحمت ربي اذا لا مسکتم خشیه الانفاق، که زما د رب د رحمتونو خزانې ستا په ملک کي وای نو تا به هغه د مصرف کېدو د بیري خامخا پټې کړي وای، یعني دا د هغه د جنازې پر نه کولو باندي طعنه وه چي زما رب خو ډېر مهربان دی هغه زه وبخښلم که ستا وس وای نو معلومه نه وه چي زما سره به دي څه چلن کړی وای.

**خاصیت**: که څوک غواړي چي یو مظلوم د ظالم څخه وساتي نو هغه دي دغه مبارک نوم لس واره وو ایي نو ظالم به د هغه شفارش قبول کړي او د خپل ظلم څخه به منع سي، که یو څوک پر دغه مبارک نامه باندي همېشتوب کوي نو د هغه زړه به نرم سي او ټول به د هغه دوستان سي.

**مالک الملک** ﷻ: د ټول جهان مالک، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب هغه دی کوم چي د الملک ﷻ په تفصیل کي تېر سوی دی.

شاذلي رحمة الله علیه فرمایي چي اې انسانه! پر یوه دروازه باندي ودرېږي یعني یوازي د الله تعالی دروازې ته راسه چي ستا لپاره ډېري دروازې خلاصي سي او یوازي د یوه پاچا یعني الله تعالی په حضور کي خپل غاړه کښته کړه چي ستا په مخکي ډېري غاړي کښته سي، د الله تعالی ارشاد دی: وان من شئ الا عندنا خزائنه، داسي هیڅ شی نه سته چي د هغه زموږ سره خزانې نه وي.

**خاصیت**: کوم څوک چي پر دغه نامه باندي همېشتوب وکړي نو شتمن به سي او د هغه د دنیا او آخرت ټول کارونه او نېک مقصدونه به په خیر سي، ددې وروسته د ذوالجلال والاکرام ﷻ هم دغه خاصیت دی.

**ذوالجلال والاکرام** ﷻ: د بزرګۍ او بخښني خاوند، چا چي د الله تعالی جلال و پېژندی نو د هغه په دربار کي دي تامل اختیار کړي او چا چي د هغه اکرام و پېژندی نو د هغه شکر ګزار دي سي نه خو دي د غیر الله پیروي کوي او نه دي د الله تعالی څخه پرته بل چا ته خپل حاجت بیانوي، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب دادی چي د خپل ذات او خپل نفس لپاره دي د بزرګۍ د تر لاسه کولو هڅه وکړي او د الله تعالی د بندګانو سره ښه چلن وکړي.

**المقسط** ﷻ: عدل کونکی، ددغه مبارک نامه څخه د بنده نصیب هغه دی کوم چي د العدل ﷻ په تفصیل کي بیان سوی دی.

**خاصيت** : څوک چي د غه مبارک نوم سل واره ووايي نو هغه به د شيطان د شر او وسوسې څخه خوندي وي او که يو څوک يې اووه سوه ۷۰۰ واره ووايي نو د هغه چي هر څه مقصد وي تر سره به سي .

**الجامع** جل جلاله : په قيامت کي د خلکو جمع کونکی، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي هغه د علم په تر لاسه کولو او په هغه باندي عمل کولو ، د نفساني او جسماني کمالاتو جامع جوړ سي او د الله تعالی په ذات کي محويت، استغراق او د الله تعالی د ذکر په ذريعه د زړه تسکين او د الله تعالی د صفاتو په ډول د صفات حميدي په سعادتونو ځان منور کړي .

در جمعيت کوش تا همه ذات شوي ترسم که پراگنده شوي مات شوي

**خاصيت** : د چا چي قريبان منتشر او پاشل سوي وي نو هغه دي د څاښت په وخت کي غسل وکړي او آسمان ته دي مخ پورته کړي او دغه مبارک نوم دي لس واره ووايي چي په هر وار ويلو سره يوه يوه گوته بندوي بيا دي ددې وروسته خپل دواړه لاسونه پر مخ راتېر کړي انشاء الله تعالی په لږ وخت کي به هغوئ ټول سره يو ځای سي .

**الغني** جل جلاله : د هر شي څخه بې پروا .

**خاصيت** : کوم څوک چي د حرص او طمع په مرض اخته وي نو هغه دي د خپل بدن پر هر اندام باندي په لاس اېښودو سره دغه مبارک نوم وايي او لاس دي د هغه اندام د لوړي څخه لاندي ته راولي نو انشاء الله تعالی خلاصون به تر لاسه کړي او څوک چي دغه مبارک نوم هره ورځ اويا واره وايي نو د هغه په مال کي به برکت وي او هيڅکله به محتاج نه سي .

**المغني** جل جلاله : چا ته چي وغواړي د هغه بې پروا کونکی، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي د الله تعالی پرته د نور هر چا څخه استغناء او بې پرواهي وکړي او د الله تعالی څخه پرته هيڅوک حاجت پوره کونکی ونه گڼي .

**خاصيت** : څوک چي پرله پسې تر لسو جمعو پوري دغه مبارک نوم په پابندي سره وايي په دې توگه چي د هري جمعې په ورځ يې زر واره وايي نو د مخلوق څخه به بې پروا سي .

**المانع** جل جلاله : خپل بندگان د دين او دنيا د هلاکت او تاوان څخه منع کونکی، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دادی چي خپل نفس او طبيعت د نفساني خواهشاتو څخه په منع کولو سره خپل ځان د ديني او دنيوي هلاکت او تاوان څخه وساتي .

**خاصيت** : که د ښځي او خاوند په مينځ کي تعلقات خراب وي نو بسترې د تلو پر وخت دي دغه مبارک نوم شل واره ووايي الله تعالی به يې د غصې او تعلقاتو د خرابۍ څخه وساتي .

شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د اسماء حسنی په تشریح کي د المانع جل جلاله څخه مخکي المعطي جل جلاله هم نقل کړی دی او هغه دغه دواړو نومو معناوي او وضاحت داسي کړی دی چي چا ته وغواړي ورکوي يې او چا ته چي نه وغواړي نه يې ورکوي، لا مانع لما اعطی ولا معطي لما منع، يوه سئ چا ته چي هغه ورکول وغواړي نو هيڅوک يې منع کولای نه سي او چا ته چي يې نه ورکوي نو هغه ته هيڅوک ورکونکی نه سته، کله چي بنده په دې پوه سي چي الله تعالی ورکونکی او منع کونکی دی نو د هغه د ورکړي اميدلرونکی دي سي او د هغه د منع څخه دي وبيريږي، پر بنده د دغه مبارک نامه تقاضا داده چي هغه د الله تعالی نيک بندګان او اړ کسان په خپل ورکړي سره ونازوي او فاسقانو او ظالمانو ته د ورکولو څخه منع سي، يا دا چي خپل زړه او روح ته د حضور او اطاعت انوار ورکړي او خپل نفس او طبيعت ته د خواهشاتو د هوس څخه منع کړي، د ابوهريره رضي الله عنه په روايت کي چي دلته ذکر سوي دي د المعطي ذکر نه دی راغلی، د ابو هريره رضي الله عنه د دغه روايت سره سم د منع وضاحت د رد او هلاکت کيږي.

دد ې وروسته حضرت شيخ رحمه الله د دغه نامه (المعطي جل جلاله) خاصيت دا ليکلی دی چي کوم څوک د دغه مبارک نوم خپل وظيفه وګرځوي او يا معطي السائلين ډېر ډېر وايي نو د چا څخه د سوال کولو به نه محتاج کيږي.

**الضار** جل جلاله: چا ته چي وغواړي ضرر رسونکی.

**النافع** جل جلاله: چا ته چي و غواړي ګټه رسونکی.

قشيري رحمه الله وايي چي په دغه مبارکو نومو کي دې ته اشاره ده چي تاوان او ګټه او هر شی د الله تعالی په قضا او قدر سره دی کوم څوک چي د هغه د حکم يعني د هغه د قضا او قدر تابعدار سو نو هغه به د راحت او سکون ژوند تر لاسه کړي او کوم څوک چي د هغه تابعدار نه سو نو هغه به په آفت او مصيبت کي ولويږي، الله تعالی فرمايي:

من استسلم لقضائي وصبر علی بلائي وشکر علی نعمائي کان عبدي حقا ومن لم يستسلم لقضائي ولم يصبر علی بلائي ولم يشکر علی نعمائي فليطلب ربا سوائي.

ژباړه: چا چي زما قضا او قدر تسليم کړ زما پر مصيبت يې صبر وکړ او زما پر نعمتونو يې شکر ادا کړ هغه زما ريښتونی بنده دی او چا چي زما قضا او قدر تسليم نه کړ زما پر بلا يې صبر ونه کړ او زما د نعمتونو شکر يې ادا نه کړ نو هغه دي زما څخه پرته بل رب ولټوي.

حضرت شيخ رحمه الله د اسماء حسنی په تشريح کي د دغه مبارکو نومانو په تفصيل کي ليکلي دي چي د خير او شر، ګټي او تاوان يوازي الله تعالی مالک دی او د ګرمی، يخ، درد،

تکلیف، ناروغی او پریشاني او شفاء ورکونکی هغه دی دا گمان دي هیڅکله نه کیږي چي دواء په خپله فائده رسوي او زهر په خپله څوک هلاکوي خوراک په خپله څوک مړوي او اوبه په خپله څوک اوبه کوي بلکه دا ټول اسباب عادي دي په دې معنی چي دا عادت قائم دی چي الله تعالی دغه اسباب جوړ کړي دي کوم چي پورتني ذکر سوي شیان د هغه په واسطه سره پیدا کیږي که هغه وغواړي نو دغه شیان د دغه واسطو و اسبابو څخه پرته هم پیدا کولای سي او که وغواړي نو ددې سربېره چي دغه شیان پیدا نه کړي همداسي د عالم علویات او سفلیات ټول شیان او ټول اجزاء محضي د واسطې او اسبابو په درجه کي دي چي د الله تعالی د قدرت کامله په اثر کي دي او دغه ټولو شیانو په نسبت د قدرت اذلیه هغه دی کوم چي د لیکونکي په لاس کي د قلم وي نو بنده ته پکار دي چي ټول تاوانونه او ټولي فائدې د الله تعالی د حکم او قضاء فیصلې وگڼي عالم اسباب د هغه د قدرت اثر وگڼي او د حکم او قضاء په تابعدار کېدو سره خپل ټول کارونه هغه ته وسپاري چي د یو داسي ژوند حامل سي چي د مخلوق څخه محفوظ او مطمئن وي.

نقل سوي دي چي حضرت موسی علیه السلام د غاښو د درد څخه په پریشانه کېدو سره د الله تعالی په دربار کي فریاد وکړ نو د هغه ځایه حکم وسو چي فلاني واښه په غاښو پوري ومږه چي ارام درته حاصل سي، موسی علیه السلام هغه واښه په غاښو پوري ومږل نو آرام یې تر لاسه کړ، څه وخت وروسته یې بیا په یو غاښ کي درد پیدا سو نو هغه بیا هغه واښه استعمال کړل دا وار درد کمېدل خو پرېږدي بلکه نور هم زیات سو، د الله تعالی په دربار کي یې عرض وکړ چي اې الله! دا خو هغه واښه دي د کوم چي د استعمال تا ما ته حکم کړی وو مگر اوس د هغه په استعمال سره درد نور هم زیات سوی دی، د الله تعالی له خوا په عتاب سره ارشاد وسو چي هغه وار تا موږ ته توجه کړې وه او موږ شفاء درکړه او دا واړ تا واښو ته توجه وکړه ځکه موږ درد اضافه کړی چي ته په دې پوه سې چي شفاء ورکونکی خو موږ یو نه واښه.

پر بنده باندي د دغه مبارکو نومانو تقاضا داده چي د امر الهي او حکم شریعت په ذریعه د دین دښمنانو ته ضرر ورسوي او هغوئ متنبه کړي او د الله تعالی بندگانو ته گټه ورسوي او د هغوئ مرسته وکړي.

**خاصیت**: که یو چا ته یو حال او مقام حاصل وي نو هغه دي دغه مبارک نوم (الضار) د جمعې په شپه سل واره وایي نو الله تعالی به یې پر هغه مقام مستقیم کړي او هغه به د اهل قرب مرتبې ته ورسیږي، که یو څوک په کښتۍ کي سفر کوي نو هغه دي هره ورځ النافع جل جلاله یو ویشت واره

وايي انشاء الله تعالی هيڅ تاوان به ورته ونه رسيږي او د خپل هر کار په پيل کي دي النافع ﷻ يو څلو ښنت واره وايي نو د هغه ټول کار به د هغه د غوښتني سره سم سرته ورسيږي .

**النور** ﷻ: آسمان په ستورو سره، مځکه په انبياؤ او علماؤ سره او د مسلمانانو زړونه د معرفت او طاعت د نور په ذريعه روښانه کونکی، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دا د يچي هغه د ايمان او عرفان په نور سره خپل ذات روښانه او منور کړي .

**خاصيت** : کوم څوک چي د جمعې په شپه سورة نور اووه واره او دغه مبارک نوم زر واره وايي نو الله تعالی به د هغه په زړه کي نورانيت پيدا کړي .

**الهادي** ﷻ: لار ښوونکی، هدايت کونکی، د دغه مبارک نامه څخه د بنده نصيب دا دی چي هغه د الله تعالی بندګانو ته د الله تعالی لار وښيي او دا خبره حضرت شيخ رحمة الله عليه د اسماء حسنی په تشريح کي په وضاحت سره داسي بيان کړې ده چي د هدايت مطلب لار ښودل او منزل مقصود ته رسول دي، الله تعالی د ټولو کائناتو رهنما دی که څوک د دنيا پر لاره وي بيا هم رهنما دی او که څوک د آخرت پر لاره ځي نو بيا هم د هغه رهبر د هغه ذات الهي دی .

ګر نه چراغ لطف تو راه نمايد از کرم قافلهای شب روان پي نبرد بمنزلی

خلاصه دا چي د الله تعالی د هدايت د انواعو حد او شمېر نه سته ، الذي اعطی کل شئ خلقه ثم هدی، هغه داسي ذات دی چي هر شي ته يې وجود ورکړ او بيا يې د هغه لار ښوونه وکړه، نو دا الله تعالی دی چي کوچني ته د نس څخه راوتلو سره د مور د تيانو څخه د شېدو څښلو لاره ښيي ، چيچي ته د هګۍ څخه د راوتلو او د دانې چڼ کولو لاره ښيي او د شاتو مچۍ ته د عجيب او غريب کور جوړولو لاره ښيي ، خلاصه دا چي د کائناتو يو يو فرد په خپله يوه يوه لمحه او خپل يو يو فعل کي د هغه د رهنمائي محتاج او احسان مند دی .

مګر تر ټولو افضل او عظيم الشان هدايت هغه لار ښودل دي چي الله تعالی ته او د هغه ديدار ته يې ورسوي او د خواص په باطن کي د توفيق الهي او اسرار تحقيق هغه نور پيدا کوي چي د هدايت معرفت او د طاعت سبب جوړيږي .

په بندګانو کي د دغه مبارک نوم (الهادي ﷻ) څخه تر ټولو زيات برخمن انبياء ، اولياء او علماء دي چي د الله تعالی مخلوق ته د صراط مستقيم لار ښوونکي دي ، سيد الانبياء او ختم رسل سردار دو عالم ﷺ د دغه مبارک نامه حقيقي عکس دی چي په دغه دنيا کي د پوره انسانيت او پوره کائناتو تر ټولو لوی او تر ټولو لوړ مرتبه لار ښوونکی او رهبر دی .

اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين .

ذوالنون مصري رحمه الله فرمايي چي درې شيان داسي دي چي هغه د عارفينو په صفات عاليه کي شمېرل کيږي ۱: د غمجنو خلکو پراخي او فرحت ته راوستل، ۲: غافلينو ته د الله تعالى نعمتونه ور په يادول، ۳: د توحيد په ژبه سره مسلمانانو ته د حق لاره ښودل يعني د هغوئ زړه د دنيا د توجه څخه دين ته او د معاش څخه معاد ته گرځول دي.

**خاصيت**: کوم څوک چي خپل لاس او مخ آسمان ته پورته کړي او دغه مبارک نوم ډېر ډېر وايي او بيا لاسونه پر خپل سترگو او مخ باندي را تېر کړي نو الله تعالى به هغه ته د اهل معرفت مرتبه ورکړي.

**البديع** جل جلاله: عالم بېله د مثال څخه پيدا کونکى، ځيني حضرات فرمايي کوم څوک چي په قول او فعل کي پر خپل نفس باندي حاکم جوړوي هغه د حکمت خبري کوي يعني د هغه ذهن د هغه فکر د هغه ژبه د حکمت او شريعت په غالب کي ځاى کيږي او کوم څوک چي په قول او فعل کي پر خپل نفس باندي خواهش امير جوړوي هغه د بدعت خبري کوي يعني د هغه ذهن، د هغه فکر او د هغه ژبه په بدعت کي وي.

قشيري رحمه الله فرمايي چي زموږ د مذهب درې اصول دي: ۱: په اخلاقو او افعالو کي، په خوراک او څښاک کي چي حلال وي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم پيروي کول، ۲: همېشه رښتيا ويل، ۳: په ټولو اعمالو کي نيت خاصول، او دا يې هم فرمايلي دي چي کوم څوک د بدعتي په باره کي نرمي کوي نو الله تعالى د هغه د اعمالو څخه د سنت خوږوالى ليري کوي او کوم څوک چي د بدعتي په لېدو سره خاندي يعني د بدعتي سره د عزت او احترام معامله کوي نو الله تعالى د هغه د زړه څخه د ايمان نور سلبوي.

**خاصيت**: که يو څوک غمجن وي يا يو مشکل کار ورته مخ وي نو هغه دي يا بديع السموات والارض اويا زره واره او د يوه قول سره سم زر واره وايي انشاء الله غم به يې ليري سي او د هغه کار به پوره سي او که يو څوک اودس تازه کړي مخ پر قبله کېدو سره دغه مبارک نوم دومره وايي چي خوب ورسي نو د کوم شي د ليدو چي خواهش لري په خوب کي به يې ويني.

**الباقي** جل جلاله: همېشه باقي پاته کېدونکى.

**خاصيت**: څوک چي دغه مبارک نوم د جمعې په شپه سل واره وايي نو د هغه ټول نيک اعمال به قبول سي او هيڅ ناروغي او غم به يې نه په تکليف کوي.

**الوارث** جل جلاله: د کائناتو د فنا کېدو وروسته باقي پاته کېدونکى او د ټولو مخلوقاتو مالک، لکه څرنگه چي وښودل سوه چي د وارث څخه مراد دادى چي د موجوداتو د فنا کېدو وروسته

پاته چي ټول املاک د خپلو مالکانو د فنا کېدو وروسته به هغه ته رجوع کوي مگر دا مطلب د وارث د ظاهري مفهوم په اعتبار دی کنه نو په حقیقت کي خو د کائناتو د یوه یوه شي علی الاطلاق د ازل څخه تر ابده پوري په ملکیت کي پرته د څه تبدیلۍ او تغیر هغه مالک دی، ټول ملک او ملکوت بېله شرکته د بل د هغه لپاره دي او هغه د ټولو حقیقي مالک دی نو د بصیرت خاوندان دي همېشه دغه نداء: لمن الملک الیوم لله الواحد القهار، د هوش په غوږو سره اوري.

بنده ته پکار دي چي هغه د خپل مال او میراث په فکر کي نه ورسیږي بلکه په دې خبره دي پوه سي چي دا ټول په پرېښودو سره د دنیا څخه ځي ځکه ویل سوي دي چي: موتوا قبل ان تموتوا، د عارفانو شعار دی: دل برین منزل فاني چه نهي رخت به بند.

پر بنده باندي د دغه نامه تقاضا داده چي په دغه اعمالو کي خپل ژوند صرف کړي کوم چي د باقیات صالحات څخه دي لکه تعلیم او تعلم، صدقه جاریه او داسي نور او ددین علوم او معارف په پوره سعي او هڅه سره زیات تر لاسه کړي چي په صحیح معنی کي د انبیاؤ وارث وګرځي.

**خاصیت**: کوم څوک چي د لمر ختلو په وخت کي دغه مبارک نوم سل واره وایي نو هغه ته به هیڅ غم او تکلیف نه رسیږي او کوم څوک چي دغه مبارک نوم ډېر وایي نو د هغه ټول کارونه به په ښه توګه سرته ورسیږي.

**الرشید** ﷻ: د عالَم لارښوونکی، ځیني حضرات فرمایي خپل بنده ته د الله تعالی لارښوول دادي چي هغه د هغه نفس ته د خپل اطاعت او عبادت لار وښیي ددې علامه داده چي الله تعالی د هغه په ټولو کارو کي توکل او تفویض الهام فرمایي.

نقل سوي دي چي یوه ورځ ابراهیم بن ادهم رحمۃ اللہ علیہ وږی سو نو هغه یو سړي ته یو شی ورکړی چي د هغه سره موجود وو او هغه ته یې وویل چي دا د ځان سره کښېږده د خوراک انتظام وکړه هغه سړی چي د هغه شي سره د هغه ځای څخه ووتی نو ناڅاپه یو بل سړی ورسره یو ځای سو چي د یو غاتري سره روان وو او پر هغه غاتري باندي څلوېښت زره دیناره وه، ده د هغه سړي څخه د ابراهیم ابن ادهم رحمۃ اللہ علیہ په باره کي پوښتنه وکړه او ورته یې وویل چي دا څلوېښت زره دیناره د ابراهیم میراث دی چي هغه ته د هغه د پلار د مال څخه رسیدلی دی، زه د هغه غلام یم د میراث دغه مال مي د هغه په خدمت کي راوړی دی، ددې وروسته هغه سړي ابراهیم ته ورسیدی او څلوېښت زره دیناره یې هغه ته حواله کړه هغه ورته وویل که رښتیا وایې چي ته زما غلام یې او دا مال هم زما دی نو زه تا د الله تعالی د رضا لپاره ازادوم او دا څلوېښت زره دیناره

هم د ربخښنم بس او س ته زما څخه ولاړ سه، کله چي هغه سړی د هغه ځای څخه ولاړی نو ابراهیم وویل : اې پروردګاره ! ما خو ستا په مخکي یوازي د دوه د خواهش اظهار کړی وو چي تا ما ته دومره دینار راکړه نو قسم دی ستا په ذات او س که ته ما د لوړي څخه وژنې نو ستا څخه به هیڅ نه وغواړم.

**خاصیت** : که یو څوک د خپل یو کار په باره کي یو فیصله کولای نه سي نو هغه دي د ماخستن د لمانځه او د خوب په مینځ کي دغه مبارک نوم زر واره ووایي په هغه کار کي چي کومه صحیح او کټوره خبره وي نو پر هغه به څرګنده سي او څوک چي دغه مبارک نوم همېشه وایي نو د هغه ټول کارونه به بېله هڅي او کوښښه پوره کیږي .

**الصبور** ﷻ : بردبار چي ګناه کارو ته په عذاب ورکولو کي تلوار نه کوي، په لغت کي د صبر معنی ده تامل کول او صبور هغه چي د ګناه کار په نېولو او هغوئ ته په سزا ورکولو کي تلوار نه کوي، صبور د معنی او مفهوم په اعتبار حلیم ته نژدې دی مګر په دواړو کي فرق دادی چي صبور ددې خبري مشعر دادی چي که څه هم في الوقت بردباري وکړي مګر په آخرت کي به نیسي او عذاب ورکوي، کله چي حلیم د بردبارۍ په مفهوم کي مطلق دی ، ځیني حضرات وایي چي د صبور معنی ده بنده ته د هغه مصیبت او بلاء کي صبر ورکونکی ، د شهواتو او خواهشاتو پر مخالفت کولو باندي صبر ورکونکی او د عبادت په ادا کولو کي پر مشقت باندي صبر ورکونکی هغه الله تعالی دی ، ځکه هر بنده ته پکار دي چي هغه په هر مصیبت او آفت کي د الله تعالی څخه صبر وغواړي او د هغه د نافرمانۍ څخه لیري اوسي او د دغه مبارک نامه څخه د بنده تقاضا داده چي هغه په یو کار کي تلوار ونه کړي بلکه وقار، طمانیت او تمکین اختیار کړي او د هر تکلیف او مصیبت څخه د الله تعالی پناه طلب کړي، ربنا افرغ علینا صبرا وثبت اقدامنا وانصرنا علی القوم الکافرین، یا ایها الذین آمنوا اصبروا و صابروا ورابطوا واتقوا الله لعلکم تفلحون .

په مشائخو کي د یو چا دا مقوله څومره عارفانه ده چي د صبر جام و څیښنه که ووژل سې نو شهید به سې او که ژوندی پاته سې نو سعید به بلل کیږي .

**خاصیت** : که یو څوک په مصیبت، ناروغۍ او تکلیف کي اخته وي نو دغه مبارک نوم دي درې دېرش واره وایي انشاء الله تعالی اطمینان به تر لاسه کړي .

د دښمنانو د ژبي بندولو او ماتولو او د حاکمانو د راضي کولو او د خلکو په زړو کي د مقبولیت لپاره دي په نیمه شپه کي یا د غرمې پر وخت دغه مبارک نوم په پابندي سره ووایي .

په مشکوة شریف کي د ابو هریره رضي الله عنه په روایت کي چي د الله تعالی کوم نهه نیوي نومونه منقول دي د هغو وضاحت ختم سو ، ملا علي قاري رحمه الله فرمایي چي په قرآن کریم او حدیثو کي د دغه نومو څخه پرته یو څو نور نومونه هم منقول دي چي په قرآن کریم کي دغه نومونه هم راغلي دي :
الرب ، الاکرام، الاعلی، الحافظ، الخالق، السائر، الستار، الشاکر، العادل، العلام، الغالب، الناظر، الفالق، القدیر ، القریب، القاهر، الکفیل، الکافي، المنیر، المحیط، الملک، المولی، النصیر، احکم الحاکمین، ارحم الراحمین، احسن الخالقین، ذو الفضل، ذو الطول، ذوالقوة، ذوالمعارج، ذوالعرش، رفیع الدرجات، قابل التواب، الفعال لما یرید، مخرج المحي من المیت.
او په حدیثو کي دغه نومونه هم راغلي دي :
الحنان، المنان، المغیث، او دده څخه پرته نور نومونه په کتابو کي مثلا په تورات وغیره کي نور هم یو څو نومونه نقل سوي دي .

## اسم اعظم

﴿۲۱۸۱﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُوْلُ

د حضرت بریدة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د یو سړي څخه دا دعا کول واوریدل :

اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ أَنْتَ اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ

(اې الله زه ستا څخه غواړم په دې وسیلې سره چي ته اې الله ! ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او ته یوازي او بې پروایې نه ته د چا څخه پیدا یې

وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ فَقَالَ دَعَا اللّٰهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى واذا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

او نه تا څوک زیږولي دي، او نه څوک د هغه سیال سته) د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : دغه سړي په اسم اعظم سره دعاء غوښتې ده هغه اسم اعظم دی چي د هغه په ذریعه څه وغوښتل سي او کله دعاء وکړل سي نو هغه قبلیږي . ترمذي او ابوداؤد .

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\۴۸۱، رقم: ۳۴۷۵، وابوداود في السنن ۲\۱۶۶، رقم: ۱۴۹۳.

**تشریح**: صحیح خبره خو داده چي اسم اعظم د الله تعالی مبارکو نومو کي پټ دی او په تعین سره هیچا ته د هغه علم نه سته لکه لیلة القدر ، مګر جمهور علماء وایي چي اسم اعظم لفظ د الله

ﷻ دی او د قطب رباني سيد عبدالقادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ په قول په دې شرط چې په ژبه سره كله لفظ د الله ادا سي نو په زړه كي هم د الله ﷻ څخه پرته بل څه نه وي يعني د دغه مبارک نوم تاثير هغه وخت وي كله چي د الله ﷻ د يادولو پر وخت زړه د غير الله څخه بالكل خالي وي.

د اسم اعظم په اړه د علماؤ نور قولونه هم سته چي د باب په پای كي نقل كيږي چي علماؤ په خپل رايه او تحقيق سره اسم عظم ورته ويلي دي.

علماء كرامو په سوال او دعاء كي دا فرق نقل كړی دی چي د سوال معنی ده طلب كول لكه چي وويل سي: اللهم اعطني، اې الله! ما ته فلانی شی راكړې، او ددې په جواب كي د الله تعالی وركول وي او ددعاء معنی ده بلل لكه چي وويل سي يا الله! او ددې په جواب كي د الله تعالی له خوا اجابت يعني قبلول وي لكه چي د الله تعالی د بنده په بللو وفرمايي: لبيک عبدي.

﴿۲۱۸۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم په

الْمَسْجِدِ وَرَجُلٌ يُصَلِّيْ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ بِاَنَّ لَكَ الْحَمْدُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ

مسجد كي او يو سړي لمونځ كوی او دلمانځه وروسته يې دا دعاء وغوښتل: اې الله زه ستا څخه سوال كوم په دې وسيلې سره چي هر ډول تعريف تا لره دئ، ستا څخه پرته هيڅوک د عبادت وړ نسته ته

الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ بَدِيعُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ يَا حَيُّ يَا

ډير مهرباني او احسان كونكی يې او د آسمانو او مځكي پيدا كونكی يې، اې د بخښني او بزرگي خاونده، اې ژونديه اې

قَيُّوْمُ اَسْئَلُكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ دَعَا اللّٰهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ

خبر اخيستونكې، زه ستا څخه غواړم، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: دې سړي د الله ﷻ څخه په اسم اعظم سره دعاء غوښتي ده هغه اسم اعظم چي د هغه په ذريعه دعاء وسي

أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطٰى. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة.

نو قبوله سي او كه څه وغوښتل سي نو هغه وركړل سي. ترمذي، ابو داؤد، نسائي او ابن ماجة.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۵۱۴، رقم: ۳۵۴۴، وابوداود في السنن ۲\ ۱۶۷، رقم: ۱۴۹۵، والنسائي ۳\ ۵۲، رقم: ۱۳۰۰، وابن ماجه ۲\ ۱۲۶۸، رقم: ۳۸۵۸.

﴿۲۱۸۳﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْمُ

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللّٰهِ الْأَعْظَمُ فِي هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ { وَإِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ

اسم اعظم په دغه دوو آياتو كي دئ: { وَإِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَاحِدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ }،

الرَّحِيمُ } وَفَاتِحَةِ آلِ عِمْرَانَ { الم اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ }. رواه

الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي.

او د سورة آل عمران په پيل كي يعني: دغه آيت: { الم اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ }، ترمذي، ابوداؤد ابن ماجه او دارمي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۸۳، رقم: ۳۴۷۸، وابوداود في السنن ۲\ ۱۶۸، رقم: ۱۴۹۶ وابن ماجه ۲\ ۱۲۶۷، رقم: ۳۸۵۵.

## د يونس عليه السلام د دعاء بركت او تاثير

﴿۲۱۸۴﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْوَةُ ذِي

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

النُّونِ إِذْ دَعَا ربه وَهُوَ فِي بَطْنِ الْحُوتِ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ

د حضرت يونس عليه السلام هغه دعاء چي د ماهي په نس كي يې د خپل پروردګار څخه غوښتې وه داده: لااله....من الظالمين، هيڅ د عبادت وړ نسته پرته ستا څخه پاک يې ته او زه

الظَّالِمِينَ لَمْ يَدْعُ بِهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ فِي شَيْءٍ إِلَّا اسْتَجَابَ لَهُ. رواه احمد والترمذي

د ظالمانو څخه وم، كوم مسلمان چي د يو مطلب لپاره دغه دعاء وغواړي الله هغه قبلوي.

**تخریج**: الامام احمد في المسند ۱\ ۱۷۰، والترمذي في السنن ۵\ ۴۹۵، رقم: ۳۵۰۵.

**تشریح**: د حضرت یونس عليه السلام قصه په لنډه توګه داده چي الله تعالی هغه د نینوی ښار ته د هغوئ د هدایت لپاره راولیږی هغوئ ته یې د ایمان دعوت ورکړی مګر هغوئ قبول نه کړ او د ایمان راوړلو څخه یې انکار وکړ الله تعالی حضرت یونس عليه السلام ته وحي راولیږل چي ته خپل قوم خبردار کړه چي د درو ورځو وروسته به پر تاسو عذاب راځي، حضرت یونس عليه السلام هغوئ خبردار کړل او خپله د هغه ښار څخه ووتی، پر ټاکل سوي وخت باندي یوه توره وریځ ښکاره سوه او په نژدې کېدو سره پر هغه ښار باندي ودرېدل او د هغه څخه یو ډول دود پورته کول شروع سول، د ښار خلکو چي ولیدل چي عذاب نازلیږي نو هغوئ ټول د خپل ښځو، اولادو او حیوانانو سره ځنګل ته ووتل او هلته د یو بل څخه په جلا کېدو په ژړا او زاری یې خپل اوازونه پورته کړل او پر خپل کفر او ګناهو باندي په توبه کولو سره یې ایمان راوړ او په زاری سره یې دغه کلمې ویلې: لاحي حین لا اله الا انت: یعني اې ژوندی ذاته! د هغه وخت څخه چي هیڅوک ژوندی نه وو ستا څخه پرته بل معبود نه سته، ددې وروسته الله تعالی هغه عذاب چي پر دوئ مسلط وو وګرځوی او څه وخت وروسته حضرت یونس عليه السلام هغه ښار ته راغلی چي وګوري د ښار او د ښار د اوسیدونکو څه حال سوی دی، هغه چي د لیري څخه ولیدل چي ښار هم هغسي آباد دی لکه څرنګه چي مخکي وو او د ښار اوسیدونکي ژوندي او سلامت دي، ددې په لیدو سره هغه ته ډېر شرم محسوس سو چي ما خو دوئ ته ویلي وه چي درې ورځي وروسته به پر تاسو عذاب نازلیږي مګر د عذاب خو هیڅ نام او نښان نه سته، هغه ته ددې خبري علم نه وو چي عذاب خو نازل سوی وو مګر بیرته منع سو، په هرحال په دې سوچ کولو سره چي په داسي صورت کي ښار ته تلل مناسب نه دي د هغه ځای څخه بېرته ولاړی او دریاب ته په رسېدو سره چي تر هغه واوړي یوه کښتۍ تیاره وه په هغه کښتۍ کي کښېنستی، د هغه ناستي سره داسي محسوسه سوه لکه چي پر خپل ځای ودریږي، ډېر کوښښ وکړل سو مګر کښتۍ د خپل ځای څخه نه ښورېدل.

خلکو وویل چي داسي معلومیږي په دغه کښتۍ کي یو داسي غلام ناست دی چي د خپل مالک څخه تښتېدلی دی ځکه دا کښتۍ نه روانیږي ددې په ویلو سره په کښتۍ کي ناست ټولو خلکو قرعه واچول، نو قرعه د یونس عليه السلام پر نوم راوختل،، یونس عليه السلام وویل: بېشکه زه تښتېدلی غلام یم، ددې وروسته هغه خپل ځان دریاب ته واچوی او یو ماهي د الله تعالی په حکم سره تېر کړ، الله تعالی ماهي ته حکم وکړ چي هغه په نس کي خوندي وساتي، یونس عليه السلام د ماهي په نس کي پروت وو او ماهي د نیل په دریاب، د فارس او دجله په دریاب کي ګرځوی او

یونس علیہ السلام د الله تعالى په دربار کي دا ویل : لا اله الاانت سبحانک انی کنت من الظالمین، اې الله ! ته معبود او حاکم مطلق يې ستا ذات پاک دی او ما پر ځان ظلم کړی دی، په دې توګه چي زه ستا د اجازې څخه پرته د خپل قوم څخه تښتېدلی یم، الله تعالى د هغه دعاء قبوله کړه او ماهي ته يې حکم وکړ چي هغه د نصیبین په ساحل کي چي د شام يو ښار دی د خپل نس څخه وغورځوي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

### د اسم اعظم تحقیق

﴿۲۱۸۵﴾: عن بريدة قال دخلت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم المسجد

د حضرت بریدة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي زه د ماخستن په وخت کي د نبي کريم ﷺ سره مسجد ته ولاړم. (او وه مي ليدل چي)

عشاء فإذا رجل يقرأ ويرفع صوته فقلت : يا رسول الله أتقول هذا مُراء

يو سړی په لوړ آواز سره قرآن مجيد وايي، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا دا سړی تاسو ريا کار يا منافق ګڼئ ؟

قال بل مؤمن منيب قال وأبو موسى الأشعري يقرأ ويرفع صوته فجعل

رسول الله ﷺ وفرمايل :یا، بلکه مؤمن او د غفلت څخه د ذکر الهي په لور رجوع کونکی دئ، بريدة رضی الله عنه وايي چي هغه سړی ابو موسى اشعري رضی الله عنه وو چي په لوړ آواز سره يې تلاوت کاوه،

رسول الله صلى الله عليه وسلم يتسمع لقراءته ثم جلس أبو موسى يدعو

رسول الله ﷺ د هغه قرائت واوريدئ بيا ابو موسى رضی الله عنه د دعاء لپاره کښېنستئ

فقال : اللهم إني أشهدك أنك أنت الله لا إله إلا أنت أحدا صمدا لم يلد

او دا دعاء يې پيل کړه : اللهم اني ... كفوا احد، اې الله ! زه تا شاهد کوم يعني ددې عقيده لرم چي ته الله يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته نه د چا څخه پيدا سوی يې

ولم يولد ولم يكن له كفوا أحد فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لقد

او نه دي څوک زيږولی دئ او نه دي څوک سيال سته، رسول الله ﷺ وفرمايل :

سأل الله باسمه الذي إذا سئل به أعطى وإذا دعي به أجاب قلت يا رسول

ده د الله ﷻ په هغه نامه سره سوال وکړ چې په هغه سره څه وغوښتل سي نو ورکول کیږي او هر کله چې ددې په ذریعه دعاء وغوښتل سي نو قبلیږي، ما عرض وکړ اې د الله رسوله!

الله أخبره بما سمعت منك؟ قال نعم فأخبرته بقول رسول الله صلى الله

دا کومه خبره چې ما ستاسو څخه واوریدل ایا زه په دې ابو موسی رضي الله عنه خبر کړم، رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، نو ما ابو موسی رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خبره باندې خبر کړ

عليه وسلم فقال لي: أنت اليوم لي أخ صديق حدثتني بحديث رسول الله صلى الله عليه وسلم. رواه رزين

ابو موسی رضي الله عنه راته وویل: نن ته زما رښتونی ورور یې چې تا زه د رسول الله ﷺ د حدیث څخه خبر کړم، رزین.

**تخریج**: رواه رزين.

**تشریح**: لکه څرنګه چې مخکې تېر سوي دي چې د اسم اعظم په باره کې د علماؤ مختلف قولونه دي، ځیني حضراتو الله ته اسم اعظم ویلي دي او ځیني علماء وایي چې بسم الله الرحمن الرحيم اسم اعظم دی، ځیني خلک لفظ د هو اسم اعظم بولي او ځیني حضرات: الحي القيوم ته او ځیني حضرات: مالک الملک، ځیني حضرات د توحید کلمې ته او ځیني: الله الذي لا اله الا هو رب العرش العظيم، ته اسم اعظم ویلي دي.

د امام زین العابدین رحمه الله په باره کې نقل سوي دي چې هغه د الله تعالی په دربار کې عرض وکړ چې ما ته اسم اعظم وښیه، نو هغه ته په خوب کې وښودل سوه چې هغه: لا اله الا الله - دی. ځیني علماء وایي چې اسم اعظم په اسماء حسنی کې پټ دی او ځیني حضرات وایي چې اللهم اسم اعظم دی.

د ځینو سلفو څخه نقل سوي دي چې کوم څوک اللهم ووایي نو هغه لکه د الله تعالی په ټولو نومو چې دعاء وغوښتل، همدا سې قول د حسن بصري رحمه الله څخه هم منقول دی.

ځیني حضراتو الم اسم اعظم ګرځولی دی او ځینو حضراتو لکه امام جعفر صادق رحمه الله وایي کوم څوک چې د اسماء حسنی څخه په یوه اسم سره الله تعالی په داسې حضور او استغراق یاد

کړي چي هغه وخت د هغه په باطن کي د هغه اسم څخه پرته پل هيڅ شی نه وي نو هغه اسم اعظم دی او د هغه په ذريعه دعاء غوښتل دعاء قبليږي .

ابو سليمان دراني رحمة الله عليه وايي چي ما د يو شيخ کامل څخه پوښتنه وکړه چي اسم اعظم کوم يو دی؟ نو هغه پوښتنه را څخه وکړه چي ايا ته خپل زړه پيژني؟ ما وويل هو، نو هغه وفرمايل کله چي ته دا ووينې چي ستا زړه الله تعالی ته متوجه او نرم سوی دی نو هغه وخت د الله تعالی څخه دعاء وغواړه او همدا اسم اعظم دی .

نقل سوي دي چي ابوالربيع رحمة الله عليه ته يو چا وويل چي ما ته د اسم اعظم په باره کي وښياست؟ نو هغه ورته وفرمايل چي دا وليکه : اطع يعطک، يعني د الله تعالی فرمانبرداري کوه هغه به ستا هر خواست قبلوي ، ددې څخه د هغه مراد دا وو چي د الله تعالی اطاعت او فرمانبرداري اسم اعظم دی ځکه چي ددې په وجه الله تعالی مهربانه وي او دعاء قبلوي او وه يې فرمايل چي د يو عارف : بسم الله الرحمن الرحيم ويل د کن په ډول دی يعني څرنگه چي الله تعالی ته په کُن ويلو سره چي څه وغواړي نو همداسي د بنده لپاره بسم الله ده چي د کوم کار په شروع کي بسم الله وويل سي نو د هغه له برکته د هغه کار پوره کيږي .

ځيني محققين فرمايي چي دعاء د ټولو اقوالو مجموعه ده يعني د دين بزرگان چي کوم کوم نومو ته اسم اعظم ويلي دي هغه ټول په دعاء کي دي : اللهم اني اسئلک بان لک الحمد لا اله الا انت يا حنان يا منان يا بديع السموات والارض يا ذالجلال والاکرام يا خير الوارثين يا ارحم الراحمين يا سميع الدعاء يا الله يا الله يا عالم يا سميع يا عليم يا حليم يا مالک الملک يا مالک يا سلام يا حق يا قديم يا قائم يا غني يا محيط يا حکيم يا علي يا قاهر يا رحمن يا رحيم يا سريع يا کريم يا مخفي يا معطي يا مانع يا محيي يا مقسط يا حي يا قيوم يا احمد يا حمد يا رب يا رب يا رب يا رب يا وهاب يا غفار ياقريب يا لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمين انت حسبي ونعم الوکيل .

په پورتنۍ دعاء کي چي کوم اسماء ذکر سوي دي هغه ټول اسم اعظم دي .

===========

# بَابُ ثَوَابِ التَّسْبِيْحِ وَالتَّحْمِيْدِ وَالتَّهْلِيْلِ وَالتَّكْبِيْرِ

## ( د تسبيح، تحميد، تهليل او تكبيرويلو ثواب )

د تسبيح څخه مراد سبحان الله ويل، د تحميد څخه مراد الحمد لله ويل، د تهليل څخه مراد لااله الاالله ويل او د تكبير څخه مراد الله اكبر ويل دي.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### تر ټولو غوره كلام

﴿٢١٨٦﴾: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

افضل الْكَلَامِ أَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ و في

د انسان غوره خبري څلور دي: (يعني): سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ. او په يوه

رواية أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللَّهِ أَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ. رواه مسلم

روايت كي دا الفاظ دي چي د الله په نزد غوره خبري څلور دي: سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ. په دغه خبرو كي چي د كوم يوه څخه پيل كوئ نو پروا نسته. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ١٣\١٦٨٥، رقم: ١٢- ٢١٣٧.

**تشريح**: تر ټولو غوره كلام څلور دي، ددې څخه مراد دادی چي د الله تعالی د كلام څخه وروسته د انسان په كلام كي د دغه څلور كلمې تر ټولو غوره دي، په دغه وضاحت او ترجمه كي د انسان قيد ځكه لګول سويدی چي څلورمه كلمه يعني الله اكبر په قرآن كريم كي نه سته او دا څرګندونه خبره ده چي كوم جز په قرآن كريم نه وي هغه د هغه شي څخه غوره نه دی كوم چي په قرآن كريم كي دی يعني په يو بل حديث كي داسي دي: افضل الكلام بعد القرآن وهي من القرآن: يعني د قرآن كريم څخه وروسته غوره كلمې دي او دا كلمې هم د قرآن دي.

د دې څخه معلومېږي چې د كلام څخه په انساني كلام سره كلام الله هم مراد دی يعني د دغه څلور كلمې د الله تعالی په ټول كلام كي غوره كلمې دي ، په دې صورت كي به ويل كيږي چې په دې كي اول الذكر درې كلمې خو بعينه په قرآن كريم كي موجود دي او څلورمه كلمه كه څه هم بعينه په قرآن كريم كي موجود نه ده مگر په دغه آيت : وكبره تكبيرا - كي د معنی په لحاظ يقينا موجود ده .

دلته دا خبره په ذهن كي كښېنول پكار دي چې دغه څلور كلمې كه څه هم غوره دي مگر د حديث څخه چې ذكر د يو حال يا وخت سره متعلق ثابت دی په دې حالت يا وخت كي په ذكر كي بوخت كېدل د تسبيح وغيره څخه غوره دي .

د دوهم روايت د آخري لفظ مطلب دادی چې ددغه څلورو كلمو د ويلو په وخت كي مذكوره ترتيب ضروري نه دی كه مخكي سبحان الله وويل سي او كه الحمد لله مخكي وويل يا لا اله الا الله يا الله اكبر مخكي وويل سي، په دې كي څه پروا نه سته بيا هم طيبي رحمه الله فرمايي چې دغه څلور كلمې په مذكوره ترتيب سره ويل غوره دي او بېله ترتيبه ويل جائز دي .

## د تسبيح، تهليل او تحميد فضيلت

﴿۲۱۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ أَقُولَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ . رواه مسلم

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ. ويل زما په نزد د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره دي . مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۷۲، رقم: ۳۲- ۲۱۹۵.

﴿۲۱۸۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ . متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې سبحان الله وبحمده په ورځ كي سل واره ووايي د هغه گناهونه رژيږي كه څه هم د درياب د ځگ په اندازه

وي. بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۱\۲۰٦، رقم: ٦۴۰۵، ومسلم في الصحيح ۴\۲۰۷۱.

**تشريح**: علامه طيبي رحمه الله فرمايي كه سل واره وغواړي نو په څو واره دي يې ووايي كه د ورځي په اوله برخه كي وي او كه په آخره برخه كي وي دواړه ډوله صحيح ده مگر افضل داده چي د ورځي په لومړنۍ برخه كي په يو وار وويل سي.

﴿۲۱۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي سهار

وَحِينَ يُمْسِي سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او مابنام سل سل واره سبحان الله وبحمده ووايي نو د قيامت په ورځ به د هغه تر عمل هيڅ يو

بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَيْهِ. متفق عليه.

غوره عمل نه وي مگر هغه څوک چي هغه دده په ډول يا تر ده زيات دا كلمات ويلي وي. بخاري او مسلم

**تخريج**: لم نجده عند البخاري ومسلم في الصحيح ۴\۲۰۷۱، رقم: ۲۹- ۲٦۹۲.

**تشريح**: دلته يو اشكال پيدا كيږي چي د حديث د ظاهري عبارت څخه دا مفهوم اخستل كيږي چي كوم څوک د اول سړی په ډول ووايل يعني هغه د اول په ډول يې سهار او مابنام سل واره سبحان الله وبحمده وويل نو هغه به د قيامت په ورځ د هغه د عمل څخه غوره راوړي كوم چي دغه اول سړي راوړی دی، حالانكه داسي نه ده بلكه دوهم سړی كه د اول سړي په ډول سبحان الله وبحمده سهار او مابنام سل سل واره ووايي نو هغه به د قيامت په ورځ د اول سړي په ډول عمل سره حاضر سي نه دا چي د هغه به افضل عمل راوړي.

ددغه اشكال جواب دادی چي د حديث عبارت د حقيقت او معنی په اعتبار داسي دی كه د قيامت په ورځ يو سړی د هغه عمل په اندازه يو عمل نه راوړي كوم چي دغه سړي راوړی دی او نه د هغه د عمل څخه غوره يو عمل راوړي پرته د هغه سړي څخه چي هغه د هغه په ډول سبحان الله و بحمده سهار او مابنام سل سل واره څخه زيات ووايي نو هغه د اول سړي څخه غوره عمل راوړي. يا داسي ويل كيږي چي مثل ما قال او زاد عليه كي د معنی په اعتبار د (و) پر ځای استعمال سوی دی.

﴿۲۱۹۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوې داسي کلمې دي چي په ژبه ويلو سره اسانه دي مګر د اعمالو په تله کي درنې او د خداى په نزد ډيري خوښي دي او هغه دادي: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۱\ ۵۶۶، رقم: ۶۶۸۲، ومسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۷۲، رقم: ۳۱ - ۲۶۹۴.

﴿۲۱۹۱﴾: وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي

وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ فَسَأَلَهُ سَائِلٌ

رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا په تاسو کي څوک دا توان لري چي هره ورځ زر نيکۍ تر لاسه کړي، کوم خلک چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي ناست وه په هغو کي يو کس پوښتنه وکړه

مِنْ جُلَسَائِهٖ كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ قَالَ يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ

په موږ يو څوک هره ورځ زر نيکۍ څنګه تر لاسه کولای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: سل واره دي سبحان الله وايي

فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَةٍ. رواه مسلم و في كتابه في

و دده لپاره به زر نيکۍ وليکل سي يا زر ګناهونه به يې څيني ليري سي، مسلم، د مسلم په ټولو

جمع الروايات عن موسى الجهني او يحط قال ابوبكر البرقاني و رواه شعبة و ابوعوانة و يحيى بن سعيد القطان عن موسى فقالوا و يحط بغير الف هكذا في

کتاب الحمیدي .

روایاتو کي د موسی جهني څخه (او یحط) لفظ راغلي دئ او برقاني ویلي دي چي شعبه ابو عوانة، یحیی بن سعید قطان د موسی جهني څخه پرته (الف) روایت کړئ دئ یعني په هغه کي (و یحط) لفظ دئ د حمیدي په کتاب کي هم داسي دي .

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۴\۲۰۷۳، رقم: ۳۷- ۲۶۹۸، ومسند الحمیدي ۱\۴۳۱، رقم: ۸۰

**تشریح**: د: او یحط - سره سم خو د حدیث مفهوم دادی چي په دواړو کي یوه خبره وي یا خو زر نیکۍ لیري کیږي حال دا چي د ویحط په صورت کي به معنی دا وي چي زر نیکۍ هم لیکل کیږي او زر ګناهونه هم لیري کیږي .

د ترمذي، نسائي او ابن حبان په روایتو کي هم ددې مفهوم تائید کیږي ځکه چي په دې کي لفظ د ویحط راغلی دی لهذا په ظاهره باندي په دواړو روایاتو کي منافات معلومیږي، مګر که چیري په ذهن کي دا خبره وي چي کله کله و د معنی په اعتبار د او پر ځای هم استعمالیږي نو بیا اختلاف نه معلومیږي او د دواړو روایتو مفهوم یو کیږي په دې صورت کي به ددې معنی دا وي چي کوم چا تسبیح وویل د هغه لپاره زر نیکۍ لیکل کیږي که د هغه پر ذمه یو ګناه نه وي یا د هغه زر ګناوي لیري کیږي که د هغه پر ذمه ګناه وي.

**غوره کلام تسبیح او تحمید...**

﴿۲۱۹۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْكَلَامِ أَفْضَلُ قَالَ مَا اصْطَفَى اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ . رواه مسلم

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم کلام غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه کلام چي الله تعالی د خپلو ملائکو لپاره ټاکلی دئ یعني (سبحان الله وبحمده) مسلم

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۴\۲۰۹۳، رقم: ۸۴- ۲۷۳۱.

**تشریح**: چڼ کړي دي، مطلب دا چي الله تعالی د ذکر څخه دغه کلمې د خپلو ملائکو لپاره چڼ کړي دي او ددغه کلمې د زیات فضیلت په وجه هغوئ ته حکم ورکړل سوی دی چي هغوئ دي همېشه وایي : سبحان الله وبحمده، د څلورو کلمو یعني سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر اختیار دی ځکه په تشریح کي د شرک نفي هم کیږي چي د تهلیل حاصل دی او ددې

څخه د الله اکبر يعني الله پاک ډېر لوی کېدل هم ثابتيږي.

**په ذکر کي د کيفيت اعتبار ....**

﴿۲۱۹۳﴾: وَعَنْ جُوَيْرِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا

د حضرت جويرية (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زما څخه ولاړئ

بُكْرَةً حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى وَهِيَ

د سهار د لمانځه په وخت کي او هغه (بي بي جويرية) پر خپله مصلا ناسته وه، بيا رسول الله ﷺ د څاښت په وخت کي بيرته راغلئ او هغه بي بي

جَالِسَةٌ قَالَ مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ النَّبِيُّ

پر خپله مصلی ناسته وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا په کوم حال کي چي زه در څخه تللی وم د هغه وخت څخه ته ناسته يې؟ هغې وويل هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا

ما ستا د تلو وروسته درې واره څلور داسي کلمې ويلي دي که هغه ستا د هغه شي سره چي د وخت د پيل څخه ترا وسه پوري ويل سوي دي وزن کړل سي

قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ

وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ. رواه مسلم

نو دا څلور کلمې به زياتي درنې سي، (يعني د دې ثواب به ستا د ټوله وخت تر ثواب زيات وي) هغه څلور کلمې دا دي: سبحان الله.. ومداد کلماته، زه د الله پاکي بيانوم، د هغه تعريف کوم د هغه د مخلوقات د شمير په اندازه د هغه د مرضي سره سم او د عرش د وزن سره سم او د هغه د کلماتو د رنګ په شان. مسلم.

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۱۴: ۲۰۹۰، رقم: ۷۹- ۲۷۲۶.

**تشريح:** او د هغه د کلمو په ډول: دلته د کلمو څخه مراد يا خو د هغه کتابونه او د هغه صحيفې دي يا د هغه اسماء دي همدارنګه د هغه صفات يا د هغه اوامر هم مراد کېدای سي.

دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چې په ذکر کې د کیفیت اعتبار وي نه د کمیت، یعني هغه تسبیحات وغیره چې د هغه مضامین اعلی او ډېر ښه وي او هغه د زړه په حضور او اخلاص سره ویل کیږي که څه هم کم وي مګر د دغه تسبیحاتو د مضامینو څخه افضل دي کوم چې داسې نه وي او د هغه د ویلو په وخت کې د زړه حضور او اخلاص دولت تر لاسه وي که څه هم هغه هر څومره زیات وي، پر دې باندې په قیاس کولو سره پوهېدای سو چې غور او فکر او حضور او اخلاص سره د قرآن کریم تلاوت او قرائت که څه هم یو آیت وي د هغه قرائت او تلاوت څخه غوره دی کوم چې د دغه شیانو څخه خالي وي او که څه هم هغه ډېر زیات وي.

## د شیطان څخه د پناه طریقه

﴿۲۱۹۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

دا کلمې (لااله الاالله وحده لاشریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر) د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه یو ازې دئ هیڅوک د هغه شریک نسته، ملک او پاچاهي د هغه ده او هر ډول تعریف هغه لره دئ او هغه په هره خبره خبردار دئ

فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَمُحِيَتْ

په ورځ کې سل واره وو ایي هغه ته به د لسو غلامانو د آزادولو ثواب تر لاسه کیږي او سل نیکۍ به د هغه په اعمال نامه کې لیکل کیږي او لیرې به سي

عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ وَلَمْ

د هغه سل ګناهونه او هغه به په هغه ورځ تر ماښام پوري د شیطان څخه خوندي وي او (د قیامت په ورځ) به هیڅوک تر هغه د غوره عمل سره نه راځي

يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا رجل عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْهُ. متفق عليه

پرته د هغه سړي څخه چې هغه هم دا کلمات تر ده زیات ویلي وي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١١١\ ٢٠١، رقم: ٦٤٠٣، ومسلم في الصحيح ١٤\ ٢٠٧١، رقم: ٢٨-٢٦٩١.

**تشريح:** په څرګنده خو دا معلوميږي چي يو څوک دغه کلمې د ماښام په وخت کي ووايي نو هغه ته به تر سهار پوري د شيطان څخه پناه تر لاسه کيږي، نو کېداى سي چي دا خبره راوي د اختصار په توګه پرې ابښې وي يا دا چي خپله نبي کريم ﷺ نه وي بيان کړې ځکه چي د حديث ظاهري مفهوم څخه دا خبره په خپله څرګنديږي.

امام نووي رحمه الله فرمايي په حديث کي چي کوم فضيلت او ثواب بيان سوى دى دا په هغه صورت کي دى کله چي يو سړى دغه کلمې سل واره ووايي او کوم څوک چي دغه کلمې څومره زياتي وايي هغومره زيات اجر او ثواب به تر لاسه کوي، او بيا دا چي دغه کلمې که په مختلفو وختو کي سل واره ووايي او که په يوه وخت کي يې پر يوه ځاى سل واره ووايي په دواړو صورتو کي مذکوره ثواب حاصليږي مګر غوره دادى چي دغه کلمات په يو وار سل واره او د ورځي په شروع کي وويل سي چي پوره ورځ د شيطان څخه پناه حاصله وي.

## لاحول ولاقوة الا بالله د جنت خزانه ده

﴿۲۱۹۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو

فِيْ سَفَرٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَجْهَرُوْنَ بِالتَّكْبِيْرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چي خلکو په لوړ آواز سره الله اکبر ويل پيل کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

اَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوْا عَلٰى اَنْفُسِكُمْ اِنَّكُمْ لَاتَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلَا غَائِبًا اِنَّكُمْ تَدْعُوْنَ

خلکو پر ځان رحم وکړئ تاسو يو کوڼ او غائب نه رابولئ، بلکه هغه ذات يادوئ چي

سَمِيْعًا بَصِيْرًا وَهُوَ مَعَكُمْ وَالَّذِيْ تَدْعُوْنَ اَقْرَبُ اِلٰى اَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ

سميع او بصير دئ يعني هر شي او خبره اوريدونکى او ليدونکى دئ او هغه هر وخت ستاسو سره دئ او تاسو چي څوک يادوئ هغه د سپرلۍ تر غاړې

رَاحِلَتِهٖ قَالَ اَبُوْ مُوْسٰى وَاَنَا خَلْفَهٗ اَقُوْلُ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ فِيْ نَفْسِيْ

هم نژدې دئ. ابو موسى وايي: زه د رسول الله ﷺ په سپرلۍ پسي روان وم او په زړه کي مي ويل: لاحول ولاقوة الا بالله، چي رسول الله ﷺ راته وفرمايل:

فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ فَقُلْتُ بَلَى يَا

اې ابوموسی ! زه تا ته د جنت د خزانو څخه يوه خزانه ونه ښيم ؟ ما عرض وکړ هو، اې د الله رسوله ! خامخا يې راوښيه،

رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ . متفق عليه .

نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : هغه خزانه : لاحول ولاقوة الا باالله . ده . بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۱\ ۱۸۷، رقم: ۶۳۸۴، ومسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۷۶، رقم: ۴۴ - ۲۷۰۴.

**تشريح**: په زوره تكبير ويل شروع كول: ددې مطلب دادی چي پر يو لوړ ځای باندي په ختلو سره چي كوم تكبير ويل سنت دي هغه به صحابه كرامو په لوړ آواز سره شروع كړل ، او يا د تكبير څخه ذكر هم مراد كېدای سي د هغه مطلب دادی چي دلته صحابه كرامو په لوړ آواز ذكر كول شروع كړي وه .

ددغه حديث په پای كي : لاحول ولاقوة الا باالله– ته خزانه ځكه ويل سوي دي چي د هغه ويونكي ته ډېر زيات ثواب تر لاسه كيږي او هغه ددې په بركتونو داسي نازول كيږي لكه څرنګه چي د دنيوي خزانې څخه بلكه ددغه نعمتونو په مخكي د دنيا لويه خزانه هم هيڅ حيثيت نه لري. د لاحول په باره كي مشائخو ليكلي دي چي په دغه ذكر سره په اعمالو كي څومره زياته مرسته كيږي او په دې سره څومره زيات بركت حاصيږي دومره مرسته او بركت په بل هيڅ ذكر سره نه حاصليږي، دوې كلمې دادي د ګناه څخه د ساتني طاقت او د الله تعالى د عبادت كولو قوت د الله تعالى له خوا وركول كيږي .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د تسبيح او تحميد ثمره

﴿۲۱۹۶﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي سبحان الله و بحمده

وويل د هغه لپاره په جنت کي د خرما يوه درخته لګول کيږي . ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۷۷، رقم: ۳۴۶۴.

**تشريح**: د خرما درخته ځکه خاص سوې ده چي نه يوازي دا چي د خرما درخته ډېره ګټه ورکونکې ده بلکه ددې ميوه هم ډېره ښه او خوندوره ده .

## هر سهار د ملائکو له خوا د تسبيح اواز

﴿۲۱۹۷﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ صَبَاحٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا وَمُنَادٍ يُنَادِي سبحو الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ . رواه الترمذي

د حضرت زبير ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هره ورځ سهار وختي يو اعلان کونکی اعلان کوي چي د پاچا او پاک ذات پاکي بيان کړئ . ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۲۶، رقم: ۳۵۶۹.

**تشريح**: يعني هره ورځ سهار وختي يوه ملائکه په لوړ آواز سره انسانانو ته تاکيد کوي چي هغوئ دا ووايي : سبحان الملک القدوس ، ياداسي ووايي : سبوح القدوس رب الملائکة والروح. يا ددې معنى داده چي هره ورځ سهار وخت کي يوه ملائکه خلک خبردار کوي چي هغوئ ددې خبري يقين او اعتبار ولري چي د هغوئ رب د ټولو عيبو او نقصاناتو څخه پاک دی

## غوره ذکر لااله الاالله

﴿۲۱۹۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره ذکر : لااله الاالله ، دئ او غوره دعاء الحمدلله ده . ترمذي او ابن ماجه

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۳۱، رقم: ۳۳۸۳، وابن ماجه في السنن ۲\۱۲۴۹، رقم: ۳۸۰۰.

**تشريح**: لا اله الاالله - دا ځکه تر ټولو افضل ذکر دی چي د اسلام او ايمان د ټول وجود بنسټ په دې کي دی ددې څخه پرته نه ايمان صحيح کيږي او نه ددې څخه پرته څوک مسلمان کېدای سي ، ځيني محققين فرمايي چي په ټولو اذکارو کي دغه کلمه تر ټولو غوره په دې وجه ده چي د ذاکر باطن د خرابو اوصافو څخه چي د انسان د باطن معبود وي پاکولو کي دې کلمې ته ډېر

عجیب او عظیم تاثیر حاصل دی ، د الله تعالی ارشاد دی : افرایت من اتخذ الهه هواه : ایا تاسو هغه سړی ولیدی چي هغه خپل نفساني خواهشات خپل معبود ګرځولي دي، څوک چي د لا اله الاالله ذکر کوي نو د لا اله په ذریعه د ټولو معبودانو څخه نفي کیږي او د الا الله په ذریعه یوازي د یوه معبود حقیقي یعني الله ﷻ اقرار کیږي بیا چي د ژبي څخه د غه کلمه وځي نو د هغه تاثیر د ظاهري ژبي سره د زړه خوا ته رجوع کوي او د هغه نتیجه دا سي چي د ژبي څخه د ټولو باطلو معبودانو نفي او د یوه حقیقي معبود اقرار او یقین حاصلیږي چي د هغه زړه او باطن ځلانده او منور کولو سره ټول باطني اوصاف پاکوي، او په پای کي دغه تاثیر د هغه پر ظاهري اندامو باندي غالب کیږي او د هغه ظاهري اندامو څخه هغه اعمال او افعال صادریږي کوم چي د هغه اقرار او اعتقاد عین تقاضا ده

الحمدلله - ته ځکه دعاء ویل سوي دي چي د کریم تعریف د دعاء او سوال په ټولی کي راځي او دې ته افضل ځکه ویل سوي دي چي د منعم حقیقي یعني د الله تعالی د حمد او شکر په معنی کي دي او ظاهره ده چي شکر په نعمت او برکت کي د زیاتوب موجب دی لکه څرنګه چي الله تعالی فرمایي : لئن شکرتم لازیدنکم، که تاسو شکر ادا کړي نو زه به زیات نعمت درکړم.

## د الله ﷻ تعریف د الله ﷻ شکر دی

﴿۲۱۹۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَمْدُ رَأْسُ الشُّكْرِ مَا شَكَرَ اللهَ عَبْدٌ لاَّ يَحْمَدُهُ.

حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله تعالی تعریف شکر بنسټ دئ او کوم بنده چي د الله تعالی تعریف ونه کړي هغه شکر ادا نه کړي . بیهقي.

**تخریج**: البیهقي في شعب الایمان ۴\۹۶-۹۷، رقم: ۴۳۹۵.

**تشریح**: حمد یعني د الله تعالی تعریف په ژبه سره کیږي او شکر په ژبي، زړه او اندامو سره کیږي نو د الله تعالی تعریف د الله تعالی د شکر یو ښاخ دی ، حمد د شکر سره ځکه ذکر سوی دی چي هغه دژبي فعل دی او د الله تعالی نعمت او د هغه تعریف په ژبه سره ښه بیانیږي او بیا دا چي ژبه د ټولو اندامو نائب ده ځکه حمد هم لکه چي اجمالا شکر دی او د مفصل شکر جزاء اعظم دی ځکه ویل سوي دي چي کوم بنده د الله تعالی حمد ونه کړي هغه د الله تعالی شکر هم

ادا نه کړ په دې خبره کې دې ته اشاره ده چې سړي ته پکار دي چې د خپل باطن په پاکۍ سره د خپل ظاهري احوالو ساتنه هم وکړي.

## په خوشحالي او مصيبت دواړو وختو کې د الله ﷻ تعریف

﴿۲۲۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوَّلُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تر ټولو وړاندې

مَنْ يُّدْعٰى إِلَى الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْنَ يَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ.

رواهما البيهقي في شعب الإيمان

د قیامت په ورځ چې کوم خلک د جنت په لور بلل کیږي هغه به هغه خلک وي چې هغوئ په خوشحالي راحت او تکلیف و غم دواړو حالاتو کې د الله تعالی تعریف کړی وي. بیهقي.

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان: ۴\۱۱۵، رقم: ۴۴۸۳.

## د لا اله الا الله عظمت

﴿۲۲۰۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

قَالَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ يَا رَبِّ عَلِّمْنِيْ شَيْئًا أَذْكُرُكَ بِهِ وَأَدْعُوْكَ بِهِ فَقَالَ يَا

حضرت موسی علیه السلام الله تعالی ته عرض وکړ: اې زما پروردګاره! ما ته یو داسې شی وښیه چې زه د هغه په ذریعه تا یا دوم، یا د هغه په ذریعه ستا څخه دعاء غواړم، الله تعالی وفرمایل:

مُوْسٰى قُلْ لَاۤ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَقَالَ يَا رَبِّ كُلُّ عِبَادِكَ يَقُوْلُ هٰذَا إِنَّمَا أُرِيْدُ شَيْئًا

اې موسی! ته دا وایه: لااله الاالله، حضرت موسی علیه السلام عرض وکړ اې پروردګاره! دا خو ستا هر بنده وایي زه خو یو خاص شی غواړم چې زما لپاره خاص وي،

تَخُصُّنِيْ بِهِ قَالَ يَا مُوْسٰى لَوْ أَنَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعَ وَعَامِرَهُنَّ غَيْرِيْ وَالْأَرْضِيْنَ

الله تعالی ورته وفرمایل: اې موسی! که اووه آسمانونه او د هغو ټوله اباديي پرته زما څخه، او

او وه مځکه په يوه پله کي کېښېښودل سي

السَّبۡعَ وُضِعۡنَ فِيۡ كَفَّةٍ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ فِيۡ كَفَّةٍ لَمَالَتۡ بِهِنَّ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ. رواه في شرح السنة

او په بله پله کي لااله الاالله کېښېښودل سي نو د لااله الاالله پله به تر دې ټولو شيانو درنه سي. شرح السنة.

**تخريج**: البغوي في شرح السنة ۵\ ۵۴- ۵۵، رقم: ۱۲۷۳.

**تشريح**: که دا اشکال پيدا سي چي حضرت موسی عليه السلام خو د داسي ذکر يا دعاء طلب کړی وه کوم چي د هغه لپاره مخصوص وو او د هغه په ذريعه د نورو څخه فائق يم، نو د سوال سره د جواب څه مطابقت پيدا سو، چي هغه ته وفرمايل سول چي لا اله الاالله وايه، ددې مطلب دا سو چي الله تعالی هغه ته د لا اله الاالله په تعليم ورکولو سره دې ته اشاره ده چي تا د يو محال شی طلب کړی دی ځکه چي داسي هيڅ دعاء او داسي هيڅ ذکر نه سته چي تر دې کلمې افضل وي.

په هر حال د حضرت موسی عليه السلام د عادت بشري سره سم د يو مخصوص دعاء او ذکر طلب وکړ ځکه چي د انسان دا فطرت دی چي هغه ته هغه وخت ډېره زياته خوشحالي حاصليږي او کله چي د يو شي سره مختص کړل سي چي د هغه څخه پرته د چا سره نه وي مثلاً د چا سره يو داسي جواهر وي چي د هغه څخه پرته د بل چا سره نه وي نو هغه ته د هغه قيمتي شي په موجودتيا سر زيات په دې احساس خوشحالي وي چي هغه د يو داسي شي مالک دی چي د هغه څخه پرته ه د بل چا سره نسي تر لاسه کېدای، دا حال د اسماء، دعاګانو علوم او هنر دی چي په هغه کي يو شي د چا سره وي نو هغه د بل سره نه وي نو هغه ته زياته خوشحالي تر لاسه کيږي حالانکه د الله تعالی رحمت د هغه د قدرت نظام داسي دی چي کوم شی د کائنات انساني لپاره تر ټولو قيمتي او تر ټولو عزيز دی هغه تر ټولو زيات تر لاسه کولای سي مثلاً ژوند، اوبه او مالګه چي دا شيان تر ټولو زيات قيمتي او غوره دي خو دا شيان زيات تر لاسه کيږي پر خلاف د زمرود، ياقوت او زعفران او داسي نور چي دغه شيان قيمتي او غوره نه دی مګر کم دي همداسي په مصحف شريف يعني قرآن کريم کي تر ټولو کتابو افضل دی مګر نه يوازي دا چي ډېر تر لاسه کيږي بلکه ډېر ارزانه هم تر لاسه کيږي ددې په مقابله کي د کيميا علم وغيره څه حقيقت دی مګر ددې سرېېره خالي معلوميږي دا ښېله خبره ده چي د جاهل او بې عقل خلکو په

نظر کي د دې د تر لاسه کولو څومره خواهش او په دې سره څومره زياته خوشحالي تر لاسه کيږي د هغه عشر عشير هم د قرآن او حديث په علم سره نه خوشحاله کيږي يا همدا رنګه کلمه طيبه او کلمه شهادت دا په ټولو کلمو کي اشرف او په ټولو عباداتو او په ټولو اذکارو کي غوره او په ټولو حسناتو کي کامل دي مګر د خپل وجود په اعتبار اکثر او د تر لاسه کولو په اعتبار اسان دي بيا هم عوامو دا ترک کړي دي او هغه اذکار او دعاوي يې خپل معمول ګرځولي دي چي په قرآن کريم او حديث کي د هغو د اکثرو برخو حقيقت هم نسته.

په هر حال د دغه مثالو د بيانولو مقصد دا دی چي اکثره خيرونه د خپل حقيقت په اعتبار ډېر اعلی دي مګر د کثرت په سبب خلک د هغه قدر نه پيژني او کوم شيان چي په دغه درجه غوره نه وي خلک هغه د کيميايي په وجه غوره ګڼي.

په پای کي په دې خبره پوه سئ چي الله تعالی حضرت موسی عليه السلام ته الهام وکړ چي هغه د دغه جواب خواست وکړي او رب العزت هغه ته دا جواب ورکړي چي د دغه عظيم کلمې عظمت او فضيلت د عوامو او خواصو په نظر کي ظاهر سي او هغه هر وخت په هر حال کي خپل وظيفه وګرځوي.

﴿۲۲۰۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَّ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالاَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه او ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ صَدَّقَهُ رَبُّهُ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا أَكْبَرُ

څوک چي لااله الاالله والله اکبر، ووايي نو د هغه پروردګار د دې الفاظو تصديق کوي، الله جل جلاله فرمايي: لااله الاانا وانا اکبر،

وَإِذَا قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ يَقُوْلُ اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِيْ

او هر کله چي هغه ووايي: لااله الاالله وحده لا شريک له، نو الله تعالی فرمايي: لااله الا انا وحدي

لَاشَرِيْكَ لِيْ وَإِذَا قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ قَالَ اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا

لاشريک لي، او هر کله چي هغه وايي: لااله الاالله له الملک وله الحمد، نو الله تعالی فرمايي: لااله الا انا

لِيَ الْمُلْكُ وَلِيَ الْحَمْدُ وَإِذَا قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ قَالَ لَا

لي الملك ولي الحمد ، او هر كله چي بنده وايي لااله الا الله ولاحول ولاقوة الا بالله، نو الله تعالى فرمايي : لا

إِلٰهَ إِلَّا أَنَا وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِي وَكَانَ يَقُولُ مَنْ قَالَهَا فِي مَرَضِهِ ثُمَّ مَاتَ لَمْ تَطْعَمْهُ النَّارُ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

اله الاانا لاحول ولاقوة الا بي ، رسول الله ﷺ فرمايي : څوک چي دا كلمات په خپله ناروغي كي وايي او بيا مړ سي نو اور هغه نه سي سوځلای . ترمذي او ابن ماجه .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۳۴۸، رقم: ۳۴۳۰، وابن ماجه في السنن ۲\۱۲۴۶، رقم: ۳۷۹۴.

## د تسبيح او تحميد فضيلت

﴿۲۲۰۳﴾: وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سعد ابن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د نبي كريم ﷺ سره

وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ وَبَيْنَ يَدَيْهَا نَوًى أَوْ حَصًى تُسَبِّحُ بِهِ فَقَالَ أَلَا أُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ

يوې ښځي ته ورغلی چي د هغې په وړاندي د خرماوو هډوكي پراته وه، او هغې به شميرل او سبحان الله به يې ويل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا زه تا ته هغه شی ونښيم چي

أَيْسَرُ عَلَيْكِ مِنْ هٰذَا أَوْ أَفْضَلُ سُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ وَسُبْحَانَ

تر دې اسان وي او غوره هم وي ، او هغه دا دي چي سبحان الله عدد ما خلق...... زه پاكي بيانوم د الله ﷻ د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي په آسمان كي دي او زه پاكي بيانوم

اللّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذٰلِكَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ

د الله ﷻ د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي په مځكه كي دي او زه پاكي بيانوم د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي د آسمانو او مځكو په منځ كي دي او زه پاكي بيانوم

عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ مِثْلَ ذٰلِكَ وَلَا حَوْلَ وَلَا

د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي تر ابده پوري پيدا کيدونکي دي او الله اکبر هم داسي او الحمد لله هم داسي او لا اله الا الله هم داسي او لا حول ولا

قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ مِثْلَ ذٰلِكَ . رواه الترمذي و ابوداؤد و قال الترمذي هذا حديث غريب .

قوة الا بالله هم داسي . ترمذي ، ابوداؤد ، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۵۲۵، رقم: ۳۵۶۸، ابوداود في السنن ۲\ ۱۶۹، رقم: ۱۵۰۰.

**تشريح**: په ځينو رواياتو کي دي چي هغه ښځه چي نبي کريم ﷺ او حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه هغې ته تشريف وړی وو د رسول الله ﷺ د بي بيانو مبارکانو څخه وه يا خو ام المؤمنين بي بي جويريه رضي الله عنها وه او يا بله بي بي مبارکه وه ، د خرما منديکي يا ډبري دا جمله د راوي شک څرګندوي ، راوي ته په يقين سره ياد نه دي چي هغه ښځي پر څه شي تسبيح ويل د خرما پر مندکو او که پر ډبرو ځکه هغه د دواړو ذکر وکړ .

## د رواجي تسبيح بيان

کوم تسبيح چي نن سبا رواج دي هغه د رسول الله ﷺ په زمانه کي نه وه بلکه ځينو خلکو به پر هډوکو يا ډبرو باندي ويل او ځينو به تارونو ته غوټې ورکولې او د هغو په ذريعه به يې شمېرل مګر دغه حديث څرنګه چي پر هډوکو يا ډبرو باندي د ويلو د جواز دليل دی رسول الله ﷺ هغه ښځه د هغه څخه منع نه کړه همدارنګه د رواجي تسبيح د جائز کېدو هم صحيح اصل ، بنياد او دليل دی ځکه چي د شمېر په اړه په پېولو يا بېله پېولو کي څه فرق نسته لکه څرنګه چي د ناپېولو هډوکو يا ډبرو باندي د ويونکي شی شمېر به مقصود وو همداسي د پيول سوو دانو تسبيح هم مقصد وي ځکه په دواړو کي فرق نه سته که يو څوک دا ووايي چي د تسبيح هغه شکل چي نن سبا رواج دی بدعت دی نو پر دې باندي اعتماد کول نه دي پکار . مشائخ نه يوازي دا چي دې ته جائز وايي بلکه دا هم وايي چي دا د شيطان دُورې دي .

د سيد الطائفه حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په باره منقول دي چي يو وار هغه د ټولو مدارجو په قطع کولو سره د انتهايي حالت ته رسيدلی وو د هغه په لاسو کي د تسبيح په لېدو سره يو چا پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمايل چي دا څه شي دی چي ددې په ذريعه موږ الله تعالی ته رسيدلي يو نو زه دا څرنګه پرېښودلای سم .

والله اکبر مثل ذالک: او الله اکبر همداسي دی، د دغه جملې په اړه دوه احتماله دي يا خو د راوي الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ څرنګه چي تسبيح يعني سبحان الله عدد وماخلق په پوره توګه بيان کړ همداسي رسول الله ﷺ تکبير په پوره توګه بيان کړ يعني داسي يې بيان کړ: الله اکبر عدد ما خلق، نو راوي د دغه اختصار سره سم د وروستنيو کلمو تعليم هم داسي وفرمايه يا دا چي دا د راوي د الفاظو څخه وي بلکه خپله نبي کريم ﷺ د اختصار په توګه: عدد ما خلق في السماء، په ويلو سره پر ځای د مثل ذالک باندي اکتفاء وکړه همداسي رسول الله ﷺ و ښودل چي کوم الفاظ يعني عدد ماخلق..الخ سره تسبيح وويل سي نو په هغه الفاظو سره دي تکبير هم وويل سي همدارنګه وروسته جمله يعني والحمدلله مثل ذالک او داسي نورو کي دغه دواړه احتماله دي.

## د تسبيح، تحميد، تهليل او تکبير ثواب

﴿۲۲۰۴﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّحَ اللّٰهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَجَّ

څوک چي سبحان الله سل واره د سهار په وخت کي او سل واره د مابنام په وخت کي ووايي هغه ته د هغه چا په اندازه ثواب ورکول کيږي چي

مِائَةَ مَرَّةٍ وَمَنْ حَمِدَ اللّٰهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَمَلَ عَلَى

سل حجونه يې کړي وي او څوک چي د سهار په وخت کي الحمدلله سل واره او سل واره د مابنام په وخت کي ووايي هغه ته د هغه چا په اندازه ثواب ورکول کيږي چي هغه سل خلک

مِائَةِ فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَمَنْ هَلَّلَ اللّٰهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ

د الله ﷻ په لار کي پر اسانو سپاره کړي وي او څوک چي سل واره لااله الاالله د سهار په وخت کي او سل واره د مابنام په وخت کي ووايي هغه ته د هغه چا په اندازه ثواب ورکول کيږي چي

كَمَنْ أَعْتَقَ مِائَةَ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ وَمَنْ كَبَّرَ اللّٰهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً

هغه سل غلامان د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه ازاد کړي وي او څوک چي سل

واره الله اكبر د سهار په وخت كي او سل واره د مانبام په وخت كي ووايي

بِالْعَشِيِّ لَمْ يَأْتِ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ أَحَدٌ بِأَكْثَرَ مِمَّا أَتَى بِهِ إِلَّا مَنْ قَالَ مِثْلَ ذالك

نو د قيامت په ورځ به د هغه څخه زيات ثواب هيڅوک نه راوړي مګر هغه څوک چي هغه هم دا كلمات دومره واره

أَوْ زَادَ عَلَى مَا قَالَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

يا ددې څخه زيات ويلي وي. ترمذي ويلي دا حديث حسن غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۸۰، رقم: ۳۴۷۱.

**تشريح**: د هغه چا په ډول دی چي هغه سل حجونه كړي وي، ددې څخه دا خبره څرګنديږي چي آسانه ذكر په شرط ددې چي په هغه كي د الله تعالى سره د حضور كيفيت حاصل وي د هغه عبادات شاقه څخه افضل دی چي په هغه كي زړه د حضور او اخلاص څخه محروم او په غفلت كي اخته وي، مګر دا هم امكان دی چي څرنګه د يو كمي درجې د عمل فضيلت د مبالغې په توګه د بيانولو سره سم هغه عمل د هغه څخه د غوره درجې عمل په مثل ګرځول سوی دی همدارنګه د سبحان الله عظمت او فضيلت د مبالغې په توګه د بيانولو لپاره يې فرمايلي دي چي كوم څوک سهار او مانبام سل سل واره دا تسبيح وايي نو هغه به د نفل حج كونكی په مثل وي.

ځيني حضرات دا فرمايي چي د تسبيح (سبحان الله) په ويلو كي ډېر فضيلت دی ځكه ددې د ثواب په زياتوب سره د نفلي حج د ثواب برابر سو.

د الله تعالى په لاره كي پر سلو آسونو باندي د سپرېدو مطلب دادی چي هغه د جهاد لپاره سل آسونه وركړي وي يا عاريتا يې وركړي وي په دې خبره سره په ذكر الله كي د بوختيا ترغيب وركول كيږي چي كوم څوک دنيا ته توجه نه كوي بلكه هغه د الله تعالى د حضور سره د سعادت عظمى په تر لاسه كولو كي خپل پوره كوښښ او هڅه كوي ځكه كه عبادت بدني وي يا ماليه د دواړو مجموعه د ټولو مقصد او خلاصه د الله ذكر دی او بيا دا خبره په فكر كي ساتل پكار دي چي مطلب په هر صورت د وسيلې څخه اعلى دی.

چا چي د اسماعيل عليه السلام د اولادې څخه سل غلامان ازاد كړي وي، ددې حقيقت د ذكر كونكو لپاره تسلي او ترغيب وركول دي چي محتاج او د كم توانی په وجه د عبادت ماليه څخه عاجزه وي كوم چي شتمن خلک يې ادا كوي.

د اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه مراد اهل عرب دي كوم چي د نبي كريم ﷺ د قريب كېدو په وجه غوره او افضل دي ، د حديث د آخري خبرو څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي الله اكبر په هغه ټولو تسبيحاتو كي كوم چي په حديث كي ذكر سوي دي افضل دی حالانكه ډېر صحيح حديثونه پر دې دلالت كوي چي په دغه تسبيحاتو كي تر ټولو غوره لا اله الا الله دی بيا الحمد لله او بيا الله اكبر او بيا سبحان الله، نو ددې تاويل به دا وسي چي د حديث د آخري خبري مطلب دادی چي كوم څوک الله اكبر هر سهار او ماښام سل واره وايي نو د قيامت په ورځ به د لا اله الا الله د ويونكي او الحمد لله د ويونكي څخه پرته هيڅوک به تر دې زيات ثواب تر لاسه نه كړي كوم چي دغه سړی يې تر لاسه كوي .

﴿۲۲۰۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

التَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ لَيْسَ لَهَا حِجَابٌ

سبحان الله ويل د ترازو نيمه پله ډكوي او الحمد لله ويل ټوله پله ډكوي او لا اله الا الله ويل د هغه لپاره الله تعالی ته په رسيدو كي څه پرده نه ده

دُونَ اللّٰهِ حَتّٰى تَخْلُصَ إِلَيْهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و ليس اسناده بالقوي .

او سيده الله تعالی ته رسيږي ، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ او ددې اسناد قوي نه دي .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۰۱، رقم: ۳۵۱۸.

**تشريح**: د الحمد لله ويل ميزان ډكوي: ددې مطلب دادی چي د الحمد لله ثواب د پوره ميزان ډكول دي او دا چي الحمد لله د سبحان الله څخه غوره دی يا دا مراد دی چي الحمد لله د سبحان الله برابر دی چي نيم ميزان خو د سبحان الله ثواب ډكوي او نيم ميزان د الحمد لله ثواب ډكوي همداسي د دواړو په يو ځای كېدو سره پوره ميزان ډكيږي .

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي لا اله الا الله د الله تعالی په دربار ركي ډېر ژر قبليږي او ددې ويونكی ډېر ثواب تر لاسه كوي همدارنګه د حديث د آخري برخي وضاحت ددې خبري دليل دی چي سبحان الله او الحمد لله څخه لا اله الا الله غوره دی .

﴿۲۲۰۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَالَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

عَبْدٌ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصًا قَطُّ اِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ حَتّٰى تُفْضِيَ إِلَى

په رښتوني زړه سره لااله الاالله ووايي نو دهغه لپاره د آسمان دروازې خلاصي سي او د هغه کلمه رسيږي تر

الْعَرْشِ مَا اجْتُنِبَ الْكَبَائِرَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

عرش پوري تر څو پوري چي هغه د لويو ګناهو څخه ځان وساتي . ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۶، رقم: ۳۵۹۰.

**تشريح**: د لويو ګناهونو څخه ځان ساتل د ژر قبليدو شرط دی او د اصلي ثواب لپاره شرط نه دی يعني دغه کلمه د الله تعالى په دربار کي هغه وخت ژر قبليږي کله چي د دغه کلمې ويونکی د لويو ګناهونو څخه ځان وساتي او اصل ثواب هغه ته په هر حال تر لاسه کيږي که څه هم د ګناهو څخه ځان ونه ساتي .

## تسبيحات د جنت درختي دي

﴿۲۲۰۷﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيْتُ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ملاقات وکړ

إِبْرَاهِيْمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِيْ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ

د ابراهيم عليه السلام سره د معراج په شپه (په اووم آسمان) کي، هغه وفرمايل : اې محمد ﷺ ! ته خپل امت ته زما سلام ورسوه او ورته ووايه چي

أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيْعَانٌ وَأَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللّٰهِ

د جنت خاوره پاکه ده او د جنت اوبه خوږې دي او ددې ميدان د درختو څخه خالي دي او ددې درختي سبحان الله

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث

حسن غريب اسنادا .

والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر دي . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن د اسناد په اعتبار ضعيف دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۷۶، رقم: ۳۴۶۲.

**تشريح**: د دغه امت مرحومه د شان او عظمت له كبله حضرت ابراهيم عليه السلام د نبي كريم ﷺ په واسطه پر دغه امت سلام راوليږی او همدارنګه د دغه امت سره يې د خپل تعلق اظهار وكړ ځكه ددې امت يو يو فرد ته پكار دي چي ددغه حديث په ذريعه كله هم د حضرت ابراهيم عليه السلام سلام واوريدل سي يا وويل سي نو دا دي ووېل سي چي : وعليه السلام ورحمة الله وبركاته .

وان غراسها سبحان الله: او ددې درختې سبحان الله دي، ددې مطلب دادی چي ته خپل امت خبردار كړه چي ددغه كلمو په ذريعه سړی په جنت كي داخليږي او په جنت كي ډېري درختي لګيږي په دې توګه چي د كلمې په ويلو سره يوه درخته لګيږي ځكه دغه كلمه چي كوم څوک څومره زيات وايي د هغه له خوا په جنت كي هغومره زياتي درختي لګيږي . دا لكه چي دې ته اشاره ده چي ددغه كلمې ويونكی به د جنت په آرام او د سكون څخه ډک ځای كي په اطمينان او آرام سره وي او هلته به دغه كلمې د درختو په شكل كي د لازوال سكون ژوند ضامن وي .

**اذكار او اوراد پر ګوتو باندي ويل غوره دي**

﴿۲۲۰۸﴾: وَعَنْ يُسَيْرَةَ وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ قَالَتْ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت يسيرة (رض) څخه روايت دئ چي موږ ته رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّقْدِيسِ وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ

تاسو سبحان الله او لا اله الا الله ، سبحان الله الملك القدوس يا سبوح قدوس ربنا و رب الملائكة ويل پر ځان لازم كړئ او پر خپلو ګوتو يې شميرئ

فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ . رواه الترمذي وابوداؤد

ځكه چي د ګوتو څخه به پوښتنه كيږي او دا به جواب وركوي او په دې كي غفلت مه كوئ كنه نو د الله رحمت به تاسو هير كړي . ترمذي او ابوداؤد .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۳، رقم: ۳۵۸۳، وابوداود في السنن ۲\۱۷۰، رقم: ۱۵۰۱.

**تشريح**: په دې خو ټول پوهيږي چي د قيامت په ورځ به د انسان د بدن يو يو اندام د خپل مالک د اعمالو شاهد وي، د الله تعالى ارشاد دى: يوم تشهد عليهم السنتهم وايديهم وارجلهم بما كانوا يعملون، هغه ورځ په ياد کړه چي د هغوئ ژبه، لاسونه او پښې به د هغه شيانو شاهدي ورکوي کوم چي هغوئ کړي دي.

د الله تعالى په ارشاد کي پوښتنه کيږي په دې کي دې ته اشاره ده چي د قيامت په ورځ به الله تعالى د ګوتو څخه پوښتنه کوي چي وښيه تاسو په دنيا کي څه کړي دي؟ او بيا د جواب ورکولو لپاره به هغه ګوتو ته وينا ورکړل سي نو هغه ګوتي به د خپل مالک ښه او بد اعمالو باندي شاهدي ورکوي کوم چي هغه د ګوتو په ذريعه کړي وي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي تسبيحات پر خپلو ګوتو شمېرئ چي سبا به د قيامت په ورځ ستاسو پر دغه نيک عمل شاهدي ورکوي.

ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي اذکار او تسبيحات پر ګوتو شمېرل غوره دي که څه هم پر نورو شيانو باندي ويل هم جائز دي او په دې کي ددې خبري ترغيب هم دى چي د بنده د عقل و شعور تقاضا دا کېدل پکار دي چي هغه خپل د بدن اندامونه په هغه کارو کي بوخت وساتي کوم چي د الله تعالى درضا او خوښۍ باعث وي او خپل يو يو اندام د ګناه څخه وساتي چي د قيامت په ورځ هيڅ يو اندام د ګناهو په شاهدي ورکولو سره د الله تعالى په عذاب کي اخته نه کړل سي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### غوره ورد او غوره دعاء

﴿۲۲۰۹﴾: عَنْ سَعْدِ ابْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي يو صحرايي رسول الله ﷺ ته راغلى

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلِّمْنِيْ كَلَامًا أَقُوْلُهُ قَالَ قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ

او ويې ويل: ما ته يوه داسي کلمه وښيه چي زه يې وايم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا کلمه وايه: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ

لَهُ اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا حَوْلَ وَلَا

لَهُ اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا حَوْلَ وَلَا

قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ فَقَالَ فَهٰؤُلَاءِ لِرَبِّي فَمَا لِي قَالَ قُلِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ

قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ .هغه وويل : دا خو د الله جل جلاله لپاره سو اوس زما لپاره يې راوښيه : رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا كلمات وايه : اللّٰهُمَّ اغْفِرْ

لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي وَ شَكَّ الرَّاوِي فِي عَافِنِي . رواه مسلم

لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي. ددې حديث راوي په عافني كي شك كړى دئ . مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۴\۲۰۷۲، رقم: ۳۳- ۲۶۹۶.

**تشريح**: د بزاز په روايت كي په (لاحول ولاقوة الا باالله العزيز الحكيم) كي د العزيز الحكيم پر ځاى العلي العظيم راغلى دى او په عامه توګه خلك العلي العظيم هم وايي كه څه هم په صحيح مسلم كي العزيز الحكيم نقل سوي نه دي .

## په تسبيح سره د ګناهو سقوط

﴿۲۲۱۰﴾: وَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مر على بِشَجَرَةٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يوې درختي سره تير سو چي

يَابِسَةِ الْوَرَقِ فَضَرَبَهَا بِعَصَاهُ فَتَنَاثَرَ الْوَرَقُ فَقَالَ إِنَّ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسُبْحَانَ

د هغې پاڼي وچې وي ، رسول الله ﷺ د هغه ښاخ په لکړه ووهئ نو پاڼي ځيني شوه سوې پر مځکه ولوېدې، رسول الله ﷺ وفرمايل : الحمد لله، سبحان الله

اللّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ لَتُسَاقِطُ مِنْ ذُنُوبِ الْعَبْدِ كَمَا تَسَاقَطَ وَرَقُ

هٰذِهِ الشَّجَرَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

او لا اله الا الله او الله اكبر ويلو سره د بنده ګناهو نه داسي رژيږي لكه څرنګه چي ددې درختي پاڼي ورژېدلې . ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\۵۰۸، رقم: ۳۵۳۳.

## د لاحول ولاقوة فضیلت

﴿۲۲۱۱﴾: وَعَنْ مَكْحُولٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت محکول د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت کوي چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ أَكْثِرْ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ قَالَ

لاحول ولاقوة الا بالله ډیر وایه ځکه چي دا د جنت یوه خزانه ده ، محکول وایي

مَكْحُولٌ فَمَنْ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا مَنْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ كَشَفَ

څوک چي لاحول ولاقوة الا بالله و لامنجا من الله الا الیه ، ووایي نو لیري کوي

اللهُ عَنْهُ سَبْعِينَ بَابًا مِنَ الضُّرِّ أَدْنَاهُنَّ الْفَقْرُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث ليس اسناده بمتصل ومكحول لم يسمع عن ابي هريرة .

الله تعالی د هغه څخه د تاوان اویا ډولونه او مفلسي ددې ډولو څخه یو کم ډول دئ، ترمذي ویلي دي ددې سند متصل نه دئ او د مکحول اوریدل د ابوهریرة څخه ثابت نه دي.

**تخریج**: سنن الترمذي ۵\۵۴۱، رقم: ۳۶۰۱.

**تشریح**: د جنت خزانه ده : ددې مطلب دادی چي لاحول ولاقوة الا بالله – د جنت یوه ذخیره ده چي ددې ویونکي به د قیامت په ورځ ور څخه ګټه تر لاسه کړي په کومه ورځ چي د دنیا مال او خزانه په کار نه راځي او نه به اولاد او نور قریبان ګټه رسولای سي.

د فقر څخه مراد د زړه فقر او د زړه تنګي ده چي د هغه په اړه یو حدیث دی : کاد الفقر ان یکون کفرا – فقر کفر ته نژدې رسوي.

کوم څوک چي دغه کلمې وایي نو ددې په برکت به د هغه د زړه محتاجي لیري کیږي کله چي هغه پر ژبه باندي دغه کلمې ادا کوي او بیا ددغه کلمو په معنی او مفهوم کي فکر کوي نو د هغه په زړه کي دا یقین او عقیده پیدا کیږي چي هر امر د الله تعالی له خوا دی هر شی د هغه په قبضه کي دی چا ته ګټه او فائده رسول د هغه په لاس کي دي او چا ته تکلیف او ضرر رسول د

هغه له خوا دي كوم څوک چي پر مصيبت او آفت باندي صبر كوي او پر نعمت او راحت باندي شكر كوي خپل ټول كارونه الله تعالى ته سپاري او همدارنګه د الله تعالى پر قضا باندي په راضي كېدو سره د الله تعالى محبوب بنده او دوست جوړيږي.

شيخ ابوالحسن شاذلي رحمة الله عليه فرمايي چي د خپل سياحت په دوران كي د كوم ځا ملګرتيا او صحبت ما ته تر لاسه سو هغه ما ته د نيكۍ او خبر د وصيت په كولو سره وفرمايل چي په بنه ډول پوه سه او د نيكو اعمالو لپاره په اقوالو او كلمو كي د لاحول ولاقوة الا بالله برابر هيڅ شی او د الله تعالى كلمې ته د كښنته كېدو او د هغه د فضل د لاري د اختيارولو برابر هيڅ عمل معاون نه سته.

ومن يعتصم بالله فقد هدي الى صراط مستقيم: كوم څوک چي د الله تعالى ښودل سوې لاره اختيار كړې نو بېشكه هغه د ټينګي لاري هدايت تر لاسه كړ.

د امام ترمذي د قول سره سم كه څه هم د دغه حديث سند متصل نه دی او دا حديث منقطع دی مګر دا حديث د موسى رضي الله عنه د هغه روايت څخه مرفوع كيږي چي هغه نسائي او بزاز نقل كړى دى چي لاحول ولاقوة الا بالله فانها كنز من كنوز الجنة، همداسي د حديث توثيق د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د روايت مرفوع څخه هم كيږي لكه څرنګه چي نسائي او بزاز هم نقل كړي دي چي لا حول ولاقوة الا بالله او په دې كي لامنجا من الله الا اليه كنز من كنوز الجنة هم دی نو د مكحول د غه حديث كه څه هم د اسناد په اعتبار منقطع دى مګر د مفهوم او معنى په اعتبار د اعتماد وړ دى.

﴿۲۲۱۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ دَوَاءٌ مِّنْ تِسْعَةٍ وَّتِسْعِيْنَ دَاءً أَيْسَرُهَا الْهَمُّ "

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: لاحول ولاقوة الا بالله، د يو كم سلو ناروغيو دوا ده چي په هغه كي معمولي ناروغي غم دئ. بيهقي

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

﴿۲۲۱۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أَدُلُّكَ عَلٰى كَلِمَةٍ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ايا زه تا ته يوه كلمه ونه ښيم

مِّنْ تَحْتِ الْعَرْشِ مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى

چي د عرش د لاندي څخه او د جنت د خزانو څخه نازله سوې ده او هغه: لاحول ولاقوة الا باالله، ده هر كله چي بنده دا ووايي نو الله تعالى فرمايي:

أَسْلَمَ عَبْدِيْ وَاسْتَسْلَمَ. رواهما البيهقي في الدعوات الكبير

زما بنده فرمانبردار سو يا زما بنده خلاصون تر لاسه كړ او فرمانبردار سو، يا هغه ټول كارونه الله ته وسپارل، بيهقي.

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

﴿۲۲۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ هِيَ صَلاَةُ الْخَلاَئِقِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي سبحان الله د مخلوقاتو عبادت دئ او الحمدلله

كَلِمَةُ الشُّكْرِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ كَلِمَةُ الْإِخْلاَصِ وَاللهُ أَكْبَرُ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ

د شكر كلمه ده او لااله الاالله د اخلاص كلمه ده او الله اكبر د آسمان او مځكي منځ ډكوي

وَالْأَرْضِ وَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ لاَحَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ قَالَ اللهُ تَعَالٰى أَسْلَمَ

وَاسْتَسْلَمَ. رواه رزين

او هر كله چي بنده لاحول ولاقوة الا باالله ووايي نو الله تعالى د هغه په جواب كي وايي زما بنده فرمانبردار سو او ډير فرمانبردار سو. رزين.

**تشريح**: سبحان الله د مخلوقاتو عبادت دی، مطلب دادی چي د الله تعالى په دغه ارشاد: وان من شئ الا يسبح بحمده، او په مخلوقاتو كي هيڅ شی داسي نه سته چي د الله تعالى پاكي د هغه په تعريف سره نه بيانوي، ټول مخلوقات د الله تعالى پاكي بيانوي ځكه دا د هغوئ عبادت دی.

=========

# بَابُ الْاِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ

## د استغفار او توبې بيان

د استغفار معنى ده د الله تعالى څخه بخښنه غوښتل او د استغفار په ضمن لکه څرنګه چي توبه راځي همدارنګه توبه د استغفار په ضمن کي هم راځي ځکه نو د باب د عنوان په ټاکلو سره په خاصه توګه د التوبة ذکر سوى دى يا والتوبة ځکه ذکر سوى دى چي استغفار خو د ژبي سره تعلق لري چي بنده د خپل ژبي په ذريعه د الله تعالى څخه بخښنه او مغفرت غواړي او د توبې تعلق د زړه سره دى ځکه چي پر ګناه باندي پښېماني او شرمندګي او بيا الله تعالى ته رجوع کول او په راتلونکي کي د ګناهونو څخه ځان ساتل په زړه سره کيږي.

د توبې معنى ده د ګناهو څخه طاعت ته رجوع کول، د غفلت څخه ذکر ته، د غيبت څخه حضور ته. د الله تعالى له خوا د بنده د بخښني مطلب دادى چي الله تعالى د هغه بنده ګناهونه په دنيا کي هم پټهوي په دې توګه چي چا ته د هغه د ګناه علم ونه سي او په آخرت کي د هغه ګناهونه پټ سي په دې توګه چي د هغه د ګناهو په وجه هغه په عذاب کي اخته نه سي.

سيد الطائفة جنيد بغدادي رحمة الله عليه څخه پوښتنه وسوه چي د توبې څه مطلب دى؟ هغه وفرمايل: ګناه هېرول يعني د توبې کولو وروسته د ګناه د خوند احساس د زړه څخه داسي ختم سي لکه هغه چي يې نه پيژني چي ګناه څه شي ده.

د سهيل تستري رحمة الله عليه څخه پوښتنه وسوه چي د توبې څه مفهوم دى؟ هغه وفرمايل چي ته ګناه مه هېروه چي د الله تعالى د عذاب د بيري څخه په راتلونکي کي د يو ګناه جرائت نه وي.

د الله تعالى ددغه حکم: توبوا الي الله جميعا - تاسو ټول الله تعالى ته رجوع وکړئ، مطابق استغفار يعني د بخښني طلب او توبه کول پر هر بنده باندي واجب دي ځکه چي هيڅوک د خپل حال او مرتبې په لحاظ د ګناه او هيري څخه خالي نه دى نو پر هر چا باندي لازم ده چي د خپلو تېرو ګناهو څخه توبه وباسي د بخښني او مغفرت طلب وکړي او په راتلونکي کي د ټولو ګناهونو څخه ځان وساتي او سهار او ماښام توبه او استغفار د خپل ځان معمول وګرځوي چي د ټولو کوچنيو او لويو ګناهونو کفاره سي که هغه ګناه يې په قصد سره کړې وي او که په خطا يا هېره سره يې کړې وي او د ګناهونو د نحوست په وجه د طاعت د توفيق څخه محروم نه سي او پر ګناهونو باندي همېشتوب يې کفر او دوږخ ته ونه رسوي.

د توبې د صحيح او قبلېدو لپاره څلور خبري ضروري دي او د شرط په درجه كي ۱: يو خو دا چي محض د الله تعالى د عذاب د بيري څخه او د هغه د حكم د تعظيم سره سم توبه وكړي او د توبې څخه بل هيڅ غرض نه وي مثلا د خلكو د تعريف او صفت تر لاسه كولو لپاره او د ضعف او نقر په وجه د توبي دخل نه وي ، ۲: دوهم دا چي پر تېرو گناهونو باندي په حقيقت كي شرمندگي او پښيماني وي ۳: دريم دا چي په راتلونكي كي د ظاهري او باطني گناهونو څخه پرهېز وكړي، ۳: او څلورم دا چي پخه اراده وكړي چي په راتلونكي كي به هيڅكله گناه نه كوم.

د توبې كيفيت او اثر او په راتلونكي كي د گناهونو نه كولو اراده صحيح كېدل دا دي چي توبه كونكى د خپل بلوغ او امتداد څخه د توبې كولو تر وخت پوري د ټول وخت څارنه وكړي او دا وګوري چي د هغه څخه څه گناهونه سوي دي چي په هغه كي د هري يوې گناه بنديز وكړي كه په هغه وخت كي هغه لمونځ، روژه، حج، زكوة او نور فرضونه ترك كړي وي نو د هغه قضا دي وكړي او خپل وخت په نفل يا فرض كفايه عباداتو كي په بوخت كېدو سره د هغه فرضونو په قضا كولو كي دي سستي نه كوي.

همدارنگه په دغه وخت كي كه منع او حرام كارونه يې كړي وي مثلا شراب يې څښلي وي يا يو بل ممنوع او غير شرعي كار يې كړى وي نو د الله تعالى په دربار كي دي د هغه څخه توبه و استغفار وكړي او ددې سره سره دي د الله تعالى پر نامه باندي د غريبانو او مسكينانو مرسته كوي او صدقه او خيرات دي كوي چي د هغه توبه قبوليت ته ورسيږي او د الله تعالى له وري هغه په بخښني او مغفرت سره ونازول سي او بيا د الله تعالى پر فضل او رحمت باندي دي يقين ولري چي انشاء الله تعالى د هغه توبه به قبوله سي او بخښنه به يې وسي خپله الله تعالى وعده كړې ده : هو الذي يقبل التوبة عن عباده ويعفو عن السيئات، هغه داسي رحيم او كريم دى چي د خپلو بندگانو توبه قبلوي او د هغوئ خطاوي معافوي.

دا خو د هغه توبې خبره ده چي هغه د گناهونو څخه وسي يعني د هغه تعلق يوازي د حق الله سره وي او كه پر خپل ځان باندي داسي گناه وي چي د هغه تعلق د حقوق العباد يعني د بندگانو حقوق يې تلف كړي وي يا د هغوئ تاوان وي نو په دغه صورت كي دي د الله تعالى بخښنه او مغفرت وغواړي ځكه چي د هغه نافرماني يې وكړه او د هغه بندگانو څخه دي هم تدارك ولري كومو چي حق تلف سوى دى.

كه چيري د حق تلف كېدل په مال سره وي نو د حق خاوند ته دي هغه مال وركړي يا د هغه څخه دي معافي وغواړي او كه د هغه تعلق د مال سره نه وي بلكه غيبت يا بل يو ذهني او بدني

تکلیف یې ور رسولی وي نو د هغه څخه دي معافي وغواړي او که د حق تلف کېدل په یو داسي کوتاهي او قصور سره وي که چیري د معاف کولو په وخت کي د هغه ذکر نه کېږي او د فساد سبب جوړېږي نو په داسي صورت کي د هغه کوتاهۍ ذکر کولو پرته دي د هغه سړي څخه معافي وغواړي مثلا هغه ته دي داسي ووایي چي زما څخه کومه کوتاهي سوې وي هغه راته معاف کړه او که په داسي معافۍ غوښتنه کي هم د فتنې او فساد بېره وي نو بیا دي الله تعالی ته رجوع وکړي او د هغه په دربار کي دي زارۍ وکړي ، نېک او ښه کارونه دي وکړي صدقه او خیرات دي وکړي چي الله تعالی د هغه څخه راضي وي او هغه سړی چي د هغه حق تلف سوی دی د خپل فضل او کرم سره سم خپل ځان ته د اجر په ورکولو سره هغه راضي کړي که چیري د حق خاوند مړ سوی وي نو د هغه وارث څخه دي معافي وغواړي او د هغوئ سره دي ښه چلن وکړي او د مړي له خوا دي هم صدقه او خیرات وکړي .

د یو مؤمن مسلمان شان داسي کېدل پکار دي که چیري د هغه څخه یو ګناه وسي نو د هغه څخه په توبه کولو کي دي بالکل سستي او ځنډ نه کوي او د نفس په مکر او د شیطان په وسوسه کي د اخته کېدو سره دي دا سوچ نه کوي چي زه خو پر توبه قائم نه سم پاته کېدای نو توبه څرنګه وکړم، ځکه کله چي یو بنده توبه کوي نو د هغه وروستني ګناهونه بخښل کېږي ځکه نو د بشریت د تقاضا سره سم د توبې کولو وروسته که بیا ګناه وسي نو بیا دي توبه وکړي که څه هم ورځ کي څو واره داسي وسي په شرط د دې چي د توبې پر وخت په زړه کي دا خیال نه وي چي زه به بیا هغه ګناه کوم او توبه به وکړم بلکه د توبې کولو پر وخت دي دا احساس وي چي کېدای سي د بیا ګناه کولو څخه مخکي مړ سم او دا توبه زما آخري توبه وي .

کله چي یو څوک توبه کول غواړي نو مخکي دي غسل وکړي ، پاکي جامې دي واغوندي او دوه رکعته لمونځ دي د زړه په حضور سره وکړي په سجده کي په پرېوتلو سره دي ډېري زارۍ او تضرع سره خپل ځان ملامت کړي او د خپل تېرو ګناهونو په یادولو سره دي د الله تعالی د عذاب د بیري څخه خپل زړه په بېره کي کړي او د شرمندګۍ او پښېماني په پوره احساس سره دي توبه او استغفار وکړي او دي د لاس په پورته کولو سره د الله تعالی په دربار کي دا ووایي چي : اې زما پروردګاره! ستا د دربار څخه تېښتېدلې دغه ګناه کار غلام د خپلو ګناهو څخه په توبې کولو سره ستا په دربار کي حاضر سوی دی ، په ډېره پښېماني او شرمندګۍ سره د خپلو ګناهونو بخښني ته راغلی دی ستا ذات رحیم او کریم دی ته ستار او غفار یې د خپل کرم په صدقه زما ګناه و بخښې او په خپل فضل سره زما معذرت قبول کړې او د رحمت په نظر ماته

وګورې نه یوازې دا چې زما ټېر ګناهونه و بخښې بلکه په راتلونکي کې ما د هرې ګناه څخه وساتې خېر ستا په قدرت کې دی او د خپلو ګناه کارو بندګانو ته بخښونکی یې ، ددې څخه وروسته دې درود شریف ووایې او د ټولو مسلمانانو لپاره دې بخښنه او مغفرت وغواړي .

دا خو د عامو خلکو توبه ده چې د هغوئ د ژوند او ګناه په مینځ کې څه فاصله نه وي او هغوئ په ګناه او معصیت کې اخته کېږي او د هغوئ دغه توبه د هغوئ د زیرې مستحق ګرځول چې : ان الله یحب التوابین ویحب المتطهرین، مګر خاص کسان چې د الله تعالی فرمانبردار بندګان دي د هغوئ ژوند د معصیت او ګناه څخه لیرې او د شریعت تابع وي د هغوئ توبه داده چې هغوئ د بدو اخلاقو څخه چې د هغه څخه د زړه پاکول واجب دي توبه وکړي همدارنګه د الله تعالی د عاشقانو توبه داده چې د بشریت د تقاضا سره سم که د هغوئ څخه د الله تعالی د ذکر او یا دا چې په الوهیت کې غفلت وسي او په غیر الله کې بوخت سي نو سمدستي دې الله تعالی ته رجوع وکړي او د خپل کوتاهی څخه دې توبه وکړي .

په دې خبره پوهېدل پکار دي چې د لویو ګناهونو کول د ایمان څخه نه خارجوي مګر فاسق او ګناه کار یې کوي ، د ګناه صغیره او کبیره په اړه په باب الکبائر وعلامات النفاق کې په تفصیل سره بحث سوی دی هلته د ګناه دغه دواړه ډولونه په ښه ډول کتل کیدای سي .

او کوم چې د کوچنی ګناه تعلق دی نو هغه دومره زیاتي وي چې په عام ژوند کي د هغه څخه پرهیز کول مشکل دي د مختار مذهب سره سم په کوچنیو ګناهونو سره په تقوا کي خلل نه واقع کیږي په شرط ددې چې پر کوچنیو ګناهو باندي دوام نه وي ځکه چې پر کوچنیو ګناهو باندي دوام کول د لویو ګناهو په درجه کي کیږي نو پر هر مسلمان باندي واجب دي چې هغه د کبیره ګناهو څخه او تر خپله وسه د صغیره ګناهو څخه ځان وساتي او پوه سي چې ګناه یې د ایمان څخه ونه باسي مګر ددې خبري ېېره باید وي چې د ګناه کرار کرار ژوند یې د کفر او دوږخ حد ته رسوي .

## د ګناهونو څخه د ځان ساتني علاج

د ګناهونو څخه د ځان ساتني یو اسانه علاج دادی چې په هر شي کي پر حد ضرورت باندي قناعت وکړل سي یعني کوم شیان چې د انساني ژوند د بقاء او تکمیل لپاره بنیادي درجه لري په هغه کي یوازي تر هغه حده پوري قناعت وکړل سي چې ضروري وي او د ضرورت حد دادی چې دومره غذا چې د لوږي ختمولو لپاره ضروري وي دومره جامه چې ستر په پټ کړل سي او دومره ځای چې د ګرمی او یخ څخه په وساتل سي او دومره لوښي چې ضروري وي او یوه ښځه .

نو په دې پوهېدل پکار دي چې د ضرورت د حد څخه تجاوز کول او په مباح کار کي د وسعت اختيارولو په وجه انسان په هغه شيانو کي اخته کيږي چې مشتبه او مکروه وي او کله چې په مکروهاتو کي اخته سي نو بيا کرار کرار د حرامو شيانو کول هم شروع سي او دا هغه نکته ده چې د اسلام حد خو ختم سي او ددې څخه وروسته د کفر او اور مېدان شروع کيږي. نعوذبالله منه.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د رسول الله ﷺ توبه او استغفار

﴿۲۲۱۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوْبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً. رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په الله دي مي قسم وي زه په ورځ کي تر اويا واره زيات استغفار وايم او الله ته توبه کاږم. بخاري

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۱\۱۰۱، رقم: ۶۳۰۷.

**تشريح**: رسول الله ﷺ په کثرت سره استغفار او توبه په دې وجه نه کول چي نعوذبالله د رسول الله ﷺ څخه يو ګناه سوې وي بلکه ددې وجه دا وه چي رسول الله ﷺ د عبديت تر ټولو پر لوړ مقام باندي د فائز کېدو په وجه يې دا ګڼل چي کېدای سي زما څخه د الله تعالی په بندګۍ او عبادت کي څه قصور سوی وي او ما بندګۍ داسي نه وي کړې کوم چي د الله تعالی د شان وړ وي او زما څخه مقصد امت ته د استغفار او توبې ترغيب ورکول وه چي رسول الله ﷺ سره ددې چي معصوم او خير المخلوقات وو نو کله چي رسول الله ﷺ په ورځ کي اويا واره توبه او استغفار کوي نو ګناه کاريې بايد په طريقه اولی تر دې زيات وکړي.

حضرت علي رضي الله عنه به فرمايل چي د مځکي پر مخ د الله تعالی له لوري دوې پناوي وي يوه خو پورته سوه او دوهمه پاته ده نو دغه دوهمه پناه اختيار کړي کومه پناه چي پورته سوه هغه خو د رسول الله ﷺ مبارک ذات وو او کومه پناه چي پاته ده هغه استغفار دی، د الله تعالی ارشاد دی: وما کان الله ليعذبهم وانت فيهم وما کان الله معذبهم وهم يستغفرون. او الله تعالی تر هغه وخته پوري څوک په عذاب کي نه اخته کوي تر څو چي ته (محمد ﷺ) په دوئ کي موجود يې او الله تعالی دوئ تر هغه وخته په عذاب کي نه اخته کوي تر څو چي دوئ استغفار کوي.

﴿۲۲۱۶﴾: وَعَنِ الْاَغَرِّ الْمَزَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ. رواه مسلم

د حضرت اغر مزني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په زړه کي يو ډول راځي او زه په ورځ کي سل واره استغفار کوم. مسلم

**تخریج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۷۵، رقم: ۴۱- ۲۷۰۲.

**د لغاتو حل**: لَيُغَان: اى يطبق ويغشى او يستر.

﴿۲۲۱۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللّٰهِ فَإِنِّي أَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ. رواه مسلم

د حضرت اغر مزني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اي خلکو! الله ته توبه کاږئ زه هم الله ته د ورځي سل واره توبه کاږم. مسلم

**تخریج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۷۵، رقم: ۴۲- ۲۷۰۲.

**تشريح**: د دغه حديث په معنى او مفهوم کي د علماؤ ډېر قولونه دي چي په هغو کي يو قول دا هم دی چي رسول الله ﷺ دا خبره خوښول چي د رسول الله ﷺ زړه مبارک د الله تعالى سره هر وخت حاضر وي هيڅ يو وخت د هغه څخه غافل نه وي مگر کله چي مباح شيان مثلا خوراک، څښاک او د خپلو بيبيانو سره يو ځای والی يا دا ډول نور کارو کي بوخت کيدی چي د هغه په وجه به د الله تعالى څخه غفلت کيدی نو دغه بوختيا به يې په خپل توگه يوه پرده او گناه گڼل او رسول الله ﷺ مبارک زړه به لړزان وو نو رسول الله ﷺ به ددې په وجه استغفار کوی، ددغه حديث په اړه تر ټولو ښه خبره هغه ده کوم چي ځينو عارفينو ويلې ده چي دغه حديث د متشابهاتو څخه دی ددې د اصل معنى علم الله تعالى ته او د هغه رسول ته دی د امت کار خو دا دی چي پر دغه حديث باندي ايمان راوړی او ددې د معنى په پوهېدو پسي ونه لگيږي.

## د رجوع الى الله حکم

﴿۲۲۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا رَوَى

حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه حديثونو لړۍ چي

عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي

رسول الله ﷺ به د لوی الله تعالی څخه روایت کول چي الله تعالی فرمایي : اې زما بندګانو ! ما پر خپل ځان ظلم حرام کړئ دئ

وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوا يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ

او ستاسو په منځ کي مي هم ظلم حرام کړئ دئ، نو تاسو په خپل منځ کي ظلم مه کوئ اې زما بندګانو تاسو ټول ګمراهان یاست خو هغه سړی پر سیده لاره دئ چي هغه ته ما هدایت وکړ

فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ فَاسْتَطْعِمُونِي

نو تاسو زما څخه هدایت غواړئ زه به هدایت درکوم، اې زما بندګانو تاسو ټول وږي یاست خو نه هغه څوک چي هغه ته زه خوراک ورکړم، نو تاسو زما څخه خوراک وغواړئ

أُطْعِمْكُمْ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ يَا عِبَادِي

زه به یې درکړم، اې زما بندګانو ! تاسو ټول لوڅ یاست خو نه هغه څوک چي هغه ته ما د اغوستلو لپاره ورکړل، نو زما څخه جامې وغواړئ زه به یې درکړم، اې زما بندګانو !

إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ

تاسو په شپه او ورځ کي خطاوي کوئ او زه ستاسو ټول ګناهونه بخښم نو تاسو زما څخه بخښنه وغواړئ نو زه به مو وبخښم،

لَكُمْ يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّونِي وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي

اې زما بندګانو ! که تاسو په ګناه کولو سره ما ته ضرر رسول وغواړئ نو هیڅکله ضرر راته نه سئ رسولای او که په نیکو کارونو سره ګټه رسول راته وغواړئ نو په هیڅ شي راته ګټه نه رسیږي، یعني ستاسو ګناه کولو او فرمانبرداري کولو سره ما ته هیڅ ګټه او تاوان نه رسیږي،

يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ

اې زما بندګانو ! که ستاسو مخکني او وروستني ستاسو انسانان او پیریانان ستاسو د یو ډیر

پرهيزگاره كس په ډول جوړ سي

واحد مِنْكُمْ مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئًا يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ

نو زما په ملكيت كي په دې سره هيڅ زياتي نه كيږي ،اې زما بندګانو ! كه ستاسو مخكني او وروستني

وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي

او ستاسو ټول انسانان او پيريانان د يو ډير بدتر او فاجر سړي په ډول سي نو په دې سره زما په ملكيت كي هيڅ كمي نه راځي ،

شَيْئًا يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ

اې زما بندګانو ! كه ستاسو مخكني او وروستني او انسانان او پيريانان يو ځاى ودريږي

وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا

بيا زما څخه وغواړي نو زه به هر انسان ته د هغوئ د غوښتلو سره سم وركړم نو زما دا وركول به د دې شي څخه چي زما سره دي دومره هم كم نه كړي

كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا

څومره چي يوه ستن په درياب كي ننه ايستلو سره د هغه اوبه كموي، اې زما بندګانو ! زه ستاسو اعمال په ياد لرم

عليكم ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدْ اللَّهَ وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ

فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ. رواه مسلم

او ليكم يې، او زه به تاسو ته د هغه پوره بدله دركوم، نو څوک چي خير تر لاسه كړي هغه ته د الله تعالى تعريف كول پكار دي او څوک چي د خير څخه پرته بل څه تر لاسه كړي يعني بدي، نو خپل ځان دي ملامت كړي چي دا د هغه كار دئ. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\ ۱۹۹۴، رقم: ۵۵- ۲۵۷۷.

**د لغاتو حل**: المَخيط: بسكر الميم وسكون الخاء اى الابرة (ستن).

**تشریح**: کلکم ضال : که تاسو ټول ګمراهان سئ، په دې اعتبار یې وفرمایل چې د دنیا هیڅ سړی داسې نه سته چې په هغه کې د دنیا او دین د هر کمال او هر سعادت او ټولې نیمګړتیاوې وې په هر سړي کې څه نا څه کمي او کوتاهي خامخا وي او که څوک په دنیوي او اخروي اعتبار په خپل ځان کې څه کمي او کوږوالی ولري نو په چا کې چې د دنیوي کارو په اعتبار څه کمي او کوږوالی وي ځکه یې وفرمایل چې تاسو ټول ګمراهان یاست یعني د دین او دنیا دواړو په اعتبار د کمال درجه نه لرئ.

الا من هدیته : پرته د هغه چا څخه چې هغه ته زه هدایت وکړم، د الله تعالی د دغه ارشاد مراد دادی چې خلک یې د هغوئ پر هغه حالت او کیفیت باندې پرېښودل کوم چې د هغوئ طبیعت او د هغوئ د نفس بنیاد دی نو هغوئ د درختې په ډول څرنګه چې غواړي زیاتېږي او کومې خوا ته چې غواړي ځي چې د هغه نتیجه ګمراهي او بې لارې ده ځکه زه چې چا ته وغواړم هغه ته فکر او ذهن او د نیک اعمالو هدایت کوم دهغه نتیجه به دا وي چې د هغه نفس به پر صحیح لاره باندې وي او د هغه طبیعت به نیکۍ ته ځي دا خبره نبي کریم ﷺ په دې توګه بیان کړه : ان الله خلق الخلق في ظلمة ثم رش علیهم من نوره
الله تعالی مخلوقات په تیاره کې پیدا کړه او بیا خپل نور پر واچوی، دلته دا تشویش پیدا کېدل نه دي پکار چې دا خبره د دغه حدیث : کل مولود یولد علی فطرة : هر کوچنی د اسلام پر فطرت باندې پیدا کیږي- خلاف ده ځکه چې د فطرت څخه مراد توحید دی او د ضلالت باعظمت څخه مراد د ایمان احکام تفصیل او د اسلام حدود او شرطونه پیژندل دي.

وانا اغفر الذنوب جمیعا : زه ستاسو ګناهونه بخښم، د دې مطلب دادی که تاسو شپه او ورځ په خطا کې سئ او په ګناهو کې اخته یاست مګر پر خپلو ګناهو باندې په پښیمانۍ سره توبه او استغفار کوئ نو زه ستاسو ټول ګناهونه بخښم.

یا دا مراد دی چې یو خو داسې ګناه ده چې د هغه څخه د توبې کولو پرته بخښنه ممکن نه ده هو د دې څخه پرته نورې ټولې ګناوې که زه وغواړم نو پرته د توبې او استغفار په خپل فضل او کرم او خپل رحمت په خاطر یې بخښم.

لکه څومره چې ستن کمیږي : په دې باره کې علامه طیبي رحمه الله فرمایي چې د ستنې په دریاب لوېدو سره د هغه اوبه کمول یو نه محسوس کېدونکی شی دی او نه د عقل او شعور په رڼا کې دا خبره راتلونکې ده بلکه هغه کالعدم دی ځکه په دې سره مشابهت ورکړل سوی دی کنه نو د الله تعالی په خزانه کې د اولی څخه تر اولی درجې او د کمۍ څه سوال پیدا کیږي یعني

هيڅ يو سوال نه پيدا کيږي.

ابن ملک رحمة الله عليه وايي په دې باره کي به دا ويل کيږي چي دغه جمله د بالفرض والتقدير د قسم څخه ده يعني که د الله تعالى په خزانه کي کمي فرض کړل سي نو هغه دومره کېداى سي.

**توبه او د الهي رحمت وسعت**

﴿۲۲۱۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

كَانَ فِيْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ إِنْسَانًا ثُمَّ خَرَجَ يَسْأَلُ فَأَتَى

په بني اسرائيلو کي يو سړی وو چي هغه يو کم سل وژني کړي وې، بيا هغه په بني اسرائيلو کي د پوښتني کولو لپاره ګرځېدی چي د هغه توبه قبليداى سي که نه؟

رَاهِبًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ تَوْبَةٌ قَالَ لَا فَقَتَلَهُ فَجَعَلَ يَسْأَلُ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ ائْتِ

هغه يو عابد ته ورغلی د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي ايا زما توبه قبليداى سي؟ هغه عابد ورته وويل: نه، نو هغه عابد يې هم ووژئ، او بيا همداسي ګرځيدی د خلکو څخه يې پوښتنه کول بيا يو سړي هغه ته وويل ته فلاني ځاى ته ولاړ سه

قَرْيَةَ كَذَا وَكَذَا فَأَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَنَاءَ بِصَدْرِهِ نَحْوَهَا فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ

او نوم او پته يې ورکړه (نو هلته ورغلئ) په لاره کي ورته څرګنده سوه چي مرګ يې نژدې دئ (يعني هغه مرګ ته په نژدې کېدو سره نيمه لاره وهلې وه) نو خپل سينه يې د هغه آبادۍ په لور وروړاندي کړه (يعني کله چي هغه مړ سو نو هغه پرېوتئ او په ځکېدو سره يې خپله سينه د هغه ابادۍ په لور کړه هغه تر نيمي لاري ډير مصافه، هلې وه) د مرګ ملائکي

الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ فَأَوْحَى اللّٰهُ إِلَى هٰذِهِ أَنْ تَقَرَّبِيْ إِلَى هٰذِهِ أَنْ تَبَاعَدِيْ

چي په هغو کي د رحمت ملائکي او د عذاب ملائکي دواړي وې د هغه د روح قبض کولو لپاره راغلې او د دواړو په منځ کي جګړه سوه چي څوک د هغه روح قبض کړي، الله تعالى هغه آبادۍ ته حکم ورکړ چي هغه مړی ځان ته نژدې کړي يا مړي ته نژدې سي او د کومي ابادۍ څخه چي هغه تللی وو هغه ته يې حکم ورکړ چي ته د مړي څخه ليري سه،

فَقَالَ قِيسُوا مَا بَيْنَهُمَا فَوُجِدَ إِلَى هَذِهِ أَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهُ . متفق عليه

بيا الله تعالى جګړه كونكو ملائكو ته وويل تاسو د دواړو فاصله اندازه كړئ د اندازې څخه څرګنده سوه چې هغه په كوم تلئ د هغه اندازه يوه لوېشت كمه ده يعني دى هغې ته يوه لوېشت زيات نژدې وو نو الله تعالى هغه وبخښى . بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ٦\١٦ ٥١٢، رقم: ٣٤٧٠، ومسلم في الصحيح ١٤\٢١١٩، رقم: ٤٧-٢٧٦٦.

**د لغاتو حل**: فَنَاء: اى نهض ومال بصدره: (كړول).

**تشريح**: ابن ملك رحمه الله وايي چې كله ملک الموت د هغه سړي روح قبض كړل نو د رحمت ملائكي او د عذاب ملائكي دواړې د ملک الموت څخه د هغه سړي د روح اخيستلو لپاره په جګړه سوې ، د رحمت ملائكو وويل چې دا سړى د توبې لپاره دغه كلي ته راغلى وو ځكه نو دى مونږ د الله تعالى رحمت ته بيايو او د عذاب ملائكو وويل چې دغه سړى سل ناحقه قتلونه كړي دي او تر اوسه يې توبه نه وه كړې ځكه نو مونږ دى د عذاب الهي په لور بيايو نو الله تعالى د هغه فيصله داسې وكړه لكه څرنګه چې پورته ذكر سوې ده .

دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چې د توبې كونكي لپاره د الله تعالى د رحمت وسعت د يو قيد او حد پابند نه دى ځكه د هغه بې پايه رحمت او د زړه په خلوص سره خپل طرف ته متوجه كېدونكى لوى تر لوى سركښ او ګناه كار هم په خپل لمن كې پټوي .

علامه طيبي رحمه الله فرمايي كله چې بنده د زړه او نيت په اخلاص سره الله تعالى ته متوجه كېږي او الله تعالى د هغه څخه راضي كېږي نو الله تعالى د هغه دښمان هم د هغه څخه راضي كوي.

دا حديث دې خبري ته ترغيب وركوي چې د توبې او استغفار په ذريعه خپل لمن په ګناهونو د چټل كېدو څخه پاكه وساتي او د الله تعالى د رحمت څخه مايوسي او نا اميدي ځانته نه پرېږدي

﴿۲۲۲۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : زما دې په هغه ذات قسم وي

نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ

فَيَسْتَغْفِرُونَ اللهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ . رواه مسلم .

چي: هغه په لاس کي زما روح ده که تاسو گناه نه کوئ نو الله تعالى به ستاسو د ختمولو څخه وروسته ستاسو پر ځای یو داسي قوم راولي چي گناه به کوي او د الله څخه به بخښنه غواړي بيا به الله تعالى د هغوئ گناهونه بخښي. مسلم.

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۴\۲۱۰۶، رقم: ۱۱- ۲۷۴۹.

**تشريح:** د دغه ارشاد مقصد مغفرت او د الله تعالى وسعت بيانول دي او دا ښودل دي چي الله تعالى د خپل مبارک نامه غفور د شان څرگندولو لپاره دومره زيات بخښونکی دی ځکه نو خلکو ته پکار دي چي هغوئ د خپلو گناهونو څخه په توبه کولو کي کوتاهي ونه کړي خدای مه کړه د دې حديث په ذريعه د گناه ترغيب مقصد نه دی ځکه چي د گناه څخه د ځان ساتني حکم خپله الله تعالى ورکړی دی او رسول الله ﷺ یې دنيا ته ځکه راليږلی دی چي رسول الله ﷺ خلک د گناه او معصيت د ژوند څخه په ايستلو سره د طاعت او عبادت پر لاره بوځي.

﴿۲۲۲۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللهَ

د حضرت ابو موسى ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى

عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ

خپل لاس د شپې اوږد کړي چي د ورځي گناهگار توبه وکاږي او د ورځي خپل لاس خپور کړي

لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا. رواه مسلم

چي د شپې گناه کونکي توبه وکاږي او هغه يې توبه قبوله کړي او دا لړی تر هغه وخته روانه وي تر څو پوري چي لمر د لوېديځ څخه راو نه خيژي يعني قيامت سي. مسلم.

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۴\۲۱۱۳، رقم: ۳۱- ۲۷۵۹.

**تشريح:** لاس غزول: دا په اصل کي کنايه ده د طلب کولو څخه، کله چي يو څوک د يو چا څخه يو څه غواړي نو د هغه په مخکي لاس غزوي نو الله تعالى په شپه کي لاس غزوي...الخ، د دې معنى دا ده چي الله تعالى گناه کار توبې ته را بولي، ځيني حضرات وايي چي د الله تعالى لاس غزول د هغه د رحمت او مغفرت کنايه ده.

د حديث آخري الفاظ : تر دې چي لمر د لويديځ څخه راوځي، ددې مطلب دادی چي د الله تعالی له خوا بندګانو څخه د توبې کولو دغه لړی به تر هغه وخته پوري روانه وي تر څو چي په قيامت کي لمر د ختيځ پر ځای د لويديځ څخه راوخيژي ځکه چي لمر د لويديځ څخه نه راخيژي نو د توبې دروازه به بنده سي او د هغه څخه وروسته به د هيچا توبه نه قبليږي .

**الله ﷻ توبه قبلوي**

﴿۲۲۲۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ ثُمَّ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي بنده د خپلي ګناه اقرار وکړي او بيا توبه وکاږي نو الله تعالی د هغه توبه قبلوي . بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۷\ ۴۳۱، رقم: ۴۱۴۱، ومسلم في الصحيح ۴\ ۲۱۲۹، رقم: ۵۶-۲۷۷۰.

﴿۲۲۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ . رواه مسلم .

حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د لمر د لوېديځ څخه د راختلو وړاندي توبه وکاږي الله تعالی د هغه توبه قبلوي . مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۷۶، رقم: ۴۳-۲۷۰۳.

**تشريح**: علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي دا د توبې د قبلېدو حد دی چي د لويديځ له خوا د لمر راختلو څخه مخکي پوري د توبې دروازه خلاصه وي نو تر هغه وخته پوري چي څوک توبه وکړي نو د هغه توبه قبليږي مګر ددې وروسته توبه نه قبليږي همدارنګه د توبې قبلېدو يو حد وي چي د هغه تعلق د هر فرد سره وي او هغه د زکندن حالت څخه مخکي وخت دی يعني کوم څوک چي د زکندن د حالت څخه مخکي توبه وکړي د هغه توبه قبليږي او د زکندن په وخت کي توبه نه قبليږي .

## الله ﷻ په توبه سره ډېر خوشحاله کيږي

﴿۲۲۲۴﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلّٰهُ أَشَدُّ فَرَحًا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي يو بنده الله تعالى

بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلَاةٍ

ته توبه وکاږي نو هغه د خپل بنده په توبې سره ډېر خوشحاله سي دومره زيات په خوشحاله سي چي هغو مره خوشحاله به په تاسو کي هيڅوک هم نه وي چي پر خپله سپرلۍ په يو ميدان کي

فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِي

روان وي بيا هغه سپرلۍ ځيني ورکه سي او پر هغه د خوراک او څښناک شيان هم وي او هغه د پيدا کېدو څخه نا اميده سي د يوې درختي په لور راغلئ او دهغې په سايه کي ناست وي او په

ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ

هغه نااميدي کي پټه خوله او غم زپلی پروت وي چي ناڅاپه هغه سپرلۍ راسي او د هغه سره

بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ مِنْ

شِدَّةِ الْفَرَحِ. رواه مسلم

ودريږي. هغه يې رسۍ نيولي وي او د زياتي خوشحالۍ په سبب د هغه د خولې څخه (دا غلط الفاظ) وتلي وي چي اې الله ته زما بنده يې او زه ستا پروردګاريم. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۱۴\ ۲۱۰۴، رقم: ۷- ۲۷۴۷.

**تشريح**: يعني دغه سړي په اصل کي دا ويل چي اې الله! ته زما رب يې او زه ستا بنده يم مګر د ډېري خوشحالۍ په وجه د جذباتو د شدت څخه مغلوب سو او ددې ويلو پر ځای يې دا وويل چي اې الله! ته زما بنده يې او زه ستا رب يم.

ددې ارشاد مطلب دا خبره بيانول دي چي الله تعالى د بنده د توبې څخه زيات خوشحاله کيږي او د هغه د توبې په قبلولو سره يې په خپل رحمت يې نازوي او د الله تعالى دغه خوشحالۍ ته يې د هغه سړي د خوشحالي سره مشابهت ورکړ چي د هغه سپرلۍ په ځنګل کي ورکه سوې وي او بيا ناڅاپه پيدا سي.

## الله ﷻ په وار وار توبه قبلوي

﴿۲۲۲۵﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عَبْدًا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو بنده

أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ فَاغْفِرْهُ فَقَالَ رَبُّهُ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ

يو ګناه وكړي بيا ووايي اې پروردګاره ! ما ګناه كړې ده ته يې رامعاف كړې ، ددې په اورېدو سره الله تعالى ملائكو ته وايي زما بنده ته ددې علم دئ چي د هغه يو پروردګار سته چي

الذُّنُوبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ

ګناهونه بخښي هم او نيول هم په كوي، نو ما د خپل بنده ګناه و بخښل، بيا څو ورځي بنده د ګناه څخه منع وي ددې وروسته يې بيا ګناه وكړه او وه يې ويل :

رَبِّ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَاغْفِرْهُ فَقَالَ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ

اې پروردګاره ! ما ګناه كړې ده ته يې رامعاف كړې ، الله تعالى ملائكو ته وايي ايا زما بنده پوهيږي چي د هغه يو پروردګار دئ چي ګناه بخښي هم او په ګناه نيول هم كوي،

بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا قَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ آخَرَ

ما هغه و بخښئ، بيا بنده د ګناه څخه منع وي تر څو پوري چي الله تعالى غواړي او ددې وروسته بيا بنده ګناه كوي او وايي اې ربه ! ما يوه بله ګناه كړې ده

فَاغْفِرْهُ لِي فَقَالَ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي فَلْيَعْمَلْ مَا شَاءَ . متفق عليه

هغه را وبخښې ، الله تعالى ملائكو ته وايي ايا زما بنده ته دا معلومه ده چي دده يو رب دئ چي ګناهونه معاف كوي او په ګناهو نيول هم كوي، ما هغه و بخښئ، اوس چي يې څه خوښه وي كوي دي يې . بخاري او مسلم.(څه چي يې خوښه وي ، مطلب په دې كي رغبت وركول دي توبي او استغفار ته نه د ګناه). امام نووي.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۳\ ٤٦٦، رقم: ۷۵۰۷، ومسلم في الصحيح ۴\ ۲۱۱۲، رقم: ۲۹- ۲۷۵۸.

**تشريح**: د حديث آخري الفاظ : څه چي غواړي کوي يې ، ددې مطلب دادی چي بنده تر څو پوري ګناوي کوي او استغفار کوي نو دده ګناه به بخښم ، د جملې مقصد خدای مه کړه ګناه ته رغبت ورکول نه دي بلکه د استغفار فضيلت او د ګناهونو په بخښنه کي د استغفار تاثير بيانول مقصد دي.

## ګناه کار ته دوږخي مه وایاست

﴿۲۲۲٦﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ

د حضرت جندب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ یو حدیث بیان کړ چي یو سړي دا وویل

وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ

په الله دي مي قسم وي فلانی الله نه بخښي، او الله تعالی وفرمايل : څوک دئ چي په ما قسم خوري چي زه به فلانی نه بخښم،

لِفُلَانٍ فَإِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ أَوْ كَمَا قَالَ. رواه مسلم

نو ما هغه فلانی سړی و بخښئ او ستا عمل مي ضائع کړ، یا داسي نور الفاظ يې ويلي وه. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۲۳، رقم: ۱۳۷- ۲٦۲۱.

**د لغاتو حل**: يتالی: ای يتحکم علي ويحلف باسمي.

**تشريح**: یو سړي زياتي ګناوي کولې د هغه په باره کي يو بل چا وويل چي الله تعالی هغه نه بخښي ، هغه دا خبره د تکبر په وجه هغه ته ډېر ګناه کار او ځان تر هغه ښه ګڼلو سره وويل، لکه څرنګه چي ځيني جاهل صوفيان د ګناه کارو په باره کي ښه ګمان نه لري حالانکه داسي خلک په دې نه پوهيږي چي د الله تعالی رحمت ډېر پراخ او عام دی د هغه ګناه کار بندګان هم د هغه د رحمت په لمن کي پناه تر لاسه کوي او هغوئ بخښي، خلاصه دا چي هغه قسم اخيستونکي د هغه د نه بخښلو چي کوم يقين کړی وو پر هغه عتاب وسو په دې توګه چي د هغه قسم يې درواغ کړ او هغه سړی يې وبخښی نو د هیچا په باره کي په قطعي توګه سره دا ويل چي هغه جنتي دی يا دوږخي دی جائز نه دي هو د قرآن کريم او حديث په وضاحت سره چي کومو خلکو ته جنتي يا دوږخي ويل سوي دي هغوئ ته په قطعي توګه باندي جنتي يا دوږخي ويلو کي څه پروا نه سته.

## دعاء او استغفار

﴿۲۲۲۷﴾: وَعَنْ شَدَّادِ ابْنِ اَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضر شداد بن اوس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ

سید الاستغفار دادئ چي ته په دې الفاظو سره استغفار وکړې : اللهم انت ....، اې الله ! ته زما رب یې ستا څخه پرته هیڅوک د عبادت وړ نسته تا زه پیدا کړم او زه ستا بنده یم

وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ

او ستا په عهد کي یم ، او ستا پر وعده یم د خپل توان سره سم ستا په ذریعه پناه غواړم د هغه بدۍ څخه چي ما کړې ده زه ستا د نعمتونو اقرار کوم

بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ قَالَ وَمَنْ

چي تا پر ما پیرزو کړي دي او د خپلو گناهو هم اعتراف کوم ته ما و بخښې ځکه چي ستا څخه پرته بل څوک بخښونکی نه سته ، رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي

قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ

دې کلماتو په مفهوم یقین ولري د ورځي یې ووایي او په هغه ورځ تر ماښام وړاندي مړ سي نو

الْجَنَّةِ وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ . رواه البخاري

هغه جنتي دئ او څوک چي دا کلمې د شپې ووایي او ددې پر معنی یقین ولري او تر سهار کېدو وړاندي مړ سي نو هغه جنتي دئ .. بخاري.

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۹۷\۱۱، رقم: ۶۳۰۶.

**د لغاتو حل** : أَبُوءُ: اى التزم و اقر (لازموم او اقرار کوم.)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د الله ﷻ د بخښنې هيڅ انتهاء نشته

﴿۲۲۲۸﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي :

وَتَعَالَى يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا

اې انسانه ! تر څو پوري چي ته زما څخه دعاء غواړې او زما څخه اميد لرې زه به تا بخښم که څه هم تا هر څو مره بد کار کړی وي

أُبَالِي يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ

او ما ته ددې پروا نشته ، اې انسانه که ستا ګناه آسمان ته هم ورسيږي او بيا هم ته زما څخه عفوه او بخښنه وغواړې نو زه به تا و بخښم

وَلَا أُبَالِي يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ القيتني بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا

او زما په دې هيڅ پروا نشته ، اې انسانه که ته زما سره په داسې حال کې يو ځای سې چي ستا د ګناهونو څخه مځکه ډکه وي

تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً . رواه الترمذي و رواه احمد والدارمي عن ابي ذر وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

او زما سره دې هيڅ شی نه وي شريک کړی نو زه تا ته ډکې مځکې د بخښنې سره راځم ، ترمذي او احمد او دارمي ، دا حديث د حضرت ابوذر څخه روايت کړئ دئ ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۱۲، رقم: ۳۵۴۰.

### د مغفرت يقين وساتئ

﴿۲۲۲۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی فرمایي :

اللهُ تَعَالٰی مَنْ عَلِمَ أَنِّيْ ذُوْ قُدْرَةٍ عَلٰی مَغْفِرَةِ الذُّنُوْبِ غَفَرْتُ لَهُ وَلاَ أُبَالِيْ مَا لَمْ يُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا. رواه في شرح السنة

څوک چي په دې خبره پوه سي چي زه په ګناهو بخښلو پوره اختیار لرم نو زه يې بخښم خو په دې شرط چي زما سره هيڅوک شريک نه کړي. شرح السنة

**تخريج**: البغوي في شرح السنة ۱۴\۳۸۸، رقم: ۴۱۹۱.

**تشريح**: دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي بنده بايد په دې خبره پوه سي چي الله تعالی د ګناهونو پر مغفرت باندي قادر دی د هغه څخه اميد ولري او کوم څوک چي د کريم ذات څخه اميد ولري نو کريم ذات هغه نه محروم کوي ، حديث قدسي دی : انا عند ظن عبدي بي: زه د خپل بنده د ګمان نژدې يم چي هغه يې زما په اړه لري .

نقل سوي دي چي سفيان ثوري رحمه الله ناروغ سو نو حماد ابن سلمه رحمه الله د هغه د پوښتني لپاره راغلی، سفيان ثوري رحمه الله حضرت حماد رحمه الله ته وويل چي ايا تاسو ددې خبري ګمان لرئ چي الله تعالی به ما په څه ډول و بخښي ، حماد جواب ورکړ که ما ته ددې اختيار راکړل سي چي د حساب لپاره که څه هم زه خپل پلار ته وړاندي سم يا الله تعالی ته نو زه به د الله تعالی په وړاندي پېښي کېدو ته ترجيح ورکړم ځکه الله تعالی تر پلار هم زيات پر ما رحم کوي ، يعني د حماد رحمه الله د دغه جواب مقصد دا وو چي د الله تعالی څخه د مغفرت او بخښني اميد ولره د هغه پر رحمت باور وکړه چي ارحم الراحمين دی .

## د استغفار فضيلت او اثر

﴿۲۲۲۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَزِمَ الْاَسْتِغْفَارَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي استغفار پر

جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيْقٍ مُّخْرِجًا وَّمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَّرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ. رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه

ځان لازم کړي نو الله تعالی د هري تنګی څخه د راوتلو لاره د هغه لپاره جوړه کړي او د هر غم او

فکر څخه هغه ته خلاصون ورکوي او د داسي ځای څخه هغه ته رزق ورکوي چي د هغه ځای څخه د هغه گمان هم نه وي . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

**تخريج**: الامام احمد في المسند ١\ ٢٤٨، وابوداود في السنن ٢\ ١٧٨، رقم: ١٥١٨، وابن ماجه في السنن ٢\ ١٢٥٤، رقم: ٣٨١٩.

**تشريح**: د استغفار پر ځان لازمولو مطلب دادی چي کله هم يو گناه وسي يا يو آفت او مصيبت راسي نو استغفار کوي يا ددې دا معنی ده چي پر استغفار باندي همېشتوب اختيار کړي ځکه چي د ژوند هيڅ لمحه هم داسي نه ده چي په هغه کي انسان د استغفار محتاج نه وي ځکه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد چي (طوبى لمن وجد في صحيفته اسغفارا كثيرا) : خوشبختي ده هغه چا ته چي هغه په خپل عمل نامه کي د استغفار کثرت تر لاسه کړی ، الله پاک دي زموږ د ټولو د استغفار فيضونه او برکات په برخه کړي ، اللهم آمين،

په حديث شريف کي د ذکر سوي فضيلت بنسټ دادی چي کوم څوک استغفار پر ځان لازم کړي نو د الله تعالى سره د هغه د زړه تعلق او د الله تعالى پر ذات د هغه اعتماد محکم او قوي سي او د هغه گناه بخښل کيږي، د هغه په نتيجه کي د هغه شمېر د الله تعالى څخه د بېرېدونکو او د الله تعالى پر ذات باندي په باور کونکو کي کيږي چي د هغوئ په اړه د الله تعالى دغه ارشاد دی کوم چي د پورتني حديث بنسټ هم دی: ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لا يحتسب ومن يتوكل على الله فهو حسبه: کوم څوک چي د الله تعالى څخه بيرېږي نو الله تعالى د هغه لپاره (د هري تنگی څخه) د وتلو لاره باسي او هغه ته د داسي ځای څخه روزي ورکوي چي د هغه گمان هم نه کيږي او کوم څوک چي پر الله تعالى باندي باور کوي نو الله تعالى د هغه لپاره کافي دی .

د استغفار فضيلت او گټه د دغه آيت څخه هم ثابتيږي :

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا،

نو ما وويل چي تاسو د خپل رب څخه بخښنه وغواړئ ځکه چي هغه ډېر بخښونکی دی هغه به پر تاسو باندي ډېر باران و اوروي او تاسو ته به مال او اولاد درکړي او ستاسو لپاره به باغونه جوړ کړي او ستاسو لپاره به ويالې جاري کړي .

د حسن بصري رحمة الله عليه په باره کي نقل سوي دي چي يو سړي هغه ته د وچ کالی شکايت وکړ

نو هغه ورته وویل چي د الله تعالی څخه استغفار وغواړئ ، بیا یو بل سړي د محتاجی شکایت وکړ او یو بل د اولاد نه پیدا کېدو او یو بل د مځکي په حاصلاتو کي د کمی شکایت وکړ ، نو هغه ټولو ته وویل چي استغفار کوئ ، خلکو وویل تاسو ته څو کسان راغلل او ټولو بېل بېل خپله پریشاني څرګنده کړه او تاسو ټولو ته د استغفار حکم وکړ ددې څه وجه ده ؟ هغه په جواب کي پورتنی آیت : فقلت استغروا ...الخ. ووایه او همدارنګه هغوئ ته یې وښودل چي ما د کومو کومو خبرو لپاره د استغفار حکم ورکړی دی نو ددغه آیت څخه هغه ټول ثابت دي .

﴿۲۲۳۱﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً . رواه الترمذي وأبو داود

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي په ورځ کي اویا واره په ګناه کولو سره استغفار وکړ ، هغه لکه په ګناه کولو چي اصرار ونه کړي (یعني همیشه یې هغ ګناه نه وکړل) ترمذي او ابوداؤد .

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\ ۵۲۱، رقم: ۳۵۵۹، وابوداود في السنن ۲\ ۱۷۷، رقم: ۱۵۱۴.

**تشریح**: پر ګناه باندي د همېشتوب مطلب دادی چي پر ګناه باندي دوام وسي یعني په وار وار هغه ګناه کوي هسي خو ګناه په خپله خرابه خبره ده او پر هغه باندي اصرار کول ډېره بده خبره ده ځکه چي پر کوچنیو ګناهو باندي اصرار کول د لویو ګناهو ارتکاب ته رسیږي او پر لویو ګناهو باندي اصرار کول د کفر حد ته رسیږي .

ددغه ارشاد خلاصه داده چي کوم څوک پر خپل یو ګناه باندي شرمنده سي او الله تعالی ته استغفار وکړي که هغه کوچنی ګناه وي او که لویه ګناه وي نو هغه د اصرار د حد څخه خارجیږي که څه هم د هغه ګناه کېدل څو واره وسي ځکه پر ګناه باندي ارتکاب کونکی هغه ته وایي چي په وار وار ګناه کوي مګر هغه د ګناه څخه شرمنده او پښیمانه نه وي او نه استغفار کوي .

## د توبه کوونکي فضیلت

﴿۲۲۳۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر انسان خطا کونکی دئ او

غوره خطا كونكي هغه دئ چي توبه كونكي وي . ترمذي ، ابن ماجه او دارمي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۴\ ۵۶۸، رقم: ۲۴۹۹، وابن ماجه ۲\ ۱۴۲۰، رقم: ۲۴۵۱، والدارمي ۲\ ۳۹۲، رقم: ۲۷۲۷.

## د ګناهو په زياتوب سره پر زړه زنګ لګيږي

﴿۲۲۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ إِنَّ المؤمن اذا اذنب كانت نكتة سوداء في قلبه فان تاب واستغفر

هر كله چي مؤمن ګناه كوي نو د هغه پر زړه يو تور ټكى پيدا سي بيا چي كله هغه توبه وكاږي

صُقِلَ قلبه وان زادت حتى تعلو قلبه فذلكم الران الذي ذكر الله تعالى كلا

نو د هغه زړه صاف سي او هر كله چي هغه زياته ګناه كوي نو هغه ټكى زياتيږي تر دې چي ټول زړه تور سي نو دا هغه زنګ دئ چي الله تعالى په دې الفاظو سره ذكر كړئ دئ : كلا

بل ران على قلوبهم ماكانوا يكسبون. رواه احمد و الترمذي وابن ماجه

وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

بل ران على قلوبهم .... ، هيڅكله نه بلكه دا د هغوئ پر زړو د هغه شي زنګ دئ چي هغوئ به كوئ (يعني ګناه) احمد ، ترمذي، او ابن ماجه، ترمذي ويلي دا حديث حسن صحيح دئ .

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۲\ ۲۹۷، والترمذي ۵\ ۴۰۴، رقم: ۳۳۳۴، وابن ماجه ۲\ ۱۴۱۸، رقم: ۴۲۴۴.

**تشريح**: تر دې چي د هغه پر زړه خپور سي: ددې مطلب دادى چي څومره په ګناه كي زياتوب كيږي هغومره هغه تور ټكى زياتيږي تر دې چي هغه ټول پر زړه باندي حاوي سي او د زړه نور پټ كړي د هغه اثر دا سي چي هغه مؤمن د زړه د بينائي څخه محروم سي نه خو د منع كونكي علوم او ګټه رسونكي نېک اعمال څه اهميت د هغه په نظر كي پاته سي او نه د ګټور عقل او حكمت د خبرو پر هغه څه اثر وي همدارنګه هغه د شفقت او رحمت د حيات او صفت څخه خالي كيږي چي نه پر خپل ځان باندي رحم كوي او نه د نورو سره د رحم او كرم معامله كوي او آخر د

هغه په زړه کي د ظلم او جهل او شر او فتنې تياره تسلط وکړي د هغه تتيجه ددې څخه پرته بل هيڅ نه وي چي پر ګناه باندي د هغه جرات زيات سي او د ګناه څخه ډک ژوند پر هغه خپور سي.

**د توبې د قبليدو اخري وخت**

﴿۲۲۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى د بنده توبه تر هغه وخته پوري قبلوي تر څو پوري چي غرغرې نه وي کړې (يعني مرګ ورته رانه سي) ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۱۱، رقم: ۳۵۳، وابن ماجه ۳\۱۴۲۰، رقم: ۳۳۴۳،

**تشريح**: غرغره د انساني ژوند هغه آخري درجه ده کله چي د بدن او روح تعلق د خپل قطع کېدو آخري نقطې ته بالکل نژدې سي روح د ټول بدن څخه په راکښلو حلق ته راسي د ساه په ختلو سره يوازي د غرغره ډول آواز خيژي او د ژوند آخري اميد هم د نااميدۍ د يقين درجې ته ورسيږي په دغه ارشاد کي تر څو پوري چي د غرغرې کيفيت شروع سي ددې مطلب دادی چي تر څو پوري د مرګ يقين نه کيږي تر هغه وخته پوري توبه په قبوليت سره نازول کيږي مګر کله چي د مرګ يقين سي يعني پورتنی کيفيت شروع سي نو هغه وخت توبه نه قبليږي.

ددغه حديث ظاهري او واضح مفهوم څخه دا خبره ثابتيږي چي د مرګ پر وخت توبه نه صحيح کيږي که د کفر څخه توبه وي او که د ګناهونو څخه، دا وخت نه خو د کافر ايمان راوړل صحيح دي او نه د مسلمان د ګناهونو څخه توبه کول صحيح کيږي، د قرآن کريم د آيت: وليست التوبة- څخه هم دا خبره معلوميږي مګر ځيني علماء ددې خبري قائل دي چي د ګناهونو څخه توبه خو صحيح کيږي مګر د کفر څخه توبه نه صحيح کيږي، يعني ددغه حضراتو په نزد د نااميده ايمان غير مقبول دی او د اميد لرونکي توبه مقبول ده.

علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي د پورتني حديث سره سم چي کوم حکم بيان سوی دی د هغه تعلق د ګناهونو څخه د توبې سره دی چي د غرغرې په حالت کي توبه نه قبليږي مګر په داسي حالت کي که د يو چا حق معافول وي او صاحب د حق يې معاف کړي نو دا صحيح دي.

**د الله جل جلاله د مغفرت وسعت**

﴿۲۲۳۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان

قَالَ وَعِزَّتِكَ يَا رَبِّ لَا أَبْرَحُ أُغْوِي عِبَادَكَ مَا دَامَتْ أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْسَادِهِمْ

خپل پروردګار ته عرض وکړ چي اې ربه ! ستا په عزت دي مي قسم وي زه به همېشه ستا بندګان ګمراه کوم تر څو پوري چي د هغوئ روحونه د هغوئ په بدنو کي وي ،

فَقَالَ الرَّبُّ وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وارتفاع مكاني لَا أَزَالُ أَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفَرُونِي . رواه احمد

الله تعالى ورته وفرمايل : او زما دي په خپل عزت او جلال او لوړي مرتبې قسم وي تر څو پوري چي زما بندګاه زما څخه بخښنه غواړي نو زه به يې همېشه بخښنم . احمد .

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۳\۲۹، ۴۱.

## د توبې دروازه

﴿۲۲۳۶﴾: وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت صفوان بن عسال رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ جَعَلَ بِالْمَغْرِبِ بَابًا عَرْضُهُ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا لِلتَّوْبَةِ لَا

الله تعالى د لويديځ په لور د توبې يوه دروازه خلاصه کړې ده چي د هغې عرض د اويا کاله مسافت دئ او دا دروازه به

يُغْلَقُ مَا لَمْ تَطْلُعْ الشَّمْسُ مِنْ قِبَلِهِ وَذَلِكَ قَوْلُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: يَوْمَ يَأْتِي

تر هغه وخته پوري نه بندېږي تر څو پوري چي لمر د لويديځ څخه را ونه خيژي (يعني قيامت نه سي) . او دا د الله جل جلاله دغه قول دئ: (يوم ياتي

بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لم تكن امنت من قبل . رواه الترمذي و ابن ماجة .

بعض آيات ربک لاينفع نفسا ايمانها.....) ترمذي او ابن ماجه.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۱۰، رقم: ۳۵۳۶، وابن ماجه ۲\۱۳۵۳، رقم: ۴۰۷۰.

**تشريح**: چي د توبې لپاره دي: ددې مطلب دادی چي د توبه کونکو لپاره خلاصه ده يا دا چي هغه د توبې د صحيح کېدو او د توبې د قبلېدو علامه ده، خلاصه دا چي تر څو پوري لمر د قبلې څخه را ونه خيژي د خلکو لپاره دروازه خلاصه ده د چا چي زړه وغواړي د خپل شرک او کفر څخه دي توبه وکړي او د چا چي زړه وغواړي د خپلو ګناهو څخه دي د توبې کولو سره دي د دروازې په ذريعه د آخرت د ابدي ژوند او راحتونو مستحق سي، کله چي د مغرب څخه لمر راوخيژي نو د توبې دروازه بنديږي.

په حديث کي چي د کوم آيت کريمه ذکر سوی دی هغه پوره آيت دا سي دی:

يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لاَ يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا،

يعني قيامت ته نژدې به د پرودرګار ځيني نښي ظاهري سي د هغو څخه يوه نښه داده چي يوه ورځ به لمر د مشرق پر ځای د مغرب څخه راوخيژي په هغه ورځ به ايمان راوړل داسي کس ته ګټه ورنه کړي کوم چي مخکي يې ايمان نه وي راوړی او هغه کس چي د ايمان په حالت کي نيکي نه وي کړې په هغه ورځ به توبه هيڅ ګټه ورنه کړي، ددغه آيت کريمه خلاصه داده چي په کومه ورځ لمر د مغرب له خوا راوخيژي نو کوم چا چي تر دې مخکي ايمان نه وي راوړی يا پر ايمان باندي خو وي مګر توبه يې کړې نه وي او س به نه د هغه ايمان ګټه ورکوي او نه به د هغه توبه څه ګټه ورته ورسوي.

## د توبې د قبلېدو انقطاع

﴿۲۲۳۷﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْقَطِعُ

د حضرت معاوية رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هجرت به بند نه سي

الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا. رواه احمد و ابوداؤد والدارمي

(يعني د ګناهو څخه د توبې په لور رجوع کول) تر څو پوري چي توبه بنده نه سي او توبه به تر هغه وخته پوري نه بنديږي تر څو چي لمر د لويديځ څخه را ونه خيژي. احمد، ابوداؤد او دارمي

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۴\۹۹، وابوداود ۳\۷ – ۸، رقم: ۲۴۷۹، والدارمي ۲\۳۱۲، رقم: ۲۵۱۳

**تشريح**: تر څو چي توبه موقوف نه وي: يعني تر څو پوري چي توبه قبليږي هر سړی د ګناهو څخه پاكيدای سي او كله چي توبه موقوف سي نو هيڅوک به د ګناهو څخه پاک نه سي او توبه به تر هغه وخته موقوف وي كله چي لمر د مغرب څخه راوخيژي.

خلاصه دا چي تر څو پوري لمر د مغرب له خوا را ونه خيژي تر هغه وخته پوري د هر چا توبه قبليږي او د خپلو ګناهو څخه پاكېدای سي بيا ددې څخه وروسته د هيچا توبه نه قبليږي.

## ګناه كار د الله ﷻ د رحمت څخه مه مايوسه كوئ

﴿۲۲۳۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ رَجُلَيْنِ

د حضرت ابوهريرهؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه كسان وه

كَانَا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَحَابَّيْنِ أَحَدُهُمَا مُجْتَهِد فِي الْعِبَادَةِ وَ الْآخَرُ يَقُوْلُ

په بني اسرائيلو كي چي په خپل منځ كي يې ډيره مينه درلودل، په هغوئ كي يو ډير عبادت كونكی وو او دويم به ويل

مُذْنِبٌ فَجَعَلَ يَقُوْلُ أَقْصِرْ عَمَّا أَنْتَ فِيْهِ فَيَقُوْلُ خَلِّنِي وَرَبِّي حَتّٰى وَجَدَهُ يَوْمًا

زه ګناه كار او خطاكار يم، عبادت كوونكی ملګري به ورته ويل په كوم شي چي ته اخته يې هغه پرېږده، هغه به ددې په جواب كي ويل زما پروردګار پوه سو او زه، يو ورځ عبادت ګزاره

عَلٰى ذَنْبٍ اسْتَعْظَمَهُ فَقَالَ اَقْصِرْ قَالَ خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا فَقَالَ

ملګري هغه ګناه كاره ملګري په يو ګناه كي اخته وليدئ چي د هغه په نظر لويه ګناه وه او هغه ته يې وويل چي ته ددې څخه منع سه، هغه ورته وويل: زما معامله زما پروردګار ته پرېږده، ايا ته زما ساتونكی جوړ سوی يې، عابد ملګري ورته وويل:

وَاللّٰهِ لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكَ أَوْ لَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ فَبَعَثَ اللّٰهُ إِلَيْهِمَا مَلَكًا فَقَبَضَ

قسم په خدای الله به تا هيڅكله ونه و بخښي او نه به دي جنت ته داخل كړي، نو الله تعالى د مرګ ملائكه د هغوئ د روحو قبض كولو لپاره راوليږل كله چي د هغوئ روحونه د

أَرْوَاحَهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَهُ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ ادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي وَقَالَ لِلْآخَرِ

خدای په حضور کي حاضر کړل سول نو الله تعالی د هغه ګناه کار روح ته وویل: ته زما د رحمت په ذریعه جنت کي داخل سه او د عابد روح ته یې وفرمایل:

اَتَسْتَطِيْعُ اَنْ تَحْظُرَ عَلٰى عَبْدِيْ رَحْمَتِيْ فَقَالَ لَا يَا رَبِّ قَالَ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ. رواه احمد

ایا ته دومره توان لرې چي زما بنده زما د رحمت څخه محروم کړې؟ هغه عرض وکړ اې زما پروردګاره! په ما کي دومره توان نسته نو الله تعالی ملائکو ته حکم ورکړ چي دی دوږخ ته بوزئ. احمد.

**تخریج**: الامام احمد في المسند ۲/۳۲۳.

**تشریح**: عبادت کونکي پر خپل عبادت او نیکو اعمالو باندي د غرور او تکبر اعتماد وکړ او هغه ګناه کار یې تر خپل ځان سپک وګڼی او هغه ته یې وویل چي الله تعالی به تا نه بخښي ځکه هغه د عذاب مستحق سو، د یو بزرګ قول دی کومه ګناه چي د ځان سپک ګڼلو باعث وي هغه د هغه طاعت او عبادت څخه غوره دی کوم چي یو څوک په غرور او تکبر کي اخته کړي.

﴿۲۲۳۹﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسماء بنت یزید (رض) روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دغه آیت واوریدئ:

يَقْرَأُ { يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ

یاعبادي الذین ....، اې زما هغه بندګانو چي په ګناه کولو سره یې پر خپل ځان زیاتي کړي دي تاسو د الله د رحمت څخه مه نا امیده کیږئ ځکه چي الله تعالی

اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا } وَلَا يُبَالِي. رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن غريب. و في شرح السنة يقول بدل يقرا.

ټول ګناهونه معاف کونکی دئ، او رسول الله ﷺ په پای کي وفرمایل: چي هغه پروا نه لري. احمد. ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ او په شرح السنة تر یقول بدا یقرا پوري راغلی دئ.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ٦\٤٥٩، والترمذي ٥\٣٤٥، رقم: ٣٢٣٧، وشرح السنة ١٤\٣٨٤، رقم: ٤١٨٦.

**تشريح**: الله تعالی ټول ګناهونه بخښي: ددې مطلب دادی چي کافر خو په توبه سره بخښي که يو کافر د خپل کفر او شرک څخه په توبه کولو سره د ايمان دولت قبول کړي نو الله تعالی يې د همېشه خلاصون او بخښني مستحق ګرځوي، او مؤمنان په توبه سره هم بخښي او د خپل بې پايه فضل او کرم په وجه که وغواړي نو بېله توبې يې هم بخښي.

﴿۲۲۴۰﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى إِلَّا اللَّمَمَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د الله تعالی د دې قول (الا اللمم) په تفسير کي فرمايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ تَغْفِرْ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب.

اې الله! که يې ته بخښې نو د بندګانو لوی ګناهونه و بخښه ځکه چي ستا کوم بنده دئ چي هغه به کوچني ګناهونه نه وي کړي. ترمذي دا حديث حسن صحيح غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ٥\٣٧٠، رقم: ٣٢٨٤.

**تشريح**: إِلاَّ اللَّمَمَ: دا د يو آيت ټوټه چي پوره آيت يې دادی:

الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلاَّ اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ،

ژباړه: او د (کومو نيکو کارو چي مخکي ذکر وسو) دا هغه خلک دي چي د لويو ګناهو څخه ځان ساتي او د بې حيايي د خبرو څخه پرته د کوچنيو ګناهو څخه ځان ساتل ممکن نه دي او بېشکه ستا رب د مغفرت پراخونکی دی.

په دغه آيت کي د کوچنيو ګناهو استثناء سوې ده د هغه د دليل په توګه رسول الله ﷺ پورتنی شعر وايه چي د هغه څخه دا معلوميږي چي هيڅ مؤمن د کوچنيو ګناهو څخه خالي نه دی. د شعر خلاصه داده چي پروردګاره! ستا شان او رحمت داسي دی او ستا د وسعت دا عالم دی که ته وغواړې نو لوی ګناهونه به هم و بخښې د کوچنيو ګناهو خو حقيقت څه دی او بيا ستا کوم بنده داسي دی چي کوچني ګناهونه نه کوي او ته هغه نه بخښې بلکه ته هغه کوچني

گناهونه د نیکو په ذریعه رژوي او همدارنگه د غه بندگان د کوچنیو گناهو د بار څخه ساتي.
دا شعر چي رسول الله ﷺ ووایه د اُمیه بن صلت دی چي د جاهلیت په زمانه کي د مشهورو شاعرانو څخه وو، امیه هغه وخت هم ډېر زیات عبادت کوی او پر قیامت یې عقیده درلودل که چیري هغه د اسلام زمانه تر لاسه کړې مگر د مسلمانېدو د سعادت څخه محروم سو، امیه به د حکمت څخه ډک شعرونه ویل ځکه رسول الله ﷺ نه یوازي دا چي د هغه شعرونه یې اورېدل بلکه کله نا کله به یې خپله هم ویل.

## د بنده په عبادت او معصیت سره د الله ﷻ په خدایي کي هیڅ تاثیر نه راځي

﴿۲۲۴۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُ

د حضرت ابو ذر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی فرمایي:

تَعَالَى يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ فَسَلُونِي الْهُدَى أَهْدِكُمْ وَكُلُّكُمْ

اې زما بندگانو! تاسو ټول گمراه یاست پرته د هغه چا څخه چا ته چي ما هدایت کړی وي نو زما څخه هدایت غواړئ زه به هدایت درکوم، تاسو ټول

فَقِيرٌ إِلَّا مَنْ أَغْنَيْتُ فَسَلُونِي أَرْزُقْكُمْ وَكُلُّكُمْ مُذْنِبٌ إِلَّا مَنْ عَافَيْتُ فَمَنْ

فقیران او اړیاست پرته د هغه چا څخه چي ما شتمن کړ نو تاسو زما څخه رزق غواړئ زه به یې درکوم، تاسو ټول گناه کار یاست پرته د هغه چا څخه چي ما د گناه څخه وساتئ

عَلِمَ مِنْكُمْ أَنِّي ذُو قُدْرَةٍ عَلَى الْمَغْفِرَةِ فَاسْتَغْفَرَنِي غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِي وَلَوْ أَنَّ

له دې کبله څوک چي په تاسو کي په دې خبره پوه سي چي زه د معافي ورکولو پوره توان لرم او بیا زما څخه د معافی غوښتونکي سي نو زه به هغه و بخښم او زما پر دې هیڅ پروا نسته،

أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَتْقَى

او که ستاسو ژوندي او ستاسو مړي او ستاسو لانده او ستاسو وچ (یعني ځوانان او سپین ږیري) ټول مخلوقات زما د یو پرهیز گار بنده په ډول سي

قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ

نو په دې سره زما په ملكيت كې د غوماشې د وزر په اندازه هم څه زياتي نه راځي او كه ستاسو

وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَشْقَى قَلْبِ

مخكني او وروستني او ستاسو ژوندي او ستاسو مړي او ستاسو لانده او ستاسو وچ يعني ټول مخلوقات زما د يو بدبخت بنده په ډول سي

عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ

نو زما په ملكيت كې د غوماشې د وزر په اندازه كمي نه راځي ، او كه ستاسو مخكني

وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ

او وروستني ستاسو ژوندي او مړي او ستاسو لانده او وچ ټول يو ځاى سي

فَسَأَلَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْكُمْ مَا بَلَغَتْ أُمْنِيَّتُهُ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ سَائِلٍ مِنْكُمْ مَا

او په تاسو كې هر يو زما څخه وغواړي او زه هر چا ته د هغه د غوښتني سره سم وركړم

نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي إِلَّا كَمَا لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ مَرَّ بِالْبَحْرِ فَغَمَسَ فِيهِ إِبْرَةً ثُمَّ

نو په دې زما په ملكيت كې دومره هم كمي نه راځي څومره چي ستن په اوبو كې د ډوبېدو سره د درياب څخه اوبه راپورته كوي .

رَفَعَهَا إِلَيْهِ ذَلِكَ بِأَنِّي جَوَادٌ مَاجِدٌ أَفْعَلُ مَا أُرِيدُ عَطَائِي كَلَامٌ وَعَذَابِي كَلَا

ددې سبب دادئ چي زه ډېر سخي يم څه چي غواړم هغه كوم ، زما وركول يوازي حكم كول دي او زما عذاب يوازي زما حكم كول دي

إِنَّمَا أَمْرِي لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُهُ أَنْ أَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ . رواه احمد والترمذي و ابن ماجة .

كله چي زه د يو شي اراده وكړم نو يوازي دومره وايم چي سه ، نو هغه و سي . احمد ، ترمذي او ابن ماجه

**تخريج** : الامام احمد في المسند ۵ \ ۱۵۴ ، والترمذي ۴ \ ۵۶۶ ، رقم : ۲۴۹۵ ، وابن ماجه ۲ \ ۱۴۲۲ ، رقم : ۴۲۵۷ .

## د شرک څخه ساتونکي ته د بخښنې زیری

﴿۲۲۴۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَرَاَ { هُوَ أَهْلُ التَّقْوٰى

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه یې نقل کوي چي رسول الله ﷺ دغه آیت تلاوت کړ : (هو اهل التقوی....) : (دی خاوند د تقوا دی

وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ } قَالَ قَالَ رَبُّكُمْ اَنَا أَهْلٌ أَنْ أُتَّقٰى فَمَنِ اتَّقَانِي فَأَنَا أَهْلٌ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي .

او خاوند د بخښني دی)، وويل رسول الله ﷺ چي ويلي دي رب ستاسو : زه لائق یم چي وبیریږي خلک زما څخه نو څوک چي وبیریږي زما څخه نو زه لایق ددې یم چي بخښنه وکړم ده ته . ترمذي، ابن ماجه او دارمي .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۰۰، رقم: ۳۳۲۸، و ابن ماجه ۲\۱۴۳۷، رقم: ۴۲۹۹، والدارمي ۲\۳۹۲، رقم: ۲۷۲۴.

**تشريح**: إِنَّ اللّٰهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَن يَشَاء، الله تعالى دا خبره نه بښني چي د هغه سره شريک ونيول سي او د شرک څخه پرته چي چا ته وغواړي بخښې يې.

## د رسول الله ﷺ توبه او استغفار

﴿۲۲۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به کوم ځای تشریف فرما وو

فِي الْمَجْلِسِ يَقُولُ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ مِائَةَ مَرَّةٍ.

رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

نو موږ به د رسول الله ﷺ استغفار ویل شمیرل ، رسول الله ﷺ به په یوه ناسته کي سل واره دا کلمات فرمایل : رب اغفرلي و تب علي انک انت التواب الغفور ، احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۲\۲۱، والترمذي ۵\۴۶۱، رقم: ۳۴۳۴، وابوداود ۲\۱۷۸، رقم: ۱۵۱۶، وابن ماجه ۲\۱۲۵۳، رقم: ۳۸۱۴.

## د زړه په صدق سره استغفار کوئ

﴿۲۲۴۴﴾: وَعَنْ بِلَالِ بْنِ يَسَارِ بْنِ زَيْدٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

حضرت بلال بن يسار بن يزيد رضي الله عنه د نبي كريمﷺ ازاد كړي غلام وايي چي

حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ جَدِّي أَنَّهُ سَمِعَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ

زما پلار ماته روايت وكړ او هغه د خپل پلار څخه چي هغه د رسول اللهﷺ څخه واوريدل:

قَالَ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ غُفِرَ

څوک چي أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، وايي د هغه ګناهونه بخښل

لَهُ وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ. رواه الترمذي و ابوداؤد لكنه عند ابي داؤد

هلال بن يسار و قال الترمذي هذا حديث غريب.

كيږي كه څه هم د جهاد څخه تښتيدلی وي. ترمذي، او ابوداؤد، مګر ابوداؤد وايي چي راوي بلال بن يسار نه دئ بلكه هلال بن يسار دئ ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۱، رقم: ۳۵۷۷، وابوداود ۲\۱۷۸، رقم: ۱۵۱۷.

**تشريح**: هره دعاء چي وي هر ذكر چي وي او هر عمل او وظيفه چي وي تر څو پوري چي د نيت او مقصد او زړه اخلاص د ژبي همنوا نه وي نو د هغه دعاء اثر نه وي او نه د هغه ذكر او عمل ګټه وي. ځكه علماء ليكي چي كله استغفار وويل سي نو د زړه صدق او نيت سره دي وويل سي ځكه دا فرمايل سوي دي چي د ګناه څخه استغفار كونكی په داسي حالت كي چي هغه پر ګناه قائم وي د خپل پروردګاره سره مخسرې كوي (نعوذ بالله).

## اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

## د خپلو مړو لپاره استغفار کوئ

﴿۲۲۴۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: په جنت كي الله تعالی د

عَزَّ وَجَلَّ لَيَرْفَعُ الدَّرَجَةَ لِلْعَبْدِ الصَّالِحِ فِي الْجَنَّةِ فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَنَّى لِي هَذِهِ

فَيَقُولُ بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ . رواه احمد .

خپل يو نيک بنده درجه لوړوي نو هغه بنده پوښتنه کوي اې پروردګاره ! ما ته دا درجه څنګه راکړل سول؟ نو الله تعالى ورته فرمايي : ستا د زوى د استغفار په برکت . احمد .

**تخريج** : الامام احمد في سمنده ۲\۵۰۹.

## د مړو لپاره غوره تحفه استغفار دى

﴿۲۲۴۶﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

ما الميت في القبر إلا كالغريق المتغوث ينتظر دعوة تلحقه من أب أو أم أو

په قبر کي د مړي حالت داسي وي څرنګه چي د ډوبېدونکي سړي وي ، هغه هر وخت د خپلو قريبانو يعني مور ، پلار ،

أخ أو صديق فإذا لحقته كان أحب إليه من الدنيا وما فيها وإن الله تعالى

ورور يا ملګري د لوري د دعاء په انتظار وي او کوم وخت چي هغه دعاء ورته ورسوي نو د هغه په نزد د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه زيات عزيز وي او الله تعالى

ليدخل على أهل القبور من دعاء أهل الأرض أمثال الجبال وإن هدية

قبر والا ته د دنيا والا ددعاء دومره لوى ثواب رسوي لکه غر ، او

الأحياء إلى الأموات الاستغفار لهم . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د ژوندو د لوري د مړو لپاره غوره هديه استغفار دئ ، بيهقي

**تخريج** : البيهقي في شعب الايمان ۶\۲۰۳، رقم: ۷۹۰۵.

## د استغفار فضيلت

﴿۲۲۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ قَالَ رسول الله ﷺ طُوبَى لِمَنْ وَجَدَ فِي صَحِيفَتِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيرًا. رواه ابن ماجة وروي النسائي في عمل يوم والليلة.

د حضرت عبد الله بن بسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه چا لپاره خوشخبري ده چي د هغه په عمل نامه كي ډير استغفار تر لاسه سي، ابن ماجه او نسائي په خپل كتاب عمل يوم وليلة كي نقل كړی دئ.

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۲۵۴، رقم: ۳۸۱۸، النسائي في عمل اليوم والليلة.

**تشريح**: د استغفار د فضيلت په اړه دا حديث هم ډېر خوشحاله كونكى دى چي بزاز رحمة الله عليه د حضرت انس رضي الله عنه څخه مرفوع نقل كړی دی چي كله اعمال ليكونكي دواړي ملائكي هره ورځ د بنده عمل نامه پورته كوي.

د استغفار د فضيلت په اړه دغه حديث ته هم پاملرنه وكړئ چي بزاز رحمة الله عليه د حضرت انس رضي الله عنه څخه مرفوع روايت كړی دی چي اعمال ليكونكي دواړي ملائكي د بنده اعمال پورته كوي نو الله تعالى د هغه عمل نامه په اول او آخر كي د استغفار په لېدو سره فرمايي چي ما د خپل بنده هغه ټول ګناهونه و بخښل كوم چي د دغه عمل نامې په مينځ كي دي، د دغه حديث خلاصه داده چي كوم څوک سهار او ماښام استغفار كوي نو هغه ته دغه فضيلت او سعادت تر لاسه كيږي.

## د رسول الله ﷺ يوه دعاء

﴿۲۲۴۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ الَّذِينَ إِذَا أَحْسَنُوا اسْتَبْشَرُوا وَإِذَا أَسَاءُوا اسْتَغْفَرُوا. رواه ابن ماجة والبيهقي في الدعوات الكبير.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دا فرمايل: (اللهم اجعلني... استغفرو.) اې الله! ما د هغه خلكو څخه وګرځوې چي كله هغوئ نيكي وكړي نو خوشحال سي او كله چي بدي وكړي نو معافي وغواړي. ابن ماجة او بيهقي.

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۲۵۵، رقم: ۳۸۲۰.

## الله ﷻ د خپل بنده په توبه سره خوشحاله کیږي

﴿۲۲۴۹﴾: وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ حَدِيْثَيْنِ

د حضرت حارث بن سوید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي موږ ته عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دوه حدیثونه

أَحَدُهُمَا عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ عَنْ نَّفْسِهِ قَالَ إِنَّ

بیان کړل یو د رسول الله ﷺ څخه او دویم د خپل ځانه ، هغه وویل :

الْمُؤْمِنَ يَرٰى ذُنُوْبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَّخَافُ أَنْ يَّقَعَ عَلَيْهِ وَإِنَّ الْفَاجِرَ

مؤمن خپل ګناهونه داسي ګڼي لکه هغه چي تر یو غره لاندي ناست وي او په ویره کي وي چي غرور باندي راونه لویږي ، او فاجر او بد کار سړی

ذُنُوْبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلٰى أَنْفِهِ فَقَالَ بِهٖ هٰكَذَا أَيْ بِيَدِهٖ فَذَبَّهُ عَنْهُ ثُمَّ قَالَ

خپل ګناهونه داسي ګڼي لکه یو مچ چي د هغه پر پزه الوځي نو په لاس سره یې اشاره وکړي او مچ والوزوئ، ددې وروسته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وویل :

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ

ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي الله تعالی د خپل مؤمن بنده په توبې سره ډیر خوشحاله کیږي

مِنْ رَجُلٍ نزل فِي أَرْضٍ دَوِّيَّةٍ مَهْلِكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ

یعني تر هغه چا هم زیات کوم چي په یو بې اوبو او بې وښو وچ دښت کي روان وي د هغه سره سپرلۍ هم وي او پر سپرلۍ باندي اوبه او خوراک هم وي

فوضع راسه فَنَامَ نومة فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ راحتله فَطَلَبَهَا حَتّٰى اذا

هغه په یو ځای کي پریوزي او بیده سي بیا چي راویښ سي نو ویني چي د هغه سپرلۍ ورکه ده، هغه د سپرلۍ په لټه کي ووتئ

اشتد عليه الحر و العطش او ماشاء الله قَالَ أَرْجِعُ إِلٰى مَكَانِيَ الَّذِي كُنْتُ

او هر کله چي سختي ګرمي، او تندي کي راګير سو هغه چي اراده وي د خداى ﷻ نو هغه وويل ، هغه ځاى ته بيرته ځم په کوم ځاى کي چي مخکي وم

فِيهِ فَأَنَامُ حَتَّى أَمُوتَ فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى سَاعِدِهِ لِيَمُوتَ فَاسْتَيْقَظَ فاذا

او هلته به بيده سم تر څو چي مړ سم ، نو هغه پر خپل لاس سر کښېښنودئ او د مرګ په انتظار کي پريوتئ بيا چي سترګي يې ولغړېدلې نو ويني چي

رَاحِلَتُهُ عِنْدَهُ وَعَلَيْهَا زَادُهُ وَشَرَابُهُ فَاللَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ

خپله سپرلۍ يې ورسره ولاړه ده او خوراک او څښاک هم پر هغه وه هغه سړي ته چي د سپرلۍ، خوراک او څښاک په تر لاسه کولو سره څومره خوشحالي ورسيده الله تعالى تر هغه زيات

مِنْ هَذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ. روى مسلم المرفوع الى رسول الله صلى الله عليه وسلم منه فحسب و روى البخاري الموقوف على ابن مسعود ايضاً.

د مؤمن بنده په توبه خوشحاله کيږي ، مسلم په مرفوع طريقه سره روايت کړئ دئ او بخاري موقوف بيان کړئ دئ.

**تخريج**: صحيح مسلم ۴\۲۱۰۳، رقم: ۳- ۲۷۴۴، وصحيح البخاري ۱۱\۱۰۲، رقم: ۶۳۰۸.

**د لغاتو حل**: دَوِيَة: نسبة للدو اى الهلاک. (هلاکت).

**تشريح**: په اول فصل کي هم دا ډول حديثونه تېر سوي دي ، هلته هم ښودل سوي دي چي د بنده په توبه کولو سره د الله تعالى د زيات خوشحاله کېدو مطلب دادى چي الله تعالى د هغه په توبې سره راضي کيږي او د هغه توبه قبلوي لکه ددغه حديث څخه چي دغه آيت کريمه ته اشاره وي: ان الله يحب التوابين: الله تعالى توبه کونکي خوښوي.

امام غزالي رحمة الله عليه فرمايي چي د يو لوى عالم او باعمله استاذ ابي اسحاق سفرائني رحمة الله عليه په اړه نقل سوي دي چي هغه وفرمايل : ما د الله تعالى څخه پرله پسې ديرش کاله دغه دعاء وغوښتل چي ما د توبې په سعادت ونازوې مګر زما دعاء قبوله نه سوه ما په خپل زړه کي ډېر تعجب وکړ چي د الله تعالى ذات څومره پاک او مستغني دى چي ما تر ديرش کاله پوري د خپل يوه خواهش تکميل وکړ او دعاء مي وکړه مګر هغه د الله تعالى په دربار کي په قبوليت سره ونه

نازول سو نو ما په خوب کي وليدل چي يو څوک ما ته وايي چي تا ته پر دې خبره تعجب دی ايا ته په دې هم پوهيږې چي ته څه غواړې ستا د دعاء حقيقي مقصد خو دادی چي الله تعالی تا محبوب ولري نو که تا د الله تعالی دغه زيری نه دی اوريدلی چي : ان الله يحب التوابين ويحب المتطهرين ، نو ددې خواهش تکميل نه يوازي دا چي ډېر اسان دی بلکه ددې زيری هم ورکړل سوی دی .

﴿۲۲۵۰﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُفَتَّنَ التَّوَّابَ . رواه احمد

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی خپل مؤمن بنده ډېر خوښوي چي په گناهو کي اخته کيږي مگر ډيره توبه کاږي . احمد

**تخريج** : الامام احمد في مسنده ۱\۸۰.

**د لغاتو حل** : المفتن: ای المبتلي كثيرا بالسيئات او بالغفلات. (ډېر گناهگار).

**تشريح** : دا منشاء نه ده چي الله تعالی په گناهو کي د اخته کېدو په وجه هغه خوښوي هيڅکله نه بلکه پر گناهو باندي په شرمنده کېدو او توبه کولو په وجه يې خوښوي .

## د آيت (لاتقنطوا...) فضيلت

﴿۲۲۵۱﴾ : وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې :

أُحِبُّ أَنَّ لِي الدُّنْيَا بِهَذِهِ الْآيَةِ { يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا

زه تر دې دنيا دغه آيت خوښوم{ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا ...}.

تَقْنَطُوا ... } فَقَالَ رَجُلٌ فَمَنْ أَشْرَكَ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ أَلَا وَمَنْ أَشْرَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رواه احمد

نويو سړي پوښتنه وکړه چا چي شرک وکړ ؟ (نو ايا هغه به هم ددې آيت سره سم و بخښل سي) رسول الله ﷺ ددې جواب نه ورکړ، بيا لږ وروسته يې وفرمايل :خبر دار اوسه هغه څوک هم چي

هغه شرک کړی وي ، درې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمایل. احمد.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۵\۲۷۵.

**تشريح**: د رسول الله ﷺ ددغه مبارک قول مطلب دادی چې ددغه آیت کریمه په مقابله کې که ما ته دنیا او ددنیا ټول شیان راکړل سي او زه دغه ټول شیان د الله تعالی په لار کې صدقه کړم او د کومو شیانو څخه چې خوند تر لاسه کیږي د هغه څخه خوند تر لاسه کړم نو بیا هم زه دا نه خوښوم ځکه چې په دغه آیت کریمه کې د ګناهونو څخه د مغفرت او بخښنې تر ټولو عظیم سعادت زیری ورکړل سوی دی چې ددغه یوې دنیا څخه نه بلکه د داسې سوونو دنیاګانو په مقابله کې ډېر قیمتې دی ، پوره آیت دادی :

يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ،

ژباړه: اې زما هغه بندګانو چې هغوئ (د ګناهو په ذریعه) پر خپل ځانو زیاتې کړې ده د الله تعالی د رحمت څخه مه نا امیده کیږئ بېشکه الله تعالی ګناهونه بخښي او هغه ډېر بخښونکی او مهربان ذات دی.

دغه مضمون حضرت علي ﷺ ددغه شعرو په ذریعه بیان کړی دی :

ایا صاحب الذنب لا تقنطن — فـــان الاله رؤف رؤف
ولاترحـــــلن بلا عـدة — فان الطريق مخوف مخوف

اې ګناه کاره ! مه نا امیده کیږه ځکه الله تعالی مهربان او ډېر مهربان دی.
بېله د لارې د توښې سفر مه کوه ځکه چې لاره ډېره خوفناکه او خوفناکه ده.

او یو بل شاعر داسې ویلي دي :

غافل مرد که مرکب مردان مرد را — در سنگ لاخ باد یه پیها بریده اند
نومید هم مباش که رندان باده نوش — ناګه بیک خـــروش بمنزل رسیده اند

**شرک د الله ﷻ د رحمت او د بنده په مینځ کې پر ده ده**

﴿۲۲۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى

حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی

يَغْفِرُ لِعَبْدِهٖ مَا لَمْ يَقَعِ الْحِجَابُ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا الْحِجَابُ ؟ قَالَ أَنْ

خپل بندګان بخښي تر څو پوري چي د بنده او د حق د رحمت په منځ کي پرده حائل نه وي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! هغه پرده څه ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

تَمُوْتَ النَّفْسُ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ. روى الأحاديث الثلاثة أحمد وروى البيهقي الأخير في كتاب البعث والنشور

دا چي د شرک په حالت کي څوک مړ سي، درې ذکر سوي حديثونه احمد بيان کړي دي، او آخري حديث بيهقي.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۷۴.

## د الله ﷻ په دربار کي د شرک څخه پرته هره ګناه د عفو قابل ده

﴿۲۲۵۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَقِيَ اللّٰهُ لَا يَعْدِلُ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله تعالى سره په

بِهِ شَيْئًا فِي الدُّنْيَا ثُمَّ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلَ جِبَالٍ ذُنُوْبٌ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ. رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور

دا سي حال کي يو ځای سي چي هيڅوک د هغه شريک نه وګڼي نو که پر هغه د غره په اندازه ګناه هم وي الله به يې وبخښي. بيهقي

**تخريج**: رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

## توبه کونکی د ګناه نه کونکی په ډول دی

﴿۲۲۵۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَاذَنْبَ لَهُ. رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان وقال تفرد به النهراني وهو مجهول. وفي (شرح السنة) روي

عنه موقوفا قال الندم توبة والتائب کمن لا ذنب له.

د گناه څخه توبه کونکی انسان داسي (پاک دئ) لکه هغه چي گناه کړې هم نه وي، ابن ماجه او بیهقي

**تخریج:** سنن ابن ماجه ۲\ ۱۴۱۹، رقم: ۴۲۵۰، البیهقي في شعب الایمان ۵\ ۳۸۸، رقم: ۷۰۴۰، وشرح السنة ۵\ ۹۱- ۹۲، رقم: ۱۳۰۷.

**تشریح:** په دې پوهېدل پکار دي چي کله یو گناه د زړه په صدق سره پر خپلو گناهو باندي شرمنده او پښیمانه سي او په معتبرو شرائطو سره توبه وکړي نو د هغه د توبې په قبلېدو کي هیڅ شک او شبه نه سته ځکه چي الله تعالی په خپله دغه وعده فرمایلې ده چي: وهو الذي یقبل التوبة عن عباده: او الله تعالی داسي ذات دی چي د خپل بنده توبه قبلوي.

او استغفار چي د توبې پرته وي او د هغه تعلق د الله تعالی په مخکي خپل عجز او انکساري او د نفس ماتولو اظهار وي کله خو گناهونه رژوي او کله یې نه رژوي مگر پر دې باندي ثواب په هر صورت کي تر لاسه کیږي، یعني د دغه انحصار مشیت پر دې باندي دی چي الله تعالی کله وغواړي په خپل فضل او کرم سره د اسغفار په ذریعه گناه لیري کوي او کله چي وغواړي نو نه یې لیري کوي مگر ثواب په دواړو صورتو کي ورکوي.

=========

# بَابُ فِيْ سَعَةِ رَحْمَتِهِ

## د الله ﷻ د رحمت پراخوالی

د مشکوة شریف په اکثرو نسخو کي دلته یوازي باب لیکل سوی دی او د هغه مطلب دادی چي په دغه باب کي هغه حدیثونه ذکر کیږي چي د هغو تعلق د تېرو بابو سره دی او په ځینو نسخو کي دلته دا عنوان قائم سوی دی: باب في سعة رحمة، یعني د الله تعالی د رحمت د وسعت بیان.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د الله ﷻ رحمت د هغه پر غضب غالب دی

﴿۲۲۵۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَمَّا

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي الله تعالی

قَضَى اللهُ الْخَلْقَ كَتَبَ كتاباً فهو عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي و في رواية غلبت غضبي . متفق عليه

د خپل مخلوق د پیدا کولو اراده وکړه نو یو کتاب یې ولیکۍ چي هغه په عرش کي شتون لري په دې کتاب کي دا الفاظ دي (ان رحمتي سبقت غضبي) زما رحمت زما تر غضب وړاندي والی تر لاسه کړ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي زما رحمت زما پر غصه غالب سو، بخاري او مسلم.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٨٧، رقم: ٣١٤٩، ومسلم ٤\٢١٠٨، رقم: ١٦- ٢٧٥١.

**تشریح**: په کوم کتاب کي چي د الله تعالی له خوا دغه عظیم زیری لیکل سوی دی چي د الله تعالی رحمت د هغه پر غضب غالب دی د هغه کتاب د عظمت او بزرګۍ هیڅ اندازه هم نه سي کېدلای، ددغه کتاب دغه عظمت او بزرګۍ سره سم الله تعالی دغه د ځان سره د عرش سربېره نښی دی.

د الله تعالی د رحمت د سبقت او د هغه د غالب کېدو مطلب دادی چي د الله تعالی رحمت د هغه بخښنه او کرم او د هغه د نعمتونو نښي او د هغه مظاهري غالبي دي چي هغه ټول مخلوقات راګير کړي دي او بې شمېره دي ددې په مقابله کي د هغه د غضب نښي او د هغه څرګندېدل کم دي لکه څرنګه چي په خپله الله تعالی فرمايي : ان تعدوا نعمت الله لاتحصوها: که تاسو د الله تعالی نعمتونه شمېرل وغواړئ نو شمېر به يې نه کړای سئ.

او فرمايي :

عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاء وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ

ژباړه: په عذاب کي چي زه چا ته وغواړم اخته کوم مګر زما رحمت پر هر شي باندي خپور دی.

خلاصه دا چي د الله تعالی د رحمت دائره او د هغه د نعمتونو په اړه دومره وسیع او پراخ دی چي د کائناتو هیڅ فرد د هغه څخه وتلی نه دی او د دوئ د دنیوي ژوند هره لمحه په یو شکل کي د الله تعالی د رحمت یوه برخه ده مګر ددې په مقابله کي د بندګانو له خوا د الله تعالی د رحیم او کریم ذات د نعمتونو د شکر په ادا کولو کي چي څومره کوتاهي کيږي د هغه هيڅ يو حد او پای نه سته لکه چي الله تعالی فرمايي :

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ،

ژباړه: که چيري الله تعالی د هغوئ د ظلم په سبب د هغوئ سره مؤاخذه شروع کړي نو د (هغه

په نتيجه کي به) يو ساه لرونکی هم د مځکي پر مخ پرې نه ږدي .
دا هم د الله تعالی د رحمت ظهور دی چي د بندګانو د ټولو ګناهو او کوتاهيو سربېره په دغه دنيا کي هغوئ پاته لري هغوئ ته روزي ورکوي پر هغوئ د خپلو نعمتو باران کوي او په دغه دنيا کي هغوئ ته عذاب او مؤاخذه نه ورسره کوي دا خو ددې دنيا معامله ده چي دلته د الله تعالی د رحمت ظهور څرنګه او په کوم صورت کي مخته راځي مګر په آخرت کي د رحمت ظهور خو ددې دنيا د ظهور څخه هم زيات دی لکه څرنګه چي د راتلونکي حديث څخه معلوميږي .

## د الله ﷻ د رحمت وسعت

﴿۲۲۵۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی سل رحمتونه دي

أَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ فَبِهَا

چي په هغو کي يې يو رحمت پر پيريانانو، انسانانو، حيوانانو او زهرجنو حيوانانو باندي نازل کړئ دئ ، ددې رحمت په سبب

يَتَعَاطَفُونَ وَبِهَا يَتَرَاحَمُونَ وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلَى وَلَدِهَا وَأَخَّرَ اللّٰهُ تِسْعًا

هغوئ په خپل منځ کي رحم کوي، او ددې په سبب وحشي حيوانان پر خپل اولاد رحم کوي، او نهه نيوي رحمتونه الله تعالی

وَتِسْعِينَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه و في رواية لمسلم

د قيامت لپاره ساتلي دي چي په هغو به پر خپلو بندګانو رحم کوي . بخاري او مسلم ، او د مسلم

عن سلمان نحوه و في اخره قال فاذا كان يوم القيامة اكملها بهذه الرحمة.

په يوه روايت کي دا الفاظ دي هر کله چي د قيامت ورځ سي نو الله تعالی به دا نهه نيوي رحمتونه د دغه يوه رحمت سره پوره کړي.

**تخريج** : صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۰\۴۳۱، رقم: ۶۰۰۰، ومسلم ۴\۲۱۰۸، رقم: ۱۹- ۲۷۵۲.

**تشريح** : د مسلم شريف د دغه دوهم روايت څخه دا خبره ثابتيږي چي د قيامت په ورځ به هغه يو

رحمت هم د بندګانو د حال شاهد سي کوم چي په دنيا کي نازل سوی دی ، همدارنګه يو رحمت خو ددغه دنيا والا وي او نهه نيوي رحمتونه چي د قيامت په ورځ الله تعالی خاص کړي دي دا ټول په يو ځای کولو سره پوره سل سي چي پر مسلمانانو او مؤمنانو باندي به نازل سي.

**بنده ته په بين الخوف والرجاء کي اوسيدل پکار دي**

﴿۲۲۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که مؤمن بنده ته څرګنده سي

مَا عِنْدَ اللّٰهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ

چي د الله تعالی سره څومره سخت عذابونه دي نو بيا به هيڅوک د جنت آرزو ونه کړي، او که کافر ته دا څرګنده سي چي د الله تعالی سره

مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ . متفق عليه

څومره رحمتونه دي نو بيا به هيڅوک د جنت څخه نا اميده نه سي . بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۰۱، رقم: ۶۴۶۹، ومسلم ۱۴\۲۱۰۹، رقم: ۲۳- ۲۷۵۵.

**تشريح**: ددغه حديث مقصد په حقيقت کي د الله تعالی د رحمت او د هغه د عذاب ظاهرول دي چي مؤمن د هغه پر رحمت باندي په باور سره کښيني او د هغه د عذاب څخه بالکل بې خوفه نه سي او کافر د هغه د رحمت څخه نااميدي اختيار نه کړي او نه توبه کول پرېږدي .

خلاصه دا چي بنده ته پکار دي چي هغه بين الخوف والرجاء يعني د بيري او اميد په مينځ کي اوسي يعني د الله تعالی پر رحمت باندي اميد هم ولري او د هغه د عذاب څخه وبيرېږي ، د حضرت عمر ﷺ په باره کي نقل سوي دي چي هغه وفرمايل : که د قيامت په ورځ دا اعلان وکړل سي چي يو سړی به په جنت کي داخلېږي نو زه اميد لرم چي هغه سړی به زه يم او همدارنګه که اعلان وسي چي يو سړی به په دوزخ کي داخلېږي نو زه به ګمان کوم چي هغه سړی به زه يم .

**جنت او دوزخ هر چا ته نژدې دي**

﴿۲۲۵۸﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ . رواه البخاري.

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: جنت ستاسو د څپلی د تسمې څخه هم زیات نژدې دئ او همداسې دوږخ هم. بخاري

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۲۱، رقم: ۶۴۸۸.

**تشریح**: خلاصه دا چي د انسان، جنت او دوږخ په مینځ کي فاصله نه سته نو هر چا ته پکار دي چي هغه خپل ژوند په ښو کارو او نیکو اعمالو سره سمسور کړي تر څو هغه د جنت امیدلرونکی سي او د خرابو کارو څخه ځان وساتي او د دوږخ څخه وبیریږي.

## د الله تعالی د بخښني مثال

﴿۲۲۵۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَجُلٌ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو سړي چي هغه هیڅکله

لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ لِاَهْلِهٖ وَ فِيْ رِوَايَةٍ اَسْرَفَ رَجُلٌ عَلٰى نَفْسِهٖ فَلَمَّا حَضَرَهُ

نیک کار نه وو کړئ خپل کورنۍ ته وویل: او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي یو سړي پر خپل ځان ظلم کړی وو (یعني ډیر گناه کار وو) کله چي د هغه مرگ رانژدې سو

الْمَوْتُ اَوْصٰى بَنِيْهِ إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوْهُ وَاذْرُوْا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ

نو خپلو زامنو ته یې وصیت وکړ چي کله مړ سم نو وه دي سوځل سي او نیمه ایره دي په صحراء کي و غورزول سي او نیمه دي په دریاب کي واچول سي،

فَوَاللّٰهِ لَئِنْ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَا يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِيْنَ فَلَمَّا

په الله دي مي قسم وي که الله جل جلاله هغه تر لاسه کړ نو داسي عذاب به ورکړي چي په دنیا کي به یې چا ته داسي عذاب نه وي ورکړی، کله چي

مَاتَ فَعَلُوْا مَا اَمَرَهُمْ فَأَمَرَ اللّٰهُ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيْهِ وَأَمَرَ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيْهِ

هغه مړ سو نو د هغه زامنو د هغه وصیت پر ځای کړ، بیا الله تعالی دریاب ته حکم ورکړ نو هغه ایرې یو ځای سوې او صحراء ته یې حکم ورکړ نو کومه ایره چي په هغه کي گډه وه هغه سوې وه هغه یو ځای سول،

ثُمَّ قَالَ لَهُ لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا قَالَ مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ فَغَفَرَ لَهُ.

متفق عليه

بيا الله تعالی د هغه څخه پوښتنه وکړه تا داسې ولې وکړل؟ هغه عرض وکړ اې پروردګاره! ستا د بيرې څخه مې داسې وکړل او ته ښه پوهيږې، نو الله پاک هغه و بخښئ. مسلم او بخاري.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۱۲، رقم: ۶۴۸۱، ومسلم ۴\۲۱۰۹، رقم: ۲۴-۲۷۵۶.

**تشريح**: هغه سړي دا ګڼلې وه چې عذاب يوازې هغه چا ته وي کوم چې ښخيږي نو د خپل بدعمله ژوند او ګناهو د زياتوب په لېدو سره هغه د ډيرې بيرې څخه دا وصيت وکړ چې ما وسوځئ زما ايرې په هواء کې اېله کړئ نو دالله تعالی دا خبره خوښه سوه او هغه يې وبخښي.

لئن قدر الله: ددې معنی خو هغه ده کوم چې په ژباړه کې بيان سوې ده يعني که الله تعالی د هغه څخه مؤاخذه وکړي او په حساب کې سختي وکړي، په دې صورت کې هيڅ اشکال نه پيدا کيږي مګر که دا وويل سي چې د هغه سړي مراد ددې لفظي معنی وي يعني که الله تعالی پر ما باندې قادر سي نو بيا به دا اشکال پيدا کيږي چې هغه د الله تعالی په قدرت کې د شک او شبهې اظهار وکړ چې ظاهره تېره دا بالکل کفر دی.

ددغه اشکال علماء کرامو څو جوابونه ورکړي دي چې د هغو څخه يو جواب دادی چې دا د ښځو د فترت خبره ده، هغه وخت يو نبي نه وو او همدارنګه يوازې پر توحيد باندې ايمان او عقيده پر خلاصون باندې څه اثر لويږي.

ځيني علماء وايي چې هغه سړي دا خبره د بيرې او خوف د غلبې په وجه کړې وه او په داسې صورت کې انسان د منع او مغلوب العقل په حکم کې وي او هغه ماخوذ نه سي ګرځېدای لکه څرنګه چې په تېر باب کې يو حديث کې د هغه سړي په باره کې نقل سوي دي چې هغه ورکه سوې سپرلی پيدا کړه او بيا هغه د خوشحالی د غلبې په وجه د هغه د ژبې څخه دا الفاظ ووتل چې: انت عبدي وانا ربک، ته زما بنده يې او زه ستا رب يم.

### د الله ﷻ د رحمت وسعت

﴿۲۲۶۰﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ته بنديان راغلل چې

سَبْيٌ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ قَدْ تَحْلُبُ ثَدْيَهَا تَسْقِي إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي

په هغو بنديانو كي يوه ښځه هم وه چي د هغې د تيانو څخه شيدې بهېدلې هغه آخوا دېخوا په بيره كي وه (يعني د خپل كوچني لټه يې كول چي د هغې سره نه وو) هغې چي به يو كوچني د

السَّبي أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

بنديانو سره وليدئ نو هغه به يې په غيږ كي واخيستئ او د خپلي سينې سره به يې ومښلوئ او شېدې به يې وركولې، نو نبي كريم ﷺ موږ ته وفرمايل:

وَسَلَّمَ أَتَرَوْنَ هَذِهِ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ قُلْنَا لَا وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا

ايا ستاسو په خيال دا ښځه به خپل كوچنی په اور كي واچوي؟ موږ عرض وكړ اې د الله رسوله! نه، په شرط د دې چي هغه په نه غورزولو توان لري،

تَطْرَحَهُ فَقَالَ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا. متفق عليه

رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى پر خپلو بندګانو تر دې هم زيات رحم كوونكى دئ څومره چي دا ښځه پر خپل كوچني مهربانه ده. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۲۶، رقم: ۵۹۹۹، ومسلم ۴\۲۱۰۹، رقم: ۲۲- ۲۷۵۴.

### د ميانه روي اختيارولو حكم

﴿۲۲۶۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يُنَجِّيَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نجات نه سي وركولاى

أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ قَالُوا وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللّٰهُ

هيچا ته د هغه عمل، صحابه كرامو پوښتنه وكړه اې د الله رسوله! تاسو ته هم نه، رسول الله ﷺ وفرمايل هو، ما ته هم نه، پر ته د دې څخه چي د الله جل جلاله رحمت ما په غيږ كي واخلي،

منه بِرَحْمَةٍ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَاغْدُوا وَرُوحُوا وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ وَالْقَصْدَ

الْقَصْدَ تَبْلُغُوا. متفق عليه

له دې كبله تاسو ته پكار ده چي خپل اعمال سم كړئ او ميانه روي غوره كړئ او سهار ما ښام او

څه برخه د شپې په تیریدو کې عبادت کوئ او په هر کار کې میانه روي غوره کړئ نو خپل مقصد به تر لاسه کړئ . بخاري او مسلم ..

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۲۹۴، رقم: ۶۴۶۳، ومسلم ۴\ ۲۱۶۹، رقم: ۷۱- ۲۸۱۶.

**د لغاتو حل**: الدلجة: السیر اول اللیل (د شپې په لومړی برخه کې تلل).

## د رحمت الهي څخه پرته یوازي عمل د جنت ضامن نه دی

﴿۲۲۶۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُدْخِلُ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کې هیڅوک د هغه

أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ وَلَا يُجِيرُهُ مِنَ النَّارِ وَلَا أَنَا إِلَّا بِرَحْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ .

رواه مسلم

عمل جنت ته نه سي داخلولای او د الله د رحمت څخه پرته هیڅوک د دوږخ څخه نه سي خلاصیدلای او زه هم مګر د الله په رحمت سره . مسلم

**تخریج**: صحیح مسلم ۴\ ۲۱۷۱، رقم: ۷۷- ۲۸۱۷.

**تشریح**: د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چې په جنت کې د داخلېدو او د دوږخ څخه د خلاصون د سعادت باعث به هغه عمل کوي چې د هغه سره د الله تعالی رحمت هم شامل وي نو په جنت کې داخلېدل خو یوازي د الله تعالی د فضل او کرم او د هغه د رحمت په وجه دي البته په جنت کې چې کومي درجې تر لاسه کیږي هغه به د اعمالو مطابق تر لاسه کیږي یعني د چا عمل چې د کومي درجې وي هغه ته به هغه درجه تر لاسه کیږي .

## په جزا او سزا کې د رحمت الهي ظهور

﴿۲۲۶۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَسْلَمَ

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چې یو بنده اسلام

الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ يُكَفِّرُ اللّٰهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا وَكَانَ بَعْدَ

قبول کړي او د هغه اسلام ښه وي نو الله تعالی د هغه وړاندي ګناهونه بخښي او د هغه وروسته د هغه د اعمالو بدله ورکړي

صاصُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ الى اضعاف كثيرة

ﻱ هغه چي کومه نيکي کوي هغه لس برابر ليکل کيږي بلکه تر اوو سوو پوري او تر دې هم زيات

وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللهُ عَنْهَا. رواه البخاري

د بدۍ بدله به د بدۍ سره سم ورکول کيږي مګر دا چي الله يې معاف کړي. بخاري.

**يج:** صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۹۸، رقم: ۴۱.

**اتو حل:** زلفها: بتشديد اللام اى قدمها. (وړاندي يې کړي وي).

**يح:** دا محض د الله تعالى د رحمت ظهور دی او د هغه د فضل او کرم اثر دی چي هغه پر نيکۍ د لسو څخه تر اووه سوه پوري جزاء ورکوي بلکه چا ته چي غواړي د هغه د مشقت او ق او اخلاص موافق تر دې هم زيات ورکوي مګر د بدۍ سزا د هغه د بدۍ په اندازه ورکوي خو مره بدي چي وي هغه ته يوازي د هغه بدۍ سزا ورکول کيږي بلکه چا ته چي وغواړي د ،بدي به ور معاف کړي او د هغو مره سزا څخه به يې هم وساتي.

۲۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ

ضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى ملائکو ته د

تَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ

يکو او بدو ليکلو حکم وکړ په داسي دول چي څوک د نيکۍ اراده وکړي او پر هغه عمل ونه کړي نو الله تعالى پوره يوه نيکي ورکوي

نْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً فَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ

ﻭ څوک چي د نيکۍ اراده وکړي او په هغه عمل وکړي نو د هغه په حساب کي د يوې نيکۍ په بدله کي لس نيکۍ

ﻰ سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا

ﻜﻪ اووه سوه نيکۍ او تر دې هم زيات ليکل کيږي او څوک چي د بدۍ اراده وکړي او بدي ونه کړي نو الله تعالى

اللّٰهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً . متفق عليه

د هغه په حساب کي يوه نيکي ليکي او څوک چي د بدي اراده وکړي او په هغه عمل هم وکړي نو يوازي يوه بدي د هغه په عمل نامه کي ليکل کيږي . بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١١\٣٢٣، رقم: ٦٤٩١، ومسلم: ١١\١١٨، رقم: ٢٠٧- ١٣١.

**تشريح**: د نيکيو څخه مراد هغه عملونه دي چي د هغو په کولو سره ثواب تر لاسه کيږي او د بديو څخه مراد هغه عملونه دي چي د هغو په کولو سره د عذاب وړ گرځي.
کوم څوک چي د يو نيکۍ اراده وکړي او هغه نيکي په يو وجه ونه کړلای سي نو د هغه لپاره هم يوه نيکي ځکه ليکل کيږي چي د عمل ثواب پر نيت موقوف دی او د مؤمن نيت د هغه د عمل څخه غوره او افضل وي بلکه داسي ووايي چي اصل خو نيت دی د عمل درجه د هغه څخه وروسته ده ځکه د عمل څخه پرته يوازي پر نيت باندي ثواب ورکول کيږي مگر د نيت څخه پرته پر عمل باندي چي کوم ثواب تر لاسه کيږي هغه دوه برابر نه کيږي پر نيکي باندي د ثواب د دوه برابر کېدو اندازه اووه سوه بيانيږي ددې وروسته الله تعالى په ثواب کي څومره زياتوب کوي د هغه آخري حد چا ته معلوم نه دی ځکه چي د اووه سوه څخه وروسته اندازه الله تعالى مبهم کړې ده او ددې وجه داده چي يو شي ته د شوق ورکولو لپاره د هغه په تاکني سره د ذکر کولو پر ځای مبهم ذکر کول زيات مؤثر وي ځکه ويل سوي دي چي : فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعين

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د بدۍ پر پښېدونکی او د نيکۍ کونکي مثال

﴿٢٢٦٥﴾: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت عقبة بن عامر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَثَلَ الَّذِيْ يَعْمَلُ السَّيِّئَاتِ ثُمَّ يَعْمَلُ الْحَسَنَاتِ كَمَثَلِ رَجُلٍ كَانَتْ عَلَيْهِ

د هغه چا حال چي بدي کوي او بيا نيکي کول پيل کړي د هغه چا په ډول دئ چي د هغه په بدن کي

دِرْعٌ ضَيِّقَةٌ قَدْ خَنَقَتْهُ ثُمَّ عَمِلَ حَسَنَةً فَانْفَكَّتْ حَلْقَةٌ ثُمَّ عَمِلَ أُخْرٰى فَانْفَكَّتْ أُخْرٰى حَتّٰى تَخْرُجَ إِلَى الْأَرْضِ. رواه في شرح السنة

يوه تنګه زغره وي چي د هغو کړيو د هغه بدن تهنګ کړی وي، بيا هغه نيکي کول پيل کړي او د هغه د زغزي يوه کړۍ خلاصه سي او بيا دويمه نيکي وکړي او دويمه کړۍ خلاصه سي تر څو چي د کړيو خلاصېدلو سره زغره په سست کېدو سره پر مځکه ايله سي. شرح السنة.

**تخريج:** شرح السنة ۱۴\۳۳۹، رقم: ۴۱۴۹.

**تشريح:** د حديث شريف خلاصه داده چي د بدۍ په کولو سره سينه تنګه او تياره کيږي او بدۍ کونکی نه يوازي دا چي په ټولو کارو کي د ضمير صحيح لارښووني څخه محروم کيږي چي د هغه په نتيجه کي د هغه ټول فکري او عملي لارو باندي د يقين او اعتماد او سکون د نور پر ځای خوف، اضطرار او د عدم استقلال توره سايه سي بلکه هغه د خلکو په نظر کي کم سي او ټول نيکۍ خوښونکي انسانان هغه ته د غصې او سپکوالي په نظر ګوري ددې برعکس په نيکي کولو سره سينه پراخه کيږي او نيکۍ کونکی په خپل هر کار کي اساني او د يقين او اعتماد د سکون څخه ډک اثرات محسوسوي او دا چي هغه د خلکو په نظر محبوب او خوښ وي. په پورتني حديث کي تنګۍ ته په زغري سره تشبيه ورکړل سوې ده چي د تنګي زغري په اغوستلو سره بدن تنګ او بې ارامه کيږي او د هغه زغري د بدن څخه په خلاصېدو سره پراخي او د زړه خوشحالي تر لاسه کيږي.

## د قيامت په ورځ د الله ﷻ څخه د بېرېدونکي مثال

﴿۲۲۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُصُّ

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل

عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُوْلُ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ} قُلْتُ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ

يې پر منبر باندي: (ولمن خاف مقام ربه جنتان) او څوک چي د پروردګار د پېښي څخه يعني د قيامت د ورځي څخه بيرېږي هغه ته به دوه جنتونه ورکړل سي، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! که څه هم هغه زنا کوونکی وي او

سَرَقَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ الثَّانِيَةَ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ} فَقُلْتُ

غل وي، د دې په اوربدو سره رسول الله ﷺ بيا دا آيت تلاوت کړ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ}،
ما بيا پوښتنه وکړه اې د الله رسوله!

الثَّانِيَةَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللَّهِ الثَّالِثَةَ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ

که څه هم هغه زنا کار او غل وي، رسول الله ﷺ په دريم وار بيا دغه آيت تلاوت کړ {وَلِمَنْ خَافَ

جَنَّتَانِ} فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ. رواه احمد

مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ}، ما په دريم وار بيا پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! که څه هم زنا کونکی او غل وي، رسول الله ﷺ وفرمايل: که څه هم هغه زنا او غلا کړې وي که څه هم د ابودرداء پزه په خاورو ولړل سي. احمد.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۲\۳۵۷.

**تشريح**: د هغه لپاره دوه جنتونه دي: د دوو جنتو په باره کې په ځينو حديثو کې راغلي دي چې يو جنت خو داسې وي چې په هغه کې مکان، محل، لوښي او زيورات وغيره ټول د سرو زرو دي او يو جنت داسې دی چې په هغه کې ټول سامان د سپينو زرو وي.

حضرت ابودرداء ﷺ پر دغه زيرې باندې تعجب وکړ او هغه ته دا خبره ليرې معلومه سوه ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل که څه هم د ابودرداء ﷺ پزه په خاورو لړلې وي يعني که څه هم دا خبره ابودرداء ﷺ ته عجيبه معلوميږي او ابودرداء ﷺ دا ډېره ليرې ګڼي مګر خبره همداسې ده لکه څرنګه چې ما ويلي دي.

## الله تعالی پر بنده باندې تر مور زيات مهربان دی

﴿۲۲٦٧﴾: وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِي قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ يَعْنِي عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عامر رامي ﷺ څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ عَلَيْهِ كِسَاءٌ وَفِي يَدِهِ شَيْءٌ قَدِ الْتَفَّ عَلَيْهِ فَقَالَ يَا

يو سړی راغلئ چې کمبل يې اچولې وه او د هغه په لاس کې يو شی وو چې پر هغه يې کمبل را

تاو کړې وه ، هغه عرض وکړ

رَسُولَ اللّٰهِ مَرَرْتُ بِغَيْضَةِ شَجَرٍ فَسَمِعْتُ فِيهَا أَصْوَاتَ فِرَاخِ طَائِرٍ فَأَخَذْتُهُنَّ

اې د الله رسوله ! زه د درختو د يو ځالګۍ سره تيريدم په هغه کې ما د مرغانو آوازوا وريدۍ ما هغه ونيول

فَوَضَعْتُهُنَّ فِي كِسَائِي فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ فَاسْتَدَارَتْ عَلَى رَأْسِي فَكَشَفْتُ لَهَا

او په خپل کمبل کې مې کښېښنودل، بيا د هغوئ مور راغلل او زما پر سر ګرځېدل ما د هغې په

عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ مَعَهُنَّ فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِي فَهُنَّ أُولَاءِ مَعِي قَالَ

وړاندې د هغې کوچنيان خلاص کړل او هغه پر هغوئ را ولويدل نو ما ټول ونيول چې هغه اوس هم زما سره دي، رسول الله ﷺ وفرمايل :

ضَعْهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُومَهُنَّ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

دوئ کښېږده نو ما ټول کښېښنودل د بچو مور د څه پروا کولو پرته پر خپلو کوچنيانو را پريوتل ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ أَتَعْجَبُونَ لِرُحْمِ أُمِّ الْأَفْرَاخِ فِرَاخَهَا فَوَالَّذِي بَعَثَنِي

ايا تاسو په دې خبره تعجب کوئ چې مور پر خپلو بچيانو رحم کوي په هغه ذات دې مې قسم وي چې هغه زه په حق سره راليږلی يم ،

بِالْحَقِّ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ أُمِّ الْأَفْرَاخِ بِفِرَاخِهَا ارْجِعْ بِهِنَّ حَتَّى تَضَعَهُنَّ

الله جَلَّ جَلَالُهُ پر خپلو بندګانو باندې تر دې هم زيات مهربان دئ ، اوس ته دا يوسه او د کوم ځای څخه چې دې راوړي دي

مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ فَرَجَعَ بِهِنَّ. رواه ابوداؤد .

د هغوئ د مور په وړاندې يې هم هلته کښېږده نو هغه سرې هغه مرغان هلته کښېښنودل . ابوداؤد .

**تخريج** : ابوداود في السنن ۳\۴۶۸ ، رقم: ۳۰۸۹.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

﴿۲۲۶۸﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا مَعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي په يوه غزا كي مور د رسول الله ﷺ سره وو،

بَعْضِ غَزَوَاتِهِ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ مَنِ الْقَوْمُ قَالُوا نَحْنُ الْمُسْلِمُونَ وَامْرَأَةٌ

رسول الله ﷺ د يو مسجد سره تير سو او پوښتنه يې وكړه تاسو كوم خلك ياست؟ هغوئ وويل مونږ مسلمانان يو،

تَحْضِبُ بِقِدْرِهَا وَمَعَهَا ابْنٌ لَهَا فَإِذَا ارْتَفَعَ وَهَجُ التَّنُّورِ تَنَحَّتْ بِهِ فَأَتَتْ

په هغه مسجد كي يوې ښځي كټو پخول او د هغې زوى ورسره وو، د اور لمبه چي به پورته سوه نو هغې ښځي به خپل كوچني ايسته كړئ، بيا هغه ښځه د

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ نَعَمْ قَالَتْ بِأَبِي أَنْتَ

نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوه او عرض يې وكړ ايا تاسو د الله ﷻ رسول ياست؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، هغې ښځي پوښتنه وكړه

وَأُمِّي أَلَيْسَ اللّٰهُ أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ قَالَ بَلَى قَالَتْ أَلَيْسَ اللّٰهُ أَرْحَمَ بِعِبَادِهِ

زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي ايا الله ډير مهربان نه دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو دئ، هغې ښځي وويل: ايا الله ﷻ پر خپلو بندګانو تر دې هم زيات مهربان دئ څومره چي

مِنَ الْأُمِّ بِوَلَدِهَا قَالَ بَلَى قَالَتْ فَإِنَّ الْأُمَّ لَا تُلْقِي وَلَدَهَا فِي النَّارِ فَأَكَبَّ

يوه مور پر خپلو كوچنيانو مهربانه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، هغې ښځي وويل: مور خو خپل كوچنيان په اور كي نه اچوي؟ نو رسول الله ﷺ سر مبارك كښته كړ

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِي ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهَا فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ لَا

او په ژړا سو، بيا يې سر مبارك را پورته كړ او وه يې فرمايل: الله تعالى خپلو بندګانو ته

يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهِ إِلَّا الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِي يَتَمَرَّدُ عَلَى اللَّهِ وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ . رواه ابن ماجه .

عذاب نه ورکوي مګر يوازي هغه خلکو ته عذاب ورکوي چې سرکښ وي (يعني د الله تعالى نافرماني کوي) او د هغه حکم منلو او لااله الاالله ويلو څخه انکار کوي . ابن ماجه.

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\۱۴۳۶، رقم: ۴۲۹۷.

**د لغاتو حل**: تحضب: اى توقد : (بلوي).

**پر بنده د الله ﷻ رحمت**

﴿۲۲۶۹﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَلْتَمِسُ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : نيک بنده د الله تعالى د رضا

مَرْضَاةَ اللَّهِ وَلَا يَزَالُ بِذَلِكَ فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لِجِبْرِيلَ إِنَّ فُلَانًا عَبْدِي

په لټه کې وي او هميشه په دې حال کې وي ، الله تعالى جبرائيل عليه السلام ته فرمايي زما

يَلْتَمِسُ أَنْ يُرْضِيَنِي أَلَا وَإِنَّ رَحْمَتِي عَلَيْهِ فَيَقُولُ جِبْرِيلُ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَى

فلانى بنده زما د رضا په لټه کې دئ خبردار سه چې زما رحمت پر هغه دئ، بيا جبرائيل عليه السلام فرمايي : د الله رحمت پر فلاني سړي دئ

فُلَانٍ وَيَقُولُهَا حَمَلَةُ الْعَرْشِ وَيَقُولُهَا مَنْ حَوْلَهُمْ حَتَّى يَقُولَهَا أَهْلُ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ ثُمَّ تَهْبِطُ لَهُ إِلَى الْأَرْضِ . رواه احمد

بيا دا خبره عرش پورته کونکي ملائکي وايي او هغه ملائکي هم وايي کومې چې هغوئ ته نژدې وي ، تر څو چې د اووم آسمان ملائکي هم دا وايي بيا رحمت د هغه سړي لپاره پر مځکه را نازليږي . احمد.

**تخريج**: الامام احمد في مسنده ۲۷۹\۵.

**تشريح**: پر هغه سړي باندي د رحمت نازلېدو مطلب دادى چې الله تعالى هغه بنده خپل دوست او غوره بنده ګرځوي او د مځکي پر مخ د هغه لپاره د عام قبوليت فضا پيدا کوي او هغه نتيجه

دا سي چي دنيا وال هغه غوره ګڼي او د هغوئ په زړو کي د هغه لپاره د ميني او احترام جذبات پيدا کوي.

دا حديث د مفهوم او معنى په اعتبار د دغه ارشاد په ډول دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي الله تعالى يو بنده دوست جوړ کړي نو جبرائيل عليه السلام خبر کړي چي زه فلانی بنده خپل دوست ګرځوم ته هم هغه دوست کړه نو جبرائيل عليه السلام هغه بنده دوست کړي بيا په اسمانو کي اعلان کوي چي الله تعالى فلانی بنده دوست کړی نو تاسو ټول هم هغه دوست کړئ نو آسمان والا هم هغه دوست کړي بيا د هغه بنده لپاره د مځکي پر مخ د قبوليت عامه فضا پيدا کړل سي (د هغه نتيجه دا سي چي خلک هغه خوښوي) او کله چي الله تعالى يو بنده خپل دښمن کړي نو جبرائيل عليه السلام خبر کړي چي فلانی سړی زه خپل دښمن ګڼم ته يې هم خپل دښمن وګڼه نو جبرائيل عليه السلام يې هم خپل دښمن کړي بيا جبرائيل عليه السلام آسمان والا خبر کړي چي فلانی سړی الله تعالى خپل دښمن کړئ او تاسو ټول يې هم دښمن کړئ نو آسمان والا يې هم دښمن کړي بيا د هغه لپاره د مځکي پر مخ د عامي دښمنۍ فضا پيدا کړي (چي د هغه په نتيجه کي خلک ټول د هغه دښمنان سي). د دغه ارشاد څخه دا خبره واضحه سوه چي د اولياء الله عام شهرت او قبوليت او د عوامو په زړو کي د هغوئ بې پناه محبت او عقيد يوازيني سبب دادی چي خپله الله تعالى هغه خپل دوست کړي، هو کوم خلک چي د مکر او فريب پر طريقه خپل مال او زر مصرف کولو سره د عوامو زړونه خپل طرف ته مائل کوي نو هغوئ د دغه ډلي څخه خارج دي ځکه چي د داسي خلکو هيڅ باور نه سته.

## مؤمن په هر صورت کي جنتي دی

﴿۲۲۷۰﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ قَوْلِ اللهِ

د حضرت اسامة بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د دې آيت

عَزَّ وَجَلَّ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ قَالَ كُلُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ. رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ، په تفسير کي فرمايلي دي چي دا ټول جنتيان

**تخریج**: رواه البیهقي في کتاب البعث والنشور.

**تشریح**: په دغه حدیث کي چي کوم آیت کریمه د تفسیر په ضمن کي ذکر سوی دی هغه پوره آیت داسي دی:

ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ،

ژباړه: بیا موږ هغه کسانو ته کتاب او شریعت ورکړ چي موږ په خپلو بندګانو کي (د ایمان او اسلام په ذریعه) غوره کړل نو په دغه غوره خلکو (یعني مسلمانانو) کي ځیني د خپل نفس په حق کي ظالمان دي (په دې توګه چي هغوئ د منع شیانو ارتکاب کوي او خپل ځان په ګناهو کي اخته کوي) او په هغو کي ځیني میانه رو دي (په دې توګه چي هغوئ نیکي هم کوي) او په هغوئ کي ځیني په نیکیو کي سبقت کونکي دي (په دې توګه چي هغوئ د علم په تر لاسه کولو او عمل کولو کي ډېره هیڅه او کوښښ کوي) او خپل علم او عمل سره هغوئ نور خلک هم د خپل علم، تذکیر او نصیحت په ذریعه د هدایت پر لاره روانوي.

حسن بصري رحمه الله فرمایي چي د سبقت کونکي څخه ځوک مراد دی چي د هغه نیکي پر بدیو غالب وي یعني نیکي زیاته کوي او په بدیو کي لږ اخته کیږي او میانه رو هغه سړی دی چي د هغه نیکي او بدي برابر وي او د ظالم څخه مراد هغه ځوک دی چي د هغه په ژوند کي بدۍ پر نیکۍ غالبې وي.

د پورتني حدیث خلاصه داده چي دغه درې ډوله خلک د غوره بندګانو یعني مؤمنانو څخه دي او دا ټول جنتیان دي او دا ښېله خبره ده چي هغوئ ته به په جنت کي د خپلو خپلو حالاتو او کارو په اعتبار درجې تر لاسه کیږي ددې څخه معلومه سوه چي د الله تعالی رحمت څومره پراخ او عام دی او څرنګه چي د هغه نیکانو بندګانو د هغه په رحمت سره نازول کیږي همدارنګه ګناه کار بندګان هم د هغه د رحمت په سایه کي په ابدي سعادتونو سره نازول کیږي.

========

# بَابُ مَا يَقُوْلُ عِنْدَ الصَّبَاحِ وَالْمَسَاءِ وَالْمَنَامِ

## د سهار، ماښام او ښده کېدو په وخت کي دعاوي

د سهار څخه مراد دادی چي د لمر ختلو تر وخت پوري د ورځي اولنۍ برخه، د ماښام څخه مراد دادی چي د لمر لوېدو څخه د شفق تر لوېدو پوري وخت او د ورځي بالکل آخري وخت، نو کومي دعاوي چي د سهار لپاره نقل سوي دي پکار دي چي د سهار د لمانځه څخه مخکي وويل سي مګر د سهار د لمانځه وروسته په دواړو صورتو کي څه فرق نه سته همدارنګه د ماښام لپاره چي کومي دعاوي ويل نقل سوي دي نو پکار دي چي د ماښام د لمانځه څخه مخکي وويل سي او يا د ماښام د لمانځه څخه وروسته.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### په سهار او ماښام کي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۲۷۱﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ قَالَ كَانَ رسول اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمْسَى

د حضرت عبد الله رضی الله عنه څخه روايت دئ چي کله به ماښام سو نو رسول الله ﷺ به دا دعاء کول:

قَالَ أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ و لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ

(امسينا ..... وعذاب القبر) اې الله! اوس ماښام سو او پر ټول هيواد باندي ماښام خپور سوی دئ او هغه د الله جل جلاله ملک دئ هر ډول تعريف الله لره دئ د الله جل جلاله څخه پرته بل څوک د عبادت

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللهم اني أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ ما في

وړ نسته هغه يوازي دئ هيڅوک د هغه شريک نسته پاچاهي د هغه ده او هغه لره تعريف دئ هغه په هر شي توانا دئ اې الله! زه ستا څخه

هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا فيها وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وشر ما فيها اللهم إني أعوذ

د دې شپې خير غواړم او د هغه شي خير چي په دې شپه کي دئ او ستا په ذريعه د دې شپې د بدۍ څخه پناه غواړم او د هغه شي د بدۍ څخه چي په دې شپه کي دئ، اې الله! زه ستا په ذريعه د

بك من الكسل والهرم وسوء الكبر وفتنة الدنيا وعذاب القبر وإذا أصبح

سستئ، کهالئ، سپين ږيرتوب او د سپين ږيرتوب د بدئ څخه پناه غواړم او د دنيا د فتنې او د قبر د عذاب څخه پناه غواړم، او کله چي به سهار سو نو رسول الله ﷺ به داسي فرمايل:

قال ذالك أيضا أصبحنا وأصبح الملك لله. وفي رواية رب إني أعوذ بك من عذاب في النار وعذاب في القبر. رواه مسلم

(اصبحنا و اصبح الملک لله) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي (رب اعوذ بک من عذاب في النار و عذاب في القبر) اې الله! زه ستا په ذريعه د هغه عذاب څخه چي په دوږخ کي دئ او د هغه عذاب څخه چي په قبر کي دئ ستا پناه غواړم. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۲۰۸۹\۱۴، رقم: ۷۵، ۷۶-۷۷ - ۲۷۲۳.

**تشريح**: کله چي دغه دعاء په سهار کي ويل کيږي نو د ليلة پر ځای دي اليوم وويل سي يعني داسي دي ووايي: اللهم اني اسئلک من خير هذا اليوم، او چيري چي د ليلة په ويلو سره د مؤنث ضميرونه استعماليږي نو هلته دي د اليوم په رعايت کولو سره د مذکر ضميرونه استعمال سي، يعني د ها پر ځای دي ه وويل سي.

## د بيده کيدو او کښېنستو دعاء

﴿۲۲۷۲﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د شپې بسترې ته تلئ نو تر خپل

مِنَ اللَّيْلِ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا وَإِذَا

مړوند لاندي به يې لاس مبارک ايښودئ او فرمايل به يې: (اللهم باسمک اموت واحيى) اې الله! زه ستا په نامه سره مرم او ستا په نامه ژوندی کيږم، او کله چي به

اسْتَيْقَظَ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ. رواه البخاري و مسلم عن البراء.

زموږ د مرګ څخه وروسته ژوندي کړو او د هغه په لور رجوع ده. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۱۵، رقم: ۶۳۱۴.

**تشريح**: او هغه ته نشور دی یعني رجوع ده: ددې مطلب ځینو عالمانو داسي لیکلي دي چي د مرګ څخه وروسته د حساب، جزاء او سزا لپاره د الله تعالی ذات ته رجوع ده مګر غوره داده چي وویل سي چي دلته د رجوع څخه د بېده کېدو وروسته په پورته کېدو سره د معاش طلب او په خپل کاروبار کي د بوختیا لپاره د ژوند په چارو کي بوخت کېدل دي. همدارنګه د بېده کېدو پر وخت او د کښېنستو پر وخت د ذکر او دعاء کولو حکمت او وجه داده چي د اعمالو خاتمه هم پر عبادت او طاعت وي او د افعالو ابتداء هم د عبادت څخه وي.

## د بېده کېدو پر وخت د بسترې څنډل

﴿۲۲۷۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَى

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي په تاسو کي یو

أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا خَلَفَهُ

څوک خپلي بسترې ته د تللو اراده وکړي نو هغه ته پکار ده چي لومړی خپله بستره و څنډي ځکه چي هغه ته نه ده څرګنده چي ددې وروسته د هغه په بستره کي یو شی ننوتلی دئ،

عَلَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ بِاسْمِكَ رَبِّ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي

بیا چي پریوځي نو وایي دي: (باسمک ربي .... عبادک الصالحين) اې زما پروردګاره! ستا په نامه سره زه پریوتم او ستا په مرسته سره به کښېنم او که ته زما روح قبض کړې

فَارْحَمْهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ، و في رواية

نو رحم پر وکړې او که ته زما روح پرېږدې نو ددې روح ساتنه وکړې، د هغه شي په ذریعه د کوم په ذریعه چي ته د خپل نیک بندګانو ساتنه کوې، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي

ثم ليضطجع على شقه الايمن ثم ليقل باسمك . متفق عليه و في رواية

فلينفضه بصنفة ثوبه ثلث مرات وان امسكت نفسي فاغفر لها .

هر كله بسترې ته ولاړ سي نو پر راسته بغل دي پريوځي او دا دعاء دي وكړي : (باسمک ....)
بخاري او مسلم ، او په يوه روايت كي دي چي خپله بستره دي درې واره په خپله څادر سره وڅنډي او په يوه روايت كي (وان امسكت نفسي فاغفر لها) راغلي دي .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۷۸، رقم: ۷۳۹۳، ومسلم ۴\۲۰۸۴، رقم: ۶۴- ۲۷۱۴.

**د لغاتو حل**: بصَنِفَة: اى بطرفه. (څونډه).

**تشريح**: د لونګ د ننه جامې څخه مراد د جامې هغه برخه ده چي د ننه او د بدن سره لګېدلې وي كه هغه لونګ وي يا بله جامه وي، او د لونګ په څوكه سره د څنډلو لپاره يې ځكه وفرمايل چي په دباندي برخه څنډلو سره به دباندي برخه خېرنه سي چي په هغه سره به بدنمائي پيدا سي، او دا چي بستره به د لنګ په څنډلو سره د بسترې څه برخه خلاصه هم نه سي ، خلاصه دا چي كله يو څوک بسترې ته راسي نو مخكي دي بستره په يو جامې وغيره وڅنډي كه پر بستره باندي يو تاوان رسونكى شى وي نو هغه به د بسترې څخه ليري سي او كه چيري د بسترې څنډلو لپاره جامه وغيره نه وي نو بيا د خپل لونګ ،قميص يا بل شي په څوكه سره دي هغه وڅنډي ، كله چي انسان بېده كيږي نو هغه د مړي په حكم كي سي چي الله تعالى د هغه روح په عارضي توګه قبض كوي بيا ددې څخه وروسته د هغه روح د هغه بدن ته استوي يعني هغه د خوب څخه بيداره كوي يا د هغه روح ودروي يعني په مستقله توګه يې قبض كړي او پر هغه سړي مرګ خپور كړي ، ددغه شيانو په باره كي په پورتنۍ دعاء كي خواست دى چي پروردګاره! كه تا د خوب په حالت كي زما روح ودرول او پر ما دي مرګ راوستى نو په دغه صورت كي ما و بخښې او كه زما روح بيرته راكوې او ما ژوندى ساتې نو بيا زما داسي ساتنه وكړې لكه څرنګه چي ته د خپلو نيكو بندګانو ساتنه كوې يعني د نيكۍ توفيق راكړې چي د ګناهونو څخه ځان وساتم او زما په هر كار كي زما مرسته كونكى سې .

د نيكو بندګانو څخه مراد هغه بندګان دي چي د الله تعالى او د هغه د رسول اطاعت او فرمانبرداري او عبادت او طاعت په ذريعه د الله تعالى حق هم ادا كوي او د بندګانو حقوق هم چي د هغه پر ذمه وي ادا كوي .

پر راسته طرف باندي په بېده كېدو كي حكمت دا دى چي زړه په چپه خوا كي وي ځكه پر راسته خوا باندي د بېده كېدو په صورت كي زړه لاندي وي چي د هغه په وجه په خوب كي استراحت او غفلت زيات نه وي او د تهجد د لمانځه وغيره لپاره پورته كېدل اسان وي او پر چپه خوا د بېده كېدو په صورت كي زړه پر خپل ځاى ولاړ وي چي د هغه په وجه په خوب كي غفلت او

استراحت ډېر زيات وي.

﴿۲۲۷﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله خپل بستري ته تلئ

أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ نَامَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ

نو پر راسته بغل به پريوتئ او فرمايل به يې (اللهم اسلمت ....) اې الله! ما خپل ځان ستا په لور

وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً

متوجه کړ او خپل مخ مي ستا په لور متوجه کړ، او ما خپل کار تا ته حواله کړ او ما خپله شا ستا
لوري ته ولګول، او ستا څخه د ثواب اميد لرم

وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ

او ستا د عذاب د بيري څخه د پناه غوښتونکی يم، او ستا د عذاب څخه پرته ستا د رحمت نه
څه پناه سته او نه څه خلاصون، ما ستا پر دې کتاب چي تا نازل کړی دي ايمان راوړئ دئ

بِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَهُنَّ ثُمَّ

او پر هغه نبي مي ايمان راوړئ دئ چي تا راليږلی دئ.. رسول الله ﷺ وفرمايل چا چي دا دعاء

مَاتَ تَحْتَ لَيْلَتِهِ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ، و في رواية قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

وويل او په هغه شپه کي مړ سو نو هغه پر دين اسلام باندي مړ سو، او په يوه روايت کي داسي
دي چي رسول الله ﷺ يو سړي ته وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ يَا فُلَانُ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَتَوَضَّأْ وَضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ

اې فلانی سړيه! هر کله چي ته بستري ته د تلو اراده وکړې نو د لمانځه د اوداسه په ډول اودس

اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قُلِ اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ

وکړه او بيا پر راسته بغل پريوزه بيا دا دعاء ووايه: (اللهم اسلمت نفسي اليک ووجهت

وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ

وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ

لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي

لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي

أَرْسَلْتَ وَ قَالَ فَإِنْ مُتَّ فِي لَيْلَتِكَ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ

خَيْرًا. متفق عليه

أَرْسَلْتَ) او بیا یې وفرمایل: که ته په دغه شپه مړ سوې نو پر اسلام باندې به مړ سې او که تر سهاره ورسیدې نو خیر به تر لاسه کړې. بخاري او مسلم.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۶۲، رقم: ۷۴۸۸، ومسلم ۴\۲۰۸۱، رقم: ۵۶، ۵۸ - ۲۷۱۰

**د لغاتو حل**: لیلته: ای تحت حادثة فیها.

﴿۲۲۷۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې کله به رسول الله ﷺ بسترې ته تلئ نو فرمایل به یې

فِرَاشِهِ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ

لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ. رواه مسلم

(الحمد لله .....) ټول تعریفونه الله لره دي چې په موږ یې وخوړل او وچښل او ټولې اړتیاوې یې را پوره کړې او موږ ته یې استوګن ځای راکړ. په دوئ کې ډیر خلک دي چې اړتیاوې یې پوره نه سوې او نه ورته استوګن ځای تر لاسه سوی دئ. مسلم.

**تخریج**: صحیح مسلم ۴\۲۰۸۵، رقم: ۶۴ - ۲۷۱۵.

**تشریح**: د دعاء د آخري الفاظو مطلب دادی چې په دغه وسیع او عریض دنیا کي د داسي خلکو شمېر هم ډېر زیات دی چې په دومره تکلیفو او پریشانیو کي اخته وي او الله تعالی هغوئ

د هغه تكليفو او پريشانيو څخه خوندي نه ساتي بلكه پر هغوئ غالب وي نه يوازي دا چي خلك د خپل ورځني ضرورياتو كي د رحمت الهي د التفات څخه محروم وي بلكه د قضاء او قدر سره سم هغوئ ته د سر پټولو څه ځاى هم نه تر لاسه كيږي بلكه هغوئ په كوڅو او بازارونو كي د سخت ژوند وختونه تېروي ، نه يې د ګرمۍ څخه د ساتني راحت په برخه وي او نه يې د يخ څخه د خلاصون پناه په برخه وي .

﴿۲۲۷۶﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهِمَا السَّلَامِ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي بي بي فاطمة (رض) د رسول الله ﷺ په خدمت كي د

تَشْكُو إِلَيْهِ مَا تَلْقَى فِي يَدِهَا مِنَ الرَّحَى وَبَلَغَهَا أَنَّهُ جَاءَهُ رَقِيقٌ فَلَمْ تُصَادِفْهُ

ميچني د اوړه كولو او د لاسونو د تكليف د شكايت لپاره حاضره سوه ، ځكه چي هغې ته دا څرګنده سوې وه چي رسول الله ﷺ ته غلامان راغلي دي ، نو رسول الله ﷺ په كور كي نه وو ،

فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِعَائِشَةَ فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ قَالَ فَجَاءَنَا وَقَدْ أَخَذْنَا

نو بي بي فاطمې د خپل ضرورت ذكر بي بي عائشې رضي الله عنها ته وكړ ، كله چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ نو بي بي عائشې رضي الله عنها د بي بي فاطمې رضي الله عنها خبره ورته بيان كړل ، حضرت علي رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ زموږ كور ته تشريف راوړ

مَضَاجِعَنَا فَذَهَبْنَا نَقُومُ فَقَالَ عَلَى مَكَانِكُمَا فَجَاءَ فَقَعَدَ بَيْنِي وَبَيْنَهَا حَتّٰى

چي موږ په بستره كي پراته وو كله چي موږ د پورته كېدو اراده وكړه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : بس بس پراته اوسئ ، بيا رسول الله ﷺ زما او د بي بي فاطمې په منځ كي كښېنستئ تر دې چي

وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى بَطْنِي فَقَالَ أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا إِذَا

ما د رسول الله ﷺ د قدم مبارك يخوالى پر خپل نس حس كړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل ايا زه تاسو ته دا شى ونه ښيم چي تر هغه شي غوره وي كوم چي تاسو غوښتى دئ (يعني غلام)

أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَاحْمَدَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَكَبِّرَا

او هغه دا چي كله تاسو بسترو ته ځئ نو (۳۳) واره سبحان الله ، (۳۳) واره الحمد لله

أَرْبَعًا وَثَلَاثِيْنَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ. متفق عليه

او (۳۴) واره الله اكبر وايا ست نو دا ستاسو لپاره تر خادم غوره دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۰۶۱، رقم: ۵۳۶۱، ومسلم ۴\۲۰۹۱، رقم: ۸۰- ۲۷۲۷.

**تشريح**: رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې رضي الله عنها او حضرت علي رضي الله عنه سره ډېره مينه درلودل او د رسول الله ﷺ بې پايه شفقت يو تكليف نه گمراه كوی ځكه رسول الله ﷺ چې راغلی نو د پوره مينې او شفقت په وجه د دواړو په مينځ كي كښينستی ځكه چې مينه او شفقت د يو تكلف پابند نه وي ځكه ويل سوي دي چې : اذا جاءت الالفة رفعت الكلفة، يعني كله چې مينه راسي نو تكلف پورته سي.

د پورتنيو الفاظو په اړه جزري رحمه الله د مصابيح په تشريح كي ويلي دي چې د تكبير څخه مخكي به ابن كثير رحمه الله فرمايل چې د لمانځه وروسته خو تر مخه سبحان الله ويل پكار دي او د هغه وروسته الحمد لله او بيا الله اكبر، مگر د بېده كېدو پر وخت مخكي الله اكبر ويل پكار دي ، په دې اړه علماء ليكي چې صحيح خبره داده چې الله اكبر دي كله مخكي وويل سي او كله وروسته چې په دې باره كي پر نقل سوو دواړو روايتو باندي عمل وسي همدا غوره او اولی ده.

د دغه ارشاد په ذريعه چې ستاسو لپاره دغه شی تر خادم زيات غوره دی بي بي فاطمې ته د دنيا د سختيو او تكليفونو او د نيوي ژوند باندي د ناخوښه شيانو مثلا مرض او فقر باندي د صبر ترغيب وركړل سوی دی ، دلته دې ته هم اشاره ده چې د شكر كونكی شتمنو په نسبت صبر كونكی مفلس زيات غوره دی.

《۲۲۷۷》: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَتْ فَاطِمَةُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې بي بي فاطمة (رض) د رسول الله ﷺ په خدمت د يو

تَسْأَلُهُ خَادِمًا فَقَالَ اَلَا اَدُلُّكِ عَلٰى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكِ مِنْ خَادِمٍ تُسَبِّحِيْنَ ثَلَاثًا

خادم غوښتلو لپاره حاضره سوه ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا زه تا ته هغه شی ونه ښيم

وَثَلَاثِيْنَ وَتَحْمَدِيْنَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ وَتُكَبِّرِيْنَ اَرْبَعًا وَثَلَاثِيْنَ عِنْدَ كُلِّ صَلٰوةٍ وَ

عِنْدَ مَنَامِكَ. رواه مسلم

چي تر خادم غوره وي (او هغه دا چي) د هر لمانځه وروسته او د بېده کېدو په وخت کي (۳۳) واره سبحان الله، (۳۳) واره الحمدلله او (۳۴) واره الله اکبر وايه. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۴\۲۰۹۲، رقم: ۸۱- ۲۷۲۸.

**تشريح**: د بېده کېدو پر وخت د دغه تسبيحاتو ويل د ټولي ورځي مشقت او محنت او هر ډول ناروغۍ او پريشانۍ دفع کوي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د سهار او ماښام دعاء

﴿۲۲۷۸﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصْبَحَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د سهار په وخت کي دغه دعاء

قَالَ اللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَإِلَيْكَ الْمصير

فرمايل: (اللهم بک اصبحنا....) اې الله! ستا په قدرت سره پر موږ سهار سو او ستا په قدرت سره پر موږ ماښام سو او ستا په نامه سره ژوندي کيږي او مره کيږي او ستا په لور زموږ رجوع

وَإِذَا أَمْسَى قَالَ اللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ اصبحنا و بك نَحيا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

ده، او د ماښام په وخت کي به يې دا ويل: (اللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ). ترمذي، ابوداود او ابن ماجه.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۳۵، رقم: ۳۳۹۱، وابوداود ۵\۳۱۱، رقم: ۵۰۶۸، وابن ماجه ۲\۱۲۷۲، رقم: ۳۸۶۸.

﴿۲۲۷۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مُرْنِي بِشَيْءٍ أَقُوْلُهُ إِذَا أَصْبَحْتُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د ابوبکر رضي الله عنه بيان دئ چي ما نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله: يو دعاء راته وښيه چي زه يې سهار او ماښام وايم،

وَإِذَا أَمْسَيْتُ قَالَ قُلِ اللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا دعاء وايه: (اللهم عالم...) اې الله! په پټ او ښکاره پوهيدونکې، د آسمانو او ځمکې پيدا کونکې،

رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ

د هر شي پروردګاه او مالکه، زه اقرار کوم چې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته زه د خپل

شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ قُلْهُ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ.

رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي

نفس د بدو څخه او د شيطان د شرارتو څخه او د شرک کولو څخه د شيطان څخه ستا په ذريعه پناه غواړم، دا دعاء سهار او ماښام د بېده کېدو پروخت وايه. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۳۵، رقم: ۳۳۹۲، وابوداود ۵\ ۳۱۰، رقم: ۵۰۶۷، والدارمي ۲\ ۳۷۸، رقم: ۲٦۸۹.

﴿۲۲۸۰﴾: وَعَنْ اَبَانِ بْنِ عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ اَبِيْ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ابان بن عثمان رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د خپل پلار څخه اوريدلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُوْلُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ بِسْمِ

کوم بنده چې هره ورځ سهار او ماښام درې واره دا دعاء وايي: (بسم الله....) د هغه الله په نامه

اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ

سره ما سهار کړ چې د هغه په نامه سره د آسمان او ځمکې هيڅ شی تاوان نه سي رسولای، او هغه اوريدونکی

الْعَلِيمُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ فَكَانَ أَبَانُ قَدْ أَصَابَهُ طَرَفُ فَالِجٍ فَجَعَلَ

او پوهېدونکی دئ. نو هيڅ شی به هغه ته تاوان نه سي رسولای، ويل کيږي چې ابان د فلج په

ناروغي اخته وو

الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ لَهُ أَبَانُ مَا تَنْظُرُ أَمَا إِنَّ الْحَدِيثَ كَمَا حَدَّثْتُكَ وَلٰكِنِّي

كوم سړي چي دا بان څخه دا روايت بيان كړى دئ هغه په تعجب سره هغه ته وكتل، ابان وويل: ته زما په لور ګورې حديث خو همداسي دئ څرنګه چي ما بيان كړ، (يعني صحيح دئ) مګر په

لَمْ أَقُلْهُ يَوْمَئِذٍ لِيُمْضِيَ اللّٰهُ عَلَيَّ قَدَرَهُ، رواه الترمذي و ابن ماجة و ابوداؤد

دغه ورځ (چي ما ته دا ناروغي پېښه سوه) ما دا دعاء نه وه ويلې چي الله تعالى زما لپاره څه ليكلي وي هغه پوره سي. ترمذي، ابن ماجه او ابوداؤد،

و في رواية لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتّٰى يُصْبِحَ وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتّٰى يُمْسِيَ.

او په يوه روايت كي دا الفاظ دي څوك چي دا دعاء د ماښام په وخت كي ووايي نو تر سهار پوري او څوك چي يې د سهار په وخت كي ووايي نو تر ماښام پوري هغه ته ناڅاپه آفت نه رسيږي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۳۴، رقم: ۳۳۸۸، وابن ماجه ۲\ ۱۲۷۳، رقم: ۳۸۶۹، وابوداود ۵\ ۳۲۴، رقم: ۵۰۸۸.

﴿۲۲۸۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ إِذَا أَمْسَى

د حضرت عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به ماښام سو نو رسول الله ﷺ به دا دعاء ويل:

أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ

اَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ

الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هٰذِهِ اللَّيْلَةِ

الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ رَبِّ اَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هٰذِهِ اللَّيْلَةِ

وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا رَبِّ أَعُوذُ بِكَ

وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا رَبِّ أَعُوذُ بِكَ

مِنَ الْكَسَلِ وَمِن سُوءِ الْكِبَرِ أَوِ الْكُفْرِ و في رواية مِنْ سُوْءِ الْكِبَرِ وَالْكِبَرِ رَبِّ

مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ أَوِ الْكُفْرِ. او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي: مِنْ سُوْءِ الْكِبَرِ وَالْكِبَرِ رَبِّ

أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذَلِكَ أَيْضًا أَصْبَحْنَا

أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ. او كله چي به سهار سو نو دا دعاء به يې ويل: أَصْبَحْنَا

وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ. رواه ابوداؤد والترمذي و في روايته لم يذكر من سوء الكفر

وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ..... ، ابوداؤد او د ترمذي په روايت كي تر من سوء الكفر لفظ نه دئ راغلئ.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\ ۳۱۳، رقم: ۵۰۷۱، والترمذي ۵\ ۴۳۴، رقم: ۳۳۹۰.

﴿۲۲۸۲﴾: وَعَنْ بَعْضِ بَنَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

د رسول الله ﷺ د ځينو لوڼو مباركو ښځه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهَا فَيَقُولُ قُولِي حِينَ تُصْبِحِينَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ

هغوی ته دا دعاء ښودل چي كله سهار سي نو تا سو دا وایاست: (سبحان الله.....) الله لره پاكي

لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مَا شَاءَ اللَّهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ أعلم أن الله على كل

ده او هر ډول تعريف هغه لره ښايي د الله د مرستي پرته د حمد او تسبيح قوت نسته څه چي الله

وغواړي هغه وسول او څه چي يې نه غوښتل هغه نه وسول زه پوهيږم الله پر هر شي قادر دئ

شيء قدير وأن الله قد أحاط بكل شيء علما فَإِنَّهُ مَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ ان

او د الله علم پر هر شي خپور دئ. نو څوك چي دا كلمات سهار ووايي تر ماښام پوري به خوندي

الله قد احاط بكل شيئ علما قَالَهَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ حَتَّى يُصْبِحَ. رواه ابوداؤد

وي او څوك چي يې ماښام ووايي نو تر سهاره پوري به خوندي وي. ابوداؤد.

﴿۲۲۸۳﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

قَالَ حِينَ يُصْبِحُ { فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ

سهار دا دعاء ووايي فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ

فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ إِلَى قوله وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ }

فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ... وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ.

أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ فِي يَوْمِهِ ذَلِكَ وَمَنْ قَالَهُنَّ حِينَ يُمْسِي أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ فِي لَيْلَتِهِ.

رواه ابوداؤد.

نو هغه شی به تر لاسه کړي کوم چي په هغه ورځي ځيني پاته سوی وي او څوک چي دا دعاء مابنام ووايي نو کوم شی چي په شپه کي ځيني پاته سوی وي هغه به تر لاسه کړي . ابوداؤد

**تخريج**: ابوداود ۵\۳۱۶، رقم: ۵۰۷۶.

**تشريح**: وحين تظهرون: ددې پوره آيت دا سي دی :

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ،

ژباړه: په پاکی سره الله تعالی یادوئ (يعني لمونځ کوئ) هغه وخت چي تاسو مابنام کړئ (يعني د مابنام او ماخستن وختونه) او هغه وخت چي تاسو سهار کړئ او په مځکي او آسمانو کي ټول تعريفونه د هغه لپاره دي او په پاکی سره الله تعالی يادوئ د مازديگر په وخت کي او د ماپښين په وخت کي ، الله تعالی ژوندي د مړو څخه راباسي (يعني کوچنی د مني او هگی څخه پيدا کوي) او مړي د ژوندي څخه راباسي (يعني مني او هگی د ساه لرونکي څخه راباسي) او مځکه د مړېږ کېدو يعني وچېدو وروسته ژوندی کوي (يعني مځکه د وچېدو وروسته شنه کوي) او همدا رنگه به تاسو هم د قبر څخه راپورته کړل سئ .

د دغه حديث مطلب دا دی چي څوک دغه آيت د سهار په وخت کي وايي نو کوم نيک کار چي د ورځي ځيني فوت سي د هغه ثواب به ورته تر لاسه کيږي همدا رنگه دغه آيت د مابنام په

وخت ويلو سره په هغه شپه کي د فوت کېدونکي نيک کار او وظيفه وغيره ثواب تر لاسه کيږي.
په معالم التنزيل کي نقل سوي دي چي د نافع څخه ابن ارزق د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي تاسو په قرآن کريم کي د پنځو لمونځو حکم (د وخت د ټاکني سره) تر لاسه کوئ؟ هغه وفرمايل هو: بيا هغه دغه پورتني آيت ووايه او وه يې فرمايل چي په دغه آياتو کي د پنځه وخته لمونځو او د هغه وختونه جمع سوي دي.

﴿۲۲۸۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ عَيَّاشٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ
د حضرت ابو عياش رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي
إِذَا أَصْبَحَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ
سهار دا دعاء ووايي: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ
شَيْءٍ قَدِيرٌ كَانَ لَهُ عِدْلَ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ وَكُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ
شَيْءٍ قَدِيرٌ. نو هغه ته دومره ثواب ورکول کيږي لکه هغه چي د حضرت اسماعيل عليه السلام په اولاد کي يو غلام آزاد کړ او د هغه لپاره لس نيکۍ ليکل کيږي
وَحُطَّ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ وَكَانَ فِي حِرْزٍ مِنَ الشَّيْطَانِ
او لس بدۍ ځيني ليري کيږي او لس درجې يې لوړيږي او تر ماښامه پوري هغه د شيطان څخه
حَتّٰى يُمْسِيَ وَإِنْ قَالَهَا إِذَا أَمْسٰى كَانَ لَهُ مِثْلُ ذٰلِكَ حَتّٰى يُصْبِحَ فَرَأَى رَجُلٌ
په آمان کي وي، او څوک چي دا دعاء ماښام ووايي نو هغه ته هم دغه ثواب ورکول کيږي، ددې حديث راوي حماد بن مسلمة بيان کوي چي يو سړي
رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا
رسول الله ﷺ په خوب کي وليدئ او عرض يې وکړ اې دالله رسوله!
عَيَّاشٍ يُحَدِّثُ عَنْكَ بِكَذَا وَكَذَا قَالَ صَدَقَ أَبُو عَيَّاشٍ . رواه ابوداؤد وابن ماجة
ابو عياش ستاسو څخه دا ډول حديث روايت کړئ دئ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

ابو عياش رښتيا وايي . ابو داؤد او ابن ماجه .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۳۱۷، رقم: ۵۰۷۷، وابن ماجه ۲\۱۲۷۲، رقم: ۳۸۶۷.

## د ماښام او سهار د لمانځه وروسته دعاء

﴿۲۲۸۵﴾: وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ مُسْلِمِ التَّمِيمِيّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

حضرت حارث بن مسلم رضي الله عنهما د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ هغه ته

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَسَرَّ إِلَيْهِ فَقَالَ إِذَا انْصَرَفْتَ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْ

پټ وفرمايل : هر كله چي ته د ماښام د لمانځه څخه فارغ سې

قبل ان تكلم احد اللّٰهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ سَبْعَ مَرَّاتٍ فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ ذٰلِكَ

نو د چا سره تر خبرو كولو مخكي دا دعاء وايه (اللهم اجرني من النار) اې الله ! ما د اور څخه وساتې، كه ته دا دعاء اووه واره ووايي

ثُمَّ مِتَّ فِي لَيْلَتِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا وَإِذَا صَلَّيْتَ الصُّبْحَ فَقُلْ كَذٰلِكَ فَإِنَّكَ

او په هغه شپه مړ سې نو ستا لپاره به د دوږخ د اور څخه خلاصون وليكل سي ، او هر كله چي ته د سهار لمونځ ادا كړې او دا دعاء ووايې

إِنْ مِتَّ فِي يَوْمِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا. رواه ابو داؤد.

او په هغه ورځ مړ سې نو ستا لپاره به دا ور څخه نجات وليكل سي . ابو داؤد .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۳۱۸، رقم: ۵۰۷۹.

**د لغاتو حل**: جَواز: بفتح الجيم اى خلاص. (خلاصون)

## سهار او ماښام د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۲۸۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَعُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به

هٰؤُلَاءِ الكلمات حِينَ يُمْسِي وَحِينَ يُصْبِحُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي

هره ورځ سهار او ماښام دا دعاء ويل او هيڅکله به يې نه قضا کول: (اللهم اني اسئلک ....) اې الله! زه ستا څخه د دنيا او آخرت عافيت غواړم،

الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي

اې الله! زه ستا څخه معافي او د دين او دنيا سلامتي غواړم د خپل کورنۍ

وَمَالِي اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ

او د خپل مال، اې الله! زما عيب پټ کړې او ما د هر خوف څخه په امن کړې، اې الله! ته زما ساتنه وکړې د مخکني څخه

خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ

تَحْتِي يَعْنِي الْخَسْفَ. رواه ابوداؤد.

او د وروستني څخه د راسته لوري څخه او د چپه لوري څخه د لوړه څخه او ستا د عظمت په ذريعه پناه غواړم د دې څخه چې ناڅاپه د لاندې لوري څخه هلاک کړل سم يعني په مځکه کې د ښخېدو څخه. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۳۱۵، رقم: ۵۰۷۴.

**د سهار او ماښام دعاوې**

﴿۲۲۸۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې

يُصْبِحُ اللَّهُمَّ أَصْبَحْنَا نُشْهِدُكَ وَنُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيعَ

دا دعاء د سهار په وخت کې ووايي: (اللهم....) اې الله! موږ په داسې حال کې سهار کړ چې موږ تا او ستا عرض پورته کونکي ملائکې او ستا ټول

خَلْقِكَ انك انت اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ اللَّهُ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّدًا

مخلوقات شاهدان گرځوو، ته الله يې او ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته، ته يوازې يو يې

او هیڅوک ستا شریک نسته، او محمد ﷺ

عَبۡدُكَ وَرَسُوۡلُكَ إِلَّا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا أَصَابَ فِي يَوۡمِهٖ ذٰلِكَ من ذنب وَإِنۡ قَالَهَا

ستا بنده او رسول دئ، نو الله تعالی د هغه ګناهونه وربخښي کوم چي ده په دغه ورځ کړي وي او

حِيۡنَ يُمۡسِيۡ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا أَصَابَه فِي تِلۡكَ اللَّيۡلَةِ مِنۡ ذَنۡبٍ . رواه الترمذي و

ابوداؤد و قال الترمذي هذا حديث غريب .

که دا دعاء مابنام ووايي نو الله تعالی يې هغه ګناهونه بخښي چي د شپې يې کړي وي . ترمذي، ابوداؤد، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۹۳، رقم: ۳۵۰۱، وابوداود ۵\۳۱۸، رقم: ۵۰۷۸.

**تشريح**: په : من قال حين يصبح – کي لفظ د من د معنی په اعتبار د نافيه پر ځای استعمال سوی دی او دا ممکن ده چي : الا غفر الله له کي لفظ د الا زائد وي نو د : وان قالها . . الخ: څخه ددې تائيد کيږي چي لفظ د الا زائد دی .

﴿۲۲۸۸﴾ : وَعَنۡ ثَوۡبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ مَا مِنۡ مُسۡلِمٍ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان چي

يَقُوۡلُ إِذَا أَمۡسٰى وَ إِذَا أَصۡبَحَ ثَلٰثًا رَضِيۡتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالۡإِسۡلَامِ دِيۡنًا وَبِمُحَمَّدٍ

دا دعاء سهار او مابنام درې واره ووايي: رَضِيۡتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالۡإِسۡلَامِ دِيۡنًا وَبِمُحَمَّدٍ

نَبِيًّا إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنۡ يُرۡضِيَهُ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ . رواه احمد والترمذي .

نَبِيًّا . نو پر الله تعالی دا لازمه ده چي هغه د قيامت په ورځ دا مسلمان بنده راضي کړي : (او هغه دعاء داده :) احمد او ترمذي

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۴\۳۷۷، والترمذي ۵\۴۳۴، رقم: ۳۳۸۹.

**تشريح**: په ځينو روايتو کي لفظ د نبيا دی او په ځينو کي لفظ د رسولا دی نو مستحب دادي چي دواړه لفظونه وويل سي يعني داسي وويل سي چي : ومحمدا نبيا ورسولا.

**د بيده كيدو پر وخت د رسول الله ﷺ دعاء**

﴿۲۲۸۹﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د بيده كيدو اراده وكړل

وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ رَأْسِهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عبادك أَوْ

تَبْعَثُ عِبَادَكَ. رواه الترمذي و رواه احمد عن البراء.

نو خپل راسته لاس به يې تر سر لاندي كښېښودئ او بيا به يې ويل: (اللهم قني ....) اې الله! ته ما د عذاب څخه وژغوري په هغه ورځ چي ته خپل بندګان يو ځاى كړې يا په هغه ورځ چي خپل بندګان به ته د قبرو څخه راپورته كوې. ترمذي او احمد.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۳۹، رقم: ۳۳۹۸، وامام احمد في مسنده ۴\ ۲۸۱.

**تشريح**: په دغه روايت كي خو دادي چي رسول الله ﷺ خپل مبارک لاس تر خپل سر لاندي كښېښودى، او په بل روايت كي نقل سوي دي چي تر تندي لاندي به يې ايښودى مګر په دغه دواړو روايتو كي مطابقت داسي كيداى سي چي رسول الله ﷺ به خپل لاس كله تر سر لاندي ايښودى او كله به يې تر تندي لاندي ايښودى، راوي چي څه وليدل هغه يې بيان كړي چي رسول الله ﷺ خپل لاس تر سر لاندي كښېښودى او كوم راوي چي د لاس يو برخه تر تندي لاندي وليدل نو هغه تر تندي لاندي ايښودل ذكر وكړ.

﴿۲۲۹۰﴾: وَعَنْ حَفْصَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ

د حضرت حفصة (رض) څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د خوب اراده وكړه

يَرْقُدَ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ

عِبَادَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. رواه ابوداؤد.

نو خپل راسته لاس به يې تر خپل راسته وړې لاندي كښېښودئ او دري واره به يې ويل: «اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ» ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\ ۲۹۸، رقم: ۵۰۴۵.

﴿۲۲۹۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ عِنْدَ مَضْجَعِهِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د خوب پر وخت دغه دعاء ويل:

اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِوَجْهِكَ الْكَرِيمِ وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ مِنْ شَرِّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ

(اللهم اني ....) اې الله! زه ستا د بزرگ او برتر ذات او ستا د پوره كلمو په ذريعه د هغه شي د بدى څخه پناه غواړم چي د هغه تندى تا نيولي دي،

اللّٰهُمَّ أَنْتَ تَكْشِفُ الْمَغْرَمَ وَالْمَأْثَمَ اللّٰهُمَّ لَا يُهْزَمُ جُنْدُكَ وَلَا يُخْلَفُ

اې الله! پور او گناهونه ته ليري كوي اې الله! ستا لښكر ماته نه خوري او ستا وعده خلافه نه

وَعْدُكَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ . رواه ابوداؤد.

وي او هيڅ شتمن د هغه شتمني ستا د عذاب څخه نه سي خلاصولاى ته پاک يې او زه ستا پاكي، او ستا تعريف بيانوم. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۳۰۱- ۳۰۲، رقم: ۵۰۵۲.

﴿۲۲۹۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي

حِينَ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ

د بېده كېدو په وخت كي درې واره دغه دعاء ووايي (استغفرالله ...واتوب اليه)

إِلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ ذُنُوبَهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ أَوْ عَدَدَ رَمْلِ

نو الله تعالى د هغه گناهونه بخښي كه څه هم د سمندر د ځګ په اندازه وي يا

عَالِجٍ أَوْ عَدَدَ وَرَقِ الشَّجَرِ أَوْ عَدَدَ أَيَّامِ الدُّنْيَا . رواه الترمذي و قال هذا

حديث غريب .

د عالج د شګو په اندازه وي (عالج د يو صحراء نوم دئ هلته شګې ډيرې دي) يا د درختو د پاڼو په اندازه يا د دنيا د ورځو په اندازه. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۳۸-۴۳۹، رقم: ۳۳۹۸.

**د لغاتو حل**: عَالج: موضع بالبادية فيه رمل كثيرة (هغه سيمه چې ريګ پکښې ډېر وي).

**تشريح**: عالِج د لام په زېر سره ويل کيږي او په زور سره هم په مغربي سيمه کې د يو ځنګل نوم دی چې هلته ريګ ډېر زيات دي، په دغه حديث کې هغه ټول شيان د مثال په توګه د بيانولو مقصد دا ښودل دي چې ګناهونه هر څومره زيات وي بيا هم بخښل کيږي.

## د خوب په وخت کې د قرآن کريم يو سورت ويلو برکت

﴿۲۲۹۳﴾: وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت شداد بن اوس ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم

مِنْ مُسْلِمٍ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ بِقِرَأَةِ سُورَةً مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ إِلَّا وَكَّلَ اللّٰهُ بِهِ مَلَكًا

مسلمان چې د بيده کېدو په وخت کې د قرآن مجيد يو سورت ووايي نو الله تعالى پر هغه يوه ملائکه وټاکي چې د هغه

فَلَا يَقْرَبُهُ شَيْءٌ يُؤْذِيهِ حَتّٰى يَهُبَّ مَتٰى هَبَّ. رواه الترمذي

ساتنه کوي او هيڅ تکليف ورکونکی شی هغه ته نه پرېږدي تر څو چې هغه راويښ سي. ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۴۳، رقم: ۳۴۰۷.

**د لغاتو حل**: حتى يَهُب متى هب: اى يستيقظ متى استيقظ (تر څو چې راويښ سي).

**تشريح**: د حضرت انس ﷛ مرفوع روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو خپلي بسترې ته ځئ يعني بيده کيږئ نو هغه وخت سورة فاتحه او سورة قل هو الله احد وايا ست تر څو پورې چې بيده ياست نو د مرګ څخه علاوه د هر شي څخه به خوندي ياست.

## د هر لمانځه وروسته او د بيده کېدو پر وخت د تسبيح، تحميد او تکبير فضيلت

﴿۲۲۹۴﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَّتَانِ لَا يُحْصِيهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ أَلَا وَهُمَا يَسِيرٌ

دوه عادتونه دي كه هغه مسلمان خپل كړي نو جنت ته به ځي خبر دار اوسئ هغه دوه شيان ډير اسانه دي

وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ يُسَبِّحُ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا وَيَحْمَدُهُ عَشْرًا

مګر پر هغه عمل كونكي ډير لږ دي يعني د هر لمانځه وروسته لس واره سبحان الله وايا ست او لس واره الحمد لله وايا ست

وَيُكَبِّرُهُ عَشْرًا قَالَ فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ

او لس واره الله اكبر وايا ست ، ابن عمر رضي الله عنه وايي ما وليدل چي رسول الله ﷺ دا كلمات پر ګوتو

قَالَ فَتِلْكَ خَمْسُونَ وَمِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ وَإِذَا

شميرل بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : دا ټول يو نيم سل دي مګر د اعمالو په تله كي يو نيم زر اېښودل سوي دي (او دويم شی دادئ) هر كله چي

أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ يُسَبِّحُهُ وَيُكَبِّرُهُ وَيَحْمَدُهُ مِائَةً فَتِلْكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ

ځوک د بېده كېدو اراده وكړي نو تسبيح، تكبير او تحميد به سل واره وايي نو دا پر ژبه ويل سل

فِي الْمِيزَانِ فَأَيُّكُمْ يَعْمَلُ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ أَلْفَيْنِ وَخَمْسَ مِائَةِ سَيِّئَةٍ قَالُوا

واره دي مګر په تله كي زر واره شميرل كيږي ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي څوک سته چي په شپه او ورځ كي دوه نيم زره بدی كوي (يعني په دوه نيم زره نيكيو تر لاسه كولو څخه وروسته دومره بدی كله پاته كيږي ) صحابه كرامو عرض وكړ :

وَكَيْفَ لَا يُحْصِيهَا قَالَ يَأْتِي أَحَدَكُمُ الشَّيْطَانُ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ فَيَقُولُ اذْكُرْ

موږ به دد ې څنګه پاملرنه ونه كړو .. رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو لمونځ كوئ نو

كَذَا اذْكُرْ كَذَا حَتَّى يَنْفَتِلَ فَلَعَلَّهُ ان لَا يَفْعَلُ وَيَأْتِيهِ فِي مَضْجَعِهِ فَلَا يَزَالُ

شيطان تاسو ته راسي او وايي فلانی شی په ياد كړه او فلانی خبره په ياد كړه . تر څو چي هغه د لمانځه څخه وګرځوي او ستون سي نو ډيره ممكنه ده چي هغه دا كار ونه كړي وي، او همداسي

شیطان د خوب ځای ته راځي

نَوِّمُهُ حَتَّى يَنَامَ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و في رواية ابي داؤد قَالَ

و هغه بېده کوي تر څو چي هغه بيده سي . ابوداؤد، نسائي، ترمذي، د ابوداؤد په يوه روايت

خَصْلَتَانِ أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ، و كذا في روايته بعد

کي دي چي وه يې فرمايل : خصلتان او خلتان لا يحافظ عليهما عبد مسلم، او نور همداسي تر

قوله بعد قوله وَأَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ قَالَ وَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ إِذَا

يا يه روايت کي دي مګر د الف وخمس مائة في الميزان لفظ څخه وروسته : و يکبر اربعا و

أَخَذَ مَضْجَعَهُ وَيَحْمَدُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَيُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ . و في اكثر نسخ

المصابيح عن عبدالله ابن عمر .

ثلثين اذا اخذ مضجعهم و يحمد ثلثا و ثلثين و يسبح ثلثا وثلثين . الفاظ هم دي . او د مصابيح په اکثره کتابو کي د عبدالله ابن عمر څخه روايت دئ .

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۴۵، رقم: ۲۴۱۰، وابوداود ۵\ ۳۰۹، رقم: ۵۰۶۵، والنسائي ۳\ ۷۴، رقم: ۱۳۴۸.

**تشریح**: نو په تاسو کي څوک دی: دا د شرط محذوف جواب دی او ددې په استفهام کي يو ډول انکار دی يعني د دغه استفهاميه جملې خلاصه داده چي کله پر دواړو شيانو باندي ساتنه او د هغه په بدله کي په ورځ کي دوه نيم زره نيکۍ ترلاسه سوې نو په هغه کي د هري نيکۍ په بدله کي بدي ليري کيږي لکه څرنګه چي الله تعالی وفرمايل: ان الحسنات يذهبن السيئات: بېشکه نيکۍ بدۍ له منځه وړي .

نو په تاسو کي داسي څوک دی چي په ورځ او شپه کي د دغه نيکو څخه زياتي بدۍ کوي او څومره بدۍ چي کوي هغه د دغه نيکيو په وجه نه معاف کيږي ؟ ځکه په داسي صورت کي ستاسو لپاره دا خبره څرنګه غوره کېدای سي چي تاسو پر دغه دواړو شيانو باندي ساتنه ونه کړلای سئ ، خلاصه دا چي پر دغه دواړو شيانو باندي په عمل کولو سره نيکۍ د بديو څخه زياتيږي او بيا نه يوازي دا چي هغه بدۍ د نيکيو په وجه ليري کيږي بلکه د نيکيو د زياتوب په

وجه درجې هم لوړيږي نو تاسو ته پکار دي چي تاسو په پابندي سره پر دغه دواړو شيانو باندي عمل وکړي ، بيا کله چي صحابه کرامو ددغه دواړو شيانو دومره زيات فضيلت او ثواب واوريدی نو هغوئ وويل کله چي دا خبره ده نو بيا زموږ لپاره داسي هيڅ مانع نه سته چي موږ ددغه دواړو شيانو پابندي ونه کړو لکه هغوئ چي دا شيان پرېښودل ليري وګڼل مګر رسول الله ﷺ د هغوئ د ليري ګڼلو ترديد وفرمايه چي شيطان د انسان د نيکۍ ازلي دښمن دی په خپل کمين کي ناست دی هغه دا نه زغمي چي يو سړی دي دومره لوی سعادت تر لاسه کړي ځکه هغه په لمانځه کي وسوسه پيدا کوي تردې چي د لمانځه وروسته اوراد او وظيفو څخه يې غافل کوي همدا رنګه هغه د بېده کېدو پر وخت د ذکر څخه په غافله کولو سره بېده کوي .

## په شپه او ورځ کي د حاصل سوو نعمتو شکر

﴿۲۲۹۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ غَنَّامٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن غنام رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ اللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِّنْ خَلْقِكَ

چا چي سهار دغه دعاء وويل : (اللهم ما اصبح ...) اې الله ! کوم شی چي ما ته د سهار په وخت کي ستا د نعمتونو يا بل چا ته ستا د مخلوقاتو څخه تر لاسه سو

فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ يَوْمِهِ

نو هغه يوازي ستا د لوري دئ هيڅوک ستا شريک نسته هر ډول تعريف تا لره دئ او تا لره شکر دئ، نو هغه د هغې ورځي شکر ادا کړ

وَمَنْ قَالَ مِثْلَ ذَلِكَ حِينَ يُمْسِي فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ لَيْلَتِهِ . رواه ابوداؤد.

او چا چي ماښام دا دعاء وويل هغه د شپې شکر ادا کړ . ابو داؤد

**تخريج** : ابوداود في السنن ۵\ ۳۱۴، رقم: ۵۰۷۳.

**تشريح** : نقل سوي دي چي يوه ورځ حضرت داؤد عليه السلام وويل: اې الله ! ستا ډېر زيات نعمتونه ما ته تر لاسه دي د هغو شکر څرنګه ادا کړم؟ الله تعالی ورته وفرمايل : اې داؤد ! عليه السلام که ته په دې پوه سې چي تا ته کوم نعمتونه تر لاسه دي او هغه ټول زما له طرفه دي نو پوه سه چي تا د هغه نعمتو شکر ادا کړ .

## د خوب دعاء

﴿۲۲۹۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ إِذَا
د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ خپلي بسترې ته تلئ نو دغه
أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ
دعاء به يې ويل: (اللهم رب ....) اې الله! اې د آسمانو او مځكي پروردګاره! اې د دانې او
وَالنَّوٰى مُنَزِّلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِي شَرٍّ أَنْتَ
زړو چونكې، اې د تورات، انجيل او قرآن نازلونكې! ستا په ذريعه د هر هغه شر والا شي څخه
آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ
چي د هغه د تندي وربېښتان ستا په لاس كي دي پناه غواړم ته تر ټولو لومړی يې، هيڅ شی ستا
وړاندي نسته ته تر ټولو اخري يې ستا وروسته هيڅ شی نسته
شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَيْءٌ
ته ښكاره يې، ستا د ظهور سربېره هيڅ نسته ته باطن يې تر تا زيات باطن هيڅ شی نسته، پر ما
اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الْفَقْرِ. رواه ابوداؤد والترمذي و ابن ماجة و
رواه مسلم مع اختلاف يسير.
چي كوم پور دئ هغه ادا كړې او ما د مفلسي څخه بې نيازه او بې فكره كړې. ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه او مسلم هم دا حديث د لږ اختلاف سره نقل كړئ دئ.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\ ۳۰۱، رقم: ۵۰۵۱، والترمذي ۵\ ۴۴۰، رقم: ۳۴۰۰، وابن ماجه ۲\ ۱۲۷۴، رقم: ۳۸۷۳، ومسلم ۴\ ۲۰۸۴، رقم: ۶۱ - ۲۷۱۳.

﴿۲۲۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي الْأَزْهَرِ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ
د حضرت ابو الازهر انماري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ بسترې ته تلئ نو دغه

إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ وَضَعْتُ جَنْبِي اللهِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي

دعاء به يې فرمايل: (بسم الله ... في الندى الاعلي) د الله په نامه سره خپل اړخ پر بستره ايږدم.، اې الله زما گناه و بخښې

ذَنْبِي وَأَخْسِئْ شَيْطَانِي وَفُكَّ رِهَانِي وَاجْعَلْنِي فِي النَّدِيِّ الْأَعْلَى. رواه ابوداؤد.

او زما څخه شيطان ليري کړې او زما نفس آزاد کړې او په لوړ مجلس کي ما داخل کړې. ابوداؤد

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۳۰۲، رقم: ۵۰۵۴.

**د لغاتو حل**: الندي: هو المجلس المجتمع (لوړ مجلس).

**تشريح**: د گرو څخه مراد نفس دی مطلب دا چي زما نفس د بندگانو د حق څخه ازاد او بري الذمه کړې او زما خطاوي معاف کړې او د خپل عذاب څخه ما ته خلاصون راکړې.

﴿۲۲۹۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَخَذَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ خپل بسترې ته تلئ

مَضْجَعَهُ من الليل قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَفَانِي وَآوَانِي وَأَطْعَمَنِي وَسَقَانِي

نو دغه دعاء به يې ويل: (الحمد لله..... من النار) ټول تعريفونه هغه الله لره دي چي زما بس دئ او چي ما ته يې ځای راکړی دئ او چي هغه په ما وخوړل او وڅښل

وَالَّذِي مَنَّ عَلَيَّ فَأَفْضَلَ وَالَّذِي أَعْطَانِي فَأَجْزَلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ

او هغه خدای چي پر ما يې احسان وکړ او زيات يې راکړل او هغه خدای جل جلاله چي هغه ما ته راکړل او ډير يې راکړل، ټول تعريف په هر حال کي الله لره دئ،

اللَّهُمَّ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ وَإِلَهَ كُلِّ شَيْءٍ أَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ. رواه ابوداؤد.

اې الله! د هر شي پروردگاره د هر شی مالکه او د هر شي معبوده، زه ستا په ذريعه د دوږخ د اور څخه پناه غوارم. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۵\۳۰۴، رقمم: ۵۰۵۸.

## د بدخوابۍ ليري کولو دعاء

﴿۲۲۹۹﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ شَكَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي خالد بن وليد رسول الله ﷺ ته شکايت وکړ چي

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَنَامُ اللَّيْلَ مِنَ الْأَرَقِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اې دالله رسوله ! ما ته د شپې خوب نه راځي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَقُلْ اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ وَرَبَّ

هر کله چي ته خپلي بستري ته ځې نو دغه دعاء وايه : (اللهم رب السموات ..... لااله الا انت)
اې د اوو آسمانو پروردګاره ! او د هغه شي چي پر اوو آسمانو باندي يې سايه کړې ده

الْأَرَضِينَ وَمَا أَقَلَّتْ وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضَلَّتْ كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ

او اې د ځمکو پروردګاره ! او د هغه شيانو چي ځمکه يې پورته کړې ده او اې د شيطانانو پروردګاره ! او د هغه خلکو چي شيطانانو ګمراه کړي دي ته ما د خپل ټول مخلوق د شر څخه

كُلِّهِمْ جَمِيعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِيَ عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ

پناه راکونکی جوړ سې يعني ته ما د هغه کار څخه وساتې چي ستا په مخلوق کي څوک پر ما ظلم وکړي ، ستا پناه غوښتونکی غالب دئ او ستا تعريف د قدر وړ دئ

وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. رواه الترمذي وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَالْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ قَدْ تَرَكَ حَدِيثَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ.

او ستا څخه پرته هيڅوک د عبادت وړ نسته . ترمذي ويلي دي ددې اسناد قوي نه دئ ، د حکيم بن ظهير حديثونه ځينو محدثينو پرې ايښي دي .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۰۳، رقم: ۳۵۲۳.

**د لغاتو حل**: ان يفرط : اى يسبق، عز جارک : اى غلب مستجيرک وصار عزيزا.

**تشريح**: په حصن حصين کي ليکلي دي چي دا روايت طبراني په اوسط کي ابن ابي شيبه نقل کړی دی مګر د هغه په روايت کي د جميعا لفظ پر ځای اجمعين دی او د يبغي لفظ پر ځای

يطغي دی او همدارنگه د وجل ثناءک څخه تر پایه پوري الفاظ د هغه په روایت کي نه سته بلکه د عزجارک څخه وروسته د وتبارک اسمک دی او پر دغه جمله باندي روایت ختم سوی دی.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د سهار او ماښام دعاوي

﴿۲۳۰۰﴾: عَنْ أَبِي مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ

د حضرت ابو مالک رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي سهار سي

أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ

نو په تاسو کي دي هر څوک د غه دعاء وايي: (اصبحنا .... و شرما بعده) موږ سهار کړ او هیواد سهار کړ يوازي د الله لپاره چي د دواړو جهانو پروردګار دئ، اې الله!

خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ وَنَصْرَهُ وَنُورَهُ وَبَرَكَتَهُ وَهُدَاهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا

زه ستا څخه ددې ورځي پناه غواړم یعني ددې ورځي پراخي ددې ورځي مرسته، ددې ورځي نور، ددې ورځي برکت، او ددې ورځي هدايت غواړم، او ستا په ذريعه د هغه شي د بدۍ څخه

فِيهِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ ثُمَّ إِذَا أَمْسَى فَلْيَقُلْ مِثْلَ ذٰلِكَ. رواه ابوداؤد.

پناه غواړم چي په دې ورځ کي دئ او د هغه شي د بدۍ څخه چي ددې وروسته دئ او همدا دول دي ماښام وايي. ابوداؤد

**تخريج:** ابوداود ۵\ ۳۲۲، رقم: ۵۰۸۴

**تشريح:** په دغه حديث شريف کي دې ته اشاره ده چي دعاء او د اعمالو اصل مقصد د رسول الله ﷺ د حکم پر ځای راوړل او د سنت پيروي کول دي نه د جزاء او قبوليت دعاء.

### د سهار دعاء

﴿۲۳۰۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفٰى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی رضی الله عنه څخه روایت چي رسول الله ﷺ به

إِذَا أَصْبَحَ قَالَ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةُ لِلّٰهِ

د سهار په وخت کي دغه دعاء ويل : (اصبحنا .... ارحم الراحمين) موږ سهار کړ او هيواد سهار کړ د الله لپاره او ټول تعريفونه د الله لره دي او د ذات او صفاتو بزرگي يوازي الله لره ده او

وَالْخَلْقُ وَالْأَمْرُ وَاللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَمَا سَكَنَ فِيهِمَا لِلّٰهِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَوَّلَ هٰذَا

خلګ، حکم، شپه، ورځ او کوم شيان چي په شپه او ورځ کي آرام تر لاسه کوي ټول الله لره دي، اې الله ددې ورځي پيل د نيکۍ سبب کړې

النَّهَارِ صَلَاحًا وَأَوْسَطَهُ نَجَاحًا وَآخِرَهُ فَلَاحًا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ . ذكره النووي في كتاب الأذكار برواية ابن السني

او ددې ورځي درميان د برياليتوب ذريعه وګرځوې او ددې ورځي آخر د خلاصون وسيله جوړه کړې اې لوی رحم کونکې . نووي په کتاب الاذکار کي په روايت د ابن سني.

**تخريج**: عمل اليوم والليلة لابي بكر بن السني ص ۱۴، رقم: ۳۸.

**تشريح**: لکه څرنګه چي په يو حديث کي راغلي دي چي کومه دعاء په ارحم الراحمين سره وکړل سي نو هغه ژر قبليږي ځکه رسول الله ﷺ دغه دعاء پر دغه الفاظو ختم کړه ، حاکم په مستدرک کي د ابو امامه رضي الله عنه څخه مرفوع روايت دی چي پر يا ارحم الراحمين باندي الله تعالی ملائکه ټاکي کوم څوک چي دغه جمله درې واره ووايي نو هغه ملائکه ورته وايي چي ارحم الراحمين تا ته متوجه دی څه چي غواړې وه يې غواړه .

﴿۲۳۰۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبْزٰی قَالَ کَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالرحمن ابن ابزی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به

يَقُوْلُ اِذَا اَصْبَحَ أَصْبَحْنَا عَلٰى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ وَعَلٰى كَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ وَعَلٰى دِيْنِ

سهار دغه دعاء ويل : (اصبحنا ...تر .... المشركين پوري) موږ سهار کړ پر دين اسلام او پر کلمه توحيد ، د نبي کريم ﷺ پر دين

نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلٰى مِلَّةِ أَبِيْنَا إِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ . رواه احمد والدارمي

او د خپل پلار ابراهيم عليه السلام پر دين چي د باطل څخه بېزاره وو او حق دين ته متوجه او د شرک کونکو څخه نه وو . احمد او دارمي .

**تخريج**: الامام احمد في المسند ٣\٤٠٦، والدارمي ٢\٣٧٨، رقم: ٢٦٨٨.

**تشريح**: د خپل نبي پر دين دی: د دغه الفاظو څخه په ظاهري توګه دا معلومېږي چي رسول الله ﷺ څرنګه چي نورو خلکو ته راليږل سوی دی همدارنګه خپله هم د خپل ذات له خوا مبعوث سوی وو ، يا د دې الفاظو په باره کي به دا وويل سي چي رسول الله ﷺ امت ته د ښوونې لپاره وفرمايل چي په دعاء کي داسي ويل کيږي .

==========

# بَابُ الدَّعَوَاتِ فِي الْأَوْقَاتِ

## د مختلفو وختو د دعاوو بيان

کومي دعاوي وغيره چي د شارع څخه په يو وخت او يو حالت کي نقل سوي دي د هغو اختيارول او هغه اذکار په خپلو وختو کي پوره کول د هر چا لپاره مسنون دي که دغه اذکار په پابندي سره اختيار کړل سي نو ډېره ښه خبره به وي او که دا ممکن نه وي نو کم از کم يو وار خو ضروري دي چي پوره کړل سي تر څو د رسول الله ﷺ د پيروی سعادت په برخه سي .

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### اولاد د شيطان څخه محفوظ کول

﴿٢٣٠٤﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوک چي

أَحَدَهُمْ إِذَا اَرَادَ اَنْ يَّأْتِيَ أَهْلَهُ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبْ

د خپلي بي بي سره د صحبت اراده وکړي نو دغه دعاء دي وايي : (بسم الله .... ما رزقتنا) موږ د الله په نامه سره مرسته غواړو ، اې الله ! زموږ څخه شيطان ليري کړې او شيطان د هغه څه څخه

الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَإِنَّهُ يُقَدَّر بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي ذٰلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ

أَبَدًا . متفق عليه

ليري وساتې كوم چي تا موږ ته راکړی دی، که چيري د ښځي او سړي لپاره اولاد و ټاکل سو نو په دې عمل کولو سره هغه ته شيطان هيڅکله تاوان نه سي رسولای . بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١٦\٣٣٥، رقم: ٣٢٧١، ومسلم ١٢\١٠٥٨، رقم: ١١٦- ١٤٣٤

**تشريح**: که دا اشکال پيدا سي چي اکثر خلک دغه دعاء وايي مگر ددې سربېره د هغوئ اولاد د شيطان د تصرف او د هغه د ضرر څخه خوندي نه وي نو ددې جواب به دا وي چي شيطان هيڅکله ضرر نه سي رسولای ، ددې څخه مراد دادی چي شيطان هغوئ د کفر په کندو کي نه سي اچولای نو په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي د صحبت پر وخت د الله تعالى د ذکر په برکت د اولاد خاتمه په ابدي سعادت سره کيږي يا ددې معنى به دا وي چي شيطان د هغه اولاد ته د فلج وغيره ناروغی یا دا ډول نورو مصيبتو کي په اخته کولو سره پر تاوان رسولو باندي نه سي قادر کيدای .

د امام جوزي رحمة الله عليه د قول سره سم ددې مطلب دادی چي شيطان د هغه چا د اولاد پر دين او عقيدې باندي اثر نه سي کولای او څرنګه چي شيطان د نورو صحيح عقيدو او ديني رجحاناتو کي نقصان رسوي د هغوئ په نسبت د هغه سړي د اولاد په اړه د هغه تاوان بې اثره وي .

ځيني حضرات وايي چي د ضرر نه رسولو څخه مراد دادی چي شيطان د زېږيدني پر وخت هر کوچنی په تشي کي وهي چي له دې کبله کوچنی په ژړا کولو سره پيدا کيږي او ددغه دعاء په وجه هغه په زور سره په تشي کي نه سي وهلای .

## د غم او فکر په وخت کي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۳۰۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د ناآرامی او غم په وخت کي دغه

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلٰهَ إِلَّا

دعاء ويل (لااله الاالله.... العرش الكريم) د الله څخه پرته هيڅوک د عبادت وړ نسته چي بزرگ

اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ . متفق عليه

او بردبار دئ، د عرش عظيم پروردګار دئ. د هغه څخه پرته د عبادت وړ نسته د آسمانو، مځکو

او عرش كريم پروردګار دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱\۱۴۵، رقم: ۶۳۴۵، ومسلم ۱۴\۲۰۹۳، رقم: ۸۳- ۲۷۳۰

## د غصې ختمولو ترتيب

﴿۲۳۰۶﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنُ صُرَدٍ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د سليمان بن صرد ﷺ څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ جُلُوسٌ وَأَحَدُهُمَا يَسُبُّ صَاحِبَهُ مُغْضَبًا قَدْ احْمَرَّ

چي د دو خلکو په منځ کي ښکنځل کول پيل سول، په هغوئ کي يو د غصې څخه ډک بل ته ښکنځل کول، او د هغه مخ سور وو،

وَجْهُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ

نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل: ما ته يوه داسي دعاء معلومه ده که دی هغه ووايي نو ټوله غصه به يې ولاړه سي او هغه داده:

مَا يَجِدُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَقَالُوا لِلرَّجُلِ أَلَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ

(اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) د الله ﷻ په ذريعه د شيطان رټل سوي څخه پناه غواړم، صحابه کرامو هغه سړي ته داسي وويل ايا تا واورېدل

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَسْتُ بِمَجْنُونٍ. متفق عليه

چي رسول الله ﷺ څه فرمايي؟ هغه سړي وويل زه ليونی نه يم. (دا سړي به يو صحرائي، منافق او يا په دين کي پوخ نه وو.) بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۰\۵۱۸، رقم: ۶۱۱۵، ومسلم ۱۴\۲۰۱۵، رقم: ۱۰۹- ۲۶۱۰

**تشريح**: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د غصې د دفع کولو لپاره اسانه طريقه داده چي اعوذ بالله وويل سي په دې سره غصه ختميږي، د دغه حديث بنياد د دغه آيت دی:

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ.

ژباړه: او که شيطان تاسو په غولولو سره په خپل جال کي ونيسي نو د الله تعالی څخه پناه غواړئ بيشکه هغه هر څه اوري او په هر څه پوه دی.

چا ته چي رسول الله ﷺ د غه کلمه وښودل هغه د علم شريعت په زيور سره سمسور نه وو او دين د پوهي څخه بالکل خالي وو د هغه په ذهن کي دا خبره راغلل چي د دغه کلمو د ويلو لپاره هغه سړي ته ويل کيږي چي په ليونتوب کي اخته وي او زه په ليونتوب کي اخته نه يم ځکه نو دا کلمې ولي ووايم ، پر دې باندي صحابه کرامو هغه د رسول الله ﷺ تعليم ته متوجه کړ نو هغه د غه بد فهمی په وجه چي د غه کلمې خو ليونی وايي دا جواب ورکړ چي زه خو ليونی نه يم حالانکه هغه پوه نه سو چي غصه هم د شيطان اثر دی چي اکثر د ليونتوب صورت اختياروي ځکه د غصې په وخت کي هم دغه کلمې ويل ګټوري دي ، د رسول الله ﷺ د دغه تعليم ته هغه سړي د بې پرواهي په اړه علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي کېدای سي هغه سړی منافق وو يا د هغه ډير بې علمه او جاهل وو .

## د چرګ او خره د آواز په وخت کي

﴿۲۳۰۷﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتُمْ

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو واورئ

صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ

د چرګ آذان نو د الله تعالی څخه د هغه فضل و غواړئ ځکه چي هغه ملائکه ويني نو آذان کوي، او هر کله چي تاسو د خره آواز واورئ

الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا . متفق عليه

نو د الله تعالی په ذريعه د شيطان څخه پناه غواړئ ځکه چي خر شيطان ويني نو آواز کوي . بخاري او مسلم.

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\٣٥٠، رقم: ٣٣٠٣، ومسلم ۴\۲۰۹۲، رقم: ۸۲- ۲۷۲۹

**تشريح** : د دغه حديث مبارک مطلب دا دی چي چرګ د ملائکو په ليدو سره اذان کوي ځکه نو تاسو په دغه وخت کي د الله تعالی څخه دعاء غواړئ چي هغه آمين ووايي او ستاسو لپاره بخښنه وغواړي او کله چي د خره آواز واورئ نو اعوذ بالله من الشيطان الرجيم وايا ست ځکه چي هغه د شيطان په ليدو سره آواز کوي .

دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د نيکو کسانو د راتلو پر وخت د الله تعالی رحمت او برکت نازليږي نو هغه وخت دعاء غوښتل مستحب دي ، دلته دې ته هم اشاره ده چي پر کافرانو

باندي د الله تعالی غضب او عذاب نازليږي ځکه د کفارو مخته د تېرېدو پر وخت د الله تعالی پناه غوښتل مستحب دي د دې بيرې څخه چيري د هغه بدبختي او د هغوئ د بدۍ اثر درته ونه رسيږي.

## د سفر دعاء

﴿۲۳۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اسْتَوَى

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د سفر لپاره پر اوښ سپريدئ نو

عَلَى بَعِيرِهِ خَارِجًا إِلَى سَفَرٍ كَبَّرَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ { سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا

درې واره به يې الله اکبر وايه او بيا به يې دغه دعاء کول (سبحان الذي .....) هغه ذات پاک دئ چي دا سپرلۍ يې زموږ فرمانبرداره کړه

وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ } اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هٰذَا

او موږ ته پر هغه توان تر لاسه نه وو، او البته موږ خپل پروردګار ته ګرځېدونکي يو، اې الله موږ ستا څخه په خپل سفر کي

الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِ عَنَّا

نيکي او تقوا غواړو او هغه عمل چي په هغه سره ته راضي کيږې اې الله پر موږ باندي زموږ سفر آسان کړې او ته د هغه اوږدوالی زموږ لپاره لنډ کړې،

بُعْدَهُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ

اې الله! ته په دې سفر کي زموږ ساتونکی يې او زموږ د کورنۍ خبر اخيستونکی يې، اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم

مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَإِذَا رَجَعَ

د سفر د سختۍ څخه او د خراب حالت يا خرابو شيانو د ليدو څخه او خپل اهل و عيال کي د بدۍ څخه او کله چي به رسول الله ﷺ د سفر څخه راستون سو

قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهِنَّ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ . رواه مسلم

نو بیا به یې همدغه دعاء ویل او دغه الفاظ به یې زیاتول (آئبون ......) بیا راتلونکي یو توبه کونکي یو او د خپل رب عبادت کونکي یو او تعریف او ثناء کونکي یو . مسلم .

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۹۷۸، رقم: ۴۲۵- ۱۳۴۲.

**د لغاتو حل**: وَعثاء: ای مشقته وشدته (سختي او ستونزه).

## د سفر په وخت کي د کومو شیانو څخه پناه غوښتل

﴿۲۳۰۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن سرجس ﷛ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ

إِذَا سَافَرَ يَتَعَوَّذُ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ وَدَعْوَةِ

د سفر اراده وکړه نو د سفر د تکلیف او ستونزو او په خراب حالت کي د ستنېدو څخه به یې پناه غوښتل او د حالت د بدلېدو څخه او د مظلوم د ښیرا څخه

الْمَظْلُومِ وَسُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ . رواه مسلم

او د کورنۍ په خراب حالت لېدو څخه به یې پناه غوښتل . مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۹۷۹، رقم: ۴۲۶- ۱۳۴۳.

**د لغاتو حل**: الکور: ای النقصان بعد الزیادة والتفرق بعد الاجتماع (تر زیاتوب وروسته زیان او تر اتفاق وروسته بې اتفاقي).

**تشریح**: د مظلوم د ښېرا څخه د پناه غوښتلو مطلب دادی چي په حقیقت کي به رسول الله ﷺ د ظلم څخه پناه غوښتل چي خدایه! ما ددې څخه وساتې چي زه په پوهېدو یا ناپوهېدو سره پر چا ظلم وکړم چي یو مظلوم ما ته ښېرا ونه کړي .

## په یو نوي ځای کي د تم کېدو دعاء

﴿۲۳۱۰﴾: وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ حَكِيمٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خولة بنت حکیم (رض) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي

يَقُولُ مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَقَالَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ

څوک چي په یو ځای کي تم سي نو دغه دعاء دي وایي : (اعوذ بکلمات ....) د الله تعالی د

پوره کلمو په ذریعه زه د هغه شي د بدي څخه چي پیدا کړي یې دي پناه غواړم،

يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ . رواه مسلم

نو هیڅ شی به هغه ته تاوان نه ورسوي تر څو چي د هغه ځای څخه د سفر اراده وکړي . مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۸۰، رقم: ۵۴- ۲۷۰۸.

## په شپه کي د ضرر او تاوان څخه د ساتني دعاء

﴿۲۳۱۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او

يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا لَقِيتُ مِنْ عَقْرَبٍ لَدَغَتْنِي الْبَارِحَةَ قَالَ أَمَا لَوْ قُلْتَ حِينَ

عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! ما د یو لړم چیچلو څخه چي پرون شپه یې زه و چیچلم ډیر تکلیف تر لاسه کړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: که تا ماښام دغه دعاء ویلې وای

أَمْسَيْتَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ تَضُرَّكَ . رواه مسلم

(أَمْسَيْتَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ) نو لړم به تا ته تاوان نه وای رسولی . مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۸۱، رقم: ۵۵- ۲۷۰۹.

**تشريح**: د ترمذي شریف په یوه روایت کي دي چي کوم څوک دغه پوره تنی کلمې ماښام دري واره وایي نو هغه ته په شپه کي د هیڅ شي زهر تاوان نه سي رسولای او په یوه روایت کي دغه کلمې د سهار په وخت کي ویل نقل سوي دي، یعني که څوک دغه کلمې د سهار په وخت کي ووایي نو په هغه ورځ به هیڅ یو زهرجن حیوان هغه ته تاوان نه سي رسولای .

د مفصل ابن یسار ﷺ څخه نقل سوي دي چي کوم څوک دغه کلمې وایي نو د هغه سره اوویا زره ملائکي تاکل کیږي چي د هغه لپاره د بخښني دعاء کوي او که هغه سړی په دغه حالت کي مړ سي نو شهید به مړ سي .

## په سفر کي د سهار دعاء

﴿۲۳۱۲﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ وَأَسْحَرَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ په سفر كي وو او د سهار وخت

يَقُولُ سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا رَبَّنَا صَاحِبْنَا وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ . رواه مسلم

به سو نو دغه دعاء به يې فرمايل : (سمع سامع..... من النار) اوريدونكي زما دا تعريف واوريدئ او د هغه د ازمائښت د ښه والي اقرار دئ اې زموږ پروردګاره ! زموږ ساتنه وكړې او پر موږ احسان وكړې د الله تعالى په ذريعه سره د دوږخ د اور څخه پناه غوښتلو سره موږ دا خبره كوو . مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۸٦١\۴، رقم: ۶۸ – ۲۷۱۸.

## د جهاد، حج او عمرې څخه د ستنېدو پر وخت دعاء

﴿۲۲۱۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَفَلَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د يوې غزا، حج يا عمرې څخه

مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الْأَرْضِ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ ثُمَّ

راستون سو نو پر هره لوړه مځكه به يې درې واره الله اكبر وايه بيا به يې دغه دعاء فرمايل :

يَقُولُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ

قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ

قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ

وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ. متفق عليه

وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ. بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۶۱۸\۱۳، رقم: ۱۷۹۷، ومسلم ۹۸۰\۲، رقم: ۴۲۸ – ۱۳۴۴

**تشريح**: ونصر عبده وهزم الاحزاب وحده: ددې څخه د خندق د غزا پر موقع تائيد او نصرت ته اشاره ده چې د قريظه او نضير د يهودو څخه پرته تقريبا لس يا دوولس زره كفارو پر مدينې حمله كړې وه او دنبي كريم ﷺ سره يې د جنګ كولو اراده درلودل مګر الله تعالى د هواء او ملائكو يو ډله د كفارو پر لښكر مسلط كړل چې د هغه په وجه د جنګ څخه پرته هغوئ هلاک سول.

## په غزوه احزاب كي د رسول الله ﷺ ښېرا

﴿۲۳۱۴﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى قَالَ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن ابي اوفى رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د احزاب په جګړه كي رسول الله ﷺ د

يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ

مشركينو لپاره دغه ښېرا وكړه: (اللهم منزل الكتاب ..... و زلزلهم) اې الله ! اې د كتاب نازلوونكي ! او ژر حساب اخيستونكي

اللّٰهُمَّ اهْزِمْ الْأَحْزَابَ اللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ . متفق عليه

اې الله ! د كافرانو ډلي ته ماته وركړې اې الله ! دوئ ته ماته وركړې او د دوئ بيخونه وباسې. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۰۶\۶، رقم: ۲۹۳۳، ومسلم ۱۳۶۳\۱۳، رقم: ۲۱-۱۷۴۲.

## د ميلمه او كور به لپاره يو ځو سنت خبري

﴿۲۳۱۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ بُسْرٍ قَالَ نَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن يسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ زما د پلار ميلمه سو ،

عَلَى أَبِي فَقَرَّبْنَا إِلَيْهِ طَعَامًا وَطْبَةً فَأَكَلَ مِنْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِتَمْرٍ فَكَانَ يَأْكُلُهُ وَيُلْقِي

نو موږ د رسول الله ﷺ په خدمت كي يو ډول خوراک حاضر كړ ، رسول الله ﷺ هغه وخوړل او بيا

النَّوَى بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ وَيَجْمَعُ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطٰى وفي رواية فجعل يلقي النوى

وچې خرماوي راوړل سوې ، رسول الله ﷺ به خرماوي خوړلې او مندكي به يې يو ځاى كولې او

دوو ښو ګوتو په منځ سره به يې غوړځولې، او په يوه روايت کې دي چې منډکې به يې د منځ او

على ظهر أصبعيه السبابة والوسطى ثم أتي بشراب فشربه فَقَالَ أَبِي وَأَخَذَ

مسواکې ګوتې په شا سره غوړځولې بيا يې د څښلو راوړل سوی شی وڅښئ، زما پلار په داسې حال کې ويل چې د هغوئ د سپرلۍ واګې يې نيولې وې

بِلِجَامِ دَابَّتِهِ ادْعُ اللَّهَ لَنَا فَقَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ. رواه مسلم

چې زموږ لپاره د الله تعالى څخه دعاء وغواړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! د دوئ په رزق کې برکت واچوې دوئ وبخښې او پر دوئ رحم وکړې. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۳\۱۶۱۵، رقم: ۱۴۶- ۲۰۴۲.

**د لغاتو حل**: وطبة: قال النووي وهو الحيس والتمر البرني والاقط المدقوف والسمن.

**تشريح**: د خرما په خوړلو سره به رسول الله ﷺ د هغه منډکې د خپل چپه لاس په ګوتو يو ځای کول، اوس يو روايت خو دا ښيي چې رسول الله ﷺ به منډکې د دواړو ګوتو په مينځ کې اېښودل او بل روايت دا ښيي چې د دواړو ګوتو پر شا به يې اچول، په ظاهره په دې خبره کې اتفاق معلوميږي مګر که چيرې په ذهن کې دا خبره وي چې رسول الله ﷺ به منډکې کله د دواړو ګوتو په مينځ کې اېښودل او کله به يې د دواړو ګوتو پر شا اېښودل نو په دغه دواړو روايتو کې تعارض نه معلوميږي او بيا د ګوتو پر شا باندې د منډکو اچولو وجه داوه چې د لاس دننه د منډکو په اوبو وغيره سره چټل نه سي ځکه دننه صفائي تر د باندې صفائي غوره ده، دا حديث څو خبرو ته اشاره کوي چې مېلمه او کوربه لپاره مسنون درجه لري مثلاً د حديث څخه معلومه سوه چې د اکابرو او د مېلمه سپرلۍ د تواضع او ښه راغلاست لپاره نيول مسنون دي همدا رنګه د مېلمه رخصتولو لپاره د سرای د دروازې څخه يا د باندې تر يو ځای پورې د هغه سره تلل سنت دي، ددې څخه دا خبره هم معلومه سوه چې د کوربه لپاره دا مسنون دي چې هغه د مېلمه څخه دعاء طلب کړي او د مېلمه لپاره هم دا مسنون دي چې د کوربه لپاره دعاء وکړي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د مياشتي ليدلو دعاء

﴿۲۳۱۶﴾: عَنْ طَلْحَةَ ابْنِ عُبَيْدِاللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا

د حضرت طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ مياشت وليدل نو دغه

رَأَى الْهِلَالَ قَالَ اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالامن وَالْإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب

دعاء به يې فرمايل : (اللهم اهله .....) اې الله ! دا مياشت د امن، ايمان، سلامتۍ او اسلام سره پر موږ راوخيژوې اې مياشتي زما او ستا پروردګار الله دئ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۵/ ۴۷۰، رقم: ۳۴۵۱.

**تشريح** : هلال د قمري مياشتي د اولي ، دوهمي او دريمي شپې سپوږمۍ ته وايي، ددې څخه وروسته سپوږمۍ ته قمر وايي، نو د پورتني حديث څخه معلومه سوه چي كله به رسول الله ﷺ مياشت وليدل نو دغه دعاء به يې كول، ددغه دعاء خلاصه داده چي اې الله! په دغه مياشت كي موږ په امن او ايمان سره د هر آفت او مصيبت څخه خوندي او سلامت كړې او د اسلام پر احكامو باندي مو ثابت قدم او مستقيم ولرې، ددې څخه وروسته به يې مياشتي ته په مخاطب كولو سره وفرمايل چي زما او ستا دواړو رب الله جل جلاله دى لكه څرنګه چي زه د هغه يو مخلوق يم همدارنګه ته هم د هغه يو مخلوق يې ، په دې سره د هغه خلكو د عقيدو ترديد مقصد وو چي د سپوږمۍ او لمر عبادت كوي او نعوذبالله هغوئ خپل معبود او رب ګڼي .

### د ستونزمن په ليدلو سره دعاء

﴿۲۳۱۷﴾: وَعَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ وَ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه او ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ رَجُلٍ رَأَى مُبْتَلًىفَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا

 څوک چي يو ستونزمن سړی ويني نو هغه دي دغه دعاء ووايي : (الحمد لله.... تفضيلا) ټول تعريفونه الله تعالی لره دي چي زه يې د هغه څخه ساتلی يم

بْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا إِلَّا لَمْ يُصِبْهُ ذَلِكَ الْبَلَاءِ

ه کوم چي يې ته اخته کړی يې او پر خپلو ډېرو مخلوقاتو يې ما ته ښېګڼه راکړې ده ، نو هغه ته

ائِنًا مَا كَانَ . رواه الترمذي و رواه ابن ماجة عن ابن عمر وقال الترمذي هذا

حديث غريب و عمرو بن دينار الراوي ليس بالقوي

ه دغه ستونزه هيڅکله نه رسيږي . ترمذي او ابن ماجه ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۵۹، رقم: ۳۴۳۱.

**تشريح**: ددغه ارشاد خلاصه داده چي کوم څوک يو مصيبت وهلی ويني نو دغه دعاء دي وي : الحمد لله الذي عافاني مما ابتلاک به وفضلني على كثير ممن خلق تفضيلا، نو هغه وک به په مصيبت او آفت کي نه اخته کيږي که هغه مصيبت بدني وي لکه د برص (پيس) روغي، ړوندوالی او داسي نور او که هغه مصيبت دنياوي وي لکه د مال او دنيا هوس او سي نور، او که هغه مصيبت ديني وي لکه فسق، ظلم ، شرک ، کفر او داسي نور، خلاصه دا ې د هر ډول مصيبت وهلي په ليدو سره دغه دعاء کول پکار دي مګر علماء دا هم وايي چي يو وک د ناروغی په مصيبت اخته وي نو د هغه په ليدو سره دغه دعاء کرار ويل پکار دي چي نه ناروغ خفه نه سي او که داسي سړی ويني چي په ګناه يا د دنيا په مينه اخته وي نو د هغه په څکي دغه دعاء په لوړ آواز ويل پکار دي چي هغه ته پر خپل حال باندي پښېماني وسي او د ه څخه منع سي، او که چيري ددغه دعاء په لوړ آواز ويلو سره د فتني او فساد بېره وي نو بيا دغه صورت کي ددغه دعاء کرار ويل پکار دي .

## بازار ته د تلو دعاء او د هغه فضيلت

۲۳۱۸﴾ : وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ دَخَلَ السُّوقَ

حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي بازار ته ولاړ سي

قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ

او دغه دعاء ووايي : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ

وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ

وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، نو الله پاک د هغه په عمل نامه کي لس لکه

حَسَنَةٍ وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي

نيکۍ ليکي او د هغه څخه لس لکه بدۍ ليري کوي او د هغه لس لکه درجې لوړوي او د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړوي.

الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب وفي شرح السنة من قال في سوق جامع يباع فيه بدل من دخل السوق

ترمذي او ابن ماجة ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او په شرح السنة کي د من دخل السوق پر ځای من قال في السوق جامع يباع فيه، الفاظ دي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۵۷، رقم: ۳۴۲۸، وابن ماجه ۲\۷۵۲، رقم: ۲۲۳۵، شرح السنة ۵\۱۳۲، رقم: ۱۳۳۸.

**تشريح**: د دومره زيات ثواب تر لاسه کولو وجه داده چي بازار د غفلت ځای دی او بازار يو داسي ځای دی چي هلته په عامه توګه درواغ، دوکه، چم او فريب زيات وي بيا دا چي بازارونه د شيطانانو سلطنت ويل سوي دي ځکه نو په داسي ځای کي د الله تعالی يادول ډير ثواب لري.

## د دنيا نعمت پوره نعمت نه دی

﴿۲۳۱۹﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو سړی وليدئ چي داسي دعاء

يَدْعُو يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ تَمَامُ النِّعْمَةِ قَالَ

يې کول (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ) اي الله ! زه ستا څخه پوره نعمت غواړم، رسول الله ﷺ د هغه

دَعْوَةٌ أَرْجُو بِهَا الْخَيْرَ فَقَالَ إِنَّ مِنْ تَمَامِ النِّعْمَةِ دُخُولَ الْجَنَّةِ وَالْفَوْزَ مِنْ

سړي څخه پوښتنه وکړه پوره نعمت څه شي دئ ؟ هغه وويل دادعاء ده او زه د زيات مال اميد لرم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پوره نعمت په جنت کي داخليدل او د دوږخ څخه خلاصون تر

النَّارِ وَسَمِعَ رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ فَقَالَ قَدِ اسْتُجِيبَ لَكَ

لاسه کول دي، بيا رسول الله ﷺ د يو سړي څخه داسي واوريدل : يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ. اې د بزرګۍ او بخښني خاوند، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا دعاء قبوله سوه

فَسَلْ وَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ

نو ته وغواړه، او رسول الله ﷺ د يو بل سړي څخه واوريدل : اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ. اې الله !

الصَّبْرَ فَقَالَ سَأَلْتَ اللَّهَ الْبَلَاءَ فَسَلْهُ الْعَافِيَةَ . رواه الترمذي

زه ستا څخه صبر غواړم، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تا د الله څخه مصيبت وغوښتئ ته د الله څخه عافيت وغواړه . ترمذي .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۵\۵۰۵،رقم: ۳۵۲۷.

**تشريح** :د حديث د اولي برخي خلاصه داده چي هغه سړي د دنيا د نعمت په پوره ګڼلو سره د الله تعالى څخه د هغه د تر لاسه کولو دعاء غوښتل مګر رسول الله ﷺ هغه خبردار کړ چي ددنيا نعمت داسي نعمت نه دی چي هغه داسي وغوښتل سي ځکه چي دا فنا کېدونکی دی پوره نعمت او حقيقي نعمت خو جنت کي داخليدل او د دوږخ څخه خلاصون دی ځکه نو ددغه نعمت د تر لاسه کولو دعاء کول پکار دي ، د حديث د آخري برخي خلاصه داده چي کوم څوک صبر وغواړي نو څرګنده ده چي صبر د ضرورت ، مصيبت او آفت څخه وروسته وي ځکه نو د صبر غوښتلو مطلب دادی چي بالواسطه بلا غوښتل دي ځکه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي صبر مه غواړه ځکه په داسي کولو سره د بلاء او مصيبت غوښتل مفهوم کيږي بلکه د الله تعالى څخه عافيت غواړه چي هغه دي د ټولو آفتو او مصيبتو څخه خوندي وساتي هو که په مصيبت او آفت کي اخته يې نو بيا د صبر طاقت غوښتل او پر مصيبت باندي صبر کول پکار دي.

## د مجلس کفاره

(۲۲۲۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په يو داسي

جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ

ځای کي کښيني چي هلته بې ګټي خبري زياتي وي او هغه د ولاړېدو څخه وړاندي دغه دعاء ووايي: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ

وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ. رواه الترمذي و البيهقي في الدعوات الكبير.

وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، نو هر څه چي په دغه مجلس کي سوي وي هغه ورته بخښل کيږي. ترمذي او بيهقي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۶۰، ۴۶۱، رقم: ۳۴۳۳.

**تشريح**: د لغط څخه مراد داسي کلام او داسي خبره ده چي د هغه په وجه ګناه کيږي او ځيني حضرات وايي چي د لغط معنی بې فائدې خبري دي، په هر حال په پورتني حديث کي چي کومه دعاء ذکر سوې ده هغه ته کفارة المجلس وايي يعني په کوم مجلس کي چي بې ګټي خبري کيږي يا خندا او مسخرې کيږي نو د دغه دعاء په ويلو سره الله تعالی هغه معافوي، يعني دغه دعاء د غير شرعي او غير ضروري خبرو کفاره کيږي.

## د سپرلۍ دعاء

(۲۳۲۱): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د سپرلۍ لپاره يو حيوان راوستلی وو هغه چي کله

بِسْمِ اللهِ فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ ثُمَّ قَالَ { سُبْحَانَ الَّذِي

پر رکاب پښه کښېښودل نو وه يې ويل: بسم الله، او کوم وخت چي پر سپور سو نو وه يې ويل: الحمد لله، او د هغه وروسته يې دغه دعاء وويل: سُبْحَانَ الَّذِي

سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ } ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ

سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ. بيا يې درې واره الحمدلله وويل،

لِلّٰهِ ثَلَاثًا وَاللّٰهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ

درې واره الله اكبر او بيا يې دغه دعاء وويل : سبحانک اني ..... الا انت، اې الله ! ته پاک يې ما پر خپل ځان ظلم کړی دی نو ما و بخښې ځکه چې ګناهونه يوازې ته بخښې،

الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ثُمَّ ضَحِكَ قُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ

ددې وروسته هغه وخندل، د هغه څخه پوښتنه وسول چې اې اميرالمؤمنين !

قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ ثُمَّ ضَحِكَ

تاسو ولي وخندل ؟ هغه وويل : ما رسول الله ﷺ په داسي کولو ليدلی دئ څنګه چې ما وکړل او بيا رسول الله ﷺ وخندل،

فَقُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ

نو ما پوښتنه وکړل اې د الله رسوله ! په څه شي تاسو وخندل ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی د خپل بنده څخه خوشحاله سي

إِذَا قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي يقول يعلم انه لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِيْ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد

هر کله چې هغه دا ووايي اې زما پروردګاره ! زما ګناهونه و بخښې او الله تعالی په دې اوربدو سره فرمايي زما بنده پوهيږي چې زما څخه پرته بل څوک ګناهونه نه سي بخښلای . احمد، ترمذي او ابوداؤد

**تخريج** : الامام احمد في المسند ۱\۹۷، والترمذي ۵\۴۶۷، رقم: ۳۴۴۶، وابوداود ۳\۷۷، رقم: ۲۶۰۲

**تشريح** :نبي کريم ﷺ د الله تعالی د راضي کېدو په وجه وخندل او د حضرت علي رضي الله عنه خندل د رسول الله ﷺ د اتباع او پيروي په وجه وه.

## د مسافر د رخصت کولو دعاء

﴿۲۳۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَدَّعَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ يو سړی رخصت کوئ

رَجُلًا أَخَذَ بِيَدِهٖ فَلَا يَدَعُهَا حَتّٰى يَكُونَ الرَّجُلُ هُوَ يَدَعُ يَدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

نو دهغه لاس به يې په خپل لاس کې نيوئ او تر هغه وخته پورې به يې نه پرېښوئ تر څو پورې چې هغه به په خپله د رسول الله ﷺ مبارک لاس نه وو پرې اېښى

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَقُولُ اسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ، و في رواية

او بيا به يې فرمايل: استودع الله....عملک، ما الله ته ستا دين او ستا امانت او ستا آخري عمل وسپارئ. او په يوه روايت کې

وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة. وفي روايتهما لم يذكر: و آخر عملك

(و خواتيم عملک) راغلى دى. ترمذي، د ابوداؤد او ابن ماجه په روايت کې د (آخر عملک) الفاظ نه سته.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۴۶۵، رقم: ۳۴۴۲، وابوداود ۳\۷۶، رقم: ۲۶۰۰، وابن ماجه ۲\۹۴۲، رقم: ۲۸۶۶.

**تشريح**: د امانت څخه مراد هغه مالونه دي چې په هغه سره د خلکو سره راکړه ورکړه کيږي او ځيني حضرات وايي چې د امانت څخه مراد اهل او اولاد دى چې مسافر يې په کور کې پرېږدي او سفر ته ولاړ سي.

﴿۲۲۲۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ الْخَطْمِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله خطمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ

إِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْتَوْدِعَ الْجَيْشَ قَالَ أَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ أَعْمَالِكُمْ. رواه أبو داود

يو لښکر رخصت کوئ نو دا به يې فرمايل: أَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ أَعْمَالِكُمْ. ابوداؤد

**تخريج**: ابوداود في السنن ۳\۷۶، ۷۷، رقم: ۲۶۰۱.

﴿۲۲۲۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې يو سړى د نبي کريم ﷺ په خدمت کې عرض وکړ چې اې

رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُرِيدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِي فقَالَ زَوَّدَكَ اللّٰهُ التَّقْوٰى قَالَ زِدْنِي قَالَ

د الله رسوله ! زه د سفر اراده لرم ما ته يو تحفه راكړئ (يعني زما لپاره دعاء وكړئ) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله ﷻ دي تا ته د تقوا توښه دركړي ، هغه عرض وكړ څه نور ، رسول الله ﷺ

وَغفَرَ ذَنْبَكَ قَالَ زِدْنِي بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي قَالَ وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُ مَا كُنْتَ .

رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

ورته وفرمايل : او الله دي ستا ګناهونه و بخښي ، هغه وويل : زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي څه نور ، رسول الله ﷺ وفرمايل : او الله دي دنيكۍ توفيق دركړي هر چيري چي يې . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۴۶۶، رقم: ۳۴۴۴.

﴿۲۳۲۵﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُسَافِرَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وكړ چي زه د سفر

فَأَوْصِنِي قَالَ عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ قال فَلَمَّا وَلَّى

اراده لرم ما ته نصيحت وفرماياست ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پر خپل ځان د الله ﷻ ويره لازمه كړه او په سفر كي پر هر لوړ ځاى باندي الله اكبر وايه ، هر كله چي هغه سړى ولاړئ

الرَّجُلُ قَالَ اللّٰهُمَّ اطْوِ له البعد وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ . رواه الترمذي

نو رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله ! دده د سفر اوږدوالى را كم كړې او دده سفر آسان كړې . ترمذي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۶۶، ۴۶۷، رقم: ۳۴۴۵.

**د لغاتو حل**: شرف: اى مكان عال (لوړ ځاى).

**تشريح**: عليک بتقوى الله: ددې مطلب دادى چي د الله تعالى څخه خوف او ويره اختيار كړه يعني د الله تعالى څخه وبيريږه ، د شرک او ګناه او د شبهې شيان پريږده او داسي شيان هم مه اختياروه چي د ضرورت او حاجت څخه زائد وي په عبادت او ذكر كي د غفلت او د الله تعالى څخه پرته د بل چا د خيال څخه ځان وساته او د الله تعالى څخه پرته بل څوک حاجت پوره كونكى

مشكل حل كونكى مه كنه او مه پر غير الله باندي اعتماد كوه.

## په سفر كي د شپې دعاء

﴿۲۲۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ

: حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د سفر اراده كول

فَأَقْبَلَ اللَّيْلُ قَالَ يَا أَرْضُ رَبِّي وَرَبُّكِ اللّٰهُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّكِ وَشَرِّ مَا فِيكِ

او شپه به راغلل نو فرمايل به يې: يا ارض.... وماولد، اې مځكي ستا او زما پروردګار الله دئ زه د الله جل جلاله په ذريعه ستا د شر څخه او د هغه شي د شر څخه چي په تا كي دي پناه غوارم

وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِيكِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ وَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ وَمِنَ

او د هغه شي د شر څخه چي په تا كي ګرځي راګرځي او زه د الله جل جلاله په ذريعه د زمري څخه د تور مار څخه او د

الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَمِنْ شر سَاكِنِ الْبَلَدِ وَمِنْ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ . رواه ابوداؤد.

هر ډول نورو مارانو او لړم څخه او د ښار د اوسيدونكو د شر څخه او د پيداكونكو شيانو د شر څخه او د هغه شي د شر څخه چي پيدا كړل سوي دي پناه غوارم. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۳\۷۸، رقم: ۲۶۰۳.

**د لغاتو حل**: اسود: وهو الحية الكبيرة التي فيها سواد. (تور غټ مار).

## د جهاد په وخت كي دعاء

﴿۲۲۲۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا غَزَا قَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي وَنَصِيرِي بِكَ أَحُولُ وَبِكَ أَصُولُ وَبِكَ أُقَاتِلُ . رواه الترمذي و ابوداؤد

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ جهاد كوئ نو فرمايل به يې: اې الله زما پر تا تكيه ده ته زما پروردګار يې ستا په توان سره د دښمن مكر (چم) ليري كوم او حمله كوم او ستا په توان سره جنګيږي. ترمذي او ابوداؤد

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۴، رقم: ۳۵۸۴، وابوداود ۳\۹۶، رقم: ۲۶۲۳.

**د لغاتو حل**: احول: ای اصرف کید العدو. اصول: ای احمل علی العدو.

## د دښمن د بيري په وخت کي دعاء

﴿۲۳۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوسٰى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَافَ قَوْمًا قَالَ اللّٰهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ وَنَعُوذُبِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ. رواه احمد و ابوداؤد

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ ته د يو قوم څخه بيره وه نو دا به يې فرمايل: اللهم .... من شرورهم، اې الله! موږ گرځوو تا په مقابله د دوئ (کافرانو) کښي او ستا په ذريعه د هغوئ د بديو څخه پناه غواړو. احمد او ابو داؤد

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۴\۴۱۴، وابوداود في السنن ۲\۱۸۷، رقم: ۱۵۳۷.

**تشريح**: په حصن حصين کي ليکلي دي چي کوم څوک د دښمن يا بل چا په بېره کي اخته وي نو د سورة لايلف قريش ويل د هر شر او خوف څخه د امان باعث دی او دا عمل مجرب دی.

## د کور څخه د وتلو دعاء

﴿۲۳۲۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلْمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنْ

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د کور څخه وتئ نو دغه دعاء

بَيْتِهِ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ اللّٰهُمَّ إِنَّا نَعُوذُبِكَ مِنْ أَنْ نَزِلَّ أَوْ نَضِلَّ

به يې ويل: بسم الله... او يجهل علي، د الله جل جلاله په نامه د کور څخه وځم ما پر الله جل جلاله باور وکړ موږ ستا په ذريعه پناه غواړو او د دې څخه چي موږ وښوئيږو يا گمراه سو

أَوْ نَظْلِمَ أَوْ نُظْلَمَ أَوْ نَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا. رواه احمد والترمذي والنسائي

يا ظلم وکړو يا پر موږ باندي ظلم وسي يا موږ جهالت وکړو او يا زموږ سره جهالت وکړل سي، احمد، ترمذي او نسائي،

وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح و في رواية ابي داؤد وابن ماجة

ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ او د ابو داؤد او ابن ماجه په روايت کي دا الفاظ

قَالَتْ أُمُّ سَلْمَةَ مَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْتِي قَطُّ إِلَّا رَفَعَ

دي چي ام سلمة وايي چي کله به رسول الله ﷺ زما د کور څخه ووتئ نو خامخا به يې د آسمان په

طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ.

لور کتل او دغه دعاء به يې ويل : اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ ...... اې الله ! زه پناه غواړم په تا سره ددې څخه چي په خپله بې لاري سم يا بل څوک بې لاري کړم يا پر چا ظلم وکړم او يا بل څوک را باندي ظلم وکړي يا ناپوهي وسي او يا راسره د ناپوهۍ معامله وسي.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ٦\٣٠٦، ابوداود في السنن ٥\٣٢٧، رقم: ٥٠٩۴، والترمذي ٥\۴٥٧، رقم: ٣۴٢٧، والنسائي في عمل اليوم والليلة ص١٧٦، رقم: ٨٧، وابن ماجه ٢\١٢١٨، رقم: ٣٨٨۴.

﴿٢٣٣٠﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سړي چي د کور څخه وځي نو

مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ يُقَالُ

دغه دعا دي وايي : بسم الله.... الابالله، کله چي دغه دعاء ووايي نو ملائکه ددې په جواب

حِينَئِذٍ هُدِيتَ وَكُفِيتَ وَوُقِيتَ فَتَتَنَحَّى لَهُ الشَّيَاطِينُ فَيَقُولُ لَهُ شَيْطَانٌ

کي وايي : هديت و کفيت ووقيت، اې د الله بنده ! تا ته هدايت درکړل سو ، کفايت درکړل سو او خوندي سوې، (د دې په اوريدو سره) شيطان ځيني ليري سي او دويم شيطان هغه ته وايي

آخَرُ كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ. رواه ابوداؤد و روي الترمذي الى قوله له الشيطان

ته پر دې سړي څنګه تو ان پيدا کولای سې چي هدايت ورته وسو ، کفايت ورته وسو او د بدو څخه خوندي کړل سو . ابوداؤد، او ترمذي تر له الشيطان پوري بيان کړئ دئ.

**تخريج**: ابوداود في السنن ٥\٣٢٨، رقم: ٥٠٩٠، والترمذي ٥\۴٥٦، رقم: ٢۴٢٦.

**تشريح**: تا ته سيده لار وښودل سوه يعني تا د الله تعالی نوم واخيستی د هغه پر ذات دي توکل

او باور وکړ او د لاحول په ویلو سره دي خپل ځان عاجز وګڼي ځکه نو تا سیده لار تر لاسه کړه او سیده لار داده چي بنده الله تعالی یاد کړي او پر هغه اعتماد او باور سره خپل ټول کارونه هغه ته وسپاري: کار خود راه بخدا باگزار کت نمي بینم ازین بهتر کار

د امام نووي رحمه الله د کتاب الاذکار سره سم په کتاب ابن سني کي د حضرت عمر رضی الله عنه دا روایت منقول دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: کله چي په تاسو کي یو څوک د معاش په تنګۍ اخته وي نو هغه کوم شی ددې څخه منع کوي چي هر کله د کور څخه وځي نو دغه دعاء دي وایي: بسم الله علی نفسي ومالي وديني اللهم رضني بقضائک وبارک لي فيما قدرت لي حتی لا احب تعجيل ما اخرت ولا تاخير ماعجلت. ترجمه: زه د الله تعالی په نامه سره د کور څخه ووتلم چي مالک دی زما د ځان زما د مال او زما ددین، اې الله! ته ما پر خپله فیصله باندي مطمئن کړې او ته ما ته په هغه شي کي برکت راکړې کوم چي تا زما لپاره ټاکلی دی تر دې چي زه په هغه شي کي تلوار خوښ نه کړم کوم چي تا مؤخر کړی دی او په هغه شي کي تاخیر خوښ نه کړم په کوم کي چي تا تلوار خوښ کړی دی.

او د ابن ماجه په روایت کي دادي چي رسول الله ﷺ وفرمایل کوم څوک چي د لمانځه لپاره د خپل کور څخه ووځي او دغه دعاء ووايي نو الله تعالی هغه ته بذات خود متوجه کیږي او اوویا زره ملائکي د هغه د مغفرت لپاره دعاء کوي دعاء داده: اللهم اني اسئلک بحق ممشاي هذا فاني لم اخرج ا شرا ولا بطرا ولارياء ولاسمة وخرجت اتقاء سخطک وابتغاء مرضتک فاسئلک ان تعيذني من النار وان تغفرلي ذنوبي فانه لا يغفر الذنوب الا انت: ژباړه: اې الله! زه تا ته خپل دغه تلو په وسیله خواست کوم ځکه چي زه تکبر، سرکښي او ریاکارۍ او ځان ښوولو لپاره نه یم وتلی بلکه زه ستا د غضب څخه په بېرېدو سره او ستا د رضا په طلب کي وتلی یم ځکه زه تا ته التجاء کوم چي ته ما د دوږخ څخه داور څخه په خپل پناه کي وساتې او زما ټول ګناهونه وبخښې ځکه چي ستا پرته بل څوک ګناهونه نه سي بخښلای.

**کور ته د ننوتلو دعاء**

﴿۲۲۳۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو مالک اشعري رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِذَا وَلَجَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَلْيَقُلْ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ

کله چي يو څوک خپل کور ته ننوزي نو دغه دعاء دي وايي : اللهم اني .... ربنا توکلنا، اې الله زه ستا څخه د داخليدو، د خير او د کور څخه د وتلو د خير غوښتنه کوم

بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰهِ ولجنا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ. رواه ابوداؤد

او موږ په کور کي د الله ﷻ په نامه سره داخل سو او موږ پر الله ﷻ چي زموږ رب دئ توکل کړی دی، د دې وروسته دي کورنۍ ته سلام وکړي. ابوداؤد.

**تخريج** : ابوداود في السنن ۵\۳۲۸، رقم: ۵۰۹۶.

**تشريح** : په حصن حصين کي دغه دعاء د ابوداؤد څخه نقل سوې ده چي په هغه کي د بسم الله ولجنا څخه وروسته بسم الله خرجنا هم دي، د ابوداؤد په اصل کتاب کي د کتلو څخه وروسته معلومه سوه چي په هغه کي دغه جمله موجود ده ځکه کيداي سي چي يا خو په خپله د مشکوة مؤلف څخه دا جمله ليکل هېر سوي وي يا د کاتب د غلطۍ په وجه پاته سوې وي، په هر حال ددغه دعاء د ويلو پر وخت دغه جمله هم ويل پکار دي، علماء ليکي چي په خپل کور کي دداخليدو او دغه دعاء ويلو وروسته خپل کورنۍ سلام ادا کول پکار دي لکه څرنګه چي په حديث کي په وضاحت سره ښودل سوي دي مګر که په کور کي څوک موجود نه وي نو بيا د ملائکو په نيت سره سلام کول پکار دي ځکه چي هلته ملائکي په هر صورت کي موجود وي او په دغه صورت کي داسي سلام کول پکار دي: السلام علی عباد الله الصالحين.

### د زوم او ناوي لپاره دعاء

﴿۲۳۳۲﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د يو نکاح کوونکي لپاره دعاء

إِذَا تَزَوَّجَ قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

کول نو داسي به يې فرمايل : بارک الله .... في خير، الله تعالی دي تا ته برکت درکړي او تاسو دواړو ته دي برکت درکړي او تاسو دواړه دي په نيکۍ کي يو ځای کړي. احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

**تخریج**: الامام احمد في المسند ۲\ ۳۸۱، والترمذي في السنن ۳\ ۴۰۰، رقم: ۱۰۹۱، وابوداود ۵\ ۵۹۸، رقم: ۲۱۳۰، وابن ماجه ۱\ ۶۱۴، رقم: ۱۹۰۵.

**د لغاتو حل**: اذا رفا الانسان: ای اراد الدعاء للمتزوج من الترفئة مهموز اللام بمعنی التهنئة.

## د نکاح کوونکي دعاء

﴿۲۲۳۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَزَوَّجَ أَحَدُكُمُ امْرَأَةً أَوِ اشْتَرَى خَادِمًا فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ

په تاسو کي چي کله یو څوک نکاح کوي یا یو غلام رانیسي نو دغه دعاء دي وایي: اللهم اني .... ماجبلتها علیه، اې الله! زه ستا څخه د هغه خیر

خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ مَا جَبَلْتَهَا

او د هغه د اخلاقو ښه والی غواړم، او ستا په ذریعه د هغه (یا هغې) د بدۍ څخه او د هغه (یا هغې) د اخلاقو د بدۍ څخه پناه غواړم،

عَلَيْهِ وَإِذَا اشْتَرَى بَعِيرًا فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِهِ وَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ ، وَفِي

او هر کله چي اوښ رانیسي نو د هغه قوب دي ونیسي او همدغه دعاء دي ووایي، د ښځي او

رِوَايَةٍ فِي الْمَرْأَةِ وَالْخَادِمِ ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَلْيَدْعُ بِالْبَرَكَةِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

غلام والا په روایت کي دا الفاظ هم سته چي د ښځي او غلام د تندي وربښتان دي ونیسي او د برکت دعاء دي وکړي. ابوداؤد او ابن ماجة.

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\ ۶۱۶، رقم: ۲۱۶۰، وابن ماجه في السنن ۱\ ۶۱۷، رقم: ۱۹۱۸.

**تشریح**: د خیر او برکت د دعاء څخه پورتنۍ دعاء مراد ده لکه څرنګه چي د حصن حصین څخه فهمول کیږي یعني د ښځي یا غلام د تندي وېښتانو په نیولو سره دي دغه دعاء ووایي، علامه جزري رحمه الله فرمايي چي دا یوازي پر اوښ منحصره نه ده بلکه کوم څوک چي یو حیوان رانیسي

نو دغه دعاء دي وايي نو الله تعالى به هغه حيوان كي بركت واچوي .

## د غم ليري كولو دعاء

﴿۲۳۳۴﴾ : وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَوَاتُ

د حضرت ابو بكرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ستونزمن دعاء داده :

الْمَكْرُوبِ اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ . رواه ابوداؤد .

(اللهم رحمتک ....) اې الله ! زه ستا د رحمت اميدوار يم ، ما زما نفس ته يو ګړی هم حواله مه كړې او زما ټول كارونه سم كړې ستا څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته . ابو داؤد .

**تخريج** : ابوداود في السنن ۵\ ۳۲۵، رقم: ۵۰۹۰.

## د پور خلاصولو لپاره دعاء

﴿۲۳۳۵﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ هُمُومٌ لَزِمَتْنِي وَدُيُونٌ يَا

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! زه ډير غمجن انسان يم ، رنج او غم راګير كړی يم او زه پوروړی يم ،

رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلَامًا إِذَا قُلْتَهُ أَذْهَبَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمَّكَ وَقَضَى

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا زه داسي دعاء درته ونښيم چي هغه ته ووايې نو الله تعالى به ستا غم ليري كړي او ستا پور به ادا كړي ،

عَنْكَ دَيْنَكَ قَالَ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ قُلْ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ

هغه سړي عرض وكړ : هو ، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته سهار او ماښام دغه دعاء وايه :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ

(اللهم اني .... وقهر الرجال) اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د فكر او غم څخه او پناه

غواړم د عاجزۍ او سستۍ څخه او پناه غواړم

بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ قَالَ

د بخل او نامردۍ څخه او پناه غواړم د پور د غلبې څخه او د خلکو د غلبې څخه. د هغه سړي

فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمِّي وَقَضَى عَنِّي دَيْنِي. رواه ابوداؤد.

بیان دئ چي ما په دې عمل وکړ نو الله تعالی زما غم او فکر لیري کړ او ما ته یې د پور څخه خلاصون راکړ. ابوداؤد.

**تخریج**: ابوداود في السنن ۱۲\۱۹۵، رقم: ۱۵۵۵.

**تشریح**: د عاجزۍ څخه د پناه غوښتلو مطلب دادی چي ددې پناه غواړم چي د طاعت او عبادت کولو او د مصیبت او مشقت پر زغملو باندي قادر سم او ددې څخه عاجز نه سم، د بخل څخه مراد دادی چي زکوة، کفارات او نورو مالیه واجباتو ادا کول ترک کول، سوال کونکي او محتاج د خپل کور د دروازې څخه ستنول، د مېلمه مېلمستیا نه کول، سلام نه کول او د سلام جواب نه ورکول، که یو علمي سوال وکړل سي یا یو دیني مسئله وپوښتل سي نو په هغه باندي د پوهېدو او علم سربېره د هغه علمي سوال جواب نه ورکول او هغه مسئله نه ښودل او د نبي کریم ﷺ د مبارک نامه په اورېدو سره درود شریف نه ویل.

د نامردۍ څخه مراد دادی چي د جهاد پر وخت د دښمنانو څخه په بېرېدو سره د مقابلې همت بایلل همدا رنګه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر موقع جرات او د حق ویني مظاهره نه کول او د رزق وغیره په معامله کي په زړه سره پر الله تعالی توکل او اعتماد نه کول.

﴿۲۳۳۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ جَاءَهُ مُكَاتَبٌ فَقَالَ إِنِّي عَجَزْتُ عَنْ كِتَابَتِي فَأَعِنِّي

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي یو مکاتب هغه ته راغلئ او وه یې ویل زه د خپل لیکل سوي وعدې څخه عاجز یم تاسو زما مرسته وکړئ،

قَالَ أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ عَلَّمَنِيهِنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ عَلَيْكَ

هغه ورته وویل ایا زه تا ته هغه دعاء ونه ښیم کوم چي ما ته رسول الله ﷺ ښودلې وه؟ که پر تا د

مِثْلُ جَبَلٍ كَبِيرٍ دَيْنًا أَدَّاهُ اللّٰهُ عَنْكَ قَالَ قُلْ اللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ

لوی غره په شان قرض وي نو الله تعالی به هغه ادا کړي ته دغه دعاء وايه : (اللهم اكفني ....

حَرَامِكَ وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ. رواه الترمذي والبيهقي في الدعوات الكبير و

سنذكر حديث جابر اذا سمعتم نباح الكلاب في باب تغطية الاواني ان شاء الله تعالى .

عمن سواک) اې الله ! ما د خپل حلال په ذريعه د حرام څخه وساتې ما په خپل فضل او کرم سره د ځان څخه پرته د هر چا څخه مستغني کړې . ترمذي او بيهقي .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۵\ ۵۲۳، رقم: ۳۵۶۳.

**تشريح** : مکاتب هغه غلام ته وايي چي د هغه مالک د هغه سره وليکي چي کله هغه دومره مال يا دومره روپۍ ادا کړي نو هغه وخت به هغه ازاد کړل سي همدارنګه بدل کتابت هغه مال ته ويل کيږي چي د هغه د ادا کولو ذمه داري هغه مکاتب غلام قبوله کړې وي کله چي هغه ټا کلی مال ادا کړي نو هغه وخت به هغه ازاد سي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د مجلس وروسته دعاء

﴿۲۲۳۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا جَلَسَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ په يو ځای کي کښېنستئ

مَجْلِسًا أَوْ صَلَّى تَكَلَّمَ بِكَلِمَاتٍ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْكَلِمَاتِ فَقَالَ إِنْ تَكَلَّمَ بِخَيْرٍ كَانَ

يا لمونځ به يې کوئ نو يو څو کلمې به يې ويلې ، نو ما د رسول الله ﷺ څخه د هغه کلمې په اړه پوښتنه وکړل، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : که د دې کلماتو څخه وړاندي نيکي خبري وسي

طَابِعًا عَلَيْهِنَّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنْ تَكَلَّمَ بِشَرٍّ ذٰلِكَ كَانَ كَفَّارَةً لَهُ سُبْحَانَكَ

نو دا کلمې تر قيامته پوري پر هغه مهر سي او که خرابي خبري وسي نو دا کلمې د هغه کفاره سي (او هغه کلمې دادي) : سبحانک ..... اليک،

اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ . رواه النسائي

اې الله ! ته پاک يې ، او موږ ستا تعريف بيانوو ستا څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته زه ستا

څخه د بخښني غوښتونکی یم او تا ته توبه کارم. نسائي.

**تخریج**: سنن النسائي ۳\۷۲، رقم: ۱۳۴۴.

## د نوي میاشتي لیدلو دعاء

﴿۲۳۳۸﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَأَى

د حضرت قتادة رحمه الله څخه روایت دئ چي ما ته څرګنده سوې ده چي رسول الله ﷺ به میاشت

الْهِلَالَ قَالَ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ آمَنْتُ بِالَّذِي

ولیدل نو دا به یې فرمایل: (هلال خیر و رشد) د خیر او هدایت میاشت ده د خیر او هدایت میاشت ده د خیر او هدایت میاشت ده، ما پر هغه ذات ایمان راوړئ دئ

خَلَقَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ يَقُولُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي ذَهَبَ بِشَهْرِ كَذَا وَجَاءَ بِشَهْرِ كَذَا. رواه ابوداؤد

چي ته یې پیدا کړې یې، درې ورو سته به یې فرمایل: الحمد لله ... کذا، ټول تعریفونه الله تعالی لره دي چي فلانی میاشت یې ختمه کړه او فلانی میاشت یې پیل کړه. ابوداؤد.

**تخریج**: سنن ابي داود ۵\۳۲۶، رقم: ۵۰۹۲.

**تشریح**: لکه څرنګه چي په دارمي کي د ابن عمر رضی الله عنه د روایت څخه څرګنده ده چي رسول الله ﷺ به د نوي میاشتي په لېدو سره الله اکبر ویل بیا درې ورو سته به یې هلال خیر ورشد ...الخ ویل. د خیر او هدایت میاشت ده: د دغه جملې په باره کي دا هم ویل کیږي چي دا دعائیه جمله ده یعني ددې معنی داده چي خدایه! دا میاشت د خیر او هدایت په پیغام سره راغلې ده یا دا هم کېدای سي چي دغه جمله د نیک فال په توګه خبریه وي.

## د غم په وخت کي دعاء

﴿۲۳۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَثُرَ

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي په غم او فکر

هَمُّهُ فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ وَفِي قَبْضَتِكَ نَاصِيَتِي

كي اخته وي نو د غه دعاء دي وايي : (اللهم اني .... و غمي) اې الله ! زه ستا بنده يم ستا د بنده زوى يم ستا د مينځي زوى يم زه ستا په واک کي يم زما د تندي وربښتان ستا په لاس کي دي

بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ

زما په حق کي ستا حکم جاري دئ ستا سو پريکړه زما په حق کي عدل دئ زه ستا سو په نامه سره غواړم د هر هغه نامه په وسيله چي تا خپل د ځان لپاره تاکلى او غوره کړئ دئ

نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِيْ كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَو أَلهمت عبادك أَوِ

يا دي په خپل کتاب کي نازل کړى دئ يا په خپل مخلوقاتو کي دي يو چا ته ښودلى دئ يا تا خپلو بندګانو ته الهام کړئ دئ يا غوره کړي دي وي

اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِيْ مَكْنُوْنِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيْعَ قَلْبِيْ وَجِلَاءَ

خپل ځان په پردو د غيب کي په نزد خپل، ته قرآن زما د زړه پسرلى جوړ کړې او هغه زما د غم او

هَمِّيْ وَغَمِّيْ مَا قَالَهَا عَبْدٌ قَطُّ إِلاَّ أَذْهَبَ اللهُ غَمَّهُ وَأَبْدَلَهُ فَرَجًا " . رواه رزين

فکر ليري کونکى کړې ، کوم بنده چي دغه دعاء ووايي نو الله تعالى به يې غم او فکر ليري کړي او د هغه په بدل کي به خوښي ورکړي . رزين

**تخريج**: رواه رزين.

## د کښته کېدو او ختلو پر وخت تکبير او تسبيح ويل

﴿۲۳۴۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا . رواه البخاري

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي کله به موږ پر يو لوړ ځاى ختلو نو الله اکبر به مو وايه او کله چي به کښته کېدلو نو سبحان الله به مو ويل . بخاري .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۳۵\٦، رقم: ۲۹۹۳.

## د غم ليري کولو دعاء

﴿۲۳۴۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ په يو شي باندي غمجن سو

يقول يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و ليس بمحفوظ .

نو ويل به يې (يا حي يا قيوم برحمتک استغيث) اې هميشه ژونديه! اې هميشه قائم خدايه! زه ستا د رحمت په نامه تا ته فرياد کوم. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او خوندي نه دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۵۰۴، رقم: ۳۵۲۴.

**تشريح**: دا روايت حاکم او ابن سني د ابن مسعود ﷺ څخه نقل کړی دی او حاکم او نسائي د حضرت علي ﷺ څخه په مرفوع طريقه نقل کړی دی چي په هغه کي دا الفاظ هم دي: و يکرر وهو ساجد ياحي يا قيوم، يعني رسول الله ﷺ به په سجده کي يا حي يا قيوم په وار وار ويل.

﴿۲۳۴۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَوْمَ الْخَنْدَقِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي د خندق په ورځ موږ رسول الله ﷺ ته وويل:

مِنْ شَيْءٍ نَقُوْلُهُ فَقَدْ بَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ قَالَ نَعَمْ اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا

اې د الله رسوله! ايا يو داسي دعاء سته چي موږ يې ووايو اوس خو زموږ زړونه حلق ته رارسيدلي دي (يعني په سختو ستونزو کي يو) رسول الله ﷺ وفرمايل: دغه دعاء وايا ست: (اللهم استر عوراتنا و آمن روعاتنا) اې الله! زموږ عيبونه پټ کړې

وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا قَالَ فَضَرَبَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وُجُوْهَ أَعْدَائِهِ بِالرِّيحِ فَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِالرِّيحِ . رواه احمد

او موږ ته د بيري څخه امن راکړې، د راوي بيان دئ چي الله تعالى په تيزي هواء سره د دښمنانو مخونه وګرځول او الله تعالى په تيزي هواء سره هغوئ ته ماته ورکړه. احمد.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۳\۳.

**تشريح**: د خندق د ورځي څخه مراد د خندق غزا ده چي هغه ته غزوه احزاب هم ويل کيږي، دلته الله تعالى مسلمانان په داسي مرسته او نصرت سره ونازول چي د هواء د تيزۍ او تندۍ

چپلاخي د دين پر دښمنانو مسلط سوې چي د هغوئ کتهوي يې د واړولې د هغوئ خيمې يې وکښلې او هغوئ يې په ډول ډول تکليفو او مصيبتو کي په اخته کولو سره تباه کړل.

**بازار ته د ننوتلو دعاء**

﴿۲۳۴۳﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ السُّوْقَ

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ بازار ته تشريف وړئ

قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَأَعُوْذُ بِكَ

نو فرمايل به يې (بسم الله .... صفقة خاسرة) د الله ﷻ په نامه سره زه بازار ته داخليږم اې الله! زه ستا څخه ددې بازار او څه چي په دې بازار کي دي ددې خير غواړم او ستا په ذريعه ددې او

مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أُصِيْبَ فِيْهَا صَفْقَةً خَاسِرَةً.

رواه البيهقي في الدعوات الكبير

کوم څه چي په دې کي دي د هغو د بدۍ څخه پناه غواړم، اې الله! زه ستا په ذريعه ددې څخه پناه غواړم چي زه ددې بازار په معامله کي تاوان پورته کړم. بيهقي.

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

=======

# بَابُ الْاِسْتِعَاذَةِ

## ( د پناه غوښتلو بيان )

په دغه باب کي پر هغه دعاؤ باندي شامل حديثونه نقل سوي دي چي په هغو کي اکثر د ناخوښه او غير شرعي شيانو او د شيطانانو د مکر او فريب څخه د الله تعالى د پناه غوښتلو ذکر سوى دى، په دې باره کي د علماؤ اختلافي قولونه دي چي د کلام الله ويلو څخه اعوذ بالله ويل غوره دي يا استعيذ بالله؟ اکثر حضرات وايي چي استعيذ بالله ويل غوره دي ځکه د قرآن کريم څخه په ظاهره دا معلوميږي لکه چي د الله تعالى ارشاد دى: واذا قرات القرآن فاستعذ بالله، مګر د حديثو او آثارو څخه اعوذ بالله ويل هم ثابت دي ځکه نو ددې په ويلو کي هم څه پروا نسته.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د خدای ﷻ پناه غوښتل

﴿۲۲۲۴﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ وَدَرَكِ الشَّقَاءِ وَسُوْءِ الْقَضَاءِ وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل : د الله په ذريعه پناه غواړئ د ستونزو څخه، د بلا څخه، د بدبختۍ څخه ، د خراب تقدير څخه او د د ښمنانو د خوشحالۍ څخه . بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح ۱۱\۵۱۳، رقم: ٦٦١٦، ومسلم ۱۴\۲۰۸۰، رقم: ۵۳- ۲۷۰۷.

**تشريح**: بلاء هغه حالت ته وايي چي په هغه کي انسان د امتحان او ازمائش د سختي مرحلې سره په مخامخ کېدو سره او د دين دنيا په فتنو او سختيو کي اخته کيږي، د جهد معنی د مشقت او غايت ده نو د جهد البلاء او د بلاء د مشقت څخه مراد د دين او دنيا هغه مصيبتونه دي چي په هغه کي انسان اخته کيږي او هغه يوازي د هغه پر کور باندي نه وي بلکه د هغه مصيبتو پر راتلو باندي صبر هم نه سي کولای.

د خراب تقدير څخه مراد هغه شی دی چي د انسان په حق کي خراب او ناخوښه وي همدارنګه د دښمن د خوشحالۍ څخه پناه د غوښتلو مراد دادی چي د دين او دنيا په هيڅ يو مصيبت کي اخته نه سي چي په هغه سره د ښمن خوشحاله سي ، په هر حال په دغه حديث کي چي د کومو شيانو څخه پناه غوښتل فرمايل سوي دي په هغو کي د فکر کولو څخه معلوميږي چي د دغه حديث په ذريعه يو داسي جامع دعاء ته لارښوونه سوې ده کوم چي پر ټولو دنيوي او ديني مقاصدو او مطالبو باندي حاوي ده.

### رسول الله ﷺ د کومو شيانو څخه پناه غوښتل

﴿۲۲۲۵﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ

حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل : (اللهم اني

اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ

وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ . متفق عليه

... وغلبة الرجال) اې الله ! زه ستا په ذريعه د غم او فكر څخه ، د عجز او سستۍ څخه ، د بزدلۍ څخه ، د بخل څخه ، د پور څخه او د خلكو د غلبې څخه پناه غواړم . بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱\۱۷۸، رقم: ۶۳۶۹، ومسلم ۴\۲۰۷۹، رقم: ۵۰-۲۷۰۶

**د لغاتو حل**: ضَلَع الدين: اى ثقله وشدته. (د پور دروندوالى او سختي).

﴿۲۳۴۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء كول : (اللهم اني ...)

أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَغْرَمِ وَالْمَأْثَمِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ

اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د سستۍ څخه، د سپين ږيرتوب څخه، د پور څخه ، د ګناه څخه ، اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د اور د عذاب څخه

النَّارِ وَفِتْنَةِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى وَشَرِّ فِتْنَةِ

د اور د فتنې څخه ، د قبر د فتنې څخه ، د قبر د عذاب څخه ، د شتمنۍ د فتنې څخه ، د بدۍ څخه

الْفَقْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ اللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ

د مفلسۍ څخه او د مسيح د جال د فتنې څخه، اې الله ! زما ګناهونه د واوري او ژلۍ په اوبو

وَالْبَرَدِ وَنَقِّ قَلْبِي كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ

پريولې او زما زړه داسي پاک کړې لکه سپينه جامه چې د خيرو څخه پاكه وي او زما او زما د

خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ . متفق عليه

ګناهو په منځ كي دومره ليري والى پيدا كړې څومره چې د لوېديځ او ختيځ په منځ كي دئ . بخاري او مسلم .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱\۱۸۱، رقم: ۶۳۶۹، ومسلم ۴\۲۰۷۸، رقم: ۴۹-۲۷۰۵.

**تشريح**: د اور د عذاب څخه پناه غواړم: د دې مطلب دادى چې اې الله ! زه د دې څخه پناه

غواړم چي زما شمېر په هغه خلكو كي وي كوم چي دوږخيان يا كفار دي.

دلته په دې خبره پوهېدل پكار دي چي د الله تعالى په عذاب كي به يوازي كفار اخته وي موحدين چي د خپلو بدو عملونو سزا په آخرت كي تر لاسه كوي نو هغه ته عذاب نه ويل كيږي بلكه هغه تاديب يعني د هغو د ګناهو پريولو او ختمولو لپاره به وي.

د اور د فتنې څخه مراد هغه شيان دي چي د اور او د قبر د عذاب باعث كيږي يعني ګناه او معصيت، د قبر د فتنې څخه مراد دادى چي د منكر او نكير د سوالونو د جواب وركولو پر وخت حواس يافته كېدل.

د قبر د عذاب څخه مراد دادى چي ملائكي هغه خلك په ګرزونو وهي او هغوئ په عذاب كي اخته كوي كوم چي د منكر او نكير د سوالو جواب ورنه كړي، د قبر څخه مراد عالم برزخ دى كه هغه قبر وي يا بل ځاى وي، د دولت د فتنې څخه مراد تكبر او سركښي كول دي مال او زر په حرامه ذريعه تر لاسه كول او هغه د ګناه پر ځاى مصرف كول او پر مال باندي بې ځايه فخر كو، همدارنګه د فقر د فتنې څخه مراد دادى چي پر شتمنو باندي حسد كول د هغوئ د مال او زر هوس او طمع كول په هغه شي نه راضي كېدل كوم چي الله د هغه په قسمت كي ليكلى دى يعني فقر او دا دوه ټول شيان چي د صبر او توكل او قناعت خلاف دي.

دلته دا خبره په خاصه توګه په ذهن كي كښېنوئ چي د رسول الله ﷺ د دغه ټولو شيانو څخه پناه غوښتل په دې معنى نه دي چي نعوذ بالله رسول الله ﷺ په دغه شيانو كي اخته وو يا په دغه شيانو كي د اخته كېدو بېره وه ځكه رسول الله ﷺ معصوم وو الله تعالى په دائمي توګه سره هغه د ټولو شيانو څخه خوندي ساتلى وو بلكه د دغه شيانو څخه غوښتل د امت د تعليم په توګه دي چي د امت خلك د دغه شيانو څخه پناه وغواړي او ځان وساتي.

﴿۲۳۴۷﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به

يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ

دغه دعاء كول: (اللهم اني ....) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د عاجزۍ څخه، د سستۍ څخه، د بزدلۍ څخه، د بخل څخه، د سپين ږيرتوب څخه

وَعَذَابِ الْقَبْرِ اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا

او د قبر د عذاب څخه، اې الله! زما نفس ته پرهيزګاري ورکړې او پاک يې کړې ته په پاکوونکو کې غوره ذات يې، ته زما کارجوړوونکی يې

وَمَوْلَاهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ

او مالک يې، اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د هغه علم څخه چې ګټه نه ورکړي او د هغه زړه څخه چې عاجزي پکښې نه وي، او د

نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا. رواه مسلم

هغه نفس څخه چې د حرص د زياتي، څخه هيڅکله نه مړيږي او د هغه دعاء څخه چې قبوله نه سي. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۴\۲۰۸۸، رقم: ۷۳- ۲۷۲۲.

**تشريح**: د ګټې نه رسوونکي علم څخه د پناه غوښتلو مطلب دادی چې زه د هغه علم څخه پناه غواړم چې پر هغه عمل نه کوم او نورو ته يې نه ښيم، يا ددې څخه هغه علم مراد دی کوم چې د دين لپاره ضروري نه وي همدارنګه هغه علم هم مراد کېدای سي چې د هغه د ترلاسه کولو شريعت اجازه نه وي ورکړې، ابوطالب مکي رحمه الله فرمايي لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د شرک، نفاق او خرابو اعمالو څخه پناه غوښتې ده همدارنګه يې د هغه علم څخه هم پناه غوښتې ده چې د اسلامي عقائدو او اعمالو د نګاه څخه مضر وي او انسان د تقوا او آخرت د ييري د لاري روانېدو پر ځای د دنيا حرص او محبت پر لاره روانوي په کوم سره چې تقوا او د آخرت ييره نه وي هغه د دنيا د دروازې او د نياداري د اقسامو څخه يو قسم دی.

﴿۲۳۴۸﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ په دعاوو کې يوه دعاء دا هم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ. رواه مسلم

وه: (اللهم اني ...) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم ستا د نعمت د زوال څخه ستا د عافيت د بدلون څخه ستا د ناڅاپه عذاب څخه او ستا د ټولو غصو څخه. مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۹۷، رقم: ۹۶- ۲۷۳۹.

﴿۲۳۴۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل: (اللهم اني ..اعمل) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د هغه بدۍ څخه چې ما کړې ده او د هغه بدۍ څخه چې ما نه ده کړې. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\ ۲۰۸۵، رقم: ۶۵- ۲۷۱۶.

**تشريح**: مطلب دادی چې ما کوم خراب کارونه کړي دي د هغو څخه هم پناه غواړم په دې معنی چې د هغه په وجه په عذاب کې اخته نه سم او هغه کارونه راته معاف کړې او کوم کارونه چې ما نه دي کړي د هغه څخه هم پناه غواړم په دې معنی چې په راتلونکي کې داسې کار ونه کړم چې ستا د ناراضۍ او ناخوښۍ باعث وي يا دا چې د خرابو کارو ترک کول خپل کمال ونه ګڼم بلکه هغه يوازې ستا فضل ګڼم.

﴿۲۳۵۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسو الله ﷺ به دغه دعاء ويل: اللهم لک ....

لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّي

يموتون، اې الله! ما ستا فرمانبرداري وکړه او ما ستا په لور رجوع وکړه او ستا په مرسته سره جګړه کوم، اې الله! زه

أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ ان تضلني انت الحي الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ. متفق عليه

ستا د عزت په ذريعه پناه غواړم ،ستا څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نه سته، ددې څخه چې ته ما گمراه کړې، ته ژوندی يې داسې ژوندی چې نه مرې ، حال دا چې انسانان او پيريانان ټول مړه کيدونکي دي . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۱\۱۱۶، رقم: ۶۳۱۷، ومسلم ۴\۲۰۸۶، رقم: ۶۷ - ۲۷۱۷

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۲۳۵۱﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل :

اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ

(اللهم اني ... لا يسمع) اې الله ! زه ستا په ذريعه د څلورو شيانو څخه پناه غواړم : د هغه علم څخه چې گټه نه ورکوي، د هغه زړه څخه چې عاجزي نه کوي،

نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ . رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجة و رواه الترمذي عن عبدالله ابن عمرو والنسائي عنهما .

د هغه نفس څخه چې موړ نه وي، د هغه دعاء څخه چې نه واوريدل سي (يعني قبوله نه سي)، احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه، ترمذي دا روايت د عبدالله ابن عمر او نسائي د دواړو څخه روايت کړی دئ .

**تخريج** : الامام احمد في المسند ۲\ ۳۶۵، وابوداود في السنن ۲\ ۱۹۲، رقم: ۱۵۴۸، وابن ماجه ۱\ ۹۲، رقم: ۲۵۰.

﴿۲۳۵۲﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَتَعَوَّذُ مِنْ خَمْسٍ مِنَ الْجُبْنِ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د پنځو شيانو څخه پناه غوښتل : د

وَالْبُخْلِ وَسُوءِ الْعُمُرِ وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ . رواه ابوداؤد والنسائي

بزدلۍ څخه، د بخل څخه، د عمر د خرابۍ څخه، د سینې د فتنې څخه، (یعني د بد اخلاقۍ او بدې عقیدې څخه) او د قبر د عذاب څخه. ابوداؤد او نسائي.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۱۸۸، رقم: ۱۵۳۹، والنسائي ۸\۲۵۵، رقم: ۵۴۴۳.

**د لغاتو حل**: فتنة الصدر: ای قساوة القلب وحب الدنيا (د زړه سختي او د دنیا مینه).

﴿۲۳۵۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللَّهُمَّ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمایل: (اللهم اني ...اظلم) اې الله! زه

إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ. رواه ابوداؤد والنسائي.

ستا په ذریعه پناه غواړم د مفلسۍ څخه، د نیکیو د کمې څخه یا د شتمنۍ د کمۍ څخه او د ذلت څخه او د دې څخه پناه غواړم چې زه پر چا ظلم وکړم یا څوک پر ما ظلم وکړي. ابوداؤد او نسائي.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۱۹۰، رقم: ۱۵۴۴، والنسائي ۸\۲۶۱، رقم: ۵۴۶۳.

**تشريح**: د محتاجۍ څخه د زړه محتاجي مراد ده یعني زړه د مال، زر حریص وي یا د دې څخه مراد د مال محتاجي دي چې د هغه په وجه د صبر لمن د لاس څخه وځي، حقیقت دا دی چې رسول الله ﷺ د محتاجۍ د فتنې څخه پناه غوښتل که هغه د زړه محتاجي وي یا د مال.

د قلت څخه مراد د نیکیو لږوالی دی او د مال او زرو لږوالی مراد نه دی ځکه رسول الله ﷺ خو خپله په مال او زر کې قلت او کمي درلودل او د مال زیاتوب یې نه خوښوی یا د قلت څخه د مال دومره قلت مراد دی چې هغه د ژوند د بقاء لپاره کافي نه وي چې د هغه په وجه په عبادت کې کوتاهي او تاوان واقع کیږي، ځینې حضرات وایي چې دلته د صبر کمي مراد ده، د ذلت څخه مراد د ګناهو په نتیجه کې ذلت دی چې ګناه کار د الله تعالی په نزد ذلیل دی یا د شتمنو د مفلسۍ یا د غربت په وجه ذلیل کېدل مراد دي.

﴿۲۳۵۴﴾: وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو يَقُولُ اللَّهُمَّ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء فرمایل: (اللهم ....و

إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوءِ الْأَخْلَاقِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

زه ستا په ذريعه د بدبختي ، نفاق او بد اخلاقۍ څخه پناه غواړم .. ابوداؤد او نسائي .

**تخريج**: ابوداود في السنن ٢\١٩١، رقم: ١٥٤٦، والنسائي ٨\٢٦٤، رقم: ٥٤٧١.

**تشريح**: د اختلاف څخه مراد دادی چي د حق مخالفت او ځيني حضراتو ويلي دي چي په خپل مينځ کي اختلاف او عداوت مراد دی ، د نفاق څخه د نفاق ټول قسمونه مراد دي که هغه په عقيده کي وي يا په عمل کي وي مثلا د کفر او شرک تياره او په ژبه سره د اسلام ظاهرول يو چا ته په ژبي سره څه ويل او په زړه کي بل څه ساتل ډېر درواغ ويل په امانت کي خيانت کول او د وعدې خلاف ورزي کول او داسي نور .

﴿۲۳۵۵﴾: وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل : (اللهم اني....البطانة)

أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُوعِ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

اې الله ! زه ستا په ذريعه د لوږي او فاقې څخه پناه غواړم چي بدترين ملګری دئ او د خيانت څخه پناه غواړم چي هغه بدترين دننه عادت دئ . ابوداؤد ، نسائي او ابن ماجه

**تخريج**: ابوداود في السنن ٢\ ١٩١، رقم: ١٥٤٧، والنسائي ٨\ ٢٦٣، رقم: ٥٤٦٨، وابن ماجه ٢\ ١١١٣، رقم: ٣٣٥٤.

**تشريح**: د لوږي څخه يې ځکه پناه وغوښتل چي ددې په وجه د انسان په بدن او حواسو کي کمزوري راځي او د هغه اثر په عبادت کي تاوان وي او په حضور کي د خلل په صورت کي ظاهرېږي نو بدترينه لوږه هغه ده چي د تاوان او خلل باعث سي او اکثر وي کله چي هغه لوږه چي د رياضت او مجاهدې په مقصد سره د اعتدال پر طريقه او د خپل حالت موافق وي بدترينه نه ده بلکه هغه د باطن د صفائي د زړه د نورانيت او د ناروغيو څخه د سلامتيا سبب ده .

د خيانت څخه مراد دادی چي د الله تعالی او د هغه د رسول نافرماني کول او د خلکو مالونه او د هغوئ په رازونو کي بې ايماني او خيانت کول ، د قرآن کريم دغه آيت هم پر دې دلالت کوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ.

ژباړه: اې مؤمنانو ! د نافرمانۍ په ذريعه د الله تعالى او د هغه د رسول په حق كې خيانت نه كوئ او مه په خپلو مالو كې خيانت كوئ.

﴿۲۳۵٦﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دا فرمايل: (اللهم اني ... الاسقام) اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د

الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجذَامِ وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ . رواه ابوداؤد والنسائي.

برص (د فيس ناروغي) څخه د جزام څخه، د ليونتوب څخه د ټولو خرابو ناروغيو څخه ابوداؤد او نسائي.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۱۹۴، رقم: ۱۵۵۴، والنسائي ۸\۲۷۰، رقم: ۵۴۹۳.

**تشريح**: سيئ الاسقام (د خرابو ناروغيو) ددې يادونه د تعميم بعد التخصيص په توګه دى يعني مخكې خو رسول الله ﷺ د څو ناروغيو د نومونو په اخيستلو سره پناه وغوښتل او بيايې په عامه توګه د هرې ناروغۍ مثلا استسقاء، دق، فلج، شوګر او داسې نورو څخه دعاء وغوښتل، ددغه ناروغيو څخه رسول الله ﷺ پناه وغوښتل چې كوم چا ته ددغه ناروغيو څخه يو ناروغي لاحقه سي نو اكثر خلك د هغه سره ناسته ولاړه هم پرېږدي او د فيس او ابرص داسې ناروغي ده چې د هغه په وجه د ناروغ بدن بد معلومېږي همدا رنګه هغه د بدن په اړه د ځان په ډول د انسانانو د صف څخه ووځي بيا دا چې دغه ناروغي د همېشه لپاره پر هغه وي چې هيڅكله نه ښه كيږي پر خلاف د نورو ناروغيو مثلاً د تبې او سردرد او داسې نورو ناروغيو دا حال نه دى په دې كې تكليف كم وي او ثواب هم ډېر وي.

ابن مالك رحمه الله وايي چې ددغه حديث خلاصه داده چې كومه ناروغي داسې وي چې خلك د هغه ناروغ څخه لېرې اوسي نه خپله ناروغ د نورو څخه جلا كيداى سي او نه نور خلك د هغه څخه ګټه تر لاسه كولاى سي او ناروغ د هغه ناروغۍ په وجه د حقوق الله او حقوق العباد د ادا كولو څخه عاجز وي نو ددغه ناروغيو څخه پناه غوښتل مستحب دي.

د علماؤ خيال دادى چې د جزام ناروغي متعدي نه ده يعني دغه ناروغي بل چا ته نه لګيږي مګر اكثر داسې كيږي چې د جزام ناروغ بدن د بل چا سره په لګېدو سره دغه ناروغي پيدا كيږي.

﴿۲۳۵۷﴾: وَعَنْ قُطْبَةَ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت قطبة بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل:

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ وَالْأَعْمَالِ وَالْأَهْوَاءِ. رواه الترمذي

(اللهم اني ... والاهواء) اې الله! زه ستا په ذريعه د بدو اخلاقو څخه، د بدو اعمالو څخه او د بدو غوښتنو څخه پناه غواړم. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۶، رقم: ۳۵۹۱.

**تشريح**: منكر هغه ته وايي چي د شريعت خير پكښي نه وي يا شريعت د هغه بدي بيان كړې وي، د اخلاقو څخه مراد باطني اعمال دي نو د منكر الاخلاق څخه د پناه غوښتلو مطلب دا سو چي اې الله! زه ستا پناه غواړم د زړه د خرابو اعمالو څخه مثلاً كينه، حسد او داسي نورو څخه، د خرابو اعمالو څخه مراد ظاهري خراب اعمال دي او د خرابو خواهشاتو څخه خرابي عقيدې او غلط افكار مراد دي.

## د پناه غوښتلو يو جامع دعاء

﴿۲۳۵۸﴾: وَعَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلِ بْنِ حُمَيْدٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قُلْتُ يَا نبي اللّٰهِ

حضرت شتير بن شكل بن حميد د خپل پلار څخه روايت كوي چي هغه نبي كريم ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله!

عَلِّمْنِي تعويذا تعوذ به قال قُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي وَمِنْ شَرِّ

ما ته يو داسي دعاء وښياست چي د هغه په ذريعه زه پناه غواړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دغه دعاء وايه (اللهم ..... و شر مني) اې الله! زه ستا په ذريعه د بد اوريدو څخه او د بد

بَصَرِي وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي.

ليدو څخه، د بد ويلو څخه، د بد زړه څخه او د شر څخه د مني پناه غواړم. ترمذي، ابوداؤد، او نسائي

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۱۹۳، رقم: ۱۵۵۱، والترمذي ۵\۴۸۹، رقم: ۳۴۹۲، والنسائي ۸\۲۵۵، رقم: ۵۴۴۴.

**رسول الله ﷺ د هلاکو پېښو نه پناه غوښتل**

(۲۳۰۰) وَعَنْ اَبِي الْيُسْرِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو

حضرت ابو اليسر ﷺ نه روايت دی چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء فرمايله.

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَدْمِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنَ التَّرَدِّي وَاَعُوْذُبِكَ مِنَ الْغَرَقِ

اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د سراى يا خونې د نړېدو نه او د ... نړېدو نه او د غرقېدو نه

وَالْحَرَقِ وَالْهَرَمِ وَاَعُوْذُبِكَ اَنْ يَتَخَبَّطَنِي الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَاَعُوْذُبِكَ

او د سوځېدو نه او د ډېر سپين ږيرتوب نه او پناه غواړم د مرګ په وخت کي د شيطان د پرېشانۍ نه او پناه غواړم

اَنْ اَمُوْتَ فِيْ سَبِيْلِكَ مُدْبِرًا وَاَعُوْذُبِكَ اَنْ اَمُوْتَ لَدِيْغًا. رواه ابوداؤد

والنسائي وزاد في رواية اخرى والغم.

... نه چي ستا په لار کي د جګړې نه وتښتم او ووژل سم. او پناه غواړم د دې نه چي د ... په ... مړ سم. ابوداؤد او نسائي او په يوه روايت کي دا الفاظ هم ... دي چي زه د غم نه پناه غواړم

**تخريج**: ابوداؤد في السنن ۲/ ۱۹۲، رقم: ۱۵۵۲. والنسائي ۸/ ۲۸۳، رقم: ۵۵۳۲.

**تشريح**: که چېرې د ... سوال پيدا سي چي په حديث کي ذکر سوي شيان ځيني داسي دي چي د ... نه په سبب د مرګ واقع کېدو په صورت کي د شهادت درجه تر لاسه کېږي نو بيا رسول الله ﷺ د هغو نه ولې پناه غوښتل؟ د دې جواب دا دی چي په دغه شيانو کي د اخته کېدو په وجه ... پرېشاني ... اخته کېږي او کېداى سي چي په داسي سخت وخت کي يو څوک د صبر ... شيطان ته موقع په لاس ورسي او په غولولو سره يې ديني او اخروي سعادتونه ... کړي نو رسول الله ﷺ د هغو نه هم پناه وغوښتل تر څو د امت خلک د دغه شيانو نه په ... پناه ...

... سپين ږيرتوب نه د پناه غوښتنو مطلب دا دی چي د سپين ږيرتوب د خرابۍ نه چي په هغه ... قوت کي ... سي پاتي او بې معنی خبرې د خولې نه وځي او په عبادت

کي سستي راسي ، نقل سوي دي چي کوم څوک قرآن کريم په يادوي هغه ددغه آفاتو څخه خوندي وي .

## د سپورمۍ د بې نوره کېدو څخه پناه

﴿۲۳۶۰﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَعِيذُوا بِاللّٰهِ

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي تاسو پناه غواړئ د الله

مِنْ طَمَعٍ يَهْدِي إِلَى طَبْعٍ . رواه احمد والبيهقي في الدعوات الكبير .

تعالى په ذريعه د طمع څخه پناه غواړئ چي د عيب په لور لاربښوونه کوي . احمد او بيهقي

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۵\۲۳۲ .

**تشريح**: د طمع معنى ده د الله تعالى د مخلوق څخه د مال اميد درلودل او د طبع اصلي معنى توري ته زنګ لګېدل مګر دلته ددغه لفظ څخه مراد عيب دى نو د پورتني حديث سره سم د طمع څخه پناه غوښتلو مفهوم دادى چي زه د الله تعالى پناه غواړم دطمعي څخه چي ما دغه مقام ته ورسوي چي زما ژوند عيب داره سي او دا عيب دى چي د دنيا والا په مخکي تواضع او خاکساري اختيار سي د متکبرينو او بدعملو شتمنو خلکو په مخکي خپل ځان ذليل کول د ريا لپاره يو کار کول د شتمنو خلکو بې ځايه تعريف او د هغوئ چوپړ کول او دا ډول هغه ذليل حرکتونه چي د طمع په حالت کي رامنځته کيږي .

خلاصه دا چي د طمع څخه پرهيز کول ضروري دي ځکه چي دا هغه حقيره جذبه ده چي د انسان د نفس ، عزت، خپلواکۍ او ضمير لپاره ډېر لوی عيب دی چي د هغه په وجه انسان نه يوازي دا چي په دنيوي توګه ذليل او حقير سي بلکه په ديني توګه هم د هغه روح د نمو او پاکۍ لپاره د يو ناسور څخه کم نه وي چي کرار کرار د دين په ټولو کونجانو کي په مختلفو طريقو سره ګډون کوي ځکه ويل سوي دي چي طمع د دين د فساد بيخ دی او پرهيزګاري د دين د اصلاح ذريعه ده .

شيخ علي متقي رحمه الله فرمايي چي طمع دې ته وايي چي د هغه مال اميد ولري چي د هغه په تر لاسه کولو کي شک وي که د هغه تر لاسه کول يقيني وي لکه پر يو چا باندي حق وي يا يو چا وعده ورسره کړې وي يا د چا سره دومره مينه لري چي د هغه هر خواهش پوره کول نو په داسي صورت کي د هغه څخه توقع درلودلو ته طمع نه وايي .

﴿۲۳۶۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ فَقَالَ يَا

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ میاشتي ته وکتل او ما ته یې

عَائِشَةُ اسْتَعِيذِي بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ هَذَا فَإِنَّ هَذَا هُوَ الْغَاسِقُ إِذَا وَقَبَ . رواه الترمذي

وفرمایل : اې عائشې ! د الله تعالى په ذریعه ددې د شر څخه پناه غواړه ځکه چي دا تاریکي خپرونکی ده هر کله چي بې نوره سي . ترمذي

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\۴۲۱، رقم: ۳۳۶۶.

**تشریح**: د قرآن کریم په سورت قل اعوذبرب الفلق کي چیري چي د نورو شیانو څخه د پناه غوښتلو حکم سوی دی نو د غاسق اذا وقب ذکر هم دی یعني پناه غواړئ د تیارو خپرونکو د شر څخه کله چي هغه بې نوره سي، د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک د غاسق اذا وقب وضاحت وفرمایه چي ددې څخه مراد سپوږمۍ ده کله چي یې تندره ونیسي نو ددې څخه د پناه غوښتلو سبب دادی چي ددې په تندره نیولو کي د الله تعالى دنښو څخه یوه نښه ده چي دا د بلاګانو نازلېدو ته اشاره ورکوي، په حدیثو کي راځي چي کله سپوږمۍ تندره نیول نو هغه وخت به رسول الله ﷺ په ببره کي ودرېدی، مګر دا خبره باید په ذهن کي وي چي د بلاوو د نازلېدو څخه هغه بلاوي او حادثات مراد نه دي کوم چي منجم یا بدعقیدې والا خلک یې د لمر او سپوږمۍ په تندره نیولو کي ښیي ځکه د اهل اسلام په نزد ددې هیڅ اعتبار نه سته بلکه ددې څخه مراد د عبرت مواقع دي مثلا کله چي سپوږمۍ تندره ونیسي نو هغه د یو لوی عبرت وخت دی چي هر انسان ته احسا سورکوي چي کله سپوږمۍ سره د خپل نورایت خپل نور ضائع کړي او هغه ته د خپل نور پر بقاء قدرت حاصل نه وي نو داسي نه وي چي زما ایمان او زما د عمل نور هم ولاړ سي ځکه نو ددې څخه د پناه غوښتلو حکم سوی دی ، ددغه حدیث څخه معلومه سوه چي د غاسق اذا وقب څخه مراد د سپوږمۍ تندره نیول دي مګر اکثر مفسرین د من شرغاسق اذا وقب په تفسیر کي وایي چي ددې څخه مراد تیاره شپه ده . والله اعلم.

**د نفس د بدوالي څخه پناه**

﴿۲۳۶۲﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

: حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زما پلار حصين ته (د اسلام

لِأَبِي يَا حُصَيْنُ كَمْ تَعْبُدُ الْيَوْمَ إِلَهًا قَالَ أَبِي سَبْعَةً سِتَّةً فِي الْأَرْضِ وَوَاحِدًا فِي

راوړلو څخه وړاندي) وفرمايل : اې حصين ! ته نن د څومره خدايانو عبادت کوې ؟ زما پلار ورته وويل: شپږ د مځکي د معبودانو (بتانو) او يو

السَّمَاءِ قَالَ فَأَيُّهُمْ تَعُدُّ لِرَغْبَتِكَ وَرَهْبَتِكَ قَالَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ قَالَ يَا

د آسمان د معبود، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې حصين ! په دې معبودانو کي ته د چا څخه د خير اميد لرې او د چا څخه بيرېږې ؟ زما پلار ورته وويل : د هغه چا څخه چي په آسمان کي دئ

حُصَيْنُ أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَسْلَمْتَ عَلَّمْتُكَ كَلِمَتَيْنِ تَنْفَعَانِكَ قَالَ فَلَمَّا أَسْلَمَ حُصَيْنٌ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې حصين! که ته اسلام قبول کړې نو زه به تا ته دوې کلمې وښيم چي تا ته به ګټه ورسوي ، د عمران بيان دئ چي کله حصين اسلام قبول کړ

قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ عَلِّمْنِيَ الْكَلِمَتَيْنِ اللَّتَيْنِ وَعَدْتَنِي فَقَالَ قُلْ اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي

نو نبي کريم ﷺ ته يې عرض وکړ اې د الله رسوله ! ما ته هغه دوې کلمې وښيه چي تا سو يې وعده کړې وه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته دغه دعاء وايه : (اللهم .... من شر نفسي)

رُشْدِي وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي . رواه الترمذي

اې الله ! زما په زړه کي هدايت واچوې او زما د نفس د شر څخه پناه راکړې . ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۴۸۵، رقم: ۳۴۸۳.

**تشريح**: او يو په آسمان کي دی: دا خبره د حضرت حصين رضي الله عنه د خپل ګمان مطابق وه ځکه چي هغه د ايمان او اسلام په دولت تر دغه وخته برخمن نه وو هغه ته څه معلومه وه چي د الله تعالی لپاره يو ځای ټاکلی نه دی هغه خو د مځکي او آسمان پر يوه يوه ذره باندي حاوي دی د هغه ذات د يو مقام او ځای سره مختص نه دی يا به دا وويل سي چي د هغه د دغه خبري مفهوم دا وو چي هغه الله چي د هغه په آسمان کي ملائکي عبادت کوي.

## په خوب کي د بيري څخه پناه

﴿۲۳۶۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ

وفرمايل: په تاسو کي چي څوک په خوب کي بيريږي نو هغه ته پکار ده چي دا دعاء ووايي: (اعوذ بكلمات الله.... يحضرون) پناه غواړم د الله د پوره کلماتو په ذريعه

مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ

د هغه د غضب او عذاب څخه او د هغه د بندګانو د شر څخه او د شيطان د وسوسو. څخه او ددې څخه چي شيطان ما ته راسي،

فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ ويعلمها مَنْ بَلَغَ مِنْ وَلَدِهِ وَمَنْ لَمْ

نو هغه ته به شيطان هيڅکله تاوان ونه رسوي، عبدالله بن عمرو ﷠ به دغه دعاء خپلو زامنو ته ښودل يعني بالغ هلکانو ته به يې يادول

يَبْلُغْ مِنْهُمْ كَتَبَهَا فِي صَكٍّ ثُمَّ عَلَّقَهَا فِي عُنُقِهِ. رواه ابوداؤد والترمذي و هذا لفظه

او نابالغو ته به يې ليکئ او په غاړه کي به يې وراچوئ. ابوداؤد او ترمذي.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲۱۸\۴، رقم: ۳۸۹۳، والترمذي ۵۰۶\۵، رقم: ۳۵۲۸.

**تشريح**: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي په خوب کي بېرېدل د شيطان تصرف او د هغه د شرارت په وجه وي او دا مسئله هم معلومه سوه چي په غاړه کي تعويذ اچول جائز دي، په دې مسئله کي که څه هم د علماؤ اختلاف دی مګر زيات صحيح او مختاره خبره داده چي حرزات په غاړه کي اچول حرام او مکروه دي مګر داسي تعويذ په غاړه کول جائز دي چي په هغه کي د قرآن کريم آياتونه يا د الله تعالی اسماء مبارک ليکلي وي.

## د جنت غوښتنه او د دوږخ څخه پناه

﴿۲۳۶۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ اللهَ

د حضرت انس ﷠ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله تعالی څخه درې واره

الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ الْجَنَّةُ اللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَمَنْ اسْتَجَارَ مِنَ النَّارِ

جنت وغواړي نو جنت وايي اې الله! دا كس په جنت كي داخل كړې او څوک چې د دوزخ څخه درې واره

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ النَّارُ اللّٰهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ. رواه الترمذي و النسائي.

پناه وغواړي نو دوزخ وايي اې الله! دى د اور څخه وساتې. ترمذي او نسائي

**تخريج**: الترمذي في السنن ۴\۶۰۳، رقم: ۲۵۷۲، والنسائي ۸\۲۷۹، رقم: ۵۵۲۱.

**تشريح**: درې واره: كه په يوه مجلس كي دغه دعاء وكړل سي او كه په څو مجلسو كي مګر ضروري ده چي د دعاء پر وخت حضور، اخلاص، تضرع او عاجزي همنوا وي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د جادو وغيره څخه د ساتني دعاء

﴿۲۳۶۵﴾: وَعَنِ الْقَعْقَاعِ أَنَّ كَعْبَ الْأَحْبَارِ قَالَ لَوْلَا كَلِمَاتٌ أَقُولُهُنَّ لَجَعَلَتْنِي

د حضرت قعقاع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كعب احبار وويل كه ما دا دعاء نه ويلاى نو

يَهُودُ حِمَارًا فَقِيلَ لَهُ وَمَا هُنَّ فَقَالَ أَعُوذُ بِوَجْهِ اللّٰهِ الْعَظِيمِ الَّذِي لَيْسَ

يهوديانو به زه څخه خر جوړ كړى واى، پوښتنه وسول هغه كومه دعاء ده؟ هغه وويل: (اعوذ بوجه.... و ذرا و برا) پناه غواړم د الله تعالى د لوى ذات په ذريعه چي تر هغه

شَيْءٌ أَعْظَمَ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ

هيڅوک لوى ذات نسته او د هغه د پوره كلمو په ذريعه چي د هغه څخه هيڅ نيكي او هيڅ بدي نه تيرېږي

وَبِأَسْمَاءِ اللّٰهِ الْحُسْنَى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَبَرَأَ. رواه مالك

او د الله تعالى د هغه نومانو په ذريعه كوم چي ما ته معلوم دي او كوم چي ما ته معلوم نه دي د هغه شي د بدى څخه چي پيدا يې كړل او تار په تار يې كړل او برابر يې كړل يعني كوم شيان چي يې متناسب الاعضاء جوړ كړل. مالک.

**تخريج**: الامام مالک في الموطا ۲\۹۵۱، رقم: ۱۲.

**تشريح**: کعب الاحبار د يهودو د قوم لوی پوه سړی وو که څه هم د رسول الله ﷺ په زمانه کي وو مګر د رسول الله ﷺ ليدنه او صحبت د شرف څخه محروم پاته سو بيا وروسته د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي د ايمان او اسلام په دولت برخمن سو ، د کعب بيان دی چي کله ما ايمان راوړ او مسلمان سوم نو يهود زما مخالف سول هغوئ زما په باره کي دومره کينه درلودل که د هغوئ حرکتونه کامياب سوی وای او ما دغه دعاء نه ويلای نو هغوئ به په جادو کولو سره زما څخه خرجوړ کړی وای يعني زه به يې ذليل ، بې عقله او د خره په ډول مسلوب العقل کړی وای .

د الله تعالی پوره کلمات: ددې څخه مراد قرآن کريم دی ، د هغه څخه د تجاوز کولو معنی داده چي د هغه ثواب او عذاب څخه هيڅوک هم خارج نه وي مثلا الله تعالی په قرآن کريم کي چي کوم چا ته د اجر او ثواب د ورکولو وعده کړې ده يا د کوم چا چي يې په عذاب کي د اخته کېدو فيصله کړې ده يا د کومو شيانو بيان يې چي کړی دی هغه ټول بلا شبه پوره کيږي او په هغو کي څه تغير او تبديل ممکن نه دی يا د الله تعالی د کلماتو څخه مراد د الله تعالی صفات او علوم دی چي د هغه څخه هيڅ شی وتلی نه دی دا ټول يې محيط کړي دي .

## د کفر څخه پناه غوښتل

﴿۲۳۶۶﴾: وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ كَانَ أَبِي يَقُولُ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ اللَّهُمَّ

د حضرت مسلم بن ابي بكرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زما پلار به د هر لمانځه وروسته دغه دعاء

إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ فَكُنْتُ أَقُولُهُنَّ فَقَالَ أَبِي أَيْ

ويل : (اللهم اني ....وعذاب القبر) اې الله ! زه ستا په ذريعه د کفر څخه، د مفلسی څخه او د قبر د عذاب څخه پناه غواړم، نو ما هم دا دعاء ويل پيل کړل زما پلار را څخه پوښتنه وکړه اې

بُنَيَّ عَمَّنْ أَخَذْتَ هَذَا قُلْتُ عَنْكَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زويه ! دغه دعاء تا د چا څخه زده کړې ده ما ورته وويل :ستاسو څخه، نو هغه راته وويل : دغه

كَانَ يَقُولُهُنَّ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ . رواه النسائي والترمذي الا انه لم يذكر في دبر الصلوة و روي احمد لفظ الحديث و عنده في دبر كل صلوة .

دعاء به د هر لمانځه وروسته رسول الله ﷺ فرمایل، ددې روایت امام نسائي او ترمذي کړې دئ مګر دا چې د لمانځه وروسته دا الفاظ ذکر نه دي او د امام احمد په روایت کې دا الفاظ هم سته.

**تخريج**: سنن النسائي ٣\٧٣، رقم: ١٣۴٧، والترمذي ۵\۴۹۴، رقم: ٣۵٠٣، واحمد في المسند ۵\۴۴.

﴿٢٣٦٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چې دغه دعاء به

أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَتَعْدِلُ الْكُفْرُ بِالدَّيْنِ

يې ويل: (اعوذبالله....والدين) زه د کفر او پور څخه د الله تعالى پناه غواړم، يو سړي پوښتنه وکړه اې دالله رسوله! ايا تاسو کفر د پور سره سم ګڼئ؟

قَالَ نَعَمْ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ قَالَ رَجُلٌ وَيُعْدَلَانِ قَالَ نَعَمْ. رواه النسائي.

رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، او په يوه روایت کې دا الفاظ دي: (اللهم اني اعوذبک من الکفر والفقر) يو سړي وويل: ايا کفر او فقر سره برابر دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو. نسائي.

**تخريج**: سنن النسائي ٨\٢٦۴، رقم: ۵۴٧٣.

**تشريح**: کفر او پور ته يې برابر ځکه وفرمایل چې د پور په وجه انسان درواغ وايي، چمبازي کوي او د وعدې خلاف ورزي کوي او ظاهره ده چې د فقر په وجه انسان بې صبري کوي د خپل قسمت څخه ناراضه کيږي د تقدير څخه ګيله کوي او د خپل ژبي څخه داسي الفاظ راباسي کوم چې د کفر باعث وي.

===========

# بَابُ جَامِعِ الدّعَاءِ

# جامع دعاوي

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د رسول الله ﷺ د بخښني دعاء

﴿۲۳۶۸﴾: عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ كَانَ

د حضرت ابو موسى اشعري ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل :

يَدْعُو بِهَذَا الدُّعَاءِ اللهم اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي وَمَا

( اللهم اغفرلي .... على كل شئ قدير) اې الله ! زما خطا و بخښې ، زما د ناپوهۍ په كارو كي زما

أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّيْ وَهَزْلِي و خَطَائِيْ وَعَمْدِيْ وَكُلُّ ذٰلِكَ

زياتي او هغه ګناه چي د هغه په اړه زما څخه تاته زيات خبر دئ، اې الله ! زما هغه خبره و بخښې چي ما په اراده او پوهه سره كړې ده او هغه خبره چي ما په خندا او شوق سره كړې ده او هغه خبري چي زما څخه په هيره سوي دي او هغه چي ما په قصد سره كړي دي او دا ټولي خبري

عِنْدِي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ أَنْتَ

په ما كښي دي ، اې الله ! و بخښې زما مخكني او وروستني ګناهونه، پټ ګناهونه او ښكاره ګناهونه

اَعْلَمُ بِهِ مِنِّيْ اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَاَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . متفق عليه

او هغه ګناهونه چي د هغو زما څخه تاته زيات خبر دئ، ته وړاندي كونكى او وروسته كونكى يې او ته پر هر شي توانا يې . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في السنن (فتح الباري): ۱۱\۱۹۶، رقم: ۶۳۹۸، ومسلم ۴\۲۰۸۷، رقم: ۷۰- ۲۷۱۹.

**تشريح** : وكل ذالک عندي: (او دا ټولي خبري په ما كي سته) دغه الفاظ رسول الله ﷺ د الله تعالى په دربار كي د خپل عجز او خاكسارۍ او د خپل عبديت د اظهار له كبله وويل ، كنه د رسول الله ﷺ ذات مبارک خو د ټولو ګناهو او ټولو خطاوو څخه پاک وو او په حقيقت كي دا د

امت لپاره تعلیم دی چې دا د ول د الله تعالی څخه بخښنه او مغفرت غوښتل کیږي .

## د دین او دنیا لپاره دعاء

﴿۲۲۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمایل :

اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا

(اللهم اصلح .....من کل شر) اې الله ! زما دین درست کړې چې زما د کارو ساتونکی دئ، او زما دنیا درسته کړې هغه دنیا چې په هغه کې

مَعَاشِي وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ

زما معاش دئ او زما آخرت درست کړې چې هغه ته زما تلل دي او زما ژوند زیات کړې چې د

خَيْرٍ وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ . رواه مسلم

نیکی سبب سي او مرګ زما لپاره د هري بدی څخه د راحت او آرام سبب جوړ کړې . مسلم .

**تخریج**: مسلم في الموضع نفسه، رقم: ۷۱- ۲۷۲۰.

**تشریح**: د دنیا صحیح کېدل او اصلاح په هغه رزق سره کیږي کوم چې په حلالو طریقو او غیر مشتبه وسایلو سره تر لاسه سوی وي په دغه رزق سره په ښه ډول ګزاره کیږي د طاعت قوت تر لاسه کیږي زړه ته سکون او اطمینان تر لاسه کیږي او په عبادت کي د خلل او تشویش څخه خالي وي ، د آخرت صحیح کېدل او اصطلاح د نیکو عقیدو او ښه اعمالو پر توفیق باندي کیږي چې د عذاب څخه د ساتني سبب او د هغه جهان سعادتونو ته د رسیدو ذریعه ده .

د دنیا او آخرت د الفاظو مطلب دادی چې زما د ژوند خاتمه پر کلمه شهادت، ښه عقیدې او توبه کولو څخه وروسته وي چې زما مرګ د دنیا د مشقتونو او مصیبتو څخه د خلاصون او د آخرت د راحت د تر لاسه کولو باعث سي .

## د هدایت دعاء

﴿۲۲۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به

يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعِفَافَ وَالْغِنَى. رواه مسلم

فرمایل (اللهم ...تر ...والغنى پوري) اې الله ! زه ستا څخه هدايت، پرهيزګاري ، پاكدامني او غنا غواړم، مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۴\۲۰۸۷، رقم: ۷۲- ۲۷۲۱.

**تشريح**: د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي كله ته د الله تعالى په دربار كي د هدايت د طلب لپاره خواست وكړې نو ستا په ذهن كي دا خبره كېدل پكار دي چي ما ته هغه لاربنوونه او هدايت حاصل سي كوم چي پر سيده لاره باندي تلونكي ته حاصلېږي او كله چي ته راستي غواړې نو دا خيال ساته چي ما ته داسي راستي او استقامت تر لاسه سي لكه څرنګه چي غشی سيده وي ، مقصد دادئ چي د آخري درجې او مكمل هدايت طلب كوه چي الله تعالى دي په پوره هدايت او مكمل راستي سره ونازوي .

﴿۲۳۷۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ اللّٰهُمَّ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل : ته ووايه : (اللهم

اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ وَبِالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ .

رواه مسلم

اهدني وسددني) اې الله ! ما ته هدايت وكړې او ما سيده كړې، هر كله چي ته هدايت وغواړې نو د لاري سيده تلل په خيال كي ساته او هر كله چي د سيده والي سوال كوې نو د غشي د سم والي خيال كوه . مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصيح ۴\۲۰۹۰، رقم: ۷۸، ۲۶۹۷.

## د نوي مسلمان دعاء

﴿۲۳۷۲﴾: وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ

حضرت ابو مالک اشجعي رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چي كله به يو سړي اسلام قبول كړ

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ اللّٰهُمَّ

نو رسول الله ﷺ به هغه ته لمونځ ښودئ او بیا به یې حکم ورکوئ چې په دغه تورو سره دعاء کوه: (اللهم..... وارزقني) اې الله!

اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي. رواه مسلم

ما و بخښې پر ما رحم وکړې، ما ته هدایت وکړې، ما په عافیت کې ولرې او رزق را کړې. مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۴\۲۰۷۳، رقم: ۳۵-۲۶۹۷.

## د دنیا او اخرت د ټولو مقصدو دعاء

﴿۲۳۷۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ. متفق علیه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به ډیر وخت دغه دعاء کول: (اللهم ربنا ..... النار) اې الله! موږ ته په دنیا کې هم نیکي را کړې او په آخرت کې هم او موږ د دوږخ د اور څخه خوندي کړې. بخاري او مسلم

**تخریج**: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۱۱\۱۹۱، رقم: ۶۳۸۹، ومسلم ۴\۲۰۷۰، رقم: ۲۶-۲۶۹۰.

**تشریح**: رسول الله ﷺ دغه دعاء ځکه ډېره غوښتل چې دا یو جامع دعاء ده چې په هغه کې د دین او دنیا ټول مقاصد سته او بیا دا چې دغه دعاء په قرآن کریم کې نازل سوې ده.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### یو جامع دعاء

﴿۲۳۷۴﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو يَقُولُ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به داسي دعاء ویل:

رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ

(رب اعني.... سخیمة صدري) اې زما پروردګاره! زما مرسته وکړې او زما خلاف د چا مرسته مه کوې، ما ته فتح را کړې او زما په مقابل کې بل چا ته فتح مه ورکوې، او زما لپاره تدبیر وکړې او زما خلاف د چا لپاره تدبیر مه کوې

وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الْهُدَى لِي وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا

او ما ته هدايت وكړې او زما لپاره پر سمه لار تلل آسان كړې د هغه چا خلاف زما مرسته وكړې چا چې پر ما زياتي كړې وي، اې پروردګاره! ما خپل شكر ګزار جوړ كړې،

لَكَ ذَكَّارًا لَكَ رَهَّابًا لَكَ مِطْوَاعًا لَكَ مُخْبِتًا إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيبًا رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي

خپل ذكر كونكى مي جوړ كړې، د خپل ذات څخه بيرېدونكى مي جوړ كړې، خپل فرمانبردار مي جوړ كړې خپل په لور عاجزي كونكى، زارى كونكي، او رجوع كونكى مي جوړ كړې، اې پروردګاره! زما توبه قبوله كړې

وَاغْسِلْ حَوْبَتِي وَأَجِبْ دَعْوَتِي وَثَبِّتْ حُجَّتِي وَسَدِّدْ لِسَانِي وَاهْدِ قَلْبِي وَاسْلُلْ

زما ګناهونه ورژوې زما دعاء قبوله كړې زما حجت او دليل باقي وساتې زما توبه رېښتوني جوړه كړې، زما زړه ته هدايت را كړې

سَخِيمَةَ صَدْرِي. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

او زما د سينې تورولى وباسې. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\ ۵۱۷، رقم ۳۵۵۱، وابوداود ۲\ ۱۷۵، رقم: ۱۵۱۰، وابن ماجه ۲\ ۱۲۵۹، رقم: ۳۸۳۰.

**د لغاتو حل**: سخيمة: اى غشه وغله وحقده: (تورولى).

**تشريح**: د مكر معنى د چم ده مكر كله چي د دغه لفظ نسبت الله تعالى ته كيږي نو ددې څخه مراد د دين او د اسلام پر دښمنانو باندې داسي ځاى څخه د مصيبتو نازلېدل چيري چي ګمان هم نه كيږي، د سينې د تورو الي څخه مراد كينه، بغض، حسد او دا ډول نور خصلتونه دي.

**د ايمان وروسته تر عافيت لوى دولت نسته**

﴿۲۲۷۵﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ

د حضرت ابو بكر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي (يوځل) رسول الله ﷺ پر منبر ودريدئ

ثُمَّ بَكَى فَقَالَ اسْأَلُوا اللّٰهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ بَعْدَ الْيَقِينِ

او بیا یې وژړل، د هغه وروسته یې وفرمایل: د الله تعالی څخه بخښنه او عافیت غواړئ ځکه چې د ایمان راوړلو څخه وروسته

خَيْرًا مِنَ الْعَافِيَةِ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب اسنادا .

تر عافیت غوره شی هیڅ ته نه دئ ورکړل سوی . ترمذي، ابن ماجة، ترمذي ویلي دي دا حدیث د اسناد په اعتبار حسن غریب دئ.

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\۵۲۱، رقم: ۳۵۵۸، وابن ماجه ۲\۱۲۶۵، رقم: ۳۸۴۹.

**تشریح**: رسول الله ﷺ پوهېدی چې زما د امت افراد به د نفس په خواهشاتو هوس او حرص کي اخته وي ځکه رسول الله ﷺ د دغه تصور سره هم په ژړا سو چې زما د امت خلک یې د ایمان او یقین په دولت د اسلام هدایت او زما روزنه، ایثار او استغناء، دیانت او امانت، عزت او خپلواکي، پاک لمني او پرهیزګاری پر معیار نه یوازي اېله کړل بلکه هغوئ د اخلاق حمیده او خصائل شریفه بذات خود معیار جوړ کړل، یو داسي وخت به هم راسي چې د دغه امت خلک به د شیطان په مکر او فریب کي اخته سي او د خپل نفس د خواهشاتو په تابع کېدو سره به د حرص او هوس غلام جوړ سي، رسول الله ﷺ د رشد او هدایت د منبر څخه دا حکم وفرمایه چې خلک د الله تعالی څخه د خپل مغفرت او بخښني طلب وکړي او عافیت وغواړي چې الله تعالی هغوئ د آفاتو او مصیبتو څخه خوندي او په امان کړي، د عافیت معنی ده سلامتي تر لاسه کېدل په دین کي د فتنې څخه او د بدن د خرابو ناروغیو او سختیو څخه په امن کېدل.

## تر ټولو غوره دعاء د عافیت غوښتنه ده

﴿۲۳۷۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چې ای

رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ قَالَ سَلْ رَبَّكَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا

د الله رسوله! کومه دعاء غوره ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د خپل پروردګار څخه عافیت او د دین او دنیا معافات غواړه،

وَالْآخِرَةِ ثُمَّ أَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ فَقَالَ

دويمه ورځ هغه سړی بیا راغلئ او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! کومه دعاء غوره ده ؟ رسول الله ﷺ هغه جواب ورکړ

لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ أَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ قَالَ فَإِذَا أُعْطِيتَ

کوم چې یې وړاندې ورکړی وو، دریمه ورځ بیا هغه سړی راغلی او همدغه پوښتنه یې وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هر کله چې تر لاسه سي

الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَقَدْ أَفْلَحْتَ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب اسنادا .

تاته عافیت او ددین معافات نو تا خلاصون تر لاسه کړ . ترمذي، ابن ماجة ، او ترمذي ویلي دي دا حدیث د اسناد په اعتبار حسن غریب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۹۹، رقم: ۳۵۱۲، وابن ماجه ۲\۱۲۶۵، رقم: ۳۸۴۸.

### د الله ﷻ د محبت لپاره دعاء

﴿۲۳۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن یزید الخطمي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به په دعاء کې داسې

وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي دُعَائِهِ اللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يَنْفَعُنِي حُبُّهُ

فرمایل: (اللهم ارزقني...... فيما تحب) اې الله ! ما ته خپل محبت راکړې او د هغه چا مینه راکړې چې د هغه محبت ما ته ګټه ورسوي،

عِنْدَكَ اللّٰهُمَّ مَا رَزَقْتَنِي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ اللّٰهُمَّ وَمَا

اې الله ! څه چې تا ما ته د هغه شي څخه راکړي دي چې هغه زه خوښوم نو زما د قوت ذریعه یې جوړه کړې . په هغه خبره کې چې ته یې خوښوې، اې الله! څه چې تا

زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغًا لِي فِيمَا تُحِبُّ . رواه الترمذي

د هغه شیانو څخه چي هغه زه خوښوم منع کړي دي نو ته هغه شی زما د فراغت سبب وګرځوې په هغه شي کي چي ته یې خوښوې. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۸۸، رقم: ۳۴۹۱.

**تشريح**: د دعاء د آخري الفاظو مطلب دادی چي تا د مال او زر څخه ما ته څه نه دي راکړي هغه زما لپاره په خپل عبادت کي د بوختیا سبب جوړ کړې چي ما ته د قناعت او توکل دولت په برخه سي او هغه مال او زر چي ما ته تر لاسه سوې نه دي د هغه څخه په بې پروا کېدو پر ته مانع ستا په عبادت کي بوخت اوسم او خلاصه د دعاء د آخري دوو جملو داده که ته ما ته د دنیا نعمتونه راکړې نو بیا د هغه د شکر ادا کولو توفیق هم راکړې چي زما شمېر د شکر کونکو څخه سي او که ما ته هغه نعمتونه حاصل نه وي نو زما زړه فارغ کړې په دې توګه چي زه د هغه څخه بې پروا سم زما زړه په هغه کي مه لګوه چي زه په پوره اطمینان سره ستا په عبادت کي بوخت اوسم او د جزع او فزع شکایت نه کوم چي زما شمېر د صبر کونکو فقیرانو څخه وي.

**یو خاص دعاء**

﴿۲۳۷۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ ولاړ سوئ

مِنْ مَجْلِسٍ حَتّٰى يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ لِأَصْحَابِهِ اللّٰهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ

د خپلو اصحابو د مجلس څخه نو هغوئ ته به یې دا سي دعاء کول: (اللهم اقسم .... یرحمنا) اې الله! موږ ته خپل دومره بیره راکړې

خَشْيَتِكَ مَا تحول به بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ

چي زموږ او د ګناهو په منځ کي حائل سي او موږ ته ستا د طاعت دومره توان راکړې چي موږ

جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا

ستا جنت ته ورسوي او موږ ته دومره یقین راکړې چي د دنیا ستونزي پر موږ آسانه کړې او موږ ته د خپلو اوریدو،

وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا

لیدو او توانونو څخه د ګټې پورته کولو موقع راکړې تر څو پورې چې موږ ژوندي لرې او دا ګټه زموږ ورثه وګرځوې او زموږ کینه او غچ اخیستل په هغه چا پورې محدود لرې چې هغه پر موږ ظلم وکړ.

وَانْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ

او زموږ مرسته وکړې او بریالیتوب راکړې پر هغه چا چې زموږ سره دښمني ساتي او د دین په معامله کې موږ په یو ستونزه مه اخته کوې او نه دنیا زموږ د ټولو فکرو مرکز وګرځوې

هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا . رواه الترمذي و قال

هذا حديث غريب .

او نه دا زموږ د علم مبلغ جوړ کړې او نه پر موږ هغه خلک مسلط کړې چې پر موږ رحم کونکي نه وي .. ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۴۹۳، رقم: ۳۵۰۲.

**تشريح**: موږ ته دومره یقین راکړې: مطلب دادی چې ته پر خپل ذات او صفاتو باندې او د رسول الله ﷺ پر ارشاداتو او تعلیماتو باندې موږ ته دومره یقین او اعتماد راکړې چې د دنیا سختي او مصیبتونه زموږ لپاره اسان وي مثلا چا ته چې دا یقین وي چې الله تعالی رزاق دی د هر ساه لرونکي د ژوند اړتیاوې پوره کوي نو هغه ته به هیڅکله فکر نه وي او هغه به د هغه ذات باور کوي همدارنګه چا ته چې دا یقین تر لاسه سي چې د آخرت سختي او د هغه ځای مصیبتونه زیات سخت دي د دنیا سختي ختمېدونکي دي او د هغه هیڅ حقیقت نه سته نو د هغه لپاره د دنیا مصیبتونه اسانه کیږي او هغه د دنیا د لوی تر لوی مصیبت او سختۍ احساس نه کوي نو اې الله ! ته موږ د یقین او اعتماد په عظیم دولت سره ونازوې ، دنیا زموږ لپاره د فکرونو مرکز مه ګرځوې ، مطلب دادی چې موږ د دنیا په ډېر فکر او تدبیر کې مه لګوې بلکه د آخرت فکر . د هغه اندېښنو زیات خیال ساتو د دنیا یوازې دومره دومره خیال وساتو کوم چې ضروري وي او د هغه لپاره نه یوازې دا چې موږ ته اجازه ده بلکه مستحب هم دي .

## د علم او عمل دعاء

﴿۲۳۷۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به دا فرمایل :

اللّٰهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي وَزِدْنِي عِلْمًا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ

(اللهم ... اهل النار) اې الله ! کوم شی چي تا ما ته ښودلی دئ د هغه څخه ما ته ګټه راکړې، ما ته هغه وښیې چي ما ته ګټه راکړې او زما علم زیات کړې، په هر حال کي د الله تعالی تعریف دئ

حَالٍ وَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ حَالِ أَهْلِ النَّارِ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال

الترمذي هذا حديث غريب اسنادا .

او زه د الله تعالی په ذریعه د دوږخیانو د حال څخه پناه غواړم . ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ویلي دي دا حدیث د اسناد له کبله غریب دئ .

**تخریج**: الترمذي في السنن ۵\۵۴۰، رقم: ۳۵۹۹، وابن ماجه ۲\۱۲۶۰، رقم: ۳۸۳۳.

## د نعمت او عزت دعاء

﴿۲۳۸۰﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي کله به پر رسول الله ﷺ

نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ سَمِعَ عِنْدَ وَجْهِهِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ يَوْمًا

وحي نازلېدلې نو د رسول الله ﷺ مخ ته نژدې به د مچ د آواز په ډول بنګاری اورېدل سو ، یوه ورځ زموږ په وړاندي وحي نازله سوه

فَمَكَثْنَا سَاعَةً فَسُرِّيَ عَنْهُ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ اللّٰهُمَّ زِدْنَا

موږ لږ ګړی تم سوو کله چي د غه سختي لیري سول نو رسول الله ﷺ خپل مخ مبارک د قبلې په لور کړ او وه یې فرمایل : اللهم زدنا ...... وارض عنا ، اې الله ! زیات کړې (د دنیا او آخرت

وَلَا تَنْقُصْنَا وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا

نعمتونه) او په هغو کي کمي مه کوې، او موږ په عزت ولرې او موږ ذلیل مه کړې او موږ ته راکړې (د دنیا او آخرت خیر) او موږ محروم مه کړې، او په خپل رحمت او عنایت سره موږ غوره

کړي او پر موږ بل غوره مه کړې،

وَأَرْضِنَا وَارْضَ عَنَّا ثُمَّ قَالَ أُنْزِلَ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ

موږ راضي کړې او زموږ څخه راضي سې، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: همدا اوس پر ما لس آیاتونه نازل سوي دي څوک چي په دې عمل وکړي هغه به په جنت کي داخلیږي،

ثُمَّ قَرَأَ { قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ } حَتَّى خَتَمَ عَشْرَ آيَاتٍ. رواه احمد والترمذي

ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ: قد افلح المؤمنون.... تر لسو آیاتو پوري. احمد او ترمذي.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۱\ ۳۴، والترمذي في السنن ۵\ ۳۰۵، رقم: ۳۱۷۳.

**تشريح**: کله چي پر رسول الله ﷺ باندي وحي نازلېدلې او جبرائيل عليه السلام به الهي کلام راوړی نو صحابه کرامو به د جبرائيل عليه السلام آواز اورېدی مګر په پوهه کي به نه راتلی لکه څرنګه چي د شاتو د موچې آواز وي مګر په پوهه کي نه راځي ځکه د جبرائيل عليه السلام آواز ته حضرت عمر رضي الله عنه د شاتو د مچې د آواز سره مشابهت ورکړ، هغه لس آیاتونه چي پر رسول الله ﷺ باندي نازل سوي وه او پر هغو باندي د عمل کونکو لپاره په پورتني حديث کي زيري ورکړل سوی دی هغه دادي:

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ أُوْلَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ. الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ.

**ژباړه**. بېله شکه هغه مؤمنانو کاميابي تر لاسه کړه چي په لمانځه کي (په باطني او ظاهري توګه) عجز او نياز کوي او د پالتو شيانو څخه مخ اړوي او زکوة ورکوي او د خپلو شرمګاوو ساتنه کوي مګر د خپلو بيبيانو سره او مينزو سره او پر هغو څه ملامتيا نه سته هو څوک چي ددې څخه پرته طالب وي نو هغوئ د حد څخه تجاوز کونکي وي او د آمانتونو او عهد ساتنه کوي او د لمونځو پابندي کوي نو دا خلک دي چي د فردوس خاوندان به وي دا خلک به په دې کي همېشه همېشه اوسيږي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د بنايي لپاره دعاء

﴿۲۳۸۱﴾: عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ أَنَّ رَجُلًا ضَرِيرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى

د حضرت عثمان بن حنيف رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د يو كمزوري ديد والا سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يُعَافِيَنِي قَالَ إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ وَإِنْ شِئْتَ

او ويې ويل: د الله پاک څخه دعاء وغواړي چي ما ته عافيت راكړي (يعني د سترګو خرابي مي ليري سي) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كه ته دعاء غواړې نو زه ستا لپاره دعاء كوم او كه ته

صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قَالَ فَادْعُهُ قَالَ فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ وُضُوءَهُ

صبر كوې نو صبر ستا لپاره غوره دئ، هغه وويل دعاء راته وكړه، نو رسول الله ﷺ ورته حكم وكړ او دس وكړه

وَيَدْعُوَ بِهَذَا الدُّعَاءِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ

او په دې كلماتو سره دعاء وكړه: (اللهم اني ...... فشفعه في) اې الله! زه ستا څخه سوال كوم او ستا د نبي په وسيله ستا په لور متوجه كيږم چي د هغه نوم محمد دئ چي د رحمت نبي دئ،

الرَّحْمَةِ إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي لِيَقْضِيَ لِي فِي حَاجَتِي هَذِهِ اللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

اې نبي! زه ستا په وسيله خپل پروردګار ته متوجه كيږم چي زما ددې حاجت په اړه هغه حكم وكړي، اې الله! د خپل نبي شفاعت زما په حق كي قبول كړې، ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح غريب دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵۳۱/۵، رقم: ۳۵۷۸.

**تشريح**: صبر ته يې ځكه غوره وفرمايل چي پر ړوند والي د صبر ثواب جنت دی، په حديث شريف كي راغلي دي چي الله تعالى فرمايي: كله چي زه خپل يو بنده د هغه په دواړو سترګو

كي اخته كړم (يعني رونديې كړم) او هغه بنده پر دې صبر وكړي نو زه ددې په عوض كې هغه ته جنت وركوم.

## د داؤد عليه السلام دعاء

﴿۲۳۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

د حضرت ابو درداء ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مِنْ دُعَاءِ دَاوُدَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَالْعَمَلَ الَّذِي

د داؤد عليه السلام د دعاوو څخه يوه دعاء دا هم وه: (اللهم اني.... من الماء البارد) اې الله! زه ستا څخه سوال كوم د محبت ستا او محبت د هغه چا چي محبت كوي ستا سره او هغه عمل

يُبَلِّغُنِي حُبَّكَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي ومالي وَأَهْلِي مِنَ الْمَاءِ

غواړم چي ستا محبت ته ما ورسوي، اې الله! ته خپل محبت غوره وګرځوې ما ته تر ځان زما تر كورنۍ زما تر مال زما او تر

الْبَارِدِ قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَكَرَ دَاوُدَ يُحَدِّثُ عَنْهُ

يخو اوبو (تربو ته). د راوي بيان دئ چي كله به رسول الله ﷺ د داؤد عليه السلام يادونه كول نو

يَقُولُ كَانَ أَعْبَدَ الْبَشَرِ. رواه الترمذي وقال هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

فرمايل به يې چي هغه ډير عبادت كونكى انسان وو. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ.

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\۴۸۸، رقم: ۳۴۹۰.

## يوه جامع دعاء

﴿۲۳۸۳﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ صَلَّى بِنَا عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ صَلَاةً

عطاء بن السائب ﷛ د خپل پلار څخه روايت كوي چي عمار بن ياسر موږ ته يو لمونځ راكړ

فَأَوْجَزَ فِيهَا فَقَالَ لَهُ بَعْضُ الْقَوْمِ لَقَدْ خَفَّفْتَ أَوْ أَوْجَزْتَ الصَّلَاةَ فَقَالَ أَمَا

نو هغه په لمانځه كي لنډوالى وكړ، ځيني خلكو هغه ته وويل: تا لنډ لمونځ وكړ، عمار بن

عَلَى ذٰلِكَ فَقَدْ دَعَوْتُ فِيهَا بِدَعَوَاتٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

زما لپاره دا لندې والې ضرر ناک نه دئ ځکه چې ما په دغه لمانځه کې هغه دعاوې وغوښتلې کومې چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلې دي،

وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَامَ تَبِعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ هُوَ أُبَيٌّ غَيْرَ أَنَّهُ كَنَى عَنْ نَفْسِهِ فَسَأَلَهُ

بيا چې هغه ولاړ سو نو يو کس په هغه پسې سو او هغه زما پلار وو، هغه د عمار څخه هغه دعاء وپوښتل، د هغه څخه چې دعاء وغوښتل سول

عَنِ الدُّعَاءِ ثُمَّ جَاءَ فَأَخْبَرَ بِهِ الْقَوْمَ اللّٰهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ وَقُدْرَتِكَ عَلَى

نو بيرته راغلئ او خلک يې خبردار کړل چې هغه دعاء داده (اللهم ...... مهديين) اې الله! په حق د خپل علم غيب او په حق د خپل قدرت پر

الْخَلْقِ أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي

مخلوق باندې ما تر هغه وخته پورې ژوندی لرې تر څو پورې چې زما ژوند زما لپاره غوره وي او هغه وخت مرګ راکړې چې ته زما لپاره مرګ غوره وګڼې،

اللّٰهُمَّ وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا

اې الله! زه ستا څخه په ظاهر او باطن کې بيره غواړم، او زه ستا څخه د حق کلمه ويل په خوښۍ

وَالْغَضَبِ وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا يَنْفَدُ وَأَسْأَلُكَ

او ناخوښي کې غواړم، ستا څخه د مفلسۍ او خوشحالۍ په حالت کې ميانه روي غواړم او داسې نعمت در څخه غواړم چې هيڅکله نه ختميږي

قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ وَأَسْأَلُكَ الرِّضَاءَ بَعْدَ الْقَضَاءِ وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ

او زه د سترګو يخوالی در څخه غواړم چې هيڅکله نه ختميږي او زه ستا څخه رضامندي غواړم، د حکم څخه وروسته او ستا څخه د مرګ وروسته د ژوند يخوالی (يعنی هميشه راحت)

الْمَوْتِ وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ

غوارم، ستا څخه ستا د مخ په لور د ليدو لذت او ستا څخه ستا د ملاقات شوق غوارم، داسي شوق چي تاوان راته ونه رسوي

وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الْإِيمَانِ وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مَهْدِيِّينَ. رواه النسائي.

او نه مي د گمراهی په فتنه کي واچوي، اې الله! موږ د ايمان په ښکلا سره ښکلي کړې او موږ هدايت ورکونکي هدايت يافته جوړ کړې. نسائي.

**تخريج**: سنن النسائي ۳\ ۵۴، ۵۵، رقم: ۱۳۰۵.

**تشريح**: او كلمه د حق غوارم ...الخ: ددې مطلب دادی چي په ما کي دومره بې خوفي او استقامت پيدا کړې چي زه همېشه د حق کلمه يعني حقه خبره کوم که خلک زما څخه خوشحاله وي او که ناراضه وي يا دا چي د خپل خوښي په حالت کي هم او د خفگان په حالت کي هم د حق کلمه وايم او د عوامو په ډول نه سم چي هغوئ د خفگان په حالت کي وي نو بد وايي او كله چي خوشحاله وي نو ښه وايي.

د سترګو د يخوالي څخه مراد هغه شيان دي چي په هغه سره د طاعت او عبادت کامل لذت او کيفيت تر لاسه کيږي، يا ددې څخه مراد د دعاء غوښتونکي د مرگ څخه وروسته د هغه د اولاد پاته کېدل دي، همدارنګه د سترګو د يخوالي څخه پر لمانځه باندي پابندي هم مراد کېدای سي او که دغه مفهوم ته زيات وسعت ورکړل سي نو د دواړو جهانو خېرونه هم مراد کېدای سي.

في غير ضراء مضرة: په داسي حالت کي چي ضرر ونه رسوي، ددې تعلق څرنګه چي د ژباړي څخه ظاهر دی. شوق د ملاقات سره دی يعني زه ستا د ملاقات داسي شوق لرم چي زما په چلن کي، زما پر ادب باندي او زما په استقامت کي او د احکامو او اعمالو پر ځای راوړلو او ادا کولو کي تاوان ونه رسيږي ځکه چي کومو خلکو ته پر تصوف باندي د تلو شرف حاصل دی هغوئ پوهيږي چي د الله تعالی د ملاقات شوق ډېر واري د بې خودۍ منزل ته رسيږي چي هغه ته غلبه حال ويل کيږي او دا هغه وخت وي کله چي قدم د استقامت څخه بې نيازه سي په چلن کي کوتاهي پيدا کيږي او په احکامو او اعمالو کي تاوان واقع کيږي نو د مخکي جملې :

ولافتنة مضلة: هم دا مطلب دی چي داسي شوق غوارم چي د استقامت د لاري څخه ليري کونکی او په احکامو او اعمالو کي بې لاري پيدا کونکی ازمائش کي اخته نه کړي يا داسي وويل سي چي ددغه جملې تعلق د دعاء د اولني لفظ احييني سره دی چي ددې مفهوم په دعاء کي پر ذکر سوو ټولو شيانو باندي حاوي سي يعني ما په دغه مذکوره نعمتو سره داسي ژوندی ولرې چي په داسي بلا او مصيبت کي اخته نه سم چي په هغه کي د صبر او شکر لمن د لاس څخه ووځي او زه په گمراهي کي ولويږم.

پر سيده لاره باندي تلونکی جوړ کړې: ددې مطلب دادی چي څرنگه چي موږ نورو ته سمه لاره ښيو او نورو ته د نيک ژوند اختيارولو تلقين کوو همدارنگه موږ خپله هم پر هغه په عمل کولو سره پر سمه لاره باندي روان سو او نيک ژوند اختيار کړو زموږ حالت داسي نه سي چي بل ته خو نصيحت کوو او خپل عمل نه پر کوو بلکه زموږ عمل زموږ د قول مطابق وي.

## د علم نافع، عمل مقبول او حلال رزق دعاء

﴿۲۳۸۴﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ

د حضرت ام سلمة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل وروسته تر

الْفَجْرِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا وَرِزْقًا طَيِّبًا. رواه احمد وابن ماجة والبيهقي في الدعوات الكبير.

سهار د لمانځه: (اللهم اني ...... طيبا) اې الله! زه ستا څخه علم گټه رسونكی، عمل قبلېدونكی او حلال رزق غوارم. احمد، ابن ماجه او بيهقي.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ٦\ ٢٩٤، وابن ماجه ١\ ٢٩٨، رقم: ٩٢٥.

## د شکر گزار کېدو دعاء

﴿۲۳۸۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ دُعَاءٌ حَفِظْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو هريرة ﷛ څخه روايت دئ چي دا يوه دعاء ده چي ما د رسول الله ﷺ څخه ياد كړې ده

وَسَلَّمَ لَا أَدَعُهُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي أُعْظِمُ شُكْرَكَ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ وَأَتَّبِعُ نَصِيحَتَكَ

وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ. رواه الترمذي

او هميشه يې وايم: (اللهم ........ وصيتک) اې الله! ما داسي جوړ کړې چي ستا ډير شكر او ډير ذكر وكړم او ستا د نصيحت پيروي وكړم او ستا د وصيت حفاظت وكړم. ترمذي.

**تخريج**: سنن الترمذي ٥\ ٧٨٠، رقم: ٣٦٧٦.

**تشريح**: د نصيحت څخه مراد د بندګانو حقوق دي او د وصيت څخه مراد الله تعالى حقوق دي، ددې مطلب دادی چي اې الله! تا د خلکو د حقوقو د ادا کولو ما ته چي کوم حکم کړی دی او د خپلو حقوقو د ادا کولو کومه فريضه چي پر ما عائد کړې ده پر هغې محافظت وكړم يعني دواړه ډوله حقوق ادا كړم.

## د روغتيا دعاء

﴿۲۳۸۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به

يَقُولُ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ وَالْعِفَّةَ وَالْأَمَانَةَ وَحُسْنَ الْخُلُقِ وَالرِّضٰى بِالْقَدَرِ.

فرمايل: (اللهم اني .......... بالقدر) اې الله! زه ستا څخه روغتيا، د حرامو څخه ساتنه، امانت، ښه اخلاقو او پر تقدير رضامندي غواړم. بيهقي

**تخريج**: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

## د بدو عادتو څخه د ساتني دعاء

﴿۲۳۸۷﴾: وَعَنْ أُمِّ مَعْبَدٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ام معبد (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي

اَللّٰهُمَّ طَهِّرْ قَلْبِيْ مِنَ النِّفَاقِ وَعَمَلِيْ مِنَ الرِّيَاءِ وَلِسَانِيْ مِنَ الْكَذِبِ وَعَيْنِيْ

(اللهم طهر ....... الصدور) اې الله! زما زړه د نفاق څخه، او عمل د ريا کارۍ څخه، ژبه د دروغو څخه او سترګي مي

مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّكَ تَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ. رواهما

البيهقي في الدعوات الكبير .

د خيانت څخه پاکي کړې بېشکه ته د سترګو خيانت پېژنې او هغه شی هم پېژنې چې په سينو کې پټ دئ . بيهقي

**تخريج :** رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

**تشريح :** خائنة الاعين: دا د قرآن کريم د يو آيت برخه ده چې د هغه معنى ده د سترګو خيانت، عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د آيت د تفسير په ضمن کې دا جمله د مثال په توګه داسي واضح کړې ده چې فرض کړه د خلکو يو ډله يو ځای ناست دي ناڅاپه يوه ښځه د هغوئ مخته تېرېږي نو هغه ټول خلک د شرم څخه هغه ښځي ته د کتلو همت نه کوي کله چې هغوئ ټول خپل نظرونه کښته کړي نو د هغو څخه يو سړی د ټولو د نظرو څخه په پټه خپل نظر پورته کوي او په غلا سره هغه ښځي ته ګوري نو دا د سترګو خيانت دی .

## د دنيا او اخرت د عاقيت دعاء

﴿۲۳۸۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د يو مسلمان (د ناروغی) پوښتنه وکړه

قَدْ خَفَتَ فَصَارَ مِثْلَ الْفَرْخِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ

چې د مرغه د چيچي په ډول کمزوری سوی وو، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ايا

كُنْتَ تَدْعُو بِشَيْءٍ أَوْ تَسْأَلُهُ إِيَّاهُ قَالَ نَعَمْ كُنْتُ أَقُولُ اللَّهُمَّ مَا كُنْتَ مُعَاقِبِي

تا به د الله تعالی څخه د يو شي دعاء غوښتل؟ هغه وويل : ما به دغه غوښتل : (اللهم ماکنت..........لي في الدنيا) اې الله ! کومه سزا چې ته ما ته په آخرت کې راکونکی يې

بِهِ فِي الْآخِرَةِ فَعَجِّلْهُ لِي فِي الدُّنْيَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ

هغه ژر په دنيا کي راکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تعالی پاک دئ

اللَّهِ لَا تُطِيقُهُ أَوْ لَا تَسْتَطِيعُهُ أَفَلَا قُلْتَ اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي

ته په دنيا کي د الله تعالی د عذاب توان نه لرې او نه به هغه په آخرت کي وزغملای سې تا داسي

ولې نه ويل: «اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي

الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالَ فَدَعَا اللَّهَ بِهِ فَشَفَاهُ اللهُ. رواه مسلم

الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»، د راوي بيان دئ بيا هغه سړي د الله تعالى څخه دغه دعاء وغوښتل او الله پاک هغه ته روغتيا ورکړل. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۴\۲۰۶۸، رقم: ۲۳–۳۶۸۸.

## د غير متحمل شيانو دعاء مه غواړئ

﴿۲۳۸۹﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْبَغِي

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مؤمن لپاره نه ده پكار

لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ قَالُوا وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ قَالَ يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ لِمَا

چې هغه خپل ځان ذليل کړي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه: مؤمن څنګه ځان ذليل کولای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په هغو بلاګانو کې خپل ځان اخته کړي چې

لَا يُطِيقُ. رواه الترمذي و ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

د هغه توان نه لري. ترمذي، ابن ماجة، بيهقي او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دي.

**تخريج**: سنن الترمذي ۴\۴۵۳، رقم: ۲۲۵۴، وابن ماجه ۲\۱۳۳۲، رقم: ۴۰۱۶، البيهقي في شعب الايمان ۷\۴۱۷، رقم: ۱۰۸۲۳.

**تشريح**: دا خبره د مؤمن د خواست خلاف ده چې هغه د يو داسي شي يا يو داسي کار ذمه داري قبوله کړي کوم چې د هغه د طاقت او توان څخه وتلې وي داسي کول د خپل ځان ذليل کول دي مثلا يو څوک د حساب د فن څخه ناخبره وي او داسي کارونه پر خپل ذمه واخلي چې د هغه تعلق د حساب سره وي نو ظاهره ده چې هغه به دغه ذمه داري پوره نه کړلای سي چې د هغه په نتيجه کې به د خپل ذلت او خوارۍ څخه پرته نور څه نه وي نو دغه ارشاد مسلمانانو ته توجه ورکوي چې هغوئ يو ازې داسي کارونه پر خپل ذمه واخلي کوم چې د هغه پوره کولو طاقت او

لياقت ولري د يو غرض او لالچ يا د يو جذبې له كبله د غير متحمل شيانو ذمه داري قبلول د خپل ذلت او خوارۍ باعث دی ، په ظاهره د غه حديث د د غه باب سره تعلق نه لري مگر كه د د غه حديث مفهوم د مخكني حديث د مفهوم په رڼا كي وكتل سي نو دا به معلومه سي چي د د غه باب سره د د غه حديث ژور تعلق دی او هغه دا دی چي سړی د كومو شيان برداشت نه سي كولای نو د هغه شي دعاء دي نه غواړي .

## د باطن د ظاهر څخه غوره والی دعاء

﴿۲۳۹۰﴾: وَ عَنْ عُمَرَ قَالَ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته دغه دعاء وښودل

اللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِي وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِي صَالِحَةً اللّٰهُمَّ إِنِّي

(اللهم اجعل ...... والمضل) اې الله ! زما باطن زما تر ظاهر غوره جوړ كړې او زما ظاهر صالح او ښكلی جوړ كړې ، اې الله ! زه

أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَلَا الْمُضِلِّ. رواه الترمذي

ستا څخه د هغه شي خير غواړم چي ته يې خلكو ته وركوې ، يعني ښځه ، شتمني ، او اولاد څخه چي نه هغوئ په خپله گمراه سي او نه بل څوك گمراه كړي . ترمذي

**تخريج**: سنن الترمذي ۵\ ۵۳۴، رقم: ۳۵۸۶.



بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

# كِتَـــابُ الْمَناسِك

## د حج د ارکانو بیان

د حج معنی د لغت په اعتبار د يو باعظمته شي په لور قصد کول دي او د شريعت په اصطلاح کي د کعبې شريفي طواف، په مقام عرفات کي قيام په هغه خاص طريقې سره چي شارع (الله ﷻ) ښوولي دي او په هغه خاص وخت کي چي د شريعت څخه منقول دي ته حج وايي، حج ددين د هغه پنځه بنيادي رکنو څخه يو عظيم القدر رکن دی چي پر هغه د اسلام د عقائدو او اعمالو پوره عمارت ولاړ دی ، د حج ضروري کېدل (چي د فقهي په اصطلاح کي فرض ورته وايي) د قرآن کريم څخه داسي په صراحت سره ثابت دی لکه څرنگه چي د زکوة فرضيت ثابت دی.

### حج کله فرض سو؟

د حج د فرضيت سعادت د سردار دوعالم ﷺ د امت سره مختص دی که څه هم د حج رواج د حضرت ابراهيم عليه السلام د وخت څخه دی مگر هغه وخت د فرضيت حکم نه وو ، نو صحيح مذهب دادی چي حج يوازي پر امت محمدي باندي فرض سوی دی.

حج کله فرض سو؟ په دې باره کي د علماء کرامو مختلف قولونه دي ځيني حضرات وايي چي په پنځم هجري کال کي فرض سو او اکثر علماء وايي چي په شپږم هجري کال کي فرض سوی دی مگر صحيح قول د هغه علماؤ دی کوم چي وايي چي حج د نهم هجري کال په آخر کي فرض سوی دی ، کله چي د الله تعالی دغه حکم نازل سو : ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا : يعني د الله تعالی د رضا لپاره پر خلکو د کعبې حج ضروري دی او دا پر هغه چا کوم چي د تلو وس لري.

دا حکم د کال په آخري کي نازل سوی وو ځکه رسول الله ﷺ د حج د افعالو په تعليم کي د بوختيا او د راتلونکي کال لپاره د حج د سفر د اسبابو په تياري کي د بوختيا په وجه خپله حج ته نه ولاړی بلکه په هغه کي يعني په نهم هجري کي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د حاجيانو امير و ټاکل سو او مکې شريفي ته وليږل سو چي په خلکو حج وکړي او بيا رسول الله ﷺ خپله په

راتلونکي کال يعني لسم هجري کي د دغه الهي حکم په پوره کولو کي د حج لپاره تشريف يوور ، دا عجيبه اتفاق دی چي د فرضيت څخه وروسته د رسول الله ﷺ دغه اولنی حج وکړ چي آخري حج هم ثابت سو نو دا حج د حجة الوداع په نامه سره مشهور دی د دغه حج څخه وروسته د رسول الله ﷺ مخ مبارک د دنيا څخه پرده وکړه .

## د حج احکام

حج په عمر کي يو وار فرض دی کله چي ټول شرطونه موجود سي په کوم سره چي حج فرض کيږي د دغه شرطونو د موجود کېدو سربيره کوم څوک چي حج ونه کړي نو هغه فاسق او ګناه کار دی او کوم څوک چي د حج د فرضيت څخه انکار وکړي نو هغه کافر دی، صحيح خبره داده چي کله د حج شرطونه موجود سي نو سمدستي حج کول فرض دي تر دوهم کال پوري ځنډول ګناه ده ، حج پر هغه چا باندي واجب دی کوم چي په ميقات کي د ننه بېله احرام تړلو ولاړ سي او د هغه څخه وروسته د حج احرام وتړي همدا رنګه پر هغه چا باندي فرض دی کوم چي د حج نذر منلی وي .

په ناجائز مال سره حج کول حرام دي، او د هغه چا لپاره مکروه تحريمي دی کوم چي د هغه خلکو د اجازې څخه پرته حج وکړي د کومو څخه چي اجازه اخيستل ضروري وي ، د هغه چا لپاره هم حج مکروه تحريمي کوم چي د هغه کسانو د نفقې څخه پرته حج وکړي د کومو چي پر هغه باندي نفقه واجب وي .

## د حج فرض کېدو شرطونه

حج د دغه شرطونو د موجود کېدو وروسته فرض کيږي :

۱. مسلمان کېدل او پر کافر باندي حج فرض نه دی .
۲. آزاد کېدل ، پر مينزي او غلام باندي حج فرض نه دی .
۳. عاقل کېدل پر ليوني، مست او بې هوښه باندي حج فرض نه دی .
۴. بالغ کېدل پر کوچنيانو باندي حج فرض نه دی .
۵. روغتيا او پر ناروغ باندي حج فرض نه دی.
٦. قدرت درلودل يعني دومره مال درلودل چي د ضرورت اصليه او پور څخه زيات وي او هغه د لاري خرچه او د سپرلی د کرايې لپاره کافي سي او د کومو کسانو نفقه چي د هغه پر ذمه واجب وي د هغوئ لپاره هم دومره پريږدي چي د هغه د راتلو پوري د هغو کفايت وسي .

۷. په لاره کي د امن کېدل ، په دې باره کي د اکثر اعتبار دی يعني که اکثر خلک په امن سره رسيږي نو حج به فرض وي مثلا که اکثره خلک په لاره کي لوټ سي يا يو داسي رود يا سيند حائل سي چي په هغه کي په کثرت سره خلک ډوبيږي او هلاکيږي يا په لاره کي يو بل ډول بېره وي نو په داسي حالت کي حج فرض نه دی هو که دغه پيښي کله نا کله په اتفاقي توګه سره کيږي نو بيا د حج فرضيت نه ساقط کيږي .

۸. د ښځي سره په ملګرتيا کي د خاوند يا بل محرم موجود کېدل ،په داسي حال کي چي د هغې د مکې د ليري والي په اندازه د سفر مسافت يعني درو ورځو پوري وي که چيري خاوند يا بل محرم په ملګرتيا کي نه وي نو بيا د ښځي لپاره د حج سفر اختيارول جائز نه دي او د محرم عاقل کېدل او فاسق نه کېدل هم شرط دي ، د محرم نفقه به پر هغه ښځه وي کوم چي يې د ځان سره حج ته بيايي او پر کومه ښځه چي حج فرض وي هغه د خپل خاوند د اجازې څخه پرته هم د محرم سره حج ته تللای سي .

که يو نابالغ هلک يا غلام د احرام تړلو وروسته بالغ سي يا ازاد سي او بيا هغه حج پوره کړي نو په دغه صورت کي فرض نه ادا کيږي هو که هلک د فرض حج لپاره د سره احرام وتړي نو صحيح کيږي مګر د غلام احرام د فرض حج لپاره په هغه صورت کي هم نه صحيح کيږي .

## د حج فرضونه

په حج کي پنځه شيان فرض دي :

۱. احرام: دا د حج لپاره شرط هم دی او رکن يعني فرض هم دی .

۲. وقوف عرفات: يعني په عرفات کي درېدل که د يوې دقيقې په اندازه وي او که يوه ورځ يا شپه وي .

۳. طواف الزيارة : دې ته طواف الاضافه او طواف الرکن هم وايي .

۴. په پورتنيو فرضو کي د ترتيب لحاظ يعني احرام پر وقوف او وقوف پر طواف زيارت مخکي کول .

۵. هر فرض په خپل خاص ځای کي ادا کول يعني وقوف په عرفات کي او طواف پر مسجد حرام چاپېره کول او د هر فرض هغه خاص وخت کي ادا کول کوم چي په شريعت کي ضروري وي يعني وقوف د نهم ذي الحجې د ماپښين د وخت څخه تر لسم د سهار څخه مخکي پوري ادا کول او طواف د هغه وروسته ادا کول .

## د حج واجبات

په حج كي لانديني شيان واجب دي :

۱. وقوف مزدلفه.

۲. د صفا او مروه په مينځ كي سعي.

۳. رمي جمار (شيطانان ويشتل).

۴. د آفاقي يعني غير مكي لپاره طواف قدوم.

۵. حلق يا تقصير يعني ورېښتان خريل يا كوچني كول.

٦. او هر هغه شي چي د هغه په پرېښودو سره دم يعني د حيوان حلالېدل واجبېږي.

د دغه فرضو او واجباتو څخه پرته نور ټول شيان دي چي د حج په سنتو او ادبو كي دي او هغه به په راتلونكو مخو كي بيان سي.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### حج په ټول عمر كي يو وار فرض دی

﴿۲۲۹۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ موږ ته په خطبه كي وفرمايل:

أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوا فَقَالَ رَجُلٌ أَكُلَّ عَامٍ يَا

اې خلكو ! پر تاسو حج فرض سوی دئ نو تاسو حج كوئ، يو سړي پوښتنه وكړه اې د الله رسوله ! ايا هر كال حج كوو؟ د

رَسُولَ اللهِ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلَاثًا فَقَالَ لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا

دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ پټه خوله سو تر څو هغه سړي دا پوښتنه درې واره وكړه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : كه ما ويلي وای چي هو، نو پر تاسو به حج كول هر كال فرض سوی وای

اسْتَطَعْتُمْ ثُمَّ قَالَ ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ

او تاسو به توان نه درلود ای، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ما پرېږدئ تر څو چي زه تاسو

پرېږدم ځکه چي کوم خلک وړاندي وه د ډېرو

سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا

پوښتنو او د خپلو انبیاؤو په اړه د منځني اختلاف له کبله هلاک سوي دي، هر کله چي زه تاسو ته د یو شي حکم درکړم نو هغه ادا کړئ

اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوهُ. رواه مسلم

د خپل توان سره سم او د کومي خبري څخه چي مو منع کړم نو هغه پرېږدئ. مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\ ۹۷۵، رقم: ۴۱۲- ۱۳۲۷.

**تشریح**: کله چي الله تعالی د حج د فرضیت فرمان نازل کړ نو رسول الله ﷺ هغه پر امت باندي د نافذ کولو لپاره خلکو ته حکم وکړ چي هغوئ دي حج کوي، کله چي رسول الله ﷺ د خلکو په مخکي د حج فرضیت بیانوی او هغوئ ته یې د حج کولو حکم ورکوی نو یو صحابي چي د هغه نوم اقرع بن حابس ﷛ وو پوښتنه وکړه چي ایا حج به هر کال کیږي؟ هغه داو ګڼل چي حج به هم مقرر وي ځکه نو هغه دا پوښتنه وکړه مګر رسول الله ﷺ ته دا خبره ناخوښه سوه ځکه رسول الله ﷺ د تنبیه په توګه پټه خوله سو او څه جواب یې ورنه کړ، کله چي هغه څو واره پوښتنه وکړه نو په پای کي رسول الله ﷺ جواب ورکړ که چیري ما د دغه پوښتني په جواب کي هو کړې وای نو یقینا هر کال به حج فرض سوی وای، ځکه چي ما به دغه جواب د الله تعالی پر موجب ورکوی بله د هغه د حکم څخه زما د ژبي څخه یو تشریعي خبره نه راوځي او که هر کال حج فرض سوی وای نو په تاسو کي به دومره توان نه وای چي هر کال حج ادا کړی، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل چي هر دیني حکم ما ته پرېږدئ کله چي زه د یو فعل حکم درکړم نو زما څخه دا پوښتنه مه کوئ چي دا فعل څومره دی او څرنګه دی تر څو چي زه یې خپله درته بیان نه کړم چي دغه فعل دي دومره او داسي وکړل سي، څرنګه چي زه ووایم بس تاسو هم هغسي کوئ که د یو فعل په باره کي د بلا قید او تعین حکم وکړم نو هغه حکم هم هغسي پر ځای راوړئ او که بیان یې کړم چي دا فعل دومره واره او داسي کوئ نو هغومره واره او هم هغسي یې کوئ، ددې وجه داده چي زه دنیا ته ددې لپاره راغلی یم چي تاسو ته د اسلام احکام په پوره وضاحت سره ورسوم او شریعت درته بیان کړم، کومه خبره چي څرنګه وي زه یې هم هغسي بیانوم ستاسو د سوال ضرورت نه پاته کیږي. بیا په پای کي رسول الله ﷺ د احکامو پر ځای راوړلو په اړه د تاکید او تائید او

مبالغې په توګه وفرمايل : فاتوا منه مااستطعتم :: په دې کي چي د څه کولو توان لرئ هغه وکړئ، يعني د الله تعالى او د هغه د رسول پر احکامو باندي د عمل کولو چي تاسو څومره توان لرئ د هغه مطابق عمل کوئ يا دا چي د دغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ پر رفع حرج باندي ارشاد وفرمايه چي مثلاً د لمانځه ځيني شرطونه او ارکانو څخه که تاسو عاجز ياست نو څومره چي يې کولای سئ هغو مره يې وکړئ او کوم چي تاسو نه سئ کولای نو هغه پرېږدئ که په تاسو کي د و مره توان نه وي چي په ولاړه لمونځ وکړئ نو په ناسته لمونځ کوئ او که په ناسته يې نه سئ کولای نو په پروته يې وکړئ مګر خامخا يې کوئ همدا رنګه نور احکام او اعمال هم قياس کېدای سي .

## کوم عمل غوره دی

﴿۲۳۹۲﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم عمل غوره دئ ؟

قَالَ إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ . متفق عليه

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پر الله تعالى او د هغه پر رسول ايمان راوړل، بيا پوښتنه وسول چي د دې وروسته؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د الله تعالى په لاره کي جهاد کول، بيا پوښتنه وسول چي د دې وروسته؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : قبول سوی حج . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) : ۱\۷۷، رقم: ۲۶، ومسلم ۱\ ۸۸، رقم: ۱۵۳- ۸۳.

**تشريح** : د غوره اعمالو په اړه تر ټولو غوره عمل کوم يو دی ؟ په دې باره کي مختلف حديثونه نقل سوي دي په ځينو حديثو کي يوه عمل ته او په ځينو کي بل عمل ته غوره ويل سوي دي، په دغه ټولو حديثو کي مطابقت او موافقت په دا ډول پيدا کيږي چي دغه اختلاف د پوښتنه کونکو د احوالو ، حيثيتو او مقاماتو د فرق او تفاوت په وجه دی ، دغه حديث په تفصيل سره په کتاب الصلوة کي هم بيان سوی دی .

## د حج کوونکي سعادت

﴿۲۳۹۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د الله تعالی لپاره حج وکړي او په هغه کي پالتو او بې ګټې خبري ونه کړي او لويه ګناه ونه کړي نو هغه (د ګناهو څخه داسي پاک سي) لکه نن چي د مور څخه زيږېدلی وي . بخاري او مسلم .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۳۸۲، رقم: ۱۵۲۱، ومسلم۲\۹۸۲، رقم: ۴۳۸- ۱۳۵۰.

**تشريح**: څوک چي د الله ﷻ لپاره حج وکړي: ددې مطلب دادی چي هغه د الله تعالی د رضا او خوښۍ او يوازي د هغه د حکم پر ځای راوړلو لپاره حج وکړي ، د ځان ښوونې په جذبې او مقصد سره حج نه کوي نو په دې کي په دومره خبره پوهېدل ضروري دي چي کوم څوک حج او تجارت کوي او د دواړو په قصد سره حج ته ځي نو هغه ته ثواب کم تر لاسه کيږي د هغه سړي په نسبت کوم چي يوازي د حج لپاره ځي چي هغه ته زيات ثواب تر لاسه کيږي .

د رفث معنی ده جماع کول، په فحش کي اخته کېدل او د ښځو سره داسي خبري کول چي د جماع بلونکي وي .

او نه په فسق کي اخته وي: مطلب دادی چي د حج په وخت کي ګناه کبيره ونه کړي او پر صغيره ګناهو باندي هميشتوب ونه کړي ، دا بايد په ذهن کي وي چي د ګناهو څخه توبه نه کول هم په کبيره ګناهو کي شمېرل کيږي لکه څرنګه چي د الله تعالی د ارشاد څخه معلوميږي :

ومن لم يتب فاولئک هم الظالمون : چا چي توبه ونه کړل نو هغه داسي دی چي (په خپل اړه) ظالم دی، خلاصه دا چي کوم څوک خاص د الله تعالی لپاره حج وکړي او هغه د حج په وخت کي په جماع او فحش کي اخته نه سي او نه د ګناه نور شيان اختيار کړي نو د ګناهو څخه داسي پاکيږي لکه څرنګه چي د مور د نس څخه پيدا سوی وي .

## د حج ثمره جنت

﴿۲۳۹۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ . متفق عليه

: حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يوه عمره تر بلي عمرې پوري د ګناهو كفاره ده او د قبول سوي حج بدله يوازي جنت دی . بخاري او مسلم.

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۵۹۷، رقم: ۱۷۷۳، ومسلم ۲\۹۸۳، رقم: ۴۳۷-۱۳۴۹

## په رمضان كي د عمرې ثواب

﴿۲۳۹۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عُمْرَةً فِيْ رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً . متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په روژه كي عمره ادا كول د حج سره سمه ده . بخاري او مسلم.

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۶۰۳، رقم: ۱۷۸۲، ومسلم ۲\۹۱۷، رقم: ۲۲۱-۱۲۵۶.

## نابالغ ته هم د حج ثواب وركول كيږي

﴿۲۳۹۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَ رَكْبًا بِالرَّوْحَاءِ

د حضرت بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په روحاء نامي ځای كي د يو قافلې سره مخامخ سو ،

فَقَالَ مَنِ الْقَوْمُ؟ قَالُوا الْمُسْلِمُونَ فَقَالُوا مَنْ أَنْتَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ فَرَفَعَتْ

رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه : تاسو كوم خلك یاست؟ هغوئ وويل : موږ مسلمانان يو ، بيا د قافلې خلكو پوښتنه وكړه تاسو څوک یاست ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د الله رسول ﷺ ،

إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا فَقَالَتْ أَلِهٰذَا حَجٌّ قَالَ نَعَمْ وَلَكِ أَجْرٌ . رواه مسلم

بيا د قافلې يوې ښځي خپل كوچنی راڅرګند كړ او د رسول الله ﷺ څخه يې پوښتنه وكړه چي ايا پر دغه كوچني حج سته؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو ، او تا لره هم ثواب دئ . بخاري او مسلم.

**تخريج** : مسلم في الصحيح ۲\۹۷۴، رقم: ۴۰۹-۱۳۳۶.

**تشريح** : د ښځي د سوال په جواب كي د رسول الله ﷺ د هو مطلب دا وو چي دغه كوچنی كه څيري نابالغ وي نو پر ده حج فرض نه دی مګر كه چيري دی حج ته ولاړ سي نو د : ته به د نفلي حج

ثواب ورکول کیږي او ته به دغه کوچني ته د حج افعال ښيې د هغه خبر به اخلي او بيا دا چي ته به د ده د حج باعث جوړيږې ځکه تا ته به هم ثواب درکول کیږي.

مسئله داده که چیري يو نابالغ حج وکړي نو د هغه د ذمې څخه فرضي حج نه ساقط کیږي که چیري د بالغ کېدو وروسته د حج د فرضيت شرطونه موجود سي نو هغه به دوهم وار حج کوي همدارنګه که چیري غلام حج وکړي نو د هغه د ذمې څخه فرض حج نه ساقط کیږي او د ازاد کېدو وروسته که چیري د فرضيت شرطونه موجود سي نو د هغه لپاره دوهم وار حج کول ضروري دي، ددې پر خلاف که يو مفلس سړی حج وکړي نو د هغه د ذمې څخه فرض ساقط کیږي او د شتمن کېدو وروسته پر هغه دوهم وار حج کول نه واجبیږي.

## د بل چا لپاره د حج کولو مسئله

﴿۲۳۹۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ قالت يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي د قبیله خثعم یوې ښځي پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! الله تعالی پر خپلو بندګانو حج فرض کړئ دئ

عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ

او زما پلار ډېر سپین ږیری سو او پر سپرلۍ نه سي تللای ایا زه د هغه د لوري حج وکړم؟

عَنْهُ قَالَ نَعَمْ وَذٰلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ. متفق علیه

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو، او دا د رسول الله ﷺ د آخري حج پېښه ده. بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۳۷۸، رقم: ۱۵۱۳، ومسلم ۲\۹۷۳ رقم ۴۰۷- ۱۳۳۴.

**تشريح**: د هغه ښځي د خبري مطلب دا وو چي زما پر پلار باندي په سپین ږېرتوب کي حج فرض سوی دی په دې سبب چي هغه په سپین ږیرتوب کي مسلمان سوی دی او د هغه سره دومره مال دی چي د هغه په وجه پر هغه حج فرض کیږي، یا دا چي اوس په سپین ږیرتوب کي هغه ته دومره تر لاسه سوی دی چي پر هغه حج فرض سوی دی مګر هغه دومره ضعیف او کمزوری دی چي د حج د ارکانو او افعالو ادا کول خو لیري هغه پر سپرلۍ باندي هم نه سي کښېنستلای، نو ایا زه د هغه له خوا حج وکړم؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وفرمایل: هو، د هغه له خوا ته حج وکړه، مسئله داده که چیري پر يو سړي باندي حج فرض وي او هغه په خپله د حج کولو څخه

معذور وي او يا دا چي د هغه عذر داسي وي چي تر مرګ پوري زائل کېدونکی نه وي لکه د سپين ږيرتوب کمزوري، ړوند والی، د پښو پرې کېدل يا داسي نور، نو د هغه له خوا دوهم سړي ته حج کول جائز دي په شرط ددې چي هغه معذور د خپل طرف څخه حج کونکي ته د حج مصرف هم ورکړي او د خپل طرف څخه د حج کولو حکم هم ورکړي او د هغه د مرګ وروسته هم د هغه له خوا دوهم سړی حج کولای سي که چيري د هغه په وصيت کولو سره مړ سوی وي مګر ځيني علماء وايي که چيري اولاد د خپل مور او پلار له خوا فرض حج وکړي نو په دغه صورت کي هم حکم او وصيت شرط نه دی يعني د مور او پلار له طرف څخه حج کول بېله حکم او وصيته هم جائز دی ، دا خو د فرض حج مسئله وه .

د نفلي حج مسئله دا ده که چيري يو څوک د خپل طرف څخه د بل چا لپاره نفلي حج وکړي نو معذوري شرط نه ده يعني که چيري په خپله هغه ته د حج کولو قدرت حاصل وي نو ددې سربېره هغه په بل چا نفل حج کولای سي .

د پورتني ذکر سوې مسئلې په ذهن کي ساتلو سره حديث ته راسئ ، هغه ښځي د خپل پلار له طرف څخه د حج کولو په باره کي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه مګر هغه وضاحت نه کوي ځکه په ظاهره دا معلومېږي چي د هغې پلار نه خو د خپل طرف څخه د حج کولو حکم ورکړی دی او نه يې هغې ته مصرف ورکړی دی ګويا د حديث په ظاهري مفهوم او پورتني ذکر سوې فقهي روايت کي چي د چا د طرف څخه حج کېدای سي د هغه حکم او د هغه د طرف څخه د مصرف ادا کول د حج صحيح کېدو شرط دی په دې کي تضاد معلومېږي نو دغه تضاد ددغه تاويل په ذريعه ختمېدای سي چي د هغه ښځي پلار هغې ته د خپل طرف څخه د حج کولو اجازه هم ورکړې وي او هغې ته يې مصرف هم ورکړی وي مګر هغې ددې يادونه نه وي کړې ، ددغه تاويل بنياد د شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه هغه تقرير دی کوم چي هغه د ابورزين رضي الله عنه د روايت په وضاحت کي بيان کړی دی، دغه روايت به ددغه باب په دوهم فصل کي راسي ، د ځينو علماؤ قول دی چي د مور او پلار له خوا فرض حج کول بېله د حکم او وصيت څخه هم جائز دی ددې د تاويل هيڅ ضرورت نه سته بلکه په دغه صورت کي خو دغه حديث ددغه فقهي روايت دليل هم جوړېږي .

﴿۲۳۹۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أُخْتِي نَذَرَتْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ

چې زما خور نذر اېښې وو

أَنْ تَحُجَّ وَإِنَّهَا مَاتَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ

د حج کولو او مړه سوه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا که پر هغې پور وای نو تا به ادا کړی وای ؟

أَكُنْتَ قَاضِيَهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاقْضِ اللَّهَ فَهُوَ أَحَقُّ بِالْقَضَاءِ . متفق عليه

هغه عرض وکړ هو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : نو بیا د الله تعالی پور هم ادا کړه او ددې ادا کول ضروري او مناسب دي . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ١١\ ٥٨٤، رقم: ٦٦٩٩، ومسلم ٢\ ٨٠٤، رقم: ١٥٥- ١١٤٨.

**تشريح** : ددغه حديث څخه دا خبره ثابتيږي چې هغه ته د خور په ميراث کي څه مال حاصل سوی وو نو رسول الله ﷺ پر حق الله او حق العباد باندي په قياس کولو سره هغه ته د خور د نذر حج کولو حکم ورکړ .

**مسئله** : د وارث لپاره جائز دي چې هغه د مورث د طرف څخه د هغه د اجازې او وصيت څخه پرته هم حج وکړي يا د هغه له طرف څخه خپله حج وکړي مګر د نورو لپاره اجازه او وصيت شرط دی چې ددې څخه پرته حج نه صحيح کيږي .

**ښځه د خاوند يا محرم بغير حج ته نه سي تللای**

﴿٢٣٩٩﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : نه دي سړی د ښځي سره

بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ

يو ځای کيږي ، او نه دي ښځي پرته د محرم څخه سفر کوي ، يو سړی عرض وکړ ای د الله رسوله !

اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا وَخَرَجَتْ امْرَأَتِي حَاجَّةً قَالَ اذْهَبْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ . متفق عليه

زما نوم په فلاني او فلاني غزا کي ليکل سوي دي او زما ښځه حج ته تلونکې ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته د خپلي ښځي سره حج وکړه . بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\١٤٢، رقم: ٣٠٠٦، ومسلم ٢\٩٧٨، رقم: ٤٢٤- ١٣٤١.

**تشريح**: د پردې ښځي او سړي لپاره حرام دي چي هغوئ په يوازي ځاى کي يو ځاى سي همدارنګه ښځي ته د سفر د مسافت په اندازه (يعني ۴۸ ميله يا ۷۸ کيلوميټر) يا تر دې زيات مسافت کي د خاوند يا محرم څخه پرته سفر کول حرام دي تر دې چي د حج په سفر کي هم د ښځي لپاره د هغې سره د خاوند يا محرم تلل واجب دي يعني پر ښځه باندي هغه وخت حج فرض کيږي کله چي د هغې سره خاوند يا محرم وي.

محرم: د شريعت په اصطلاح کي محرم هغه ته وايي چي د هغه نکاح د همېشه لپاره د ښځي سره حرامه وي که هغه د قرابت په لحاظ وي يا د تي رودلو يا د خسرګنۍ په وجه وي او د محرم عاقل او بالغ کېدل او مجوسي او فاسق نه کېدل هم شرط دي.

## د ښځي جهاد حج دئ

﴿۲۴۰۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ. متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په جهاد کي د تللو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: ستاسو جهاد حج دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح: ٦\٧٥، رقم: ٢٨٧٥. ولم نجده عند مسلم.

## د خاوند يا محرم بغير د ښځي د سفر حد

﴿۲۴۰۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَافِرُ امْرَأَةٌ مَسِيْرَةَ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُوْ مَحْرَمٍ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځي دي د يوې شپې او ورځي د مسافت سفر نه کوي تر څو پوري چي د هغې سره محرم (قريب) نه وي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٢\٥٦٦، رقم: ١٠٨٨، ومسلم ٢\٩٧٧، رقم: ٤٢١- ١٣٣٩

**تشريح**: دلته د حديث او فقهي روايت تضاد راتللاى سي په داسي توګه چي په هدايه کي کوم چي د فقه حنفي مشهور کتاب دى ليکلي دي چي ښځو ته پرته د خاوند يا محرم څخه يو داسي

ځای ته سفر کول مباح دی چي د هغه مسافت د سفر د حد څخه کم وي مگر دلته د حدیث څخه دا ثابتیږي چي هیڅ ښځه پرته د خاوند یا محرم څخه د داسي ځای سفر هم نه سي کولای کوم چي د یوې ورځي او یوې شپې د مسافت په اندازه وي او په بخاري او مسلم کي هم دا روایت منقول دی چي هیڅ ښځه دي د دوو ورځو د مسافت په اندازه سفر نه کوي مگر دا چي د هغې سره د هغې خاوند یا محرم وي.

د فقهاؤ قول په ظاهر د دغه روایت مخالف معلومیږي مگر د دغه اختلاف او تضاد لیري کولو لپاره علماء وایي چي په حدیث کي په مطلق توگه سره دا منقول چي هیڅ ښځه دي د خپل خاوند یا محرم څخه پرته سفر نه کوي نو په شرعي توگه د سفر اطلاق پر درو ورځو کم باندي نه کیږي ځکه فقهاء دغه حدیث د درو ورځو د مسافت په اندازه باندي محمول کړی دی او دا فقهي قاعده یې ترتیب کړې ده چي هیڅ ښځه دي د دومره لیري سفر چي د درو ورځو د مسافت په اندازه وي پرته د خاوند یا محرم څخه نه کوي او کله چي د درو ورځو د مسافت په اندازه یوازي سفر نه سي کولای نو ددې څخه د زیات مسافت په اندازه سفر کول خو به په درجه اولی جائز نه وي او په کومو حدیثو کي چي د دوو ورځو یا د یوې ورځي د مسافت په اندازه د سفر څخه منع سوې ده دا یې پر فتنه او فساد باندي محمول کړی دی که سفر د درو ورځو د مسافت څخه کم یعني د دوو ورځو یا د یوې ورځي د مسافت په اندازه وي او د یو فتنې او فساد مثلاً د ښځي د بې عزتۍ گمان وي نو په دغه صورت کي هم ښځي ته یوازي سفر کول نه دي پکار.

یا به داسي وویل سي چي د درو ورځو د مسافت په اندازه د سفر منع منقول ده نو ددې څخه مراد دادی چي هر منزل د ورځي په اکثر برخه کي قطع کیږي نو همدارنگه په درو ورځو کي درې منزلونه قطع کیږي او چیري چي د دوو ورځو د مسافت منع ده نو د هغه څخه مراد دادی چي ټوله ورځ ولاړ سي یعني په یوه ورځ کي یو نیم منزل قطع کړي او همدارنگه په دوو ورځو کي درې منزلونه قطع کیږي او چیري چي د یوې ورځي او شپې د سفر منع ده نو د هغه څخه مراد دادی چي شپه او ورځ روان وي یعني یو نیم منزل پوره ورځ کي قطع کړي یو نیم منزل په پوره شپه کي قطع سي همدارنگه یوه ورځ او یوه شپه کي درې منزلونه قطع کیږي.

د دغه تاویل په وجه د هغه روایتونو مقصد د درو ورځو د مسافت په اندازه ښځي ته د یوازي سفر کولو څخه منع ثابتیږي او په ټولو روایتو کي څه تضاد هم نه پاته کیږي په دې اړه د شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله دا خبره د پر ښه ده چي دا ټول روایتونه چي د هغو څخه د ښځي د یوازي سفر کولو منع ثابتیږي او په هغه کي د سفر د حد په باره کي اختلاف دی نو

مقصد د سفر حد او وخت ټاكل نه دي بلكه ددغه روايتو مجموعي خلاصه داده چي ښځه دي پرته د خاوند يا محرم څخه يوازي سفر مطلقا نه كوي مسافت كه اوږد وي او كه لنډ وي، په اوسني زمانه كي چي د فتنې او فساد ډېره عامه ده او انساني ذهن پر غلطه طريقه او تعليم او تربيت او د فاسد ماحول په وجه د بې حيايى او فحاشۍ مركز جوړ سوى دى د احتياط تقاضا داده چي ښځه دي مطلقا يوازي سفر نه كوي سفر كه لږ وي يا زيات ځكه چي د فساد او فتنې ډېره په هر صورت كي وي.

## مواقيت حج

﴿۲۴۰۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ وَقَّتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام تړلو ځاى (ميقات) د

الْمَدِينَةِ ذَا الْحُلَيْفَةِ وَلِأَهْلِ الشَّأْمِ الْجُحْفَةَ وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ الْمَنَازِلِ

مديني اوسيدونكو لپاره ذوالحليفة، د شام اوسيدونكو لپاره جحفة، د نجد اوسيدونكو لپاره قرن منازل

وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ فَهُنَّ لَهُنَّ وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ لِمَنْ كَانَ

او د يمن اوسيدونكو لپاره يلملم وټاكئ، دا ټول ځايونه د احرام تړلو لپاره دي او څوك چي ددغه ښارو څخه وي او په دغه ځايو كي پر يو ځاى تير سي نو هغه دي د هغه ځاى څخه احرام

يُرِيدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَمَنْ كَانَ دُونَهُنَّ فَمُهَلُّهُ مِنْ أَهْلِهِ وَكَذَاكَ وَكَذَاكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّونَ مِنْهَا. متفق عليه

وتړي او دا احرام د هغه خلكو لپاره دئ چي د حج او عمرې په اراده پر دغه ځايو تير سي او كوم خلك چي په دې ځايو كي اوسيږي هغوئ دي په خپل كور كي احرام وتړي همداسي د مكې اوسيدونكي دي د مكې څخه احرام وتړي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳۸۷\۳، رقم: ۱۵۲۶، ومسلم ۸۳۸\۲، رقم: ۱۱-۱۱۸۱

**تشريح**: د احرام معنى ده حراماول يعني پر حج كونكي باندي يو څو شيان حرام كيږي نو ددغه اظهار لپاره چي ددغه وخت څخه دغه شيان حرام سوي دي يوه جامه چي يوازي يو څادر او يو

لونګ وي د حج په نيت اغوستل کيږي چي هغه ته احرام وايي مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي د احرام عمل د هغه وخت څخه شروع کيږي کله چي د احرام اغوستلو څخه وروسته د حج نيت وکړل سي او لبيک وويل سي يا يو داسي فعل وکړل سي چي د تلبيه په مثل وي لکه د قرباني حيوان استول کنه نو يوازي د احرام د جامې په اغوستلو سره يو سړی نه سي محرم کېدای.

**مواقيت**: د ميقات جمع ده ميقات هغه ځای ته وايي چيري مکې مکرمې ته تلونکي کسان احرام تړي او مکې مکرمې ته د تلونکو لپاره هلته پرته د احرام څخه وړاندي کېدل منع دي.

ذوالحليفة: د يو ځای نوم دی چي د مديني منوري څخه په جنوب کي تقريبا د شپږ مېله (لس کيلوميتره) پر فاصله باندي واقع دی دې ته ابيار علي هم وايي، دغه ځای د مديني او د مديني منوري له خوا څخه د راتلونکو لپاره ميقات دی.

جحفه: د يو ځای نوم دی دغه ځای د مکې مکرمې څخه پر ۱۱۵ مېله فاصله باندي او د رابغ څخه پر څو مېله په جنوب کي واقع دی، دا د قريشو تجارتي لويه لاره او اډه وه اوس غير اباد دی دغه ځای د شام او مصر له خوا د راتلونکو لپاره ميقات دی.

نجد: نجد په اصل کي لوړي مځکي ته وايي مګر په اصطلاح کي د جزيره عرب د يو سيمي نوم دی چي د سعودي عرب يوه برخه ده دغه سيمي ته نجد ځکه ويل کيږي چي د سيند د سطحي څخه دغه سيمه ښه لوړه ده، دا وخت د جزيرة العرب ټوله وسطي سيمه چي نجد ورته ويل کيږي په شمال کي د بادية الشام د جنوبي سر څخه په شروع کېدو سره په جنوب کي د وادي الاواسر يا الربع الخال پوري او عرضا د احساء څخه تر حجاز پوري خپره سوې ده د سعوي حکومت دار السلطنت رياض د نجد په سيمه کي دی.

قرن المنازل: دا يو غرنۍ سيمه ده چي تقريبا دېرش ميله په جنوب کي د تهامه يوه غرنۍ سيمه ده، دغه غرنۍ سيمه مکې ته د راتلونکي لار باندي واقع ده ددغه سيمي سره پيوست سعديه نامي يو کلی دی دا د يمن له خوا د راتلونکو ميقات دی، د پاکستان، افغانستان او هندوستان څخه راتلونکي کسان ددغه غرنۍ سيمي مخته تېريږي ځکه نو ددغه هيوادو د راتلونکو لپاره دغه ميقات دی، ددغه مواقيت څخه پرته يو ميقات ذات عرق دی دا د مکې مکرمې څخه تقريبا شپيته ميله فاصله باندي شمال مشرق ته د عراق د راتلونکو پر لار واقع دی او د عراق څخه د راتلونکو لپاره ميقات دی.

د حديث الفاظ: لمن کان يريد الحج والعمرة: (او دغه د احرام ځايونه د هغه کسانو لپاره

دي کوم چي د حج او عمرې اراده وکړي) ددې څخه د اخبره ثابتيږي که يو څوک (يعني غير مکي) د حج او عمرې د ارادې څخه پرته د ميقات څخه تېر سي نو د هغه پاره ضروري نه ده چي هغه په مکه کي د داخلېدو د پاره احرام وتړي لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دی مګر د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه د مذهب سره سم په مکه کي بېله احرامه داخلېدل جائز نه دي که د حج او عمرې اراده وي او که نه وي. يعني که يو څوک يعني غير مکي سړی مکې مکرمې ته د اخلېدو غواړي که هغه د حج د پاره ځي يا د بل مقصد د پاره ځي نو بېله احرامه مکې ته نسي د اخلېدای د حنفي مذهب دليل د رسول الله صلی الله عليه وسلم د غه مبارک قول دی:

لا يجوز احد الميقات الا محرما: هېڅوک دي په مکه کي د داخلېدو د پاره د ميقات څخه مخته بېله احرامه نه ځي. د غه حديث په دې باره کي مطلق نص په دې کي د حج او د عمرې د ارادې قيد نه سته بيا د اچي احرام هغه مقدس او محترم ځای يعني د کعبې شريفې د تعظيم او احترام په قصد تړل کيږي که حج او عمره وکړل سي او که و نه کړل سي. د د غه حکم تعلق يې څرنګه چي د حج او عمرې کونکو سره دی همدا رنګه د غه حکم د تاجرانو او سياحت کونکو د پاره هم دی هو کوم خلک چي په ميقات کي دننه وي هغوئ د خپل حاجت د پاره بېله احرامه مکې د خېژلو ای سي هغوئ ته په وار وار مکې مکرمې ته تلل وي نو په دې اړه هغوئ د احرام مکه په حکم کي داخل دي لکه څرنګه چي د هغوئ د پاره دا جائز دي که هغوئ د يو کار د پاره مکې مکرمې څخه د باندي وځي او بيا په مکه کي داخليږي نو بېله احرامه راسي همدا رنګه د ميقات کي دننه اوسېدونکو ته هم د احرام څخه پرته په مکه کي داخلېدل جائز دي.

فمن کان دونهن: او کوم څوک چي په د غه ميقات کي دننه اوسيږي. مطلب دا دی چي خلک په ميقات کي دننه خو د حرم د حدود څخه د باندي اوسيږي نو د هغوئ د پاره د احرام تړلو ځای د هغوئ د کور څخه د حرم تر حده پوري دی هغوئ ته د احرام تړلو د پاره ميقات ته تګ ضروري نه دي که څه هم هغوئ ميقات ته نژدې وي.

کوم خلک چي خاص په ميقات کي اوسيږي د هغوئ په باره کي په د غه حديث کي هېڅ حکم نه سته مګر جمهور علماء وايي چي د هغوئ حکم هم هغه دی کوم چي په ميقات کي دننه اوسېدونکو د پاره دی.

وکذاک وکذاک: او همداسي او همداسي: د دې تعلق د اولني جملې سره دی چي د حرم څخه د باندي تر مواقيت پوري کوم مځکه ده څوک چي په کوم ځای کي اوسيږي د هغه ځای څخه دي احرام وتړي يعني د ميقات او حد حرم په مينځ کي چي کوم خلک اوسيږي هغوئ

دي د خپل کور څخه احرام تړي که څه هم هغوئ ميقات ته بالکل نژدې وي يا د ميقات څخه ليري وي او حد حرم ته هر څومره نژدې وي.

حتى اهل مكة يهلون منها : مطلب دادی چي د مکې مکرمې اوسيدونکي يعني اهل حرم دي د مکې څخه احرام تړي او کوم خلک چي خاص د مکې په ښار کي او سيږي هغوئ دي خاص د مکې څخه احرام وتړي او کوم خلک چي خاص د مکې په ښار کي نه اوسيږي بلکه د ښار څخه د باندي اوسيږي نو هغوئ به د حرم مکې څخه احرام تړي ، د حديث د آخري الفاظو څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د مکې مکرمې د اوسيدونکو لپاره د احرام تړلو ځای مکه ده که احرام د حج لپاره وي او که د عمرې لپاره مگر مسئله داده چي عمره کونکي دي حل ته ولاړ سي او د هغه ځای څخه دي په احرام تړلو سره په حرم کي داخل سي ځکه چي نبي کريم ﷺ بي بي عائشې رضي الله عنها ته حکم ورکړی وو چي هغه د عمرې د احرام تړلو لپاره تنعيم ته ولاړه سي کوم چي په حل کي دی نو دا به وويل سي چي د دغه حديث تعلق يوازي د حج سره دی يعني دغه حکم د اهل مکې لپاره دی کله چي هغوئ د حج اراده وکړي نو احرام دي د مکې څخه وتړي او که د عمرې کولو اراده وي نو بيا په حل کي په راتلو کي دي احرام وتړي لکه څرنګه چي د بي بي عائشې رضي الله عنها د حديث څخه ثابته ده.

﴿۲۴۰۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُهَلُّ أَهْلِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مدينې اوسيدونکي دي د

الْمَدِينَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ وَالطَّرِيْقُ الْآخَرُ الْجُحْفَةُ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْعِرَاقِ مِنْ ذَاتِ

ذوالحليفة څخه احرام وتړي او دويم ځای د احرام تړلو (د مدينې د اوسيدونکو لپاره) جحفه ده

عِرْقٍ وَمُهَلُّ اَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ . رواه مسلم

او د عراق اوسيدونکي دي د ذات عرق څخه احرام وتړي او د نجد اوسيدونکي دي د قرن څخه او د يمن اوسيدونکي دي د يلملم څخه . مسلم .

**تخريج** : مسلم في الصحيح ۲\۸۴۱، رقم: ۱۸- ۱۱۸۳.

**تشريح** : او دوهمه لار جحفه ده : مطلب دادی چي د مدينې منورې د اوسيدونکو لپاره د احرام تړلو دوهم ځای جحفه دی که چيري هغوئ د مکې مکرمې لپاره د مدينې منورې څخه هغه لار

اختيار کړي په کوم کي چي جحفه يو ځاى کيږي نو هغوئ دي بيا د جحفه څخه احرام وتړي او ذو الحليفه ته د تلو ضرورت نه سته .

اصل خبره داده چي مخکي د مدينې منورې څخه مکې مکرمې ته د راتلو لپاره دوې لارې وې چي په يوه لاره کي ذو الحليفه راتلل او په دوهمه لاره کي جحفه ځکه دا حکم ورکړل سو که چيري هغه لار اختيار کړل سي چي په هغه کي ذو الحليفه راځي نو احرام دي د ذو الحليفه څخه وتړل سي او که هغه لار اختيار کړل سي چي په هغه کي جحفه راځي نو بيا د جحفه څخه دي احرام وتړل سي مګر اوس يوه لاره سوې ده چي په هغه کي ذو الحليفه راځي او بيا جحفه همدا رنګه د مدينې د اوسيدونکو لپاره دوه ميقاته سوي وې په دغه صورت کي دا سوال پيدا کيداى سي چي اوس د مدينې منورې اوسيدونکي احرام د کوم ځاى څخه وتړي ؟ نو علماء کرام ليکي چي د هغه ځاى څخه احرام تړل غوره دي کوم چي د مکې څخه پر زياته فاصله واقع وي يعني ذو الحليفه او که چيري يو څوک د جحفه څخه احرام وتړي نو دا هم جائز دي .

## د رسول الله ﷺ عمرې

﴿۲۴۰۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ اِعْتَمَرَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عُمَرٍ

حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ څلور عمرې وکړې

كُلُّهُنَّ فِي ذِي الْقِعْدَةِ إِلَّا الَّتِي كَانَتْ مَعَ حَجَّتِهِ عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي

او څلور سره يې د ذيقعده په مياشت کي ادا کړې مګر کومه عمره چي رسول الله ﷺ د حج سره ادا کړه هغه يې په ذي الحجې مياشت کي کړې وه

الْقِعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِّنَ الْجِعْرَانَةِ حَيْثُ

او هغه درې سره عمرې چي په ذيقعده کي يې کړي وې دا دي : يوه عمره رسول الله ﷺ د حديبيې څخه په ذيقعده مياشت کي وکړه، دويمه عمره يې راتلونکى کال وکړه او هغه هم ذيقعده مياشت وه، او دريمه عمره يې د جعرانه څخه وکړه په کوم ځاى کي چي يې

قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقِعْدَةِ وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ. متفق عليه

د غزوه حنين د غنيمت مال وويشي او هغه هم ذيقعده مياشت وه، او څلورمه عمره يې د حج سره ادا کړه او هغه يې په ذي الحجة مياشت کي ادا کړې وه، بخاري او مسلم .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۷\۴۳۹، رقم: ۴۱۴۸، ومسلم ۲\۹۱۶، رقم: ۲۱۷- ۱۲۵۳

**تشريح**: حديبيه د يو ځاى نوم دى چي د مكې مكرمې څخه مغرب خوا ته تقريبا پر پنځلس يا شپاړلس مېله فاصله باندي جدې ته په تلو كي واقع دى دا د مكې څخه شمال مغرب ته دى دلته جبل الشميسي نامى غر هم دى چي د هغه په وجه اوس هغه ځاى ته شميسيه هم وايي د حرم حدود د دغه ځاى څخه هم تيرېږي ځکه د دغه ځاى اكثره برخه په حرم كي ده او يو لږ برخه په حل كي ده.

د حديبيه د عمرې اجمالي بيان دادى چي په شپږم هجري كال كي د ذي العقده پر اول تاريخ د دوشنبې په ورځ نبي كريم ﷺ د عمرې په قصد سره د مدينې منورې څخه روان سو، څوارلس سوه يا تر دې زيات ملګري د رسول الله ﷺ سره وه، كله چي رسول الله ﷺ حديبيې ته ورسيدى نو د مكې قريش جمع سول او رسول الله ﷺ ته راغلل او د بيت الله شريف د زيارت څخه يې منع كړ د ډېر بحث څخه وروسته چي د هغه تفصيل د تاريخ او سيرت په كتابو كي موجود دى، رسول الله ﷺ او قريشو په مينځ كي يوه معاهده په عمل كي راغلل چي د حديبيې د معاهدې يا صلح حديبيه په نامه مشهوره ده، په دغه معاهده كي دا فيصله وسوه چي رسول الله ﷺ به سره د ملګرو سږ كال مدينې ته بېرته ولاړ سي او راتلونكى كال دي راسي عمره دي وكړي نو رسول الله ﷺ د قريشو سره د صلح كولو سره د عمرې څخه پرته مدينې منورې ته ولاړى، په حقيقت كي رسول الله ﷺ عمره ادا نه كړه مګر د عمرې د ثواب تر لاسه كولو په وجه دا د رسول الله ﷺ اولنۍ عمره شمېرل كيږي. دلته د احصار حكم مشروع سو نو راتلونكى كال د دغه عمرې د قضا لپاره رسول الله ﷺ مكې مكرمې ته تشريف راوړ درې ورځي يې په مكه كي قيام وكړ عمره يې ادا كړه او په څلورمه ورځ د هغه ځاى څخه ستون سو، دا دوهمه عمره سوه او دې عمرې ته عمرة القضاء وايي، دغه نوم په حديثو كي هم نقل سوى دى، حنفيه حضراتو ددې څخه په استدلال كولو سره وايي كه چيري محرم د احصار په وجه د احرام څخه ووځي نو د هغه قضاء پر هغه واجبيږي او د امام شافعي رحمه الله په نزد قضاء نه واجبيږي.

د رسول الله ﷺ دريمه عمره هغه ده كوم چي رسول الله ﷺ د جعرانه څخه مكې مكرمې ته په تلو سره ادا كړې ده چيري چي رسول الله ﷺ د حنين د غزا مال تقسيم كړى وو، ددې تفصيل دادى چي جعرانه د مكې مكرمې او طائف په مينځ كي د يو ځاى نوم دى كله چي د مكې مكرمې د فتح څخه وروسته په اتم هجري كال كي د حنين غزا واقع سوه نو هغه وخت بې شمېره غنيمت لاس ته راغلى دلته رسول الله ﷺ په جعرانه كي پنځلس يا شپاړلس ورځي قيام وكړ او

هغه د غنيمت مال يې په صحابه كرامو كې تقسيم كړ ، په دغه ورځو كي يو وار په شپه كې د ماخستن د لمانځه څخه وروسته رسول الله ﷺ مكې مكرمې ته تشريف يووړ او عمره يې ادا كړه او په هغه شپه كي بېرته راغلى او په جعرانه كي يې د سهار لمونځ وكړ .

څلورمه عمره هغه ده كوم چې رسول الله ﷺ د حج فرض كېدو وروسته په لسم هجري كال كي د حج سره ادا كړه نو دا عمره خو په ذي الحجه كي وسوه او پاته عمرې په ذي قعده كي سوي دي همدارنګه رسول الله ﷺ چي كومي څلور عمرې كړي دي هغه دغه وې، البته د اسلام په زمانه كي رسول الله ﷺيو وار حج كړى دى كله چي حج فرض سو ، د جاهليت په ورځو كي به قريشو حج كوى او رسول الله ﷺ به هم هغه وخت حج كوى مګر د هغه شمېر علماء كرامو ته په صحيح توګه معلوم نه دى .

## د حج او عمرې فرق

د حج او عمرې كيفيت او د هغه د متعلقاتو د تفصيل بيان به مخكي راسي مګر دلته يوازي په دې خبره پوهېدل پكار دي چي په حج او عمره كي فرق څه شي دى؟ په حج كي د عرفات وقوف، د بيت الله شريف طواف او د صفا او مروه په مينځ كي سعي كيږي او په عمره كي يوازي د بيت الله شريف طواف، د صفا او مروه په مينځ كي سعي كيږي، احرام د دواړو لپاره شرط دى لكه څرنګه چي حج بېله احرامه نه صحيح كيږي همدارنګه عمره هم بېله احرامه نه صحيح كيږي ، بله خبره داده چي حج فرض هم وي او سنت او نفل هم وي مګر عمره فرض نه ده يوازي سنت او نفل ده هو كه چيري يو څوک د عمرې نذر ومني نو بيا عمره كول واجب ده .

### د حج څخه مخكي رسول الله ﷺ دوې عمرې كړي وې

﴿۲۴۰۵﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ . رواه البخاري

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د حج څخه وړاندي دوې عمرې وكړې او هغه دواړي يې د ذي القعدة په مياشت كي ادا كړې . بخاري .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۶۰۰،رقم: ۱۷۸۱.

**تشريح**: تر دې مخكي په حديث كي خو دا معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ د حج څخه مخكي درې عمرې كړي دي ، او دا حديث د حج څخه مخكي د رسول الله ﷺ د عمرو شمېر دوه

ښيي، ددغه دواړو حديثو تضاد داسي ليري کيږي چي د حديبيه د صلح پر وخت که څه هم په ظاهره رسول الله ﷺ عمره ونه کړل مګر الله تعالی حکم ورکړی وو چي رسول الله ﷺ دي د احرام څخه ووځي او هغه ته به د عمرې ثواب ورکړل سي نو رسول الله ﷺ د عمرې افعال ادا کړي نه دي، په کوم روايت کي چي د حج څخه مخکي د عمرو شمېر درې ښودل سوی دی نو په هغو کي يوازي عمرې مراد دي او د عمرې ثواب مراد نه دی، په دې اعتبار سره درې عمرې شمېرل سوي دي او په کوم روايت کي چي د حج څخه مخکي د عمرو شمېر دوه ښودل سوی دی نو د هغه څخه مراد دادی چي که څه هم رسول الله ﷺ ته د درو عمرو ثواب حاصل سوی دی مګر په ظاهري توګه رسول الله ﷺ دوې عمرې کړي دي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### حج په ټول عمر کي يو وار فرض دی

﴿۲۴۰۶﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ان الله كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْحَجُّ فَقَامَ الأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَقَالَ اَفِي كُلِّ عَامٍ يَارَسُولَ اللهِ قَالَ لَوْ قُلْتُهَا نعم لَوَجَبَتْ وَلَوْ وَجَبَتْ لَمْ تَعْمَلُوا بِهَا أَوْلَمْ تَسْتَطِيعُوا والحج مرة فَمَنْ زَادَ فَتَطَوُّعٌ. رواه احمد والنسائي والدارمي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلکو! الله جل جلاله پر تاسو حج فرض کړی دئ، اقرع بن حابس پورته سو او وکړه: اې د الله رسوله! ايا هر کال؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: که چيري ما هو کړې وای نو هر کال به حج واجب سوی وای او که هر کال واجب سوی وای نو تاسو به نه سوای ادا کولای، او نه به مو دادا کولو توان درلودئ، حج په ټول عمر کي يوازي يو وار فرض دئ او څوک چي تر دې زيات وکړي هغه نفل دئ. احمد، نسائي او دارمي.

**تخريج**: الامام احمد في المسند ۱\ ۲۵۵، والنسائي ۵\ ۱۱۱، رقم: ۲۶۲۰، والدارمي في السنن ۲\ ۴۶، رقم: ۸۱۲.

## د توان سر بیره د حج نه کولو کي وعید

﴿۲۴۰۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَلَكَ زَادًا

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي خاوند وي د لاري د

وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللّٰهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا

مصرف او د سپرلۍ او هغه حج ادا نه کړي نو د هغه په یهودي او نصراني مړ کېدو کي هیڅ فرق نسته

وَذٰلِكَ أَنَّ اللّٰهَ تبارك وتعالى يَقُولُ فِي كِتَابِهِ { وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنْ

او دا ځکه چي الله تعالی فرمایلي دي: (و لله .....سبيلا) د الله تعالی لپاره د بیت الله حج کول پر

اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا } .رواه الترمذي و قَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ وَهِلَالُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مَجْهُولٌ وَالْحَارِثُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ .

خلکو فرض دئ هر کله چي هغوئ د لاري مصرف او نورو خرڅو توان ولري، ترمذي، دا حدیث غریب دئ .

**تخریج**: الترمذي في السنن ۳\۱۷۶، رقم: ۸۱۲.

**تشریح**: مطلب دادی چي د کوم چا سره دومره روپۍ وي چي هغه د حج په سفر ولاړ سي او د بېرته راتلو د مصرف لپاره هم کافي سي او خپل کورنۍ ته هم دومره مال ورکړي چي د هغه تر ستنېدو پوري د هغوئ د ژوند اړتیاوي پوره کړل سي او د هغه سره داسي سپرلۍ وي چي هغه بیت الله شریفي ته ورسوي که هغه یې خپله وي او که د کرایه وي او هغه د دومره استطاعت او قدرت سربېره بیا هم حج ونه کړي او مړ سي نو هغه یهودي او نصراني مړ سو .

اوس دلته دا تفصیل دی که چیري هغه د استطاعت او قدرت سربېره ځکه حج ونه کړ چي هغه دده د فرضیت څخه منکر وي نو بیا د یهود او نصراني ددغه مشابهت تعلق به د کفر سره وي یعني څرنګه چي یهودي او نصراني د کفر په حالت کي مړ کیږي همدارنګه به هغه هم د کفر په حالت کي مړ کیږي ، او که چیري د فرضیت د منکر کېدو څخه پرته حج ونه کړي نو ددغه مشابهت تعلق به د ګناه سره وي چي یهودي او نصراني د څومره سختي ګناه په حالت کي مړ کیږي همدارنګه هغه هم د دومره سخت بار په اخیستو سره مړ کیږي، ځیني علماء وایي چي

رسول الله ﷺ دغه وعيد تغليظ او سختۍ له مخي يعني د حج د پرېښودو د گناه پر شدت او هيبت باندي د اظهار لپاره فرمايلي دي مگر په هر حال حج پرېښودل يوه داسي گناه ده او دومره سخت جرم دی چي نبي کريم ﷺ يې دومره سخت وعيد فرمايلی دی چي حج نه کونکی يهودي او نصراني کېدو سره مړ کيږي . العياذ بالله .

اليه سبيلا ؛ د آيت پاته برخه داده : ومن كفر فان الله غني عن العالمين : او څوک چي كفر وکړي او د الله تعالی د نعمتونو ناشكري وكړي نو الله تعالی د عالم د خلكو څخه بې نيازه دی، يعني خلک كه عبادت او اطاعت وكړي او كه يې ونه كړي په دې سره الله تعالی ته هيڅ گټه او تاوان نه رسيږي گټه او تاوان هغه كسانو ته دی كوم چي طاعت او عبادت كوي نو خلاصون به تر لاسه كړي او كه يې څوک نه كوي نو په تاوان او عذاب كي به اخته سي .

په ظاهره خو معلوميږي چي رسول الله ﷺ به پوره آيت ويلي وي ځكه چي استدلال خو په پوره آيت سره كيږي مگر راوي تر اليه سبيلا پوري دغه آيت نقل كړی دی .

﴿۲۴۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَرُورَةَ فِي الْإِسْلَامِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : صرورة (يعني حج او نكاح پرېښودل) په اسلام كي نسته . ابوداؤد .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۲۴۸، رقم: ۱۷۲۹.

**د لغاتو حل**: صَرُورة: هو الذي لم يحج قط. (مرقاة).

**تشريح**: د صرورت مفهوم دادی هغه څوک چي هغه هيڅكله حج نه وي كړی نو ددغه ارشاد مطلب دادی چي كوم څوک د حج د واجب كېدو سربېره حج ونه كړي نو هغه مسلمان نه دی .

طيبي رحمه الله فرمايي چي ددغه حديث ظاهري مفهوم خو دادی چي كوم څوک د حج كولو توان ولري او بيا هم حج ونه كړي نو هغه مسلمان نه دی مگر حقيقت دادی چي دغه ارشاد يا خو د تغليظ او سختۍ له مخي دی يا ددې څخه مراد دادی چي داسي سړی كامل مسلمان نه سي كيدای، ځيني حضرات وايي چي د صرورت معنی ده نكاح او حج پرېښودل په دې صورت كي به مطلب داوي چي نكاح او حج پرېښودل د اسلام طريقه نه ده بلكه دا په رهبانيت كي داخل دي ځكه مسلمان ته د نكاح او حج پرېښودل نه دي پكار .

## حج على الفور فرض دى كه على التراخي

﴿۲۴۰۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيَتَعَجَّلْ. رواه ابوداؤد والدارمي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د حج اراده وکړي نو بيا دي يې ژر پوره کړي. ابوداؤد او دارمي.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۳۵۰، رقم: ۱۷۳۲، والدارمي ۲\۴۵، رقم: ۱۷۸۴.

**تشريح**: مطلب دادى چي كوم څوک پر حج كولو قادر وي او د حج كولو اراده ولري نو هغه ته پكار دي چي هغه تلوار وكړي او د فرض ادا كولو لپاره په لاس ورغلې موقع غنيمت وګڼي ځكه چي د تلوار كولو په صورت كي معلومه نه ده چي څومره ځنډ پيدا كيږي او انجام يې ددغه عظيم نعمت څخه محرومي ده په دې باره كي چي حج سمدستي واجب دى يا على التراخي د حنفيه په نزد تر ټولو صحيح قول دادى چي كله حج واجب سي يعني د حج شرطونه موجود سي او د حج وخت راسي او قافله تر لاسه سي په شرط ددې چي د قافلې ضرورت وي لكه څرنګه چي په پخوا زمانې كي بېله قافلې سفر كول ناممكن وه نو په هغه كال دي حج وكړي او دوهم كال ته دي يې نه ځنډوي او كه يو سړى بېله عذره تر څو كالو پوري ځنډ كوي نو هغه ته به فاسق ويل كيږي او د شريعت له مخي به د هغه شاهدي نه قبليږي يعني هغه به د شريعت په نظر كي د اعتبار ور نه وي په دغه وخت كي كله چي د حج اسباب ضائع سي نو د هغه د ذمې څخه فرض نه ساقط كيږي د امام مالک او امام احمد رحمة الله عليه هم دا مذهب دى.

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد حج واجب على التراخي دى يعني يعني د عمر تر پايه پوري ځنډول يې جائز دي لكه څرنګه چي په لمانځه كي تر آخر وخته پوري ځنډ كول جائز دي، د امام احمد رحمة الله عليه هم دا قول دى مگر په دې اړه دواړه دا هم وايي چي تاخير هغه وخت جائز دى كله چي د حج فوت كېدو ګمان نه وي كه چيري دا ګمان وي چي د تاخير كولو په صورت كي به حج فوت سي نو بيا دي تاخير نه كوي په دغه صورت كي كه چيري يو سړى د حج فرض كېدو سربېره بېله حج كولو مړ سي نو د ټولو علماؤ په نزد ګناه كار دى او د حج پوښتنه به ځيني كيږي.

حنفي علماء دا هم وايي كه چيري يو سړى د حج شرطونو موجود كېدو وروسته په حج كي تاخير وكړي او په دغه وخت كي د هغه مال ضائع سي نو هغه دي پور واخلي او حج دي وكړي كه

څه هم د هغه پوره پر ادا کولو هغه قادر نه وي او ددې خبري امید وي چي الله تعالی د هغه پوره پر نه ادا کولو باندي مؤاخذه نه کوي په شرط ددې چي د هغه نیت دا وي چي کله مال په لاس راسي نو زه به هغه پوره پوروړي ته ورکوم.

## د حج او عمرې یو ځای کولو حکم

﴿۲۴۱۰﴾: وَعَنِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَابِعُوا

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو په بل پسې ادا کوئ

بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ

حج او عمره ځکه چي دا دواړه مفلسي او ګناهونه داسي لیري کوي لکه چي اور خیري لیري کوي

الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ. رواه الترمذي و النسائي و رواه احمد وابن ماجة عن عمر الى قوله خبث الحديد

د اوسپني او سرو سپینو زرو څخه، او د قبول سوي حج بدله یوازي جنت ده، ترمذي، نسائي، احمد، او ابن ماجة د حضرت عمر رضي الله عنه څخه تر خبث الحدید پوري نقل کړئ دئ.

**تخریج**: الترمذي في السنن ۳\ ۱۷۵، رقم: ۸۱۰، والنسائي ۵\ ۱۱۵، رقم: ۲۶۳۱.

**تشریح**: حج او عمره یو ځای کوئ: ددې مطلب دادی چي قِران کوئ دا د حج تر ټولو غوره قسم دی چي په هغه کي حج او عمره دواړه یو ځای وکړل سي ددې تفصیلي بیان به مخکي راسي یا ددې جملې مطلب دادی که چیري تا عمره کړې وي نو حج هم وکړه او که دي حج کړی وي نو بیا عمره هم وکړه.

د فقر څخه مراد ظاهري فقر هم کېدای سي او باطني فقر هم یعني د حج او عمرې په کولو سره الله تعالی د مال او دولت په نعمت سره نازوي یا دا چي زړه غني سي.

## د حج شرطونه

﴿۲۴۱۱﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا يُوجِبُ الْحَجَّ قَالَ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ. رواه الترمذي وابن ماجه

د حضرت ابن عمر ﷠ څخه روایت دئ چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه یې وکړه اې دالله رسوله ! کوم شی حج واجب کوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : خرڅ او سپرلی . ترمذي .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۱۷۷، رقم: ۸۱۳، وابن ماجه ۲\۹۶۷، رقم: ۲۸۹۶.

**تشريح**: کوم شی حج واجبوي : ددې مطلب دادی چي د حج واجب کېدو شرط څه شی دی؟ رسول الله ﷺ خو یو شی زاد راه وښودی چي د هغه څخه مراد دومره مال دی چي د حج په سفر کي د تلو او راتلو او د خپل کورنۍ د ضروریاتو لپاره کافي وي او دوهم شی یې سپرلۍ وښودل چي پر هغه باندي په سپرېدو سره بیت الله شریفي ته ورسیږي که څه هم د حج واجب کېدو شرطونه نور هم دي مګر دلته په خاصه توګه د غه شیان ځکه ذکر کړل سول چي په اصل کي دغه دوه شرطونه داسي دي چي د حج لپاره د بنیادي او ضروري اسبابو درجه لري .

دغه حدیث د امام مالک ﷫ د مذهب تردید کوي د هغه په نزد پر هغه سړي هم حج واجب دی کوم چي پر پښو باندي پر تلو قادر وي او د تجارت یا مزدورۍ په ذریعه د حج د سفر مصرف تر لاسه کولای سي .

## د حاجي صفت او کیفیت

﴿۲۴۱۲﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سَئَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَالْحَاجُّ

د حضرت ابن عمر ﷠ څخه روایت دئ چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د حاجي صفت څه شي دئ ؟

قَالَ الشَّعِثُ التَّفِلُ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَيُّ الْحَجِّ اَفْضَلُ قَالَ

رسول الله ﷺ وفرمایل : ګډوډ سر خالي د خوشبویي څخه، یو بل سړي پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! کوم حج ښه (غوره) دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

اَلْعَجُّ وَالثَّجُّ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا السَّبِيْلُ قَالَ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ.

په لبیک سره آواز پورته کول او د قربانۍ د وینې بیول، دریم سړي پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! د سبیل څخه مراد څه دئ ؟ (کوم چي په قرآن کریم کي راغلئ دئ) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د سفر لپاره د خوراک سامان او سپرلۍ.

رواه في شرح السنة و روي ابن ماجة في سننه الا انه لم يذكر الفصل الاخير.

شرح السنة او ابن ماجه په خپل سنن کي آخري جمله نه ده ذکر کړې.

**تخريج**: ابن ماجه في السنن ۲\ ۹۶۷، رقم: ۲۸۹۶، شرح السنه ۷\ ۱۴، رقم: ۱۸۴۷.

**د لغاتو حل**: الشعث: اى المغبر الراس من عدم الغسل و مفرق الشعر من عدم المشط. (التفل): اى تارك الطيب. (العج): اى رفع الصوت بالتلبيه. (الثج): سيلان دماء الهدي.

## د پلار پر ځاى حج كول

﴿۲۴۱۳﴾: وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا

د حضرت ابو رزين العقيلي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړاې

رَسُولَ اللّهِ إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ لَا يَسْتَطِيعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ وَلَا الظَّعْنَ قَالَ

د الله رسوله! زما سپين ږيرى پلار ډير كمزورى دئ چي د حج او عمرې توان نه لري او نه پر سپرلۍ د سفر كولو توان لري، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

ته د خپل پلار پر ځاى حج او عمره وكړه. ترمذي، ابوداؤد او نسائي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۴۰۲، رقم: ۱۸۱۰، والترمذي ۳\ ۲۶۹، رقم: ۹۳۰، والنسائي ۵\ ۱۱۱، رقم: ۲۶۲۱

**تشريح**: ددغه باب په اول فصل كي د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت په تشريح كي ددغه روايت تذكره راغلې ده.

## لومړى خپل حج كول ضروري دى

﴿۲۴۱۴﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي څخه دا واوريدل چي ويل يې

يَقُولُ لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ قَالَ مَنْ شُبْرُمَةُ قَالَ أَخٌ لِي أَوْ قَرِيبٌ لِي قَالَ

د شبرمة د لوري څخه لبيک، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه : شبرمه څوک دئ؟ هغه ورته وويل : زما ورور دئ يا يې دا ويلي دي چي زما قريب دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

حَجَجْتَ عَنْ نَفْسِكَ قَالَ لَا قَالَ حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ. رواه الشافعي وابوداؤد وابن ماجة.

ايا تا خپل د ځان لپاره حج کړئ دئ؟ هغه وويل :يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل لومړی د خپل لوري حج وکړي بيا د شبرمة د لوري څخه. شافعي، ابوداؤد او ابن ماجة.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۴۰۳، رقم: ۱۸۱۱، وابن ماجه ۲\ ۹۶۹، رقم: ۲۹۰۳، وترتيب مسند الامام الشافعي ۱\ ۳۸۹، رقم: ۱۰۰۱.

**تشريح**: امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما فرمايي کوم چا چي خپل حج نه وي کړی نو هغه د بل چا پر ځای حج نه سي کولای دغه حديث ددغو حضراتو دليل دی، د امام اعظم ابوحنيفة او امام مالک رحمة الله عليهما مذهب دادی چي د بل چاپر ځای حج کول صحيح دی که څه هم خپله يې فرض حج نه وي کړی مګر ددغه حضراتو په نزد هم غوره دادی چي اول خپل حج وکړي د هغه وروسته د بل چا پر ځای حج وکړي د دوئ د مذهب مطابق په دغه حديث کي چي اول د خپل حج کولو کوم حکم ورکړل سوی دی هغه د استحباب په توګه دی د وجوب په توګه نه دی، داسي هم ويل کيدای سي چي دغه حديث ضعيف دی يا منسوخ دی ځکه هغوئ په دې باندي عمل نه دی کړی.

## د مشرق والاوو ميقات

﴿۲۴۱۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ وَقَّتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ الْعَقِيقَ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ختيځ د اوسيدونکو لپاره د احرام ترلو ځای عقيق ټاکلی دئ. ترمذي او ابوداؤد.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\ ۱۹۴، رقم: ۸۳۲، وابوداود ۲\ ۳۵۵، رقم: ۱۷۴۰.

**تشریح**: عقیق د یو ځای نوم دی چي د ذات عرق په شاوخوا کي واقع دی دغه ځای د لویدیځ اوسیدونکو لپاره میقات دی ، د لویدیځ اوسیدونکو څخه مراد هغه خلک دی کوم چي د حرم څخه د باندي د مکې مکرمې په ختیځ سیمو کي اوسیږي دغه خلکو ته عراق هم ویل کیږي چي یادونه یې په راتلونکي حدیث کي ده ، همدارنګه د ختیځ د اوسیدونکو لپاره د احرام تړلو دوه ځایونه سول یو خو عقیق او بل ذات عرق، نو ددغه خوا څخه راتلونکي کسان که په دغه دواړو ځایو کي د هر ځای څخه تېر سي نو هلته دي احرام وتړي .

﴿۲۴۱۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَّتَ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتَ عِرْقٍ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د عراقیانو لپاره د احرام تړلو ځای ذات عرق ټاکلی دئ . ابوداؤد او نسائي .

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\ ۳۵۴، رقم: ۱۷۳۹، والنسائي ۵\ ۱۲۵، رقم: ۲۶۵۶.

## د میقات څخه مخکي احرام تړل افضل دي

﴿۲۴۱۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي :

مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ غُفِرَ لَهُ

څوک چي د حج او عمرې احرام د مسجد اقصی څخه تر مسجد حرام پوري وتړي د هغه ټول

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

مخکني او وروستني ګناهونه معافیږي او د هغه لپاره جنت واجب کیږي . ابوداؤد او ابن ماجة .

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\ ۳۵۵، رقم: ۱۷۴۱، وابن ماجه ۲\ ۹۹۹، رقم: ۳۰۰۱.

**تشریح**: په : من اهل بحجة او عمرة- کي حرف د او د تنویع لپاره دی او د : او وجبت له الجنة- کي او د راوي شک ظاهروي .

کله چي یو څوک د بیت المقدس څخه مکې مکرمې ته ځي نو هغه په لاره کي پر مدینه منوره تېریږي همدارنګه هغه څوک په خپل لاره کي په درو غوره مقاماتو باندي مشرف کیږي

په دې توګه چې د هغه د لارې شروع د بیت المقدس څخه کیږي په مینځ کي مدینه منوره راځي او په آخر کي مکې مکرمې ته رسیږي نو د هغه سړي د خوشبختۍ اندازه په خپله ولګوئ چې د خپل سفر شروع د بیت المقدس څخه وکړي اول خو خپله سفر مقدس او باعظمته وي بیا د سفر شروع د بیت المقدس څخه وي او بیا په مینځ کي مدینه منوره او د سفر ختم پر حرم شریف باندي وي ځکه نو پورته ذکر سوی سړی دغه عظیم ثواب تر لاسه کوي.

ځیني حضرات فرمايي چي دا حديث دې ته اشاره ده چي د احرام تړلو ځای د حرم څخه څومره ليري وي هغومره به ثواب زيات وي، په دې باره كي فقهي تفصيل دادی چي د امام اعظم رحمه الله په نزد د مواقيت څخه د احرام تقديم يعني د احرام تړلو د ځايو څخه مخكي احرام تړل يا د خپل كور څخه احرام تړلو سره تلل غوره دي، د امام شافعي رحمه الله يو قول دا هم دی مګر دا په هغه صورت كي كله چي د احرام د ممنوعاتو څخه ځان ساتلای سي او كه چيري هغه پوهيږي چي په دغه صورت كي د احرام د ممنوعاتو څخه پرهيز كول ممكن نه دی نو بيا د مقيات څخه احرام تړل غوره دی، همدارنګه د حج په مياشتو كي (يعني شوال، ذي قعده او د ذي الحجې لس ورځو) څخه مخكي د احرام تړلو په باره كي د حنفيه په نزد د جواز قول هم دی او مكروه هم ورته ويل سوي دي چي د حج د مياشتو څخه مخكي د احرام تړونكو احرام نه صحيح كيږي مګر د هغوئ مذهب دادی كه چيري يو څوک د حج د مياشتو څخه مخكي احرام وتړي نو د هغه دغه احرام به د حج پر ځای د عمري احرام سي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

### په حج کي د سوال کولو څخه پرهیز وکړئ

﴿۲۴۱۸﴾: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ يَحُجُّونَ وَلَا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د يمن خلكو به د خوراك او چښباك سامان نه اخيستئ او حج ته به تلل

يَتَزَوَّدُونَ وَيَقُولُونَ نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُونَ فَإِذَا قَدِمُوا مَكَّةَ سَأَلُوا النَّاسَ فَأَنْزَلَ

او دا به يې ويل موږ خو متوكل خلک يو، بيا چي به مكې ته راغلل نو د خلكو څخه به يې سوال كوئ، له دې كبله

اللَّهُ تَعَالَى وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى. رواه البخاري

الله تعالى دا آيت نازل كړ : (و تزودوا..... التقوى) د خوراک او څښاک سامان د ځان سره اخلئ او غوره توښه تقوا ده . بخاري .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۸۳، رقم: ۱۵۲۳.

**تشريح**: خلكو توكل ته د زاد (يعني د لاري د مصرف) درجه وركړې وه او دا يې ګڼل چې د حج د ضرورت مصرف د جمع كېدو څخه قطع نظر توكل غوره شى دى مګر په حقيقت كې هغه نه خو توكل وو او نه يو ښه خبره وه چې د حج لپاره مكې مكرمې ته په رسيدو سره د خلكو په مخكې سوال كوي چې د انساني شرف او عظمت خلاف كار دى ځكه وفرمايل سول چې تر ټولو لويه خبره او ښه والى دادى چې د لاري مصرف د ځان سره ولري او د خيرغوښتلو څخه ځان وساتي، په دې باره كې مسئله داده چې د حج ضروري مصرف د ځان سره وړلو څخه پرته د هغه چا لپاره تلل صحيح نه دى كوم چې د هغه په نفس كې د توكل قوت نه وي او هغه ته غالب ګمان وي چې زه به شكايت او بې صبري او په سوال كې نه اخته كيږم او نور خلک به هم په پريشانى كې نه اخته كوم.

په آيت او حديث كې دې ته اشاره ده چې دومره سامان د ځان سره درلودل د توكل خلاف نه دي ، د كاملينو په نزد دا غوره دي هو كه يو څوک بېله اسبابو يوازې توكل اختيار كړي نو په دې كې هم څه حرج نه سته په شرط ددې چې پر خپل عزم او ارادې باندې مستحكم او ټينګ پاته كېدو سره صبر وكړلاى سي او داسي هيڅ كار هم ونه كړي كوم چې د حقيقي توكل خلاف وي.

**د ښځو جهاد حج او عمره ده**

﴿۲۴۱۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ قَالَ نَعَمْ عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا پر ښځو باندې جهاد فرض دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو پر هغوئ داسي جهاد فرض دئ چې په هغه كې جګړه نسته او هغه حج او عمره ده . ابن ماجهٔ .

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\۹۶۸، رقم: ۲۹۰۱

**تشريح**: اسلام د ښځو لپاره جهاد واجب كړى نه دى مګر دا يو داسي عظيم سعادت دى چې

ددې څخه به ښځي محرومي وي ځکه د هغوئ په حق کي حج او عمرې ته د جهاد په درجې ورکولو سره د جهاد د ثواب په سعادت ونازول سوې ، په حج او عمره کي که څه هم جنګ او جګړه نه سته مګر په دې کي هم د سفر مشقت، د کورنۍ او هيواد څخه بېلوالی داسي دی لکه څرنګه چي په جهاد کي وي ځکه نو د ښځو په حق کي حج او عمره د جهاد په درجه کي ده .

## بېله عذره پر فرض حج نه کولو باندي وعيد

﴿۲۴۲۰﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَّمْ

د حضرت ابو امامة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ

ځرګند حاجت، ظالم پاچا يا خطرناک ناروغي د حج څخه منع نه کړي او هغه مړ سي

يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا . رواه الدارمي

او حج يې ونه کړ نو هغه ته اختيار دئ چي يهودي مړ سي يا نصراني . دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۲\۴۵، رقم: ۱۷۸۵.

**تشريح**: که چيري يو چا ته د حج د سفر په لاره کي د يو ظالم پاچا او حکمران څخه د سر او مال د ضائع کېدو بېره وي نو پر هغه حج فرض نه دی سره ددې چي په هغه کي د حج نور شرطونه مثلا مصرف ، سپرلۍ او داسي نور موجود وي ، همدارنګه هغه ناروغ چي د هغه په وجه سفر کول ممکن نه وي د حج فرضيت ساقطوي، پر ړانده، فلج وهلي او داسي نورو باندي سره د مالي استطاعت او قدرت حج فرض نه دی .

د دغه تفصيل په رڼا کي د پورتني حديث خلاصه داده چي د کوم چا سره د لاري مصرف وي او د سپرلۍ بندوبست وي او په لاره کي د يو ظالم پاچا بېره نه وي او يو ناروغي وغيره د سفر څخه مانع نه وي نو ګويا د حج ټول شرطونه موجود دي او پر هغه حج فرض دی او بيا هم هغه حج ونه کړي نو اوس پکار دي چي هغه په يهودي يا عيسائي کېدو سره مړ سي ، الله تعالی ته د هغه هيڅ پروا نه سته، د دغه سزا په اړه په تېرو صفحو کي تفصيلي بيان تېر سوی دی .

## حج او عمره کونکي د الله ﷻ ميلمانه وي

﴿۲۴۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْحَاجُّ

وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ وَإِنِ اسْتَغْفَرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ . رواه ابن ماجه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حج او عمره کونکي د الله تعالى ميلمانه دي که د الله تعالى څخه هغوئ دعاء وغواړي نو هغه يې قبلوي او که بخښنه وغواړي نو بخښي يې. ابن ماجة.

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\۹٦٦، رقم: ۲۸۹۲

**تشريح**: کعبې شريفي ته بيت الله ويل سوي دي يعني هغه د الله تعالى کور دی کوم څوک چي دغه کور د زيارت لپاره ځي نو هغه د الله تعالى مېلمه وي لکه څرنګه چي کوربه د خپل مېلمه د هر جائز خواهش احترام کوي همدارنګه الله تعالى هم د هغه مېلمنو خاطر کوي که هغوئ دعاء غواړي نو قبلوي يې که مغفرت او بخښنه غواړي نو الله تعالى هغوئ د مغفرت او بخښني په دولت سره نازوي.

﴿۲۲۲۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَفْدُ اللهِ ثَلَاثَةٌ الْغَازِي وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ. رواه النسائي و البيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: دري ډوله خلک د الله تعالى ميلمانه دي: جهاد کونکی، حج کونکی او عمره کونکی. نسائي او بيهقي.

**تخريج**: سنن النسائي ۵\۱۱۳، رقم: ۲٦۲۵، البيهقي في الشعب ۳\۳۷۵، رقم: ۴۱۰۳

## د حاجي په راتلو سره د هغه سره سلام او مصافحه کوئ

﴿۲۲۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَصَافِحْهُ وَمُرْهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ فَإِنَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ. رواه احمد

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايل: هر کله چي ته يو حاجي سره ويني نو هغه ته سلام وکړه او د هغه سره مصافحه وکړه او د هغه څخه غوښتنه وکړه چي هغه خپل کور ته د داخليدو وړاندي د بخښني دعاء وکړي تا ته ځکه چي هغه بخښل سوی دئ. احمد.

**تخریج**: الامام احمد في المسند ۲\۶۹.

**تشریح**: لکه څرنګه چي د یوه روایت څخه ثابته ده چي حاجیان مستجاب الدعوات دي کله چي هغوئ په مکه مکرمه کي داخل سي نو کور ته تر راتلو پوري تر څلوېښت ورځو پوري همداسي وي (لکه څرنګه چي په تېره زمانه کي رواج وو او اوس هم دی) چي کله به حاجیان کور ته راتلل نو خلک به د هغوئ د استقبال لپاره ور تلل او د هغوئ مقصد به دا وو چي ددغه سړي (یعني حاجي صاحب) مغفرت سوی دی او د ګناهونو څخه پاک سوی دی د هغه سره مصافحه وکړي ددې څخه چي هغه په دنیا کي ملوث سي چي موږ ته هم د هغه څخه فیض ورسیږي، که څه هم نن سبا دغه مقصد کم او د ځان ښوونې جذبه زیاته ده، په دغه حدیث کي هم د حاجي سره د سلام او مصافحه کولو لپاره په کور کي د داخلېدو څخه مخکي قید ځکه لګول سوی دی چي نه یوازي دا چي هغه په دنیا کي ملوث او په خپل اهل او عیال کي بوخت سي بلکه تر هغه وخته پوري هغه د الله تعالی په لار کي وي او د ګناهونو څخه پاک وي او په دغه صورت کي حاجي صاحب مستجاب الدعوات وي ځکه یې وفرمایل چي د هغه څخه د ځان لپاره د مغفرت او بخښني دعاء غواړئ چي الله تعالی هغه قبوله کړي او تا په مغفرت او بخښني سره ونازوي.

علماء کرام لیکي چي عمره کونکی، جهاد کونکی او دیني زده کونکی هم د حاجیانو په حکم کي دی یعني کله چي دغه کسان په ستنېدو سره خپل کور ته راسي نو د هغوئ سره هم په کور کي د داخلېدو څخه مخکي سلام او مصاحفه وکړئ او د بخښني او مغفرت د دعاء لپاره خواست ورته وکړئ ځکه چي دغه خلک مغفور دي.

## د حج او عمره کونکي په لاره کي وفات کېدل

﴿۲۴۲۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي ووځي

حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا ثُمَّ مَاتَ فِيْ طَرِيْقِهِ كَتَبَ اللهُ لَهُ أَجْرَ الْغَازِيْ وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حج، عمرې او یا جهاد په اراده او بیا په لاره کي مړ سو نو الله تعالی د هغه لپاره د مجاهد،

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۱۳\۴۷۴، رقم: ۴۱۰۰

**تشريح**: د دغه خلکو په حکم کي ديني طالب هم دی يعني که يو څوک د دين د علم د تر لاسه کولو لپاره د خپل کور څخه وځي او بيا هغه په لاره کي مړ سي نو د هغه لپاره د عالمانو ثواب ليکل کيږي.

## مكه مكرمه او مدينه منوره

د حج په باره کي يو څو بنيادي خبري په اجمالي توګه په دغه باب کي بيان سوي دي، په راتلونکو بابو کي به د حج تفصيلي احکام او مسائل راسي، مکه مکرمه د هغه عظيم عبادت او سعادت بنيادي مقام او محور دی، او مدينه منوره د يو مسلمان د زړه مرکز او محبوب کور دی چي د هغه زيارت هم د حج د سفر بنيادي خواهش دی ځکه نو دلته مناسب دي چي ددغه دواړو مقدسو او بابرکته ځايو په باره کي مختصر تاريخي او جغفرافيايي خاکه وړاندي کړل سي که څه هم مخته به ددغه ځايو پر فضائلو او مسائلو باندي مشتمل بابونه به راسي.

## مكه مكرمه

چيري چي بيت الله شريف واقع دی هغه د سعودي عرب د هيواد يو ښار دی چي د حجاز په نامه ياديږي کوم چي په وادي ابراهيم کي آباد دی، د سمندر د سطحي څخه ددې لوړوالی تقريبا دري نيم سوه فټه ښودل کيږي د هغه عرض البلد ۲۱ درجې شمال او طول البدل ۳۹ نيم درجې مشرقي دی، آبادي يې څلور لکه يا تر دې زياته ده، ددغه ځای وقوع د سمندر د ساحل څخه تقريبا ۷۸ کيلو ميتره فاصله باندي دی.

د مکې څخه پرته بکه، ام القری او بلد الامين هم ددغه ښار نومونه دي او مشهور نوم يې مکه دی، دا چي کوم ځای واقع ده هغه بې کښته، تنګه او ژوره شيله ده چي په يوه زمانه کي بالکل ځنګل او بې اوبو او شنګيا ريګستان په سبب د خلکو د ابادۍ مرکز نه وو جوړ سوی، په دغه شيله کي د مکې مکرمې ښار د مشرق څخه تر مغرب پوري تر پنځه ميله زياته برخه کي خپور سوی دی، عرض يې تر دوه ميله زيات دی، دغه ځکه ته د سيلاب د تېرېدو په وجه بطحا هم ويل کيږي د مکې شيله د دوو غرونو په مينځ کي ده چي د مغرب څخه په شروع کېدو ..ره مشرق ته تللې ده په دې کي يوه سلسله شمالي ده او يوه جنوبي دغه دواړو سلسلو ته اخشبان وايي دغه غرونو ته په تورات کي جبال فاران هم ويل سوي دي.

تقريبا څلور زره کاله مخکي حضرت ابراهيم عليه السلام خپل کورولا بي بي هاجره او خپل زوی

حضرت اسماعیل علیه السلام په دغه ځنګل او غیر اباده شپله کي اباد کړل او هغه وخت یې د کعبې دوهم وار تعمیر وکړ او هغوئ د الله تعالی څخه دعاء وغوښتل چي دغه ځنګل اباد کړي نو د هغه وخت څخه دغه بې اوبو او وچ میدان د قرب او جوار بلکه د ټولي دنیا مرکز جوړ سو د الله تعالی فرمانبردار بندګان دې ته په مخ کولو سره پنځه وخته د الله تعالی عبادت کوي.

د حضرت اسماعیل رحمه الله نسلونه دلته مقسم سول او یو څو نسلونه شاوخوا خپاره سول قریش د دغه ځای متولیان او اوسیدونکي سول او بیا دلته په قریشو کي د دنیا تر ټولو عظیم رهنما او د الله تعالی آخري پیغمبر او رسول حضرت محمد ﷺ مبارک ولادت وسو او د پیغمبر کېدو څخه وروسته د دغه مقدس ښار څخه د الله تعالی د آخري دین اسلام پیغام یې دنیا ته واوروئ او د دغه ځای څخه د اسلام د تبلیغ او خپرېدو ټولي هڅي شروع سوې.

د مکې مکرمې ابادي مخکي یوازي په خیمو کي وه د هجرت څخه یوازي دوه سوه کاله مخکي د رسول الله ﷺ یو نیکه قصی ابن کلاب چي شام ته راغلی نو د هغه په مشورې سره د ځایونو د جوړولو لړۍ شروع سوه بیا د اسلام د راتلو څخه وروسته دغه ښار پرمختګ وکړ اوس په خپل شاوخوا کي تر لیري ځایو پوري تر ټولو لوی او د پوره عالم اسلام تر ټولو اهم او مرکزي ښار دی ، په ښار کي د اوبو یوه چینه ده چي هغې ته زمزم وایي ددې څخه پرته دلته د اوبو بل څاه نه سته د اوبو د کمۍ په وجه دلته په مځکو کي کښت نه سو کېدلای مګر اوس د اوبو د زیاتوب په وجه یو څه واښه او شنګیاوي لګول سوي دي مخکي په ښار کي د اوبو د کمۍ په وجه د طائف څخه یوه ویاله راوستل سوې ده چي د هغې نوم نهر زبیده دی ، دغه ویاله د امین الرشید مور بي بي زبیدې جوړه کړې وه وروسته دغه ویالې ته ترقي ورکړل سوه او ددې لپاره د اوبو رسولو نوري ذرائع هم اختیار کړل سوې، په اوسني حکومت کي د اوبو ډېر معقول انتظام کېدو په وجه د اوبو کمي بالکل ختم سوې ده .

د غرونو په مینځ کي د واقع کېدو په وجه په مکه مکرمه کي ګرمي زیاته او یخ کم دی ، د ګرمۍ په فصل کي ډېر سخت وي او باران یوازي په یخ کي کیږي چي د هغه کلنی مقدار تر څلورو او پنځو انچو زیات نه دی نو د ګرمۍ په فصل کي یعني د مارچ د میاشتي څخه په شروع کېدو سره د اکتوبر تر آخره پوري وي ، د ژمي په فصل کي یخ کم وي .

## مدینه منوره

د مکې مکرمې څخه شمال خوا ته تقریبا پر ۲۷۰ مېله (۴۳۲کیلومیتره) فاصله باندي واقع ده، ددې مغربي خوا تقریبا پر سل کیلومیتره باندي دریاب او ددغه علاقې مشهور

بندرگاه ینبوع دی ، د مدینې منورې او مکې مکرمې او شام په مینځ کې چې کومې لارې تقریبا پر اوسط باندې واقع دې ددې طول البلد ۳۹ نیم درجې مشرقي او عرض البلد ۲۴ درجې شمالی دی.

کله چې د الله تعالی پر یادونکو باندې مځکه تنګه سوه او د مکې کفارو د خطرناکو انتقامي کارنامو ، تکلیف رسولو او فلانونو په وجه د اسلام په تبلیغ کې خنډ او د مسلمانانو په بې عزتی پسې ولګېدل نو د الله تعالی په حکم سره رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته د مدینې منورې په لور د هجرت حکم ورکړ او خپله یې هم مکه پرېښودل او مدینې منورې ته راغلی ، همدارنګه د اسلام تبلیغ او اشاعت مرکز مدینې منورې ته نقل سو او بیا د مکې څخه د اسلام رڼا د عربو د حدودو څخه په وتلو سره پوره دنیا ته ورسیدل.

د رسول الله ﷺ د تشریف راوړلو څخه مخکې ددغه ښار نوم یثرب وو دلته په پخوا زمانه کې عمارز او نور قومونه پاته سوي دي ، رسول الله ﷺ ددغه ښار نوم بدل کړ او بیا دې ته مدینة الرسول یعني د رسول الله ﷺ ښار ویل شروع سول ددې څخه پرته طابة، طیبة ، طائبه، ارض الله، دار الهجرة، بیت رسول الله، حرم رسول الله، محبوبه، حسنه او داسې نور نومونه هم په حدیثو کې راغلي دي مګر تر ټولو زیات مشهور او متعارف نوم یې مدینه دی.

مدینه منوره د مکې مکرمې څخه برعکس اباد او دکښت ښار دی د مغربي خوا څخه پرته ددې په نورو خواوو کې باغونه ډېر لیدل کیږي چې په هغو کې د خرما ، انګورو، انار، سیب او نورې ډېرې میوې پیدا کیږي د مدینې آب او هواء د مکې د آب او هواء په مقابله کې معتدله ده یوه وجه داده چې هغه د مکې مکرمې په ډول د غرونو په مینځ کې نه ده دوهم دا چې د مختلفو خواوو څخه په باغونو راګېر ده دریم دا چې دغه ښار د سمندر د سطحې څخه ۱۲ نیم فټه لوړ دی دلته یخ او ګرمي دواړه سخت دي ، دغه ښار د روغتیا او صحت ښار ګڼل کیږي ، نقل سوي دي چې کله رسول الله ﷺ په هجرت مدینې منورې ته راغلی نو هغه وخت ددغه ځای آب او هواء ډېره ناقصه او خرابه وه اکثر وبائي ناروغی به پکښې پیدا کېدلې ، حضرت ابوبکر صدیق او حضرت بلال رضي الله عنهما دلته په راتلو سره سخت ناروغ سول ، رسول الله ﷺ ددغه ښار د آب او هواء د اصلاح او صحیح کېدو لپاره دعاء وغوښتل او هغه قبوله سوه.

د مدینې ختیځ خوا ته حرة الواقم او لویدیځ خوا ته یې حرة الوبره غرونه دي ، شمال ته یې جبل احد چې په هغه کې د احد معرکه رامنځته سوې وه او هلته د ډېرو صحابه کرامو او حضرت حمزه رضي الله عنه قبرونه دي ، دغه غر د ښار څخه تقریبا پر دوه نیم میله فاصله باندې واقع دی ، او

جنوبي خوا ته يې جبال غير نامي دوه غرونه واقع دي او قباء او عوالي دوه كلي دي ، د حرة الواقم او حرة الوبره په مينځ كي شمال ته جبل سلع دى دا هغه ځاى دى چي دلته په څلورم هجري كال كي رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره خندق كنبلى وو او پر مدينې منورې باندي د حمله كونكو كفارو لاره يې بنده كړې وه ، دغه واقعه په غزوه احزاب يا غزوه خندق سره بلل كيږي دغه خندق تر حرة الوبره پوري په هلالي (سپوږميز) شكل كي كنبل سوى وو او د جبل سلع تر شا تېر سوى دى د مسلمانانو لښكر د جبل سلع په لمن كي مقيم وه ، د ښار تقريبا په مينځ كي په مستطيل شكل د رسول الله ﷺ مسجد دى د دغه مسجد ختيځ خوا ته او پر جنوبي سر باندي روضه اطهر ده چي په هغه كي رسول الله ﷺ آرام فرما دى، او د رسول الله ﷺ ملګري حضرت ابوبكر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما هم دلته دفن دي .

==========

# بَابُ الْاِحْرَامِ وَالتَّلْبِيَهِ

## د احرام او تلبيه بيان

د احرام معنى ده حرامول ، پر حج كونكي باندي يو څو شيان حرام كيږي نو د هغو د اظهار لپاره چي د هغه وخت څخه دغه شيان حرام سوي دي يوه جامه چي يوازي يو څادر او يو لونګ وي د حج يا عمرې په نيت سره تړل كيږي هغه ته احرام وايي .

تلبيه يعني لبيک ويلو څخه مراد دغه عبارت ويل دي : لبيک اللهم لبيک لبيک لا شريک لک لبيک ان الحمد و النعمة لک و الملک لا شريک لک .

## اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړى فصل)

### په احرام كي د خوشبويي لګولو مسئله

﴿۲۴۲۵﴾ : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ اُطَيِّبُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دئ چي ما به رسول الله ﷺ ته خوشبويي وهل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاِحْرَامِهِ قَبْلَ اَنْ يُّحْرِمَ وَلِحِلِّهِ قَبْلَ اَنْ يَّطُوْفَ بِالْبَيْتِ بِطِيْبٍ

د احرام تړلو څخه وړاندي او د احرام تړلو څخه وړاندي چي رسول الله ﷺ به د بيت الله طواف ته تلئ

فِيْهِ مِسْكٌ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفَارِقِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ. متفق عليه

نو هغه وخت به مي هم خوشبويي ورته وهل او په هغه كي به مشک هم وه لكه زه چي اوس هم د رسول الله ﷺ د سر په كربنه كي د خوشبويي ځلا وينم په داسي حال كي چي هغه محرم دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳۹۶\۳، رقم: ۱۵۳۹، ومسلم ۸۴۶\۲، رقم: ۳۳-۱۱۸۹

**د لغاتو حل**: بيص: اى لمعانه و بريقه (ځلا)

**تشريح**: د بي بي عائشي رضي الله عنها د وينا مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به كله د احرام اراده كول نو د احرام تړلو څخه مخكي به ما خوشبويي ورلګول او هغه خوشبويي به داسي وه چي په هغه كي به مشک هم وه نو ددې څخه دا ثابته سوه كه چيري د احرام څخه مخكي خوشبويي ولګول سي او د هغه اثر د احرام څخه وروسته هم پاته وي نو په دې كي څه پروا نه سته ځكه چي د خوشبويي د احرام څخه وروسته استعمال د احرام د منعو څخه دی نه د احرام څخه مخكي ، د امام ابوحنيفة او امام احمد مذهب هم دادی چي د احرام څخه وروسته د خوشبويي استعمال ممنوع دی او د احرام څخه مخكي په استعمال كي څه حرج نه سته مگر امام مالک او د امام شافعي په نزد د احرام څخه مخكي هم داسي خوشبويي لګول مكروه دي چي د هغه اثر د احرام تړلو څخه وروسته هم پاته وي.

ولحله قبل ان يطوف بالبيت : (او د رسول الله ﷺ د احرام څخه د وتلو لپاره ....) ددغه تفصيل پوهېدو څخه مخكي په دې پوهېدل پكار دي چي د بقرعيد په ورځ (يعني د ذي الحجې په لسمه) حاجيان د مزدلفې څخه منی ته راځي او هلته رمي جمره عقبه باندي د ډبرو وېشتلو څخه وروسته د احرام څخه وځي يعني هغه ټولي خبري چي د احرام په حالت كي منع وې اوس جائز دي، البته رفث يعني جماع كول يا د ښځي په مخكي د جماع ذكر او شهوتي خبري كول جائز نه دي تر دې چي مكې ته بېرته راسي او طواف افاضه وكړي نو بيا رفث هم جائز دی، نو د بي بي عائشې رضي الله عنها ددغه جملې مراد دادی چي رسول الله ﷺ به د احرام څخه ووتی يعني د مزدلفې څخه منی ته په راتلو سره د رمي جمره عقبه څخه به فارغ سو مگر تر اوسه پوري به مكې ته په راتلو سره به يې طواف افاضه نه وو كړی نو ما به هغه وخت رسول الله ﷺ ته خوشبويي ور لګول.

## تلبید او تلبیه

﴿۲۴۲۶﴾: وَعَنِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په لوړ آواز دا تلبیه اوریدلي

مُلَبِّدًا يَقُولُ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ

چي فرمایل یې: (لبیک .... لاشریک لک) اې الله! زه حاضر یم ستا په خدمت کي ستا هیڅوک شریک نسته، ستا په خدمت کي حاضر یم او ټول تعریفونه

وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَا يَزِيدُ عَلَى هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ. متفق علیه

او نعمت تا لره دئ او پاچاهي هم، ستا هیڅوک شریک نسته، رسول الله ﷺ به د دې کلمات څخه زیات نه ویل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۳\۴۰۸، رقم: ۵۹۱۵، و مسلم ۲\۸۴۲، رقم: ۲۱-۱۱۸۴.

**تشریح**: تلبید کول دادي چي احرام تړونکی (محرم) د خپل سر په وېښتانو کي ګونډري، نکریزي یا بل داسي شی ولګوي چي وېښتان و مونښلي چي په هغه کي ګرد او غبار ولوېږي او د سپږو څخه خوندي وي.

تلبیه یعني لبیک ویلو کي د علماؤ اختلافي قولونه دي، د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد د احرام صحیح کېدو لپاره تلبیه شرط دی، امام مالک رحمة الله علیه وایي چي تلبیه واجب نه ده مګر د تلبیه په پرېښودو سره دم یعني ذبح کول لازمېږي او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد تلبیه سنت ده د دې په پرېښودو سره دم نه لازمېږي.

د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به په تلبیه کي اکثر دومره الفاظ ویل ځکه چي په نورو روایتو کي د تلبیه د دغه الفاظو څخه پرته نور الفاظ هم منقول دي، په دې باره کي مسئله داده چي د تلبیه کوم الفاظ دلته په حدیث کي نقل سوي دي په هغو کي کمي کول مکروه دي او زیاتي کول مکروه نه دي بلکه مستحب دي.

د حدیث څخه دا مسئله هم واضح سوه چي تلبیه په لوړ آواز سره ویل پکار دي د ټولو علماؤ په نزد په لوړ آواز سره تلبیه ویل مستحب دي.

## تلبيه كله ويل كيږي

﴿۲۴۲۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَدْخَلَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ وَاسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ قَائِمَةً أَهَلَّ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ پښې مباركي پر سپرلۍ باندي كښېښودلې او اوښه به ودريدل نو رسول الله ﷺ به ذوالحليفة مسجد ته نژدې تم سو او په هغه ځای كي به يې احرام وتړئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٦\٦٩، رقم: ٢٨٦٥، ومسلم ١٢\٨٤٥، رقم: ٢٧- ١١٨٧.

**تشريح**: رسول الله ﷺ د حجة الوداع پر موقع د سفر سامان وتړی او د ماپښين لمونځ يې په مدينه كي وكړ او روان سو، د مازديگر لمونځ يې ذوالحليفه ته په رسيدو سره وكړ كوم چي د اهل مدينې لپاره ميقات دی شپه يې هلته تېره كړه او بيا سهار يې احرام وتړی.

د دغه حديث څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د اوښ پر شا باندي په كښېنستو سره او د اوښ د درېدو څخه وروسته لبيک ووايه، مگر په يو بل روايت كي دا منقول دي چي د احرام لپاره به د نفل دوه ركعته لمونځ كولو څخه وروسته لبيک وايي او په يوه روايت كي دادي چي رسول الله ﷺ بېداء ته په رسيدو سره چي د يو لوړ ځای نوم دی لبيک وويل، همدا رنگه د لبيک ويلو د وخت په اړه درې روايتونه منقول دي، امام شافعي رحمة الله عليه پر اول روايت باندي كوم چي دلته نقل سوی دی په عمل كولو سره وايي چي پر اوښ باندي دي لبيک وويل سي. امام اعظم ابو حنيفة او امام مالک رحمة الله عليهما دوهم روايت اختيار كړی دی نو د دغه درو سره امامانو په نزد مستحب دادي چي د دوو ركعتو نفل كولو څخه وروسته د احرام نيت وكړل سي او بيا پر هغه مصلی باندي په ناسته سره لبيک ووايي نو دا جائز دي مگر د لمانځه وروسته لبيک ويل غوره دي.

اوس د دغه درو سره روايتو تضاد په دغه تطبيق سره ليري كيږي چي رسول الله ﷺ د لمانځه كولو سره پر مصلی باندي په ناسته لبيک ووايه بيا چي پر اوښه باندي كښېنستی نو هغه وخت يې هم لبيک ووايه او ددې څخه وروسته چي بيداء ته ورسيدی نو هلته يې هم لبيک ووايه، ځكه علماء وايي چي د حالت، وخت او ځای د بدلېدو پر وخت د لبيک تكرار مستحب دی.

په هر حال رسول الله ﷺ درې واره لبيک ووايه او کوم راوي چې چيري لبيک ويل اوريدلي دي هغه دا ګڼلي دي چې رسول الله ﷺ ددغه ځای څخه لبيک ويل شروع کړي دي ځکه نو هر راوي د خپلو اوريدو سره سم ذکر کړی دی، ددغه تطبيق او توجيه پر بنياد د ابن عباس رضي الله عنه هغه روايت دی کوم چې شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کي د کتاب خرقی په تشريح کي نقل کړی دی.

## د تلبيه ذکر او د حج قسمونه

﴿۲۴۲۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا. رواه مسلم

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ سره په داسي حال کي (حج ته) ولاړو چې موږ به په لوړ آواز سره تلبيه ويل. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۱۴، رقم: ۲۱۱-۱۲۴۷.

**تشريح**: يوازي د حج يادونه يې ځکه وکړه چې حج اصل او مقصود اعظم دی او ځيني حضرات وايي چې دا خبره راوي په خپل اره ويلې ده زيات تر زيات ددې تعلق د ځينو خلکو سره کيدای سي چې د راوي په ډول يوازي د حج لپاره يې تلبيه کول يا په زيات وضاحت سره به داسي ووايو چې دغه حديث يوازي د هغه خلکو حال بيانوي کوم چې د افراد احرام تړلی وو، او کوم چې د رسول الله ﷺ تعلق دی نو د هغه په باره کي دغه حديث ساکت دی چې ددې وضاحت به په بل روايت کي راسي ځکه دغه روايت د راتلونکو روايتو خلاف نه دی.

﴿۲۴۲۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ أَبِي طَلْحَةَ وَإِنَّهُمْ لَيَصْرُخُونَ بِهِمَا جَمِيعًا الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې زه به د ابو طلحه رضي الله عنه سره (پر سپرلۍ) سپور وم او صحابه کرامو به د حج او عمرې دواړو لپاره په لوړ آواز تلبيه ويل. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۶\۱۳۱، رقم: ۲۹۸۶.

**تشريح**: دغه حديث پر دې دلالت کوي چې قِران افضل دی د حنفيه دا مذهب دی، د حديث د مستدل ګرځولو وجه داده چې صحابه کرام د رسول الله ﷺ سره وه هغوئ د رسول الله ﷺ خلاف

عمل کول هیڅکله زغملای نه سوه نو رسول الله ﷺ به قِران کړی وي ځکه اکثر صحابه کرامو هم د رسول الله ﷺ په پیروي کي قِران وکړ، د قِران معنی په مخکني حدیث کي بیان سوې ده.

(۲۴۳۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشي ﷺ څخه روایت دئ چي موږ په حجة الوداع کي د رسول الله ﷺ سره ولاړو

عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ

په موږ کي ځینو خلکو د عمرې احرام وتړئ او ځینو د حج او عمرې دواړو احرام وتړئ، او ځینو

أَهَلَّ بِالْحَجِّ وَأَهَلَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ

یوازي د حج احرام وتړئ او رسول الله ﷺ د حج احرام تړلی وو بیا چي موږ یوازي د عمرې احرام

بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ. متفق عليه

تړلی وو هغه خو حلال سول او چا چي یوازي د حج یا د حج او عمرې دواړو احرام تړلی وو هغوئ حلال نه سول تر څو چي د قربانۍ ورځ راغلل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۲۱، رقم: ۱۵۶۲، ومسلم ۲\۸۷۳، رقم: ۱۱۸- ۱۲۱۱.

**تشریح**: د حج کونکي درې ډوله دي: ۱: مفرد، ۲: قارن، ۳: متمتع.

مفرد هغه ته وايي چي یوازي د حج احرام وتړي او یوازي د حج پر احرام تړلو باندي اکتفاء کولو ته افراد وايي، قارن هغه ته وايي چي د حج او عمرې دواړو په احرام تړلو سره مخکي عمره وکړي او بیا حج وکړي نو د حج او عمرې دواړو په احرام تړلو سره مخکي عمره او بیا حج کولو ته قِران وايي، متمتع هغه ته وايي چي د حج په میاشتو کي د مقیات څخه د عمرې احرام وتړي او د عمرې افعال وکړي بیا که چیري د قربانۍ حیوان یې د ځان سره راوستلی وي نو احرام دي یې تړلی وي او که د قربانۍ حیوان یې د ځان سره نه وي راوستلی نو د احرام څخه دي ووځي او په مکه کي دي مقیم سي کله چي د حج ورځ راسي نو د حج احرام دي د حرم څخه وتړي او حج دي وکړي، د حج په میاشتو کي مخکي د عمرې د احرام په تړلو سره عمره کول او د عمرې څخه د فارغه کېدو وروسته هیواد ته د تللو څخه مخکي بېله احرا خلاصولو یا په احرا خلاصولو سره د حج په میاشتو کي مخکي د حج په احرام تړلو سره حج کولو ته تمتع وايي، دلته په اجمالي

توګه یوازي تعریفونه بیان سوي دي تفصیلي احکام به یې مخته راسي انشاء الله .

اوس سوال دادی چې رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې د کوم ډول حج لپاره احرام تړلی وو؟ ایا رسول الله ﷺ مفرد وو که قارن او که متمتع؟ علماء وایي چې په دې باره کې مختلف حدیثونه نقل سوي دي د ځینو حدیثو څخه دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ مفرد وو نو دلته چې کوم حدیث نقل سوی دی دا هم د هغو څخه دی ، د اکثرو حدیثو څخه ثابتیږي چې رسول الله ﷺ قارن وو او د ځینو حدیثو څخه دا ثابتیږي چې رسول الله ﷺ متمتع وو .

نو په دغه ټولو حدیثو کې تطبیق داسې پیدا کیږي چې د رسول الله ﷺ په ملګرو کې ځینو خو د احرام تړلو پر وخت د رسول الله ﷺ څخه یوازې لبیک بحجة اوریدلي او لفظ د عمرة یې نه دی اوریدلی نو هغوئ دا وویل چې رسول الله ﷺ مفرد وو ، ځینو لبیک بحجة وعمرة واوریدل نو هغوئ وویل چې رسول الله ﷺ متمتع وو او دا احتمال هم دی چې رسول الله ﷺ کله خو لبیک بحجة ویلي دي او کله یې لبیک بعمرة او کله یې لبیک بحجة وعمرة ویلي دي نو چا چې څه واوریدل هغه یې روایت کړل او دا چې د قران او تمتع افعال په خپلو کې مشابه دي ځکه نو ځینو صحابه کرامو دا وګڼل چې رسول الله ﷺ قران کړی دی نو هغه یې نقل کړ او ځینو دا وګڼل چې رسول الله ﷺ تمتع کړی دی ځکه نو هغه دا نقل کړه ، او دا هم کېدای سي چې په کوم روایت کې تمتع منقول ده هلته د هغه لغوي معنی مراد وي ځکه چې د تمتع معنی ده ګټه پورته کول او ظاهره ده چې دا مفهوم په قران سره هم تر لاسه کیږي په دې توګه چې قارن د عمرې څخه منتفع کیږي چې هغه یې د حج سره وکړي .

فاما من اهل بعمرة فحل ... الخ: نو چا چې یوازې د عمرې احرام وتړی نو هغه حلال سو ...الخ، مطلب دادی چې کومو خلکو د حج څخه مخکې یوازې د عمرې لپاره احرام تړلی وي نو هغوئ د طواف او سعي کولو او حلق یعني سرخریلو څخه وروسته د عمرې د احرام څخه ووتل او بیا هغوئ د حج احرام وتړي او کومو خلکو چې یوازې د حج یا د حج او عمرې دواړو احرام تړلی وي نو هغوئ د احرام څخه ووتل تر دې چې د قربانۍ ورځ راسي د نحر ورځ هغه هم پر رمي جمرة العقبة باندې د ډبرو ویشتلو او حلق څخه وروسته د احرام څخه ووتی چې د هغه څخه وروسته ټول په احرام کې منع سول نو د هغوئ لپاره جائز سول پرته د ښځې سره د کوروالي چې هغه د طواف رکن څخه وروسته جائز کیږي .

## د رسول الله ﷺ حج

﴿۲۴۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ تَمَتَّعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ بَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع كي تمتع وكړه يعني د عمرې احرام تړلو سره يې د حج احرام هم وتړئ وړاندي رسول الله ﷺ د عمرې احرام تړلی وو، بيا يې د حج احرام وتړئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۵۳۹، رقم: ۱۹۶۱، ومسلم ۲\۹۰۱، رقم: ۱۷۴- ۱۲۲۷.

# اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

## د احرام جامې

﴿۲۴۳۲﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ وَاغْتَسَلَ. رواه الترمذي والدارمي

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه وليدل رسول الله ﷺ د احرام تړلو لپاره جامې ليري كړې او غسل يې وكړ او بيا يې احرام و تړئ، ترمذي او دارمي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۱۹۲، رقم: ۸۳۰، والدارمي ۲\۴۸، رقم: ۱۷۹۴.

**تشريح**: د لوڅېدو مطلب دادی چي ګنډلي جامې يې د بدن څخه وكښلې او د لونګ او څادر په اچولو سره د احرام جامې واغوندي، د احرام په حالت كي ګنډلي جامې مثلاً قميص، پرتوګ، خولی، عبا، قبا، موزې او داسي نور شيان اغوستل منع دي.

لكه څرنګه چي د حديث څخه معلومه سوه چي د احرام لپاره غسل كول سنت او افضل دی كه چيري غسل ونه كړل سي نو بيا پر اوداسه باندي اكتفاء كول هم جائز دي، د حيض او نفاس والا ښځو او نابالغو كوچنيانو لپاره غسل سنت دی.

## د تلبيد ذكر

﴿۲۴۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبَّدَ رَأْسَهُ بِالْغِسْلِ.

رواه أبو داود

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د خپل سر وربښتان په هغه شي سره یو ځای کړل په کوم چي يې وربښتان پريولل. ابوداؤد.

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\۳۶۰، رقم: ۱۷۴۸.

**تشریح**: رسول الله ﷺ د احرام پر وخت د خپل سرمبارک وبښتان په کونډرو یا بل شي سره جمع کړي وه چي د ګرد او غبار څخه خوندي سي دې ته تلبید وايي په دې باره کي مخکي هم بیان سوی دی.

## په تلبیه کي لوړ اواز

﴿۲۴۳۴﴾: وَعَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

حضرت خلاد بن السائب د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَمَرَنِي أَنْ آمُرَ أَصْحَابِي أَنْ يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالْإِهْلَالِ وَالتَّلْبِيَةِ. رواه مالك والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي

جبرائیل علیه السلام ما ته راغلئ او حکم يې راکړ چي زه خپلو صحابه کرامو ته دا امر وکړم چي هغوئ د احرام تړلو یا لبیک ویلو په وخت کي خپل آوازونه لوړ کړي. مالک، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، او دارمي.

**تخریج**: الامام مالک في الموطا ۱\ ۳۳۴، رقم: ۳۴، والترمذي في السنن ۳\ ۱۹۱، رقم: ۸۲۹، وابوداود ۲\ ۴۰۵، رقم: ۱۸۱۴، والنسائي ۵\ ۱۶۲، رقم: ۲۷۵۳، وابن ماجه ۲\ ۹۷۵، رقم: ۲۹۲۲، والدارمي ۲\ ۵۳، رقم: ۲۹۲۲.

**تشریح**: بالاهلال او التلبية: دلته حرف د او د راوي شک ظاهروي چي رسول الله ﷺ یا خو بالاهلال وفرمایل او یا يې بالتلبیه وفرمایل، د دواړو معنی یوه ده یعني لبیک ویل.

په لوړ آواز د لبیک ویل د نارینوو لپاره مستحب دي مګر آواز دومره لوړول نه دي پکار چي د هغه څخه تکلیف ورسیږي، ښځي دي دومره په کرار اواز سره لبیک وايي چي هغوئ يې خپله اوري نورو ته د هغوئ آواز ونه رسیږي.

## د لبیک ویونکي فضیلت

﴿۲۴۳۵﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت سهل به سعد ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّي إِلَّا لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ مِنْ حَجَرٍ أَوْ شَجَرٍ أَوْ

هر کله چي مسلمان لبیک وایي نو د هغه راسته لوري ته ډبري، درختي او

مَدَرٍ حَتَّى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا. رواه الترمذي وابن ماجة.

خاوري ټول لبیک وایي تر دې چي آخوا دېخوا ټوله مځکه لبیک وایي. ترمذي او ابن ماجة.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۱۳\۱۸۹، رقم: ۸۲۸، وابن ماجه ۲\۹۷۴، رقم: ۲۹۲۱.

**تشریح**: دا حدیث د لبیک ویونکي عظمت او فضیلت څرګندوي چي کله یو مسلمان لبیک وایي نو د مځکي ټول شیان د لبیک ویونکي ملګرتیا کوي په دې توګه چي هغوئ هم لبیک وایي

## د احرام لپاره دوه رکعته لمونځ

﴿۲۴۳۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكَعُ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به

بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ النَّاقَةُ قَائِمَةً عِنْدَ مَسْجِدِ ذِي

په ذوالحلیفة کي دوه رکعته لمونځ کوئ بیا چي ذوالحلیفة ته نژدې ورسیدئ نو

الْحُلَيْفَةِ أَهَلَّ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُولُ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ

په دې کلماتو ویلو سره یې تلبیه کول (لبیک ..... والعمل) اې الله! زه ستا په خدمت کي حاضر یم، ستا په خدمت کي حاضر یم، ستا په خدمت کي حاضر یم او ستا په خدمت کي نیک بختي تر لاسه کوم

وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ. متفق عليه ولفظه لمسلم

او خیر ستا په لاس کي دئ ستا په خدمت کي حاضر یم او شوق او توجه ستا په لور ده او عمل تا

لره دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳\۴۱۲، رقم: ۱۵۵۳، ومسلم ۲\۸۴۳، رقم: ۲۱- ۱۱۸۴.

**د لغاتو حل**: والرغباء، اى الطلب و المسالة والرغبة الى من بيده الخير. (فقر كول).

**تشريح**: مطلب دادى چي كله رسول الله ﷺ ذوالحليفه ته ورسيدى نو هلته به رسول الله ﷺ دوه ركعته لمونځ د نفل په نيت سره كوى كوم چي د احرام لپاره مسنون دى او په دغه دواړو ركعتو كي يې د قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد قرائت وايه، بيا به يې نيت كوى ددې وروسته به يې لبيک وايه او بيا چي به رسول الله ﷺ د ذوالحليفه د مسجد څخه پر اوښه سپور سو نو رسول الله ﷺ به د اوښي سره ودريدى او د هغه كلماتو په ذريعه به يې تلبيه كول كوم چي مشهور دي او بيا د لبيک نور هغه كلمات به يې ويل كوم چي په حديث كي نقل سوي دي.

## د تلبيه وروسته درود او دعاء

﴿۲۴۳۷﴾: وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

حضرت عمار بن خزيمة بن ثابت رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چي كله به رسول الله ﷺ د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا فَرَغَ مِنْ تَلْبِيَتِهِ سَأَلَ اللهَ رِضْوَانَهُ وَالْجَنَّةَ وَاسْتَعْفَاهُ بِرَحْمَتِهِ مِنَ النَّارِ. رواه الشافعي

لبيک څخه فارغ سو نو الله تعالى څخه به يې د هغه رضا او جنت غوښتئ او د هغه د رحمت په ذريعه به يې د هغه د دوزخ د اور څخه امان غوښتئ. شافعي.

**تخريج**: الشافعي في الام ۲\۱۵۷،

**تشريح**: حنفي علماء كرام وايي چي دا مستحب دي كله چي سړى د تلبيه څخه فارغ سي نو هغه دي پر نبي كريم ﷺ باندي درود وايي او د درود ويلو په وخت كي خپل آواز د تلبيه په نسبت كښته كوي او د الله تعالى څخه دي د هغه رضا او جنت غواړي د دوږخ څخه دي پناه غواړي او كوم ديني او دنيوي خير چي غواړي د هغه دعاء دي وكړي.

دا مسئله هم په ذهن كي راوستل پكار دي چي تلبيه كونكي ته سلام ادا كول مكروه دي هو كه يو څوک د تلبيه كولو په حالت كي سلام وكړي نو د هغه د سلام جواب وركول جائز دى او د حنفي علماؤ په نزد يو وار تلبيه ويل فرض دي او تر يو وار زيات ويل سنت دي داسي سنت چي د هغه پرېښودونكى بد ګڼل كيږي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د حجة الوداع پر موقع باندي عام اعلان

﴿۲۴۳۸﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ الْحَجَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فَاجْتَمَعُوْا فَلَمَّا أَتَى الْبَيْدَاءَ أَحْرَمَ. رواه البخاري

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ د حج اراده وکړه نو اعلان يې وکړ، خلک يو ځای سول بيا د بيداء ميدان ته ورسيدل نو احرام يې وتړئ. بخاري.

**تخريج**: لم نجده عند البخاري وهو بلفظه عند الترمذي ۱۸۱/۳، رقم: ۸۱۷.

**تشريح**: کله چي حج فرض سو نو رسول الله ﷺ په لسم هجري کال کي د دغه فريضې د ادا کولو لپاره اراده وکړه نو دا عام اعلان وسو چي رسول الله ﷺ اراده لري چي پر کومو خلکو باندي حج فرض دی هغوئ د حج د سفر تياري وکړي نو پر ټاکلي وخت باندي په مدينه کي د مسلمانانو ډېر لوی شمېر جمع سو او رسول الله ﷺ د ټولو ملګرو سره د مدينې منورې څخه روان سو بيا چي کله رسول الله ﷺ د بيداء ميدان ته چي د ذوالحليفه نژدې دي ورسيدی نو احرام يې وتړی، دلته په دې خبره پوهېدل پکار دي چي دلته د احرام تړلو څخه مطلب دادی چي په بيداء کي رسول الله ﷺ دوه واره د لبيک په ويلو سره د خپل محرم کېدو اظهار وکړ ځکه چي مخکي ښودل سوي دي او دا هم ثابت دي چي رسول الله ﷺ په شروع کي په ذوالحليفه کي د احرام لپاره دوه رکعته لمونځ وکړی او احرام يې وتړی.

### د مشرکانو تلبيه

﴿۲۴۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الْمُشْرِكُوْنَ يَقُوْلُوْنَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي مشرکانو به تلبيه ويل نو داسي به يې ويل: (لبيک لا شريک لک)

قَالَ فَيَقُوْلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلَكُمْ قَدْ قَدْ إِلَّا شَرِيْكًا هُوَ لَكَ

رسول الله ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل: پر تاسو دي افسوس وي بس همدومره وايا ست تر دې زيات مه واياست، مګر ددې وروسته به هغوئ ويل (الا شريکا .... وماملک) ستا په

خدمت کي حاضر يم ستا هيڅوک شريک نسته خو هغه شريک چي

تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ يَقُولُونَ هَذَا وَهُمْ يَطُوفُونَ بِالْبَيْتِ . رواه مسلم

ستا په ملک کي دئ ته د هغو مالک يې او هغه ستا شريک ستا مالک نه دئ ، دا د مشرکانو تلبيه وه مشرکانو به دغه کلمات ويل او د بيت الله طواف به يې کوئ . مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ۲\۸۴۳، رقم: ۲۲- ۱۱۸۵.

**د لغاتو حل**: قدٍ قدٍ: اى كفاكم هذا الكلام فاقتصروا عليه.

**تشريح**: مشرکانو به هم حج، عمره او طواف وغيره کوی هغوئ به د کعبې شريفي تعظيم کوی او د هغې د احترام خيال به يې ساتی مګر کله چي به يې لبيک ويل نو د خپل شرک په وجه به يې دا ويل : لبيک لا شريک لک الا شريکا هو لک تملکه وما ملک، يعني هغوئ به د الله تعالى سره د شرک نفي کول مګر د بتانو استثناء به يې کول او دا به يې ويل چي هغه بُتان د الله تعالى شريک دي مګر هغه مملوک دي او الله تعالى د دغه بتانو مالک دی، هغوئ چي به تلبيه شروع کړه او دا به يې ويل چي لبيک لا شريک لک ، نو رسول الله ﷺ به فرمايل چي تر دې ځايه خو صحيح دی بس تاسو همدومره واياست چي د الله تعالى هيڅوک شريک نه سته ددې څخه وروسته مه واياست ، مګر د مشرکانو پر عقل خو پردې وې هغوئ به هدايت څرنګه منلای وای ځکه هغوئ وروسته ددغه الفاظو ويلو څخه نه منع کېدل حالانکه د هغوئ دغه کلمات : الا شريکا هو لک ...الخ، په حقيقت کي د هغوئ د بې عقلۍ او حماقت ظاهروی چي بتان يې د الله تعالى ملکيت هم ښودل او بيا يې ورته شريک هم ويل حالانکه که هغوئ ته د عقل سليم لږ رهنمائي هم تر لاسه وای نو هغوئ به په دې پوهيدای چي مملوک د خپل مالک شريک څرنګه کيدای سي .

==========

# بَابُ قِصةِ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

## د حجة الوداع قصه

وَداع د واو په زور سره دی او معنی يې ده رخصتول، او حجة الوداع هغه حج ته وايي چي رسول الله ﷺ د حج د فرضيت وروسته په لسم هجري کال کي وکړ ، ددغه حج نوم ځکه حجة الوداع کېښښودل سو چي رسول الله ﷺ په دغه حج کي د شريعت د احکامو تعليم ورکړ هغوئ

يې رخصت کړي او ددغه دنيا څخه د خپل په رخصت کېدو يې هغوئ خبر کړل او د منصب رسالت د ذمه دارۍ د تر سره کولو او ديني او تشريعي احکامو دنيا ته رسولو او نافذ کولو باندي يې هغوئ خپل شاهدان کړل، په دغه باب کي تر ټولو مخکي د حضرت جابر رضی اللہ عنہ هغه اوږد او بسيط حديث نقل کيږي کوم چي په حديثو کي تر ټولو جامع حديث دی، ددغه حديث څخه يو نيم سل فقهي مسائل مستنبط کيږي او که څوک زيات فکر او غور وکړي نو تر دې هم زيات مسئلې مخته راځي.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د حجة الوداع تفصيل د حضرت جابر رضی اللہ عنہ په ژبه

﴿۲۴۴۰﴾: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَثَ بِالْمَدِيْنَةِ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم (تر هجرت وروسته) په مدينه کي وو

تِسْعَ سِنِينَ لَمْ يَحُجَّ ثُمَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ بالحج فِي الْعَاشِرَةِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی اللہ علیہ وسلم

نهه کاله او په دغه وخت کي يې حج ونه کړ، په لسم کال چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په دې الفاظو د حج عام اعلان وکړ چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم

حَاجٌّ فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ بَشَرٌ كَثِيرٌ فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ فَوَلَدَتْ

د حج اراده لري، د اعلان په اورېدو سره ډير خلک يو ځای سول نو د مسلمانانو يو لوی ډله د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم سره روان سول، کله چي موږ ذوالحليفة ته ورسيدو نو

أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلی اللہ علیہ وسلم كَيْفَ أَصْنَعُ

د بي بي اسماء بنت عميس څخه محمد بن ابو بکر پيدا سو، بي بي اسماء د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په خدمت کي يو سړی ولېږی چي په دې حالت کي اوس زه څه وکړم،

قَالَ اغْتَسِلِي وَاسْتَثْفِرِي بِثَوْبٍ وَأَحْرِمِي فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم حکم ورکړ چي غسل وکړه يو جامه وتړه بيا احرام وتړه، بيا نبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم لمونځ وکړ

فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ

په مسجد ذوالحليفة كي بيا پر خپله اوښه سپور سو تر څو چي اوښه د بيداء ميدان ته ورسيده نو

بِالتَّوْحِيدِ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ

رسول الله ﷺ په لوړ آواز سره لبيک ووايه په توحيد ويلو سره حاضر يم: (لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ

وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ قَالَ جَابِرٌ لَسْنَا نَنْوِي إِلَّا الْحَجَّ لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ حَتَّى

وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ) د حضرت جابر ﷛ بيان دئ چي د اوس څخه وړاندي به موږ يوازي د حج نيت كوئ او عمره مو نه پيژندل، بيا كله چي

إِذَا أَتَيْنَا الْبَيْتَ مَعَهُ اسْتَلَمَ الرُّكْنَ فَطَافَ سَبْعًا فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَّ مَشٰى أَرْبَعًا ثُمَّ

موږ د نبي كريم ﷺ سره مكې ته ورسيدو نو حجر اسود يې مچ كړ او اووه واره يې د بيت الله شريفي طواف وكړ، دري واره په څغاسته او ځلورم وار په مناسب تگ سره، بيا

تَقَدَّمَ إِلٰى مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ فَقَرَأَ وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَصَلّٰى

مقام ابراهيم ته ولاړئ او نبي كريم ﷺ دا آيت تلاوت كړ: (واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى) او تاسو د ابراهيم عليه السلام ځای د لمانځه ځای جوړ كړئ، نو لمونځ يې وكړ

رَكْعَتَيْنِ فَجَعَلَ الْمَقَامَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ، و في رواية أَنَّهُ قَرَأَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قُلْ

دوه ركعته د مقام ابراهيم او بيت الله په منځ كي او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي په دغه دوو ركعتو كي يې قل

هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الرُّكْنِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ خَرَجَ مِنَ

هو الله احد او قل يا ايها الكافرون ويل، بيا د حجر اسود لور ته وگرځيدئ او مچ يې كړل، بيا ووتی

الْبَابِ إِلَى الصَّفَا فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ { إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ }

د مسجد د دروازې څخه د صفا په لور او كله چي صفا ته نژدې ورسيدئ نو دا آيت يې تلاوت (ان الصفا والمروة من شعائر الله) صفا او مروه دوې غوندی د الله تعالى د نښو څخه دي

أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتّٰى رَأَى الْبَيْتَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: زه د غونډی څخه پیل کوم چي د هغې څخه الله تعالی خپل کلام پیل کړ، نو د صفا څخه یې پیل وکړ او پر هغه وختی. تر څو چي کعبه شریفه یې ولیدل او بیا بیت الله ته مخامخ ودریدئ

فَوَحَّدَ اللّٰهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ

د الله تعالی وحدانیت یې بیان کړ او د الله تعالی لویي یې بیان کړل، لااله الاالله..... یې وویل،

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ

او الله اکبر یې وو ایه بیا یې وفرمایل: لااله الاالله...... الاحزاب وحده، د الله څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته هغه یوازي دئ هغه واحد او یوازي دئ هغه خپله وعده پوره کړه او د خپلو بندګانو مرسته یې وکړه او ماته یې ورکړه

الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذٰلِكَ قَالَ مِثْلَ هٰذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ نَزَلَ وَمَشٰى إِلَى

د کافرانو ډلي ته یې، بیا ددې په منځ کي یې دعاء وکړه او درې واره یې همداسي وکړل او په میدان کي یې دعاء وکړل بیا رسول الله ﷺ راکښته سو او د مروة په لوري روان سو

الْمَرْوَةِ حَتّٰى إِذَا انْصَبَّتْ قَدَمَاهُ فِي بَطْنِ الْوَادِي ثُمَّ سَعٰى حَتّٰى إِذَا صَعِدَتَا مَشٰى

تر څو چي رسول الله ﷺ د دواړو غونډیو په منځ کي نشیب ته ورسیدئ نو د هغه ځای څخه یې ځغستل پیل کړه او هر کله چي مروة ته وختئ نو کرار تلئ

حَتّٰى أَتَى الْمَرْوَةَ فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا حَتّٰى إِذَا كَانَ آخِرُ طَوَافِهِ

تر څو چي مروة ته وختئ او هلته یې هم هغه وکړل کوم چي یې په صفا باندي کړي وه هر کله چي رسول الله ﷺ په آخري وار مروې ته ورسیدئ

عَلَى الْمَرْوَةِ فَقَالَ وهو على المروة والناس تحته لَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا

نو رسول الله ﷺ خلکو ته په لوړ آواز سره وویل که وړاندي ما ته هغه خبره ښرګنده وای کومه چي

اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ وَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ لَيْسَ مَعَهُ هَدْيٌ

وروسته راته څرګند ه سوه نو هدي (د قرباني حيوان) به مي د ځان سره راوستلی وای او خپل حج به مي عمرې ته نقل کړی وای په تاسو کي چي چا د ځان سره د قرباني حيوان نه وي

فَلْيَحِلَّ وَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً فَقَامَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

هغه دي ځان حلال کړي او حج دي عمره کړي ، د دې په اورېدو سره سراقة بن مالک بن جعشم ودريدئ او عرض يې وکړ اې د الله رسوله !

أَلِعَامِنَا هٰذَا أَمْ لِأَبَدٍ فَشَبَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَهُ وَاحِدَةً فِي

ايا سږ کال زموږ لپاره دا حکم دئ او که د هميشه لپاره ؟ رسول الله ﷺ د خپل يوه لاس ګوتي په بل لاس کي ور کړې

الْأُخْرَى وَقَالَ دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مَرَّتَيْنِ لَا بَلْ لِأَبَدٍ أَبَدٍ وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ

او وه يې فرمايل : اوس عمره په حج کي داخله کړل سوې ده ، دا الفاظ يې دوه واره وفرمايل ، دا حکم يوازي سږ کال لپاره نه دئ بلکه د هميشه لپاره دئ ، حضرت علي رضي الله عنه د يمن څخه د

الْيَمَنِ بِبُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ له مَاذَا قُلْتَ حِينَ فَرَضْتَ الْحَجَّ

رسول الله ﷺ لپاره د قرباني حيوان راوستئ نبي کريم ﷺ د حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه تا چي احرام تړلی وو نو څه نيت دي کړی وو ؟

قَالَ قُلْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُكَ قَالَ فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ فَلَا تَحِلُّ قَالَ

هغه وويل : ما داسي نيت کړی وو (اللهم اني اهل بما اهل رسولک.) اې الله زه د هغه شي نيت کوم د کوم چي ستا رسول کړی دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل زما سره خو د قرباني حيوان دئ له دې کبله ته هم حلال نه يې

فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِي قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِي أَتَى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

او تر څو پوري چي د حج څخه فارغ نه يې احرام تړلی لره ، د راوي بيان دئ چي د رسول الله ﷺ لپاره چي کوم حيوان حضرت علي رضي الله عنه د يمن څخه راوستلی وو او هغه حيوان چي خپله رسول

الله ﷺ د ځان سره راوستلې وو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةً قَالَ فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوا إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ټولو شمير سل وو، حضرت جابر ﷺ وايي ټول خلک د احرام څخه ووتل او د خپل سرونو وېښتان يې وخريل، مګر نبي کريم ﷺ

وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ تَوَجَّهُوا إِلَى مِنًى فَأَهَلُّوا بِالْحَجِّ وَرَكِبَ

او هغو خلکو چې د هغو سره د قربانۍ حيوانان وه د احرام څخه حلال سول بيا چې د ترويې ورځ راغلل نو د منى په لورې يې د تلو بندوبست وکړ او صحابه کرامو د حج احرام وتړئ او سپور سو

النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِهَا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ

نبي کريم ﷺ او هلته يې په مسجد خيف کې د ماپښين، مازديګر، ماښام، ماخستن او سهار لمنځونه ادا کړل

ثُمَّ مَكَثَ قَلِيلًا حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَأَمَرَ بِقُبَّةٍ مِنْ شَعَرٍ تُضْرَبُ لَهُ بِنَمِرَةَ فَسَارَ

بيا لږ ګړی تم سول تر څو چې لمر راوختئ او رسول الله ﷺ حکم ورکړ چې د رسول الله ﷺ لپاره په نمره شيله کې خيمه ولګول سي، دا خيمه د وړښتانو څخه جوړه سوې وه، بيا روان سو

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَشُكُّ قُرَيْشٌ إِلَّا أَنَّهُ وَاقِفٌ عِنْدَ الْمَشْعَرِ

رسول الله ﷺ د منى څخه ، د قريشو خيال وو چې نبي کريم ﷺ به مشعر حرام (مزدلفه) ته نژدې د حج لپاره ودريږي

الْحَرَامِ كَمَا كَانَتْ قُرَيْشٌ تَصْنَعُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَجَازَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

لکه څنګه چې د جاهليت په زمانه کې قريشو کول، مګر رسول الله ﷺ د مزدلفې څخه وړاندې ولاړئ

وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةَ فَنَزَلَ بِهَا حَتَّى إِذَا زَاغَتْ

او د عرفات ميدان ته ورسيدئ، په نمره شيله کې د رسول الله ﷺ خيمه ولاړه وه، رسول الله ﷺ خيمې ته ولاړئ او لږ ګړی يې قيام وکړ، کله چې د لمر زوال سو

الشَّمْسُ أَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَأَتَى بَطْنَ الْوَادِي فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ إِنَّ

نو رسول الله ﷺ د خپلي اوښي قصواء د راوستلو حکم ورکړ، د رسول الله ﷺ لپاره پر قصواء ځين واچول سو او رسول الله ﷺ پر هغه سپور سو او وادي نمره ته یې تشریف یوړ، او د خلکو په وړاندي یې خطبه وفرمایل: رسول الله ﷺ وفرمایل:

دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي

ستاسو وینه او ستاسو مال پر تاسو داسي حرام دئ لکه څرنګه چي ستاسو په دې ورځي، دې میاشت او په دې

بَلَدِكُمْ هَذَا أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوعٌ وَدِمَاءُ

ښار کي قتل، غلا وغیره حرام ګڼئ یعني څرنګه چي ستاسو په نزد د عرفات په ورځ د ذوالحجة میاشت او په مکه کي قتل او غلا حرام دي همداسي د همیشه لپاره په خپلو کي هر ځای وژل او مال اخیستل حرام دي، خبردار اوسئ د جاهلیت د ورځو هر شی زما تر قدمو لاندي پروت دئ

الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعَةٌ وَإِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ ابْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ

او د جاهلیت وژنه معاف کړل سوې ده او لومړنی وژنه چي زه یې د خپلو وژنو څخه معافوم د ابن ربیعه بن حارث وژنه ده،

وَكَانَ مُسْتَرْضِعًا فِي بَنِي سَعْدٍ فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ وَأَوَّلُ رِبًا

دا شېدې رودونکی کوچنی وو چي په قبیله بني سعد کي یې شیدې چېښلې چي هغه هذیل ووژئ، او د جاهلیت سود معاف کړل سو او زه د خپل واجب الاصول سود څخه تر ټولو وړاندي چي کوم سود معافوم

أَضَعُ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهُ مَوْضُوعٌ كُلُّهُ فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ

هغه د ابن عباس بن عبد المطلب سود دئ هغه معاف کړل سوی دٔ او (اې خلکو!) د ښځو په اړه د الله جل جلاله څخه وبیرېږئ

فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ

تاسو هغوئ د اللهﷻ په امان سره اخيستي دي او تاسو د ځان لپاره د هغوئ شرمګاوي د الله تعالی په حکم سره حلال کړئ او پر ښځو ستاسو حق دادئ چي

أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ

هغوئ ستاسو په بسترو کي څوک نه پريږدي چي د هغه راتلل تاسو بد ګڼئ بيا که په دې اړه هغوئ ستاسو خبره ونه مني نو تاسو هغه ښځي ووهئ مګر زياتي يې مه وهئ

مُبَرِّحٍ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ

او پر تاسو د ښځو حق دادئ چي هغوئ ته خوراک ورکړئ او د توان سره سم جامې ورکړئ او (اې خلکو!) ما تاسو ته داسي شی پرې ايښی دئ

تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ كِتَابُ اللَّهِ وَأَنْتُمْ تُسْأَلُونَ عَنِّي فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ

که هغه تاسو ټينګ ونيسئ نو زما وروسته به هيڅکله ګمراه نه سئ او هغه د اللهﷻ کتاب دئ، او (اې خلکو!) ستاسو څخه به زما په اړه پوښتنه کيږي (چي ما د دين احکام تاسو ته رسولي دي که يا) نو تاسو به څه جواب ورکوئ؟

قَالُوا نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ فَقَالَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى

حاضرينو عرض وکړ موږ به د دې امر شاهدي ورکوو چي تاسو موږ ته د دين احکام راورسول او خپل فرض مو ادا کړ او زموږ خير خواهي مو وکړل، د دې وروسته رسول اللهﷺ د شهادت ګوته د آسمان په لور پورته کړل

السَّمَاءِ وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ اللَّهُمَّ اشْهَدْ اللَّهُمَّ اشْهَدْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ

او بيا يې خلکو ته راکښته کړل او وه يې فرمايل: اې الله! ته شاهد يې، اې الله ته شاهد يې دا الفاظ رسول اللهﷺ درې واره وفرمايل، د دې وروسته بلالؓ آذان وکړ

ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ رَكِبَ

بيا يې اقامت ووايه، او د ماپښين لمونځ پيل سو بيا دويم اقامت وسو او د مازديګر لمونځ وسو او د دې دواړو لمنځو په منځ کي يې هيڅ لمونځ ونه کړ، بيا رسول اللهﷺ سپور سو

حَتَّى أَتَى الْمَوْقِفَ فَجَعَلَ بَطْنَ نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ إِلَى الصَّخَرَاتِ وَجَعَلَ حَبْلَ الْمُشَاةِ

او د عرفات میدان ته داخل سو ، رسول الله ﷺ د خپلي اوښي قصواء نس د ډبرو په لور کړاو حبل مشاة یې مخ ته وساتئ

بَيْنَ يَدَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَذَهَبَتْ

او د قبلې لورې ته یې مخ کړ کښېنستئ او همداسي ناست وو ، تر څو چي لمر ډوب سو او په ژړوالی کي څه کمي وسول او ورکي سوې

الصُّفْرَةُ قَلِيلًا حَتَّى غَابَ الْقُرْصُ وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَدَفَعَ حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلَّى

د لمر ورانکې ، بیا رسول الله ﷺ اسامه خپل شاته کښېنوئ او په تیزي سره روان سو تر څو چي مزدلفې ته داخل سو ، دلته رسول الله ﷺ لمونځ وکړ

بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ

د ماښام او ماخستن په یوه اذان او دوو تکبیرو سره او ددواړو لمنځو په منځ کي یې هیڅ ډول تسبیح ،نفل وغیره ونه کړل، بیا

اضْطَجَعَ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ وَصَلَّى الْفَجْرَ حِينَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ ثُمَّ

رسول الله ﷺ پرېوتئ تر څو چي سهار سو ، رسول الله ﷺ د سهار لمونځ هغه وخت وکړ چي ښه رڼا سول او یو آذان او یو اقامت وسو ، بیا

رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ

رسول الله ﷺ پر اوښه سپور سو او مشعر حرام ته ورسیدئ ، دلته رسول الله ﷺ مخ پر قبله وریدئ دعاء یې وغوښتل الله اکبر یې وو ایه او لا اله الا الله یې وویل

وَوَحَّدَهُ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَأَرْدَفَ

او د الله جل جلاله وحدانیت یې بیان کړ ، یعني وحده لاشریک له له الملک وله الحمد یې وویل، تر څو چي د سهار رڼا ښه خپره سول رسول الله ﷺ په همدې شغل کي بوخت وو ، بیا د لمر ختلو څخه وړاندي ددې ځای څخه روان سو

الْفَضْلَ بْنَ عَبَّاسٍ حَتَّى أَتَى بَطْنَ مُحَسِّرٍ فَحَرَّكَ قَلِيلاً ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوُسْطَى

فضل بن عباس رضي الله عنه يې د ځان سره پر سپرلی سپور کړ او وادی محسر ته داخل سو خپله سپرلی يې دلته لږ په تيزي سره وچلول او په هغه درمياني لاره کې تم سو

الَّتِي تَخْرُجُ عَلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى حَتَّى أَتَى الْجَمْرَةَ الَّتِي عِنْدَ الشَّجَرَةِ فَرَمَاهَا

هغه چي جمره کبری ته ځي، هغه جمرې ته ورسيدئ چي د هغه سره درخته وه، و يې ويشتل

بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِنْهَا مِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ رَمَى مِنْ بَطْنِ

په اووه ډبرو او د هر ويشتلو سره يې تکبير وو ايه او دا ډبري د کرخو ددانې په اندازه وې او د نشيب څخه ويشتل سوی وو،

الْوَادِي ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ ثَلاثًا وَسِتِّينَ بِيَدِهِ ثُمَّ أَعْطَى عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا

بيا د قربانۍ په لور وراندي سو او رسول الله صلى الله عليه وسلم درو شپېته حيوانان په خپل مبارک لاس سره حلال کړل بيا يې چاړه يا نيزه حضرت علي رضي الله عنه ته ورکړل او پاته حيوانان

غَبَرَ وَأَشْرَكَهُ فِي هَدْيِهِ ثُمَّ أَمَرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ فَطُبِخَتْ

چي اووه ديرش وه هغه يې حلال کړل، او رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل قربانۍ په حيوانانو کي حضرت علي رضي الله عنه هم ګډ کړ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم وکړ چي د هر حيوان څخه دي لږ غوښه واخيستل سي نو هغه غوښه راوړل سول او په کټو کي پخه کړل سول،

فَأَكَلا مِنْ لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَأَفَاضَ إِلَى الْبَيْتِ

دواړو (نبي کريم صلى الله عليه وسلم او حضرت علي رضي الله عنه) هغه وخوړل او ښوروا يې وچښل، ددې وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم سپور سو او د کعبې شريفي په لور روان سو

فَصَلَّى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ فَأَتَى بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَسْقُونَ عَلَى زَمْزَمَ فَقَالَ انْزِعُوا بَنِي

او په مکه معظمه کي يې د ماپښين لمونځ وکړ بيا يې د عبد المطلب کورنۍ (يعني خپل اکا حضرت عباس او د هغه اولاد) ته تشريف يووړ چي خلکو ته يې د زمزم اوبه ورکولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوئ ته وفرمايل: اې د عبد المطلب کورنۍ! اوبه راوکاږئ او په خلکو يې وڅښئ

عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَوْلَا أَنْ يَغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلَى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ فَنَاوَلُوهُ دَلْوًا فَشَرِبَ مِنْهُ. رواه مسلم

که زما سره دا اندېښنه نه وای چي خلک به پر تاسو رامات سي نو ما به ستاسو سره اوبه راکښلي وای، بیا د عبد المطلب کورنۍ د اوبو یوه سلواغه رسول الله ﷺ ته ورکړل او د هغه څخه رسول الله ﷺ اوبه وڅښلې. مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۸۸٦ – ۸۹۲، رقم: ۱۴۷ – ۱۲۱۸.

**د لغاتو حل**: واستثفري: ای اجعلي ثوبا بین فخذیک وشدي فرجک بمنزلة الثغر للدابة. القصواء: اسم ناقة رسول اللهﷺ. (د رسول اللهﷺ د اوښې نوم). ینکتها: ای یشیر بها (اشاره یې په کول). حبل: ای مجتمعم.

**تشریح**: په حجة الوداع کي د رسول الله ﷺ سره څو کسان وه؟ په دې باره کي مختلف قولونه دي، ځیني حضرات وایي چي په دغه حج کي د رسول اللهﷺسره نیوي زره کسان وه، ځیني حضرات وایي چي یو لک او دېرش زره او ځینو تر دې هم زیات شمېر بیان کړی دی.

بي بي اسماء بنت عمیس مخکي د حضرت جعفر ابن ابوطالب په نکاح کي وه د هغه د وفات څخه وروسته د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ په نکاح کي راغلل د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د وفات څخه وروسته حضرت علي ﷛ د هغې سره نکاح وکړه.

کله چي رسول الله ﷺ د حجة الوداع لپاره روان سو نو هغه وخت دا د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ په نکاح کي وه اوددې څخه محمد بن ابوبکر ﷛ پیدا سو.

د رسول الله ﷺ له خوا بي بي اسماء ته د غسل ورکولو هدایت ددې خبري دلیل دی چي نفاس والا ښځي ته د احرام لپاره غسل کول سنت دی او دا غسل د نظافت یعني پاکوالي لپاره وي د طهارت یعني پاکۍ لپاره نه وي ځکه نفاس والا ښځي ته د تیمم کولو حکم نه دی ورکړل سوی او دا حکم د حائضې هم دی او هغې ته د رسول اللهﷺ دغه حکم چي بیا احرام وتړي یعني د احرام نیت وکړي او لبیک ووایي ددې څخه دا خبره ثابتیږي چي د نفاس والا ښځي احرام صحیح کیږي پر دغه مسئله باندي د ټولو علماؤ اتفاق دی.

رسول الله ﷺ په ذوالحلیفه مسجد کي لمونځ وکړ، ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د سنت احرام دوه رکعته لمونځ وکړ، په دې باره کي مسئله داده که چیري په میقات کي مسجد

وي نو په هغه دوه ركعته كول زيات غوره دي هو كه چيري يو څوک د مسجد څخه پرته په بل ځای کي لمونځ وكړي نو هيڅ پروا نه سته او په مكروه وختو كي دغه لمونځ كول نه دي پكار. علماء دا هم وايي چي د تحية المسجد په ډول فرض لمونځ هم د دغه لمانځه قائم مقام كيږي.

لسنا نعرف العمرة (موږ د عمرې څخه خبر نه وو) دا جمله په اصل كي د مخكي جملې د تاكيد لپاره استعمال سوې ده د دغه جملو وضاحت دادی چي د جاهليت په زمانه كي دا معمول وو چي خلكو به د حج په مياشتو كي عمره كول لويه گناه گڼل نو دا وخت رسول الله ﷺ د هغه رد وكړ او د حج په مياشتو كي د عمرې كولو حكم يې وفرمايه ددې تفصيل به مخته راسي.

كله چي موږ د رسول الله ﷺ سره بيت الله شريفي ته ورسيدو يعني مخكي موږ په ذي طوی كي كښته سو او د شپې مو هلته قيام وكړ او بيا پر څوارلسم د ذي الحجه په غسل كولو سره ثنيه عليا څخه مكې مكرمې ته داخل سو او بيا د باب السلام څخه مسجد حرام ته راغلو او هلته مو د تحية المسجد لمونځ ونه كړ ځكه چي د بيت الله شريفي طواف د هغه تحيه ده.

درې واره رمل وكړ او څلور وار په خپل تگ سره طواف وكړ، په دې باره كي په تفصيل سره پوهېدل پكار دي چي د كعبې شريفې چاپيره اووه چكره كولو ته طواف وايي طواف اووه چكره وايي او هر چكر د حجر اسود څخه په شروع كېدو سره پر حجر اسود باندي ختميږي هر چكر ته د شريعت په اصطلاح كي شوط ويل كيږي.

د طواف په اووه چكرو كي په اولو درو چكرو كي رمل كول پكار دی او د پهلوانانو په ډول په اوږو ښورولو سره سيده سيده او يو څه په تيزه سره قدم اېښودو ته رمل وايي، د طواف په پاته څلورو چكرو كي كرار كرار يعني د خپل معمولي تگ سره تلل پكار دي، رمل يعني جگ جگ او په تېز رفتار سره د تلو وجه داده چي كله نبي كريم ﷺ د عمرة القضا لپاره مكې مكرمې ته تشريف راوړ نو مشركينو د رسول الله ﷺ په ليدو سره وويل چي د يثرب تبې يعني د مدينې منورې تبې هغوئ ډير ضعيف او سست كړي دي نو رسول الله ﷺ مسلمانانو ته حكم وركړ چي په داسي تلو سره د خپل قوت اظهار وكړئ هغه وخت خو تېر سو مگر ددې علت او وجه ليري كولو څخه وروسته هم دا حكم پاته سو دا طريقه تر اوسه پوري جاري ده.

په دغه حديث كي د اضطباع ذكر نه دی سوی مگر د طواف په وخت كي اضطباع هم سنت دي په نورو حديثو كي ددې ذكر موجود دی.

څادر داسي اچول چي د هغه يو سر د راسته اوږې څخه په راكښته كولو سره او د راسته بغل لاندي څخه په را ايستلو سره پر چپه اوږه باندي واچول سي دې ته اضطباع ويل كيږي، د

ځادر د داسي اچولو حکم هم د قوت د اظهار لپاره ورکړل سوی دی او دا حکم هم تر اوسه پاته سو.

د مقام ابراهیم معنی داده چي د حضرت ابراهیم علیه السلام د درېدو ځای هسي خو دا د یو ډبري نوم دی چي پر هغه باندي په درېدو سره حضرت ابراهیم علیه السلام د کعبې شریفي تعمیر کوی پر دغه ډبري باندي د حضرت ابراهیم علیه السلام د پښو نښې جوړي سوي دي چي تر ننه پوري قائمي دي.

ځیني حضرات دا هم وايي چي مقام ابراهیم یو ډبره ده کله چي حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل زوی حضرت اسماعیل علیه السلام د لېدني لپاره راغلی وه نو د اوبښ ځخه پر دغه ډبره باندي کښته سوی وو او کله چي بېرته تلی نو پر دغه ډبره باندي په درېدو سره سپور سو، پر دغه ډبره باندي د هغه مبارک د دواړو قدمو نښې جوړي سوې دي، په هر حال دغه ډبره اوس د کعبې شریفي مخته په یوې خوني کي پرته ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم د طواف ځخه په فارغه کېدو سره د دغه مقام ابراهیم شاته دوه رکعته لمونځ وکړ دغه دوه رکعته لمونځ که څه هم په هغه ځای کي په درېدو سره کول افضل دي مګر په حرم کي هر ځای کول جائز دي که په مسجد کي وکړل سي او که د مسجد ځخه د باندي او د هر طواف وروسته دغه لمونځ کول د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد واجب دی او د امام د امام شافعي رحمه الله په نزد سنت دی.

په دغه دوو رکعتو کي یې قل هو الله احد او قل یا ایها الکافرون وویل، د دغه عبارت ځخه دا معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم قل هو الله احد په اول رکعت کي وویل او قل یا ایها الکافرون یې په دوهم رکعت کي وویل حال دا چي په دغه صورت کي پر سورة مقدم باندي د سورة متاخر تقدیم (یعني د وروسته سورت مخکي کول او د مخکي سورت وروسته کول) لازمېږي ځکه نو علماء ددې توجیه دا بیان کړې ده چي په حدیث کي په دې باره کي چي کوم عبارت نقل سوی دی په هغه د واو حرف د جمع د ظاهرولو لپاره دی یعني ددې مقصد یوازي دا ښوودل دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه دواړو رکعتو کي دغه دواړه سورتونه وویل اوس دا چي په دې کي یې کوم یو په اول رکعت کي ووایه او کوم سورت یې په دوهم رکعت کي ددې وضاحت مقصود نه دی او نه دلته د هغه وضاحت موجود دی د دغه توجیه سره دا اشکال نه سي پیدا کیدای، بیا طیبي رحمه الله په دغه عبارت کي د دغه دواړو سورتونو د ذکر سوي ترتیب په باره کي دا نکته هم بیان کړې ده چي قل هو الله احد د الله تعالی د وحدانیت د اثبات او اظهار لپاره دی او قل یا ایها الکافرون د شرک ځخه د بیزاری لپاره دی ځکه د توحید د عظمت او د هغه تر ټولو زیات فضیلت په وجه یې دغه سورت مخکي ذکر کړ چي د هغه ځخه د توحید اثبات کیږي.

د دغه ټولو خبرو ځخه پرته په ځینو روایتو کي دغه عبارت داسي نقل سوی دی چي په هغه

کي اول د قل يا ايها الکافرون ذکر دی او بيا د قل هو الله احد، په دغه صورت کي خبره بالکل صفا کيږي.

رسول الله ﷺ د صفا او مروه په مينځ کي سعي اووه واره وکړه په دې توګه چي د صفا څخه تر مروه پوري يو وار، د مروه څخه تر صفا پوري دوه واره همدارنګه رسول الله ﷺ اووه چکره ولګول، د سعي شروع خو د صفا څخه وسوه او ختم پر مروه باندي وسو لکه څرنګه چي د حديث الفاظ دي چي رسول الله ﷺ پر مروه باندي د سعي اختتام وکړ.

سعي يعني د صفا او مروه په مينځ کي چکر لګول واجب دي ددې اصل دادی چي کله حضرت اسماعيل عليه السلام ماشوم وو نو د هغه مور بي بي هاجرې رضي الله تعالى عنها د اوبو په پلټني پسي ووتل کله چي کښته ورسيدل نو اسماعيل عليه السلام د هغې د نظر څخه پټ سو هغه پر صفا او مروه باندي په ختلو سره د هغه د ليدو لپاره ددغه دواړو غونډيو په مينځ کي چکر وهي دغه سعي د هغې سنت دی کوم چي رسول الله ﷺ پوره کړ، د صفا او مروه په مينځ کي خاوره اچول سوې ده ځکه نو اوس هغه کښته ځای نه دی پاته سوی البته هغه نښي جوړي سوي دي او د بي بي هاجرې رضي الله عنها د سنت پوره کولو لپاره هلته منډه وهل کيږي.

لو اني استقبلت من امري ... الخ: که په خپل اړه ما ته د مخکي څخه هغه خبره معلومه وای... په دې اړه که څه هم ډېر اوږد بحث دی مګر د خلاصې په توګه پوهيدل پکار دي چي کله نبي کريم ﷺ مکې ته ورسيدی او د عمرې څخه فارغ سو نو صحابه کرامو ته يې حکم وکړ چي کوم چا د ځان سره د قرباني حيوان نه وي راوستلی نو هغه دي د عمرې څخه وروسته د احرام څخه ووځي او حج دې په عمرې سره فسخ کړي (يعني د حج احرام دي د عمرې احرام وګرځوي) کله چي د حج ورځي راسي نو بيا دي دوهم وار احرام وتړي او حج دي وکړي او کوم چا چي د ځان سره د قرباني حيوان راوستلی دی نو هغه دي د عمرې څخه وروسته احرام نه خلاصوي بلکه تر حج پوري دي په احرام کي وي او د حج څخه وروسته دي احرام خلاص کړي، رسول الله ﷺ د قرباني حيوان د ځان سره راوستلی وو ځکه نو رسول الله ﷺ احرام خلاص نه کړی او د عمرې څخه وروسته هم د احرام په حالت کي وو دغه حکم صحابه کرامو ته ډېر مشکل سو يو خو دا چي موږ احرام خلاص کړو او رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي وي په داسي کولو سره د رسول الله ﷺ پيروي ترک کيږي کوم چي صحابه کرامو ته هيڅکله د منلو وړ نه وو دوهم هغوئ دا فکر وکړ چي اوس په عرفات کي يوازي پنځه ورځي پاته سوي دي ځکه دا خبره مناسب نه معلوميږي چي احرام خلاص کړل سي او بيا په دغه وخت کي خپلو ښځو ته ورځو او کله چي د

عرفات ورځ راسي نو سمدستي د احرام په تړلو سره به عرفات ته روان سو او حج به وکړو د هغوئ خواهش وو چي دغه درمياني پنځه ورځي هم د احرام په حالت کي تيري سي په داسي کولو سره به د رسول الله ﷺ پيروي هم وسي او په دغه ورځو کي به د خواهشاتو او دنيوي کارو کي د بوختيا څخه هم پرهيز وسي ، بيا دا چي د جاهليت په ورځو کي د حج په مياشتو کي عمره کول بد ګڼل کېدل او د هغوئ په ذهن کي تر اوسه دا خبره وه ځکه نو هغوئ نه غوښتل چي دا وخت په ځانګړې توګه د عمرې صورت پيدا سي ددغه ټولو وجوهاتو په وجه هغوئ غوښتل چي رسول الله ﷺ موږ ته د احرام خلاصولو حکم نه راکړي ځکه نو رسول الله ﷺ د غصې اظهار وکړ او وه يې فرمايل چي دا خو د دين خبره ده زه څه وکړم الله تعالى چي څه حکم کړى دى هم هغسي به کيږي که څه هم پر طبعيت باندي بار وي که ما ته دا معلومه واى چي زما د پيروى د پرېښودو په وجه به تاسو ته احرام خلاصول مشکل وي نو ما به هم د قربانۍ حيوان نه راوستلاى او د احرام په خلاصولو سره به مي د هغه وخت حج په عمرې سره فسخ کړى واى مګر ما ته څه معلومه وه چي د الله تعالى حکم به دا وي .

امام نووي رحمة الله عليه فرمايي چي په عمرې سره ددغه فسخ سوي حج په باره کي د علماء کرامو اختلافي قولونه دي چي ايا دا په هغه کال يوازي د صحابه کرامو لپاره وو او که د همېشه لپاره نورو ته هم داسي جائز دي؟ امام احمد رحمة الله عليه او د اهل ظاهر يو ډلي دا ويلي دي چي دغه فسخ د حج يوازي د صحابه کرامو لپاره نه وه بلکه دغه حکم د همېشه لپاره پاته دى نو د هغه چا لپاره چي د حج احرام وتړي او هدي ورسره نه وي دا جائز دي چي هغه د حج احرام په عمرې سره فسخ کړي او د عمرې د افعالو د ادا کولو څخه وروسته حلال سي يعني احرام خلاص کړي ، د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه ، امام مالک رحمة الله عليه ، امام شافعي رحمة الله عليه او د سلف او خلف د علماؤ وينا داده چي دغه حکم يوازي په هغه کال کي د صحابه کرامو لپاره وو کوم چي د جاهليت په زمانه کي د حج په مياشتو کي عمره کول حرام ګڼل کېدل چي د هغه ترديد وسي .

او ددغه حديث سره سم د امام ابوحنيفة او امام احمد رحمة الله عليهما مذهب دا هم دى چي کوم څوک د عمرې احرام وتړي او هدي د ځان سره نه راولي نو د عمرې د افعالو د ادا کولو وروسته دي د احرام څخه ووځي او که هدي يې د ځان سره راوستلې وي نو د احرام څخه دي نه وځي تر دې چي د قربانۍ په ورځ د هغه هدي ذبح وسي مګر امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهما وايي چي محض د عمرې د افعالو د ادا کولو څخه وروسته د احرام څخه وتل جائز دي که هغه د ځان سره هدي راوستلې وي او که يې نه وي راوستلې .

مشعر حرام په مزدلفه کې د يوه غره نوم دی، د جاهليت په زمانه کې د قريشو دا طريقه وه چې هغوئ د حج لپاره د عرفات پر ځای په مزدلفه کې درېدل او دا به يې ويل چې دا موقف حمس يعني د قريشو او حرم د اوسيدونکو د تم کېدو ځای دی د قريشو څخه پرته ټولو عربو به په عرفات کې وقوف کوی رسول الله ﷺ هم د قريشو څخه وو ځکه قريشو دا ګمان وکړ بلکه سيده عرفات ته ورسيدل چې رسول الله ﷺ به هم د عرفات پر ځای په مزدلفه کې وقوف وکړي مګر رسول الله ﷺ هلته وقوف ونه کړ بلکه سيده عرفات ته ورسيدی او د نمرې په شېله کې يې خطبه وفرمايل، رسول الله ﷺ دوې خطبې وويلې په اوله خطبه کې يې د حج احکام بيان کړل او په عرفات کې پر ډېر ذکر او دعاؤ باندې يې ترغيب ورکړ او دوهمه خطبه د اولې خطبې په نسبت کوچنۍ وه چې په هغه کې يوازې دعاء وه.

د ربيعه ابن حارث د زوی قصه داده چې حارث د رسول الله ﷺ اکا او د عبدالمطلب زوی وو او د هغه زوی ربيعه وو ، د ربيعه يو تی رودونکی ماشوم وو چې نوم يې اياس وو د عربو د عامې قاعدې سره سم ايا ته د تې ورکولو لپاره د بني سعد قبيلې ته ورکړل سوی وو په کومو ورځو کې چې د سعد او هذيل د قبيلو په مېنځ کې معرکه کېدل نو اياس د بني سعد په قبيله کې وو د هغه جګړې په دوران کې د هذې د قبيلې يو سړي اياس په ډبرو وويشتی چې په هغه سره هغه ماشوم مړ سو ، اياس د رسول الله ﷺ د اکا لمسی وو ځکه د هغه د قتل د بدلې اخيستلو حق رسول الله ﷺ ته حاصل وو مګر رسول الله ﷺ د هغه قتل معاف کړ.

همدارنګه حضرت عباس ﷛ ابن عبدالمطلب د رسول الله ﷺ محترم اکا وو د سود راکړه ورکړه يې کول هغه وخت دده ډېر زيات سود د خلکو پر ذمه پاته وو هغه هم رسول الله ﷺ معاف کړ.

بيا دوهم وار اقامت وسو او د مازديګر لمونځ وسو يعني د ماپښين په وخت کې خو د ماپښين لمونځ وسو او بيا د مازديګر لمونځ وسو يعني د ماپښين او مازديګر لمونځونه په جمع کولو سره وکړل سول دې ته جمع تقديم وايي په عرفات کې د وقوف لپاره دغه دواړه لمونځونه پر يو ځای د ماپښين په وخت کې کېږي په داسې توګه چې د ماپښين د څلور رکعته فرضو څخه وروسته مؤذن دوهم اقامت وکړي او بيا د مازديګر لمونځ وکړي ددغه دواړو لمونځو په مېنځ کې سنت، نفل او نور لمونځونه نه کېږي چې د دواړو لمونځو په مېنځ کې د وقفه کېدو په وجه جمع باطله نه سي ځکه چې دغه لمونځونه پرله پسې کول واجب دي.

او په تېز تللو سره مزدلفې ته راغلی، مزدلفه د منی او عرفات په مېنځ کې د يو ځای نوم دی، د لسم تاريخ په شپه په مزدلفه کې تم کېدل د حنفيه په نزد سنت دی او د امام شافعي او

امام احمد رحمة الله علیهما په نزد واجب دي .

د حديث څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ مزدلفې ته په رسيدو سره د ماښام او ماخستن لمونځونه په يوه اذان او دوو اقامتو سره وکړل لکه څرنگه چي رسول الله ﷺ په عرفات کي د ماپښين او مازديگر لمونځونه په يوه اذان او دوو اقامتو سره کړي وي ، د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمة الله عليهم دا مذهب دی مگر د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد په مزدلفه کي دغه دواړه لمنځونه په يوه آذان او يوه اقامت سره کيږي چي دلته د ماخستن لمونځ په خپل وخت کي کيږي ځکه نو د خبر ورکولو لپاره د جلا تکبير ضرورت نه سته پر خلاف د عرفات چي هلته د مازيدگر لمونځ په خپل وخت کي نه کيږي بلکه د ماپښين په وخت کي کيږي ځکه نو هلته د خبر ورکولو لپاره جلا تکبير ضروري دی، په صحيح مسلم کي د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت منقول دی او ترمذي هم ددې تحسين او تصحيح کړې ده .

مشعر حرام: لکه څرنگه چي مخکي ښوول سوي دي چي په عرفات کي د يوه غره نوم دی او پر لسم تاريخ د سهار په وخت کي هلته وقوف د حنفيه په نزد واجب دی او د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د حج يو رکن دی .

وادي محسر : دا د مزدلفې او منی په مينځ کي يو شيلې نوم دی ، ويل کيږي چي اصحاب فيل دلته د الله تعالى په عذاب کي په اخته کېدو هلاک سوی وه ، رسول الله ﷺ چي د مشعر حرام (مزدلفې) څخه روان سو او دغه شيلې ته ورسيدی نو خپل سپرلۍ يې تيزه کړه او ددغه شيلې مسافت يې په تيزي سره پوره کړ ځکه چي د رسول الله ﷺ مبارک عادت وو چي پر کوم ځای به پر يو قوم باندي عذاب نازل سوی وو نو رسول الله ﷺ به د عبرت له مخي د هغه ځای څخه په تيزي سره تېريدی ، ځيني حضرات وايي چي د حج په وخت کي به نصاری يا دعربو مشرکينو په وادي محسر کي وقوف کوی ځکه رسول الله ﷺ د هغوئ د مخالفت په وجه په دغه شيله کي خپل سپرلۍ تېزه کړه چي د هغه ځای څخه ژر تېر سي ، په هر حال د رسول الله ﷺ د پيروۍ سره سم د هر چا لپاره مستحب دي چي ددغه شيلې سره په تېزي سره تېر سي .

او پر هغه منځنۍ لار روان سو کوم چي د جمره کبری سربېره تېريږي : ددې مطلب دا دی چي پر کومه لار رسول الله ﷺ تشريف وړی وو هغه لار بله وه او دغه لار بله وه چي جمره کبری يعني پر جمره عقبی باندي تيريږي ، اوله لار چي پر هغې باندي رسول الله ﷺ عرفات او مزدلفې ته تشريف وړی وو هغه ته به يې طريق ضب ويل او دغه لار چي پر هغه باندي رسول الله ﷺ د رمي جمار لپاره منی ته بېرته راتلی طريق مازمين وايي، ضب او مازمين د دوو غرو نومان دي .

تر دې چي رسول الله ﷺ هغه جمرې ته ورسيدی کوم چي درختي ته نژدې ده ، دلته د جمره څخه مراد جمره عقبه ده د کوم چي مخکي يادونه وسوه، جمره منار ته وايي په منی کي يو څو داسي منارې دي چي هغه په ډبرو ويشتل کيږي ددې تفصيل به مخته راسي انشاء الله تعالی.

رسول الله ﷺ د خپل قربانۍ په حيوانانو کي حضرت علي ﷛ هم د ځان سره ګډ کړی وو، يعني رسول الله ﷺ حضرت علي ﷛ ته يو څو اوښان ورکړل چي هغه يې د خپل ځان لپاره حلال کړي ، اوس يا خو رسول الله ﷺ هغه ته هغه اوښان د خپل پاته اوښانو څخه ورکړل او يا به يې د نورو اوښانو څخه ورکړي وي.

رسول الله ﷺ او حضرت علي ﷛ د قربانۍ غوښه وخوړل او د هغه ښوروا يې وڅښل، ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي د خپلي قربانۍ څخه غوښه خوړل مستحب دي.

او کعبې شريفې ته روان سو او هلته په رسيدو سره يې طواف وکړ، دغه طواف ته طواف افاضه هم وايي او طواف رکن هم، دغه طواف د حج يو رکن دی او په دې سره حج ختميږي، هسي خو دغه طواف د قربانۍ په ورځ کول غوره دی مګر وروسته کول هم جائز دي.

او په مکه کي يې د ماپښين لمونځ وکړ: دا خبره د ابن عمر ﷛ د هغه روايت خلاف ده چي د هغه څخه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په منی کي وکړ، په دغه دواړو روايت کي مطابقت داسي پيدا کيږي چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په مکه کي وکړ البته په منی کي يې نفل لمونځ کړی دی چي ابن عمر ﷛ د ماپښين د لمانځه ګمان وکړ، يا به داسي وويل سي چي کله دواړه روايتونه متعارض سي نو دواړه ساقط سي اوس به ترجيح هغه خبري ته ورکول کيږي چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په مکه کي وکړ ځکه چي په مکه کي لمونځ کول غوره دي. والله اعلم.

## د احرام طريقې او د حج قسمونه

﴿۲۴۴۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ

د حضرت عائشې ﷞ څخه روايت دئ چي موږ په حجة الوداع کي د رسول الله ﷺ سره ولاړو،

الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ اَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ اَهَلَّ بِحَجٍّ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ قَالَ النَّبِيُّ

په موږ کي ځينو د عمرې او ځينو د حج احرام وتړئ، کله چي موږ مکې ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ يُهْدِ فَلْيَحْلِلْ وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ

چا چي د عمرې احرام تړلی دئ او د قرباني حيوان يې نه دي راوستلی نو هغه ته پکار ده چي ځان حلال کړي او چا چي د عمرې احرام تړلی دئ

وَأَهْدٰى فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ ثُمَّ لَا يَحِلُّ حتى يحل مِنْهُمَا. وَفِيْ رِوَايَةٍ

او د قرباني حيوان يې راوستلی دئ نو هغه دي د حج او عمرې دواړو احرام وتړي او تر هغه وخته پوري چي د عمرې او حج دواړو څخه فارغ نه سي حلال دي نه سي، او په يوه روايت کي دي

فَلَا يَحِلُّ حَتّٰى يَحِلَّ بِنَحْرِ هَدْيِهِ وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ قَالَتْ فَحِضْتُ

تر څو پوري چي هغه خپل قرباني حلاله نه کړي نه دي حلالېږي او چا چي يوازي د حج احرام تړلی وي هغه دي خپل حج پوره کړي، بي بي عائشة (رض) وايي پر ما حيض راغلئ

وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ فَلَمْ أَزَلْ حَائِضًا حَتّٰى كَانَ يَوْمَ

او تر اوسه مي نه د بيت الله طواف کړی وو او نه مي د صفا او مروه په منځ کي سعي کړې وه، تر عرفات پوري زما وينه راتلل

عَرَفَةَ وَلَمْ أُهْلِلْ إِلَّا بِعُمْرَةٍ فَأَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَنْقُضَ

او ما يوازي د عمرې احرام تړلی وو، نبي کريم ﷺ ما ته حکم راکړ چي زه خپل سر پريولم

رَأْسِيْ وَأَمْتَشِطَ وَأُهِلَّ بِالْحَجِّ وَأَتْرُكَ الْعُمْرَةَ فَفَعَلْتُ حَتّٰى قَضَيْتُ حَجِّيْ بَعَثَ

او ږمنځ يې کړم او عمره پرېږدم يوازي د حج احرام وتړم، نو ما همداسي وکړل او خپل حج مي پوره کړ، بيا رسول الله ﷺ ولېږئ

مَعِيَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبِيْ بَكْرٍ وَأَمَرَنِيْ أَنْ أَعْتَمِرَ مَكَانَ عُمْرَتِيْ مِنَ التَّنْعِيْمِ

زما سره (زما ورور) عبد الرحمن بن ابوبکر رضي الله عنه او ما ته يې حکم راکړ چي زه د خپلي عمرې پر ځای د مقام تنعيم څخه عمره وکړم،

قَالَتْ فَطَافَ الَّذِيْنَ كَانُوا أَهَلُّوا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلُّوا

د بي بي عائشې بيان دئ چي کومو خلکو د عمرې احرام وتړئ هغوئ د بيت الله طواف وکړ او د صفا او مروة په منځ کي يې سعي وکړه او بيا حلال سول ،

ثُمَّ طَافُوا طَوَافًا بَعْدَ أَنْ رَجَعُوا مِنْ مِنًى وَأَمَّا الَّذِينَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا . متفق عليه

بيا چي هغوئ د منی څخه راستانه سول هغوئ يو طواف بل وکړ او کومو خلکو چي د حج او عمرې دواړو احرام تړلی وو هغوئ يوازي يو طواف وکړ . بخاري او مسلم .

**تخريج**: البخاري في الصحيح ۳\ ۴۱۵، رقم: ۱۵۵۶، ومسلم ۲\ ۷۸۰، رقم: ۱۱۲- ۱۲۱۱.

**تشريح**: تنعيم د يو ځای نوم دی چي د مکې څخه پر دوه نيم يا درې ميله فاصله باندي د شمال مغرب ته واقع دی ، دغه ځای د حرم د حدود څخه وتلی دی ، حاجيان صاحبان د عمرې د احرام تړلو لپاره دلته راځي .

د عمرې د احرام لپاره ضروري او شرط دی چي د حرم د حدودو څخه دباندي وتړل سي ک عمره کونکی مکي وي او که غير مکي وي. او د حج احرام غير مکي خو د حل څخه تړي او مکي د حرم په حدودو کي هر ځای چي وي وه يې تړي .

هغوئ يو طواف وکړ ، ددې څخه که څه هم دا خبره مفهوم کيږي چي قارن ته يو طواف د حج او عمرې دواړو لپاره کافي دی لکه څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دی مګر د حنفيه په نزد قارن ته دوه طوافه کول ضروري دي يو طواف خو د عمرې لپاره چي په مکه کي د داخلېدو وروسته وکړل سي او دوهم طواف د حج لپاره چي د وقوف عرفات څخه وروسته وکړل سي ځکه چي د حديث څخه دا خبره ثابته سوې ده چي د حجة الوداع پر موقع نبي کريم ﷺ قارن وو کله چي رسول الله ﷺ مکې ته داخل سو نو يو طواف يې هغه وخت وکړ او دوهم وار طواف الزيارة يې د عرفات د وقوف څخه وروسته وکړ ، دار قطني يو روايت نقل کړی دی چي د هغه خلاصه داده چي قارن دوه طوافه وکړي او د صفا او مروه په مينځ کي دوه واره سعي وکړي ، د حضرت علي او عبد الله ابن مسعود رضي الله عنهما څخه هم دا خبره منقول ده چي قارن دي دوه طوافه او دوه واره سعي کوي .

﴿۲۴۴۲﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ تَمَتَّعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن عمر ﷠ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع کي د عمري څخه د حج په لور ګټه پورته کړل،

فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْيَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَبَدَأَ

يعني لومړی يې د عمري احرام وتړئ او بيا يې د حج، نو رسول الله ﷺ د ذوالحليفة څخه د ځان سره د قرباني حيوانان بوتلل او پيل يې داسي وکړ چي

فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لومړی يې د عمري او بيا يې د حج احرام وتړئ نو خلکو د نبي کريم ﷺ سره د حج او عمري يوځای کولو ګټه پورته کړل،

بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ فَلَمَّا

په خلکو کي داسي هم وه چي د قرباني حيوانان يې د ځان سره راوستلي وه او ځيني داسي هم وه چي حيوانان يې د ځان سره نه وه راوستلي،

قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَالَ لِلنَّاسِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى

کله چي رسول الله ﷺ مکې معظمي ته ورسيدئ نو خلکو ته يې وفرمايل: په تاسو کي چي چا د قرباني حيوان راوستلی وي

فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ من شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ

نو هغه دي ځان نه حلالوي هغه شی چي پر حرام دی پر ده تر څو پوري چي هغه خپل حج پوره نه کړي او چا چي د قرباني حيوان نه وي راوستلی

أَهْدَى فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ

هغه دي د بيت الله طواف وکړي، د صفا او مروة په منځ کي دي سعي وکړي د سر ويښتان دي وخريي او ځان دي حلال کړي، بيا دويم وار دي د حج احرام وتړي او د قرباني حيوان دي حلال کړي

فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ

او چا ته چي د قرباني حيوان نه وي تر لاسه هغه دي درې ورځي د حج په ورځو كي او اووه ورځي په كور كي روژې ونيسي،

فَطَافَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ وَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ أَوَّلَ شَيْءٍ ثُمَّ خَبَّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ

مكې ته په ننوتلو سره نبي كريم ﷺ طواف وكړ او تر ټولو وړاندي يې حجر اسود مچ كړ، او د طواف درې واره گرځېدل يې په منډه وكړل،

وَمَشَى أَرْبَعًا فَرَكَعَ حِينَ قَضَى طَوَافَهُ بِالْبَيْتِ عِنْدَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ

او څلور واره يې په معمولي تگ سره وكړل، بيا يې د مقام ابراهيم سره دوه ركعته لمونځ وكړ او سلام يې وگرځوئ،

فَانْصَرَفَ فَأَتَى الصَّفَا فَطَافَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعَةَ أَطْوَافٍ ثُمَّ لَمْ يَحْلِلْ مِنْ

د صفا په لور ولاړئ او د صفا او مروه په منځ كي يې اووه واره سعي وكړه، بيا په هيڅ شي سره حلال نه سو

شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى قَضَى حَجَّهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ يَوْمَ النَّحْرِ وَأَفَاضَ فَطَافَ

چي احرام پر حرام كړې وو، تر دې چي حج يې پوره كړ او د قرباني په ورځ يې خپل حيوان حلال كړ، بيا يې د بيت الله طواف وكړ

بِالْبَيْتِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ وَفَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ مِنَ النَّاسِ. متفق عليه

او د دې وروسته د هر هغه شي څخه حلال سو چي پر رسول الله ﷺ باندي حرام وو او كومو خلكو چي د ځان سره د قرباني حيوان راوستلى وو هغوئ هغه وكړل كوم چي رسول الله ﷺ كړې وو. بخاري او مسلم.

**تخريج:** البخاري في الصحيح ۳\۵۳۹، رقم: ۱۶۹۱، ومسلم ۲\۹۰۱. رقم: ۱۷۴- ۱۲۲۷.

**دلغاتو حل:** خب: اى رمل. (و يې ووېشتل).

**تشریح**: د دغه حدیث څخه معلومیږي چي رسول الله ﷺ د تمتع حج کړی وو مګر زیاته صحیح خبره داده چي رسول الله ﷺ قارن وو، اوس په د دغه حدیث په اړه دا وویل سي چي دلته د تمتع څخه مراد د هغه لغوي معنی ده یعني ګټه پورته کول او دا مفهوم په قران کي هم موجود دی په دې توګه چي قارن د حج او عمرې په یو ځای کولو سره منتفع کیږي.

## د حج په میاشتو کي عمره کول جائز ده

﴿۲۴۴۳﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (په حجة الوداع کي) دا

عُمْرَةٌ اسْتَمْتَعْنَا بِهَا فَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ الْهَدْيُ فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ فَإِنَّ

عمره ده موږ د دې څخه ګټه تر لاسه کړل ځکه چي د چا سره د قرباني حیوان نه وي هغه دي د هر شي څخه حلال سي ځکه چي اوس

الْعُمْرَةَ قَدْ دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم و هذا الباب خال عن الفصل الثاني.

عمره کول تر قیامته پوري د حج په ورځو کي داخل سول. مسلم. دا باب د دویم فصل څخه خالي دئ.

**تخریج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۱۱، رقم: ۲۰۳-۱۲۴۱.

**تشریح**: په دغه حدیث کي هم د تمتع څخه د هغه لغوي معنی مراد ده یعني ګټه تر لاسه کول، د دې پاته وضاحت مخکي تېر سوی دی.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

## د احرام د تبدیلۍ پر حکم د صحابه کرامو تردد

﴿۲۴۴۴﴾: وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ رضي الله عنه فِي نَاسٍ مَعِي قَالَ

د حضرت عطاء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د خلکو په یوه ډله کي چي زما سره وه

أَهْلَلْنَا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ ﷺ بِالْحَجِّ خَالِصًا وَحْدَهُ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه وا وريدل چي موږ يعني صحابه كرامو يوازي د حج احرام وتړئ، د عطاء بيان دئ چي جابر رضي الله عنه موږ ته وويل:

النَّبِيُّ ﷺ صُبْحَ رَابِعَةٍ مَضَتْ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فَأَمَرَنَا أَنْ نَحِلَّ قَالَ عَطَاءٌ

د ذي الحجة په څلورمه نېټه د سهار رسول الله ﷺ تشريف راوړ او موږ ته يې حكم راكړ چي موږ حلال سو، عطاء وايي

قَالَ حِلُّوا وَأَصِيبُوا النِّسَاءَ قَالَ عَطَاءٌ وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْهِمْ وَلَكِنْ أَحَلَّهُنَّ لَهُمْ

رسول الله ﷺ وفرمايل: حلال سئ او ښځو ته ورسئ د عطاء خيال دئ چي رسول الله ﷺ ښځو ته د ورتلو حكم د وجوب په طور نه وو وركړئ يعني ښځو ته ورتلل يې واجب كړي نه وو بلكه د روا كېدو اجازه وو،

فَقُلْنَا لَمَّا لَمْ يَكُنْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا خَمْسٌ أَمَرَنَا أَنْ نُفْضِيَ إِلَى نِسَائِنَا

د دې حكم په اورېدو سره موږ په تعجب يو بل ته وويل: هر كله چي زموږ او عرفات د ورځي په منځ كي يوازي پنځه ورځي پاته دي رسول الله ﷺ موږ ته دا حكم راكړی دئ چي موږ د خپلو ښځو سره كوروالي وكړو،

فَنَأْتِي عَرَفَةَ تَقْطُرُ مَذَاكِيرُنَا الْمَنِيَّ قَالَ يَقُولُ جَابِرٌ بِيَدِهِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى قَوْلِهِ

او بيا په داسي حال كي موږ عرفات ته ننوتلو چي زموږ د خاص اندام څخه د مني څاڅكي بهېدل، عطاء وايي چي جابر رضي الله عنه خپل لاس ته په حركت وركولو سره د خاص اندام څخه د څاڅكو بهېدلو په لور اشاره وكړه او دا ننداره تر اوسه پوري د ستر ګو په وړاندي ده،

بِيَدِهِ يُحَرِّكُهَا قَالَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِينَا فَقَالَ قَدْ عَلِمْتُمْ

جابر رضي الله عنه وويل: كله چي زموږ د تعجب خبر رسول الله ﷺ ته ورسيدئ نو رسول الله ﷺ موږ ته د خطبې ويلو لپاره ولاړ سو او ويې فرمايل: تاسو ته څرګند ده چي

أَنِّي أَتْقَاكُمْ لِلَّهِ وَأَصْدَقُكُمْ وَأَبَرُّكُمْ وَلَوْلَا هَدْيِي لَحَلَلْتُ كَمَا تَحِلُّونَ وَلَوْ

زه په تاسو خلكو كي د الله جل جلاله څخه زيات ېرېږم په تاسو كي تر ټولو زيات رېښتوني يم او زه

ډیر نیک یم، که زما سره د قربانۍ حیوان نه وي نو تاسو څنګه حلال سوي یاست همداسي به زه هم حلال سوی وم، او که

اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ فَحِلُّوا فَحَلَلْنَا وَسَمِعْنَا

ما ته د دې خبري علم وای کوم چي ما ته وروسته څرګند سوه نو ما به د ځان سره د قربانۍ حیوان نه راوستلای له دې کبله تاسو حلال سئ نو موږ احرام خلاص کړ او حلال سو او موږ د رسول الله ﷺ حکم واوریدئ

وَأَطَعْنَا قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنْ سِعَايَتِهِ فَقَالَ بِمَ أَهْلَلْتَ قَالَ

او فرمانبرداري مو وکړل، عطاء وايي جابر بيان وکړ چي حضرت علي ؓ د خپل سپارل سوي کار څخه راغلئ نو نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه تا د څه شي احرام تړلی دئ هغه عرض وکړ:

بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د كوم شی احرام چي نبي ﷺ تړلی دئ ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل :

وَسَلَّمَ فَأَهْدِ وَامْكُثْ حَرَامًا قَالَ وَأَهْدَى لَهُ عَلِيٌّ هَدْيًا فَقَالَ سُرَاقَةُ بْنُ

نو ته (د قربانۍ په ورځ) حیوان حلال کړه او تر هغه وخته پوري په احرام کي اوسه، جابر ؓ وویل: حضرت علي ؓ د ځان لپاره یا د نبي کریم ﷺ لپاره د ځان سره د قربانۍ حیوانان راوستلي وه، سراقة بن مالک بن جعشم (د احرام څخه)

مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِأَبَدٍ قَالَ لِأَبَدٍ . رواه مسلم

د حلال کېدو په اوربدو سره پوښتنه وکړل اې د الله رسوله! دا حکم د سږ کال لپاره دئ او که د همیشه لپاره؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د همیشه لپاره. مسلم.

**تخريج**: صحيح مسلم ٢\ ٨٨٣، رقم: ١٤١- ١٢١٦.

**تشريح**: موږ یوازي د حج احرام وتړی، جابر ؓ دا خبره د خپل ګمان مطابق وکړه کنه نو کوم چي د واقعې تعلق دی نو د بي بي عائشې رضي الله عنها د روایت څخه دا معلومه سوې ده چي ځیني صحابه کرامو یوازي د عمرې احرام تړلی وو او ځینو یوازي د حج او ځینو د عمرې او حج دواړو احرام تړلی وو.

حضرت جابر رضی اللہ عنہ په خپل لاس سره اشاره وکړه: ددې مطلب دادی چې حضرت جابر رضی اللہ عنہ خپل لاس ته په حرکت ورکولو سره د خاص اندام (ذکر) څخه د مني د څاڅکو څڅېدو ته اشاره وکړه، یا دا چې هغه د خاص اندام حرکت ته د لاس په حرکت سره تشبیه ورکړه، په هر حال دا د اهل عرب عادت وو چې هغوئ به په خبره کولو سره د اندامو په اشاره سره وضاحت کوی چې مفهوم په ښه ډول واضح او په ذهن کې راسي.

## د صحابه کرامو تردد

﴿۲۴۴۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعٍ

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ ما ته راغلی د ذي الحجې په څلورمه

مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ أَوْ خَمْسٍ فَدَخَلَ عَلَيَّ وَهُوَ غَضْبَانُ فَقُلْتُ مَنْ

یا پنځمه نېټه ، هغه وخت رسول الله ﷺ د سختي غصې په حالت کې وو ، ما چې رسول الله ﷺ په غضب کې ولیدئ نو عرض مي وکړ:

أَغْضَبَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ قَالَ أَوَمَا شَعَرْتِ أَنِّي أَمَرْتُ النَّاسَ

اې د الله رسوله! تاسو چا په غصه کې کړي یاست الله ﷻ دې هغه په دوږخ کې واچوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا تا ته څرګنده نه ده چې ما خلکو ته یو حکم ورکړ (یعني د احرام څخه د

بِأَمْرٍ فَإِذَا هُمْ يَتَرَدَّدُونَ وَلَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ

الْهَدْيَ مَعِي حَتَّى أَشْتَرِيَهُ ثُمَّ أَحِلُّ كَمَا حَلُّوا. رواه مسلم.

حلال کېدو) نو هغوئ په شک کې دي که ما ته وړاندي ددې امر حال څرګند وای نو د ځان سره به مې د قرباني حیوان نه راویستلای او نه به مې هغه رانیولای، او بیا چې څرنګه نور خلک حلال سول همداسې به زه هم حلال سوی وای. مسلم.

**تخریج**: صحیح مسلم ۲\۸۷۹، رقم: ۱۳۰– ۱۲۱۱.

# بَابُ دُخُوْلِ مَكَّةَ وَالطَّوَافِ

## مکې ته د ننوتلو او طواف بیان

د (مَکَ) لغوي معنی ده هلاکول، بربادول، دغه مقدس ښار ته مکه ځکه ویل کیږي چي هغه ګناهونه تباه کوي او هغه څوک په اخرت او دنیا کي هلاکوي کوم چي په دغه ښار کي ظلم او بې لاري اختیاروي.

په دغه باب کي هغه خبري ذکر کیږي چي د کلي څخه راتلونکي کسان دغه مقدس ښار ته د کومي خوا څخه داخل سي او د کومي خوا څخه ووځي، څه وخت راسي او دا چي د داخلېدو پر وخت د کومو ادبونو او قواعدو خیال ساتل پکار دي او طواف او د هغه د متعلقاتو مثلاً د حجر اسود وغیره د مچولو کیفیت او د هغه د مسائلو بیان دی.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د مکې مدخل او مخرج

﴿۲۴۴۶﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ اِنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ لَا يَقْدَمُ مَكَّةَ إِلَّا بَاتَ بِذِي طُوًى

د حضرت نافع رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي کله به ابن عمر رضی اللہ عنہ مکې ته تلئ نو د شپې به په طوی نامي ځای کي تم سو

حَتَّى يُصْبِحَ وَيَغْتَسِلَ ويصلي فَيَدْخُلُ مَكَّةَ نَهَارًا وَاِذَا نَفَرَ مِنْهَا مَرَّ بِذِيْ

او کله چي به سهار سو نو غسل به یې وکړ او لمونځ به یې ادا کړ او د ورځي به مکې ته داخلیدئ او د مکې څخه چي به راستنېدئ نو بیا به یې هم شپه په ذي

طُوًى وَّبَاتَ بِهَا حَتّٰى يُصْبِحَ وَيَذْكُرُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَالِكَ . متفق علیه

طوی کي تیرول او تر سهاره پوري به هلته وو او یادونه به یې کول چي نبي کریم ﷺ به داسي کول. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحیح (فتح الباري) ۳\۴۳۵، رقم: ۱۵۷۳، ومسلم ۲\۹۱۹، رقم: ۲۲۷- ۱۳۵۹.


**تشریح**: ذی طوی د یو ځای نوم دی چې د حرم په حدود کې د مقام تنعیم په خوا کې واقع دی، نبي کریم ﷺ چې به مکې مکرمې ته تشریف راوړ نو د استراحت لپاره به یې په ذي طوی کې شپه تېروله بیا سهار به یې غسل کوی او د لمانځه کولو سره به په دغه ښار کې داخل سو، د لمانځه څخه په ظاهره نفل لمونځ مراد دی چې هلته د تللو لپاره به یې کوی، بیا چې به کله رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه ستنیدی نو هغه وخت به یې هم په ذي طوی کې قیام کوی چې ملګري هلته جمع سي او د ټولو خلکو سامان وغیره جمع سي.

ابن ملک رحمه الله فرمایي چې د دغه حدیث څخه دا خبره معلومه سوه چې په مکه کې د ورځې د خیمې مستحب دی چې په ښار کې په داخلېدو سره بیت الله شریف ووینې او دعاء وکړل سي.

(۲۰۰) وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا جَاءَ إِلَى مَكَّةَ دَخَلَ مِنْ أَعْلَاهَا وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا. متفق علیه.

حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې کله رسول الله ﷺ مکې ته تشریف راوړ (په حجة الوداع کې) نو مکې ته د لوړې لوري څخه (یعنید ذي طوی څخه) داخل سو او کله چې ستون سو نو د مکې د کښته لوري څخه ووتئ. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳\۴۳۷، رقم: ۱۵۷۷، ومسلم ۲\۹۱۸، رقم: ۲۲۴\۱۲۵۸.




**تشریح**: د مکې مکرمې کومې خوا ته چې ذي طوی ده هغه د ښار لوړه برخه ده، جنت المعلی یعني د مکې مکرمې مشهوره هدیره هم دغه خوا ته ده، په اول حدیث او دغه حدیث کې څه تضاد نه سته ځکه د مکې د کښته برخې څخه په وتل سره چې د مدینې لار به یې اختیار کړه نو ذي طوی ته به رسیدی او هلته د شپې په تېرولو سره په سهار کې به د مدینې منورې لپاره روانیدی.

## د طواف لپاره پاکي واجب ده

﴿۲۴۴۸﴾: وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَدْ حَجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عروة بن الزبير رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ حج وکړ

فَأَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ مكة أَنَّهُ تَوَضَّأَ ثُمَّ طَافَ

او ما ته بي بي عائشې رضی الله عنها بیان وکړ چي مکې ته په د اخلېدو سره نبي کریم ﷺ تر ټولو وړاندي اودس وکړ بیا يې د بیت الله شریفي طواف وکړ

بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً ثُمَّ حَجَّ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ

بیا يې عمره ونه کړل یعني رسول الله ﷺ په حج موقوف کولو سره عمره ونه کړل دوا ړه يې یو ځای وساتل، (د رسول الله ﷺ وروسته) ابوبکر صدیق رضی الله عنه حج وکړ او کله چي مکې ته داخل سو نو تر ټولو وړاندي يې

بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً ثُمَّ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِثْلُ ذٰلِكَ

ثُمَّ عُثْمَانُ مِثْلَ ذَالِكَ. متفق علیه

طواف وکړ بیا عمره نه وسول، د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وروسته حضرت عمر رضی الله عنه همداسي وکړل بیا حضرت عثمان رضی الله عنه همداسي وکړل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳\۴۹۶، رقم: ۱۶۴۱، ومسلم ۲\۹۰۶، رقم: ۱۹۰– ۱۲۳۵.

**تشریح**: رسول الله ﷺ اودس وکړ: ددې مطلب دادی چي مکې ته په رسیدو سره د بیت الله شریفي د طواف څخه مخکي رسول الله ﷺ دوهم وار اودس وکړ ځکه دا خبره مخکي معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ په مکه کي د داخلېدو څخه مخکي په ذي طوی کي غسل کوی او ظاهره ده چي په غسل کي به اودس هم شامل وو، د طواف صحیح کېدو لپاره طهارت یعني پاکي د جمهور علماؤ په نزد شرط ده مګر د حنفیفه په نزد شرط نه ده البته واجب ده.

په ټېرو حدیثو کي دا خبره ټېره سوې ده چي رسول الله ﷺ او صحابه کرام مکې ته په رسیدو سره عمره وکړه ددې څخه وروسته چي کومو خلکو د قرباني حیوان د ځان سره راوستلی وو هغوئ خو احرام تړلي پاته سول او کومو خلکو چي د قرباني حیوان د ځان سره نه وو

راوستلی نو هغوئ احرام خلاص کړی.

او عمره ونه سوه : مطلب دادی چي رسول الله ﷺ حج فسخ یعني موقوف کولو سره عمره ونه کړل او احرام يې خلاص کړی بلکه رسول الله ﷺ د عمرې څخه وروسته د احرام په حالت کي پاته سو ځکه چي قارن وو او بیاپه آخر کي د قرباني په ورځ رسول الله ﷺ احرام خلاص کړ، راوي دا خبره ځکه وکړه چي د خلکو تردید وسي کومو چي دا گمان کوی چي رسول الله ﷺ د حج په فسخ کولو سره عمره وکړه یا ددې جملې مراد دادی چي هغوئ تولو د حج څخه وروسته بله جلا عمره ونه کړه بلکه پر هغه عمرې یې اکتفاء وکړه کومه چي د حج سره شامله وه.

## په طواف کي د رمل ذکر

﴿۲۴۴۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَافَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ طواف کوئ

فِي الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ أَوَّلَ مَا يَقْدَمُ سَعَى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَمَشَى أَرْبَعَةً ثُمَّ سَجَدَ

د حج یا عمرې نو لومړی درې واره به یې په تیزقدم اخیستلو سره کول او څلورم به یې په معمولي تگ سره کوئ، بیا په مقام ابراهیم کي به یې

سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. متفق عليه

دوه رکعته لمونځ وکړ او په صفا او مروة کي به یې سعي وکړل. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۳\۴۷۷، رقم: ۱۶۱۶، ومسلم ۱۲\۹۲۰، رقم: ۲۳۱- ۱۲۶۱.

**تشريح**: د کعبې شریفي شاوخوا یو چکر لگولو ته شوط وايي او اووه اشواط یو طواف دی، نبي کریم ﷺ به د طواف پر وخت په درو شوطو کي داسي تېز تیز تلی چي قدم به یې ژر ژر پورته کوی او ځغاستی به مگر تهپونه به یې نه وهل او په پاته څلورو اشواطو کي به په خپل معمولي تگ سره تلی.

## د صفا او مروه په مینځ کي سعي واجب ده

﴿۲۴۵۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ رَمَلَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا كَانَ يَسْعَى بِبَطْنِ الْمَسِيلِ إِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. رواه مسلم

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د حجر اسود څخه تر حجر اسود پوري (طواف) دري واره په تلوار وکړ او څلورم واري په معمولي تګ سره وکړ ، او رسول الله ﷺ چي به د صفا او مروه سعي کول نو په وادي مسيل کي به په منډه تلئ . مسلم .

**تخريج** : مسلم في الصحيح ۲\۹۲۱، رقم: ۲۳۳- ۱۲۶۲.

**تشريح** : سعي کول يعني د صفا او مروه په مينځ کي اووه چکره وهل د حنفيه په نزد واجب دي او د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد رکن دی .

بطن مسيل د صفا او مروه په هينځ کي د يو ځای نوم دی ، د شناخت لپاره د هغه پر دواړو سرونو نښي جوړي سوي دي چي هغه ته ميلين اخضرين وايي د سعي پر وخت په دغه ځای کي په تيزي سره تلل د ټولو علماؤ په نزد سنت دي .

## حجر اسود مچول

﴿۲۴۵۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ مَشٰى عَلٰى يَمِينِهِ فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشٰى أَرْبَعًا . رواه مسلم

حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله چي رسول الله ﷺ مکي ته تشريف راوړ نو حجر اسود ته راغلئ هغه يي مچ کړل بيا (د طواف لپاره) راسته لوري ته ولاړئ بيا دري واره په تيز قدم سره ولاړئ او څلورم وار په معمولي تګ سره . مسلم .

**تخريج** : مسلم في الصحيح ۲\۸۹۳، رقم: ۱۵۰- ۱۲۱۸.

﴿۲۴۵۲﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَرَبِيٍّ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ عَنِ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ فَقَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ . رواه البخاري .

د حضرت زبير بن عربي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي د ابن عمر رضي الله عنه څخه د حجر اسود د مچولو په اړه پوښتنه وکړه نو هغه ورته وويل : ما رسول الله ﷺ حجر اسود ته په لاس وروړلو او مچولو سره ليدلی دئ . بخاري .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۷۵، رقم: ۱۶۱۱.

## ركن يماني ته لاس وروړل

﴿۲۴۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُ مِنَ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما هميشه رسول الله ﷺ د بيت الله شريفي هغه لوري ته په لاس ور وړلو باندي ليدلئ دئ کوم ځای چي دواړه رکن يماني دي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۷۳، رقم: ۱۶۰۹، ومسلم ۲\ ۹۲۴، رقم: ۲۴۲- ۱۲۶۷

**تشريح**: د کعبي شريفي ځلور رکنه يعني ځلور کونجان دي يو رکن خو هغه دی چي په هغه کي حجر اسود نصب دی دوهم د هغه مخته دی او په حقيقت کي يماني د دغه رکن نوم دی مگر د دغه خوا دواړو رکنو ته رکن يماني وايي د دې څخه پرته دوه نور رکنه دي چي په هغو کي يو خو رکن عراقي دی او دوهم رکن شامي مگر دغه دواړو ته رکن شامي وايي.

په کوم رکن کي چي حجر اسود دی هغه ته دوه برابر فضيلت حاصل دی يو فضيلت خو ځکه حاصل دی چي دا د حضرت ابراهيم عليه السلام جوړ سوی دی او دوهم فضيلت دا دی چي په هغه کي حجر اسود دی او رکن يماني ته يوازي يو فضيلت حاصل دی چي هغه حضرت ابراهيم عليه السلام جوړ کړی دی، خلاصه داده چي دغه دواړو رکنو ته پر رکن شامي او رکن عراقي باندي فضيلت حاصل دی ځکه نو استلام په دغه دواړو کي د دغه رکن سره مختص دی.

د استلام معنی ده لمس کول يعني مس کول، دا مس کول که د لاس وغيره په ذريعه وي او که په مچولو سره او که په دواړو سره وي کله چي دغه لفظ د رکن اسود سره استعماليږي نو د دې څخه د حجر اسود مچول مقصود دي او کله چي د رکن يماني سره استعماليږي نو د دې څخه رکن يماني مس کول مراد دی، رکن اسود تر رکن يماني افضل دی ځکه هغه مچوي يا په لاس وغيره لګولو سره هغه ته په اشاره کولو سره يې مچوي، او رکن يماني يوازي مچول کيږي او لاس نه ور وړل کيږي، پاته دواړه رکنه يعني شامي او عراقي نه مچول کيږي او نه لاس ور وړل کيږي. مسئله داده چي د حجر اسود او رکن يماني څخه پرته بله ډبره وغيره مچول نه دي پکار او نه پر هغه لاس لګول پکار دي.

## پر اوښ باندي سپور طواف كول

﴿۲۴۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ

الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع کي پر اوښ باندي طواف وکړ او حجر اسود يې په لکړه چي د هغې سر کوږ وو مچ کړل. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۷۲، رقم: ۱۶۰۷، ومسلم ۲\۹۲۶، رقم: ۲۵۳- ۱۲۷۲.

**تشريح**: د حنفيه په نزد پر پښو باندي طواف کول واجب دي ځکه د دغه حديث په باره کي دا ويل کيږي چي رسول الله ﷺ به د يو عذر او مجبوري په وجه داسي طواف کړی وي نو دا طواف د رسول الله ﷺ سره مختص دی د بل چا لپاره پر سپرلۍ په ناستي سره طواف کول جائز نه دي. علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي که څه هم پر پښو باندي طواف کول افضل دی مګر رسول الله ﷺ پر اوښ باندي په سپرېدو سره ځکه طواف وکړ چي ټول خلک رسول الله ﷺ ووينې.

دلته يو اشکال پيدا کيږي هغه دا چي د دغه حديث څخه دا خبره ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ د حجة الوداع پر موقع په طواف کولو سره په اولو درو اشواطو کي رمل کړی وو، او د دغه حديث څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ پر اوښ باندي په سپرېدو سره طواف وکړ او ظاهره ده چي په دغه صورت کي د رمل سوال نه پيدا کيږي.

د دې جواب دادی چي رسول الله ﷺ پر پښو طواف کول او د هغه په درو چکرو کي رمل کول د طواف قدوم پر موقع وو او پر اوښ باندي په سپرېدو سره د طواف کولو تعلق د طواف افاضه سره دی چي فرض دی او د قرباني په ورځ سوی وو چي هغه ته طواف الرکن هم وايي، دلته پر اوښ باندي په سپرېدو سره د طواف کولو وجه داوه چي خلک رسول الله ﷺ ته وګوري چي د طواف افعال او مسائل زده کړي.

محجن هغه لرګي ته وايي چي د هغه سر کوږ وي د هغه په ذريعه د حجر اسود د مچولو صورت دا وو چي رسول الله ﷺ به په هغه لرګي سره حجر اسود ته په اشاره کولو سره هغه مچوی.

## د حجر اسود استلام

﴿۲۴۵۵﴾: وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بِالْبَيْتِ عَلَى بَعِيرٍ كُلَّمَا أَتَى عَلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ بِشَيْءٍ فِيْ يَدِهِ وَكَبَّرَ. رواه البخاري

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ پر اوښ سپور د بيت الله طواف وکړ کله چي حجر اسود ته ورغلئ نو په هغه شي چي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کي به وه حجر

اسود ته اشاره کول او الله اکبر به يې وايه. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۹۰۱، رقم: ۱۶۳۲.

**تشريح**: د حجر اسود د مچولو طريقه داده چي دواړه لاسونه پر حجر اسود باندي په ايښودو سره دواړي شونډي پر حجر اسود ولګول سي مګر رسول الله ﷺ به د رش په وجه حجر اسود ته په لرګي سره اشاره کړې وي او هغه به يې مچ کړې وي، د حنفيه مذهب دادی چي حجر اسود ته په اشاره کولو سره دي هغه مچ کړل سي هو که په څه وجه پر حجر اسود باندي لاس ايښودل او هغه مچول ممکن نه وي نو بيا د اشارې په ذريعه د غه سعادت تر لاسه کيدای سي.

﴿۲۴۵۶﴾: وَعَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ مَعَهُ وَيُقَبِّلُ الْمِحْجَنَ. رواه مسلم

د ابو طفيل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ په طواف کولو ليدلی دئ، رسول الله ﷺ به په يو لرګي سره چي د هغه سر کوږ وو حجر اسود مسه کوی او هغه لرګی به يې مچوئ. مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۲۷. رقم: ۲۵۷-۱۲۷۵.

**تشريح**: د رسول الله ﷺ په اړه د ځينو روايتو څخه دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ حجر اسود مچ کړ. او ځيني روايتونه دا ښيي چي رسول الله ﷺ حجر اسود په لاس لګولو سره مچ کړ او ځيني روايتونه حجر اسود ته په اشاره کولو سره مچول ثابتوي، نو په دغه ټولو روايتو کي داسي مطابقت پيدا کيږي چي په ځيني طواف کي به رسول الله ﷺ مچ کړې وي او په ځيني طواف کي به يې په لاس لګولو سره مچ کړې وي او په ځيني طواف کي به يې د ډېر رش په وجه حجر اسود ته په اشاره کولو سره استلام کړی وي يا دا چي په يوه طواف کي د هر شوط څخه وروسته د حجر اسود استلام وي نو رسول الله ﷺ به په ځيني چکرو کي مچ کړې وي او په ځينو کي به يې په لاس لګولو سره مچ کړې وي او په ځينو کي به يې د رش په وجه د اشارې په ذريعه استلام کړې وي.

## حائضه دي طواف او سعي نه کوي

﴿۲۴۵۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْكُرُ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره د حج لپاره ولاړو او موږ

یوازې د حج یادونه کول

إِلَّا الْحَجَّ فَلَمَّا كُنَّا بِسَرِفَ طَمِثْتُ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي

کله چې سرف نامي ځای ته ورسېدو ما ته حیض راغلئ، رسول الله ﷺ زما خوا ته راغلی او ما ژړل،

فَقَالَ لَعَلَّكِ نُفِسْتِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ ذٰلِكِ شَيْءٌ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا ستا وینه راغلل؟ ما عرض وکړ هو، رسول الله ﷺ را ته وفرمایل: دا یو داسې شی دئ چې الله تعالی د آدم علیه السلام پر لوڼو ټاکلی دئ

فَافْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي. متفق عليه

ته هغه افعال ادا کړه کوم چې حاجیان یې کوي مګر د بیت الله شریفې طواف تر هغه وخته پورې مه کوه تر څو پورې چې پاکه نه سې. بخاري او مسلم.

**تخریج:** البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱\ ۴۰۰، رقم: ۲۹۴، ومسلم ۲\ ۸۷۳، رقم: ۱۱۹- ۱۲۱۱.

**تشریح:** سرف د یو ځای نوم دی چې د مکې مکرمې څخه تقریبا شپږ مېله او د مقام تنعیم شمال ته پر درې یا څلور مېله فاصله واقع دی، په دغه ځای کې د ام المؤمنین بي بي میمونې رضي الله عنها مبارک قبر دی او دا عجیبه اتفاق دی چې د بي بي میمونې ﷺ نکاح هم په دغه ځای کې سوې وه د واده شپه یې هم په دغه ځای کې تېره کړې وه او وفات هم دلته سوه.

په دغه حدیث سره یو خلجان پیدا کیدای سي هغه دا چې د بي بي عائشې ﷺ دغه الفاظ (لانذکر الا الحج) یعني موږ یوازې د حج ذکر کوی، دا په خپله د بي بي عائشې رضي الله عنها د هغه روایت خلاف دی کوم چې په تېر باب کې تېر سوی دی په هغه کې بي بي عائشې رضي الله عنها په خپل باره کې دا ښودلي وه چې ولم اهلل الا بعمرة یعني ما یوازې د عمرې احرام تړلی ؤ. نو د ظاهري تضاد رفع کولو لپاره به دا تاویل کیږي چې دلته د بي بي عائشې رضي الله عنها د الفاظ: لانذکر الا الحج، مراد دا وي چې د دغه سفر څخه زموږ اصل مقصد حج وو او د حج درې ډولونه دي ۱: افراد، ۲: تمتع، ۳: او قران، ځکه نو په موږ کې ځینو مفرد وه، ځیني متمتع او ځیني قارن، ما د تمتع قصد کړی وو ما د میقات څخه د عمرې احرام وتړی مګر مکې ته د رسیدو څخه مخکې زما د حیض ورځي شروع سوې چې د هغه لړۍ جاري وه تر دې چې د عرفات ورځ او د وقوف عرفات وخت راغلی او همدارنګه د عمرې د وخت په تېرېدو سره د حج

ورځي شروع سوې رسول الله ﷺ ما ته حکم وکړ چي زه د عمرې احرام خلاص کړم او د حج احرام وتړم او بيا د طواف او سعي څخه پرته نور د حج افعال ادا کړم.

## مشر کانو ته د کعبې د طواف منعه

﴿۲۴۵۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِيْ اَبُوْ بَكْرٍ فِي الْحَجَّةِ الَّتِيْ أَمَّرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ په کوم حج کي چي نبي کريم ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د حج امير و ټاکئ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِيْ رَهْطٍ اَمَرَهُ اَنْ يُؤَذِّنَ

نو ابوبکر صديق رضي الله عنه زه د قرباني په ورځ د دې اعلان کولو لپاره وليږلم چي د دې کال وروسته

فِي النَّاسِ اَلاَ لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوْفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. متفق عليه

دي هيڅ يو مشرک حج نه کوي او نه دي څوک لوڅ پر خانه کعبه طواف کوي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱\ ۴۷۷- ۴۷۸، رقم: ۳۶۹، ومسلم ۲\ ۹۸۲، رقم: ۴۳۵- ۱۳۴۷.

**تشريح**: مخکي دا ښودل سوي دي چي حج د لسم هجري کال په آخر کي فرض سوی دی، رسول الله ﷺ په هغه کال په نورو ديني چارو کي د بوختيا په وجه خپله حج ته نه ولاړی بلکه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يې د حاجيانو د قافلې امير جوړ کړی او د حاجيانو سره يې واستوی دا واقعه د حجة الوداع څخه يو کال مخکي ده، کله چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هلته ورسيدی نو يو ډله يې چي په هغه کي ابو هريره رضي الله عنه هم شامل وو خلکو ته وليږل او هغو ته يې حکم وکړ چي په خلکو کي دا اعلان وکړل سي چي د دغه کال څخه وروسته به په راتلونکي کي هيڅ مشرک (يعني کافر) د بيت الله شريفي حج ته نه ځي ځکه چي د حج سعادت يوازي د مسلمانانو لپاره خاص سوی دی او هغوئ دغه اعلان د دغه آيت کريمه مطابق وکړ چي:

إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلاَ يَقْرَبُواْ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا،

**ژباړه**: ټول مشرکان نجس (ناپاک) دي نو هيڅ مشرک دي د دغه کال څخه وروسته مسجد حرام ته نه راځي.

او همدارنګه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دغه ډلي ته د دغه اعلان کولو حکم هم وکړ چي هيڅوک دي په لوڅېدو سره د کعبې شريفي طواف نه کوي، دا خو معلومه ده چي د جاهليت په

زمانه كي به خلكو په لوڅېدو سره طواف كوی او ددې وجه به يې دا بيانول چي موږ د الله تعالى دغه عظيم عبادت په جامو كي څرنگه كولای سو چي په هغه كي شپه او ورځ گناه كوو نو اسلام دا لغويت بند كړ او حكم يې وكړ چي په راتلونكي كي دي هيڅوک هم ددغه غير اخلاقي ، غير انساني او د جهالت څخه ډک حركت جرئت نه كوي .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د كعبې شريفې په لېدو سره دعاء كول

﴿۲۴۵۹﴾: عَنِ الْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ قَالَ سُئِلَ جَابِرٌ عَنِ الرَّجُلِ يَرَى الْبَيْتَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ نَكُنْ نَفْعَلُهُ . رواه الترمذي وابوداؤد

د حضرت مهاجر المكي ﷜ څخه روايت دئ چي د هغه چا په اړه چي د بيت الله په لېدو سره دواړه لاسونه پورته كړي د حضرت جابر ﷜ څخه پوښتنه وسول ، حضرت جابر ﷜ وويل : موږ د نبي كريم ﷺ سره حج كړی دئ مگر موږ به داسي نه كول . ترمذي او ابوداؤد .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۲۱۰، رقم: ۸۵۵، وابوداود ۲\۴۳۷، رقم: ۱۸۷۰.

**تشريح**: د بيت الله زيارت كوونكي چي كله مكې ته په رسيدو سره په مسجد حرام كي داخل سي نو د كعبې شريفې په لېدو سره دي دعاء كوي او د هغه دعاء قبلېږي ځكه مسئله داده چي د كعبې شريفې پر مقدس جمال باندي په نظر لوېدو سره چي څه زړه غواړي نو د خپل پروردگار څخه دي يې وغواړي .

اوس سوال دادی چي هغه وخت د دعاء په غوښتلو سره خپل دواړه لاسونه هم پورته كړي كه يا ، دا حديث ددې څخه انكار كوي او د امام ابوحنيفة، امام شافعي او امام مالک رحمة الله عليهم هم دا مذهب دی چي د كعبې شريفې په لېدو سره دعاء غوښتونكی دي خپل لاسونه نه پورته كوي (يعني دعاء دي كوي مگر لاسونه دي نه پورته كوي) او د امام احمد ﷫ مذهب دادی چي د كعبې شريفې په لېدو سره دي لاسونه پورته كړل سي او دعاء دي وغوښتل سي. طيبي .

ملا علي قاري ﷫ په مرقات كي د امام اعظم ابوحنيفة او امام شافعي رحمة الله عليهما مذهب ددې پر خلاف ليكلی دی يعني د هغه د نقل مطابق ددغه دواړو امامانو په نزد لاسونه پورته كول مشروع دي مگر ملا علي قاري ﷫ په خپل يو كتاب مناسک كي دې ته مكروه

ويلي دي ، كه څه هم ځيني علماء ددې جواز هم نقل كوي ، د فقه حنفي مشهور او معتمد كتاب هدايه او درمختار څخه هم دا خبره ثابتيږي چي پر دغه ځاى باندي لاسونه پورته كول نه دي پكار .

## د سعي په دوران كي كعبه شريفه ليدل او دعاء كول

﴿۲۴۶۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله رسول الله ﷺ مكه مكرمه ته داخل سو

مَكَّةَ فَأَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ أَتَى الصَّفَا فَعَلَاهُ حَتّٰى

نو د حجر اسود په لور متوجه سو او هغه يې مچ كړل بيا يې د بيت الله شريفي طواف وكړ ، ددې وروسته صفا او مروه ته وختئ او هلته يې

يَنْظُرُ إِلَى الْبَيْتِ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللّٰهَ مَا شَاءَ وَيَدْعُو . رواه أبوداؤد

د بيت الله شريفي په ليدو سره دواړه لاسونه (د دعاء لپاره) پورته كړل او د الله جل جلاله ذكر يې وكړ څومره چي يې غوښتل دعاوي يې وغوښتلې . ابوداؤد .

**تخريج** : ابوداود في السنن ۲\۴۳۸، رقم: ۱۸۷۲.

**تشريح** : د سعي كولو پر وخت كله چي صفا ته وخيژي نو هلته بيت الله شريفي ته په مخ كولو سره دريدل پكار دي او بيا د تكبير او تهليل په ويلو او درود شريف ويلو څخه وروسته د دواړو لاسونو په پورته كولو سره دعاء كول پكار دي .

يو وخت دا طريقه وه او كيداى سي اوس هم وي چي ځينو خلكو به په دغه وخت كي په تكبير ويلو سره لاسونه پورته كول لكه څرنگه چي په لمانځه كي په تكبير ويلو سره رفع يدين كيږي ، په ښه ډول پوه سئ چي په شريعت كي ددې هيڅ اصل نه سته دا يو غير مشروع او غير مسنون طريقه ده .

## په طواف او لمانځه كي مماثلت

﴿۲۴۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الطَّوَافُ حَوْلَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بيت الله شاوخوا طواف

الْبَيْتِ مِثْلُ الصَّلَاةِ إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ فَمَنْ تَكَلَّمَ فِيهِ فَلَا يَتَكَلَّمَنَّ إِلَّا

بِخَيْرٍ . رواه الترمذي والنسائي و الدارمي وذكر الترمذي جماعة وقفوه على ابن عباس .

کول د لمانځه په ډول دئ مګر تاسو د طواف په حالت کي خبري کولای سئ ، نو څوک چي خبري کوي د نیکۍ خبري دي وکړي . ترمذي، نسائي او دارمي .

**تخريج**: الترمذي في السنن ٣\٢٩٣، رقم: ٩٦٠، والنسائي ٥\٢٢٢، رقم: ٢٩٢٢، والدارمي ٢\٦٦، رقم: ١٨٤٧.

**تشريح**: په لمانځه او طواف کي د مماثلت تعلق د ثواب له مخي دی لکه څرنګه چي د لمانځه ثواب ډېر زيات دی همدارنګه د کعبې شريفې د طواف هم ډېر زيات ثواب دی البته په دواړو کي فرق دادی چي په لمانځه کي خبري او کلام کول مفسد دی مګر په طواف کي خبري کول مفسد نه دی .

د حديث څخه دا څرګندېږي چي خبري کول او کوم شيان چي د خبرو په حکم کي دي لکه خوراک، څښاک او افعال کثيره او داسي نور د طواف لپاره مفسد دي .

د حديث دا مطلب بالکل نه دی چي لمونځ او طواف دواړه يو ډول دي ځکه چي يو فرق خو حديث ښوولی دی ددې څخه پرته هم ځيني شيان داسي دي چي د دواړو ظاهر فرق واضح کوي مثلا د رسول الله ﷺ د عمل څخه دا خبره ثابته ده لکه څرنګه چي په لمانځه کي قبلې ته مخ کول او د وخت کېدل شرط دي همدارنګه په طواف کي مخ پر قبله کېدل او د يو خاص وخت متعين کېدل شرط نه دي . همدارنګه د لمانځه نور شرطونه لکه طهارت حقيقيه او حکميه او د ستر پټول که څه هم د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د طواف لپاره په دغه درجې کي دی په کومه درجه کي چي لمونځ دی يعني څرنګه چي دغه شيان د لمانځه د شرطو څخه دي چي ددې څخه پرته لمونځ نه ادا کيږي همدارنګه د طواف لپاره هم شرطونه دي مګر د حنفيه په نزد دغه شيان د طواف يوازي د واجب په درجه کي دي شرط نه دي .

د حديث الفاظ چي طواف کول د لمانځه په مثل دي ددې څخه دا نه لازميږي چي طواف بعينه د لمانځه په درجه کي دی بلکه طواف ته د لمانځه په مثل ويل خپله دې ته اشاره کوي چي لمونځ د طواف څخه غوره دی .

## د حجر اسود حقيقت

﴿۲۴۶۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نزل الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : راغلی دئ حجر اسود

مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ . رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح .

د جنت څخه هغه تر شېدو زياته سپينه وه د انسانانو ګناهو هغه توره کړل . احمد ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ .

**تخريج** : الامام احمد في المسند ۱\۳۰۷، رقم: ۸۷۷.

**تشريح** : هغه مقدسه ډبره چې هغه ته نن سبا حجر اسود (توره ډبره) ويل کيږي کله چې د جنت څخه په راکښته کېدو سره د ظلم او جهل څخه ډکه دې دنيا ته راغله او د دنيا ګناه کارو خلکو هغه مس کول او د هغې سره لاس لګول يې شروع کړل نو د هغوئ د ګناهونو تاثير د هغې رنګ بدل کړ او هغه ډبره چې د شېدو څخه هم زياته سپينه وه د انسانانو په ګناهونو سره توره سوه .

اوس فکر وکړئ چې کله پر ډبره باندي د انسان د ګناهو دا اثر دی نو خپله د انسان پر زړه باندي د هغه ګناهونو څومره اثر وي . معاذالله .

## حجر اسود د قيامت په ورځ

﴿۲۴۶۳﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَجَرِ وَاللَّهِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې د حجر اسود په اړه رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَيَبْعَثَنَّهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ يَشْهَدُ عَلَى مَنِ اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي .

د قيامت په ورځ به الله تعالی حجر اسود په داسي ډول راپورته کړي چې دوې سترګي به يې وي چې په هغه به ويني او ژبه به يې وي چې په هغه سره به خبري کوي او په رښتيا به پر هغه چا شاهدي ورکوي چا چې مچ کړی وي . ترمذي، ابن ماجة او دارمي .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۳\ ۲۹۴، رقم: ۹۶۱، وابن ماجه ۲\ ۹۸۲، رقم: ۱۸۳۹.

**تشريح** : چا چې په حق سره مچ کړل: ددې مطلب دادی چې چا په ايمان، صدق او يقين او محض د ثواب د طلب له کبله حجر اسود مچ کړی نو په قيامت کې به د هغه سړي په باره کې

شاهدي ورکوي چي دغه سړي زه مچ کړې يم.

دا حديث هم پر خپله ظاهري معنی باندي محمول دی په دې کي د ذرې په اندازه هم شک نه سته چي د قيامت په ورځ به حجر اسود ته دا سي سترګي او ژبه ورکړل سي لکه څرنګه چي موږ انسانانو ته راکړل سوي دي ځکه الله تعالی په جماداتو کي د بينائي او ګويائي پر پيدا کولو باندي قادر دی هغه که د ويني او غوښو يو ټوټې ته د لېدلو او ويلو قوت ورکولای سي نو يو ډبري ته هم د لېدو او ويلو توان ورکولای سي.

## حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت ياقوت دي

﴿۲۴۶۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

إِنَّ الرُّكْنَ وَالْمَقَامَ يَاقُوتَتَانِ مِنْ يَاقُوتِ الْجَنَّةِ طَمَسَ اللّٰهُ نُورَهُمَا وَلَوْ لَمْ

حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت د ياقوتو څخه دي، الله تعالی د دوئ نور پست کړی دئ او که

يَطْمِسْ نُورَهُمَا لَأَضَاءَتَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. رواه الترمذي

د دوئ رڼا قائمه پاته سوې وای نو د ختيځ او لوېديځ ټول شيان به يې ځلانده کړي وای. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۲۲۶، رقم: ۸۷۸.

## د حجر اسود استلام او د طواف فضيلت

﴿۲۴۶۵﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ ابْنِ عُمَيْرٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا

د حضرت عبيد ابن عمير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنهما به د دواړو رکنو (حجر اسود او رکن يماني) په مچولو کي دومره زور کوئ

مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُزَاحِمُ عَلَيْهِ قَالَ إِنْ

چي ما د رسول الله ﷺ په اصحابو کي هيڅوک په دومره زور کولو باندي نه دی ليدلئ، ابن عمر رضي الله عنهما به په خپل دغه کار تعجب کونکو ته ويل:

أَفْعَلْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مَسْحَهُمَا كَفَّارَةٌ

که زه داسي کوم نو تعجب مه کوئ ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي دغه
دواړو ته لاس وروړل د ګناهو کفاره ده

لِلْخَطَايَا وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ مَنْ طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ

او ما داسي هم د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي ځوک د دې بيت (بيت الله) اووه واره
طواف وکړي او د هغه د واجباتو ، سنتو او وغيره پابندي وکړي نو هغه ته دومره ثواب ورکول

رَقَبَةٍ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا يَضَعُ قَدَمًا وَلَا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلَّا حَطَّ اللّٰهُ عَنْهُ خَطِيئَةً

وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً . رواه الترمذي

کيږي ځومره چي د يوه غلام آزادولو ، او د رسول الله ﷺ څخه مي دا هم اوريدلي دي چي کوم
قدم په طواف کي کښېښودل سي او کوم قدم چي پورته کړل سي پر هر قدم باندي الله تعالى ګناه
ليري کوي او نيکي ليکي . ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن : ۱۳\۲۹۲، رقم: ۹۵۹.

**تشريح**: د سبقت تر لاسه کولو مطلب دادی چي هغه به د حجر اسود او رکن يماني د استلام
لپاره د خلکو په رش کي مخکي کېدی او پر دواړو رکنو به يې لاس لګوی مګر د هغه دا سبقت
داسي وو چي خلکو ته به تکليف نه رسيدی ، که چيري يو ځوک د استلام لپاره خلک په تکليف
کوي او خلک په دې سره تکليف محسوس کړي نو هغه به ګناه کار وي او د رش په صورت کي د
لاس په ذريعه د ليري څخه پر اشاره کولو باندي اکتفاء کول پکار دي .

اووه واره يې طواف وکړ: په دې کي درې احتماله دي يو خو دا چي اووه شوطه يې وکړه
يعني د کعبې شريفې شاوخوا يې اووه چکره ولګول او دا معلومه ده چي اووه چکره لګول يو
طواف دی. دوهم دا چي اووه طوافه يې وکړه او دريم دا چي تر اوو ورځو پوري يې طواف وکړ.

## د حجر اسود او رکن يماني په مينځ کي دعاء

﴿۲۴۶۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن السائب ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د حجر اسود او

وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ ﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ

حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ} . رواه ابوداؤد .

رکن یماني په منځ کي دا آیت اوریدلی دئ : رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ. ابوداؤد .

**تخریج** : ابوداود في السنن ۲\۴۴۸، رقم: ۱۸۹۲.

## د سعي حکم

﴿۲۴۶۷﴾ : وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ أَخْبَرَتْنِي بِنْتُ أَبِي تُجْرَاةَ قَالَتْ دَخَلْتُ

د حضرت صفية بنت شيبة (رض) څخه روایت دئ چي د ابي تجرات لور ما ته بیان وکړ چي زه د

مَعَ نِسْوَةٍ مِّنْ قُرَيْشٍ دَارَ آلِ أَبِي حُسَيْنٍ نَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

قریشو د یو څو ښځو سره د ابو حسین کور ته ددې لپاره ولاړم چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ وَهُوَ يَسْعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ فَرَأَيْتُهُ يَسْعٰى وَإِنَّ مِئْزَرَهُ لَيَدُوْرُ مِنْ

د صفا او مروه په منځ کي په سعي کولو ووینم ، نو ما رسول الله ﷺ د صفا او مروه په منځ کي په سعي کولو ولیدئ ، د رسول الله ﷺ تهبند د منډي له کبله پېچل کېدئ ،

شِدَّةِ السَّعْيِ وَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ اسْعَوْا فَإِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ . رواه في شرح السنة ورواه أحمد مع اختلاف

بیا ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل چي سعي کوئ ځکه چي الله تعالی پر تاسو سعي واجب کړې ده ، شرح السنة او احمد .

**تخریج** : الامام احمد في المسند ۲\۴۲۱، البغوي في شرح السنة ۷\۱۴۰ - ۱۴۱، رقم: ۱۹۲۱.

**تشریح** : مخکي ښودل سوي دي چي د صفا او مروه په مینځ کي اووه چکره لګولو ته سعي وايي چي د حج یو اهم رکن دی ، د صفا او مروه غونډۍ اوس نه سته دغه دواړي غونډۍ په اوارولو سره ختمي سوي دي یوازي د هغو ځایونه ټاکل سوي دي، دا هم مخکي ښودل سوي دي چي دغه سعي په حقیقت کي د بي بي هاجرې رضي الله عنها د هغه ځغاستي او پرېشانۍ

يادګار دی چي په هغه کي هغې د خپل تي رودونکي ماشوم حضرت اسماعيل عليه السلام د تندي ماتولو لپاره د اوبو په لټه کي ددغه دواړو غونډيو په مينځ کي اخته سوې وه د هغه وروسته الله تعالی زمزم پيدا کړ ، د اسلام څخه مخکي عربو پر دغه دواړو غونډيو يو بُت ايښی وو د صفا د بت نوم اهناف او د مروه د بت نوم نائله وو ، د صفا غونډۍ د جبل ابوقيس په لمن کي ده .

د هغه ځای څخه سعي شروع کيږي د صفا او مروه په مينځ کي هغه لار چي پر هغه سعي کيږي او هغه ته مسعي وايي د بيت الله شريفي مشرق ته ده دا مخکي د مسجد حرام څخه د باندي وو اوس په هغه کي ګډه سوي دي .

د حديث د الفاظو : فان الله كتب عليكم السعي - څخه امام شافعي رحمة الله عليه دا مراد اخلي چي الله تعالی پر تاسو باندي سعي فرض کړې ده د هغه په نزد د صفا او مروه په مينځ کي سعي فرض ده که يو څوک سعي ونه کړي نو د هغه حج باطل دی ، د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد سعي فرض نه ده بلکه واجب ده ، هغه ددغه جملې معنی دا اخلي چي الله تعالی پر تاسو باندي سعي واجب کړې ده د حنفي مذهب سره سم که يو څوک سعي پريږدي نو پر هغه باندي دم يعني د پسه وغيره حلالول لازميږي او حج نه باطليږي .

## سعي پر پښو کول واجب ده

(۲۴۶۸) : وَعَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمَّارٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت قدامة بن عبدالله بن عمار رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ ليدلی دئ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَلٰى بَعِيْرٍ لاَ ضَرْبَ وَلاَ طَرْدَ وَلاَ إِلَيْكَ إِلَيْكَ . رواه في شرح السنة

د صفا او مروه په منځ کي پر اوښ باندي په سعي کولو ، نه خو رسول الله ﷺ اوښ ووهئ ، نه يې شړئ او نه يې فهم کوئ فهم کوئ وويل . شرح السنة .

**تخريج** : البغوي في شرح السنة ۷ \ ۱۴۲ ، رقم : ۱۹۲۲ .

**تشريح** : ددغه حديث څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ پر اوښ باندي په سپرېدو سره سعي وکړه حال دا چي په پورتني حديث او ځينو نورو حديثو کي دا ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ پر پښو باندي سعي کړې وه نو ددغه حديثو تضاد داسي ختميږي چي په ځينو سعي کي رسول الله ﷺ پر پښو وو او په ځينو کي د امت د تعليم لپاره يا د يو عذر په وجه پر اوښ باندي په

سپړېدو سره يې سعي وكړه ، د امام ابو حنيفة رحمه الله د مذهب سره سم پر پښو باندي سعي كول واجب ده په شرط د قدرت، كه يو څوک بېله عذره پر سپرلۍ وغيره باندي سعي كوي نو پر هغه باندي دم (يعني د حيوان حلالول) واجبيږي.

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي كله رسول الله ﷺ پر اوښ باندي په سپړېدو سره سعي كول نو هغه وخت د خپل لاري صفا كولو لپاره او د شان او شوكت د اظهار لپاره يې نه څوک وهل او نه يې چا ته ډيكه وركول او نه يې په لاس وغيره سره څوک ليري كول او نه يې ليري سئ آخوا سئ ويل، لكه څرنگه چي د اميرانو او پاچاهانو او ظالمانو خلكو عادت دی ، يعني د دغه جملې په ذريعه داسي خلكو ته غيرت وركول دي او پر هغوئ طعن كول مقصد دي كوم چي دا ډول حركتونه كوي .

## په طواف كي اضطباع

﴿۲۴۶۹﴾ : وَعَنْ يَّعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بِالْبَيْتِ مُضْطَبِعًا بِبُرْدٍ أَخْضَرَ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه والدارمي

د حضرت يعلي بن امية رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بيت الله طواف وكړ او څادر يې اضطباع كړ (يعني څادر يې د راسته بغل. لاندي څخه راوكښی او پر چپه وږه يې واچوئ) . ترمذي، ابو داؤد، ابن ما جه او دارمي

**تخريج** : الترمذي في السنن ۳\ ۲۱۴، رقم: ۸۵۹، وابوداود ۲\ ۴۴۳، رقم: ۱۸۸۳، وابن ماجه ۲\ ۹۸۴، رقم: ۲۹۵۴، والدارمي ۲\ ٦٥، رقم: ۱۸۴۳.

**تشريح** : مخكي ښودل سوي دي چي څادر داسي اچول چي هغه د راسته بغل د لاندي څخه په را ايستلو سره پر چپه اوږه باندي واچول سي دې ته اضطباع ويل كيږي د طواف پر وخت داسي څادر اچولو وجه هم مخكي بيان سوې ده .

## په طواف كي اضطباع سنت ده

﴿۲۴۷۰﴾ :وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ اود هغه اصحابو

اعْتَمَرُوْا مِنَ الْجِعِرَّانَةِ فَرَمَلُوْا بِالْبَيْتِ ثَلَاثًا وَجَعَلُوْا أَرْدِيَتَهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ

ثُمَّ قَذَفُوهَا عَلٰى عَوَاتِقِهِمُ الْيُسْرٰى. رواه أبو داود

د جعرانه نامي ځای څخه عمره وکړه او د بيت الله شريفي په طواف کي درې واره په تيز قدم ولاړل او خپل څادرونه يې د خپلو بغلو لاندي وکښتل او پر چپه اوږو يې واچوي. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۴۴۴، رقم: ۱۸۸۴.

**تشريح**: اضطباع په ټول طواف کي سنت ده، کله چي رمل يعني تېز تيز او جګ جګ تلل د طواف څخه مخکي په دوو يا درو چکرو کي کيږي نو په دې خبره پوهېدل پکار دي چي اضطباع يوازي د طواف په وخت کي مستحب دي د طواف څخه پرته په نورو وختو کي مستحب نه دي او ځيني خلک چي د احرام په شروع کي اضطباع اختياروي د هغه هيڅ اصل نه سته بلکه د لمانځه په حالت کي دا مکروه دي.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د استلام حجر اسود او رکن يماني فضيلت

﴿۲۴۷﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَا تَرَكْنَا اسْتِلاَمَ هٰذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيِّ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هر کله ما رسول الله ﷺ په حجر اسود او رکن يماني

وَالْحَجَرِ فِيْ شِدَّةٍ وَلاَ رُخَاءٍ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَسْتَلِمُهَا متفق عليه،

مچولو ليدلی دئ نو هيڅکله زه د هغو د مچولو څخه نه سم پاته کيدلای که څه هم رش وي يا نه، بخاري او مسلم.

وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُمَا قَالَ نَافِعٌ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ بِيَدِهٖ ثُمَّ قَبَّلَ يَدَهٗ

او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د نافع بيان دئ چي ما ابن عمر په لاس ورړلو او بيا په لاس مچولو ليدلی دئ هغه وويل ما هيڅکله د رکن يماني او حجر اسود مچول نه دي پرې

وَقَالَ مَا تَرَكْتُهٗ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهٗ.

اينبي د څه وخت څخه چي مي رسول الله ﷺ د دې په مچولو ليدلی دئ.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۴۷۱، رقم: ۱۶۰۶، ومسلم ۲\ ۹۲۴، رقم: ۲۴۵ - ۱۲۶۸.

## د عذر په وجه په سپرتيا سره طواف کول جائز دی

﴿۲۴۷۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ شَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي (د حج په ورځو کي) ما رسول الله ﷺ ته د خپلي

أَنِّي أَشْتَكِي فَقَالَ طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ فَطُفْتُ وَرَسُولُ اللّٰهِ ﷺ

ناروغۍ شکايت وکړ ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ته د خلکو څخه وروسته ورو يا د خلکو څخه ليري ليري طواف وکړه ، نو ما پر سپرلۍ طواف وکړ او وه مي ليدل چي رسول الله ﷺ

يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ يَقْرَأُ بِالطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ . متفق عليه

د بيت الله په طرف کي لمونځ کوي او په لمانځه کي والطور وکتاب مسطور ، وايي . بخاري او مسلم

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۴۸۰، رقم: ۱۶۱۹، ومسلم ۲\۹۲۷، رقم: ۲۵۸- ۱۲۷۶.

**تشريح**: سورة وطور به يې په يوه رکعت کي ويلي وي او په دوهم رکعت کي به يې يو بل سورت ويلی وي لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ مبارک عادت وو ، يا دا چي سورة طور به يې په دواړو رکعتو کي ويلي وي ، ددغه حديث څخه معلومه سوه چي د يو عذر په وجه د بيت الله شريفي طواف په سپرېدو سره جائز دي او بېله عذره جائز نه دی ځکه چي پر پښو باندي طواف کول واجب دی .

## د حضرت عمر رضي الله عنه حجر اسود ته خطاب

﴿۲۴۷۳﴾: وَعَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ وَيَقُولُ إِنِّي

د حضرت عابس بن ربيعة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما حضرت عمر رضي الله عنه په حجر اسود مچولو وليدئ او دا مي ځيني واوريدل چي ويل يې :

لَأَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ مَا تنفع ولا تَضُرُّ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ . متفق عليه

زه پوهيږم چي ته د بره يې نه چا ته ګټه رسولای سې او نه تاوان، که ما رسول الله ﷺ ستا په مچولو نه وای ليدلی نو هيڅکله به مي نه وای مچ کړی . بخاري او مسلم .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۴۶۲، رقم: ۱۵۹۷، ومسلم ۲\۹۲۵، رقم: ۲۵۱-۱۲۷۰.

**تشريح**: د حضرت عمر رضي الله عنه د غه ارشاد د اعتقادي او عملي ګمراهي منع كولو لپاره وو چي ځيني نوي مسلمانان د دغه ډبري عبادت كول شروع نه كړي نو د دغه ارشاد څخه يې مراد دا وو چي دغه ډبره بذات خود نه چا ته ګټه رسولای سي او نه د چا تاوان كولای سي كه د هغه د ذات څخه يو ګټه رسيدلای سي نو يوازي تر دې حده پوري چي د رسول الله ﷺ د حكم په تعميل كي د هغه په مچولو سره ثواب تر لاسه كيږي.

## پر ركن يماني باندي دعاء

﴿۲۴۷۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وُكِلَ بِهِ سَبْعُونَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاكل سوي دي اوويا

مَلَكًا يَعْنِي الرُّكْنَ الْيَمَانِيَ فَمَنْ قَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي

ملائكي پر ركن ايمان نوڅوك چي ووايي: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي

الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالُوا آمِينَ. رواه ابن ماجة.

الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، نو ملائكي آمين وايي. ابن ماجه

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\۹۸۵، رقم: ۲۹۵۷.

**تشريح**: كله چي د ركن يماني دا فضيلت دی نو د حجر اسود فضيلت خو به تر دې هم زيات وي مګر دا هم كېدای سي چي دغه فضيلت او امتياز يوازي د ركن يماني سره مختص دی او د حجر اسود لپاره تر دې هم زيات فضيلتونه دي، په دغه حديث كي او تير سوي حديث كي چي په هغه كي دا ذكر سوي وه چي رسول الله ﷺ د حجر اسود او ركن يماني په مينځ كي ربنا آتنا ...الخ ويل. په دغه دواړو روايتو كي څه تضاد نه سته په دې توګه چي كله رسول الله ﷺ د طواف په دوران كي ركن يماني ته ورسيدی او په تلو سره يې دغه دعاء ويل شروع كړه نو ظاهره ده چي د دغه دعاء ويل به د ركن يماني او حجر اسود په مينځ كي وي ځكه چي په طواف كولو سره د دعاء لپاره دريدل خو صحيح نه دي نو كوم خلك چي د طواف په دوران كي په دريدو سره دعاء

كوي هغوئ غلطي كوي.

## په طواف كي د تسبيح، تهليل وغيره فضيلت

﴿۲۴۷۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي اووه واره د بيت الله شريفي طواف وكړي

وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ

او بيا په دغه طوافو كي پرته د بِسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ

وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ مُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَكُتِبَتْ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَرُفِعَ

وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، بل څه و نه وايي نو د هغه لس ګناهونه رژيږي، لس نيكۍ ليكل كيږي او لوړيږي

لَهُ عَشَرَةُ دَرَجَاتٍ وَمَنْ طَافَ فَتَكَلَّمَ وَهُوَ فِي تِلْكَ الْحَالِ خَاضَ فِي الرَّحْمَةِ

بِرِجْلَيْهِ كَخَائِضِ الْمَاءِ بِرِجْلَيْهِ. رواه ابن ماجة.

لس درجې يې او څوک چي طواف وكړي او خبري يې وكړې او دی په دغه حال كي وي نو هغه د رحمت په درياب كي داسي داخليږي لکه څرنګه چي تاسو په درياب كي په خپلو پښو سره داخليږئ. ابن ماجه.

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\ ۹۸۵، رقم: ۲۹۵۶.

**تشريح**: د حديث د اولي برخي خلاصه داده چي كوم څوک د طواف په حالت كي په تسبيح، تكبير، تهليل او بل شي كي بوخت سي نو د هغه ګناه ليري كيږي د هغه په نيكيو كي زياتوب كيږي او د هغه په درجو كي لوړوالی ورکول كيږي.

دوهمه برخه: او كوم څوک چي طواف وكړي او په دغه حالت كي خبري وكړي دا په حقيقت كي د اولي برخي تكرار دی، او په دغه حالت كي خبري وكړي: دلته د كلام څخه مراد تسبيح، تكبير او داسي ذكر سوي كلمات ويل دي، دوهم وار ځكه دا خبره ذكر سوې ده چي د طواف په حالت كي د دغه كلماتو زيات ثواب بيان كړل سي چي يو ثواب خو هغه دی كوم چي

پورته ذکر سوی دی او یو ثواب دادی ، مګر علماء دا هم وايي چي د حديث په دغه دوهمه برخه کي د کلام څخه مراد تسبيح، تکبير او مذکوره کلماتو څخه پرته نور اذکار او د اولياء او مشائخو منقولاتو او ارشادات وغيره دي .

========

## بَابُ الْوُقُوف بِعَرَفَةَ (په عرفات کي د درېدو بيان)

عرفه د يو خاص ځای نوم دی او د زمان په معنی کي هم استعماليږي په دې توګه چي نهم ذي الحجې ته د عرفې ورځ وايي مګر عرفات په جمع لفظ سره يوازي د دغه خاص ځای لپاره استعماليږي او دغه جمع د اطرافو او جوانبو په اعتبار ده .

عرفات د مکې مکرمې څخه تقريبا پنځلس نيم ميله (۲۵ کيلو ميټره) فاصله باندي واقع دی ، دا يو پراخه شيله يا ميدان دی چي په درو غرونو سره راچاپېره او شمال خوا ته يې جبل الرحمة دی .

د عرفات د تسميې د وجه په اړه ډېر قولونه دي ، ويل کيږي چي کله حضرت آدم عليه السلام او بي بي حوا عليها السلام د جنت څخه په راکښته کېدو سره دې دنيا ته راغلل نو هغوئ دواړو تر ټولو مخکي په دغه ځای کي سره يو ځای سول د دغه تعارف په مناسبت د دغه نوم عرفه سو او دغه ځای ته عرفات وويل سول، يو قول دادی چي حضرت جبرائيل عليه السلام په دغه ځای کي حضرت ابراهيم عليه السلام ته د حج د افعالو تعليم ورکوی نو هغه به په دغه دوران کي د هغه څخه پوښتنه کول چي عَرَفتَ (يعني کوم تعليم چي ما درکړی دی په هغه پوه سوې) حضرت ابراهيم عليه السلام به په جواب کي ويل : عَرَفتُ (هو زه پوه سوم) او په پای کي د دواړو په سوال او جواب کي د دغه کلمې استعمال د دغه ځای د تسميې وجه سو د دې څخه پرته نور قولونه هم دي .

وقوف عرفات يعني پر نهم ذي الحجې هر حاجي د عرفات ميدان ته رسيدل د هغه د حج د ادا کولو لپاره تر ټولو لوی رکن دی چي د هغه څخه پرته حج نه صحيح کيږي ، د حج دوه رکنونه يعني طواف الافاضة او وقوف عرفات د حج تر ټولو لوی رکنونه دی ځکه که چيري دا پرېښودل سي نو حج نه صحيح کيږي .

# اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

## د عرفات په ورځ د تكبير او تلبيه مسئله

﴿۲۴۷۶﴾: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ اَبِيْ بَكْرِ الثَّقَفِيِّ اَنَّهُ سَاَلَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَهُمَا

د حضرت محمد بن ابي بكر الثقفي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله زه او انس بن مالک رضي الله عنه

غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَاتٍ فَكَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ مَعَ النَّبِيِّ

د منى څخه د عرفات په لور سهار تللو نو هغه زما څخه پوښتنه وكړه چي په نن ورځ كي به تا د رسول الله ﷺ سره څه كول؟

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُهِلُّ مِنَّا الْمُهِلُّ فَلاَ يُنْكَرُ عَلَيْهِ وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ مِنَّا فَلاَ يُنْكَرُ عَلَيْهِ. متفق عليه

انس رضي الله عنه وويل: په موږ كي به ليبک ويونكو لبيک وايه او هغه دي څخه نه منع كېدل او الله اكبر ويونكو به الله اكبر وايه او نه به منع كېدل. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۵۱۰، رقم: ۱۶۵۹، ومسلم ۲\ ۹۳۳، رقم: ۲۷۴- ۱۲۸۵.

**تشريح**: علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي د عرفات په ورځ د حاجيانو تكبير ويل جائز خو دي لكه څرنگه چي نور اذكار جائز دي مگر سنت نه دي بلكه په دغه ورځ سنت عمل د هغوئ په تلبيه كي بوخت كېدل دي تر څو پوري چي هغوئ د عقبه د رمي څخه فارغ نه سي.

دا خبره خو معلومه ده چي د عرفات د ورځي د سهار څخه د ايام تشريق آخر يعني د ذي الحجې د ديارلسم تاريخ تر مازديگر پوري د هر فرض لمونځ كونكي لپاره كه په حج كي وي او كه په حج كي نه وي تكبير ويل واجب دي.

## په منى كي قرباني

﴿۲۴۷۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحَرْتُ هَاهُنَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما په دې ځاى كي قرباني كړې ده

وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ

وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ . رواه مسلم .

او ټوله منا د قرباني ځای دئ نو تاسو په خپلو خیمو کي قرباني وکړئ او زه دلته ولاړ یم ، او د عرفات ټول میدان د درېدو ځای دئ او ما په دې ځای کي (مزدلفه) قیام وکړ او د مزدلفې ټول ځای د قیام دئ . مسلم .

**تخریج**: مسلم في الصحيح ۲\۸۹۳، رقم: ۱۴۹ - ۱۲۱۸.

**د لغاتو حل**: جمع: ای مزدلفه.

**تشریح**: په دغه ځای سره رسول الله ﷺ د منی هغه ځای ته اشاره وکړه چیري چي رسول الله ﷺ قرباني وکړه دغه ځای ته منحر النبي (یعني د نبي کریم ﷺ د قربانۍ کولو ځای) ویل کیږي، رسول الله ﷺ دغه ځای ته په اشاره کولو سره وفرمایل چي ما خو دلته قرباني کړې ده مګر په منی کي هر ځای قرباني کیدای سي ځکه چي هلته په هر ځای کي قرباني کول سنت دي ، همدارنګه رسول الله ﷺ په عرفات کي د خپل وقوف ځای ته په اشاره کولو سره وفرمایل چي زه خو په عرفات کي په دغه ځای کي تم سوم مګر د عرفات په هر ځای کي وقوف کیدای سي .

مزدلفې ته جمع وایي رسول الله ﷺ د دغه ځای په باره کي د خپل وقوف ځای ته چي مشعر حرام ته نژدې دی په اشاره کولو سره وفرمایل چي ما خو دلته وقوف کړی دی مګر په مزدلفه کي هر ځای د وادي محسر څخه وقوف کیدای سي . د حدیث خلاصه داده چي په منی کي هر ځای قرباني کېدای سي او په عرفات او مزدلفه کي هر ځای د وادي محسر څخه پرته وقوف کیدای سي مګر دا ظاهره ده چي رسول الله ﷺ په کوم ځای کي قرباني کړې ده او کوم ځای یې وقوف کړی دی هلته قرباني کول او وقوف کول غوره دي.

## د عرفات د ورځي فضیلت

﴿۲۴۷۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللّٰهُ فِيهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَإِنَّهُ لَيَدْنُو

الله تعالی د عرفات تر ورځي زیات په هیڅ یو ورځ خپل بندګان د دوږخ د اور څخه نه آزادوي او په دې ورځ الله تعالی په خپل رحمت او مغفرت سره بندګانو ته نژدې کیږي

ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُولُ مَا أَرَادَ هَؤُلَاءِ . رواه مسلم

او د ملائکو په وړاندي په حج کونکو فخر کوي او فرمايي : دا خلک څه غواړي ؟ . مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۸۲، رقم: ۴۲۶-۱۳۴۸.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### دامام د موقف څخه ليري کېدل

﴿۲۴۷۹﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ صَفْوَانَ عَنْ خَالٍ لَّهُ يُقَالُ لَهُ يَزِيْدُ بْنُ

حضرت عمرو بن عبدالله بن صفوان ﷺ د خپل ماما يزيد بن شيبان څخه روايت کوي چي

شَيْبَانَ قَالَ كُنَّا فِيْ مَوْقِفٍ لَّنَا بِعَرَفَةَ يُبَاعِدُهُ عَمْرٌو مِّنْ مَوْقِفِ الْإِمَامِ جِدًّا

موږ په عرفات کي پر خپل ځای تم سوي وو امام د تم ځای څخه ډير ليري وو

فَأَتَانَا ابْنُ مَرْبَعٍ الْأَنْصَارِيّ فَقَالَ إِنِّيْ رَسُوْلُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د مربع انصاري زوی موږ ته راغلئ او وه يې ويل : زه د رسول الله ﷺ پيغام راوړونکی يم

إِلَيْكُمْ يَقُوْلُ لَكُمْ قِفُوْا عَلٰى مَشَاعِرِكُمْ فَإِنَّكُمْ عَلٰى إِرْثٍ مِّنْ إِرْثِ أَبِيْكُمْ

او دا پيغام مي راوړی دئ چي تاسو په عرفات کي په کوم ځای کي تم ياست هلته تم اوسئ تاسو د خپل پلار

إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه

ابراهيم عليه السلام پر ميراث ياست ، . ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\ ۲۳۰، رقم: ۸۸۳، وابوداودد ۲\ ۴۶۹، رقم: ۱۹۱۹، والنسائي ۵\ ۲۵۵، رقم: ۳۰۱۴، وابن ماجه ۲\۱۰۰۱-۱۰۰۲، رقم: ۳۰۱۱.

**تشريح**: په عربو کي د اسلام د ظهور څخه مخکي دا رواج وو چي د عرفات په ميدان کي به د هري قبيلې او هر قوم لپاره جلا جلا ځای موقف ټاکلی وو ، هر سړي به په هغه ځای کي وقوف کوی کوم چي د هغه د قوم لپاره ټاکلی سوی وو ، د يزيد بن شيبان د قبيلې موقوف چي په کوم

ځای کي وو هغه ځای د هغه څخه ډېر لیري وو چیري چي رسول الله ﷺ وقوف کړی وو نو په حدیث کي د امام د موقوف څخه مراد د رسول الله ﷺ موقوف دی.

بهر حال د عرفات په میدان کي د رسول الله ﷺ څخه د دومره لیري والي په وجه یزید بن شیبان رضي الله عنه وښتل چي رسول الله ﷺ ته ووایي چي تاسو موږ ته هم خپل نژدې د وقوف اجازه راکړئ، رسول الله ﷺ چي دا محسوسه کړه چي دوئ ددې خبري خواست کونکي دي نو د یو صحابي په ذریعه چي د هغه نوم ابن مربع وو دا پیغام ولیږی چي تاسو خلک پر خپل پخواني موقف باندي وقوف وکړئ، په حدیث کي د مشاعر څخه مراد د هغوئ پخوانی موقف دی او تاسو خلک د خپل هغه موقف څخه کوم چي ستاسو د پلار او نیکه څخه ستاسو لپاره تاکل سوی دی د منتقل کېدو کوښښ مه کوئ ځکه اول خو ټول د عرفات میدان موقف دي او دوهم دا چي د عرفات په میدان کي د امام د موقف په لیري والي یا نژدیوالي سره څه فرق نه رامنځته کیږي او بیا دا چي هر څوک دا خواهش لري چي زه د خپل امام او امیر نژدې موقف وکړم نو دا ځرنګه ممکن کیدای سي ځکه رسول الله ﷺ دا خبره د هغوئ د داډ لپاره وکړه تر څو په خپل مینځ کي د اختلاف صورت پیدا نه سي.

## د حرم په حدود کي هر ځای قرباني کیدای سي

﴿۲۴۸۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ عَرَفَةَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د عرفات ټول میدان

مَوْقِفٌ وَكُلُّ مِنًى مَنْحَرٌ وَكُلُّ الْمُزْدَلِفَةِ مَوْقِفٌ وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيقٌ وَمَنْحَرٌ. رواه ابوداؤد والدارمي.

د تم کېدو ځای دئ او ټوله منا د قرباني ځای دئ او ټول مزدلفه د تم کېدو ځای دئ او د مکې هره لار او هره کوڅه د قرباني ځای دئ. ابوداؤد او دارمي.

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\۴۷۸، رقم: ۱۹۳۷، والدارمي ۲\۷۹، رقم: ۱۸۷۹.

**تشریح**: د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي پر کومه لار باندي مکې ته ولاړ سئ هغه صحیح ده او په مکه کي چیري چي وغواړئ د قرباني حیوان حلال کړئ ځکه چي د قرباني حیوان په حرم کي ذبح کول پکار دي او مکه په حرم کي واقع ده، دا بېله خبره ده چي د قرباني

حیوان په منی کي د ذبح کولو رواج جوړ سوی دی ځکه چي د قرباني په ورځ چي هغه د ذي الحجې لسم تاریخ دی حاجیان په منی کي وي ځکه نو خپله قرباني هم هلته کوي.

خلاصه دا چي رسول الله ﷺ دا خبره د جواز د بیان په وجه وفرمایل کنه نو هغه ځای غوره دی چیري چي رسول الله ﷺ وقوف کړی وي یا په کوم ځای کي چي یې د قرباني حیوان حلال کړی وي او هغه لار غوره ده پر کوم چي رسول الله ﷺ مکې ته راغلی وي.

## د رسول الله ﷺ خطبه

﴿۲۴۸۱﴾: وَعَنْ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ عَرَفَةَ عَلَى بَعِيرٍ قَائِمٌ فِي الرِّكَابَيْنِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت خالد بن هوذة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما د عرفات په ورځ رسول الله ﷺ پر اوښ سپور د خلکو په منځ کي په خطبه ویلو ولیدئ په داسي حال کي چي رسول الله ﷺ په رکابو کي پښي مبارکي اچولي ولاړ وو. ابوداؤد.

**تخریج:** ابوداود في السنن ۲/ ۴۶۹، رقم: ۱۹۱۷.

**تشریح:** د لوړوالي لپاره رسول الله ﷺ پر رکابونو ودریدی او بیا یې خطبه وفرمایل تر څو لیري او نژدې ټول خلک یې واوري.

## د عرفات د ورځي دعاء

﴿۲۴۸۲﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ

فرمایلي دي: د عرفات د ورځي دعاء د دعاګانو څخه غوره ده او د شیانو څخه غوره شی چي زما او زما څخه وړاندي انبیاؤ ته ویل سوی دئ

قَبْلِي لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. رواه الترمذي وروى مالك عن طلحة ابن عبيد الله الى قوله لا شريك له.

(هغه دادئ) : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. ترمذي او مالک د حضرت طلحه بن عبيد الله ځخه روايت تر لاشريک له، پوري روايت کړئ دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۵\۵۳۴، رقم: ۳۵۸۳.

## د شيطان د ذلت ورځ

﴿۲۴۸۳﴾: عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ كَرِيزٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت طلحة بن عبيدالله بن کريز رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيهِ أَصْغَرُ وَلَا أَدْحَرُ وَلَا أَحْقَرُ وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ

شيطان د عرفات تر ورځي زيات ذليل، زيات رټل سوی، زيات سپک او زيات غضبناک په بل هيڅ ورځ نه دی ليدل سوی،

فِي يَوْمِ عَرَفَةَ وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِمَا رَأَى مِنْ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ وَتَجَاوُزِ اللّٰهِ عَنِ الذُّنُوبِ

او دا ځکه چي په دې ورځ کي شيطان د الله تعالی رحمتونه نازليدونکيويني اوويني چي الله تعالی په دې ورځ لوی لوی ګناهونه بخښي

الْعِظَامِ إِلَّا مَا أُرِيَ يَوْمَ بَدْرٍ فَقِيلَ وَمَا رَأَى يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيلَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ . رواه مالك مرسلا و في شرح السنة بلفظ المصابيح

د بدر په ورځ هم شيطان وليدل چي جبرائيل عليه السلام (د کفارو سره د جګړې لپاره) د ملائکي صفو ته ترتيب ورکوئ له دې کبله په دې ورځ هم شيطان ډير ذليل او خوار سو . مالک مرسلا او شرح السنة .

**تخريج**: الامام مالک في الموطا ۱\۴۲۲، رقم: ۲۴۵، شرح السنة ۷\۱۵۸، رقم: ۱۹۳۰.

**د لغاتو حل**: ادحر: اسم تفضيل من الدحر وهو الطرد والابعاد (ليري کول او شړل).

## د عرفات د ورځي فضيلت

﴿۲۴۸۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د عرفات په ورځ

عَرَفَةَ إِنَّ اللهَ يَنْزِلُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُولُ انْظُرُوا

الله تعالى د دنيا آسمان ته نزول فرمايي او د ملائكو په وړاندي په حج كوونكو فخر كوي او فرمايي: وګورئ

إِلَى عِبَادِي أَتَوْنِي شُعْثًا غُبْرًا ضَاجِّينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ

زما بندګانو ته چي پريشانه وربښتان، په ګرد لړلي او په لارو كي ما يادونكي زما په لور راغلي زه تاسو شاهدان كوم چي ما

غَفَرْتُ لَهُمْ فَيَقُولُ الْمَلَائِكَةُ يَارَبِّ فُلَانٌ كَانَ يُرَهَّقُ وَفُلَانٌ وَفُلَانَةُ قَالَ

دوئ و بخښل، د دې په اورېدو سره ملائكي وايي اې پروردګاره! په دوئ كي خو فلانى سړى هم دئ چي د هغه په اړه ويلي سوي دي چي ګناه كار دئ او فلانى سړى او فلانۍ ښځه هم ده چي ګناه كار دي،

يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا

الله تعالى فرمائي ما دوئ هم بخښلي دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى خپلو بندګانو ته

مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ عَتِيقًا مِّنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ. رواه في شرح السنة

د عرفات تر ورځي زيات په هيڅ ورځ د اور څخه نجات نه وركوي. شرح السنة.

**تخريج**: شرح السنة ۱۵۹\۷، رقم: ۱۹۳۱.

**د لغاتو حل**: يُرهق: اى يتهم بسوء الى غشيان المحارم.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ (دريم فصل)

### په عرفات كي د وقوف حكم

﴿۲۴۸۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِينَهَا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دئ چي قريش او د هغوئ هم مذهبه خلكو به (د جاهليت په

زمانه کي) په مزدلفه کي قيام کوئ

وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ فَكَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُونَ بِعَرَفَاتٍ فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ

او شجاع او بهادر به ورته وويل سول او د عربو پاته قبيلې به په عرفات کي تم کېدې، بيا د اسلام راتلو وروسته

أَمَرَ اللهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ فَيَقِفَ بِهَا ثُمَّ يُفِيضَ

الله تعالى خپل نبي ته حکم ورکړ چي (ټول خلک دي) عرفات ته راسي او قيام دي وکړي او بيا د هغه ځای څخه دي ستانه کيږي

مِنْهَا فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى { ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ } . متفق عليه

او د الله تعالى ددې ارشاد مطلب داد ئ: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ. بخاري او مسلم

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۸۶، رقم: ۴۵۲۰، ومسلم ۲\۸۹۳، رقم: ۱۵۱- ۱۲۱۹.

**د لغاتو حل**: حُمس: جمع احمس من الحماسة اى الشجاعة (مېړانه).

**تشريح**: مزدلفه د حرم په حدود کي واقع ده او عرفات د حرم څخه وتلی دی، قريشو او د هغو ملګرو به پر نورو خلکو باندي د خپل غوره والي او فضيلت ښودلو لپاره په مزدلفه کي قيام کوی او ويل به يې چي موږ د اهل الله څخه يو او د الله تعالى د حرم اوسيدونکي يو ځکه نو موږ د حرم څخه د باندي وقوف نه سو کولای د قريشو څخه پرته ټول اهل عرب به د قاعدې سره سم د عرفات په ميدان کي قيام کوی، کله چي د اسلام رڼا دليېز تيارې ختمي کړې او د قبيلې او ذات په مينځ کي فرق او امتيازيې ختم کړی نو دا حکم وکړل سو چي څرنګه نور ټول خلک د عرفات په ميدان کي وقوف کوی همدارنګه قريش دي هم د عرفات په ميدان کي وقوف کوی او په داسي کولو سره دي په خپل مينځ کي د امتياز او فرق ديوال نه دروي.

## په مزدلفه کي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۴۸۶﴾: وَعَنْ عَبَّاسِ بْنِ مِرْدَاسٍ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا

د حضرت عباس بن مرداس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دعاء وغوښتل

لِأُمَّتِهِ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ بِالْمَغْفِرَةِ فَأُجِيبَ إِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ مَا خَلَا الظَّالِمَ

د عرفات په ماښام د خپل امت د بخښني لپاره، د دعاء په قبلېدو سره الله تعالى ورته وفرمايل: ما ټول و بخښل مګر ظالم نه بخښم

فَإِنِّي آخُذُ لِلْمَظْلُومِ مِنْهُ قَالَ أَيْ رَبِّ إِنْ شِئْتَ أَعْطَيْتَ الْمَظْلُومَ مِنَ الْجَنَّةِ

او د مظلوم حق به خامخا د هغه څخه اخلم، د رب العزت په دربار کي رسول الله ﷺ عرض وکړ اي پروردګاره! که ته وغواړې نو مظلوم ته به جنت ورکړې

وَغَفَرْتَ لِلظَّالِمِ فَلَمْ يُجَبْ عَشِيَّتَهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ بِالْمُزْدَلِفَةِ أَعَادَ الدُّعَاءَ

او ظالم به و بخښې مګر دا خواست د عرفات په ماښام قبول نه سو بيا چي په مزدلفه کي سهار سو نو رسول الله ﷺ بيا دغه دعاء وغوښتل

فَأُجِيبَ إِلَى مَا سَأَلَ قَالَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ

او د رسول الله ﷺ د غوښتني سره سم د رسول الله ﷺ دعاء قبوله سوه، د راوي بيان دئ چي (د دعاء قبلېدو وروسته) رسول الله ﷺ وخندل

تَبَسَّمَ فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنَّ هَذِهِ لَسَاعَةٌ مَا كُنْتَ

يا مسکی سو، حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ: زموږ مور او پلار دي پر تاسو قربان وي دا وخت خو د خندا نه دئ تاسو ولي

تَضْحَكُ فِيهَا فَمَا الَّذِي أَضْحَكَكَ أَضْحَكَ اللَّهُ سِنَّكَ قَالَ إِنَّ عَدُوَّ اللَّهِ إِبْلِيسَ

وخندل؟ الله تعالى دي هميشه تاسو خندېدونکي لري، رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى دښمن ابليس ته

لَمَّا عَلِمَ أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدِ اسْتَجَابَ دُعَائِي وَغَفَرَ لِأُمَّتِي أَخَذَ التُّرَابَ

چي څرګنده سوه چي الله تعالى زما دعاء قبوله کړه او زما امت يې و بخښئ نو هغه پر سر

فَجَعَلَ يَحْثُوهُ عَلَى رَأْسِهِ وَيَدْعُو بِالْوَيْلِ وَالثُّبُورِ فَأَضْحَكَنِي مَا رَأَيْتُ مِنْ جَزَعِهِ. رواه ابن ماجة وروى البيهقي في كتاب البعث والنشور نحوه.

خاوري اچولې په افسوس کولو سره و تښتېدئ ما چي هغه پريشانه او بد حاله وليدئ نو ما ته خندا راغلل. ابن ماجه او بيهقي.

**تخريج**: سنن ابن ماجه ۲\۱۰۰۲، رقم: ۲۰۱۳.

**تشريح**: د دغه حديث د ظاهري مفهوم څخه دا معلومېږي چي امت په عامه بخښنه سره نازول سوی دی چي حقوق الله يې هم و بخښل او حقوق العباد هم، ځکه نو غوره داده چي د حديث په مفهوم کي دا قيد ولګول سي چي د دغه بخښني تعلق د هغه خلکو سره دی چي سږ کال د حج پر موقع د رسول الله ﷺ سره ملګري وه يا دا خبره د هغه سړي په حق کي ده چي د هغه حج مقبول سي په دې توګه چي د هغه په حج کي د فسق او فجور څه خبره نه وي سوې.

او يا دا چي د دغه حديث مفهوم د هغه پر ظاهر باندي محمول دی چي هغه ته د توبې توفيق وکړل سي او هغه په صداقت او اخلاص سره توبه وکړي مګر د حق د بيرته ورکولو څخه عاجز او معذور وي يا دا چي د الله تعالی رحمت چا ته چي وغواړي په خپل لمن کي پټولای سي لکه چي فرمايي: إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء، بېله شکه الله تعالی دا نه معافوي چي د هغه سره څوک شريک کړل سي، مګر د مشرک څخه پرته چا ته چي وغواړي بخښي يې.

شاه ولي الله رحمة الله عليه د رسول الله ﷺ د شفاعت او عامي بخښني په اړه فرمايي چي د رسول الله ﷺ شفاعت به هر مسلمان ته حاصل وي که صالح وي او که ګناه کار او د هغه صورت به دا وي چي الله تعالی د رسول الله ﷺ د شفاعت په وجه په جنت کي د صالح او نيکانو خلکو درجې لوړوي او اکثر ګناه کار به په بخښلو سره په جنت کي داخل کړي، او س پاته سول هغه خلک چي په دوږخ کي دي نو د هغوئ په حق کي به د رسول الله ﷺ د شفاعت اثر دا وي چي د هغوئ په عذاب کي به تخفيف او د عذاب په وخت کي به کمي وکړل سي، همدارنګه د الله تعالی مغفرت او بخښنه به هم انشاء الله هر مسلمان ته حاصل سي که هغه صالح وي او که ګناه کار په دې توګه چي په جنت کي به د صالح او نيکانو درجې د هغه د جزاء او انعام څخه زياتي وي کوم چي د هغه د نيکو اعمالو په وجه مستحق وي او د فاجر او ګناه کار په حق کي به مغفرت دا وي چي يا خو به هغوئ په خپل فضل او کرم سره بېله عذابه په جنت کي داخل کړي او يا د هغوئ د عذاب په سختی کي به کمي وکړل سي دا هم د مغفرت يو ډول دی.

========

# بَابُ الدَّفْعِ مِنْ عَرَفَةَ وَالْمُزْدَلِفَةَ

## د عرفات او مزدلفې څخه ستنېدل

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د عرفات څخه د رسول الله ﷺ تګ

﴿۲۴۸۷﴾: عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سُئِلَ أُسَامَةُ بن زيد كَيْفَ كَانَ

هشام بن عروة د خپل پلار څخه روايت کوي چي د اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيْرُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِيْنَ دَفَعَ قَالَ كَانَ يَسِيْرُ

الْعَنَقَ فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ. متفق عليه

د حجة الوداع څخه عرفات ته د ستنېدو په وخت کي رسول الله ﷺ څنګه تلئ ؟ هغه وويل: رسول الله ﷺ په تيز تګ ولاړئ او کوم ځای چي يې پراخه لاره تر لاسه کړه نو رسول الله ﷺ خپل سپرلی ځغلول. بخاري او مسلم.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۱۸، رقم: ۱۶۶۶، ومسلم ۲\۹۳۶، رقم: ۲۸۳-۱۲۸۶.

**د لغاتو حل**: العَنَقَ: اى السير السريع (تېز تګ). نص: اى سار سيرا اسرع. (تېز تګ).

﴿۲۴۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَرَفَةَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د عرفات په ورځ هغه د رسول الله ﷺ سره ستون سو،

فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ زَجْرًا شَدِيْدًا وَضَرْبًا لِلْإِبِلِ فَأَشَارَ

رسول الله ﷺ تر خپل شا د حيوان په سختۍ سره وهلو او د تيز شړلو شور واوريدئ نو رسول الله ﷺ خپلي غمچيني ته په حرکت ورکولو سره اشاره وکړه

بِسَوْطِهِ إِلَيْهِمْ وَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالْإِيْضَاعِ.

رواه البخاري.

خلک یې مخاطب کړل او ورته وه یې فرمایل: اې خلکو! په آرامه سره ځئ ځغلول کومه نیکي نه ده. بخاري.

**تخريج:** صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۲۳، رقم: ۱۶۷۱.

**د لغاتو حل:** ایضاع: وهو حمل الابل على سرعة السير.

**تشريح:** ځغلول نیکي نه ده: مطلب دادی چې نیکي یوازې د سپرلیو په ځغلولو کې نه سته بلکه د نیکۍ اصل خو د حج د افعالو ادا کول او د ممنوعاتو څخه ځان ساتل دي، خلاصه دا چې نیکیو ته تلوار کول که څه هم ښه کار دی مګر داسې تلوار ښه نه دی چې سړې مکروهاتو ته ورسوي او پر کوم شي چې د ګناه ترتب وي، ددغه مفهوم په رڼا کې په دغه حدیث او مخکني حدیث کې څه تضاد نه سته.

## پر له پسې لبیک ویل

﴿۲۴۸۹﴾: وَعَنْهُ أَنَّ أُسَامَةَ بن زيد كَانَ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چې اسامه بن زید رضي الله عنه د عرفات څخه تر مزدلفې پورې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پر سپرلۍ تر شا ناست وو،

عَرَفَةَ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ إِلَى مِنًى فَكِلَاهُمَا قَالَ لَمْ

بیا د مزدلفې څخه تر منا پورې فضل بن عباس رضي الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر شا ناست وو د دواړو بیان

يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. متفق عليه

دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې سفر کې پر له پسې لبیک وایه تر څو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په جمره عقبه کې رمي وکړه (جمره عقبه یې وویشتل). بخاري او مسلم.

**تخريج:** صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۲۳، رقم: ۱۶۸۶، ومسلم ۲\۹۳۱، رقم: ۲۶۶-۱۲۸۰.

## په مزدلفه کې جمع بين الصلوتين

﴿۲۴۹۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ جَمَعَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِجَمْعٍ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بِإِقَامَةٍ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا وَلَا عَلَى إِثْرِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمنځونه یو ځای وکړل او د هر یوه لپاره یې بیل بیل تکبیر وکړ او د هغو په منځ کي یې سنت نه وکړل او نه یې نفل او نه یې د هغه وروسته څه ولوستل. بخاري.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۲۳، رقم: ۱۶۷۳.

**تشریح**: ددغه لمونځو څخه وروسته د نفل لمانځه کولو چي کومه نفي سوې ده نو د دغه دواړو څخه وروسته د سنت او وتر کولو نفي نه لازمیږي.

په باب قصة حجة الوداع کي د حضرت جابر رضی اللہ عنہ اوږد حدیث تېر سوی دی د هغه ددغه الفاظو (لم یسبح بینهما شیئا) په وضاحت کي ملاعلي قاري رحمة الله علیه لیکلي دي چي په مزدلفه کي رسول الله ﷺ د ماښام او ماخستن لمونځ وکړ او د ماښام او ماخستن سنت او وتر یې هم وکړل، په یوه روایت کي دا هم نقل سوي دي او شیخ عابد سندهي هم د درمختار په حاشیه کي په دې اړه د علماؤ اختلافي قولونو نقل کولو څخه وروسته دا لیکلي دي چي صحیح خبره داده چي رسول الله ﷺ د ماخستن د لمانځه څخه وروسته سنت او وتر وکړل.

﴿۲۴۹۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي ما هیڅکله رسول الله ﷺ لیدلی نه دئ

صَلَّى صَلَاةً اِلاَّ لِمِيقَاتِهَا إِلَّا صَلَاتَيْنِ صَلٰوةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ وَصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيقَاتِهَا. متفق علیه

په ناوخته لمونځ کولو مګر دوه لمنځونه یعني د ماښام او ماخستن لمنځونه رسول الله ﷺ په مزدلفه کي یو ځای وکړل او په دې ورځ یې د سهار لمونځ د عام وخت څخه وړاندي وکړ. بخاري او مسلم

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۳۰، رقم: ۱۶۸۲، ومسلم ۲\۹۳۸، رقم: ۲۹۲-۱۲۸۹.

**تشریح**: دلته یوازي د ماښام او ماخستن د لمونځو ذکر سوی دی چي رسول الله ﷺ په مزدلفه کي د ماښام لمونځ د ماخستن په وخت کي وکړ حالانکه رسول الله ﷺ په عرفات کي د ماپښین او مازدیګر لمونځ هم یو ځای داسي کړي وه چي د مازدیګر لمونځ یې په مخته کولو سره د ماپښین په وخت کي وکړ، دلته دغه دواړه لمونځونه ځکه ذکر سوي نه دي چي هغه د ورځي

وخت وو او ټول پوهېدل چې رسول الله ﷺ د مازديګر لمونځ په مخته کولو سره د ماپښين په وخت کې کړی دی ځکه دد ې په خاصه توګه د ذکر کولو څه ضرورت محسوس نه سو .

د سهار لمونځ يې تر وخت مخکې وکړ: ددې مطلب دادی چې رسول الله ﷺ په هغه ورځ د سهار لمونځ د معمولي وخت يعني رڼا خپرېدو څخه مخکې په تياره کې کړی وو دلته دا مراد نه دی چې رسول الله ﷺ د سهار د وخت څخه مخکې کړی وو ځکه چې د ټولو علماؤ په نزد د سهار لمونځ د صبح صادق څخه مخکې کول جائز نه دی .

## د مزدلفه څخه د ښځو او کوچنيانو مخکې روانول

﴿۲۴۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې زه د هغه خلکو څخه وم چې هغوئ په کمزور کهلو سره رسول الله ﷺ د مزدلفې په شپه تر ټولو وړاندې روان کړي وه . بخاري او مسلم .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۲۶، رقم: ۱۶۷۸، ومسلم ۲\۹۴۱، رقم: ۳۰۱- ۱۲۹۳.

**د لغاتو حل**: ضعفة: اى من النساء والصبيان (ماشومان او ښځې).

**تشريح**: د کمزورو او ضعيفو خلکو څخه مراد ښځې او کوچنيان دي چې رسول الله ﷺ پر لسم د ذي الحجې تر مخه منی ته استولي وه چې په هغوئ کې ابن عباس رضي الله عنهما هم شامل وو او خپله رسول الله ﷺ د لمر ختلو څخه مخکې او د سهار د رڼا خپرېدو وروسته د منی لپاره سپور سو لکه څرنګه چې سنت دي ، رسول الله ﷺ خپل کورنۍ ځکه مخته استولې وه چې د رش په وجه هغوئ ته تکليف نه وي او داسې کول جائز دي .

## د رمي جمار وخت

په يوه روايت کې دي کوم چې مخته را روان دی رسول الله ﷺ هغه خلک مخته استولي وه او هغوئ ته يې وفرمايل چې د جمره عقبه رمي د لمر ختلو څخه وروسته وکړئ ، د امام ابوحنيفة رحمه الله دا مذهب دی چې د جمره عقبه رمي د لسم ذي الحجې په ورځ د لمر ختلو څخه وروسته شروع کيږي مګر په ځينو رواياتو کې نقل سوي دي چې رسول الله ﷺ هغه خلکو ته يوازې دومره ويلي وه چې ولاړ سئ او د جمره عقبه رمي وکړئ ، په ځينو روايتو کې د لمر ختلو قيد نه سته ، امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما په دغه روايت عمل کړی دی ، د دوئ

په نزد د جمره عقبه د رمي وخت د نيمي شپې څخه وروسته شروع کيږي.

**د رمي لپاره ډبري**

(۲۴۹۳): وَ عَنِ الْفَضْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَكَانَ رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي فضل بن عباس رضي الله عنهما چي د رسول الله ﷺ ترشا پر

وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي عَشِيَّةِ عَرَفَةَ وَغَدَاةِ جَمْعٍ لِلنَّاسِ حِينَ دَفَعُوا عَلَيْكُمْ

سپرلۍ سپور وو بيان وکړ چي د عرفات په ماښام او د مزدلفې په سهار چي خلکو سپرلۍ په تيزي سره شړلې او وهلې، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

بِالسَّكِينَةِ وَهُوَ كَافٌّ نَاقَتَهُ حَتَّى دَخَلَ مُحَسِّرًا وَهُوَ مِنْ مِنًى قَالَ عَلَيْكُمْ

ورو نو کرار کرار ځئ، رسول الله ﷺ دغه وخت او ښه تم کړه بيا چي رسول الله ﷺ په وړاندي ولاړ او په وادي محسر کي داخل سو چي په منا کي داخل ده نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

بِحَصَى الْخَذْفِ الَّذِي يُرْمَى بِهِ الْجَمْرَةُ وَقَالَ لَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى الْجَمْرَةَ. رواه مسلم

د دې ځای څخه تاسو ټول کوچني کوچني ډبري پورته کړئ چي جمره په ولو، د فضل بن عباس رضي الله عنهما بيان دئ چي د جمرې تر وېشتلو پوري رسول الله ﷺ پر له پسې لبيک وايه. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\ ۹۳۱، رقم: ۲۶۸- ۱۲۸۲.

**تشريح**: د عرفات په ورځ په ماښام کي رسول الله ﷺ د عرفات د ميدان څخه تر مزدلفې پوري ولاړی نو هغه وخت فضل بن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ سره پر سپرلۍ نه وو البته په راتلونکې ورځ پر لسم د ذي الحجې په سهار کي چي د مزدلفې څخه منی ته روان سو نو هغه وخت فضل رضي الله عنه د رسول الله ﷺ تر شا پر سپرلۍ ناست وو.

خذف په اصل کي په کوچنۍ ډبري (شګي) يا د خرما په مندکي د شهادت په ګوتو کي په ابهنودو سره ويشتلو ته وايي او دلته د خذف څخه مراد دادی چي کوچنۍ کوچنۍ ډبري چي د نخود په اندازه وي د دغه ځای څخه پورته کړي چي د جمار د رمي پر وخت په کار راسي.

په دې باره کي مسئله داده چي د رمي لپاره ډبري د مزدلفې څخه د تلو پر وخت د هغه ځای

ځخه يا چيري چي يې زړه وغواړي واخيستل سي ، مګر د جمرې ځخه دي هغه ډبري نه اخيستل كيږي په كوم چي جمره ويشتل سوې وي ځكه چي دا مكروه دي مګر كه يو څوک د جمرې ځخه ويشتل سوې ډبري واخلي او رمي په وكړي نو دا جائز دي مګر ښه كار نه دى ، شمني رحمه الله د نقايه په شرح كي ليكلي دي چي په دغه ډبرو سره رمي خو كافي كيږي مګر داسي كول بد كار دى ، په دې باره كي د علماؤ اختلاف دى چي څومره ډبري پورته كړل سي ؟ ايا يوازي د هغه ورځي د رمي جمره عقبه لپاره يوازي اووه ډبري پورته كړل سي يا اويا ډبري پورته كړل چي په هغه كي يوازي اووه ډبري د هغه ورځي د جمره عقبه لپاره پكار وي او كه پاته درو شپېته ډبري چي په نورو درو ورځو كي پكار كيږي هم پورته كړل سي .

## د رسول الله ﷺ د وصال اطلاع

(۲۴۹۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَفَاضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَمْعٍ وَّعَلَيْهِ

د حضرت جابر رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مزدلفې ځخه روان سو نو په آرامه تلئ

السَّكِيْنَةُ وَأَمَرَهُمْ بِالسَّكِيْنَةِ وَأَوْضَعَ فِيْ وَادِيْ مُحَسِّرٍ وَّأَمَرَهُمْ أَنْ يَّرْمُوْا

او خلكو ته يې حكم وكړ چي هغوئ هم په آرام او اطمينان سره ولاړ سي او په وادي محسر كي رسول الله ﷺ په تيز تګ سره ولاړئ او خلكو ته يې حكم وركړ چي په كوچنى كوچنى ډبرو سره

بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ وَقَالَ لَعَلِّيْ لاَ أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا. لَمْ أَجِدْ هٰذَا

جمرې وولئ او پر يوه موقع رسول الله ﷺ وفرمايل : كيداى سي راتلونكى كال زه تاسو ونه وينم

الْحَدِيْثَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ إِلاَّ فِيْ جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ مَعَ تَقْدِيْمٍ وَّتَأْخِيْرٍ.

ما دا حديث د جامع ترمذي ځخه پرته په صحيحين (بخاري او مسلم) كي نه وليدئ او هلته هم په څه فرق سره دئ .

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\ ۲۳۴، رقم: ۸۸۶.

**تشريح**: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادى چي دغه كال زما د دنيوي ژوند آخري كال دى په راتلونكي كال كي به د دې دنيا ځخه رخصت سم ځكه تاسو خلک زما ځخه د دين احكام او د حج مسائل زده كړئ په دې وجه دې ته حجة الوداع ويل كيږي چي د دغه حج پر موقع رسول الله ﷺ د دين احكام په پوره توګه خلكو ته ورسول او خپل صحابه كرام يې رخصت او وداع كړل او بيا په

راتلونكي كال يعني ديارلسم هجري كال كي د بيع الاول په مياشت كي رسول الله ﷺ وفات سو.
د صاحب مشكوة د قول مطلب دادی چي صاحب مصابيح دغه حديث په اول فصل كي نقل كړی دی چي د هغه ځخه دا معلوميږي چي دغه حديث د صحيحين يعني بخاري او مسلم دی حالانكه داسي نه ده بلكه دا د ترمذي روايت دی ځكه صاحب د مصابيح ته پكار وه چي هغه دغه روايت د اول فصل پر ځای په دوهم فصل كي نقل كړی وای كه څه هم په دغه صورت كي د تقديم او تاخير اختلاف بيا هم پاته كيدی.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### عرفات ځخه د ستنيدو او د مزدلفي ځخه د روانيدو وخت

﴿۲۴۹۵﴾: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ خَطَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت محمد بن قيس بن مخرمة رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خطبه وفرمايل چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوْا يَدْفَعُوْنَ مِنْ عَرَفَةَ حِيْنَ تَكُوْنُ

د جاهليت په زمانه كي خلكو به د عرفات ځخه هغه وخت روانيدل چي لمر به د خلكو پر سرو

الشَّمْسُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِيْ وُجُوْهِهِمْ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ وَمِنَ الْمُزْدَلِفَةِ

داسي ځرګند سو لكه لنګوټه چي د خلكو پر مخو د دوئ وي يعني د لمر د ډوبيدو ځخه وړاندي او مزدلفي ځخه به هغه وخت روانيدل چي

بَعْدَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ حِيْنَ تَكُوْنُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِيْ وُجُوْهِهِمْ وَإِنَّا لاَ

لمر به دومره پورته سوی وو لكه لنګوټي چي د خلكو پر مخونو دي او موږ به تر هغه وخته پوري د عرفات ځخه نه روانيدو تر څو پوري چي لمر به ډوب نه سو، او موږ به

نَدْفَعُ مِنْ عَرَفَةَ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَنَدْفَعُ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ هَدْيُنَا مُخَالِفٌ لِّهَدْيِ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالشِّرْكِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان وقال فيه خطبنا وساقه نحوه.

د مزدلفې څخه د لمر ختلو وړاندي نه وځو او زموږ طريقه د بت پرستو د طريقې څخه مخالف ده. بيهقي په شعب الايمان کي.

**تخريج**: لم نجده في الشعب.

**تشريح**: مطلب دادی چي د جاهليت په زمانه کي به خلک د عرفات څخه په داسي وخت کي تلل کله چي به لمر نيم ډوب سوی وو او د هغه نيمه برخه به دباندي وه د لمر دغه صورت کي د لنګوټې سره مشابهت ورکړل سوی دی چي د لمر نيمه برخه د لنګوټې په شکل کي وي همدارنګه د مزدلفې څخه به په داسي وخت کي روانېدل کله چي به د لمر نيمه برخه راختلې وه او نيمه به دننه وه.

صاحب د مشکوة ته ددې تحقيق نه وو سوی چي دا روايت چا نقل کړی دی د مشکوة په اصل نسخه کي لفظ د رواه څخه وروسته خالي ځای پرېښودل سوی دی البته د يو بلي صحيح نسخې په حاشيه کي دا ليکل سوي دي چي: رواه البيهقي في شعب الايمان وقال خطبنا وساقه نحوه.

## په شپه کي رمي کول جائز نه دي

﴿۲۴۹۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدَّمَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د مزدلفې په شپه رسول الله ﷺ موږ د

الْمُزْدَلِفَةِ أُغَيْلِمَةَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عَلَى حُمُرَاتٍ فَجَعَلَ يَلْطَخُ أَفْخَاذَنَا وَيَقُولُ

بني عبد المطلب د کورنۍ سره وړاندي ليږلي وو او موږ پر خرو سپاره وه او زموږ د رخصتولو په وخت کي زموږ په ورنو باندي په لاس وهلو سره رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل:

أُبَيْنِيَّ لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ. رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة

زما کوچنيانو بچيانو! جمره تر هغه وخته پوري په ډبرو مه ولئ تر څو پوري چي لمر را ونه خيژي. ابن ماجه، ابوداؤد او نسائي.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۴۸۰، رقم: ۱۹۴۰، والنسائي ۵\ ۲۷۱، رقم: ۳۰۶۴، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۰۰۷، رقم: ۳۰۲۵.

**د لغاتو حل**: يلطخ: ای يضرب. (وهي).

**تشريح**: دا حديث ددې خبري دليل دی چي د شپې رمي جائز نه ده، د امام ابو حنيفة رحمه الله او د اکثر علماؤ دا مذهب دی او د امام شافعي رحمه الله په نزد د نيمي شپې څخه وروسته رمي جائز ده

او د طلوع فجر ځخه وروسته د لمر ختلو ځخه مخکي رمي که څه هم د ټولو علماؤ په نزد جائز ده مګر امام ابو حنيفة رحمه الله په کراهت سره د جواز قائل دی د حنفي مذهب سره سم د لمر ختلو ځخه وروسته رمي مستحب ده.

## د امام شافعي رحمه الله مستدل حديث او د هغه تاويل

﴿۲۴۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُمِّ سَلَمَةَ

د حضرت عائشې رضي الله عنها ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د لوی اختر په شپه بي بي ام سلمه

لَيْلَةَ النَّحْرِ فَرَمَتِ الْجَمْرَةَ قَبْلَ الْفَجْرِ ثُمَّ مَضَتْ فَأَفَاضَتْ وَكَانَ ذٰلِكَ الْيَوْمُ

منا ته ليږلې وه، هغې د سهار مخکي جمره په ډبرو وويشتل بيا ولاړه طواف يې وکړ او دا هغه ورځ ده

الْيَوْمَ الَّذِي يَكُونُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا. رواه ابوداؤد.

چي په هغه کي د رسول الله ﷺ د هغې سره د اوسيدو وار وو. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۴۸۱، رقم: ۱۹۴۲.

**تشريح**: د حديث په آخري الفاظو کي دې ته اشاره ده چي رسول الله ﷺ بي بي ام سلمه رضي الله عنها په هغه شپه منی ته ولي وليږل او هغې د شپې رمي ولي وکړه او د ورځي د طواف افاضه ځخه ولي فارغه سوه حال دا چي نورو بيبيانو په راتلونکي شپه کي طواف افاضه وکړ؟

امام شافعي رحمه الله د فجر ځخه مخکي د رمي جمره د جواز لپاره دا حديث دليل ګرځوي که څه هم افضل د فجر ځخه وروسته دی، د امام شافعي رحمه الله ځخه پرته نور علماء د دغه حديث په باره کي فرمايي چي دغه سهولت او رعايت دی چي يوازي بي بي ام سلمه ته ورکړل سوی وو د ... رو لپاره د ابن عباس رضي الله عنه د ذکر سوي روايت سره سم رمي جائز نه ده او دا هم ممکن ده چي ... لته د فجر ځخه مراد د سهار لمونځ وي چي بي بي ام سلمه د سهار د لمانځه ځخه مخکي د لمر ختلو ځخه وروسته رمي وکړه.

## په عمره کي تلبيه کله موقوف کړل سي

﴿۲۴۹۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ يُلَبِّي الْمُقِيمُ اَوِ الْمُعْتَمِرُ حَتّٰى يَسْتَلِمَ الْحَجَرَ. رواه ابوداؤد و قال و روي موقوفا على ابن عباس.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي مقیم یعني په مکه کي او سیدونکی او عمره کونکی دي تر هغه وخته پوري لبیک وایي تر. څو پوري چي حجر اسود مچ نه کړي . ابوداؤد .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۴۰۶، رقم: ۱۸۱۷.

**تشريح**: د مقیم څخه مراد د مکي مکرمې او سیدونکي دي چي عمره وکړي او د عمره کونکي څخه غیر مکي مراد دي چي د عمرې لپاره مکې ته راغلي وي نو په دغه جمله : یلبي المقیم والمعتمر، کي حرف د او د تنویع لپاره دی .

د حدیث خلاصه داده چي څرنګه په حج کي د جمره عقبه پر رمي باندي تلبیه موقوف کوي همدارنګه په عمره کي د حجر اسود په مچولو سره تلبیه موقوف کیږي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د رسول الله ﷺ د عرفات او مزدلفې په مینځ کي تلل

﴿۲۴۹۹﴾: عَنْ يَّعْقُوْبَ بْنَ عَاصِمِ بْنِ عُرْوَةَ أَنَّهُ سَمِعَ الشَّرِيْدَ يَقُوْلُ أَفَضْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَمَا مَسَّتْ قَدَمَاهُ الْأَرْضَ حَتّٰى أَتٰى جَمْعًا . رواه أبو داود

د حضرت یعقوب بن عاصم بن عروة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د شرید رضي الله عنه څخه دا هم اوریدلي دي چي زه (د عرفات څخه) د رسول الله ﷺ سره راغلم ، د رسول الله ﷺ قدم پر مځکه نه وو لګیدلي تر څو چي مزدلفې ته ورسیدو . ابوداؤد .(یعني سپور راغلی وو خو اودس تازه کولو ته کښته سوی وو) .

**تخريج**: لم نجده عند ابي داود.

**د لغاتو حل**: جمعا : اى مزدلفة.

**تشريح**: ددغه روایت مقصد دا څرګندول دي چي رسول الله ﷺ د عرفات څخه تر مزدلفې پوري ټوله لار پر سپرلۍ قطع کړل او پر پښو نه ولاړی، ددې مطلب دا نه دی چي رسول الله ﷺ په ټوله لار کي پر مځکه قدم کښېښودی بلکه په صحیح بخاري کي منقول دي چي د عرفات څخه د ستنېدو پر موقع په لاره کي رسول الله ﷺ د سپرلۍ څخه په کښته کېدو سره د غره یوې درې ته تشریف یوور هلته یې اودس مات کړ او بیا یې اودس وکړ ددې په لېدو سره حضرت اسامه رضي الله عنه عرض وکړ چي اې د الله رسوله ! ایا د لمانځه وخت راغلی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چي د لمانځه وخت خو مخته راځي ، یعني لمونځ به په مزدلفه کي کوو .

## په عرفات کي جمع بين الصلوتين

﴿۲۵۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمٌ أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ يُوسُفَ عَامَ

د حضرت ابن شهاب رحمه الله څخه روايت دئ چي سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ما ته بيان وکړ چي حجاج بن يوسف په کوم کال چي

نَزَلَ بِابْنِ الزُّبَيْرِ سَأَلَ عَبْدَ اللّٰهِ كَيْفَ تَصْنَعُ فِي الْمَوْقِفِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَقَالَ

عبدالله بن زبير قتل کړ په هغه کال يې عبدالله بن عمر څخه پوښتنه وکړه چي په عرفات کي د درېدو په ورځ موږ څه وکړو؟ سالم بن عبدالله جواب ورکړ

سَالِمٌ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ فَهَجِّرْ بِالصَّلَاةِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ

که ته پر سنت عمل کول غواړې نو د عرفات په ورځ د ماپښين او مازديګر لمونځ وختي وکړه، عبدالله بن عمر وويل:

عُمَرَ صَدَقَ إِنَّهُمْ كَانُوا يَجْمَعُونَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي السُّنَّةِ فَقُلْتُ لِسَالِمٍ

سالم رښتيا وويل، صحابه کرامو به د سنت طريقه ادا کولو لپاره د ماپښين او مازديګر لمنځونه يو ځای کول، ابن شهاب وايي ما سالم ته وويل

أَفَعَلَ ذٰلِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَالِمٌ وَهَلْ يَتبعُونَ فِي ذٰلِكَ إِلَّا سُنَّتَهُ. رواه البخاري.

ايا رسول الله ﷺ به همداسي کول؟ سالم وويل: په دې اړه موږ د رسول الله ﷺ د سنت پيروي کوو. بخاري.

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۸۰۴، رقم: ۱۶۶۲.

**تشريح**: کوم څوک چي د اسلامي تاريخ څخه لږ هم خبر وي نو هغه به د حجاج بن يوسف د نامه څخه ښه خبر وي دا يو د ظلم او بربريت په قصو کي د خپل يو لوی وحشتناک قصې حامل دی.

حجاج بن يوسف چي د هغه نوم ظالم ګرځيدلی دی، ويل کيږي چي هغه يو لک شل زره کسان په ترلو سره قتل کړي دي. د عبدالملک ابن مروان له لوري دغه ظالم په مکه کي پر

حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه باندي حمله کړې وه او دغه جليل القدر صحابي يې په دار کړی وو.

د دغه واقعې څخه وروسته عبدالملک ابن مروان دغه ظالم د حاجيانو امير ټاکلی وو او هغه ته يې حکم وکړ چي په ټولو افعالو کي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه د افعالو او اقوالو پیروي کوه د هغه څخه د حج د مسائلو پوښتنه کوه او په هيڅ معامله کي د هغه مخالفت مه کوه نو حجاج هغه وخت د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه مذکوره مسئله وپوښتل.

==========

## بَابُ رَمْيِ الْجِمَارِ (په منی کي د وېشتلو بيان)

جمار په اصل کي شګو او ډبرو ته وايي، او جمار حج د هغه ډبرو نوم دی کوم چي منارې په ويشتل کيږي او پر کومو منارو باندي چي ډبري ويشتل کيږي هغه ته د جمار په مناسبت سره جمرات وايي.

جمرات يعني هغه منارې چي هغه په ډبرو ويشتل کيږي درې داني دي: جمره اولی، جمره وسطی، جمره عقبه، دغه درې سره جمرات په منی کي واقع دي او د بقر عيد (لوی اختر) يعني د ذي الحجې په لسم يوازي جمره عقبه په ډبرو ويشتل کيږي او بيا په يوولسم، دوولسم او ديارلسم باندي درې سره جمرات په ډبرو ويشتل واجب دي.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### رمي پر سپرلۍ باندي هم جائز ده

﴿۲۵۰۱﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرباني په ورځ پر خپل اوښه سپور په

يَوْمَ النَّحْرِ وَيَقُولُ لِتَأْخُذُوا مَنَاسِكَكُمْ فَإِنِّي لَا أَدْرِي لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِي هَذِهِ. رواه مسلم

رمي کولو وليدئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم به رمي کول او فرمايل به يې د حج ارکان او افعال زده کړئ ځکه چي ما ته نه ده څرګنده کيدای سي د دې حج وروسته زه بل حج ونکړم. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۱۲/۹۴۲، رقم: ۳۱۰ - ۱۲۹۷.

**تشريح:** حضرت امام شافعي رحمه الله فرمايي کوم شخص چي منی ته پياده ورسيږي نو هغه دي پياده جمره عقبه په ډبرو ولي او وروسته بيا په يولسم او دوولسم تاريخ درې سره جمرات پياده وولي او په ديارلسم تاريخ دي په سپرېدو سره رمي وکړي.

د فقهي حنفي په مشهور کتاب هدايه کي ليکلي دي چي د کومي رمي څخه وروسته دوهمه رمي ده لکه د جمره اولی او جمره وسطی رمي نو دغه رمي پر پښو کول غوره دي ځکه چي ددغه رمي کولو څخه وروسته وقوف کول، درود او دعاء وغيره ويل دي او په داسي صورت کي د پښو حالت د عاجزۍ او تصرع په لحاظ غوره دی.

او کوم چي د رسول الله ﷺ د عمل تعلق دی او په صحيح حديثو کي منقول دي نو د هغه خلاصه او حاصل دادی چي رسول الله ﷺ د نحر په ورځ د جمره عقبه رمي پر سپرلۍ کړې ده او پاته دوارې رمي يې پر پښو باندي کړي دي.

## د ډبرو شمېر او د وېشتلو طريقه

﴿۲۵۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ په کوچنۍ کوچنۍ ډبرو ويشتلو ليدلی دئ. مسلم.

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۲\۹۴۴، رقم: ۳۱۳-۱۲۹۹.

**تشريح:** د منارو په ډبرو ويشتلو د طريقې څو ډولونه منقول دي مگر صحيح او اسانه طريقه داده چي ډبري د شهادت په گوته او په بټې گوتي نيولو سره وويشتل سي او اوس هم داسي معمول دی.

## د رمي جمار وخت

﴿۲۵۰۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ رَمٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى وَّأَمَّا بَعْدَ ذٰلِكَ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ. متفق عليه

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د قربانۍ په ورځ د څاښت په وخت کي او تر هغه وروسته په زوال سوي وخت کي رسول الله ﷺ جمره په ډبرو وويشتل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: اخرجه البخاري تعلیقا في الصحیح (فتح الباري) ۳\۵۷۹، ومسلم في الصحیح ۱۲\۹۴۵، رقم: ۱۷۴۷.

**تشریح**: ضحوه د ورځي هغه برخي ته وایي چي د لمر ختو څخه وروسته د لمر زوال کېدو مخکي پوري وي، د وروسته ورځي څخه مراد ایام تشریق یعني دوولسم تاریخونه دي په دغه ورځو کي رسول الله ﷺ د لمر د زوال څخه وروسته رمي وکړل.

ابن همام رحمه الله فرمایي چي ددغه حدیث څخه دا معلومه سوه چي دوهمه ورځ یعني په یوولسم تاریخ د رمي جمار وخت د لمر د زوال څخه وروسته وي همدارنګه په دریمه ورځ یعني په دوولسم تاریخ هم د رمي وخت زوال څخه وروسته وي، اوس ددې څخه وروسته که یو څوک مکې ته تلل غواړي نو هغه پر دیارلسم تاریخ د سهار د لمانځه څخه مخکي تللای سي او که د صبح صادق څخه وروسته مکي ته تلل غواړي نو بیا پر هغه باندي د هغه ورځ رمي جمار واجبیږي اوس د هغه لپاره د رمي جمار څخه پرته مکې ته تلل صحیح نه دي، هو په هغه ورځ یعني په دیارلسم تاریخ د لمر د زوال څخه مخکي هم رمي جمار جائز دی.

دلته په دغه مسئله هم پوه سئ که یو څوک رمي ونه کړي بلکه پر هغه ډبري واچوي نو دا کافي دی مګر دا سي کول ناخوښه کار دی په خلاف د منارو چي په هغوئ باندي د ډبرو یوازي اېښودل کافي نه دي.

## د رمي پر وخت تکبیر

﴿۲۵۰۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ انْتَهٰى إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى فَجَعَلَ

د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه جمره عقبه ته ورسیدئ او بیت الله

الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ وَرَمٰى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ

یې چپه لوري ته کړل او منا یې راسته لوري ته او اووه واره یې ویشتل وکړه، په هر وار سره یې

ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا رَمٰى الَّذِيْ أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ. متفق علیه

الله اکبر ووایه او بیا خلکو ته یې وویل هغه سړی چي سورة بقرة پر نازل سو همداسي ویشتل کړي دي. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في (۴) مواضع من الصحیح (فتح الباري) ۳\۵۸۰، رقم: ۱۷۴۷، ومسلم في الصحیح ۱۲\۹۴۲، رقم: ۳۰۵-۳۰۹، ۱۲۹۶.

**تشریح**: ابن مسعود رضي الله عنه پر جمره عقبه باندي داسي ودريدی چي کعبه شريفه د هغه چپه خوا ته وه او منى يې راسته خوا ته مګر پر دوهم رمي جمره باندي داسي دريدل مستحب دي چي مخ يې قبلې ته وي.

په رمي کي اووه ډبري ويشتل کيږي او د هري ډبري ويشتلو پر وخت تکبير ويل کيږي، د بيهقي د روايت سره سم رسول الله ﷺ د هري ډبري سره داسي تکبير وايه: الله اکبر الله اکبر اللهم اجعله حجا مبرورا وذنبا مغفورا و عملا مشکورا.

هسي خو ټول قرآن کريم پر رسول الله ﷺ نازل سوی دی مګر دلته په خاصه توګه د سورة بقره ذکر دی دا په دې مناسبت سره دی چي په دغه سورة د حج احکام او افعال مذکور دي.

## اووه ډبري ويشتل واجب دي

﴿۲۵۰۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الِاسْتِجْمَارُ تَوٌّ وَرَمْيُ الْجِمَارِ تَوٌّ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَوٌّ وَالطَّوَافُ تَوٌّ وَإِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: استنجاء طاق ده (يعني د استنجاء لپاره لوټي وغيره طاق اخيستل پکار دي) او د جمرو ويشتل هم طاق دي او د صفا او مروه په منځ کي ځغستل هم طاق دي او طواف کول هم طاق دي او کله چي په تاسو کي يو څوک د اګربتۍ وغيره لوږي اخلي نو طاق دي يې اخلي. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۱۲\۹۴۵، رقم: ۲۱۵-۱۲۰۰.

**د لغاتو حل**: تو: فرد. (طاق)

**تشريح**: پر منارو باندي اووه ډبري ويشتل واجب دي همدارنګه د صفا او مروه په مينځ کي اووه واره سعي کول واجب دي او د جمهورو علماؤ په نزد د يوه طواف لپاره د کعبې شريفې چاپيره اووه چکره لګول فرض دي او د حنفيه په نزد څلور چکرونه فرض دي او پاته واجب دي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### پر سپرلۍ باندي رمي

﴿۲۵۰۶﴾: عَنْ قُدَامَةَ ابْنِ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمَّارٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت قدامة بن عبد الله بن عمار رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د قرباني په ورځ ما رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجِمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ عَلَى نَاقَةٍ صَهْبَاءَ لَيْسَ ضَرْبٌ وَلَا طَرْدٌ

پر صهباء اوښي باندي سپور په ډبرو ويشتلو باندي وليدئ نه خو هلته وهل وه ، نه شړل

وَلَيْسَ قِيْلَ إِلَيْكَ إِلَيْكَ. رواه الشافعي والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي

او نه آخوا سئ ځان وساتئ . شافعي، ترمذي، نسائي ، ابن ماجه او دارمي .

**تخريج**: الشافعي في الام ۲\ ۲۱۳، والترمذي في السنن ۳\ ۲۴۷، رقم: ۹۰۳، والنسائي ۵\ ۲۷۰، رقم: ۳۰۶۱، وابن ماجه ۲\ ۱۰۰۹، رقم: ۳۰۳۵، والدارمي ۲\ ۸۷، رقم: ۱۹۰۱.

**د لغاتو حل**: طرد: الدفع (شړل).

**تشريح**: صهباء هغه اوښي ته وايي چي د هغې رنګ سپين او سرخي لرونکي وي په دې توګه چي د هغه د وړېښتانو څوکي سرې وي او لاندي سپين وي .

د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي څرنګه اميران او پاچاهان د سپرلۍ مخکي د چوکيدار د لاري په انتظام او اهتمام کولو سره ځي د رسول الله ﷺ د سپرلۍ مخکي داسي څه انتظام او اهتمام نه وو .

### سعي او رمي د الله ﷻ د ذکر ذريعه ده

﴿۲۵۰۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ رَمْيُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جمرو ويشتل کول

الْجِمَارِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللّٰهِ . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

او د صفا او مروه په منځ کي ځغستل د الله د ذکر لپاره تاکل سوي دي . ترمذي او دارمي .

ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۲۴۶، رقم: ۹۰۲، والدارمي ۲\۷۱، رقم: ۱۸۵۳.

**تشريح**: په ظاهري توګه دا فعل داسي دی چي ددغه عبادت کولو څخه معلوميږي ځکه يې وفرمايل چي دغه دواړه فعلونه د الله تعالی د ذکر قائمولو لپاره ټاکل سوي دي دا معلومه ده چي د هري ډبري ويشتلو پر وخت تکبير ويل سنت دي او د سعي په دوران کي هغه دعاوي ويل سنت دي کوم چي مخکي يې ذکر سوی دی.

## په منی کي ځای مه ټاکی

﴿۲۵۰۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا نَبْنِي لَكَ بَيْتًا يُظِلُّكَ بِمِنًى قَالَ لَا مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ. رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي موږ رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي اې د الله رسوله ايا ستاسو لپاره په منا کي يو سايه لرونکی ځای جوړ کړو، رسول الله ﷺ وفرمايل: يا، منا د هغه چا د ناستي ځای دئ څوک چي لومړی ورسيږي. ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۲۲۸، رقم: ۸۸۱، وابن ماجه في السنن ۲\۱۰۰، رقم: ۳۰۰۶، والدارمي ۲\۱۰۰، رقم: ۱۹۳۷.

**تشريح**: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي منی ته په رسيدو کي په مخته والي سره د خاص ځای جوړولو يا ټاکلو سره نه وي يعني منی داسي ځای دی چي هلته د چا لپاره خصوصيت نه سته او نه هلته د چا لپاره يو ځای متعين دی بلکه هلته چي کوم سړی کوم ځای ته ورسيږي هغه د هغه ځای مستحق دی.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

## پر جمرات باندي وقوف

﴿۲۵۰۹﴾: وَعَنْ نَّافِعٍ قَالَ إِنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقِفُ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ

د حضرت نافع رحمه الله څخه روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنه به په جمره اولی او جمره وسط باندي تر

وُقُوفًا طَوِيلًا يُكَبِّرُ اللهَ وَيُسَبِّحُهُ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُو اللهَ وَلَا يَقِفُ عِنْدَ جَمْرَةِ

الْعَقَبَةِ . رواه مالك .

ډیره وخته پوري دریدی او الله اکبر، سبحان الله او الحمد لله به یې ویل، بیا به یې د الله تعالی څخه دعاء غوښتل او جمره عقبه سره به نه دریدی. مالک .

**تخريج**: الامام مالک في الموطا ۱\۴۰۷، رقم: ۲۱۲.

**تشريح**: د اولو دوو منارو څخه مراد جمرهٔ اولی او جمره وسطی دي ، ابن عمر رضي الله عنه چي کله د دغه دواړو جمرو رمي وکړه نو هلته به دریدو سره په رمي وغیره کي بوخت سو د دغه جمرات سره وقوف کول او د وقوف په دوران کي دعاء او زاري وغیره کي بوخت کېدل سنت دي د وقوف د وخت په باره کي علماؤ لیکلي دي چي پر دغه جمراتو باندي تر دومره وخته پوري دریدل پکار دي په څومره وخت کي چي سورة بقرة ویل کیږي د ځینو اهل الله په باره کي دا منقول دي چي هغوئ به د دغه جمراتو سره دومره دریدل چي پښې به یې و پړسیدلې .

او د جمره عقبی سره به نه دریدی، ددې مطلب دادی چي د جمره عقبی د رمي څخه وروسته د دعاء لپاره پر هغه جمره نه خو د قربانۍ په ورځ دریدی او نه به یې په نورو ورځو کي وقوف کوی مګر ددې څخه د دعاء بالکل پرېښودل نه لازمیږي ، په باب النحر کي به هغه روایت راسي چي په هغه کي ابن عمر رضي الله عنه دا روایت کړی دی چي ما رسول الله ﷺ په داسي کولو سره لیدلی دی.

========

# بَابُ الْهَـــدْيِ (د قربانۍ بیان)

هَدي د ها په زور او د دال په سکون سره هغه حیوان ته ویل کیږي کوم چي په حرم کي د ثواب لپاره ذبح کیږي که هغه پسه، مېږه، بزه، غوا، ګاېښه، غویی او که اوښ وي او د عمر وغیر کوم شرطونه چي د قربانۍ په نورو حیوانو کي وي هغه په هدي کي هم وي ، پسه او دا ډول نور حیوانان لکه د پسه او مېږي قرباني خو پر دغه موقع باندي جائز ده مګر که څوک د جنابت یا حیض په حالت کي طواف زیارت وکړي یا یو څوک د عرفات د وقوف څخه وروسته د سر خریلو څخه مخکي جماع وکړي نو په دغه صورت کي د کفارې او د قربانۍ د جزاء په توګه د پسه ذبح کول کافي نه دي بلکه د اوښ یا غویي قرباني کول پکار دي .

د هدي دوه ډولونه دي :۱- واجب،۲: تطوع یعني نفل، بیا د واجب هدي څو ډولونه دي : هدي قران، هدي تمتع، هدي جنایات، هدي نذر او هدي احصار .

د هدي د تسميې وجه داده چي بنده د الله تعالى په دربار كي د هغه حيوان د قرباني هديه استوي او د هغه په ذريعه د الله تعالى قربت تر لاسه كوي د دغه مناسبت په وجه هغه حيوان ته هدي وايي.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د اشعار او تقليد مسئله

﴿۲۵۱۰﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په ذوالحليفة كي لمونځ وكړ بيا يې

بِذِي الْحُلَيْفَةِ ثُمَّ دَعَا بِنَاقَتِهِ فَأَشْعَرَهَا فِي صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ وَسَلَتَ

د خپلي قرباني اوښه را وغوښتل او د هغې قب يې د راسته لوري پر غاړه زخمي كړ د هغې وينه

الدَّمَ وَقَلَّدَهَا نَعْلَيْنِ ثُمَّ رَكِبَ رَاحِلَتَهُ فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالْحَجِّ. رواه مسلم.

يې وچه كړه او او په غاړه كي يې دوې چپلۍ ور واچولې بيا د خپل سپرلۍ پر اوښه چي د هغې نوم قصواء وه سپور سو بيا چي كله اوښه بيداء ته ورسيدل نو رسول الله ﷺ د حج احرام وتړی او لبيک يې وو ايه. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۱۲، رقم: ۲۰۵- ۱۲۴۳.

**د لغاتو حل**: سلت: اى مسح واماط (ومو بنل).

**تشريح**: مخكي په دې پوهېدل پكار دي چي اشعار او تقليد څه ته وايي په حج كي چي كوم حيوان يو ځوک د ځان سره بيايي او هغه اړخ زخمي كوي نو دې ته اشعار وايي او د هغه حيوان په غاړه كي د څپليو يا هډوكو وغيره هار اچوي نو هغه ته تقليد ويل كيږي او ددغه دواړو مقصد دادی چي دا د هدي حيوان دی.

رسول الله ﷺ چي د حج لپاره روان سو او ذوالحليفه ته چي د اهل مدينې ميقات دی ورسيدی نو د لمانځه كولو څخه وروسته يې هغه اوښه را وغوښتل كومه چي رسول الله ﷺ د هدي په توګه د ځان سره بيولې وه مخكي رسول الله ﷺ د هغه د قب (بوک) راسته خوا په نېزه

وهل کله چي د هغه څخه وينه و بهېدل او هغه وچه سول او بيا د هغه په غاړه کي يې د دوو څپليو هار واچوی همدا رنګه رسول الله ﷺ دغه نښه و ټاکل چي دا د هدي حيوان دی چي خلک دغه نښي او علامې په ذريعه دا وپېژني چي دا هدي ده نو څوک به کار نه په لري چي غله وغيره يې غلا نه کړي او که ددغه حيوان څخه لار ورکه سي نو خلک به يې هغه ځای ته ورسوي ، د جاهليت په زمانه کي د خلکو دا طريقه وه چي په کوم حيوان کي به يې داسي يو نښه ونه ليدل نو هغه به يې غلا کوی او پر کوم حيوان چي به دغه نښه وه نو هغه به يې پرهېښودی نو شارع اسلام هم دا طريقه د پورتني مقصد لپاره جائز وګرځول.

اوس په دې اړه فقهي مسئلې ته راسئ ، جمهور امامان پر دې خبره متفق دي چي اشعار يعني حيوان داسي زخمي کول سنت دي مګر جثم يعني په پسه ، مېږه او بزې کي اشعار ترک کول پکار دي ځکه چي دغه حيوانان کمزوري وي ددغه حيوانانو لپاره يوازي تقليد يعني په غاړه کي هار اچول کافي دي، د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد تقليد مستحب دی مګر اشعار مطلق مکروه دی که د پسه او مېږي وي او که د اوښ وغيره وي ، علماء د امام ابو حنيفة رحمه الله ددغه خبرې تاويل داسي کوي چي امام صاحب په مطلق توګه باندي د اشعار د کراهت قائل نه وو بلکه هغه يوازي د خپل زمانې لپاره اشعار مکروه ګرځولی وو ځکه چي هغه وخت خلک ددغه مقصد لپاره هدي ډېره زياته زخمي کول چي په هغه سره به د خم شدت پيدا کيدی.

ددغه حديث څخه دا معلومېږي چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ د ذوالحليفه په مسجد کي وکړ او د باب صلاة السفر په اول حديث کي چي بخاري او مسلم روايت کړی دی دا خبره په واضحه توګه ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په مدينه کي کړی وو مګر ابن عباس رضي الله عنه به په مدينه کي د ماپښين لمونځ د رسول الله ﷺ سره نه وي کړی ځکه هغه چي رسول الله ﷺ په ذوالحليفه کي پر لمانځه کولو وليدی نو دا ګمان يې وکړ چي رسول الله ﷺ دلته د ماپښين لمونځ کوي ځکه هغه دلته دا بيان وکړ چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په ذوالحليفه کي وکړ.

اهل بالحج (رسول الله ﷺ د حج لپاره لبيک ووايه): ددې څخه دا ګڼل نه دي پکار چي رسول الله ﷺ واقعتا يوازي د حج لپاره لبيک ووايه بلکه دا مفهوم مراد واخلئ چي رسول الله ﷺ د حج او عمرې دواړو لپاره لبيک ووايه ځکه په صحيحين کي د حضرت انس رضي الله عنه څخه منقول دي ، روايت دا خبره بالکل واضح کړې ده چي ما د رسول الله ﷺ څخه د حج او عمرې لپاره لبيک ويل اوريدلي دي ، دلته راوي د عمرې ذکر ځکه ونه کړ چي اصل شی خو حج دی

ځکه يوازي ددې په ذکر کولو يې اکتفاء وکړه يا دا چې رسول الله ﷺ د دواړو لپاره لبيک وو ايه نو راوي يوازي حج واوريدی او د عمرې ذکر يې نه واوريدی.

﴿۲۵۱۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَهْدَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً إِلَى الْبَيْتِ غَنَمًا فَقَلَّدَهَا. متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې يو وار رسول الله ﷺ د قربانۍ لپاره بيت الله شريفې ته پسونه وليږل او د هغو په غاړه کې يې اميل واچوئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۵۴۷، رقم: ۱۷۰۱، ومسلم ۲\۹۵۸، رقم: ۳۶۷-۱۳۲۱.

**تشريح**: علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چې د ټولو علماؤ پر دې اتفاق دی چې په پسو کې اشعار يعنې د هغو زخمي کول مشروع نه دي البته په هغو کې تقليد يعنې د هغو په غاړه کې هار اچول سنت دي مګر په دې باره کې د امام مالک رحمة الله عليه اختلافي قول دی.

**د بل چا له خوا قرباني**

﴿۲۵۱۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَائِشَةَ بَقَرَةً يَوْمَ النَّحْرِ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د قربانۍ په ورځ رسول الله ﷺ د بي بي عائشې د لوري يوه غوا قرباني کړه. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۵۶، رقم: ۳۵۶-۱۳۱۹.

﴿۲۵۱۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ بَقَرَةً فِيْ حَجَّتِهِ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو له لوري يوه غوا قرباني کړه. مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح: ۳۵۷-۱۳۱۹.

**تشريح**: علماء ليکي چې دغه دواړه حديثونه پر دې محمول دي چې رسول الله ﷺ به د خپلو

بيبيانو په اجازه سره قرباني کړې وي ځکه د بل چا پر ځای د هغه د اجازې څخه پرته قرباني جائز نه ده .
د امامانو په نزد مشهوره مسئله داده چې په يوه غوا کې د اوو کسانو له طرفه قرباني جائز ده مګر د امام مالک رحمه الله قول دادی چې د يوې غوا او يوه پسه وغيره قرباني کول د ټولې کورنۍ لپاره کافي دي نو دغه حديث د امام مالک رحمه الله د دغه قول دليل کيدای سي په شرط دې چې رسول الله ﷺ د اوو څخه د زياتو له طرفه يوه قرباني کړې وي او د نورو امامانو په نزد دا حديث پر دې محمول دی چې رسول الله ﷺ د يوې غوا قرباني يوازې د اوو کسانو له طرفه کړې وه .

## خپله حج ته ولاړ نه سي او د تحفې استولو مسئله

﴿۲۵۱۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَتَلْتُ قَلَائِدَ بُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ ثُمَّ قَلَّدَهَا وَأَشْعَرَهَا وَأَهْدَاهَا فَمَا حَرُمَ عَلَيْهِ كَانَ أُحِلَّ لَهُ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ د قربانۍ د حيوان د اميلونو رسۍ ما په خپل لاسو سره و اوبدل ، بيا رسول الله ﷺ اميلونه د هغو په غاړه کې واچول د هغو قبونه يې زخمي کړل او د قربانۍ حيوانان جوړولو سره يې مکې ته وليږل او پر رسول الله ﷺ د هغه حيوانانو په ليږلو سره هيڅ حلال شی حرام نه سو . بخاري او مسلم .

**تخريج**: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۵۴۲، رقم: ۱۶۹۶، ومسلم في الصحيح ۲\ ۹۵۷، رقم: ۳۶۲– ۱۳۲۱.

**تشريح**: د حديث د آخري جملې مطلب دادی چې د دغه حيوانانو د هدي په توګه ليږلو په وجه پر رسول الله ﷺ باندې د احرام احکام جاري نه سول چې د احرام په حالت کې کوم شيان حرام کيږي هغه پر رسول الله ﷺ حرام سوي وي ، دا خبره بي بي عائشې رضي الله عنها ځکه وکړه چې هغې د ابن عباس رضي الله عنه په باره کې اوريدلي وه چې هغه دا وايي چې کوم څوک حج ته ولاړ نه سي او د خپل طرف څخه هدي مکې ته وليږي نو پر هغه ټول شيان کوم چې پر محرم باندې حرام کيږي تر هغه وخته پورې حرام دي تر څو چې د هغه هدي حرم ته ونه رسيږي او ذبح نه سي نو بي بي عائشې رضي الله عنها د دغه حديث په بيانولو سره د ابن عباس رضي الله عنه د دغه قول ترديد وکړ .

﴿۲۵۱۵﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ فَتَلْتُ قَلَائِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِي ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي. متفق عليه

حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما د امیلونو رسۍ په هغه رنګینه وړۍ سره و وبدل کومه چي زما سره وه، بیا رسول الله ﷺ هغه زما پلار ته ولیږل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري)، ۳\۵۴۸، رقم: ۱۷۰۵، ومسلم ۲\۹۵۸، رقم: ۳۶۴ - ۱۳۲۱.

**د لغاتو حل**: العهن: الصوف: (وړۍ).

## د قرباني پر حیوان سپرتیا

﴿۲۵۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ رَأَى رَجُلاً يَسُوقُ بَدَنَةً فَقَالَ ارْكَبْهَا فَقَالَ إِنَّهَا بَدَنَةٌ قَالَ ارْكَبْهَا وَيْلَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوِ الثَّالِثَةِ. متفق علیه.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ یو سړی ولیدئ چي د خپل قرباني حیوان یې شړئ او ورسره روان وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: پر دې سپور سه هغه عرض وکړ دا د قرباني حیوان دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: سپور سه، هغه بیا همداسي وویل د قرباني حیوان دئ، رسول الله ﷺ بیا ورته وفرمایل: سپور سه پر تا افسوس دئ دا الفاظ یې دوه یا درې واره وفرمایل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۵۳۶، رقم: ۱۶۸۹، ومسلم ۲\۹۶۰، رقم: ۳۷۱ - ۱۳۲۲.

﴿۲۵۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ سُئِلَ عَنْ رُكُوبِ

د حضرت ابو الزبیر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه واوریدل چي د هغه څخه د قرباني پر حیوان د سپریدو په اړه وپوښتل سوه

الْهَدْيِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا. رواه مسلم.

هغه ورته وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي په ښه طریقه سره سپور سه کله چي ته په سپریدو مجبور یې تر څو چي تا ته بله سپرلۍ تر لاسه سي. مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۹۶۱، رقم: ۳۷۵\۱۳۲۴.

**تشریح:** په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی چې ایا پر هدي باندې سپرېدل جائز دي که یا؟ ځيني حضرات وايي که د سپرېدو په صورت کې هدي ته يو تاوان نه رسيږي نو پر هغه سپرېدل جائز دي مګر د حنفيه په نزد دا مسئله ده که چيري ضرورت او مجبوري وي نو پر هدي باندې سپرېدلای سي او که نه نو نه سي سپريدای، نو په کومو روايتو کې چې پر هدي باندې د سپرېدو په مطلق توګه سره جواز تر لاسه کيږي هغه روايتونه يوازي د ضرورت او مجبورۍ پر حالت محمول دي.

## په لاره کې د قريب الموت کېدو والا هديه

﴿۲۵۱۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسِتَّ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ شپاړلس

عَشْرَةَ بَدَنَةً مَعَ رَجُلٍ وَأَمَّرَهُ فِيهَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا أُبْدِعَ

اوښان د يو سړي سره مکې ته وليږل او د هغه اوښانو يې ساتونکی و ټاکئ، هغه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه که په دې اوښانو کې يو اوښ د يو ناروغۍ يا ستړيا له کبله نه سي تلای نو څه ورسره وکړم؟

عَلَيَّ مِنْهَا قَالَ انْحَرْهَا ثُمَّ اصْبُغْ نَعْلَيْهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ اجْعَلْهُ عَلَى صَفْحَتِهَا وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه حلال کړه او د هغه په وينه کې هغه څپلۍ چې د هغه په غاړه کې پرتې دي ډوبې کړه او د هغه پر قوب نښه وکړه او د هغه غوښه مه ته خوره او نه دې ستا ملګري خوري. مسلم

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۲\۹۶۲، رقم: ۳۷۷- ۱۳۲۵.

**تشريح:** د څپلۍ په وينو رنګ کولو سره د اوښ پر قُب (بوک) باندې د نښې کولو لپاره رسول الله ﷺ ځکه وفرمايل چې پر لاره باندې تلونکي کسان په دې پوه سي چې دا هديه ده او ددې غوښه دې فقيران او مسکينان وخوري او شتمن خلک دې د هغه څخه پرهيز وکړي ځکه چې ددې غوښه خوړل پر شتمنو حرام دي.

په پای کې رسول الله ﷺ هغه ته هدايت وکړ چې هغه اوښ په ذبح کولو سره هلته پرېږده د

هغه غوښه مه خپله خوره او مه يې د سفر په ملګرو خوره که څه هم فقيران او مسکينان وي يا شتمن په هر حال کي د هغو غوښه خوړلو څخه يې ځکه منع کړل چي دا خلک د خپل بې وزلۍ په بهانه کولو سره د خپل خوراک لپاره اوښ ذبح نه کړي .

اوس دا اشکال پيدا کيدای سي چي په داسي صورت کي د غوښو خوړلو څخه خپل محافظ هم منع کيږي او هغه د قافلې ملګري هم نو بيا د دغه غوښو مصرف به څه شي وي ؟ ظاهره ده چي هغه غوښه ضائع سي .

ددې جواب دادی چي هغه غوښه نه ضائع کيږي بلکه چيري چي هغه اوښه ذبح کيږي هلته د شاوخوا اوسيدونکي به هغه استعمال کړي يا قافلې چي ځي او راځي هلته چي کومه قافله تيريږي هغه به ګټه ځيني واخلي .

په هر حال په لاره کي چي کومه هديه مرګ ته نژدې سي او هغه ذبح کړل سي نو د هغه حکم هغه دی کوم چي په حديث کي تېر سو چي د هغه غوښه د شتمنو او د قافلې د ملګرو لپاره خوړل صحيح نه دي مګر په دې باره کي فقهي تفصيل دادی چي په ملتقى الابحر او درمختار کي دا نقل سوي دي ۱: که هدي واجب وي او هغه په لاره کي مرګ ته نژدې سي يا داسي عيب داره سي چي د هغه قرباني نه جائز کيږي نو د هغه پر ځای دې بله هدي واستوي او هغه اوله هدي که په ذبح کولو سره خپله وخوري يا په نورو يې وخوري يا څه چي يې زړه غواړي په وه دې يې کړي، ۲: که چيري قرباني نفل وي او مرګ ته نژدې وي نو هغه دې ذبح کړي او څپلۍ چي په غاړه کي يې وي هغه دې په وينه کي په رنګ کولو سره پر هغه دې نښه وکړي او د هغه غوښه دې نه د قربانۍ خاوند خوري او نه دې يې شتمن خلک خوري ،. ۳: کومه قرباني چي منزل مقصود ته په رسيدو سره ذبح سي نو د هغه په باره کي ددغه فصل د آخري حديث په تشريح کي دا ښودل سوي دي چي د نفل تمتع او قران هدي او د قربانۍ د غوښې څخه مالک ته خوړل مستحب دي ددې څخه پرته د بل ډول هدي د غوښې څخه خاوند ته خوړل صحيح نه دي .

په پای کي په دې خبره هم پوه سئ چي د پورتني حديث په تشريح کي د ځينو شارحينو څخه هېره سوې ده ځکه چي هغوئ ليکلي چي په حديث کي د غوښي نه خوړلو کوم حکم سوی دی دا د هغه هدي سره متعلق دی چي پر خپل ځان باندي واجب کړل سوې وي لکه د نذر هدي او که چيري هدي نفل وي نو د هغه غوښه خوړل جائز دي نو دغه شارحين د لاري د هغه هدي چي منزل مقصود ته په رسيدو سره پر ذبح کونکي باندي په قياس کولو سره دا خبره ليکلې ده حالانکه دا خبره د حديث د حقيقت بالکل خلاف ده .

## د قربانۍ برخې

﴿۲۵۱۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د حديبيه په كال موږ د رسول الله ﷺ سره د اووه كسانو د لوري د اوښ او د اوو كسانو د لوري د غوا قرباني وكړه. مسلم.

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۲\ ۹۵۵، رقم: ۳۵۰- ۱۳۱۸.

**تشريح:** مطلب دادی چې موږ په ګډه حيوان ذبح كړې په داسي توګه چې په اوښ او غوا كې اووه كسان شريک وو ، دا حديث د امام ابوحنيفة رحمه الله او اكثر علماء د هغه مذهب دليل دی چې په اوښ او غوا كې د اوو كسانو ګډون جائز دی كله چې دغه اوو كسانو ته قربت يعني ثواب مقصود وي قربت كه يو ډول وي لكه يو سړی د هدي نيت لري او بل سړی هم د هدي نيت لري يا قربت مختلف وي لكه ځيني خو د هدي په نيت ګډ وي او ځيني د قربانۍ په نيت ، او د امام شافعي رحمه الله په نزد په دغه صورت كي هم په يوه اوښ او يوه غوا كي د اوو كسانو ګډون جائز دی كله چې ځينو د هدي يا قربانۍ په نيت ګډ وي او ځيني محض د غوښو لپاره ګډ وي، د امام مالک رحمه الله مذهب دادی چې په واجب قربانۍ يا هدي كي په هيڅ حيوان كي په مطلقه توګه ګډون صحيح نه دی ، په پسه او مېږو كي ګډون د ټولو علماؤ په اتفاق سره جائز نه دی .

## د اوښ د قربانۍ طريقه

﴿۲۵۲۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَتَى عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا قَالَ ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې هغه يو سړي ته ورغلئ چې خپل اوښ يې كښېنولی حلالوئ هغه ورته وويل : اوښ ودروه پښې يې وتړه او حلال يې كړه چې دا د محمد ﷺ طريقه ده. بخاري او مسلم.

**تخريج:** البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳\ ۵۵۳، رقم: ۱۷۱۳، ومسلم ۲\ ۹۵۶، رقم: ۳۵۸- ۱۳۲۰.

**تشريح:** د اوښ په سينه كي نيزې وهلو ته نحر وايي او د غوا وغيره غاړه په چاړې سره پرېكولو ته ذبح ويل كيږي، نو د اوښ نحر كول افضل دي او د غوا، غويي، ګامېښي، پسه او

داسي نورو حيوانانو ذبح كول افضل دي ، د نحر كولو طريقه داده چي اوښ په درولو سره د هغه چپه پښنه په رسۍ وتړل سي او بيا د هغه سينه په نيزه ووهل سي چي وينه څيني ولاړه سي او هغه را ولويږي .

امام ابن همام رحمه الله فرمايي چي د اوښ په درولو سره نحر كول افضل دی او كه ونه درول سي نو بيا په كښېنولو سره نحر كول تر پرېږ ايستلو افضل دی ، كوم حيوان چي ذبح كيږي نو د هغه پر چپه اړخ پرېږ ايستلو سره ذبح كول پكار دي .

د قرآن كريم څخه هم دا ثابته ده چي اوښ دي نحر كړل سي لكه چي فرمايل سوي دي :

فصل لربک وانحر : د الله تعالى لپاره لمونځ كوئ او نحر كوئ .

د دغه آيت په تفسير كي د اوښ نحر كول ليكل سوي دي ، او د ذبح كولو لپاره دغه آيت كريمه دی : ان تذبحوا بقرة : دا چي تاسو غوا ذبح كړئ .

## د هدی په اړه يو څو هدايات

﴿۲۵۲۱﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُومَ عَلَى

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته حكم راكړ چي زه ودرېږمه پر اوښانو

بُدْنِهِ وَأَنْ أَتَصَدَّقَ بِلَحْمِهَا وَجُلُودِهَا وَأَجِلَّتِهَا وَأَنْ لَا أُعْطِيَ الْجَزَّارَ مِنْهَا قَالَ نَحْنُ نُعْطِيهِ مِنْ عِنْدِنَا . متفق عليه

د رسول الله ﷺ او د هغو غوښه خيرات كړم او پوست وغيره يې هم صدقه كړم او د قصاب مزدوري (غوښه) مه وركوه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : مزدوري به موږ د ځانه وركوو . بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳\۵۵٦، رقم: ۱۷۱۷، ومسلم ۲\ ۹۵۴، رقم: ۳۴۸- ۱۲۱۷.

**تشريح**: د اوښانو څخه مراد هغه اوښان دي كوم چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع د هدي په توګه مكې مكرمې ته د ځان سره بيولي وه او د هغو شمېر سل وو ، ددې تفصيل مخكي تير سوی دی .

د هدي د حيوان پوست ، ځل او مهار وغيره هم خيراتول پكار دي دغه شيان د قصاب په مزدوري كي وركول نه دي پكار هو كه چيري قصاب د احسان په توګه وركړل سي نو بيا څه پروا نه سته ، كه پوست يو چا ته په صدقه كي وركړل سي او كه خرڅ كړل سي نو كوم قيمت چي واخلي هغه دي صدقه كړي دا هم جائز دي .

د هدي د حیوان شېدې لوښل نه دي پکار بلکه د هغه پر غولانزه یخي او به اچول پکار دي چي د هغه شېدې توئیدل موقوف سي او که د شېدو په لوښلو سره حیوان ته تکلیف وي نو بیا شېدې لویشل پکار دي او هغه دي خیرات کړل سي.

## د کوم هدی غوښې مالک ته خوړل جائز دي

﴿۲۵۲۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا لَا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلَاثٍ فَرَخَّصَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُوا وَتَزَوَّدُوا فَأَكَلْنَا وَتَزَوَّدْنَا. متفق عليه

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي موږ به د خپلي قرباني غوښه تر درو ورځو زیاته نه خوړل بیا رسول الله ﷺ موږ ته اجازه راکړه او وه یې فرمایل: خورئ او پټوئ یې، نو موږ به خوړل او پټول به مو. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۵۵۷، رقم: ۱۷۱۹، ومسلم ۳\۱۵۶۲، رقم: ۳۰- ۱۹۷۲.

**تشريح**: د اسلام په شروع کي خلکو ته د غوښو زیات ضرورت وو او د داسي خلکو شمېر زیات وو چي خپله یې قرباني نه سوه کولای ځکه رسول الله ﷺ ته حکم ورکړل سوی وو چي د قرباني غوښه دي تر درو ورځو څخه زیات نه ایږدي بلکه نورو خلکو ته د خوړلو لپاره دي یې صدقه کوي بیا وروسته چي د غوښو زیات ضرورت پاته نه سو او اکثرو خلکو ته د قرباني کولو توان تر لاسه سو نو رسول الله ﷺ اجازه وکړه چي د قرباني غوښه د درو ورځو څخه وروسته هم ایښودل کیدای سي. شمني رحمه الله فرمایي چي د هدي خاوند ته د نفل، تمتع او قران هدي او د قرباني غوښه خوړل جائز دي ددې څخه پرته د نورو ډول هدي غوښه صحیح نه ده ځکه چي هغه به د کفارې او جنایت وي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

## د خدای جل جلاله د ښمنانو ته غم رسول مستحب دی

﴿۲۵۲۳﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْدَى عَامَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د حدیبیه په کال رسول الله ﷺ د خپلي قرباني په

الْحُدَيْبِيَةِ فِي هَدَايَا رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَلًا كَانَ لِأَبِي جَهْلٍ فِي

حیوانانو کي د ابو جهل اوښ هم بو تلئ (دا اوښ د بدر په غزا کي په غنیمت راوړل سوی وو)

رَأْسِهِ بُرَةٌ مِّنْ فِضَّةٍ ، و في رواية مِنْ ذَهَبٍ يَغِيظُ بِذَلِكَ الْمُشْرِكِينَ . رواه ابوداؤد

چي په پزه کي يې د سپينو زرو پيزوان وو ، او په يوه روايت کي دي چي د سروزرو پيزوان وو او ددې څخه مقصد د مشرکانو په غيظ او غضب کي راوستل وه . ابو داؤد .

**تخريج**: ابو داود في السنن ۲\۳۶۰، رقم: ۱۷۴۹.

**د لغاتو حل**: بُرة: ای حلقة (پيزوان).

**تشریح**: رسول الله ﷺ په شپږم هجري کال کي د عمرې لپاره د مدينې منورې څخه روان سو مگر د مکې مشرکينو رسول الله ﷺ او د هغه ملگري د حديبيې پر ځای باندي تم کړه او مکې ته يې نه پرېښودل ، دا يو ډېره مشهوره واقعه ده چي په دغه سفر کي رسول الله ﷺ کوم اوښ د هدي په توگه د ذبح کولو لپاره بيولی وو په هغه کي يو اوښ د ابو جهل هم وو چي د بدر په غزا کي د غنيمت په توگه په لاس راغلی وو ، دغه اوښ رسول الله ﷺ ددې لپاره د ځان سره بيولی وو چي د مکې مشرکين دغه اوښ ووینې او په غصه سي چي هغه اوښ د مسلمانانو په لاس ورغلی دی او ذبح کيږي ، ددې څخه معلومه سوه چي د الله تعالی دښمنانو ته غم رسول او د هغوي د زړونو سوځل مستحب دي .

## د قريب الموت هدی حکم

﴿۲۵۲۴﴾: وَعَنْ نَاجِيَةَ الْخُزَاعِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا

د حضرت ناجيه خزاعي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! زه د قربانۍ د هغه حيوان په اړه چي مرگ ته نژدې وي څه وکړم ؟

عَطِبَ مِنَ الْبُدْنِ قَالَ انْحَرْهَا ثُمَّ اغْمِسْ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ خَلِّ بَيْنَ النَّاسِ

رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه حلال کړه او د هغه په وينه کي هغه څپلۍ ډوبې کړه چي د هغو په غاړه کي دئ د هغو پر غاړو نښه ولگوه او بيا هغه خلکو ته پرېږده

وَبَيْنَهَا فَيَأْكُلُوهَا . رواه مالك و الترمذي وابن ماجة و رواه ابوداؤد والدارمي عن ناجية الاسلمي .

چي هغوئ يې وخوري . مال، ترمذي، ابن ماجة، ابوداؤد او دارمي د ناجية الاسلمي څخه روايت كړئ دئ .

**تخريج:** مالک في الموطا ۱\ ۳۸۰، رقم: ۱۴۸، والترمذي في السنن ۳\ ۲۵۳، رقم: ۹۱۰، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۰۳۶، رقم: ۳۱۰۶.

**تشريح:** چي هغوئ يې وخوري: ددې مطلب دادی چې د قافلې د ملګرو څخه پرته كه هغوئ شتمن وي او كه فقيران وي د هغه حيوان غوښه په خپل استعمال كي راولي په دې باره كي پوره تفصيل په اول فصل كي تېر سوی دی .

پورتنی حديث مالک، ترمذي او ابن ماجه د ناجيه خزاعي ﷺ څخه نقل كړی دی او ابوداؤد او دارمي د ناجيه اسلمي ﷺ څخه، په څرګنده خو دا معلوميږي چي ددغه حديث دوه راويان دي يو ناجيه خزاعي ﷺ او بل ناجيه اسلمي ﷺ، حالانكه داسي نه ده دلته اختلاف يوازي د نسب دی او ذات يو دی يعني ناجيه خزاعي او ناجيه اسلمي د يوه صحابي نوم دی خبره يوازي داده چي ځينو په ناجيه اسلمي سره ذكر كړی دی او ځينو ورته ناجيه اسلمي ويلي دي ځكه چي خزاعي او اسلمي دواړه دده د نسل نومونه دي .

## د قرباني د ورځي فضيلت

﴿۲۵۲۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قُرْطٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

د حضرت عبدالله بن قرط ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ قَالَ ثَوْرٌ وَهُوَ

د الله تعالى په نزد په ټولو ورځو كي لويه ورځ د قرباني ورځ ده او بيا د قرورځ ، د ددې حديث

الْيَوْمُ الثَّانِي وَقَالَ وَقُرِّبَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ

راوي ويلي دي چي د قرورځ د ذي الحجې يوولسمه نيټه ده د راوي بيان دئ چي پنځه يا

سِتٌّ فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ فَلَمَّا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا قَالَ فَتَكَلَّمَ

شپږ د قرباني حيوانان رسول الله ﷺ ته نژدې راوستل سول نو دا حيوانان په خپله ورته نژدې كيدل پيل سول په هغو كي چي كوم يې خوښه وي هغه لومړی حلال كړي ، راوي وايي كله چي دا حيوانان پر بغل را پريوتل نو رسول الله ﷺ

بِكَلِمَةٍ خَفِيَّةٍ لَمْ أَفْهَمْهَا فَقُلْتُ مَا قَالَ قَالَ مَنْ شَاءَ اقْتَطَعَ. رواه ابوداؤد و ذكر حديثا ابن عباس و جابر في باب الاضحية .

په کراره څه وفرمايل چي زه په پوه نه سوم ما د نژدې سړي څخه پوښتنه وکړل چي رسول الله ﷺ څه وفرمايل : هغه وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل څوک چي غواړي ددې حيوانانو د غوښو ټوټه دي يوسي ، د ابن عباس او جابر حديث په باب الاضحية کي بيان سوي دئ . ابوداؤد .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۳۶۹، رقم: ۱۷۶۵.

**تشريح**: علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي په ورځو کي لويه ورځ د قرباني ده ، ددې څخه مراد دادی چي د قرباني ورځ د هغه ورځو څخه يوه ورځ ده کوم چي افضل او غوره ورځي دي، دا مراد ځکه اخيستل سوی دی چي په نورو حديثو کي د ذي الحجې لسيزي ته د ټولو ورځو په مقابله کي افضل ويل سوي دي نو په دې اعتبار سره د ذي الحجې لسيزه افضله ده ، د ذي الحجې لسم تاريخ هم افضل دی ځکه چي دغه ورځ هم د ذي الحجې په لسيزه کي شامله ده .

اوس پاته سوه دا خبره چي څرنګه د حديثو څخه دا ثابتيږي چي په ټولو ورځو کي غوره ورځي د ذي الحجې لسيزي دي ، همدارنګه دا خبره هم د حديثو څخه ثابته سوې ده چي د رمضان اخيري لسيزه افضله ده نو دا تضاد داسي دفع کيږي چي هغه حديثونه چي د هغو څخه د ذي الحجې لسيزه غوره کېدل ثابتيږي په اشهر حرام سره مقيد کړل سي يعني دا وويل سي چي د اشهر حرام په ورځو کي غوره ورځي ايام ذي الحجې دي نو خلاصه دا سوه چي د ذي الحجې لسيزه په حرامو مياشتو کي غوره دي او د رمضان اخيري لسيزه په مطلق توګه په ټولو ورځو کي افضل دي .

د پورتني تضاد ليري کولو لپاره دا هم ويل کيدای سي چي دغه افضيلت د حيثيت په اعتبار مختلف دی يعني په رمضان کي روژې نيول کيږي ، په دغه مقدسه مياشت کي د عبادت ثواب ډېر زيات تر لاسه کيږي او د هغه په آخري لسيزه کي اعتکاف کيږي په دې اعتبار سره خو د رمضان اخيري لسيزه افضله ده او د ذي الحجې په لسيزه کي د حج افعال ادا کيږي او قرباني کيږي په دې اعتبار دا افضله ده .

د قر د ورځي څخه د قرباني د ورځي وروسته يعني د ذي الحجې يوولسم تاريخ مراد دی دغه ورځي د قر ورځ ځکه ويل کيږي چي دغه ورځ د مناسکو د ادا کولو او تکليف زغملو څخه

وروسته په منى كي په دغه ورځ حاجيانو ته سكون او وقار تر لاسه كيږي .

دلته دا اندېښنه پيدا كيداى سي چي په حديث كي د عرفات ورځي ته افضل ويل سوي دي نو دد ې جواب هم دادى چي د قر ورځ په هغه ورځو كي يوه ورځ كوم چي افضله ده .

اوښان رسول الله ﷺ ته نژدې كېدل ...الخ: ددې مطلب دادى چي رسول الله ﷺ د هغه اوښانو د ذبح كولو اراده وكړه او هغه اوښان رسول الله ﷺ ته راوستل سول نو هر يو اوښ د رسول الله ﷺ د مبارك لاس د بركت تر لاسه كولو لپاره ددې منتظر وو چي مخكي ما ذبح كړي ، د دغه مقصد لپاره اوښانو د يو بل څخه په سبقت تر لاسه كولو كي هڅه كول ، دا په اصل كي د رسول الله ﷺ معجزه وه چي په حيوانانو كي هم د بركت او سعادت تر لاسه كولو جذبه پيدا سوه كومه چي د انسانانو خاصه كېداى سي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث　　(دريم فصل)

### د قرباني غوښه

﴿۲۵۲۶﴾: عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت سلمه بن الاكوع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي

ضَحّٰى مِنْكُمْ فَلَا يُصْبِحَنَّ بَعْدَ ثَالِثَةٍ وَ فِي بَيْتِهِ مِنْهُ شَيْءٌ فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ

څوك قرباني وكړي هغه دي تر درو ورځو وروسته هيڅ شي په كور كي نه ساتي (يعني غوښه)

الْمُقْبِلُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا عَامَ الْمَاضِي قَالَ كُلُوا وَأَطْعِمُوا

بيا چي دويم كال راغلئ نو خلكو پوښتنه وكړه اي د الله رسوله ايا سږ كال هم موږ همداسي وكړو څنګه چي تير كال مو كړي وه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خورئ او ذخيره كوئ ، او

وَادَّخِرُوا فَإِنَّ ذٰلِكَ الْعَامَ كَانَ بِالنَّاسِ جَهْدٌ فَأَرَدْتُ أَنْ تُعِينُوا فِيهِمْ . متفق عليه

تير مال ما له دې كبله منع كړې وه چي هغه كال د محنت، مشقت او مفلسۍ كال وو نو ما مناسب دا وګڼل چي په دې سره به د غريبانو مرسته وكړل سي . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۰\۲۴، رقم: ۵۵۶۹، ومسلم ۳\۱۵۶۳، رقم: ۳۴ – ۱۹۷۴.

**تشريح** : يو كال په مدينه او شاوخوا سيمو كي سخته وچ كالي راغلې وه په دغه وخت كي د

خارج شخه ډېر خلک مدينې منورې ته راتلل چې مدينه منوره ځيني ډکه سوه ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي وه چې د خلکو سره څومره غوښه وي هغه دي وويشي او نه دي يې ذخيره کوي بيا په راتلونکي کال چې د ويشلو حاجت پاته نه سو نو رسول الله ﷺ د جمع کېدو اجازه ورکړه.

﴿۲۵۲۷﴾: وَعَنْ نُبَيْشَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا نَهَيْنَاكُمْ

د حضرت نبيشه رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: موږ به تاسو منع کولاست

عَنْ لُحُومِهَا أَنْ تَأْكُلُوهَا فَوْقَ ثَلَاثٍ لِكَيْ تَسَعَكُمْ فَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالسَّعَةِ فَكُلُوا

چې د خپلي قرباني غوښه تر درو ورځو زيات مه خورئ، ددې وجه داوه چې پراخي وي (يعني د غريبانو مرسته وسي) اوس الله تعالی پراخي درکړې ده اوس چې تر څو پوري مو زړه وي خورئ

وَادَّخِرُوا وَاتَّجِرُوا أَلَا وَإِنَّ هَذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللّٰهِ. رواه ابوداؤد

او پټوئ يې او صدقه کوئ، خبردار سئ چې دا ورځي د خوراک، چښناک او د الله تعالی د ذکر ورځي دي. ابوداؤد.

**تخريج:** سنن ابي داود ۳\۲۴۳، رقم: ۲۸۱۳.

**تشريح:** د حديث د آخري جملې مطلب دادی چې الله تعالی ددغه ارشاد مطابق دغه ورځي په ذکر الله کي د ډېر زيات بوخت کېدو ورځي دي:

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا.

ژباړه: هر کله چې تاسو د حج د افعالو د ادا کولو څخه فارغ سئ نو الله تعالی يادوئ لکه څرنګه چې تاسو خپل پلرونه يادوئ يعني الله تعالی ډېر زيات يادوئ.

============

## بَابُ الْحَلْقِ (د سر خريلو بيان)

پر لسم د ذي الحجې د جمره عقبه د رمي څخه وروسته په منی کي هدي ذبح کيږي د هغه څخه وروسته د وېښتانو په خريلو يا کوچني کولو سره احرام خلاصيږي، همدارنګه د رفث (د ښځي سره جماع کول) څخه پرته هر هغه شی چې د احرام په حالت کي منع وو جائز کيږي، په دغه باب کي د سر خريلو او وېښتانو کوچني کولو دواړو ذکر کيږي که څه هم د مؤلف مشکوة

په عنوان کي يوازي د سر خريلو پر ذکر باندي اکتفاء سوې ده ځکه چي احرام ته د تلو لپاره د وېښتانو کوچني کولو په نسبت سر خريل افضل دي په دې باره کي به تفصيل راسي انشاء الله.
په دې خبره پوه سئ چي د رسول الله ﷺ په باره کي دا ثابت نه دي چي د حج او عمرې څخه پرته يې بل وخت سر خريلی وي.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### سر خريل غوره دي

﴿۲۵۲۸﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ رَاْسَهُ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَاُنَاسٌ مِّنْ أَصْحَابِهٖ وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي په حجة الوداع کي رسول الله ﷺ خپل سر مبارک وخرايه او په صحابه کرامو کي ځينو وخرايه او ځينو غچي کړ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۳\ ۵۶۱، رقم: ۴۴۱۰و ۴۴۱۱، ومسم ۱۲\ ۹۴۵، رقم: ۳۱۶- ۱۳۰۱.

**تشريح**: کومو صحابه کرامو چي سرونه وخريل هغوئ خو د رسول الله ﷺ د پيروی د جذبې او د فضيلت تر لاسه کولو له کبله داسي وکړل او کومو صحابه کرامو چي د وېښتانو پر کوچني کولو اکتفاء وکړه نو هغوئ پر جواز باندي عمل وکړ چي وېښتان کوچني کول هم جائز دي، په صحيحين وغيره کي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ په عمرة القضاء کي د سرخريلو پر ځای وېښتان کوچني کړي وه د دې څخه معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ څخه دواړه ثابت دي مګر سرخريل غوره دي.

### د رسول الله ﷺ وېښتان کوچني کول

﴿۲۵۲۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ لِيْ مُعَاوِيَةُ أَنِّيْ قَصَّرْتُ مِنْ رَأْسِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الْمَرْوَةِ بِمِشْقَصٍ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما ته معاوية وويل: ما مروة ته نژدې په غشي غچي سره د رسول الله ﷺ د سر وړېښتان غچي کړل. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵٦١\١٣، رقم: ١٧٣٠، ومسلم ١٢\٩١٣، رقم: ٢٠٩- ١٢٣٦.

**د لغاتو حل**: مِشقَص: اى نصل طويل عريض او غير عريض له حدة وقيل: المراد به المقص وهو الاشبه في هذا المحل. (غجي).

**تشریح**: مشقص، ددې ترجمه ځينو حضراتو په لوی غچي سره کړې ده ، دا معنی تر ټولو مناسبه او ډېره صحيح ده چونکه د حديثو څخه دا خبره ثابته سوې ده چي نبي کريم ﷺ په حج کي خپل سر مبارک خريلی دی او کوچنی کړی يې نه دی نو ددې څخه دا معلومه سوه چي د معاويه ﷺ دا خبره د عمرې سره تعلق لري او د حج سره يې نه لري ځکه چي معاويه ﷺ وايي چي عند المروة، ددې څخه معلومه سوه چي عمره ده ځکه که حج وای نو بيا به يې داسي ويلي وای چي عند المنی، چي حلق په منی کي کيږي.

## د سر خريونکو لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۵۳۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي په حجة الوداع کي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ اللّٰهُمَّ ارْحَمْ

اې الله ! پر سر خريونکو رحم وکړې، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله او پر غچي کوونکو ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل اې الله ! رحم وکړې

الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ وَالْمُقَصِّرِينَ. متفق عليه

پر سر خريونکو ، صحابه کرامو بيا پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! او پر غچي کونکو باندي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل او پر غچي کونکو باندي هم. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵٦١\١٣، رقم: ١٧٢٧، ومسلم ١٢\٩٤٥، رقم: ٣١٧- ١٣٠١.

**تشریح**: ددې څخه د سرخريلو فضيلت ثابت سو چي رسول الله ﷺ د سر خريونکي لپاره څو واره د رحمت دعاء وکړه او د وېښتان کوچني کونکو لپاره يې د څو واره څخه وروسته يو وار د رحمت دعاء وکړه.

﴿۲۵۳۱﴾: وَعَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ عَنْ جَدَّتِهِ أَنَّهَا سَمِعَتْ النَّبِيَّ ﷺ فِي

حَجَّةِ الْوَدَاعِ دَعَا لِلْمُحَلِّقِينَ ثَلَاثًا وَلِلْمُقَصِّرِينَ مَرَّةً وَاحِدَةً. رواه مسلم.

حضرت یحی بن الحصین د خپل انا څخه روایت کوي چي هغې په حجة الوداع کي د نبي کریم ﷺ څخه سر خریونکو لپاره درې واره دعا کول واوریدل او د غچي کونکو لپاره یو وار. مسلم.

**تخریج**: صحیح مسلم ۲\۹۴۶، رقم: ۳۲۱- ۱۳۰۳.

**تشریح**: د دغه حدیث څخه مخکي د بخاري او مسلم کوم روایت چي نقل سوی دی د هغه څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د سر خریونکو لپاره دوه واره دعاء وکړه او په دریم وار یې د وېښتانو کوچني کونکو ته هم وکړه، او د بخاري او مسلم په یو بل روایت کي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ په څلورم وار د وېښتانو کوچني کونکو ته دعاء وکړه، حال دا چي د مسلم روایت دا ښيي چي رسول الله ﷺ د سر خریونکو لپاره درې واره دعاء وکړه او د وېښتانو کوچني کونکو لپاره یې یو وار او س که یې هغوئ په دریم وار کي ګډ کړي وي او که په څلورم وار کي د هغوئ لپاره یې بېله دعاء غوښتې وي.

په هر حال په دغه ټولو روایتو کي د مطابقت پیدا کولو لپاره علماء وایي چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء په څو مجلسونو کي کړې وي نو په یوه مجلس کي به رسول الله ﷺ د سر خریونکو لپاره دوه واره او دریم وار به یې د وېښتانو کوچني کونکو لپاره دعاء کړې وي او په بل مجلس کي به یې درې واره د سر خریونکو لپاره او په څلورم وار به یې د وېښتانو کوچني کونکو لپاره دعاء کړې وي یا دا چي کوم راوي چي څه واوریدل او پر هغه حقیقت ظاهر سو نو هغه یې ذکر کړل.

## په سر خریلو کي د راسته خوا څخه شروع کول سنت دي

﴿۲۵۳۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَى مِنًى فَاَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ منا ته تشریف راوړ بیا جمره عقبه ته راغلئ او هلته یې رمي وکړل

ثُمَّ اَتَى مَنْزِلَهُ بِمِنًى وَنَحَرَ نُسُكَهُ ثُمَّ دَعَا بِالْحَلَّاقِ وَنَاوَلَ الْحَالِقَ شِقَّهُ الْاَيْمَنَ

بیا په منا کي خپل تم ځای ته راغلئ او د خپلي قرباني حیوان یې حلال کړ بیا یې یو سرخریونکی راوغوښتئ او د خپل سر مبارک راسته طرف یې د هغه مخته کړ

فَحَلَقَهُ ثُمَّ دَعَا اَبَا طَلْحَةَ الْاَنْصَارِيَّ فَاَعْطَاهُ اِيَّاهُ ثُمَّ نَاوَلَهُ الشِّقَّ الْاَيْسَرَ فَقَالَ

او سر مبارک یې وخرایه، بیا یې ابو طلحه انصاري را وغوښتئ او خریلي وربښتان یې هغه ته ورکړل بیا د خپل سر مباکر چپه طرف یې د خریونکي خوا ته کړ او وه یې فرمایل:

احْلِقْ فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ أَبَا طَلْحَةَ فَقَالَ اقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ. متفق عليه

وخریه، نو هغه وخریی دا وربښتان هم رسول الله ﷺ ابو طلحه ته ورکړه او ورته وه یې فرمایل: دا په خلکو وویشه. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱\ ۲۷۳، رقم: ۱۷۱، ومسلم ۲\ ۹۴۷، رقم: ۳۲۳-۱۳۰۵.

**تشريح**: د دغه حدیث څخه دا معلومه سوه چي په سر خریلو کي د راسته خوا څخه شروع کول سنت دي، او دا خبره معلومه سوه چي په راسته خوا سره د سرخریونکي اعتبار دی چي هغه خپل د راسته خوا څخه خریل شروع کړي، حال دا چي ځیني حضرات وایي چي خریونکی ته د راسته خوا اعتبار دی یعني خریونکی دې د خپل راسته خوا څخه سر خریل شروع کړي.

## د قربانۍ په ورځ د خوشبویي لګول

﴿۲۵۳۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ بِطِيبٍ فِيهِ مِسْكٌ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما به رسول الله ﷺ ته د احرام تړلو څخه وړاندي او د قربانۍ په ورځ د بیت الله د طواف څخه وړاندي هم خوشبویي لګول چي په هغه کي به مشک هم وه. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۳\ ۳۹۶، رقم: ۱۵۳۹، ومسلم ۲\ ۸۴۹، رقم: ۴۶-۱۱۹۱.

**تشريح**: علماء کرام وایي چي پر کومو ځایو باندي بي بي عائشې رضي الله عنها د خشبوئي لګولو ذکر کړی دی یعني د احرام تړلو څخه مخکي او د نحر په ورځ د کعبې شریفي د طواف څخه مخکي که چیري په دغه وختو کي خوشبویي لګول کیږي نو د مشک او ګلابو خوشبویي لګول تر ټولو غوره دي ځکه چي په دغه دواړو کي یوازي خوشبویي ده رنګ نه سته.

## د قربانۍ په ورځ رسول الله ﷺ د ماپښین لمونځ چیري وکړی؟

﴿۲۵۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَاضَ يَوْمَ

النَّحْرِ ثُمَّ رَجَعَ فَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى. رواه مسلم

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ مکې مکرمې ته تشريف راوړ بيا منا ته ولاړى او هلته يې د ماپښين لمونځ وکړ. مسلم.

**تخريج:** مسلم في الصحيح ۹۵۰\۲، رقم: ۳۳۵-۱۳۰۸.

**تشريح:** د دغه حديث څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ په لسم د ذي الحجې د ماپښين لمونځ په منى کي وکړ حال دا چي د حجة الوداع په باب کي د جابر رضي الله عنه د روايت څخه دا ثابتيږي چي رسول الله ﷺ په هغه ورځ د ماپښين لمونځ په مکه کي وکړ، د دواړو روايتو ظاهري تضاد د جابر رضي الله عنه د روايت په تشريح کي دفع کيږي چي د هغه خلاصه داده چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په مکه کي ادا کړی وو البته رسول الله ﷺ په منى کي نفل لمونځ وکړ چي ابن عمر رضي الله عنه هغه د ماپښين د لمانځه ګمان پر وکړ.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د ښځو د سر خريلو څخه منع

﴿۲۵۳۵﴾: عَنْ عَلِيٍّ وَّعَائِشَةَ قَالاَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا. رواه الترمذي.

د حضرت علي او عائشې رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ښځو د سر خريلو څخه منع فرمايلې ده. ترمذي.

**تخريج:** الترمذي في السنن ۲۵۷\۳، رقم: ۹۱۵.

**تشريح:** مطلب دا دی چي کله ښځه د احرام څخه ووځي نو خپل سر دي نه خريي، فقهي مسئله هم داده، هسي خو د حديث څخه د ښځو مطلقا د سر خريلو منع هم مراد کيدای سي لکه څرنګه چي د سړي لپاره د ږيري خريل حرام دي همدا رنګه د ښځي لپاره د سر خريل حرام دي هو که د يو ضرورت او مجبورۍ په وجه يې وخريي نو پروا نه لري.

### ښځي ته يوازي وېښتان کوچني کول پکار دي

﴿۲۵۳۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ

عَلَى النِّسَاءِ حَلْقٌ إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيرُ. رواه ابوداؤد والدارمي . و هذا الباب خال عن الفصل الثالث .

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د ښځو لپاره سر خریل نسته بلکه د ښځو لپاره ورېښتان لنډول دي . (ترحج وروسته) . ابوداؤد او دارمي . په دې باب کي دریم فصل نسته .

**تخریج** : ابوداود في السنن ۲\۵۰۲، رقم: ۱۹۸۴، والدارمي ۲\۸۹، رقم: ۱۹۰۶.

**تشریح** : د حدیث شریف مطلب دادی چي کله ښځه د احرام څخه ووځي نو سرخریل پر هغوئ واجب نه دي بلکه د هغوئ لپاره حرام دي مګر د وېښتانو کوچني کول پر هغوئ واجب دي پر خلاف د خلکو چي پر هغوئ باندي په دغه دواړو شیانو کي یو واجب دی مګر سر خریل غوره دي .

## د سرخریلو او یا وېښتانو کوچني کولو اندازه

د حنفیانو په نزد فقهي مسئله داده چي د سرخریلو په اړه څلورمه برخه د سرخریل واجب دي او د ټول سر خریل غوره دي مګر د وېښتانو کوچني کولو په اړه د څلورمي برخي د سر وېښتان د یوې ګوتي د بند په اندازه کوچني کول واجب دي او د ټول سر وېښتان کوچني کول مستحب دي مګر علامه ابن همام رحمة الله علیه هغه قول اختیار کړی دی کوم چي د امام مالک رحمة الله علیه مذهب دی چي د ټول سر خریل یا د ټول سر کوچني کول واجب دي او هغه وایي چي دا صحیح دی .

وهذا الباب خال عن الفصل الثالث

په دغه باب کي دریم فصل نسته.

========

# بَابٌ فِي التَّحَلُّل وَنقَلهم بَعْض الاعْمَال عَلى بَعْض

## په حج کي د تقديم او تاخير بيان

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### په حج کي تقديم او تاخير

﴿۲۵۳۷﴾: عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله ابن عمرو بن العاص ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَمْ

په حجة الوداع کي په منا کي تم سو چي خلک مسائل ځني و پوښتي نو يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي

أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ فَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ لَمْ

د ناپوهۍ له کبله د حلالولو څخه وړاندي ما سر وخرايه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ذبح وکړه هيڅ پروا نسته، دويم سړی راغلئ هغه عرض وکړ

أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَقَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

د ناپوهۍ له کبله د جمرو د ويشتلو څخه وړاندي ما قرباني وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اوس د جمرو ويشتل وکړه هيڅ پروا نسته، لنډيز دا چي د تقديم او تاخير له کبله چي کوم مسائل د رسول الله ﷺ څخه و پوښتل سول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ. متفق عليه و

د ټولو جواب رسول الله ﷺ همدغه وفرمايل چي اوس يې وکړه هيڅ پروا نسته، بخاري او

فِي رِوَايَةٍ لمسلم أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ

مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي

حاضر سو او عرض يې وکړ چي ما د جمرو ويشتلو څخه مخکي سر وخرايه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : جمرې وو له هيڅ ګناه نسته

وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ إِنِّي أَفَضْتُ إِلَى الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ .

او يو بل سړی راغلئ هغه عرض وکړ چي د جمرو ويشتلو څخه مخکي ما طواف کړی دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اوس جمرې وو له هيڅ ګناه نسته .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) : ۱۱ \ ۱۸۰ ، رقم : ۸۳ ، ومسلم ۱۲ \ ۹۴۸ ، رقم : ۳۲۷ - ۱۳۰۶ .

**تشريح** : په دغه روايت کي د حج د افعالو د تقديم او تاخير په اړه فرمايل سوي دي او د پوښتنه کونکو جوابونه ورکړل سوي دي چي د قرباني په ورځ يعني د ذي الحجې پر لسم تاريخ کيږي ، په دغه ورځ څلور شيان وي چي د هغو ترتيب دادی : منی ته په رسيدو سره تر ټولو مخکي د جمره عقبه چي دا يو مينار دی په اوو ډبرو ويشتل بيا حيوان چي د هغه تفصيل مخکي بيان سوی دی ذبح کيږي ددې څخه وروسته سر خريل کيږي او يا ويښتان کوچني کيږي بيا مکې ته په تلو سره د کعبې شريفې طواف کيږي په دغه ترتيب سره ددغه افعالو ادا کول د اکثرو علماؤ په نزد د پورتني حديث په رڼا کي سنت دي امام شافعي او امام احمد هم په دوئ کي شامل دي ، ددغه حضراتو په نزد که ددغه افعالو په ادا کولو کي مخته والی او وروسته والی وسي نو د جزاء په توګه دم يعني د حيوان ذبح کول نه واجبيږي د علماؤ د يو ډلي وينا داده چي پورتنی ترتيب واجب د امام ابو حنيفة او امام مالک هم ددغه ډلي سره دی دا حضرات وايي چي په حديث کي هيڅ حرج نه ستو مطلب يوازي دادی چي دغه تقديم او تاخير د ناخبرتيا او هيرې په وجه سوی دی څکه په دې کي څه ګناه نه سته مګر د جزاء په توګه دم يعني د حيوان ذبح کول واجب دي ، ددغه حضراتو د مذهب مطابق په دغه څلورو شيانو کي که يو شی مخته يا شا ته سي نو د جزاء په توګه د يوه پسه يا ددې په مثل حيوان ذبح کول ضروري ذي .

علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي ابن عباس رضي الله عنهما هم داسي حديث روايت کړی دی او خپله هغه د پورتنيو افعالو د تقديم او تاخير په اړه دم واجب کړی دی که چيري هغه د حديث هغه معنی نه ګڼلای کوم چي امام ابو حنيفة او د هغوئ ملګرو ګڼلې دي نو هغه به خپله دم ولې واجبولای .

﴿۲۵۳۸﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْأَلُ يَوْمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي د قرباني په ورځ په منا کی خلکو د رسول الله ﷺ

څخه مسائل پوښتل،

النَّحْرِ بِمِنًى فَيَقُولُ لَا حَرَجَ فَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ رَمَيْتُ بَعْدَ مَا أَمْسَيْتُ فَقَالَ لَا حَرَجَ. رواه البخاري.

او رسول الله ﷺ به د هري مسئلې په جواب کي دا فرمايل : هيڅ پروا نسته ، يو سړي پوښتنه وکړه چي ما د مابنام کېدو څخه وروسته جمرې وويشتلې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هيڅ گناه نسته . بخاري

**تخريج:** البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۵۵۹، رقم: ۱۷۲۳.

**تشريح:** د نورو امامانو مذهب دادی که يو سړی د قربانۍ په ورځ په رمي کي دومره ځنډ وکړي چي لمر ولويږي نو پر هغه دم واجب دی د هغوئ په نزد په حديث کي د مابنام څخه وروسته څخه مراد د مازديگر څخه وروسته دی، د حنفيه په نزد په دې اړه تفصيل دادی چي په لسم د ذي الحجې د صبح صادق ختلو څخه وروسته د لمر ختلو څخه مخکي وخت د رمي لپاره د جواز وخت دی مگر په اساءة سره يعني که يو سړی د صبح صادق څخه وروسته رمي وکړي نو دا جائز کيږي مگر ښه به نه وي د لمر ختلو څخه وروسته تر زوال پوري وخت سنت دی ، د لمر د زوال څخه وروسته د لمر تر لوېدو پوري که چيري رمي وکړي نو دا جائز دی او په دې باره کي به دا هم نه وايو چي هغه ښه ونه کړل البته د سنت وخت سعادت به هغه ته تر لاسه نه وي او د لمر لوېدو څخه وروسته يعني د شپې وخت د جواز وخت دی مگر په کراهت سره .

دا خبره دي په ذهن کي وي چي کراهت په هغه صورت کي دی کله چي يو سړی بېله عذره دومره ځنډ وکړي چي لمر هم ولويږي او بيا هغه په شپه کي رمي وکړي ، که چيري شپانه يا د هغوئ په مثل هغه خلک چي د يو عذر په وجه د شپې رمي وکړي نو د هغوئ په حق کي کراهت نسته .

په دغه حديث کي د رسول الله ﷺ دا فرمايل چي هيڅ حرج نه سته پر دې خبره دلالت کوي چي پوښتنه کونکی به شپانه وي چي هغه د مابنام څخه وروسته يعني د شپې رمي وکړي ځکه رسول الله ﷺ د هغه په باره کي وفرمايل چي ته د ورځي د رمي څخه معذور وې ځکه د شپې د رمي کولو په وجه به پر تا څه گناه نه وي .

علامه ابن همام رحمه الله فرمايي که يو سړی بېله عذره په رمي کولو کي دومره ځنډ وکړي چي سهار سي نو هغه دي رمي وکړي مگر پر هغه باندي د جزاء په توگه دم يعني د حيوان ذبح

کول واجبيږي ، دا د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه قول دی او د صاحبينو ددې سره اختلاف دی .

د يوم نحر څخه وروسته په دوو ورځو يعني د ذي الحجې په يوولسم او دوولسم تاريخ کي د رمي سنت وخت ذ لمر د زوال څخه وروسته تر لمر لوېدو پوري دی او د لمر لوېدو څخه وروسته تر صبح صادق راختلو پوري مکروه وخت دی نو د صبح صادق په راختلو سره د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد دا وخت د صبح صادق راختلو څخه وروسته هم باقي وي يعني د رمي وخت د صبح صادق څخه وروسته په اتفاق سره باقي وي فرق يوازي دومره دی چي دا وخت رمي به د امام صاحب په نزد د قضاء په وخت کي وي او د صاحبينو حضرت امام ابويوسف او حضرت امام محمد رحمة الله عليهما په نزد په دغه وخت کي او په څلورمه ورځ يعني د ذي الحجې پر ديارلسم تاريخ د لمر لوېدو سره په اتفاق سره د ټولو په نزد د رمي د ادا کولو وخت هم فوت کيږي او د قضاء وخت هم فوت کيږي .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۲۵۳۹﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَفَضْتُ قَبْلَ أَنْ

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغلئ او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! ما د سر خريلو څخه وړاندي فرض طواف وکړ ،

أَحْلِقَ قَالَ احْلِقْ أَوْ قَصِّرْ وَلَا حَرَجَ وَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ . رواه الترمذي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :سر وخريه يا غځي يې کړه هيڅ پروا نسته ، دويم سړی راغلئ هغه وويل :ما د جمرو ويشتلو څخه مخکي قرباني کړې ده ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل : جمرې وولـه هيڅ گناه نسته . ترمذي .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۳\ ۲۳۲، رقم: ۸۸۵.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۲۵۴۰﴾: عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسامه بن شریک رضی الله عنه څخه روایت دئ چي زه د نبي کریم ﷺ سره د حج کولو لپاره ولاړم،

حَاجًّا فَكَانَ النَّاسُ يَأْتُونَهُ فَمَنْ قَائِلٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوفَ

خلک به د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضریدل او مسائل به یې پوښتل، ځینو به دا ویل اې دالله رسوله! ما د طواف څخه وړاندي د صفا او مروه سعي کړې ده،

أَخَّرْتُ شَيْئًا او قدمت شيئا فَكَانَ يَقُولُ لَا حَرَجَ إِلَّا عَلَى رَجُلٍ اقْتَرَضَ

ځینو به ویل دا کار ما وروسته کړی دی او ځینو به ویل دا کار ما وړاندي کړی دئ، رسول الله ﷺ به د ټولو په جواب کي فرمایل: هیڅ ګناه نشته، البته ګناه د هغه سړي ده چي ظالم وي

عِرْضَ مُسْلِمٍ وَهُوَ ظَالِمٌ فَذٰلِكَ الَّذِي حَرِجَ وَهَلَكَ. رواه ابوداؤد.

او د یو مسلمان بې عزتي وکړي دا سړی هلاک سو. ابوداؤد.

**تخریج**: سنن ابي داود ۲\۵۱۷، رقم: ۲۰۱۵.

**تشریح**: که چیري د احرام تړلو او طواف قدوم یا طواف نفل څخه مخکي سعي وکړل سي نو صحیح به نه وي یعني د طواف افاضه څخه مخکي په سعي کولو کي څه پروا نشته مګر دا ضروري ده چي سعي د احرام او طواف څخه وروسته وي که څه هم نفل طواف وي.

ځکه ما د کعبې د طواف څخه مخکي سعي کړې ده: په دې باره کي دا ویل کیږي چي پوښتنه کونکی که غیر مکي وي نو ددې مطلب به دا وي چي ما د حج د احرام او طواف قدوم څخه وروسته او د طواف افاضه څخه مخکي سعي کړې ده او که چیري پوښتنه کونکی مکي وي نو بیا مطلب دادی چي ما د حج د احرام او طواف نفل څخه وروسته او د طواف افاضه څخه مخکي سعي کړې ده.

د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی که چیري د منی په افعالو کي د ناخبرتیا په وجه تقدیم او تاخیر وسي نو د ګناه خبره نه ده بلکه په اصل کي ګناه کار هغه سړی دی چي د ظلم او ضرر رسولو له کبله په ناحقه د چا بې عزتي وکړي مثلاً د چا سپکاوی وکړي یا د چا غیبت وکړي یعني هغه سړی په دغه حکم کي داخل نه دی چي د دین له کبله د یو چا آبرو ریزي وکړي نو داسي خلک به ګناه کار نه وي.

=======

# بَابُ خُطْبَةِ يَوْمِ النّحْرِ وَ رَمْيِ اَيّامِ التّشْرِيْقِ وَالتّوْدِيْعِ

## د قربانۍ په ورځ خطبه ، رمي او د طواف رخصت بيان

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د قربانۍ په ورځ خطبه

﴿۲۵۴۱﴾: عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ

د حضرت ابو بكرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د قربانۍ په ورځ رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي دا خطبه وفرمايل :

قَالَ ان الزمان قد استدار كهيئته يوم خلق الله السموات والارض السنة

زمانه د خپل هغه وضع سره سم چي په هغې كي وه راوګرځيده وضعي خپلي ته په هغه ورځ چي الله تعالی آسمانونه او مځكي پيدا كړل (يعني په كومه ورځ چي الله تعالی آسمانونه او مځكي پيدا كړي وه بيا په هغه ورځ راغلل او كال پوره سو ، كال

اثنا عشر شهرا منها اربعة حرم ثلث متواليات ذوالقعدة و ذوالحجة

دوولس مياشتي وي چي په هغو كي څلور مياشتي د عزت (حرمت) دي ، درې خو پرله پسې دي يعني ذوالقعده ، ذوالحجة ،

والمحرم ورجب مضر الذي بين جمادي و شعبان وقال أَيُّ شهر هَذَا قُلْنَا

محرم او څلورمه رجب مضر چي د جمادي او شعبان په منځ كي ده ، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه : دا كومه مياشت ده ؟ موږ عرض وكړ

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ فقَالَ أَلَيْسَ

الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، زموږ خيال سو چي رسول الله ﷺ د دې مياشتي يو بل نوم ايږدي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ذو الحجة نه ده ؟

ذالحجة قُلْنَا بَلَى قَالَ أَيُّ بَلَدٍ هَذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا

موږ عرض وکړ هو ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل دا کوم ښار دئ ؟ موږ عرض وکړ الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهیږي ، رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، تر دي چي زموږ دا خیال سو چي

أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَتْ بِالْبَلْدَةِ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ هَذَا

نبي ﷺ یو بل نوم پر ایږدي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا دا بلده (مکه) نه ده ؟ موږ عرض وکړ هو ، بیا یې پوښتنه وکړه دا کومه ورځ ده ؟

قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ

موږ وویل الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهیږي ، بیا رسول الله ﷺ پټه خوله سو او زموږ گمان سو چي رسول الله ﷺ به د دې بل نوم ایږدي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل :

أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ

ایا دا د قربانۍ ورځ نه ده ؟ موږ عرض وکړ هو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : (د نن ورځي څخه) ستاسو وینه، ستاسو مال او ستاسو عزت پر تاسو

حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا وَفِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا وَسَتَلْقَوْنَ

حرام دئ لکه څرنگه چي په دې ورځ ، په دې ښار او په دې میاشت کي حرام دي ، (اې خلکو !) ډیر ژر به تاسو د خپل پروردگار سره یو ځای کیږئ

رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ أَلَا فَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي ضُلَّالًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ

هغه به ستاسو څخه ستاسو د اعمالو په اړه پوښتنه کوي ، خبردار ! چي زما وروسته گمراه نه

رِقَابَ بَعْضٍ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ اللَّهُمَّ اشْهَدْ فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ . متفق علیه

سئ چي د یو بل غاړي وهل پیل کړئ ،خبردار سئ ایا ما خپل فرض ادا کړل ؟ (یعني د الله احکام مي تاسو ته ورسول ؟) موږ عرض وکړ هو ، اې د الله رسوله، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : اې الله ! ته هم شاهد اوسه ، صحابه کرامو ته یې وفرمایل : په تاسو کي چي کوم خلک دلته شتون

لري هغوئ دي هغه خلكو ته دا خبري ورسوي كوم چي دلته شتون نه لري، ځكه چي ځيني هغه خلك چي هغوئ ته پيغام ورسول سي تر پيغام اوريدونكو زيات ياد لرونكي وي . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ٣\٥٧٣، رقم: ١٧١٤، ومسلم ٣\١٣٠٥، رقم: ٢٩- ١٦٧٩.

**تشريح** : د شافعيانو په نزد د ايام نحر په اوله ورځ يعني د ذي الحجې پر لسم تاريخ خطبه ويل مستحب دي او د حنفيه په نزد د نحر په دوهمه ورځ يعني د ذي الحجې پر دوولسم تاريخ مستحب ده ، د حنفي مذهب سره سم يوه خطبه د ذي الحجې پر اووم او يوه خطبه پر نهم او يوه خطبه پر يوولسم ويل كيږي او په دغه خطبو كي د حج احكام بيانيږي ، په كومو صحيح حديثو كي چي په دوهمه ورځ د رسول الله ﷺ د خطبې ذكر سوى دى هغه د حنفي مذهب مؤيد دي نو د دغه حديث په باره كي به ويل كيږي چي رسول الله ﷺ د تذكير او نصيحت په توګه خطبه ويلې ده او اصل خطبه يې په دوهمه ورځ فرمايلې ده .

د حديث شريف د اولو جملو مطلب دادى چي د شروع څخه الله تعالى د كال دوولس مياشتي ټاكلي دي ددې سره سم د دوولس مياشتو كال پوره سو ، په قرآن كريم كي د كال د دوولس مياشتو په اړه داي فرمايل سوي دي :

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَات وَالأَرْضَ،

ژباړه: په تحقيق سره د مياشتو شمېر په كتاب الهي كي د الله تعالى په نزد دوولس مياشتي دى په كومه ورځ چي الله تعالى آسمان او مځكه پيدا كړي وه .

د رسول الله ﷺ د قول خلاصه داده چي د جاهليت په زمانه كي عربو د كال په مياشتو كي تغير كړى وو د هغه صورت دا وو چي هغوئ به يو كال دوولس مياشتي ايښودي او يو كال به يې ديارلس مياشتي همدا رنګه هغوئ به د حج په ادا كولو كي په هر دوه كاله كي يوه مياشت مؤخر كول مثلا يو كال به هغوئ په يوه مياشت كي حج كوى بيا دوهم كال به د ديارلس مياشتو په ګرځولو سره په هغه مياشت كي به يې حج كوى كوم چي اول كال د حج د مياشتي څخه وروسته به راتلل ، په دغه صورت كي نه يوازي دا چي د حج مياشت بدلېدل بلكه كومي مياشتي چي به اشهر حرام وې هغه به يې اشهر حرام نه ګرځولې او كومي مياشتي چي به اشهر حرام نه وې هغه به يې اشهر حرام ګرځولې ، مثلا په كومو مياشتو كي چي به جنګ حرام نه وو په هغه كي به يې جنګ څخه پرهيز كوى او د هغه مياشتو به يې ښه تعظيم كوى او په كومو مياشتو كي چي به جنګ حرام وو په هغه كي به يې په پوره توګه سره جنګ كوى يعني كومه مياشت چي

به په واقعت کي د محرم میاشت وه هغه به دوئ د خپل احمقانه حساب له مخي د محرم میاشت نه گڼل چي په نتیجه کي به یې په هغه کي ښه جنګ کوی همدارنګه صفر یا یو بله میاشت به یې په خپل حساب سره حرامه ګرځول او په هغه کي به یې د جنګ څخه منعه کول نو الله تعالی د هغوئ ددغه احمقانه عمل په باره کي دا حکم وکړ : انما النسئ زیادة في الکفر : او د هغوئ له خوا په میاشتو کي دغه تبدیل د هغوئ په کفر کي زیاتوب دی .

همدارنګه الله تعالی د هغوئ حساب باطل وګرځوی او د کال هره میاشت یې د هغه پر اصل وګرځول ، رسول الله ﷺ چي په کوم کال حجة الوداع کړی دی په هغه کال د ذي الحجې میاشت پر خپل اصل وه ځکه رسول الله ﷺ : ان الزمان قد استدار کهیئة: یعني بېشکه د کال ګردش د خپل واضع موافق پوره سو ، په دې فرمایلو سره یې خلک خبردار کړل چي الله تعالی حکم کړی دی چي دغه میاشت د ذي الحجې وه او د حج دا میاشت ده نو دا میاشت په یاد لرئ او په دې کي حج کوئ او په راتلونکي کي یوه میاشت د بلي میاشتي سره مه بدلوئ .

مشهور مفسر بیضاوي رحمه الله فرمایي چي د جاهلیت په زمانه کي د عربو دا رواج وو چي کله به حرامه میاشت راغله او هغوئ ته به په هغه میاشت کي جنګ کول منظور وه نو هغه حرامه میاشت به یې حلاله ګرځول او د هغه څخه وروسته یوه بله میاشت به یې حرام ګرځول همدارنګه د میاشتو اصلي خصوصیت هغوئ ترک کړی وو یوازي د عدد اعتبار یې ساتلی وو .

د حدیث الفاظ (السنة اثنا عشر شهرا) دا جمله مستانفه ده یعني بېله جمله ده چي د ماقبل جملې بیان او د هغې وضاحت دی .

منها اربعة حرم : چي په هغو کي څلور میاشتي حرامي دي لکه څرنګه چي حدیث ددغه څلورو میاشتو وضاحت کړی دی چي هغه ذي قعده ، ذي الحجه ، محرم او د رجب میاشتي دي په دغه میاشتو کي قتل او قتال او جګړه کول منعه دي لکه څرنګه چي د الله تعالی ارشاد دی : فلا تظلموا فیهن انفسکم : نو په دغه میاشتو کي پر خپل ځانو باندي ظلم مه کوئ .

مګر اکثر علماء دا وایي چي په دغه میاشتو کي د قتل او قتال حرمت منسوخ دی د دوئ په نزد په پورتني آیت کي د ظلم څخه مراد د ګناه کول دي همدارنګه د پورتني آیت مطلب به دا وي چي په دغه میاشتو کي په ګناه کولو سره خپل ځان ته تاوان مه رسوئ لکه څرنګه چي په حرم کي او د احرام په حالت کي ګناه کول ډېر بد کار دی همدارنګه په دغه میاشتو کي ګناه کول ډېره بده خبره ده ، ددغه علماؤ د قول تائید ددې خبري څخه هم کیږي چي نبي کریم ﷺ د شوال او ذي قعده په میاشتو کي طائف محاصره کړی او د هوازن د قبیلې سره یې غزا کړې وه ، ځیني علماء

وايي چي په دغه مياشتو کي د قتال د حرمت حکم اوس هم پاته دی .

مضر د عربو د يو قبيلې نوم دی ، دغه قبيلې به د رجب د مياشتي ډېر عزت کوی په دې وجه د رجب د نسبت دغه قبيلې ته په کولو سره رسول الله ﷺ رجب مضر و فرمايل .

رسول الله ﷺ د خلکو څخه د مياشتي ، ورځي او د ښار نوم ځکه وپوښتي چي د خلکو په ذهن او زړه کي د دغه مياشتي ، ورځي او ښار حرمت په پوره توګه ځای ونيسي او په داسي سره هغوئ د دې خبري په اهميت پوه سي او پر هغه باندي د عمل کولو پوره يقين پيدا کړي چي د هغه وروسته بيانول مقصود وه همدارنګه د رسول الله ﷺ په پوښتنه د خلکو په جواب کي دا ويل چي الله او د هغه رسول ښه پوهيږي نه يوازي دا چي د ادب له مخي وو بلکه د دې څخه په دې پوهېدل هم مقصد وو چي د دغه پوښتني څخه د رسول الله ﷺ مقصد څه شي دی .

په ځينو حديثو کي دغه جمله : فلا ترجعوا بعدي ضلالا : زما د وفات څخه وروسته تاسو ضلالت او ګمراهي ته مه ګرځئ ، په دې کي لفظ د ضلالاً پر ځای لفظ د کفارا ذکر سوی دی په دې صورت کي د دغه جملې معنی داده چي زما د وفات څخه وروسته تاسو په اعمالو کي د کافرانو مشابه مه کيږئ چي د هغه کافرانو په ډول تاسو هم د يو بل غاړه وهل شروع کړئ .

## په يوولسمه او دوولسمه د رمي وخت

﴿۲۵۴۲﴾: وَعَنْ وَبَرَةَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ مَتَى أَرْمِي الْجِمَارَ قَالَ إِذَا رَمَى

د حضرت وبرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د ابن عباس ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي زه کله جمرې وولم ؟ هغه راته وويل کله چي ستا امام جمرې ولي

إِمَامُكَ فَارْمِهْ فَأَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةَ فَقَالَ كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا . رواه البخاري

هغه وخت ته هم جمرې ووله ، ما بيا همداسي وويل : نو هغه وويل موږ به انتظار کوي کله چي به ورځ زوال سوه نو موږ به جمرې وويشتلې . بخاري .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) ۱۳\۵۷۹ ، رقم: ۱۷۴۶.

## درمي ترتيب

﴿۲۵۴۳﴾: وَعَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ الدُّنْيَا بِسَبْعِ

حضرت سالم رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت کوي چي ابن عمر رضي الله عنه به نژدې جمره (چي مسجد حنيف ته نژدې ده او د هغې نوم جمره اولی ده) ویشتل په اووه

حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ عَلَى إِثْرِ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتَّى يُسْهِلَ فَيَقُومَ مُسْتَقْبِلَ

ډبرو او په هر وار ویشتلو به یې الله اکبر وایه، بیا به پر مخ تلئ او نرمي ځمکي ته چي به ورسیدئ نو مخ پر قبله به ودریدئ

الْقِبْلَةِ طَوِيلًا وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ ثُمَّ يَرْمِي الْوُسْطَى بسبع حصيات يكبره

او تر ډیره به ولاړ وو او دعاء به يې غوښتل او خپل دواړه لاسونه به يې پورته کړل بیا به یې جمره وسطی په اووه ډبرو ویشتل او د هر وار ویشتلو سره به یې الله اکبر وایه،

وكلما رمى بحصاة ثُمَّ يَأْخُذُ ذَاتَ الشِّمَالِ فَيَسْتَهِلُ وَيَقُومُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ

بیا به چپه طرف ته تلی او نرمي ځمکي ته په رسیدو سره به مخ پر قبله ودریدئ او دعاء به یې

وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ وَيَقُومُ طَوِيلًا ثُمَّ يَرْمِي جَمْرَةَ ذَاتِ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ

کول او لاسونه به یې پورته کړل او تر ډیره وخته پوري به ولاړ وو، بیا په جمره ذات العقبه کي به

الْوَادِي بسبع حصيات يكبر عند كل حصياة وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا ثُمَّ يَنْصَرِفُ

په شبله کي دریدو سره به یې اووه واره ویشتل کول او په هر وار ویشتلو به یې الله اکبر وایه او ددې سره نژدې به تر ډیره وخته پوري نه دریدئ بیا به روان سو

فَيَقُولُ هٰكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ. رواه البخاري

او ویل به یې همداسي ما نبي کريم صلى الله عليه وسلم په کولو لیدلی دئ. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵۸۲\۳، رقم: ۱۷۵۱،

**د لغاتو حل**: يُسهِل: اى يدخل المكان السهل.

**تشريح:** د پورتني ترتيب سره سم كه څه هم د حنفيه په نزد رمي سنت ده مګر د احتياط تقاضا داده چي دغه ترتيب نه پرېښودل سي ځکه چي دغه ترتيب د امام شافعي رحمة الله عليه وغيره په نزد واجب دی، پر موالات يعني ټولو جمراتو باندي پر له پسې رمي كول هم سنت دي او دا مام مالک رحمة الله عليه په مذهب كي واجب دي .

من بطن الوادي: د بطن وادي څخه دا خبره معلومه سوه چي د جمره عقبه رمي بطن وادي ته په درېدو سره وكړل سي په کښته برخه كي په درېدو سره رمي كول سنت دي مګر په هدايه كي راغلي دي كه چيري د لوړي خوا څخه جمره عقبه وويشتل سي نو په داسي كولو سره رمي خو كيږي مګر د سنت خلاف كار دی .

د جمره اولى او جمره وسطى سره درېدل او حمد، صلوة او دعاء كي بوخت كېدل خو ثابت دي مګر دريمه جمره يعني د جمره عقبى سره درېدل او دعاء غوښتل ثابت نه دي او ددې يو وجه او علت منقول نه دی كه څه هم ځينو علماؤ په دې اړه څه ناڅه ليكلي دي .

## په منى كي شپه كول واجب دي كه سنت؟

﴿۲۵۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللَّهُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي عباس بن عبدالمطلب د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ددې

عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ فَأَذِنَ لَهُ . متفق عليه

غوښتنه وكړه چي د منا د قيام په شپو كي هغه ته په مكه كي د پاته كېدو اجازه وركړل سي چي خلكو ته د زمزم اوبه وركړي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه وركړه . بخاري او مسلم .

**تخريج:** البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۹۰، رقم: ۱۶۳۴، ومسلم ۲\۹۵۳، رقم: ۳۴۶- ۱۳۱۵.

**تشريح:** د طواف اضافه څخه وروسته د زمزم اوبه څښل مستحب دي په هغه زمانه كي به د زمزم څاه ته نژدې يو څو حوضونه د زمزم د اوبو څخه ډک وه كه يو څوک د رش په وجه د څاه څخه اوبه نه سي څښلای نو هغه به د دغه حوض څخه اوبه څښي ، د زمزم د نګرانی سعادت د رسول الله صلى الله عليه وسلم اكا حضرت عباس رضي الله عنه ته تر لاسه وو همدارنګه د زمزم د اوبو څښلو دغه عظيم سعادت خدمت به هغه د خپلو څو مرسته كونكو په ذريعه سرته رسوی ، په كومو شپو كي چي به

حاجیان په منی کي قیام کوئ په هغه شپو کي به حضرت عباس رضی الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه اجازه اخیستل چي زه به په دغه شپو کي په مکه کي اوسیږم چي د زمزم د اوبو مقدس خدمت ما ته حواله دی رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه اجازه ورکړه.

اوس مسئلې ته راسئ کومي شپې چي په منی کي تېرول کیږي په هغو کي په منی کي قیام کول د اکثرو علماؤ په نزد واجب دی او د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد په دغه شپو کي په منی کي اوسېدل سنت دي د امام شافعي او امام احمد هم دا یو قول دی.

دلته دا خبره باید په ذهن کي وي چي د شپې د قیام په اړه د شپې اکثره برخه یعني نیمي شپې څخه زیات قیام معتبر دی او دا حکم د هغه شپو هم دی په کوم کي چي د عبادت وغیره لپاره شب بیداري مستحب ده مثلا لیلة القدر او داسي نور چي په دغه شپو کي د اکثر برخي د شب بیداري اعتبار دی.

په هر حال د کومو علماؤ په نزد چي په منی کي د شپې قیام سنت دی لکه د امام ابوحنیفة رحمه الله نو د دوئ دلیل پورتنی حدیث دی که چیري په منی کي د شپې قیام واجب وای نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به حضرت عباس رضی الله عنه ته په دغه شپو کي په مکه کي د اوسیدو اجازه څرنګه ورکولای.

ځیني حنفي علماء وايي چي د حضرت عباس رضی الله عنه په ډول د کوم سړي پر ذمه چي د زمزم د اوبو څښلو خدمت وي یا د یو چا سخت عذر وي نو د هغه لپاره جائز دي چي کومي شپې په منی کي تېرولای سي نو په هغه کي په منی کي قیام ترک کړي، لکه چي په دې سره دې ته اشاره ده چي بېله عذره سنت ترک کول جائز نه دي او دا چي د یو عذر په وجه سنت پرېښودو کي اشاره هم نسته.

## رسول الله صلی الله علیه وسلم پر زمزم باندي

﴿۲۵۶۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ إِلَى السِّقَايَةِ
د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمزم اوبو ته تشریف یووړ

فَاسْتَسْقَى فَقَالَ الْعَبَّاسُ يَا فَضْلُ اذْهَبْ إِلَى أُمِّكَ فَأْتِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
او اوبه یې وغوښتلې، ابن عباس رضی الله عنه خپل ورور فضل ته وویل ته خپل مور ته ولاړ سه او د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ مِنْ عِنْدِهَا فَقَالَ اسْقِنِي فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُمْ
هغې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره اوبه راوړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ما ته د دغه اوبو څخه

راکړه، ابن عباس ﷺ ورته وويل اې دالله رسوله! په دې اوبو کې

يَجْعَلُونَ أَيْدِيَهُمْ فِيهِ قَالَ اسْقِنِي فَشَرِبَ مِنْهُ ثُمَّ أَتَى زَمْزَمَ وَهُمْ يَسْقُونَ

خلک لاس وهي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د همدې اوبو څخه يې راکړه، نو رسول الله ﷺ اوبه وڅېښلې، د دې وروسته رسول الله ﷺ د زمزم څاه ته تشريف راوړ

وَيَعْمَلُونَ فِيهَا فَقَالَ اعْمَلُوا فَإِنَّكُمْ عَلَى عَمَلٍ صَالِحٍ ثُمَّ قَالَ لَوْلَا أَنْ تُغْلَبُوا

او د عبدالمطلب اولاد د اوبو په ورکولو کې په پوره هڅه سره کار کوئ، رسول الله ﷺ د هغوئ په ليدو سره وفرمايل: په کار کې بوخت اوسئ تاسو يو نيک کار کوئ، بيا يې وفرمايل: که زما سره دا بيره نه واى چې

لَنَزَلْتُ حَتَّى أَضَعَ الْحَبْلَ عَلَى هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى عَاتِقِهِ. رواه البخاري.

زما په لاس ورولو سره به خلک پر تاسو رامات سي (يعني بيا به خلک زما متابعت وکړي يعني هغوئ به هم دا کار وکړي ستاسو سره به په دغه کار کې شريک سي حال دا چې دا منصب يوازې د حضرت عباس وو) نو زه به د اوبو څخه تا سوى واى او رسۍ به مې پر دې اينبې واى او د خپلې اوږې په لوريې اشاره وکړه (يعني د اوبو راکښلو لپاره به مې رسۍ پر اوږه ترلې واى) بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۹۱، رقم: ۱۶۳۵.

**تشريح**: دغه خلک دې خپل لاسونه وهي: د دې خبرې څخه د حضرت عباس ﷺ مطلب دا وو چې دلته د اوبو راکښلو لپاره رش وي په دې کې هر ډول خلک وي او اکثر هغه خلک وي چې د هغوئ لاسونه پاک نه وي او هغوئ د اوبو څښلو لپاره په حوض کې خپل لاس غوټه کوي ځکه نو ما ستاسو لپاره د هغه اوبو څخه وغوښتل چې بالکل پاکې وي مګر رسول الله ﷺ هغه قبول نه کړل او وه يې فرمايل چې په دې کې څه پروا نه سته ته ما ته د دغه حوض څخه اوبه راکړه نو رسول الله ﷺ د هغه حوض اوبه وڅښلې، لکه چې دا خبره د هغه روايت په ډول ده چې په هغه کې منقول دي چې رسول الله ﷺ پاته سوي اوبه د تبرک له مخې څښل خوښ کړل او حضرت انس ﷺ په مرفوع طريقه نقل کړي دي چې داسې کول په تواضع کې داخل دي چې انسان د خپل ورور پاته اوبه وڅښي مګر په خلکو کې چې دغه حديث مشهور دی چې (سور المؤمنين شفاء) يعني د مؤمنانو پسخورده شفاء ده، نو په دې باره کې علماء ليکي چې دغه حديث غير معروف

دي ددې په صحيح کېدو کي څه ثبوت نه سته.

د پورتني روايت څخه دا معلومېږي چي رسول الله ﷺ د زمزم د څاه څخه د اوبو راکښلو او څښلو لپاره د اوبښ څخه کښېنسته نه سو او حال دا چي په يو بل روايت کي چي د حضرت عطاء رضي الله عنه څخه منقول دی دا بيان سوی دی چي رسول الله ﷺ د طواف افاضه څخه فارغ سو نو د زمزم د اوبو څخه يې په سلواغه کي اوبه راوکښلې او په راکښلو کي د رسول الله ﷺ سره هيڅوک نه وو بيا رسول الله ﷺ د هغه څخه اوبه وڅښلې او کومي اوبه چي پاته سوې هغه يې په څاه کي د برکت لپاره واچولې.

په دغه دواړو روايتو کي مطابقت دادی چي مخکي خو رسول الله ﷺ د رش په وجه د اوښ څخه راکښته نه سو بيا دوهم وار يې تشريف راوړ نو د رش کمېدو په وجه يې اوبه راوکښلې او وه يې څښلې نو د حضرت عباس رضي الله عنه د پورتني روايت تعلق د اول وار سره دی او د حضرت عطاء رضي الله عنه د روايت تعلق د دوهم وار سره دی.

## د رسول الله ﷺ طواف وداع

﴿۲۵۴۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ ثُمَّ رَقَدَ رَقْدَةً بِالْمُحَصَّبِ ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ماپښين، مازديگر، ماښام او ماخستن لمنځونه په محصب نامي ځای کي ادا کړل، بيا لږ گړی بيده سو، بيا سپور سو د بيت الله شريفي طواف ته ولاړئ او طواف يې وکړ. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳۸۳\۱۳، رقم: ۱۷۵۶.

**تشريح**: محصب هغه مځکي ته وايي چي هلته ډيري ډبري وي مگر دا د يو خاص ځای نوم هم دی چي د مکې او مدينې په مينځ کي منی ته نږدې واقع دی دغه ځای ته د محصب څخه پرته ابطع، بطحاء او خيف بني کنانه هم وايي ځکه راوي دلته چي دا وويل چي رسول الله ﷺ په محصب کي لمونځ وکړ او په دوهم روايت کي دا ويل سوي دي چي په ابطع کي يې لمونځ وکړ.

**رسول الله ﷺ د ترويه او قرباني په ورځ د ماپښين او مازديگر لمونځ چيري وکړی؟**

﴿۲۵۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ

د حضرت عبد العزيز بن رفيع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د انس بن مالک رضي الله عنه څخه پوښتنه

عَنْهُ قُلْتُ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ صَلَّى

وکړه چې ما ته هغه خبره وښيه چې تا د رسول الله ﷺ څخه زده کړې ده يا درته څرګنده وي چې

الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ قَالَ بِمِنًى قال فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ قَالَ

رسول الله ﷺ د يوم ترويه د ماپښين لمونځ په کوم ځای کې وکړ؟ هغه ووېل: په منا کې، ما بيا پوښتنه وکړه د يوم نفر د ستنېدو په ورځ (يعني ديارلسمه نېټه) رسول الله ﷺ د مازديګر لمونځ په کوم ځای کې وکړ؟

بِالْأَبْطَحِ ثُمَّ قَالَ افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ . متفق عليه

هغه ووېل: په ابطح نامي ځای کې، بيا انس رضي الله عنه ووېل: ته هم داسي کوه څرنګه چې ستا اميران کوي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵۰۷\۳، رقم: ۱۶۵۳. ومسلم: ۹۵۰\۲، رقم: ۳۳۶-۱۳۰۹.

**د لغاتو حل**: يوم التروية: هو اليوم الثامن من ذي الحجة.

**تشريح**: د حديث د آخري جملې مطلب دادی چې رسول الله ﷺ همداسي کړي وه مګر ته په دې اړه د خپل سردار او امير پيروي کوه څرنګه چې هغه کوي هم هغسي يې ته کوه چې د هغه د مخالفت په وجه فتنه رامنځته نه سي او دا خبره څه ضروري خبره هم نه ده چې د ترويه په ورځ رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ چيري وکړ او د نفر په ورځ يې د مازديګر لمونځ کړی دی نو هلته دې وکړل سي

د اول روايت څخه دا معلومه سوه چې رسول الله ﷺ د نفر په ورځ يعني د ذي الحجې په ديارلسم تاريخ د ماپښين لمونځ په محصب کي کړی وو حال دا چې دغه حديث په دې اړه ساکت دی نو په دغه دواړو روايتو کي په دې معنی څه قضی نه سته چې رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ په محصب کي کړی وو لکه څرنګه چې د انس رضي الله عنه د روايت څخه معلومه سوه مګر په دې اړه عبدالعزيز رحمه الله د هغه ورځي د ماپښين د لمانځه په باره کي پوښتنه ونه کړه ځکه چې په دغه دوهم روايت کي انس رضي الله عنه هم د دې تذکره ونه کړه.

### په ابطح کي تم کېدل سنت دي که يا؟

﴿۲۵۴۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ نُزُولُ الْأَبْطَحِ لَيْسَ بِسُنَّةٍ إِنَّمَا نَزَلَهُ رَسُولُ اللّٰهِ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهُ كَانَ أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ إِذَا خَرَجَ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي په ابطح نامي ځای کي کښېنته کېدل سنت نه دي دلته رسول الله ﷺ يوازي ددې لپاره کښېنته سوی وو چي په ستنېدو کي اساني وه . بخاري او مسلم

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۵۹۱\۳، رقم: ۱۷۶۵، ومسلم ۹۵۱\۲، رقم: ۳۳۹-۱۳۱۱

**تشريح**: د بي بي عائشې رضي الله عنها وينا مقصد دادی چي کله رسول الله ﷺ په ديارلسم تاريخ د منى څخه ستون سو نو په ابطح يعني محصب کي يوازي ددې لپاره تم سوی وو چي هلته د خپل سامان وغيره په پرېښودو سره مکي ته ولاړ سي او هلته طواف وداع وکړي او کله چي د مکې څخه مدينې منورې ته ستنيږي نو هغه وخت به سامان نه موجود کېدو په وجه اساني وي .

په دې اړه چي د مسئلې تعلق دی نو په دې کي اختلاف دی ځيني حضرات وايي چي په محصب کي تم کېدل سنت دي او د حج افعال يوه تتمه ده دا د ابن عمر رضي الله عنه قول دی د هغه په نزد د قيام محصب پر سنت کېدو دليل دادی چي رسول الله ﷺ په منى کي فرمايلي وه چي سبا ته به موږ انشاء الله په خيف بن کنانه يعني محصب کي تم کيږو او ددې سبب دا وو چي خيف بن کنانه هغه ځای دی چيري چي مشرکين د رسول الله ﷺ په مکي ژوند کي په خپلو کي دا عهد کړی وو او دا قسم يې کړی وو چي موږ به بن هاشم او ابن عبد المطلب او د دوئ سره د ناستي او ولاړي څخه تر هغه وخته پرهيز کوو تر څو چي دغه خلک موږ ته محمد ﷺ حواله نه کړي ، يعني پر دغه ځای باندي هغوئ د کورنيو سره د پوره لاتعلقۍ په اعلان کولو سره د کفر د شعائرو اظهار کړی وو کله چي الله تعالى د اسلام قوت غالب کړ او د کفر او شرک شر ليري سو نو رسول الله ﷺ د حجة الوداع پر موقع د منى څخه مکې ته په ستنېدو سره دا غوښتل چي په خيف بن کنانه (محصب) کي په تم کېدو سره د اسلام شعائر ظاهر کړي چيري چي څو کاله مخکي کفارو خپل شعائر ظاهر کړي وه او همدارنګه هلته د الله تعالى د هغه نعمتونو شکر ادا کړي چي هغه اسلام ته غلبه او عظمت ورکړی دی .

طبراني په اوسط کي د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا قول نقل کړی دی چي د يوم النفر په شپه په بطح کي تم کېدل سنت دي او دا چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به خلکو ته په دغه شپه کي په ابطح کي د تم کېدو حکم ورکوی .

د فقه حنفي په مشهور کتاب هدايه کي ليکلي دي چي صحيح خبره داده چي رسول الله ﷺ په ابطح کي د دغه مقصد لپاره تم سوی وو چي مشرکينو ته د الله تعالى قدرت وښيي چي پرون

په کوم ځای کي هغوئ د پوره لاتعلقۍ قول او اقرار کولو سره د خپل غوره والي اظهار کړی وو نن هغه ځای د الله تعالی په فضل سره د مسلمانانو تر واک لاندي دی ځکه نو په دغه ځای کي د شپې قیام سنت دی .

د دې پر خلاف ځیني حضرات وایي چي په محصب کي قیام سنت نه دی ځکه چي هلته د رسول الله ﷺ قیام په اتفاقي توګه سره سوی دی د هغه صورت دا وو چي د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام ابورافع چي د رسول الله ﷺ د سفر د سامان نګران وو په خپل رایه په اتفاقي توګه سره هلته تم سو او د رسول الله ﷺ خیمه یې ودرول ، په دې باره کي د رسول الله ﷺ حکم نه وو ، په محصب کي قیام ته د سنت ویونکو څخه د ابن عباس رضي الله عنهما څخه پرته بي بي عائشه رضي الله عنها هم ده لکه څرنګه چي د پورتني حدیث څخه معلومه سوه .

په هر حال په دې باره کي غوره خبره داده چي کله د رسول الله ﷺ په محصب کي تم کېدل منقول دي که هغه تم کېدل په اتفاقي توګه وي او که نه وي خوښه خبره داده چي هلته قیام وکړل سي لکه څرنګه چي نورو صحابه کرامو او خلفاء راشدینو په دې عمل کړی دی او که یو څوک هلته تم نه سي نو په دې کي څه پروا نسته .

## د طواف وداع وروسته د رسول الله ﷺ د مکې څخه روانېدل

﴿۲۵۴۹﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ أَحْرَمْتُ مِنَ التَّنْعِيمِ بِعُمْرَةٍ فَدَخَلْتُ فَقَضَيْتُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما د تنعیم نامي ځای څخه خپل عمره پوره کړه او

عُمْرَتِي وَانْتَظَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْأَبْطَحِ حَتّٰى فَرَغْتُ فَأَمَرَ

رسول الله ﷺ په ابطح کي زما انتظار کاوه، کله چي زه د عمرې څخه فارغه سوم

النَّاسَ بِالرَّحِيلِ فَخَرَجَ فَمَرَّ بِالْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ قَبْلَ صَلٰوةِ الصُّبْحِ ثُمَّ خَرَجَ

نو رسول الله ﷺ خلکو ته د ستنېدو (کوچیدو) حکم ورکړ او بیت الله ته په رسیدو سره یې د سهار د لمانځه وړاندي طواف وکړ ،

إِلَى الْمَدِيْنَةِ. هذا الحديث ما وجدته برواية الشيخين بل برواية ابي داؤد مع اختلاف يسير في آخره .

بيا د مدينې په لور روان سو. (دا حديث ما د شيخينو په روايا تو كي تر لاسه نه كړ بلكه په ابوداؤد كي مي تر لاسه كړ سره د لږ اختلاف)

**تخريج**: سنن ابي داود ۲\۵۱۲، رقم: ۲۰۰۵.

**تشريح**: د مشكوة د مؤلف د قول مطلب دادى چي زما د علم سره سم دغه روايت نه بخاري نقل كړى دى او نه مسلم بلكه دغه روايت ابوداؤد نقل كړى دى. او دا چي د ابوداؤد روايت او د صاحب مصابيح په نقل سوي روايت كي په اخري خبرو كي اختلاف هم دى، يعني د دغه جملې په ذريعه د مشكوة مؤلف د مصابيح پر مؤلف باندي يو اعتراض كړى دى چي هغه دغه روايت په اول فصل كي نقل كړى دى حال دا چي په اول فصل كي يوازي د بخاري او مسلم روايتونه نقل كيږي، دوهم اعتراض يې دا كړى دى چي د حديث په نقل كولو كي د راوي يعني ابوداؤد مخالفت وكړ په دې توګه چي د حديث اخري جزيې بعينه هغه نه دى نقل كړى كوم چي ابوداؤد روايت كړى دى.

## طواف وداع واجب دى

﴿۲۵۵۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجْهٍ فَقَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي خلک (د حج د فارغه كېدو سره) هر لوري ته تلل (يعني خپلو كورو ته تلل او د طواف وداع چا پروا نه كول) رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهٖ بِالْبَيْتِ اِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْحَائِضِ. متفق عليه.

په تاسو كي دي هيڅوک تر هغه وخته پوري نه ځي تر څو پوري چي د بيت الله شريفي سره خپل آخري عهد پوره نه كړي (يعني د بيت الله د رخصت طواف ونه كړي) مګر دا طواف د حائضې ښځي څخه موقف سوى دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۳۸۳، رقم: ۱۷۵۵، ومسلم ۲\۹۶۳، رقم: ۳۷۹-۱۳۲۷.

**تشريح**: د حج د افعالو څخه د فارغه كېدو وروسته د مكې مكرمې څخه خپل هيواد ته د روانېدو څخه مخكي چي كوم طواف كيږي هغه ته طواف وداع وايي او ددې يو نوم صدر هم دى، دغه طواف پر آفاقي باندي واجب دى كه څه هم په دې كي حرج نه سته چي د دغه طواف څخه

وروسته څومره ورځي چي غواړي په مکه کي مقيم پاته سي مگر غوره دادي چي د مکې څخه د روانيدو پر وخت دا طواف وکړل سي ، امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايي که يو څوک د ورځي په يو برخه کي طواف وداع وکړي او بيا تر ماخستن پوري په مکه کي مقيم وي نو زما په نزد غوره خبره داده چي هغه د مکې څخه د روانېدو پر وخت دوهم طواف وکړي .

دغه طواف د مکې مکرمې پر اوسيدونکو واجب نه دی او نه پر هغه چا چي په ميقات کي دننه اوسيږي او نه پر هغه چا واجب دی چي په مکه کي د اوسيدو لپاره پاته کيږي او بيا د هغه ځای څخه د تلو اراده نه لري ، همدارنګه دغه طواف پر هغه چا واجب نه دی چي د هغه حج فوت سوی وي او نه پر عمره کونکی واجب دی او په دغه طواف کي نه رمل کيږي او نه ددې څخه وروسته سعي کيږي .

## د عذر په وجه طواف وداع واجب نه دی

﴿۲۵۵۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ حَاضَتْ صَفِيَّةُ لَيْلَةَ النَّفْرِ فَقَالَتْ مَا أُرَانِي إِلَّا

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي په ديارلسمه نېټه يعني د حج څخه د تلو په ورځ د بي بي صفيې وينه راغلل ، هغې وويل زما خيال دئ چي

حَابِسَتَكُمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقْرَى حَلْقَى أَطَافَتْ يَوْمَ النَّحْرِ قِيلَ نَعَمْ قَالَ فَانْفِرِي . متفق عليه

زه به تاسو تم کړم ، (ځکه چي ما طواف وداع نه دئ کړئ) رسول الله ﷺ وفرمايل : الله دي هغه خوراه ميراثه کړي (دا الفاظ د مينې دي ښيرا نه ده ) ايا هغې د قربانۍ په ورځ طواف نه دئ کړئ . وويل سول چي هو ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل نو ځئ . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) : ۳\ ۵۹۵ ،رقم : ۱۷۷۱ ، ومسلم ۲\ ۹۶۵ ،رقم : ۳۸۷ - ۱۲۱۱ .

**د لغاتو حل** : عقري حلقي : اى عقرها الله عقرا وحلقها الله حلقا ، وهذا دعاء لايراد وقوعه ، بل عادة العرب التكلم بمثله على سبيل التلطف . (مرقات)

**تشريح** : د يوم نفر د شپې څخه مراد هغه شپه ده چي په هغه کي رسول الله ﷺ په محصب کي قيام کړی وو يعني د ديارلسم ذي الحجې شپه ، مگر دا خبره په ذهن کي کښېنول پکار دي چي د حج په بيان کي د شپې نسبت تيري ورځي ته کيږي نه راتلونکي ورځي ته نو د يوم نفر د شپې څخه هغه شپه مراد ده چي د ديارلسمي ورځي څخه وروسته راځي .

په هر حال بي بي صفيې رضي الله عنها دا ګمان وکړ چي څرنګه طواف زيارت د عذر په وجه ترک کيداى نه سي همدارنګه د عذر په سبب د طواف وداع ترک کول هم جائز نه دي ځکه هغې وويل چي تر څو پوري زه پاکه نه سم او طواف ونه کړم نو تر هغه وخته به تهولو ته تم کېدل وي او رسول الله ﷺ دا وګڼل چي هغه طواف زيارت نه دى کړى چي د هغه په وجه به تم کېدل وي ځکه رسول الله ﷺ دا جمله وفرمايل چي الله تعالى دي هغه هلاک او زخمي کړي مګر کله چي رسول الله ﷺ ته د تحقيق څخه وروسته معلومه سوه چي صفيې دا خبره د طواف زيارت لپاره نه ده کړې بلکه د طواف وداع لپاره يې کړې ده نو بيا رسول الله ﷺ وفرمايل چي د طواف وداع څخه پرته مدينې ته روان سئ ځکه چي د عذر په وجه د طواف وجوب ساقط کيږي هو که چيري طواف زيارت هم نه وي سوى نو بيا د هغه په وجه تم کېدل وي.

الله تعالى دي هغه هلاک او زخمي کړي دا جمله که څه هم ښېرا ده مګر د ښېرا په اراده نه ده استعمال سوې بلکه د عربو عادت دى چي هغوئ داسي جملې د مينې له کبله استعمالوې.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د قرباني په ورځ د رسول الله ﷺ نصيحت

﴿۲۵۵۲﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ الْاَحْوَصِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمرو بن الاحوص ﷛ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په حجة الوداع کي

يَقُولُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ أَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قَالُوا يَوْمُ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ

واوريدل چي فرمايل يې: دا کومه ورځ ده؟ حاضرينو وويل دا د حج اکبر ورځ ده، رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو وينه،

وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا

ستاسو مالونه او ستاسو عزت ستاسو په منځ کي پر تاسو داسي حرام دئ لکه څرنګه چي په دې ورځ او ښار کي پر تاسو حرام دئ،

أَلَا لَا يَجْنِي جَانٍ إِلَّا عَلَى نَفْسِهِ أَلَا لَا يَجْنِي جَانٍ عَلَى وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ عَلَى

خبردار! کوم ظالم چي ظلم کوي هغه پر خپل ځان ظلم کوي، خبردار! هيڅ پلار دي پر خپل اولاد

او هيڅ زوى دي پر خپل پلار ظلم نه كوي ،

وَالِدِهِ أَلَا إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يُعْبَدَ فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا أَبَدًا وَلٰكِنْ سَيَكُونُ

خبردار! شيطان د هميشه لپاره نااميده سو ددې خبرې څخه چې ستاسو په دې ښار كې به د هغه عبادت كيږي مگر تاسو به

لَهُ طَاعَةٌ فِيمَا تَحْتَقِرُونَ مِنْ أَعْمَالِكُمْ فَسَيَرْضَى بِهِ . رواه ابن ماجة والترمذي و صححه .

په هغه اعمالو كې د شيطان فرمانبردار ياست كوم چې تاسو حقير گڼئ (يعني كوچنې گناهونه) هغه په هغه گناهو خوشحاله كيږي كوم چې تاسو حقير گڼئ . ابن ماجة ، ترمذي .

**تخريج**: ابن ماجه في السنن ۲\۱۰۱۵، رقم: ۳۰۵۵، والترمذي ۴\۴۰۱، رقم: ۲۱۵۹.

**تشريح**: حج اكبر مطلق حج ته وايي لكه څرنگه چې د الله تعالى ارشاد دى :

وَأَذَانٌ مِّنَ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ،

ژباړه: او د الله تعالى او د هغه د رسول له خوا د حج په ورځ د عامو خلكو په مخكې اعلان كيږي چې الله تعالى او د هغه رسول مشركانو څخه بېزاره دى .

او د حج صفت په اكبر سره ځكه موصوف كيږي چې عمرې ته اصغر وايي په دې مناسبت سره حج په حج اكبر مسمى سو ، مشهور مفسر بيضاوي رحمه الله وايي يوم بقر يعني د لسم ذي الحجې ورځې ته يوم حج اكبر ويل كيږي ځكه چې يوازې دا چې په دغه ورځ مكمل كيږي بلكه د حج ټول لوى افعال په دغه ورځ ادا كيږي ، په يوه روايت كې ددې صراحت هم دى چې نبي كريم ﷺ په حجة الوداع كې د قربانۍ په ورځ جمرات ته نژدې ودريدى او وه يې فرمايل چې دا د حج اكبر ورځ ده .

په تېرو صفحو كې ددغه مضمون چې كوم حديث تېر سوى دى په هغه كې دا ذكر وه چې رسول الله ﷺ د صحابه كرامو څخه پوښتنه وكړه چې دا كومه ورځ ده نو هغوئ وويل چې الله تعالى او د هغه رسول پوهيږي ، او دلته دا ذكر سوى دى چې هغوئ جواب وركړ چې دا د حج اكبر ورځ ده په ظاهره خو په دغه دواړو كې تضاد معلوميږي حالانكه په دې كې هيڅ تضاد نه سته ځكه كېداى سي چې ځينو صحابه كرامو د هغه جواب وركړى وي او ځيني دا جواب

ورکړی وي کوم راوي چي کوم جواب وا وریدی نو هغه يې ذکر کړ.

فان دماءکم ... الخ: او ستاسو وینه ....: مطلب دادی چي څرنګه چي تاسو په دغه مبارکه ورځ او په دغه مقدس ښار کي د يو بل وينه بيول د يو بل مال هضم کول او د يو بل بې عزتي کول حرام او بد ګڼئ همدارنګه دغه شيانو په هرځای او هر وخت کي حرام او بد دي.

هيڅ ظالم پر خپل زوی ظلم نه کوي: صحيح خبره داده چي دا جمله نفي ظاهروي يعني که د چا زوی پر چا ظلم کوي يا د چا پلار پر يو چا ظلم کوي نو هغه دي د يو بل د ظلم په وجه نه ماخوذ کيږي داسي نه کيږي چي پر يو چا دي زوی ظلم وکړي او د هغه په وجه دي پلار ونيول سي يا پر يو چا باندي پلار ظلم وکړي او د هغه په وجه زوی ونيول سي بلکه څوک چي ظلم کوي هغه به نيول کيږي، د الله تعالی ارشاد دی:

وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى

هيڅ بار پورته کونکی به د بل چا بار نه پورته کوي.

دا خبره يوازي پر پلار او زوی باندي منحصره نه ده بلکه په عمومي توګه هيڅ سړی د بل د ظلم او جرم په وجه نه ماخوذ کيږي.

دلته پلار او زوی ددې مقصد لپاره ذکر سوي دي چي دغه دواړه تر ټولو نژدې قريبان وي کله چي د دوئ څخه يو څوک يو د بل د فعل په وجه ماخوذ نه وي نو په داسي به دا جمله د ماقبل عبارت: لايجني جان..الخ، ظلم کونکی يوازي پر خپل ځان ظلم کوي د تاکيد په توګه وي.

ځيني شارحين په دغه جمله: لايجنی الا علی نفسه: کي لفظ د الا نقل کړی نه دی او ليکلي يې دي چي دا جمله نفي په معنی د نهي ده يعني ددغه جملې په ذريعه منع کيږي چي ظالم دي پر خپل ځان ظلم نه کوي ددې څخه مراد دادی چي هيڅوک دي پر چا ظلم نه کوي هغه په حقيقت کي پر خپل ځان ظلم کوي په دې توګه چي هغه پر يو چا باندي په ظلم کولو خپل ځان د سزا او عذاب مستحق جوړوي.

وان الشيطان قد ايس ...الخ: ددې مطلب دادی چي شيطان د همېشه لپاره ددې څخه نااميده سوی دی چي په دغه ښار (مکه) کي د غير الله د عبادت په ذريعه د هغه فرمانبردار وي نو دلته هيڅکله هم څوک د شيطان په چم کي په راتلو سره د غير الله په عبادت کي نه کوي، ددې څخه دې ته اشاره ده چي دغه مقدس ښار د همېشه لپاره د کفر او شرک د غلاظت څخه پاک سوی دی او اوس هيڅکله هم په دغه پاکه مځکه کي د غير مسلم د قدم ايښودو اجازه به نه وي

مګر دا بېله خبره ده چي يو غير مسلم په پټه دغه ښار ته راسي او هغه په پټه سره د غير الله عبادت شروع کړي.

مګر ستاسو په هغه اعمالو کي د شيطان فرمانبرداري وي، دلته د اعمال څخه مراد د ګناه اعمال دي لکه ناحقه قتل کول د چا مال غلاکول او دا ډول نور بد اعمال او صغيره ګناوو ته اهميت نه ورکول دد جملې مطلب دادی چي په دغه بدو عملو کي اخته کيدونکی چي کله هغه سپک ګڼي او د هغه په نتيجه کي د هغه اعمالو څخه پرهېز نه کوي نو ګويا د شيطان اطاعت کوي ځکه چي شيطان په دغه خبرو سره خوشحاله کيږي او بيا هغه اعمال د لوی فتنې او فساد باعث کيږي.

﴿۲۵۵۳﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْمُزَنِيِّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت رافع بن عمرو مزني رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما په منا کي په څابنت وخت کي د رسول

وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ بِمِنًى حِينَ ارْتَفَعَ الضُّحٰى عَلٰى بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ وَالنَّاسُ بَيْنَ قَائِمٍ وَّقَاعِدٍ. رواه ابوداؤد.

الله ﷺ څخه خطبه واوريدل: رسول الله ﷺ پر شهباء غاتري سپور وو او حضرت علي رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ بيان دويم وار وايه (چي ليري خلک يې واوري) او ځيني خلک ناست وه او ځيني ولاړ وه. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۴۸۹، رقم: ۱۹۵۶.

**د لغاتو حل**: يُعبر: اى يبلغ حديثه من هو بعيد.

## د طواف زيارت وخت

﴿۲۵۵۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ يَوْمَ النَّحْرِ إِلَى اللَّيْلِ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت عائشي او ابن عباس (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ په طواف زيارت کي تر درو شپو پوري زنډ وکړ. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\ ۲۶۲، رقم: ۹۲۰، وابوداود في السنن ۲\ ۵۰۹، رقم: ۲۰۰۰، وابن ماجه ۲\ ۱۰۱۷، رقم: ۳۰۶۰.

**تشريح**: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د ښځو لپاره يا دا چي د ټولو لپاره په طواف زيارت کي د قرباني په ورځ د شپې تاخير جائز وګرځوی ، د حديث مطلب دا نه دی چي رسول الله ﷺ په خپل طواف زيارت کي تر شپې پوري تاخير وکړ ځکه د رسول الله ﷺ په باره کي دا په صراحت سره ثابته سوې ده چي رسول الله ﷺ د قرباني پر وخت طواف زيارت وکړ او د هغه څخه وروسته په مکې يا په منی کي د ماپښين لمونځ وکړ .

علامه طيبي رحمه الله فرمايي چي د طواف زيارت وخت د امام شافعي رحمه الله په نزد د قرباني د ورځي د نيمي شپې څخه شروع کيږي او د نورو امامانو مذهب دادی چي ددغه وخت د بقر عيد په ورځ د صبح ختلو څخه وروسته شروع کيږي او د آخري وخت تعين نه سته هر کله چي وکړل سي جائز کيږي مګر د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد د طواف زيارت ادا کول په ايام نحر کي واجب ده که يو سړی دومره تاخير وکړي چي ايام نحر تېر سي او بيا هغه وروسته طواف زيارت وکړي نو پر هغه دم يعني د جزاء په توګه د حيوان ذبح کول واجبيږي .

## په طواف زيارت کي رمل نه سته

﴿۲۵۵۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَرْمُلْ فِي السَّبْعِ الَّذِي أَفَاضَ فِيهِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة ،

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په طواف زيارت کي رمل (په څغاسته اوږې ښورول ) ونه کړ . ابوداؤد او ابن ماجه .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۵۰۹، رقم: ۲۰۰۱، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۰۱۷، رقم: ۳۰۶۰.

**د لغاتو حل**: لم يَرمُل: الرمل: الهرولة (په څغاسته اوږې ښورول).

**تشريح**: لکه څرنګه چي مخکي ښودل سوي دي چي د اوږې په ښورولو او د سينې په را ايستلو سره تلو ته رمل وايي ، رسول الله ﷺ په طواف زيارت کي چي فرض دی رمل ادا کړ ځکه چي په طواف قدوم کي رسول الله ﷺ دا کړی وو .

په دې باره کي مسئله داده چي کوم څوک په طواف قدوم کي رمل او سعي وکړي نو هغه دي په طواف زيارت کي نه رمل کوي او نه دي د طواف څخه وروسته رمل کوي او کوم څوک

چي دغه دواړه شيان ونه کړي نو بيا په طواف زيارت کي دي رمل هم وکړي او د هغه وروسته دي سعي هم وکړي.

## د محرم لپاره منع شيان کله جائز کيږي

﴿۲۵۵۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَمٰى أَحَدُكُمْ

د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو

جَمْرَةَ الْعَقَبَةَ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلاَّ النِّسَاءَ. رواه في شرح السنة وقال:

إسناده ضعيف، وفي رواية احمد والنسائي عن ابن عباس قال اذا رمى

الجمرة فقد هل له كل شئ الا النساء.

څوک د جمره عقبه رمي کوي نو د هغه لپاره هر شی حلال سي پرته د هغه د ښځي څخه. شرح السنة.

**تخريج**: شرح السنة ۱۷ \ ۲۱۰، رقم: ۱۹۶۲.

## د رسول الله ﷺ رمي

﴿۲۵۵۷﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ أَفَاضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ په آخري وخت کي

حِينَ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مِنًى فَمَكَثَ بِهَا لَيَالِيَ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ يَرْمِي

د ماپښين د لمانځه وروسته طواف وکړ، ددې وروسته منا ته راغلی او په منا کي يې د تشريق ورځي تيري کړې، په دې ورځو کي به رسول الله ﷺ جمرې ويشتلې

الْجَمْرَةَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ كُلَّ جَمْرَةٍ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ

چي زوال به سو هره جمره به يې په اوو ډبرو ويشتل او په هر وار ويشتلو به يې الله اکبر وايه، او

وَيَقِفُ عِنْدَ الْأُولَى وَالثَّانِيَةِ فَيُطِيلُ الْقِيَامَ وَيَتَضَرَّعُ وَيَرْمِي الثَّالِثَةَ فَلَا

يَقِفُ عِنْدَهَا. رواه ابوداؤد

په لومړني او دويمي جمرې باندې تر ډېره وخته پورې ودريدی او په عجز سره يې دعاء غوښتل او د دريمې جمرې په ويشتلو سره به راتلی او د هغې سره به نه دريدی. ابوداؤد.

**تخريج:** ابوداود في السنن ۲\۴۹۷، رقم: ۱۹۷۳.

**تشريح:** دغه حديث ددې خبرې ځرګند دليل دی چې رسول الله ﷺ د لسم ذي الحجې د ماپښين لمونځ په مکه کې وکړ په منی کې يې ونه کړ.

فلا يقف عندها: ددې مطلب دا نه دې چې رسول الله ﷺ د جمره عقبه سره يا د هغه ځخه وروسته ذکر او دعاء نه کول بلکه مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به څرنګه دعاء او ذکار د جمره اولی او جمره وسطی سره تر ډېر وخته پورې کول همدارنګه به د دعاء او اذکارو لپاره د جمره عقبه سره نه دريدی بلکه هلته به يې په تلو سره دعاء وغيره کول.

## په جمرات کې د تقديم او تاخير مسئله

﴿۲۵۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَخَّصَ رَسُولُ

حضرت ابو البداح بن عاصم بن عدي د خپل پلار ځخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ د اوښانو

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ

څرونکو ته رخصت ورکړې وو چې هغوئ د شپې په منا کې تم نه سي چې د قربانۍ په ورځ جمره

يَجْمَعُوا رَمْيَ يَوْمَيْنِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ فَيَرْمُوهُ فِي أَحَدِهِمَا. رواه مالك والترمذي والنسائي وقال الترمذي هذا حديث صحيح.

عقبه په ډبرو وولي. بيا د دوو ورځو رمي په يوه ورځ کې يو ځای کړي، وروسته تر ورځې د قربانۍ ځخه نو ودولي په يوه ورځ کې مالک، ترمذي، نسائي.

**تخريج:** الامام مالک في الموطا ۱\۴۰۸، رقم: ۲۱۸، والترمذي في السنن ۳\۲۸۹، رقم: ۹۵۵، والنسائي ۵\۲۷۳، رقم: ۳۰۶۹.

**د لغاتو حل:** لرعاء الابل في البيتوتة: ای في ترکها.

**تشريح:** علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چې د حديث مراد دادی چې رسول الله ﷺ شپنو ته اجازه ورکړې وه چې هغوئ د ايام تشريق په شپو کې په منی کې نه پاته کيږي ځکه چې هغوئ د خپلو حيوانانو په ساتنه وغيره کې بوخت وي او هغوئ ته يې ددې اجازه هم ورکړه چې هغوئ يوازې د

بقر عید په ورځ د جمره عقبه رمي وکړي ددې څخه وروسته په دوهمه ورځ یعني په یوولسم د ذي الحجې د جمرات رمي ونه کړي بلکه په دریمه ورځ یعني په دوولسم د دواړو ورځو رمي یو ځای وکړي همدا رنګه د یوولسم رمي خو به د قضا په توګه وي او د دولسم به ادا وي.

په دې باره کي مسئله داده چي د امامانو په نزد د اختر په دوهمه ورځ د رمي تقدیم جائز نه دي یعني که یو څوک د اختر په دوهمه ورځ رمي وکړي نو دا به صحیح نه وي مګر تاخیر صحیح دی چي د دوهمي ورځي هم په دریمه ورځ سره کیدای سي لکه څرنګه چي پورته ذکر سول.

============

# بَابُ مَا يَجْتَنِبُهُ الْمُحْرِمُ

## هغه شیان چي د محرم (احرام تړونکي) ځان ساتل ځیني پکار دي

لکه څرنګه چي مخکي ښوول سوي دي چي د احرام تړلو څخه وروسته یو څو شیان داسي دي چي پر محرم باندي حرام کیږي او د هغه شیانو څخه د محرم لپاره پرهیز ضروري دی بیا په هغو کي ځیني شیان داسي دي چي د هغو په کولو سره دم یعني د څاروي ذبح کول نه واجبیږي نو په دغه باب کي د هغه شیانو ذکر دی چي د هغو څخه د محرم ځان ساتل پکار دي او ضمنا هغه شیان هم ذکر کیږي کوم چي د محرم لپاره مباح دي.

دلته په دې خبره پوهېدل پکار دي چي د کومو شیانو په کولو سره صدقه واجبیږي په هغو کي ځیني شیان داسي دي چي د هغه په وجه د صدقې په توګه نصف صاع د غنم یا یو صاع د اوربشو ورکول واجبیږي او ځیني شیان داسي دي چي په هغه کي د صدقې مقدار تر دې هم کم دی او ځیني شیان داسي دي چي په هغو کي د یو غیر معین شي لږ صدقه ورکول واجبیږي.

## اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

### هغه شیان چي محرم ته یې اغوستل منع دي

﴿۲۵۵۹﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ رَسُولَ اللّٰهِ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ

د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي محرم (احرام تړونکی) کوم ډول جامې اغوستلای سي؟

مِنَ الثِّيَابِ فَقَالَ لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: محرم دي نه قميص اغوندي، نه دي لنګوټه تړي، نه دي پرتوګ اغوندي، نه دي

الْبَرَانِسَ وَلَا الْخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لَا يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا

خولۍ پر سر کوي، نه دي باراني کالي اغوندي او نه دي موزې په پښو کوي مګر د کوم چا سره چي څپلۍ نه وي هغه دي موزې په پښو کړي مګر

أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلَا وَرْسٌ

تر بجلکو پوري دي يې پريکړي او نه دي يو داسي جامه اغوندي چي په هغه کي زعفران او ورس (يو ډول خوشبودار واښه) لګېدلي وي.

متفق عليه وَزَادَ الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ وَلَا تَنْتَقِبُ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ.

بخاري او مسلم. او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي محرمه ښځه دي نقاب نه اچوي او نه دي دست کلې په لاس کوي.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۴۰۱، رقم: ۱۵۴۲، ومسلم ۲\ ۸۳۴، رقم: ۱- ۱۱۷۷.

**د لغاتو حل**: البرانس: قلنسوة طويلة (اوږده خولۍ). وَرس: نبت اصفر يكون باليمن تتخذ منه الغمرة للوجه. (يو ډول خوشبويي).

**تشريح**: د قميص، کرتۍ او پرتوګ اغوستلو څخه مراد داسي اغوستل دي لکه څرنګه چي په عامه توګه سره دغه شيان اغوستل کيږي لکه قيمص او کرتۍ په غاړه کي اچولو سره اغوندي يا پرتوګ په پښو کي اچولو سره اغوستل کيږي د احرام په حالت کي دغه شيان په داسي ډول اغوستل منع دي مګر که يو محرم دغه شيان په رواجي طريقه د اغوستلو پر ځای پر بدن باندي د څادر په ډول واچوي نو دا منع نه دي ځکه په دغه صورت کي دا نه سي ويل کيدای چي هغه قميص او کرتۍ اغوستي دي يا پرتوګ يې اغوستي دي، برنس هغه اوږدې خولۍ ته هم وايي چي عربو به پر سر کولې او برنس هغه جامې ته هم وايي چي د هغه يو څه برخه د خولۍ کار

ورکوي لکه کوټ او داسي نور، نو د برنس نه اغوستلو څخه مراد دادی چي داسي هیڅ شی مه اغوندی کوم چي سر پټ کړي که هغه خولۍ وي او که کوټ یا بل شی وي، مګر کوم شیان چي داسي وي چي هغه په عام رواج کي د اغوستلو اطلاق نه کیږي مثلا پر سر باندي کونډري وغیره ایښودل یا پر سر باندي پنډوکي پورته کول نو په دغه صورت کي څه پروا نه سته.

هغه موزې چي د دواړو تلیو لاندي څخه پرې وي دلته د تلي څخه مراد امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد هغه هډوکی دی چي د پښي د شا په مینځ کي وي او د امام شافعي رحمه الله په نزد هغه متعارف تلی دی چي د هغه په اوداسه کي پریولل فرض دي.

په دې باره کي د علماؤ اختلافي اقوال دي چي د کوم چا سره څپلۍ نه وي او هغه موزې په پښو کړي نو ایا پر هغه باندي فدیه واجبیږي که یا، امام مالک او امام شافعي وایي چي پر هغه هیڅ شی نه واجبیږي مګر د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد پر هغه فدیه واجبیږي لکه څرنګه چي دغه مسئله ده که چیري د احرام په حالت کي یو چا ته د سر خریلو ضرورت پیښ سي نو هغه دي سر وخریي او فدیه دي ادا کړي.

ورس، د یو ډول وښو نوم دی چي د ژړ رنګ او زعفرانو مشابه دي، ددغه واښو څخه به د رنګ کولو کار اخیستل کیدی زعفران او د هغه په رنګ سره رنګ سوي جامو اغوستلو څخه ځکه منع فرمایل سوې ده چي په دې کي خوشبویي وي.

محرمه ښځه دي نقاب نه اچوي: ددې مطلب دادی چي هغه دي خپل مخ په برقه او نقاب سره نه پټوي مګر که چیري هغه د پردې په وجه په یو داسي شي سره خپل مخ پټ کړي چي د مخ څخه بېل وي نو جائز دي همدارنګه د حنیفه په نزد سړي ته هم د ښځي په ډول د احرام په حالت کي مخ پټول حرام دي، د امام مالک او امام احمد مذهب هم د یوه روایت مطابق دادی او د امام شافعي رحمه الله مذهب ددې خلاف دی.

په کجاوه کي ناسته منعه ده په شرط ددې چي سر په کجاوه کي وي که سر په کجاوه کي نه وي نو بیا په هغه کي ناسته منع نه ده همدارنګه که د کعبې پرده یا خیمه په سر کي لګیږي نو بیا په هغه کي ناسته منع ده او که په سر کي نه لګیږي نو منعه نه دي.

﴿۲۵۶۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَخْطُبُ وَهُوَ يَقُوْلُ إِذَا لَمْ يَجِدِ الْمُحْرِمُ نَعْلَيْنِ لَبِسَ خُفَّيْنِ وَإِذَا لَمْ يَجِدْ إِزَارًا لَبِسَ سَرَاوِيلَ. متفق علیه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په خطبه کي دا اوريدلي دي که چيري محرم څپلۍ تر لاسه نه کړي نو موزې دي په پښو کړي او که لونګ تر لاسه نه کړي نو پرتوګ دي واغوندي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۵۷، رقم: ۱۸۴۱، ومسلم ۲\۸۳۵، رقم: ۴- ۱۱۷۸.

**تشريح**: د موزو د استعمال په باره کي خو په تېر حديث کي ښودل سوي دي که چيري څپلۍ نه وي نو موزې په پښو کولای سي مګر داسي چي هغه د لاندي څخه پرې سوي وي او همدارنګه که چيري لونګ نه وي نو محرم پرتوګ اغوستلای سي په دغه صورت کي د امام شافعي رحمه الله په نزد پر هغه هيڅ نه واجبېږي مګر د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادی چي لونګ نه وي نو د پرتوګ په څيرلو سره دي هغه د لونګ په صورت کي وتړل سي او که يو څوک هغه په څېرلو سره استعمال نه کړي بلکه پرتوګ واغوندي نو پر هغه دم يعني د څاروي ذبح کول واجبېږي.

﴿۲۵۶۱﴾: وَعَنْ يَعْلِيْ ابْنِ اُمَيَّةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت يعلي بن امية رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو،

بِالْجِعِرَّانَةِ اِذْ جَاءَ رَجُلٌ اَعْرَابِيٌّ عَلَيْهِ جُبَّةٌ وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوْقِ فَقَالَ

په جعرانه نامي ځای کي يو صحرايي سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو چي قميص يې اغوستی وو او په خلوق (يو ډول خوشبويي) يې لړلی وو، هغه وويل:

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ اَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ وَهٰذِهٖ عَلَيَّ فَقَالَ اَمَّا الطِّيْبُ الَّذِيْ بِكَ

اې د الله رسوله! ما د عمرې احرام په داسي حال کي تړلی دئ چي دا قميص زما پر بدن وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا پر بدن چي کومه خوشبويي لګېدلې ده

فَاغْسِلْهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَاَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِيْ عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِيْ حَجِّكَ. متفق عليه

هغه درې واره پرېوله او قميص د بدن څخه وکاږه بيا د عمرې په احرام کي هم داسي وکړه لکه څرنګه چي د حج په احرام کي کوې. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۳۹۳، رقم: ۱۵۳۶، ومسلم في الصحيح ۲\۸۳۶، رقم: ۶- ۱۱۸۰.

**د لغاتو حل**: الخَلوق: نوع من الطيب (يو ډول خوشبويي).

**تشريح**: د زعفرانو استعمال د نارينوو لپاره حرام دي او خلوق به د زعفران څخه جوړېدل ځکه رسول الله ﷺ هغه سړي ته دا حکم وکړ چي هغه پريولي او دري واره د پريوللو حکم يې ځکه ورکړ چي هغه په ښه ډول ليري سي کنه نو اصل مقصد خو دا وو چي خلوق بالکل پاک کړه که هغه په هر څومره واره کي پاک سي.

د حديث د آخري جملې مقصد دادی چي کوم شيان د حج د احرام په حالت کي منع دي هغه د عمرې په حالت کي هم منع دي ځکه نو ته د عمرې د احرام په حالت کي د هغه ټولو شيانو څخه پرهېز کوه د کومو شيانو څخه چي د حج د احرام په حالت کي پرهېز کيږي.

مسئله: د احرام په حالت کي بېله خوشبويي رانجه لګول جائز دي په شرط د دې چي په هغه سره زيب او ښکلا مقصد نه وي که يو څوک د ښکلا او زينت څخه پرته خوشبويي استعمال کړي نو مکروه به وي.

دلته په دې خبره پوهېدل پکار دي چي کوم شيان د احرام په حالت کي حراميږي د هغو کول که چيري په قصد سره وي په اتفاق سره د ټولو علماؤ د هغه په وجه په پر کونکی باندي فديه لازميږي مګر که چيري په هېره سره وي نو فديه نه واجبيږي لکه څرنګه چي د امام شافعي، ثوري، احمد او اسحاق مذهب دی البته د امام ابو حنيفة او امام مالک په نزد په دغه صورت کي فديه واجبيږي.

## د احرام په حالت کي د نکاح کولو مسئله

﴿۲۵۶۲﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكَحُ وَلَا يَخْطُبُ. رواه مسلم.

د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: محرم دي نه نکاح کوي او نه دي په نکاح ورکول کيږي او نه د نکاح پيغام وليږل سي. مسلم

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۱۰۳۰/۲، رقم: ۴۱-۱۴۰۹.

**تشريح**: د امام شافعي رحمه الله او اکثرو علماؤ په نزد خپله نکاح کول يا د بل چا نکاح کول د مکروه تحريمي په توګه دي او د کوزدې کولو منع د مکروه تنزيهي په توګه دي د دغه حضراتو په نزد د احرام په حالت کي منع يوازي د مکروه تنزيهي په توګه وي د هغوئ دليل دادی چي

رسول الله ﷺ د احرام په حالت كي د بي بي ميموني سره نكاح كړې ده.

﴿۲۵۶۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُوْنَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام په حالت كي د بي بي ميموني سره نكاح وكړل. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۵۱، رقم: ۱۸۳۷، ومسلم ۲\۱۰۳۱، رقم: ۴۶- ۱۴۱۰.

﴿۲۵۶۴﴾: وَعَنْ يَّزِيْدَ ابْنِ الْاَصَمِّ ابْنِ اُخْتِ مَيْمُوْنَةَ عَنْ مَيْمُوْنَةَ أَنَّ رَسُوْلَ

حضرت يزيد بن اصم رضي الله عنه يعني د بي بي ميموني خوريې د بي بي ميموني څخه روايت كوي چي هغې وويل: رسول الله ﷺ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ. رواه مسلم، قال الشيخ

د هغې سره په داسي حال كي نكاح وكړل چي رسول الله ﷺ حلال وو (يعني د احرام په حالت كي نه وو.) مسلم.

الامام محي السنة رحمه الله والاكثرون على انه تزوجها حلالا و ظهر امر تزويجها وهو محرم ثم بنى بها وهو حلال بسرف في طريق مكة.

امام محي السنة وايي رسول الله ﷺ د بي بي ميموني سره په داسي حال كي نكاح وكړه چي په احرام كي نه وو مګر د نكاح خبر هغه وخت ښكند سو چي رسول الله ﷺ په احرام كي وو، بيا رسول الله ﷺ د هغې سره په داسي حال كي صحبت وكړ چي محرم نه وو، د صحبت ځاى سرف دئ چي د مكې مكرمې په لاره كي واقع دئ.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۳۲، رقم: ۴۸- ۱۴۱۱.

**تشريح**: مظاهر حق په يو ځاى كي ويلي دي چي سرف د يوم ځاى نوم دى او هغه د مكې مكرمې څخه تقريبا شپږ ميله ليري دى او د مقام تنعيم څخه شمال ته درې يا څلور ميله فاصله

باندي واقع دی ، دلته يې يو تاريخي اتفاق ذکر کړی دی هغه دا چې د رسول الله ﷺ د ميمونې سره په سرف کي نکاح وسوه دا هغه وخت وو چې د عمرة القضاء لپاره مکې تللي وه او په دغه وخت د احرام په حالت کي وه او د هغې د واده شپه په هغه وخت کي وسوه چې کله د عمرې څخه فارغه سوه او مدينې ته ستنېدل او بيا د دې انتقال هم په هغه ځای کي وسو .

په هر حال دغه حديث چې د بي بي ميمونې خوريي (د خور زوی) يزيد روايت کړی دی د ابن عباس رضي الله عنه روايت د دې بالکل خلاف دی کوم چې مخکي نقل سوی دی د ابن عباس رضي الله عنه روايت خو دا خبره ثابتوي چې رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې سره د احرام په حالت کي نکاح کړې وه او د يزيد روايت پر دې دلالت کوي چې د بي بي ميمونې سره د رسول الله ﷺ نکاح هغه وخت سوې وه کله چې رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي نه وو همدا رنګه په دغه دواړو روايتو کي تعارض پيدا سوی دی ، احناف د ابن عباس رضي الله عنه روايت ته ترجيح ورکوي اول خو په دې وجه چې ابن عباس رضي الله عنه د خپل علم او فضل ، حافظې او فقهي په اعتبار پر يزيد ډير زيات لوړ دی دوهم دا چې د ابن عباس رضي الله عنه روايت بخاري او مسلم دواړو نقل کړی دی او د يزيد روايت يوازي مسلم نقل کړی دی .

اوس پاته سوه دا خبره چې د حضرت عثمان رضي الله عنه په روايت کي د احرام په حالت کي د نکاح کولو منع منقول ده په دې باره کي حنفي علماء ليکي چې د دغه منع څخه مراد دا نه دی چې نکاح کول قطعا ناجائز يا حرام ده بلکه د دې مقصد ظاهرول دي چې محرم په يو عبادت کَي بوخت وي ځکه د هغه د شان او حال مناسب نه دي چې هغه خپله نکاح وکړي يا د بل چا نکاح وکړي د دغه حديث په تشريح کي دا وضاحت سوی وو چې دلته د دغه منع مطلب مکروه تنزيهي دی .

د امام محي السنة دغه الفاظ : وظهر امر تزويجها وهو محرم، د بي بي ميمونې سره د رسول الله ﷺ د نکاح عام اظهار هغه وخت وسو کله چې رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي وو ، دا په اصل کي د شوافع له خوا د ابن عباس رضي الله عنه د روايت چې رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې سره په داسي حالت کي نکاح وکړه چې رسول الله ﷺ احرام تړلی وو د دې تاويل دا دی چې رسول الله ﷺ هغه وخت نکاح تړلې وه کله چې د احرام په حالت کي نه وو مګر د دغه نکاح علم خلکو ته هغه وخت وسو کوم چې رسول الله ﷺ احرام تړلی وو يعني امام محي السنه دا ظاهرول غواړي چې ابن عباس رضي الله عنه ته د دې علم هغه وخت وسو کله چې رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي وو ځکه هغه دا وګڼل چې رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي نکاح کړې ده حالانکه د شوافع له خوا د ابن عباس رضي الله عنه د روايت د تاويل د تکلف څخه زيات هيڅ حيثيت نه لري .

## په احرام کي سر پريولل

﴿۲۵۶۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْسِلُ رَاْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ. متفق عليه.

د حضرت ابو ايوب انصاري ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په احرام کي خپل سر مبارک پريولئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۵۵، رقم: ۱۸۴۰، ومسلم ۲\ ۸۶۴، رقم: ۹۱- ۱۲۰۵.

**تشريح**: بېله اختلافه د محرم لپاره دا جائز دي چي هغه خپل سر پريولي مګر داسي چي د سر وېښتان مات نه سي مګر که چيري په ګل حطمي سره يې پريولي نو د امام ابوحنيفة او امام مالک په نزد پر هغه دم يعني د څاروي ذبح کول واجبيږي نه يوازي دا چي خطمي د خوشبويي څخه دی بلکه دديې په لګولو سره شپږي وي البته داسي صابون چي خوشبويي نه لري يا د بيري په بلګو او داسي نورو شيانو سره د سر پريوللو په صورت کي په اتفاق سره د ټولو علماؤ پر هغه څه نه واجبيږي.

## په احرام کي وينه کښل

﴿۲۵۶۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِحْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د احرام په حالت کي ښکر وهئ (يعني وينه به يې کښل). بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۵۰، رقم: ۱۸۳۵، ومسلم ۲\ ۸۶۲، رقم: ۸۷- ۱۲۰۲.

**تشريح**: د اکثرو علماؤ په نزد د احرام په حالت کي وينه کښل جائز دي په شرط دديې چي وېښته مات نه سي.

## په سترګو کي دوا اچول

﴿۲۵۶۷﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ حَدَّثَ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ إِذَا اشْتَكَى عَيْنَيْهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ ضَمَّدَهُمَا بِالصَّبِرِ. رواه مسلم

د حضرت عثمان ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي په اړه وفرمايل: كه د احرام په حالت كي د هغه سترګي خوږ سي نو مصبر دي په ووهي. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۸٦۳، رقم: ۸۹- ۱۲۰۴.

**د لغاتو حل**: الصَبِر: وهو دواء معروف (يو ډول درمل).

**تشريح**: په تاج المصادر كي د تضميد معنى پوري كول ليكلي دي مګر ځيني علماء ددې معنى په سترګو كي دننه لګول ليكي يعني څرنګه چي رانجه لګول كيږي همداسي هغه دي په خپلو سترګو كي مصبر ولګوي.

او علامه طيبي ﷫ ليكلي دي چي تضميد پر زخم باندي پټى لګولو ته وايي همدارنګه پر زخم باندي دواء لګولو ته هم تضميد وايي.

دا خبره مخكي ښودل سوې ده چي محرم ته بېله خوشبويي رانجه لګول جائز دي او ددې په وجه د جزاء په توګه يو شى نه واجبيږي په شرط ددې چي زينت او ښكلا مقصد نه وي ځكه چي زينت او ښكلا لپاره رانجه لګول مكروه دي، دلته د خوشبويي لرونكو رانجو په باره كي په دې تفصيل پوه سئ كه چيري په رانجه كي كمه خوشبويي وي نو د هغه په لګولو سره يوازي صدقه كول واجبيږي او كه چيري خوشبوئي يې زياته وي نو په داسي رانجو لګولو باندي دم يعني د حيوان حلالول واجبيږي، همدارنګه دا مسئله ده كه يو محرم د خپل سر او مخ څخه پرته بل يو اندام باندي پټى وتړي نو پر هغه كه څه هم د جزا په توګه څه نه واجبيږي مګر دا مكروه دي او كه يو محرم د خپل سر او مخ پر څلورمه برخه باندي يا تر دې ياته برخه باندي يو جامه وغيره سره پټ كړي نو پر هغه دم لازميږي او كه د څلورمي برخي څخه كمه پټه كړي نو يوازي صدقه واجبيږي.

## د احرام په حالت كي پر سر د سايه كولو مسئله

﴿۲۵٦۸﴾: وَعَنْ اُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ رَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ

د حضرت ام حصين ﷷ څخه روايت دئ چي ما اسامه ﷛ او بلال ﷛ وليدل چي په هغوئ كي

بِخِطَامِ نَاقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ يَسْتُرُهُ مِنَ الْحَرِّ حَتّٰى رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. رواه مسلم

يوه د رسول الله ﷺ د اوښې مهار نيولى وو (يعني بلال) او دويم (اسامه) د رسول الله ﷺ پر سر مبارک په جامې سره سايه کړې وه کله چې رسول الله ﷺ جمره عقبه په ډبرو ويشتل. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\ ۹۴۴، رقم: ۳۱۲- ۱۲۹۸.

**تشريح**: حضرت اسامه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر سر مبارک داسې سايه کړې وه چې هغه جامه د پورته والي په وجه د رسول الله ﷺ د سر مبارک سره نه لګېدل او په يوه روايت کې دادي چې هغه د سايه کولو لپاره د رسول الله ﷺ پر سر مبارک د سايوان په ډول يو شى پورته کړى وو.

د دغه حديث څخه معلومه سوه چې د محرم لپاره دا جائز دي چې هغه پر خپل سر باندې د يو شي سايه وکړي په شرط د دې چې سايه کونکى شى د هغه پر سر و نه لګيږي د اکثرو علماء دا قول دى مګر امام مالک او امام احمد دې ته مکروه ويلي دي.

## د سر خريلو جزا

﴿۲۵۶۹﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ

د حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د هغه سره تير سو کوم وخت چې

بِالْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَهُوَ يُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ وَالْقَمْلُ

هغه په حديبيه کې وو او مکې ته نه وو داخل سوى او کعب هغه وخت د احرام په حالت کې وو او د کټوې لاندې يې اور بلوئ او سپږې به

يَتَهَافَتُ عَلَى وَجْهِهِ فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ رَأْسَكَ

پر مخ رالوېدلې، نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه ايا سپږې تکليف درکوي؟ هغه وويل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خپل سر وخريه

وَأَطْعِمْ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ وَالْفَرَقُ ثَلَاثَةُ آصُعٍ أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ انْسُكْ نَسِيكَةً. متفق عليه

او يو فرق خوراک په شپږو مسکينانو وخوره (فرق درې صاع وي) او يا درې ورځې روژه ونيسه يا يو حيوان د حلالولو وړ حلال کړه. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\ ۱۲، رقم: ۱۸۱۴، ومسلم ۲\ ۸۶۱، رقم: ۸۳- ۱۲۰۱.

**تشریح**: کعب ابن عجره ﷺ یو جلیل القدر صحابي دی د صلح حدیبیه پر موقع دی هم موجود وو دده د اسلام قبلولو واقعه ډېره په زړه پوري هم ده او ډېر عبرتناکه هم، ویل کیږي چي دده سره یو بت وو چي د هغه عبادت یې کوی عباده ابن صامت ﷺ دده ملګری وو یوه ورځ عباده کعب ته راغلی نو هغه یې ولیدی چي کعب د بُت عبادت کولو څخه وروسته د کور څخه وتلی دی نو په عباده په کور کي داخل سو او هغه بت یې مات کړی کله چي کعب کور ته راغلی نو وه یې لیدل چي بت مات پروت دی هغه ته معلومه سوه چي دا حرکت د عباده دی ډېر په غضب سو وه یې غوښتل چي عباده ته بد او رد ووایي مګر په زړه کي یې خیال پیدا سو که چیري دغه بت ته څه قدرت حاصل وای نو ځان به یې ژغورلای وای نو دا خیال یې په زړه کي وو چي د کفر او شرک تیاره ځیني لیري سوه او د ایمان او صداقت نور د هغه د زړه او دماغ یوه یوه ذره منور کړل او همدارنګه په اسلام مشرف سو، ریښتیا وایي الله تعالی چي څوک هدایت یافته جوړوي نو هغه ته د هدایت توفیق ورکړي.

په هر حال ددغه حدیث څخه دا مسئله معلومه سوه که یو محرم د یو عذر مثلاً شپږي، زخم، سردرد وغیره په وجه خپل سر وخریي نو هغه ته اختیار دی چي د جزا په توګه په شپږو مسکینانو خوراک وخوري په دې توګه چي هر مسکین ته نیم نیم صاع غنم ورکړي او که درې ورځي روژې نیسي او که څاروی ذبح کوي، دا حدیث ددغه آیت کریمه تفسیر دی:

فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضاً أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ،

ژباړه: که په تاسو کي څوک ناروغ وي یا د هغه په سر کي تکلیف وي او هغه خپل سر وخریي نو هغه دی د فدیې په توګه یا خو روژې ونیسي یا دي صدقه وکړي یا دي قرباني وکړي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### په احرام کي د ښځو لپاره منع شیان

﴿۲۵۷۰﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى النِّسَاءَ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي ښځي یې د

فِي إِحْرَامِهِنَّ عَنِ الْقُفَّازَيْنِ وَالنِّقَابِ وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ

احرام په حالت کي ددې څخه منع کولې چي هغوئ داسي دست کلې، نقاب او جامې نه

واغوندي چي ورس يا زعفران پر لگېدلی وي

الثِّيَابِ وَلْتَلْبَسْ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا أَحَبَّتْ مِنْ أَلْوَانِ الثِّيَابِ مُعَصْفَرٍ أَوْ خَزٍّ أَوْ حُلِيٍّ أَوْ سَرَاوِيلَ أَوْ قَمِيصٍ أَوْ خُفٍّ . رواه ابوداؤد .

او د احرام څخه د حلالېدو وروسته چي هغوئ څه غواړي اغوستلای سي ، يعني رنگينه جامو كي كه رنگ سوې وي يا ريښم وي ، زيور وي ، پرتوگ وي ، قميص وي يا موزه وي . ابوداؤد

**تخريج** : ابوداود في السنن ۲\۴۱۲، رقم: ۱۸۲۷.

**تشريح** : بعد ذالک (ددې څخه وروسته) : ددې مطلب شيخ عبدالحق دهلوي رحمة الله عليه د احرام څخه د وتلو وروسته ليکلی دی مگر ملا علي قاري رحمة الله عليه دا معنی ليکلې ده چي ددغه پورتنيو شيانو څخه وروسته يعني په حديث کي چي د کومو شيانو د استعمال څخه منع سوې ده د هغو څخه پرته بل ډول جامه هم که وغواړي اغوستلای سي .

او ملا علي قاري رحمة الله عليه دا هم ليکلي دي چي د بعد ذالک دا معنی اخيستلو په صورت کي د حديث څخه په ظاهره دا معلومېږي چي د احرام په حالت کي د زعفران رنگ سوې جامه اغوستل منع دي مگر د کسم رنگ سوې جامه اغوستل منع نه دي حال دا چي د حنفيه په مذهب کي د احرام په حالت کي څرنگه چي زعفراني جامه اغوستل منع دي همدارنگه د کسم رنگ سوې جامه اغوستل هم منع دي ، په خزانة الاکمل او ولوالجي او د فقهي په نورو کتابو کي دا ليکلي دي که محرم د زعفران يا کسم رنگ سوې جامه يوه ورځ واغوستل نو پر هغه باندي د جزاء په توگه دم واجبېږي او که د يوې ورځي څخه يې کمه واغوستل نو صدقه لازمېږي ، نو غوره دادي چي د بعد ذالک هغه معنی مراد واخيستل سي کوم چي شيخ عبدالحق رحمة الله عليه ليکلې ده يا دا تاويل وکړل سي چي په حديث کي د کسم هغه رنگ سوې جامه مراد ده کوم چي پريولل سوې وي او په هغه کي خوشبويي پاته نه وي ، علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي د حديث په آخر کي د جامو سره د زيوراتو ذکر مجازا سوی دی .

### په احرام کي د ښځو لپاره پرده

﴿۲۵۷۱﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د احرام په حالت کي وو او

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ

زموږ په خوا كي قافلې تيريدلې كله چي به يوه قافله تيرېدل نو په موږ كي به چا خپل څادر پر سر اچوئ او موږ ټولو به مخونه پټ كړل

رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ. رواه ابوداؤد و لابن ماجة معناه.

بيا چي به قافله تيره سوه نو موږ به مخونه لوڅ كړل. ابوداؤد او ابن ماجه.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۴۱۶، رقم: ۱۸۳۳، وابن ماجه بمعناه ۲\۹۷۹، رقم: ۲۹۳۵.

## په احرام كي د خوشبويي لرونكي تيلو استعمال منع دى

﴿۲۵۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدَّهِنُ بِالزَّيْتِ وَهُوَ مُحْرِمٌ غَيْرِ الْمُقَتَّتِ يَعْنِيْ غَيْرَ الْمُطَيَّبِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د احرام په حالت كي د زيتون هغه تيل استعمالول په كوم كي چي به خوشبويي نه وه. ترمذي.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\۲۹۴، رقم: ۹۶۲.

**تشريح**: مقتت هغه تېلو ته وايي چي په هغه كي د خوشبوداره ګلونو په اچولو سره پاخه كړل سي چي هغه تېل خوشبوداره سي يا په هغه تېلو كي يو خوشبوداره تيل وغيره ګډ كړل سي.

د احرام په حالت كي د خوشبوداره تيلو استعمال مكروه دى ددې تفصيل دادى چي كه د يو اندام پر پوره برخه باندي يا پر ټول اندام باندي د ګلاب تېل، د بنفشه تېل يا دا ډول نور خوشبوداره تيل ولګوي نو د حنفيه په نزد په اتفاق سره پر هغه دم يعني د څاروي ذبح كول واجبيږي او كه د زيتون يا داسي نور تيل چي په هغه كي خوشبويي نه وي په زياته اندازه ولګول سي نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په دغه صورت كي هم دم واجبيږي او د صاحبينو يعني امام ابويوسف او امام محمد په نزد صدقه واجبيږي مګر دغه اختلاف په هغه صورت كي دى كله چي دوا ړه تيل د خوشبويي څخه بالكل خالي او د يو خوشبودار ګلونو څخه پاخه سوې نه وي ځكه كه چيري د زيتون په تيلو كي خوشبويي ګډه سوې وي يا په هغه كي خوشبوداره ګل اچولو سره پاخه سوې وي نو بيا د ټولو په نزد د هغه د استعمال په وجه دم واجبيږي همدارنګه دغه

اختلاف په هغه صورت کي هم دی کله چي دغه تيل په زياته اندازه کي ولګول سي او که کم ولګول سي نو په اتفاق سره د ټولو په نزد د هغه په استعمال سره يوازي صدقه واجبيږي.

په دې خبره هم پوه سئ چي ددغه تيلو د استعمال په وجه دم يا صدقه هغه وخت واجبيږي کله چي هغه محض د خوشبويي په خاطر استعمال کړل سي او که چيري هغه د دواء په توګه استعمال کړل سي نو بيا په اتفاق سره هيڅ هم نه واجبيږي ، د مشک او نورو خوشبويي لرونکو شيانو د استعمال مسئله ددې څخه مختلف ده چي د هغه په استعمال سره په هر صورت دم واجبيږي که د خوشبويي لپاره استعمال کړل سي او که د دواء لپاره.

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د ګنډل سوو جامو اغوستل

﴿۲۵۷۳﴾: عَنْ نَّافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ وَجَدَ الْقُرَّ فَقَالَ اَلْقِ عَلَيَّ ثَوْبًا يَا نَافِعُ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د ابن عمر رضي الله عنه يخ وسو نو ما ته يې وويل اې نافع پر ما

فَأَلْقَيْتُ عَلَيْهِ بُرْنُسًا فَقَالَ تُلْقِي عَلَيَّ هَذَا وَقَدْ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَهُ الْمُحْرِمُ . رواه ابوداؤد .

جامه واچوه، ما باراني جامه پر واچول هغه وويل : ايا تا پر ما باندي باراني تلتک واچوئ حال دا چي رسول الله ﷺ ددې د استعمال څخه منع فرمايلې ده . ابوداؤد .

**تخريج** : سنن ابي داود ۲\۴۱۳، رقم: ۱۸۲۸.

**د لغاتو حل** : القر : اى البرد (يخ).

**تشريح** : د حنفيه مذهب دادی چي د ګنډل سوو جامو داسي استعمالول لکه څرنګه چي په عامه توګه استعماليږي د محرم لپاره منع دي او بل ډول ممنوع نه دي مثلاً کوټ په عامه توګه اغوستل کيږي که يو محرم يې نه واغوندي بلکه داسي يې پر بدن واچوي نو په هغه کي څه حرج نه سته لکه څرنګه چي په دې باره کي مخکي ذکر سوی دی ، ابن عمر رضي الله عنه د کوټ څخه ځکه منع وفرمايل چي هغه په خپل خيال سره د ګنډل سوو جامو څخه مطلقا پرهيز کوی يا دا چي نافع د هغه سر هم پټ کړی وو په دې وجه يې هغه منع کړ .

## د رسول الله ﷺ وینه کښل

﴿۲۵۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَالِكِ بْنِ بُحَيْنَةَ قَالَ احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ من طريق مكة فِي وَسَطِ رَأْسِهِ. متفق عليه

د حضرت عبد الله بن مالک بن بحینه رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي پر سر مبارک په لحي جمل نامي ځای کي چي د مکې په لاره کي واقع دئ ښکر ولګوئ. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۰\ ۱۵۲، رقم: ۵۶۹۸، ومسلم ۲\ ۸۶۲، رقم: ۸۸- ۱۲۰۳.

**تشریح**: مالک د عبد الله د پلار نوم دی او بحینه د هغه د مور نوم دی یعني ابن بحینه د حضرت عبد الله دوهم صفت دی ځکه عبد الله بن مالک په ابن بحینه کي د مالک په تنوین سره وايي او په ابن بحینه کي الف لیکل کیږي.

رسول الله ﷺ د سر مبارک په مینځ کي وینه وکښل نو د سر مبارک وېښتان به یې څه ناڅه خامخا مات سوي وي ځکه نو دغه حدیث پر ضرورت باندي محمول دی چي رسول الله ﷺ د یو عذر په وجه د سر مبارک څخه وینه کښلې وه که محرم په داسي ځای کي وینه ولګوي چي هلته وېښتان نه وي نو پر هغه فدیه نه واجبیږي.

مسئله: که مُحرم د سر وېښتان د څلورمي برخي څخه کم وخريي یا د وینه کښلو په وجه د هغه د سر د څلورمي برخي څخه کم وېښتان مات سي نو پر هغه صدقه واجبیږي یعني د جزاء په توګه دي به په اوړي باندي په ماړه نس خوراک خوري یا هغه ته دي نیم صاع غنم ورکړي او که یو محرم بېله عذره د څلورمي برخي سر څخه زیات وېښتان مات سي نو پر هغه دم واجبیږي یعني هغه به د جزا په توګه یو پسه یا د هغه په مثل څاروی ذبح کوي او که د یو عذر په وجه د څلورمي برخي څخه زیات وخريي یا د یو عذر په وجه وینه وکاږي او د هغه په وجه د څلورمي برخي سر څخه زیات وېښتان مات سي نو هغه به د دغه درو شیانو څخه یو شی اختیاروي ۱: یو پسه ذبح کړي، ۲: نیم صاع غنم دي د هر مسکین په حساب سره شپږو مسکینانو ته درې صاع غنم ورکړي ۳: یا درې ورځي روژې دي ونیسي پر له پسې یا جلا جلا.

که محرم د وینه کښلو په وجه د محاجم یعني وینه کښلو د ځای څخه وېښتان وخريي نو په دغه صورت کي د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد پر هغه دم واجبیږي او د صاحبینو په نزد صدقه د

ويني كښلو د ځای څخه د غاړي دواړي خواوي او څټ مراد دی ځکه يو څوک ټول څټ وخريي نو بيا په اتفاق سره د ټولو په نزد پر هغه دم واجبيږي او که کم يې وخريي نو صدقه واجبيږي .

﴿۲۵۷۵﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ احْتَجَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ عَلٰى ظَهْرِ الْقَدَمِ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهٖ. رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي د پښنو پر شا د درد له کبله پر هغو ښکر ووهئ . ابوداؤد او نسائي .

**تخريج**: سنن ابي داود ۲\۴۱۸، رقم: ۱۸۳۷، والنسائي ۵\۱۹۴، رقم: ۲۸۴۹.

**تشريح**: د پښې پر شا باندي وېښتان نه وي او د هغه ځای څخه په وينه کښلو سره د وېښتانو د ماتېدو سوال هم نه پيدا کيږي ځکه په دغه حديث کي څه اشکال نه سته او بيا دا چي رسول الله ﷺ د يو عذر په وجه وينه کښلې وه .

**د حضرت ميمونې ﷝ سره د رسول الله ﷺ نکاح**

﴿۲۵۷۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ تَزَوَّجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُوْنَةَ

د حضرت ابو رافع ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې سره په داسي حالت

وَهُوَ حَلَالٌ و بنى بها وهو حلال وَكُنْتُ اَنَا الرَّسُوْلُ بَيْنَهُمَا . رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن .

کي نکاح وکړه چي رسول الله ﷺ په احرام کي نه وو ، او په هغه حالت کي يې خلوت ورسره وکړه، او زه (ابورافع) د رسول الله ﷺ او بي بي ميمونې په منځ کي پيغام رسونکی وم . احمد، او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دئ .

**تخريج**: الامام احمد في المسند ٦\۳۹۲، والترمذي ۳\۲۰۰، رقم: ۸۴۱.

**تشريح**: دا حديث هم د ابن عباس ﷛ د هغه روايت خلاف دی چي په هغه کي نقل سوي وه چي رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې رضي الله عنها سره هغه وخت نکاح کړې وه کله چي د احرام په حالت کي وو ، په دې باره کي مخکي د يو حديث په تشريح کي بحث سوی دی ، دلته په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چي د ابن عباس ﷛ روايت بخاري او مسلم نقل کړی دی حال دا چي دغه

روایت په دغه دواړو کي هیڅ نقل کړی نه دی ځکه نو دغه روایت د ابن عباس رضي الله عنه د روایت مرتبې ته نه سي رسیدلای ځکه نو ترجیح به د ابن عباس رضي الله عنه حدیث ته وي.

===========

# بَابُ الْمُحْرِمِ يَجْتَنِبُ الصَّيْدَ

## د احرام په حالت کي د ښکار کولو منعه

د ټولو علماؤ په اتفاق سره ښکار کول یا په ښکار کولو کي د یو چا مرسته کول د محرم لپاره حرام دي، د ښکار حیوان وژل یا د هغه په وژلو کي مرسته کولو سره هم پر محرم باندي جزاء لازمیږي.

## د ښکار کفاره

د ښکار په وجه چي پر محرم باندي کومه جزاء یا کفاره لازمیږي د هغه څخه مراد هغه قیمت دی کوم چي دوه عادل او تجربه کاره کسان د هغه ښکار لپاره تجویز کړي او دغه قیمت یا خو د هغه ځای په اعتبار دی چیري چي هغه ښکار وژل سوی وي یا که چیري په هغه ځای کي یو قیمت نه وي نو د هغه ځای اعتبار به وي کوم چي د ښکار ځای ته نژدې وي ځکه د یو شي قیمت د مختلفو ځایو په اعتبار بدلیږي همدارنګه دغه قیمت به د هغه زمانې په اعتبار وي په کوم کي چي ښکار وژل سوی وي ځکه د یو شي قیمت په مختلفو وختو او زمانو کي بدلیږي، بیا په دې باره کي به محرم ته اعتبار وي که هغه د تجویز سوي قیمت سره د قربانۍ یو څاروی رانیسي او په حرم کي یې ذبح کړي او که په هغه قیمت سره د غلې په رانیولو سره هر فقیر ته ورکړل سي نو یو یو صاع دي وویشي هیڅ فقیر ته دي د دغه شمېر څخه کم نه ورکوي او که د هر فقیر په شمېر د صدقې په عوض کي یوه یوه روژه ونیسي او په دغه صورت کي دا خبره په ذهن کي ساتل پکار دي چي د ښکار جزاء په هر صورت کي واجبیږي که په قصد سره ښکار وکړل سي او که په سهوه سره.

که چیري محرم ښکار زخمي کړي او د هغه زخم څخه مړ سي یا د ښکار وینه راوکاږي یا د هغه یو اندام مات کړي نو د هغه ښکاره د روغتیا د حالت په قیمت کي چي په دې وجه څومره کمي راغلې ده هغه محرم ته ورکول پکار دي.

که یو محرم د یو ښکار لاس او پښې پرې کړي یا د هغه وزر وکاږي چي د هغه په وجه هغه د ساتني څخه معذور سي نو د هغه ښکار پوره قیمت به ورکوي که د هغه ښېدې ولویشي نو

د هغه ښېدو قیمت پر هغه واجبيږي همدارنگه که د هغه هگۍ ماته کړي نو د هغه قیمت به ورکوي. محرم ښکار وخوري که یې ونه خوري په دې باره کي تفصیل دادی چي د ټولو علماؤ په اتفاق سره مذهب دادی که یو محرم خپله ښکار وکړي یا بل څوک ښکار وکړي نو هغه ښکار د محرم لپاره خوړل حرام دي مگر که چیري دا صورت وي چي یو غیر محرم د ځان لپاره ښکار وکړي یاد محرم لپاره د هغه په اجازې سره یا د هغه د اجازې څخه پرته ښکار وکړي نو د هغه په خوراک کي د علماء مختلف قولونه او مذهبونه دي ځیني صحابه او تابعین چي په هغوئ کي حضرت علي رضی الله عنه هم دی وايي چي د محرم لپاره د ښکار خوړل حرام دي د هغوئ دلیل د صعب ابن جثامه رضی الله عنه روایت دی کوم چي دد غه باب په اول حدیث کي ذکر دی، د امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیهما مذهب دادی چي محرم خپله ښکار وکړي یا بل څوک د هغه لپاره یا د هغه په اجازه سره یا د هغه د اجازې څخه پرته ښکار وکړي نو د هغه لپاره د هغه ښکار خوړل حرام دي مگر که چیري یو غیر محرم د ځان لپاره ښکار وکړي او په هغه کي یو څه برخه محرم ته په تحفه کي واستوي نو د هغه خوړل د هغه لپاره حلال دي.

د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه او د هغه د پیروانو مذهب دادی چي د محرم لپاره د ښکار غوښه خوړل حلال دي که څه هم هغه ښکار د هغه لپاره سوی وي په شرط دد چي هغه ښکار یې خپله نه وي کړی او نه یې چا ته د هغه ښکار کولو حکم ورکړی وي او نه یې چا ته د ښکار لاره ښوولي وي او نه یې هغه ښکار ته یو څوک متوجه کړی وي او نه هغه ښکار خپله محرم یا بل چا د محرم په مرسته کړی وي، د ابو حنیفة رحمة الله علیه دلیل د حضرت ابو قتاده رضی الله عنه روایت دی.

## د ښکار څخه کوم حیوانان مراد دي؟

د احرام په حالت کي چي د کوم ښکار څخه منع سوې ده د هغه څخه مراد د ځنگلي حیوانانو ښکار دی، ځنگلي هغه حیوانانو ته وايي چي د هغوئ زېږېدنه او روزنه په وچه یا ځنگل کي وي که څه هم د هغوئ هستوگنه په اوبو کي ـ ي لکه هیلۍ او داسي نور، همدارنگه ښکار هغه حیوان ته وايي چي په اصلي خلقت کي وحشي وي که څه هم هغه په یو وجه سره بلد سوی وي لکه هوسۍ چي د پالونکي سره بلده کیږي مگر په اصل کي وحشي حیوان دی ځکه نو ښکار ورته ویل کیږي که څه هم هغه په ځنگل کي اوسیږي یا پالل سوې وي، په هر صورت دهغه ښکار په کولو سره جزاء واجبيږي. کوم حیوانان چي په اصل کي وحشي نه وي د هغو وژل د احرام په حالت کي هم جائز دي لکه پسه، میږه، بزه، غوا، اوښ او داسي نور د محرم لپاره جائز

دي ، کوتري ته فقهاء وحشي الاصل وايي ځکه نو د هغه پر ښکار باندي جزاء واجبیږي ، د اوبو د حیوان ښکار د آیت کریمه : (احل لکم صید البحر وطعامه) سره سم د غیر محرم او محرم دواړو لپاره حلال دی که هغه خوړونکی وي او که نه وي .

کوم ځنګلي حیوان چي خوړل کیږي د هغه ښکار په اتفاق سره حرام دی مګر کوم حیوان چي نه خوړل کیږي د هغه په هدایه کي دوه قسمونه دي یو قسم هغه حیوانان دی چي طبعا تکلیف رسوي او اکثر په تاوان رسولو کي خپله شروع کوي لکه زمری ، شرموښ ، ددغه حیوان وژل د محرم لپاره جائز دي او د هغه په وژلو سره جزاء نه واجبیږي ، دوهم قسم هغه حیوانان دي چي په تکلیف رسولو سره شروع نه کوي لکه چرغ (کوږ) او داسي نور نو ددغه حیوانانو په باره کي دا مسئله ده که دغه حیوانان پر محرم باندي حمله وکړي نو هغه یې وژلای سي او ددې په وجه پر هغه جزاء نه واجبیږي او که حمله ونه کړي نو بیا د محرم لپاره دا مباح نه دي چي د هغه په وژلو کي شروع وکړي او که یې ووژني نو پر هغه جزاء واجبیږي .

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د احرام په حالت کي د ښکار څخه پرهیز

﴿۲۵۷۷﴾ : عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت صعب بن جثامه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي په ابواء یا

حِمَارًا وَحْشِيًّا وَهُوَ بِالْأَبْوَاءِ أَوْ بِوَدَّانَ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَأَى مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ . متفق عليه

ودان نامي ځای کي یو ښکار سوی ځنګلی خر د تحفې په توګه وړاندي کړ ، رسول الله ﷺ هغه رد کړ او کله چي د تحفه ورکونکي په مخ کي د ناخوښي نښي څرګندي سوې نو رسول الله ﷺ وفرمایل : موږ ځکه رد کړ چي موږ احرام تړلی دئ . بخاري او مسلم .

**تخريج** : البخاري في الصحيح ۴ / ۳۱ ، رقم : ۱۸۲۵ ، رقم : ۲۵۷۳ ، ومسلم ۲ / ۸۵۰ ، رقم : ۵۰ - ۱۱۹۳ .

**تشريح** : دا حدیث په ظاهره د هغه حضراتو دلیل دیکوم چي مطلقا د ښکار غوښه خوړل د محرم لپاره حرام ګرځوي او د ابو حنیفة رحمه الله مذهب کوم چي د باب په شروع کي ذکر سو دی د حضرت عمر ، ابو هریره ، طلحه ابن عبید الله او د بي بي عائشې رضي الله عنهم د قول مطابق دی

ځکه د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد ددغه حديث مراد دادی چي ژوندی د غره خر د ښکار په توګه د رسول الله ﷺ په خدمت کي ليږل سوی وو او ژوندی ښکار وژل د محرم لپاره صحيح نه دی ځکه رسول الله ﷺ هغه واپس کړی مګر بيا يو بل اشکال پيدا کيږي هغه دا چي په يوه روايت کي په وضاحت سره منقول دي چي د غره د خره غوښه استول سوې وه او په يوه روايت کي دا ښوول سوې دي چي د ځنګلي خره ورون ليږل سوی وو همدارنګه په يوه روايت کي دا ښودل سوي دي چي د هغه يوه ټوټه استول سوې وه.

نو ددغه دواړو روايتو مطابق دا معلوميږي چي ژوندی ځنګلي خر نه وو استول سوی بلکه دلته په حديث کي د ځنګلي خره څخه د هغه غوښه مراد ده، ددې جواب دادی چي مخکي د رسول الله ﷺ په خدمت کي ژوندی ځنګلی خر استول سوی وو مګر دلته په حديث کي هم د ځنګلي خره څخه د هغه غوښه مراد ده، ددې جواب دادی چي مخکي، خو به د رسول الله ﷺ په خدمت کي ژوندی ځنګلی خر استول سوی وي چي رسول الله ﷺ هغه قبول نه کړ بيا وروسته د دوهم ځنګلي خره ورون واستول سو چي دا په غوښو سره تعبير کړل سو او چا ورته د هغه ټوټه وويل.

په دې باره کي د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه لوی دليل دغه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي ځنګلي خر وړاندي کړل سو کله چي رسول الله ﷺ په عرج نامي ځای کي تشريف فرما وو او احرام يې تړلی وو، رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته حکم ورکړ چي هغه په ملګرو کي وويشي، د پورتني حديث په اړه شافعيه وايي چي رسول الله ﷺ هغه ځنګلي خر د ګمان په وجه رد کړ چي دا په خاصه توګه زما لپاره ښکار سوی دی.

## د حنفيه مستدل حديث

﴿۲۵۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَخَلَّفَ

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د حديبيه په کال د رسول الله ﷺ سره ولاړئ او د خپلو ملګرو څخه شاته پاته سو،

مَعَ بَعْضِ أَصْحَابِهِ وَهُمْ مُحْرِمُونَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ فَرَأَوْا حِمَارًا وَحْشِيًّا

د هغه ملګرو احرام تړلی وو او هغه په احرام کي نه وو، د هغه ملګرو يو ځنګلی خر وليدئ او

قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ فَلَمَّا رَأَوْهُ تَرَكُوهُ حَتَّى رَآهُ أَبُو قَتَادَةَ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَسَأَلَهُمْ

ابو قتاده نه وليدئ هغوئ هغه پر ښنو دئ تر څو چي ابو قتادة وليدئ هغه پر خپل آس سپور سو او د خپلو ملګرو څخه يې دوره و غوښتل

أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا فَتَنَاوَلَهُ فَحَمَلَ فَعَقَرَهُ ثُمَّ أَكَلَ فَأَكَلُوا فَنَدِمُوا فَلَمَّا

هغوئ انکار ورته وکړ، ابو قتادة ﷺ د آس څخه را کښته سو خپله يې دوره پورته کړل او بيا يې پر ځنګلي خره حمله وکړه هغه يې ښکار کړ او د ښکار غوښه ابو قتاده او د هغه ملګرو وخوړل، بيا هغوئ ته دا حس سول چي د محرم لپاره خو د ښکار غوښه صحيح نه ده ، پښيمانه سول ،

أَدْرَكُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ قَالَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ قَالَ

ددې وروسته چي ټول خلک رسول الله ﷺ ته راورسيدل نو دا مسئله يې وپوښتل ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا په هغه غوښه کي ستاسو سره څه پاته ده ؟ موږ عرض ورکړ

مَعَنَا رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَهَا. متفق عليه و في

زموږ سره د هغه پښه سته ، رسول الله ﷺ هغه پښه واخيستل او وه يې خوړل ، بخاري او مسلم ،

رواية لهما فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ

او د بخاري او مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي کله دا خلک د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا په تاسو کي چا

اَنْ يَّحْمِلَ عَلَيْهَا أَوْ أَشَارَ إِلَيْهِ قَالُوا لَا قَالَ فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا .

ابو قتاده ته ويلي وه يا اشاره يې ورته کړې وه چي هغه پر ځنګلي خره حمله وکړل ، هغوئ وويل : يا ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه غوښه چي پاته ده هغه وخورئ .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۶\۵۸۱، رقم: ۲۸۵۴، ومسلم ۲\۸۵۲، رقم: ۵۷- ۱۱۹۶.

**تشريح** : د دغه حديث په اړه يو اشکال پيدا کيږي چي دلته خو ښودل سوي دي چي رسول الله ﷺ د هغه ځنګلي خره پاته سوې پښه په تيارولو سره وخوړل حال دا چي په يو بل حديث کي دي چي رسول الله ﷺ هغه ونه خوړل نو د دغه اشکال ليري کولو لپاره علماء په دغه دواړو روايتو کي دا مطابقت پيدا کوي چي رسول الله ﷺ خپله د احرام په حالت کي وو څکه په شروع کي به رسول الله ﷺ دا ګمان کړی وي چي د دغه ځنګلي خره په ښکار کي به د يو محرم د حکم يا د هغه

د مرستي دخل وي ځکه رسول الله ﷺ به د هغه د خوړلو څخه انکار کړی وي مګر کله چي صحیح صورت حال مخته راغلی او رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چي د هغه په ښکار کي د محرم د حکم یا د هغه د مرستي دخل نه وو نو رسول الله ﷺ هغه وخوړل.

لکه څرنګه چي د محرم لپاره دا منع دي چي هغه یو چا ته د ښکار کولو حکم وکړي همدارنګه دلالت او اشاره کول هم منع دي، په دلالت او اشاره کي فرق دادی چي د دلالت تعلق د ژبي سره وي مثلا محرم یو چا ته په ژبه سره وښیي چي هغه دي ښکار، او د اشارې تعلق په لاس سره وي مثلا محرم یو چا ته د لاس په اشارې کولو سره ښکار ته متوجه کړي، ځیني حضرات وایي چي د دلالت تعلق د هغه ښکار سره وي کوم چي نه معلومیږي او د اشارې تعلق د هغه ښکار سره وي کوم چي معلومیږي.

دلته په دې خبره پوهېدل پکار دي چي د محرم لپاره د لالت د احرام په حالت کي د حرم په حدودو کي هم حرام دی او د حرم د حدودو څخه د باندي هم، مګر د غیر محرم لپاره د حرم په حدودو کي حرام دی مګر د حرم د حدودو څخه د باندي حرام نه دی.

دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي محرم ته د ښکار غوښه خوړل حلال دي په شرط د دې چي هغه ښکار په خپله نه وي کړی او نه په هغه ښکار کي د دلالت او اشارې دخل وي، دا حدیث د امام ابو حنیفة رحمه الله علیه د مذهب دلیل دی او هغه حضراتو د مذهب تردید دی کوم چي محرم د مطلق ښکار د خوړلو څخه منع کوي.

## د کومو حیواناتو وژل جائز دي

﴿۲۵۷۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمْسٌ لاَ جُنَاحَ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: پنځه حیوانان دي چي په

عَلٰى مَنْ قَتَلَهُنَّ فِي الْحَرَمِ وَالْاِحْرَامِ اَلْفَأْرَةُ وَالْغُرَابُ وَالْحِدَأَةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْكَلْبُ الْعَقُوْرُ. متفق علیه.

حرم او احرام کي یې وژل ګناه نه ده: مږه (موږک)، کارګه، ټپوس، لړم، داړونکی سپی. بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ٦\٣٥٥، رقم: ٣٣١٥، ومسلم ١٢\٨٥٧، رقم: ٧٢-١١٩٩

**د لغاتو حل**: حِدَاة: طائر یصید الجرذان (یو دول مرغه).

**تشریح**: د غراب (تپوس) څخه مراد الغراب الابقع (ابلک تپوس) یعني هغه تور او سپین تپوس دی چي اکثر مرداري او نجاست خوري ، په مخکي روایت کي ددې وضاحت هم سته ځکه نو د هغه تپوس وژل ناجائز دي کوم چي غله خوري او د هغه ټول بدن تور او مېنوکه او د پښو رنګ یې سور وي ، د لیوني سپي په حکم کي هغه ټول درندګان شامل دي کوم چي حمله کوي داسي ټول حیوانان په حرم کي او د احرام په حالت کي وژل جائز دي .

﴿۲۵۸۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمْسٌ فَوَاسِقُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پنځه ضررناک

يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ الْحَيَّةُ وَالْغُرَابُ الْأَبْقَعُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ وَالْحُدَيَّا . متفق علیه .

حیوانان داسي دي چي هغه دي حل او حرم کي هم ووژل سي : مار، برګ کارګه، مږه (موږک)، داړونکی سپی او تپوس ، بخاري او مسلم.

**تخریج**: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ٦\٣٥٥، رقم: ٣٣١٤، ومسلم ٢\٨٥٦، رقم: ٦٧ – ١١٩٨.

**تشریح**: د هغه سپي وژل حرام دي چي د هغه څخه فائده تر لاسه کیږي همدارنګه هغه سپی وژل هم حرام دی چي د هغه څخه فائده نه تر لاسه کیږي مګر د هغه څخه یو ضرر او تاوان رسیږي، په پورتنیو دواړو حدیثو کي چي د کومو حیواناتو ذکر سوی دی د هغو د وژلو اجازه یوازي پر دې منحصر نه ده بلکه دا حکم د هغه ټولو حیواناتو هم دی چي د هغوئ څخه تکلیف رسیږي لکه میږي، شرموښکی، او داسي نور ، مګر که چیري سپږه ووژل سي نو بیا د توان او توفیق سره سم صدقه ورکول واجب دي .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د امام مالک او امام شافعي (رح) مستدل حدیث

﴿۲۵۸۱﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَحْمُ الصَّيْدِ لَكُمْ فِي الْإِحْرَامِ حَلَالٌ مَّا لَمْ تَصِيْدُوْهُ أَوْ يُصَادَ لَكُمْ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ښکار غوښه د احرام په حالت کي پر تاسو حلاله ده تر څو پوري چي تاسو خپله ښکار ونه کړي يا ستا لپاره ښکار ونه کړل سي . ابوداوُد ، ترمذي او نسائي .

**تخريج** : ابوداود في السنن ۲\ ۴۲۷، رقم: ۱۸۵۱، والترمذي في السنن ۳\ ۲۰۳، رقم: ۸۴۶، والنسائي ۵\ ۱۸۷، رقم: ۲۸۲۷.

**تشريح** : د حديث خلاصه دا ده چي د احرام په حالت کي تاسو خپله ښکار وکړی يا بل څوک ستاسو لپاره ښکار وکړي که چيري هغه ښکاري د احرام په حالت کي نه وي نو د هغه ښکار غوښه به ستاسو لپاره صحيح نه وي ، امام مالک او امام شافعي دغه حديث د خپل دغه مذهب دليل ګرځوي چي د محرم لپاره د هغه ښکار غوښه خوړل حرام دي کوم چي يو غير محرم د هغه لپاره ښکار کړی وي .

مګر امام ابوحنيفة رحمه الله د دغه حديث څخه دا معنی مراد اخلي که د احرام په حالت کي ژوندی ښکار تاسو ته د تحفې په توګه راواستول سي نو د هغه غوښه خوړل ستاسو لپاره حرام دي مګر که چيري د هغه ښکار غوښه د تحفې په توګه تاسو ته راواستول سي نو د هغه خوړل حرام نه دي ، يعني په دغه صورت کي د حديث خلاصه دا سوه که ستاسو د حکم په وجه يو ښکار وکړل سي نو د هغه خوړل ستاسو لپاره صحيح نه دي او د هغه ښکار غوښه د محرم لپاره حرامه نه ده کوم چي يو غير محرم يې د هغه لپاره ذبح کړي په شرط د دې چي په هغه ښکار کي د محرم حکم يا د هغه د مرستي او اشارې او دلالت هيڅ دخل نه وي .

## د ملخ د ښکار مسئله

﴿۲۵۸۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْجَرَادُ مِنَ صَيْدِ الْبَحْرِ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ملخ د درياب د ښکار په ډول دئ . ابوداوُد او ترمذي .

**تخريج** : ابوداود في السنن ۲\ ۴۲۹، رقم: ۱۸۵۳، والترمذي في السنن ۳\ ۲۰۷، رقم: ۸۵۰.

**تشريح** : حنفي علماء وايي چي رسول الله ﷺ ملخ ته د درياب د ښکار په ډول يوازي په دې اعتبار فرمايلي دي چي ملخ د دريابي ښکار يعني ماهي مشابه دی لکه څرنګه چي ماهی بېله

ذبح کولو خوړل کیږي همدارنګه ملخ هم بېله ذبح کولو خوړل صحيح دي ، د محرم لپاره د ملخ وژل صحيح نه دي که يو محرم ملخ ووژني نو پر هغه صدقه لازميږي ، په هدايه کي هم دا دليل دی چي ملخ د ځنګل د ښکار په حکم کي دی او د ابن همام رحمه الله د قول سره سم د اکثرو علماؤ دا مذهب دی .

ځيني علماء فرمايي چي ددغه حديث څخه دا معلوميږي چي د محرم لپاره د ملخ ښکار يعني ملخ نيول جائز دي ځکه چي دا د دريابي ښکار په ډول دی او ددغه آيت کريمه سره سم د درياب ښکار جائز دی : (واحل لکم صيد البحر مادمتم حرما) او د احرام په حالت کي ستاسو لپاره دريابي ښکار حلال سوی دی .

## د ملخ د ښکار مسئله

﴿۲۵۸۳﴾ : عَنْ ابي سعيد الخدري عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يقتل المحرم السبع العادي . رواه الترمذي وابوداود وابن ماجه

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: محرم دي وژني حمله کوونکي درندګان . (ترمذي، ابوداود او ابن ماجه)

**تخريج** : ابوداود في السنن ۲\۴۲۹، رقم: ۱۸۵۳، والترمذي في السنن ۳\۲۰۷، رقم: ۸۵۰.

**تشريح** : د حمله کونکي مطلب دادی چي هغه د وژلو يا زخمي کولو لپاره حمله وکړي لکه زمری، شرموښ او داسي نور چي دغه درندګان د انسان په ليدو سره پر هغه حمله کوي .

## د کوړ د ښکار مسئله

﴿۲۵۸۴﴾ : وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ عَمَّارٍ قَالَ سَاَلْتُ جَابِرَ بن عبدالله عَنِ

د حضرت عبدالرحمن بن ابو عمار رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه د

الضَّبُعِ اَصَيْدٌ هِيَ فقَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ اَيُؤْكَلُ فَقَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ سَمِعْتَهُ مِنْ

کوړ په اړه پوښتنه وکړه چي ايا دا ښکار دئ ؟ هغه راته وويل : هو ، ما بيا پوښتنه وکړه ايا دهغه غوښه خوړل کيږي که يا ؟ هغه وويل :هو ، ما ورته ويل ايا تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه

رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ . رواه الترمذي و النسائي

والشافعي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

اوريدلي دي ؟ هغه وويل : هو ، . ترمذي، نسائي او شافعي، امام ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۳\۲۰۷، رقم: ۸۵۱، والنسائي ۵\۱۹۱، رقم: ۲۸۳۶، والشافعي في الام ۲\۱۹۳

**تشريح** : د پوښتنه کونکي مطلب دا وو چي ايا کوړ ښکار دی چي د محرم لپاره د هغه خوړل حرام دي او که ښکار نه دی، په هر حال دلته د محرم څخه قطع نظر د کوړ په باره کي بنيادي اختلاف دادی چي د کوړ غوښه حلاله ده که يا. امام شافعي رحمه الله خو ددغه حديث سره سم فرمايي چي کوړ حلال حيوان دی او د هغه غوښه خوړل صحيح دي د امام مالک او امام ابوحنيفة رحمة الله عليهما په نزد کوړ حلال حيوان نه دی ځکه نو دهغه غوښه هيچا ته خوړل صحيح نه دي د دوئ دليل د خزيمه ابن جزي رضي الله عنه روايت دی چي مخته به راسي .

﴿۲۵۸۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنِ الضَّبُعِ قَالَ هُوَ صَيْدٌ وَيُجْعَلُ فِيهِ كَبْشٌ إِذَا صَادَهُ الْمُحْرِمُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د کوړ په اړه پوښتنه وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا ښکار دئ که محرم ددې ښکار وکړي نو د هغه په بدله کي به پسه ورکوي . ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي

**تخريج** : ابوداود في السنن ۴\ ۱۵۸، رقم: ۳۸۰۱، وابن ماجه ۲\ ۱۰۳۰، رقم: ۳۰۸۵، والدارمي ۲\ ۱۰۲، رقم: ۳۲۳۶.

**تشريح** : مطلب دادی که يو سړی د احرام په حالت کي د کوړ ښکار وکړي يا يې رانيسي نو پر هغه باندې د جزاء په توګه پسه واجبيږي .

**د کوړ غوښه حلاله نه ده**

﴿۲۵۸۶﴾: وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ جَزِيٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خزيمة بن جزي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د کوړ د غوښو په اړه

عَنْ أَكْلِ الضَّبُعِ قَالَ أَوَ يَأْكُلُ الضَّبُعَ أَحَدٌ وَسَأَلْتُهُ عَنْ أَكْلِ الذِّئْبِ قَالَ

پو ښتنه وکړه چي دا خوړل پکار دي که یا ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا څوک ددې غوښه خوري، بیا ما د شرمښ د غوښو خوړلو په اړه پوښتنه وکړه ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل:

أَوَيَأْكُلُ الذِّئْبَ أَحَدٌ فِيهِ خَيْرٌ . رواه الترمذي و قال ليس اسناده بالقوي .

ایا یو سړی چي په هغه کي نیکي وي د شرمښ غوښه خوري ؟ ، ترمذي ویلي دي ددې حدیث اسناد قوي نه دي .

**تخریج**: الترمذي في السنن ۴\ ۲۲۲، رقم: ۱۷۹۲.

**تشریح**: لکه څرنګه چي امام ترمذي ویلي دي چي دغه روایت که څه هم د سند په اعتبار ضعیف دی مګر بذات خود صحیح دی چي د هغه دلیل د ابن ماجه روایت دی چي الفاظ یې دادی : ومن یاکل الضبع، او ددې تائید ددغه حدیث هم کیږي چي رسول الله ﷺ د ذي ناب د خوړلو څخه منع فرمایلې ده ، ذي ناب هغه درنده ته وایي چي په غاښو سره ښکار کوي او کوږ ذي ناب دی، په هر حال د کوږ په مباح او حرام کېدو کي اختلاف دی ځکه د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد کوږ مکروه تحریمي دی چي د هغه غوښه نه خوړل کیږي .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

### محرم ته د ښکار غوښه خوړل جائز دي

﴿۲۵۸۷﴾: عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ

د حضرت عبد الرحمن بن عثمان بن التیمي رضی الله عنه څخه روایت دئ چي موږ د طلحة بن عبید الله

اللّٰهِ وَنَحْنُ حُرُمٌ فَأُهْدِيَ لَهُ طَيْرٌ وَطَلْحَةُ رَاقِدٌ فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ وَمِنَّا مَنْ تَوَرَّعَ

سره وو او احرام مو تړلی وو هغه ته د مرغه غوښه د تحفې په توګه راوړل سول ، طلحه هغه وخت بیده وو په موږ کي ځینو وخوړل او ځینو نه وخوړل

فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَفَّقَ مَنْ أَكَلَهُ وَقَالَ أَكَلْنَاهُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم .

کله چي ابو طلحه راویښ سو نو هغه هغو خلکو سره موافقت وکړ چا چي غوښه خوړلې وه او وه

يې ويل موږ هم د رسول الله ﷺ سره د احرام په حالت کي داسي غوښه خوړلې وه . مسلم .

**تخريج**: صحيح مسلم ۲\ ۸۵۵، رقم: ۶۵ – ۱۱۹۷.

**تشريح**: د غوښه خوړونکو سره د حضرت طلحه رضي الله عنه د موافقت تعلق په قول سره هم کيداى سي او په فعل سره هم يعني طلحه رضي الله عنه به يا هغوئ ته دا په ژبه سره ويلي وي چي تاسو غوښه وخوړل نو ښه مو وکړل او په دې کي هيڅ حرج نه سته دا قولي موافقت دى يا دا چي خپله هغه خپله پاته سوې غوښه خوړلې وي دا فعلي موافقت دى .

په هر حال دا حديث هم د امام ابو حنيفة رحمه الله د دغه مذهب تائيد كوي كه محرم خپله ښكار ونه كړي او نه په هغه ښكار کي د هغه د حكم وغيره دخل وي نو د هغه غوښه خوړل كيږي ، د يو مرغه څخه مراد يا خو جنس دى چي د څو مرغانو غوښه راغلې وه يا هغه يو مرغه وو چي دومره غټ وو چي د هغه غوښه د ټولو خلكو لپاره كافي سوه .

==========

# بَابُ الْاِحْصَارِ وَفَوْتِ الْحَجِّ

## د حج د بنديدو او فوت كيدو بيان

**د احصار معنى** : د احصار معنى د لغت په اعتبار منع كېدل دي او د فقه په اصطلاح كي [illegible] احرام تړلو څخه وروسته د حج يا عمرې څخه منع كېدلو ته وايي .

كوم چا ته چي دا واقعه پېښه سي يعني كوم څوک چي احرام وتړي او بيا د كوم كار لپاره (يعني حج او عمرې) لپاره چي يې احرام تړلى وي د هغه څخه منع كړل سي نو هغه ته محصر وايي .

**د احصار صورتونه** : د حنفي مذهب سره سم د احصار څو صورتونه دي چي د هغه شي د ادا كولو څخه چي د هغه احرام يې تړلى وي حقيقتا يا شرعا مانع كيږي ددغه صورتونو تفصيل په لاندي توګه دى :

۱. كه د يو دښمن بېره وي ، د دښمن څخه مراد عام دى كه سړى وي او كه حيوان وغيره وي مثلا دا معلومه سي چي په لاره كي دښمن ناست دى او حاجيانو ته تاوان رسوي يا غلا ځيني كوي يا وژني يې او مخته تلو ته يې نه پريږدي يا همدرانګه په يو ځاى كي د زمري وغيره د موجودتيا علم وي .

۲. ناروغي: د احرام تړلو څخه وروسته داسي ناروغ سي چي د هغه په وجه تلاى نه سي يا تلاى خو سي مګر د ناروغى زياتېدو بېره وي .

۳. د ښځې مُحرِم پاته نه سي: د احرام تړلو څخه وروسته د ښځې محرم يا د هغې خاوند مړ سي يا يو ځای ولاړ سي يا د تلو څخه انکار وکړي.
۴. خرچ يې کم سي: مثلا د احرام تړلو څخه وروسته مال او اسباب غلا سي يا مصرف يې د ځان سره کم اخيستی وي او د مخته تلو لپاره ورسره مصرف نه وي.
۵. د ښځې لپاره عده: د احرام تړلو څخه وروسته د ښځې خاوند مړ سي يا طلاق ورکړي چې د هغه په وجه د عدت پابنده سي نو دا به احصار سي مګر که چيري هغه ښځه هغه وخت مقيمه وي او د هغې د قيام د ځای څخه مکه مکرمه د سفر د مسافت په اندازه نه وي نو احصار نه ګڼل کيږي.
٦. لار ځيني ورکه سي او يو څوک لار ښوونکی تر لاسه نه کړي.
۷. ښځه د هغه خاوند منع کړي په شرط د دې چې هغې د حج احرام د خپل خاوند د اجازې څخه پرته تړلی وي، د فرض حج څخه د منع کولو او په نفل حج کي د اجازې ورکولو څخه وروسته د منع کولو اختيار خاوند ته نه سته.
۸. مينځه يا غلام خپل مالک منع کړي.

د احصار دغه ټول صورتونه د حنيفه د مذهب سره سم دی د پاته درو امامانو په نزد د احصار يو صورت يعني د دښمن بيره دی د دغه حضراتو په نزد په نورو صورتو کي احصار نه صحيح کيږي بلکه د احرام حالت به پر خپل ځای پاته وي.

**د احصار حکم**: که محرم ته د احصار د پورتنيو صورتو څخه يو صورت پيښ سي نو هغه ته پکار دي که چيري هغه مفرد وي نو د هدي يو حيوان او که قارن وي نو د هدي دوه حيوانان (مثلا دوه پسونه) د يو سړي په ذريعه حرم ته واستوي چي د هغه له طرفه يې هلته ذبح کړي يا د هغه قيمت دي واستوي چي هلته د هدي د څاروي په رانيولو سره يې ذبح کړي او د هغه سره دي د ذبح ورځ او وخت هم وټاکل سي يعني د کوم سړي په ذريعه چي څاروي حرم ته استوي هغه ته دي دا تاکيد وکړي چي دغه څاروی هلته په فلانۍ ورځ او فلاني وخت ذبح کړل سي بيا د هغه ټاکلي سوي ورځي او وخت څخه وروسته دي احرام خلاص کړي د سرخريلو او وېښتانو کوچني کولو ضرورت نه سته او بيا په راتلونکي کال کي دي د هغه قضا راوړي په دې تو که چي هغه د احصار په وجه د حج احرام خلاص کړی وي نو د هغه په بدله کي دي يو حج او يوه عمره وکړي او که د قران احرام يې خلاص کړی وی نو د هغه په بدله کي دي يو حج او دوې عمرې وکړي او د

عمرې د احرام خلاصولو په صورت کي يو ازي يوه عمره کيږي .

که د هدي څاروی استولو څخه وروسته احصار پاته نه سي او دا ممکن وي چي محصر ولاړ سي نو د قرباني ذبح کولو څخه مخکي به ورسيږي او حج به هم تر لاسه کړي نو پر هغه واجبيږي چي هغه سمدستي روان سي او که دا ممکن نه وي نو بيا پرهغه باندي سمدستي تلل نه واجبيږي بيا هم که هغه حج ته روان سي او هلته داسي وخت ورسيږي چي د هدی څاروی ذبح سوی وي او د حج وخت هم تېر سوی وي نو په دغه صورت کي هغه د عمرې د افعالو په ادا کولو سره احرام دي خلاص کړي .

## د حج فوت کېدو مطلب او حکم

د حج فوت کېدو مطلب دادی چي يو سړی د حج لپاره ولاړ سي هغه احرام هم تړلی وو مگر داسي خبره پېښه سي چي هغه د عرفات په ورځ د لمر د زوال څخه وروسته د لوی اختر سهار پوري د يوه دقيقې لپاره هم په عرفات کي وقوف ونه کړای سي نو په دغه صورت کي حج فوت کيږي او د کوم چا حج چي فوت سي نو هغه ته فائت الحج وايي .

د کوم چا حج چي فوت سي نو هغه ته پکار دي چي په عمره کولو سره يعني د کعبې شريفې د طواف او صفا او مروه په مينځ کي د سعي کولو څخه وروسته احرام خلاص کړي که چيري مفرد وي نو يوه عمره دي وکړي او که قارن وي نو دوې عمرې دي وکړي او د هغه څخه وروسته دي سر وخريي يا وېښتان دي کوچني کړي او په راتلونکی کال دي د هغه حج قضا وکړي .

## د حج فوت کېدو يوه مسئله

د چا چي حج فوت سي د هغه په باره کي يوه مسئله داده که يو سړی هلته د لوی اختر د شپې په آخري برخه کي په داسي حال کي ورسيږي چي هغه تر اوسه پوري د ماخستن لمونځ نه وي کړي او هغه ته ددې بيره وي که عرفات ته ځم نو د ماخستن لمونځ را څخه قضا کيږي او که د ماخستن په لمانځه کي بوخت کېږم نو د وقوف عرفات مي د لاس څخه وځي نو په دغه صورت کي هغه څه وکړي؟ په دې باره کي ځيني علماء وايي چي هغه ته د ماخستن په لمانځه کي بوخت کېدل پکار دي که څه هم د عرفات وقوف فوت سي او ځيني حضرات وايي چي د ماخستن لمونځ دي پرېږدي او عرفات ته دي ولاړ سي ، د فقه حنفي په کتاب درمختار کي ليکلي دي که چيري د ماخستن وخت تنگ وي او د عرفات وقوف هم دلاس څخه وځي نو په داسي صورت کي د لمانځه په پرېښودو سره عرفات ته تلل پکار دي .

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د رسول الله ﷺ د احصار بیان

﴿۲۵۸۸﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدْ أُحْصِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې څخه منع کړل سو (یعني

فَحَلَقَ رَأْسَهُ وَجَامَعَ نِسَاءَهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ حَتَّى اعْتَمَرَ عَامًا قَابِلًا . رواه البخاري

مشرکانو مکې ته نه پرېښودئ) نو رسول الله ﷺ سر مبارک وخرایه او د خپلو بیبیانو سره یې خلوت وکړ د خپل قرباني حیوان یې حلال کړ او راتلونکی کال یې عمره وکړه . بخاري .

**تخریج**: البخاري في الصحیح (فتح الباري): ۴\۱۴، رقم: ۱۸۰۹.

**تشریح**: منع کړل سو : ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د عمرې د احرام تړلو سره مکې ته روان سو مګر د حدیبیه په ځای کي د مکې مشرکینو رسول الله ﷺ او د هغه ملګري دداخلېدو څخه منع کړل چي د هغه په وجه رسول الله ﷺ عمره ونه کړل نو هلته یې احرام خلاص کړی.

وجامع نسائه: دلته د واو حرف د جمع د اظهار لپاره استعمال سوی دی یعني سرخریل وغیره دلته په ترتیب سره نه دي ذکر سوي بلکه د اصل ترتیب سره سم رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو سره هم بستر سو ، د بخاري او مسلم د یو بل روایت الفاظ دادي چي نبي کریم ﷺ او ملګرو یې په حدیبیه کي احرام خلاص کړی کله چي مشرکینو هغوئ د تلو څخه منع کړل، رسول الله ﷺ دعمرې احرام تړلی وو رسول الله ﷺ نحر وکړ یعني هدی څاروی یې قرباني کړه سر یې وخروی بیا یې خپلو ملګرو ته وفرمایل چي ولاړ سئ نحر وکړئ او سر وخریاست ، په هدایه کي ددې وروسته دا نقل سوي دي چي بیا هغوئ احرام خلاص کړی .

ابن همام رحمه الله فرمایي چي د هدایې ددغه الفاظو څخه دا خبره واضحه سوه چي محصر دي د هدي د څاروی ذبح کولو څخه مخکي احرام نه خلاصوي ځکه مسئله داده که یو محصر د هدي څاروي حرم ته واستوي او هغه څاروی بیونکي ته یې دا هدایت کړی وي چي دغه څاروی په فلانۍ ورځ او فلاني وخت کي ذبح کړه او بیا د هغه ټاکل سوې ورځي په پوهېدو سره چي اوس به څاروی ذبح سوی وي ځان دي د احرام څخه وباسي او یو داسي فعل یې وکړ چي د احرام په حالت کي منعه وي مګر وروسته معلومه سوه چي د هدي هغه څاروی په هغه ټاکل سوي

وخت کي ذبح سوی نه دی یا ذبح سوی دی مګر په حرم کي د ذبح کولو پر ځای د حرم څخه د باندي ذبح سوی دی نو په دغه صورت کي هغه د احرام خلاف چي څومره افعال کړي دي د هر فعل په عوض کي په جزاء ورکول وي .

## د احصار د هدي په کوم ځای کي ذبح کول پکار دي

د احصار د هدي څخه پرته د نورو هدیو په باره کي د حنفیه او شافعیه اتفاق دی چي هغه دي د احرام څخه پرته بل ځای نه ذبح کوي مګر د حج یا د عمرې د احصار هدي دي چیري ذبح کړل سي په دې باره کي د دواړو اختلافي اقوال دي ، امام شافعي رحمه الله فرمایي چي د احصار هدي دي په هغه ځای کي ذبح کړل سي چیري چي د احصار صورت منځته راغلی وي او د امام ابوحنیفة رحمه الله مذهب دادی چي د احصار هدي دي حرم ته واستول سي او هلته دي ذبح کړل سي د حرم څخه پرته په بل ځای کي دي ذبح نه کوي ځکه چي په خاصو ورځو کي او پر خاص موقع باندي د هدي ذبح کول عبادت دی او کله چي دا خبره ده چي په یو خاص وخت او خاص ځا ی کي د هدي ذبح کول عبادت دي نو که چیري د دې خلاف وکړل سي یعني د هدي د ذبح کولو خاص ځای چي حرم دی هلته هدي ذبح نه کړل سي نو عبادت چیري پاته سو او کله چي عبادت پاته نه سو نو د دې په وجه حلال کېدل یعني د احرام څخه وتل څرنګه صحیح کیدای سي .

د امام شافعي رحمه الله دلیل پورتنی حدیث دی چي رسول الله ﷺ او صحابه کرامو خپل هدی په حدیبیه کي ذبح کړل چي د حرم څخه د باندي دی ، د دې جواب د امام ابوحنیفة رحمه الله له خوا دا ورکړل سوی دی چي چیري په دغه ځای کي د هدي د څاروي حرم ته استول ممکن نه وي نو د دغه مجبوری په وجه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو خپل هدی هلته ذبح کړل او ځیني علماء دا هم وایي چي د حدیبیه یو څه برخه په حل کي ده او یو څه برخه په حرم کي ده ځکه نو کیدای سي چي رسول الله ﷺ او صحابه کرامو د هدی څاروی د حدیبیه په هغه برخه کي ذبح کړي وي کوم چي په حرم کي شامل ده .

## پر محصر باندي قضاء واجب ده

لکه څرنګه چي د مخکني حدیث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ د احصار په وجه عمره ادا نه کړل نو راتلونکی کال یعني په اووم هجري کال کي یې هغه عمره پوره کړه ، دغه عمرې عمرة القضاء ویل سوي دي د دې څخه دا خبره معلومه سوه که یو څوک محصر سي یعني هغه د حج او عمرې څخه منع کړل سي نو د هغه قضاء دي وکړي ځکه د ابو حنیفة رحمه الله په مذهب

کي د هغه قضاء واجب ده او د امام شافعي رحمه الله په نزد پر محصر باندي د هغه قضاء واجب نه ده ، رسول الله ﷺ چي په اووم هجري کال کي کومه عمره وکړل نو د هغه نوم عمرة القضاء کيدل د ابو حنيفة رحمه الله د مذهب تائيد دی .

## د محصر لپاره د حلق يا تقصير مسئله

﴿۲۵۸۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي مونږ د عمرې لپاره د رسول الله ﷺ سره ولاړو

فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ دُونَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدَايَاهُ فَحَلَقَ وَقَصَّرَ أَصْحَابُهُ . رواه البخاري .

د قريشو کفارو کعبې ته د رسيدو څخه مخکي منع کړه نو رسول الله ﷺ د خپلي قرباني حيوان حلال کړاو سر مبارک يې وخرايه او صحابه کرامو هم وريښتان غڅي کړل . بخاري .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۴، رقم: ۱۸۰۷،

﴿۲۵۹۰﴾: وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَحْلِقَ وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ بِذَلِكَ . رواه البخاري .

د حضرت مسور بن مخرمة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سر خريلو څخه وړاندي قرباني وکړه او صحابه کرامو ته يې حکم وکړ چي هغوئ هم د سر خريلو څخه وړاندي قرباني وکړي . بخاري .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۱۰، رقم: ۱۸۱۱.

**تشريح** : د فقه حنفي په کتاب کي هدايه کي ليکلي دي چي امام ابو حنيفة او امام احمد رحمة الله عليهما وايي چي د محصر لپاره سرخريل يا ويښتان کوچني کول ضروري نه دي ځکه چي سرخريل يا ويښتان کوچني کول په هغه صورت کي عبادت شمېرل کيږي کله چي د حج افعال په ترتيب سره وي نو کله چي د حج افعال ادا نه سي نو هغه عبادت نه سي شمېرل کېدای، او کوم چي د رسول الله ﷺ تعلق دی نو رسول الله ﷺ او صحابه کرامو حلق يا تقصير ځکه کړی وو چي

خلکو ته معلومه سي چي اوس د ستنېدو پخه اراده سوې ده او د عمرې د ادا کولو صورت نه دی پاته سوی د امام يوسف رحمه الله په نزد که څه هم محصر ته سرخريل يا کوچني کول پکار دي مگر که سر ونه خريي يا وېښتان کوچني نه کړي نو په دغه صورت کي به هم د احرام څخه ووځي او د جزاء په توګه به پر هغه هيڅ واجب نه وي .

## د احصار او حج فوت کېدو مسئله

﴿۲۵۹۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي هغه وويل : ايا ستاسو لپاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ حُبِسَ أَحَدُكُمْ عَنِ الْحَجِّ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ

بس نه ده که په تاسو کي څوک د حج څخه منع کړل سي نو هغه دي د بيت الله طواف، د صفا او مروه سعي کولو سره د هر شي څخه

حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى يَحُجَّ عَامًا قَابِلًا فَيُهْدِي أَوْ يَصُومُ إِنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا .

رواه البخاري .

حلال سي او راتلونکی کال دي حج وکړي او حيوان دي قرباني کړي او که د قربانۍ حيوان تر لاسه نه کړي نو روژه دي ونيسي . بخاري .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴/ ۸، رقم: ۱۸۱۰.

**تشريح** : په دغه حديث کي د احصار حکم بيان سوی دی ، ځينو خلکو به په دې باره کي د سنت خلاف عمل اختيار کړی وي ځکه ابن عمر رضي الله عنهما هغوئ خبر کړل چي په دې باره کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت دا دی که چا ته په حج کي د حصر او حبس صورت وړاندي سي نو هغه دي د عمرې د افعالو په ادا کولو سره احرام خلاص کړي او راتلونکی کال دي د هغه قضا وکړي .

په دې باره کي دا خبره په ذهن کي کښېنول پکار دي چي د فائت الحج او محصر په حکم کي لږ فرق دی ، د فائت الحج لپاره دا حکم دی که چيري هغه مفرد وي يعني هغه يوازي د حج احرام تړلی وي نو په طواف او سعي کولو سره دي احرام خلاص کړي او پر هغه باندي په راتلونکي کال کي د هغه حج قضاء واجب ده عمره او هدي د هغه لپاره واجب نه دي .

د محصر لپاره حکم دا دی که چيري هغه مفرد وي او هغه ته جرم د رسيدو څخه مخکي په

لاره کي د احصار يو صورت پيښ سي نو مخکي دي د هدي څاروي حرم ته واستوي کله چي هغه څاروی حرم ته په رسيدو سره ذبح کړل سي نو هغه دي احرام خلاص کړي او راتلونکی کال دي د هغه حج قضاء وکړي او د هغه سره دي يوه عمره هم وکړي.

مګر امام شافعي رحمه الله فرمايي چي پر هغه باندي په راتلونکي کال کي يوازي حج کول واجب دي عمره کول ضروري نه ده ځکه چي يوازي د حج څخه محصر سوی دی او د هدی د څاروي په استولو سره هغه احرام خلاص کړی وو نو بس ددې په بدله کي د هغه پر ذمه يوازي حج دی او عمره نه ده.

او که محصر قارن وي يعني د حج او عمرې دواړو احرام يې تړلی وي نو هغه دي د هدي څاروی هم حرم ته واستوي او هلته دي د هغه څاروی د ذبح کېدو وروسته احرام خلاص کړي مګر په راتلونکي کال کي پر هغه باندي د هغه حج قضاء او دهغه سره دوې عمرې واجبېږي يوه حج او دوو عمرو واجب کېدو وجه داده چي يو حج او عمره خو د اصلي حج او عمرې بدل سو او دوهمه عمره ددې لپاره ده چي د هغه څخه حج او عمره فوت سول ځکه د هغه جزاء په توګه يوه عمره ادا کول پکار دي.

او که د احصار صورت حرم ته درسيدو څخه مخکي په لاره کي وړاندي نه سي بلکه حرم ته په رسيدو سره وړاندي سي او هغه د يو عذر په وجه د عرفات د وقوف څخه عاجز سي مګر طواف او سعي کولای سي نو هغه دي د طواف او سعي کولو څخه وروسته يعني د عمرې د افعالو په ادا کولو سره دي احرام خلاص کړي او بيا په راتلونکي کال کي د هغه قضاء راوړي او د هدي څاروی دي ذبح کړي او که د هدي څاروی نه سي ذبح کولای نو روژه دي ونيسي، په پورتني حديث کي دا صورت بيان سويدی.

فائت الحج که چيري قارن وي نو مخکي دي هغه د عمرې لپاره طواف او سعي وکړي بيا دي د حج فوت کېدو په بدله کي طواف او سعي وکړي ددې څخه وروسته دي سر وخريي يا وېښتان دي کوچني کړي او احرام دي خلاص کړي نو د هغه د ذمي څخه به د قران قرباني ساقط سي او که هغه تمتع وي نو د هغه تمتع به باطل سي او د هغه د ذمې څخه به د تمتع قرباني ساقط سي او که هغه د قربانی څاروی د ځان سره راوستلی وي نو هغه چي څه غواړي وه دي يې کړي. لکه څرنګه چي د مفرد د حج فوت کېدو په صورت کي پر هغه په راتلونکي کال کي د حج قضاء واجبېږي همدارنګه د قران او تمتع په صورت کي هم پر هغه په راتلونکي کال کي د حج قضاء واجبېږي.

عمره نه فوت کيږي : دلته په دې خبره پوهېدل پکار دي چي عمره نه فوت کيږي ځکه چي هغه په کال کي هر وخت کېداى سي پرته د يوم عرفات، يوم عيدالاضحى او ايام تشريق څخه، او حال دا چي د حج ادا کول په هغه خاص زمانه او خاص وخت پوري مخصوص دي کوم چي شريعت ټاکلي دي.

﴿۲۵۹۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د زبير لور بي بي ضباعه په لور

ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ فَقَالَ لَهَا لَعَلَّكِ أَرَدْتِ الْحَجَّ قَالَتْ وَاللَّهِ مَا أَجِدُنِي إِلَّا

تشريف يوووړ او د هغې څخه يې پوښتنه وکړه کيداى سي ته د حج اراده لرې هغې وويل هو، مګر په الله مي دي قسم وي

وَجِعَةً فَقَالَ لَهَا حُجِّي وَاشْتَرِطِي وَقُولِي اللَّهُمَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي.

متفق عليه

زه ځان ناروغ وينم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته د حج احرام وتړه او شرط وکړه او دا ووايه چي اې زما الله ! زما د احرام څخه د حلال کېدو ځاى هغه دئ چي هلته زه د ناروغۍ له کبله منع کړل سوې يم. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹\۱۳۲، رقم: ۵۰۸۹، ومسلم ۲\۸۶۷، رقم: ۱۰۴-۱۲۰۷.

**تشريح**: زما د احرام څخه د وتلو ځاى هغه دى چيري چي زه منع کړل سم، ددې مطلب دا دى چي په کوم ځاى کي پر ما مرض غالب سي او د هغه ځاى څخه زه کعبې ته مخکي نه سم تللاى نو په هغه ځاى کي زه احرام خلاص کړم.

د کومو امامانو مذهب چي دادى چي د احصار صرف يوازي يو صورت يعني د دښمن څخه بېره ده او په ناروغۍ سره احصار نه کيږي د هغوي دليل دغه حديث دى که چيري د مرض په وجه احرام خلاصول مباح واى نو رسول الله ﷺ به بي بي ضباعه ته د پورتني شرط حکم نه ورکولاى ځکه که د ناروغۍ په وجه احصار کيداى نو بيا د شرط څخه څه ګټه تر لاسه سوه.

د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دادى چي احصار د ناروغۍ په وجه هم کيږي ځکه هغه د حجاج ابن عمر انصاري رضي الله عنه حديث خپل دليل ګرځوي چي مخته راځي او د هغه دليل دا هم دى

چي ابن عمر ﷺ د شرط منکر وو کوم خلک چي د شرط قائل وه هغوئ ته ابن عمر ﷺ دا وفرمايل چي ايا ستاسو لپاره د رسول الله ﷺ سنت کافي نه دي يعني کله چي په دې باره کي د رسول الله ﷺ حکم موجود دی نو بيا د شرط اختيارولو څه معنی ده ؟ اوس پاته سوه دا خبره چي کله د ناروغی په وجه احرام خلاصول مباح دي نو بي بي ضباعه ته د شرط حکم ورکول د څه مقصد لپاره وه او ددې څخه څه ګټه ده ، امام ابوحنيفة رحمه الله وايي چي د بي بي ضباعه په حق کي د شرط ګټه دا وه چي هغه د احرام د پابنديو څخه ژر خلاصه سي ځکه که چيري هغې دا شرط نه کولای نو د احرام څخه په وتلو کي به ورته ځنډ کيدی په دې توګه چي د هغې د هدي څاروي حرم ته په رسيدو سره ذبح کيدی بيا به هغه احرام خلاصوي ، د امام ابوحنيفة رحمه الله مذهب دادی چي د محرم لپاره احرام خلاصول تر هغه وخته پوري صحيح نه دی تر څو چي د هغه هدي په حرم کي ذبح نه سي مګر که چيري هغه د احرام تړلو په وخت کي دا شرط وکړي چي چيري ما ته د احصار صورت رامنځته سي نو زه به هلته احرام خلاصوم نو هغه محض د احصار رامنځته کېدو باندي د هدی د څاروي ذبح کولو څخه پرته د احرام څخه وتلای سي .

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د محصر د هدی حيوان په حرم کي حلالول پکار دي

﴿۲۵۹۳﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ اَمَرَ اَصْحَابَهُ اَنْ يُبَدِّلُوا الْهَدْيَ الَّذِي نَحَرُوا عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خپل اصحابو ته حکم ورکړ د هغه حيوانانو په اړه چي د حديبيه په کال (د منع کېدو له کبله) تاسو حلال کړي وه چي د قضاء په عمرې کي نور حيوانان حلال کړئ . ابو داؤد .

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\ ۴۳۴، رقم: ۱۸۶۴.

**تشريح**: ددغه حکم مطلب دا وو چي صحابه کرام د حديبيه پر موقع د عمرې څخه د احصار پېښېدو په وجه د هدي کوم څاروي چي ذبح کړي وه په راتلونکي کال کي د عمرة القضاء پر موقع د هغه څارويو په بدله کي نور څاروي حرم ته په رسيدو سره ذبح کړي چي د هدی په حرم کي ذبح کېدل واقع سي ځکه د احصار په وجه د هدی څاروي په حرم کي ذبح کيږي لکه څرنګه

چي د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دی مګر د پورتني حکم دا مطلب په هغه صورت کي دی کله چي دا خبره ثابته وي چي د حديبيه د واقعې پر موقع باندي د هدی څاروی د حرم څخه دباندي ذبح سوی وو او که دا وويل سي چي د هدی هغه څاروی په حرم کي ذبح سوی وو ځکه چي د حديبيه اکثره برخه د حرم په حدودو کي واقع ده نو بيا حديبيې د واقع پېښېدو پر موقع باندي د ذبح سوي څاروي په عوض کي د نورو څارويو د ذبح کولو د حکم تعلق به يوازي د احتياط او د فضيلت په وجه وي او دا به وويل سي چي د غه حکم محض د استحباب په توګه دی.

د مشکوة په اصل نسخه کي د لفظ رواه څخه وروسته خالي ځای دی د هغه مطلب دادی چي د مشکوة مؤلف ته د دغه حديث اصل ماخذ تحقيق نه وو سوی مګر په يو بله نسخه کي د رواه څخه وروسته ابو داؤد لاحق سوی دی يعني دغه روايت ابو داؤد نقل کړی دی او په يوه بله نسخه کي د رواه ابو داؤد څخه وروسته دا الفاظ هم اضافه سوي دي چي: وفيه قصه وفي سنده محمد بن اسحاق.

## د ناروغۍ څخه احصار واقع کېږي

﴿۲۵۹۴﴾: وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو الْاَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت حجاج بن عمرو انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ←

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كُسِرَ اَوْ عَرِجَ فَقَدْ حَلَّ وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي و زاد ابوداؤد في رواية اخرى او مرض و قال الترمذي هذا حديث حسن و في المصابيح ضعيف.

د کوم سړي چي پښه ماته سي يا ګوډ سي نو هغه د احرام څخه حلال سو او پر هغه راتلونکی کال حج واجب دئ. ترمذي، ابو داؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي او د ابو داؤد په يو بل روايت کي دا الفاظ دي که ناروغ سي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دئ په مصابيح کي ضعيف دئ.

**تخريج**: الترمذي في السنن ۳\ ۲۷۷، رقم: ۹۴۰، وابوداود في السنن ۲\ ۴۳۳، رقم: ۱۸۶۲، والنسائي ۵\ ۱۹۸، رقم: ۲۸۶۰، وابن ماجه في السنن ۲\ ۱۰۲۸، رقم: ۳۰۷۷، والدارمي في السنن: ۲\ ۸۵، رقم: ۱۸۹۴.

**تشريح**: د حديث مطلب دادی چي کوم چا ته د احرام تړلو څخه وروسته د دښمن څخه پرته د بل يو شي مانع پېښ سي نو د هغه لپاره جائز دي چي هغه احرام خلاص کړي، دغه حديث ددې

خبري دليل دی چي د دښمن د بيري څخه پر ته د احصار نور صورتونه هم دي مثلا ناروغي وغيره لکه څرنګه چي د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دی .

وفي المصابيح ضعيف : د دې مطلب دادی چي دغه حديث چي بغوي په کوم سند سره ذکر کړی دی هغه سند ضعيف دی نو د بغوي د سند د ضعيف کېدو سره دا نه لازميږي چي د ترمذي وغيره سند دي هم ضعيف وي او که په دې باره کي تکړ تسليم کړل سي نو د ترمذي قول هذا حديث حسن چي د بغوي دغه وينا ته چي دغه حديث ضعيف دی ترجيح نه حاصليږي بيا دا چي په يوه نسخه کي د ترمذي په قول کي لفظ د حسن څخه وروسته لفظ د صحيح هم دی او تورپشتي ويلي دي چي دغه حديث ته ضعيف ويل بالکل غلط دي .

## د حج رکن عظيم

﴿۲۵۹۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ يَعْمُرَ الدِّيْلِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عبدالرحمن بن يعمر ديلي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْحَجُّ عَرَفَةُ مَنْ اَدْرَكَ عَرَفَةَ لَيْلَةَ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوعِ

اوريدلي دي چي فرمايل يې: حج عرفه ده يعني د حج تر ټولو لوی رکن په نهمه نېټه پر عرفات قيام کول دي چا چي عرفات تر لاسه کړ (يعني د عرفات ميدان ته ورسيدئ) نو د مزدلفې په

الْفَجْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ اَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةٌ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ

شپه د سهار ځلانده کېدو څخه وړاندي هغه حج تر لاسه کړ او په منا کي درې ورځي دي (يعني يوولسم، دوولسم، او ديارلسم) .

وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

څوک چي تلوار وکړي او دوې ورځي وروسته ولاړ سي پر هغه څه ګناه نسته او څوک چي تر درو ورځو زيات قيام وکړي پر هغه هم څه ګناه نسته . ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۳\۲۳۷، رقم: ۸۸۹، وابوداود في السنن ۲\۴۸۵، رقم: ۱۹۴۹، والنسائي ۵\ ۲۶۴، رقم: ۳۰۴۴، وابن ماجه في السنن ۲\۱۰۰۳، رقم: ۳۰۱۵. والدارمي في السنن ۲\۸۲، رقم: ۱۸۸۷.

**تشريح** : هغه حج ادا كړی، ددې مطلب دادی چي د هغه حج فوت نه سو او هغه په حج كي د خرابۍ او فساد څخه په امن كي سو په شرط ددې چي هغه د احرام د وخت د پوره كېدو څخه مخكي د ښځي سره كوروالي يا يو داسي فعل نه وي كړی كوم چي د احرام په حالت كي منعه وي او دا خبره خو مخكي ښودل سوې ده چي د كوم چا حج فوت سي يعني هغه د ذي الحجې په لسمه شپه د طلوع فجر پوري د يوه دقيقې لپاره هم د عرفات وقوف ونه كړای سي نو پر هغه دا واجبېږي چي د عمرې افعال يعني طواف او سعي څخه وروسته احرام خلاص كړي او تر راتلونكي كال پوري د احرام تړل د هغه لپاره حرام دي.

كوم څوک چي تلوار وكړي : ددې مطلب دادی كه يو څوک د دوولسم تاريخ د ماپښين څخه وروسته د درو جمرو د رمي سره مكې ته راسي نو پر هغه څه گناه نه سته او په ديارلسمه شپه كي د قيام منی او په ديارلسم تاريخ رمي د هغه د ذمې څخه ساقط كيږئ همدارنگه كوم څوک چي ځنډ وكړي ددې مطلب دادی كه يو څوک په دوولسم تاريخ د جمراتو د رمي څخه وروسته په منی كي تم سي تر دې چي په ديارلسمه شپه هم د جمراتو رمي وكړي نو پر هغه هم څه گناه نه سته يعني د جواز په اعتبار سره خو دواړه صورتونه برابر دي البته د ډېر عبادت له مخي تاخير افضل دی ، نقل سوي دي چي د جاهليت په زمانې كي دوې ډلي وې يوې ډلي به تلوار گناه گڼل او دوهمي ډلي به ځنډ نو دا حكم نازل سو چي ځنډ او تلوار دواړه برابر دي په دې كي په هيڅ يوه كي څه گناه نسته.

==========

# بَابُ حَرَمِ مَكَّةَ حَرَّسَهَا اللهُ تعالی

## د مكې د حرم حرمت، الله ﷻ دي يې وساتي

حرم د مځكي هغه ټوټې ته وايي كوم چي د كعبې او مكې شاوخوا دی، الله تعالی د كعبې شريفي د عظمت په وجه دا مځكه هم معظمه او مكرمه كړې ده دغه مځكي ته حرم ځكه وايي چي الله تعالی د دغه مځكي د بزرگۍ په وجه په هغه كي داسي ډېر شيان حرام كړي دي كوم چي په نورو ځايو كي حرام نه دي مثلاً د احرام په حدودو كي ښكار كول، درختي پرېكول او څارويو

ته تكليف رسول او داسي نور شيان صحيح نه دي، ځيني علماء وايي چي د مځكي دغه برخي ته حرم ځكه ويل سوي دي چي كله حضرت آدم علیه السلام مځكي ته راكښته كړل سو نو د شيطانانو څخه بيريدى چي ما هلاک نه كړي نو الله تعالى د هغه د ساتني او حفاظت لپاره ملائكي راواستولې هغه ملائكو مكه د څلورو خواوو څخه راګير كړه نو د مكې شاوخوا ملائكو په درېدو سره حدبندي وكړه هغه د حرم حد و ټاكل سو او همدرانګه كعبه شريفه او د هغه ملائكو د درېدو د ځاى په منځ كي چي كومه مځكه راغلل نو هغه حرم سو، ځيني حضرات فرمايي چي حضرت آدم علیه السلام د كعبې جوړلو پر وخت حجر اسود ابښودى نو د هغه په وجه د څلورو خواوو څخه مځكه روښانه سوه هغه رڼا چي د مځكي څلورو خواوو ته تر كوم كوم ځاى پوري ورسيدل هغه د حرم حد و ټاكل سو، د حرم د مځكي حدود دادي: مدينې منورې ته درې مېله (تر تنعيم پوري)، د يمن، طائف، جعرانه او جدې خوا ته اووه مېله، په ځينو كتابو كي ليكلي دي چي جدې ته لس ميله او جعرانه ته نهه ميله دي، د حرم څلورو خواوو ته چي د حرم مځكه ختميږي هلته د حدود د علامې په توګه برجونه جوړ سوي دي مګر د جدې او جعرانې خوا ته برجونه نسته.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

### د حرم مكه فضيلت

﴿۲۵۹۶﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مكې د فتح په ورځ وفرمايل:

فَتْحِ مَكَّةَ لَا هِجْرَةَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا وَقَالَ يَوْمَ

اوس هجرت نسته مګر جهاد او نيت فرض دئ او هر كله چي تاسو د جهاد لپاره و بلل سئ نو د جهاد لپاره راووځئ، د مكې د فتح په ورځ رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل:

فَتْحِ مَكَّةَ إِنَّ هٰذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللّٰهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ فَهُوَ حَرَامٌ

دا ښار (مكه) حرام كړى دى الله جل جلاله په هغه ورځ په كومه ورځ چي آسمانونه او مځكه پيدا كړل

بِحُرْمَةِ اللّٰهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَمْ

دا الله جل جلاله د حرمت په سبب تر قيامته پوري حرامه ګرځولې ده او زما څخه وړاندي قتال د هيچا

لپاره حلال سوی نه دئ

يَحِلَّ لِي إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا يُعْضَدُ

او نه زما لپاره حلال سوی دئ مګر د ورځي يو ازي د يو ساعت لپاره اوس هغه د الله ﷻ د حرمت په سبب تر قيامته پوري حرامه سوې ده ددې ازغني درختي دي نه وهل کيږي

شَوْكُهُ وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهُ وَلَا يَلْتَقِطُ لُقَطَتَهُ إِلَّا مَنْ عَرَّفَهَا وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهُ

او په حرم کي دي ښکار نه کيږي او هيڅ يو لويدلی شی دي نه پورته کيږي مګر که څوک چي يې پورته کړي د هغه خاوند ته دي يې د هغه حقيقت او شناخت بيان کړي او ددې (ښار) واښه دي نه ريبل کيږي ،

فَقَالَ الْعَبَّاسُ يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا الْإِذْخِرَ فَإِنَّهُ لِقَيْنِهِمْ وَلِبُيُوتِهِمْ فَقَالَ إِلَّا الْإِذْخِرَ . متفق عليه و في رواية ابي هريرة لا يعضد شجرها ولا يلتقط ساقطتها الا منشد .

حضرت ابن عباس رضي الله عنه وويل اې دالله رسوله ! مګر اذخر (يو ډول واښه) خو يو داسي شی دئ چي د پښ د ويلي کولو په کار راځي او په کورو کي ددې ضرورت دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل مګر اذخر دي و ريبل سي . بخاري او مسلم . او د ابوهريرة په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ددې درختي دي نه وهل کيږي او نه دي يو پروت شی پورته کړل سي مګر لټونکی يې پورته کولای سي .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۴۶- ۴۷، رقم: ۱۸۳۴، ومسلم في الصحيح ۲\ ۹۸۶، رقم: ۴۴۵- ۱۳۵۳.

**تشريح**: کله چي رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ نو هغه وخت هجرت پر هر چا باندي فرض وو چا چي ددې توان درلودی ، بيا کله چي مکه فتحه سوه نو د هغه هجرت لړۍ منقطع سوه کوم چي فرض وه ځکه چي د هغه څخه وروسته مکه مکرمه دار الحرب پاته نه سو ، نو ددغه ارشاد مطلب : او هجرت نسته .... : دادی که اوس يو څوک هجرت وکړي نو هغه ته هغه درجه نه تر لاسه کيږي کوم چي مهاجرينو ته تر لاسه سوې ده البته په جهاد او اعمالو کي د حسن نيت اجر اوس هم پاته دی او همېشه به پاته وي همدا رنګه هغه هجرت هم

باقي دى چي د خپل دين او اسلام د احکامو او شعائرو د ساتني لپاره وي او د هغه اجر هم تر لاسه کيږي.

نه دي يو خارداره درخته پريکوي: ددې څخه معلومه سوه چي د خار نه لرونکي درختي پريکول په درجه اولى جائز نه دي، په هدايه کي ليکلي دي که يو څوک د حرم د مځکي څخه داسي وابنه يا درخته پريکړي چي د يو چا په ملکيت کي نه وي او خپله شنه کيږي نو پر هغه باندي د هغه وابنو يا درختي د قيمت په اندازه جزاء واجبيږي البته د اوچو وابنو ريبلو په صورت کي قيمت نه واجبيږي مګر د هغه ريبل هم صحيح نه دي د حرم د مځکي د وابنو غلا کول هم جائز نه دي بلکه اذخر ريبل جائز دي همدارنګه کماة (يو ډول وابنه) هم مستثنى دى، د امام شافعي رحمه الله په مذهب کي د حرم په مځکه کي د څارويو پيول جائز دي.

لقطة، هغه شي ته وايي چي په لاره کي پيدا سي او د هغه خاوند معلوم نه وي د حرم په مځکي کي د لقطې حکم دادى چي د هغه پورته کونکى دي په عامو خلکو کي دا اعلان وکړي چي ما د يو چا شى پيدا کړى دى د هر چا چي وي حاصل دي يې کړي، که ددغه اعلان څخه وروسته هم د هغه شي خاوند پيدا نه سي نو که چيري هغه سړى خپله غريب او مستحق وي نو خپله دي يې استعمال کړي او که غريب نه وي نو بيا يو بل غريب ته دي يې د صدقې په توګه ورکړي، که چيري د هغه خاوند پيدا سي نو د هغه قيمت دي ورکړي مګر د حرم په مځکه کي د لقطې په اړه څرنګه چي د پورتني حديث څخه معلومه سوه دا خبره نه ده بلکه يوازي اعلان دى تر څو پوري چي د هغه خاوند پيدا نه سي يعني تر څو چي د هغه د خاوند معلومات ونه سي تر هغه وخته پوري د هغه اعلان دي کوي او د خاوند انتظار دي کوي هغه شى دي تر پايه پوري نه خپله استعمالوي او نه دي يې چا ته په صدقه کي ورکوي او نه دي يې خپل ملکيت ګرځوي، د امام شافعي رحمه الله مذهب دادى مګر د اکثرو علماؤ په نزد د حرم او غير حرم د لقطې په مينځ کي هيڅ فرق نسته، د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب هم دادى د هغوئ دليل هغه حديثونه چي په هغو کي په مطلق توګه باندي د لقطې حکم بيان سوى دى چي انشاء الله د لقطه په باب کي به راسي.

د حديث الفاظ: (الا من عرفها) مطلب دادى چي ددغه علماؤ په نزد د حرم د مځکې د لقطې پورته کونکى تر يو کال پوري که په مکه کي وي نو د هغه اعلان دي کوي لکه څرنګه چي په نورو ځايو کي دي، اعلان کول دي يوازي د حج تر ورځو پوري نه مخصوص کوي، يعني د حديث ددغه جملې مطلب دا سو چي د حرم د مځکي د لقطې په باره کي چا ته دا غلط فهمي او ګمان کول نه دي پکار چي هلته دغه اعلان يوازي د حج په ورځو کي کافي دى.

## په مکه کي بېله ضرورت وسله پورته کول صحيح نه دي

﴿۲۵۹۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د نبي كريم ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي په تاسو کي هيچا ته په مکه کي (د جګړې لپاره) وسله پورته کول جائز نه دي . مسلم .

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۸۹، رقم: ۴۴۹- ۱۳۵۶.

**تشريح**: د اکثرو علماؤ په نزد ددې مطلب دادی چي په مکه کي بېله ضرورته وسله پورته کول صحيح نه دي مګر امام حسن رحمه الله فرمايي چي په مکه کي نه يوازي بېله ضرورته بلکه د ضرورت په وخت کي هم وسله پورته کول صحيح نه دي .

## په مکه کي د قصاص او حد جاري کېدو مسئله

﴿۲۵۹۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ دَخَلَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ وَقَالَ إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلْهُ . متفق عليه .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ په داسي حال کي مکې ته داخل سو چي د رسول الله ﷺ پر سر مبارک خول (جنګي ټوپۍ) وه کله چي رسول الله ﷺ هغه د سر څخه کښېته کړه نو يو سړی حاضر سو او عرض يې وکړ ، ابن خطل د کعبې پرده نيولې ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه ووژنئ ، (ابن خطل مرتد سوی وو هغه يو مسلمان شهيد کړی وو ، ددې څخه ثرګنديږي چي په حرم کي حد جاري کول جائز دي) . بخاري او مسلم .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۵۹، رقم: ۱۸۴۶، ومسلم ۲\۹۸۹، رقم: ۴۵۰- ۱۳۵۷.

**تشريح**: علامه طيبي رحمه الله ليکلي دي چي رسول الله ﷺ د خول (جنګي خولۍ) پر سر کولو سره په مکه کي داخليدی ، د امام شافعي رحمه الله ددغه مذهب دليل دادی چي کوم سړی د حج يا عمرې اراده نه لري نو هغه د احرام څخه پرته په مکه کي داخليدای سي مګر د امام ابوحنيفة

رحمة الله عليه مذهب دادى چي کوم څوک په شرط ددې چي آفاقي وي لکه په مکه کي داخلېدل وکړي که هغه د حج او عمرې اراده لري او که د بل مقصد لپاره مکې ته ځي نو هغه دي د ميقات څخه د احرام تړلو څخه پرته په مکه کي نه داخلېږي ځکه شمني رحمة الله عليه وايي چي د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه دليل د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دى چي هيڅ سړى دي د احرام تړلو څخه پرته د ميقات څخه مخته نه ځي او دا چي احرام خو محض د هغه مقدس ځاى يعني د کعبې شريفي د تعظيم لپاره تړل کيږي ځکه نو که څوک د حج يا عمرې لپاره مکې ته ولاړ سي او که د بل مقصد لپاره ځي نو د کعبې شريفي د تعظيم له کبله د احرام څخه پرته بايد مکې ته داخل نه سي .

او س پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ د احرام څخه پرته په مکه مکرمه کي څرنګه داخل سو ، ددې جواب دادى چي د مکې مکرمې د فتح په ورځ په هغه خاص ساعت کي بېله احرامه په مکه کي داخلېدل د رسول الله ﷺ لپاره حلال سوي وه ددې تائيد ددغه باب د اول حديث ددغه الفاظو څخه هم کيږي : ولم يحل لي الا ساعة من نهار: او نه زما لپاره حلال سوي دي پرته د ورځي د يوه ساعت څخه .

د ابن خطل په باره کي علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي هغه مسلمان وو مګر بيا مرتد سوى وو او هغه يو مسلمان قتل کړى وو چي د هغه خادم وو او هغه يوه غزل ويونکې انجلۍ ساتلې وه چي د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ، د اسلام د احکامو او شعائرو هجو (بد ويل) به يې کول. ځکه رسول الله ﷺ د هغه د وژلو حکم وکړ .

ددغه خبري څخه امام مالک او امام شافعي رحمة الله عليهما دا استدلال کوي چي په حرم کي د قصاص او حد جاري کول جائز دي ، د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد دا جائز نه دي ، امام ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي چي رسول الله ﷺ د ابن خطل د قتل حکم ځکه ورکړى وو چي مرتد سوى وو بيا هم که چيري دا ومنل سي چي رسول الله ﷺ هغه د قصاص په توګه قتل کړ نو بيا به دا وويل سي چي د هغه قتل په هغه خاص ساعت کي سوى وو چي په هغه کي رسول الله ﷺ لپاره د حرم مځکه مباح کړل سوې وه .

## بېله احرامه مکې ته ننوتل!

﴿۲۵۹۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ په داسي حال کي مکې ته داخل سو چي د رسول الله ﷺ پر سر مبارک توره لنګوټه تړلې وه او احرام يې نه وو تړلی. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۹۹۰، رقم: ۴۵۱- ۱۳۵۸.

**تشريح**: په ظاهره خو دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ پر سر مبارک باندي د خول په اېښودو سره د هغه سربېره توره لنګوټه تړلې وه، بېله احرامه په مکې د داخلېدو په باره کي د دريم نمبر حديث په تشريح کي بحث سوی دی دا حديث ددې دليل دی چي تور رنګ جامې استعمالول مستحب دي لکه څرنګه چي د امام ابو حنيفة رحمه الله مذهب دی.

## د کعبې شريفې د تخريب پيشګويي

﴿۲۶۰۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په آخره زمانه کي) به

جَيْشٌ الْكَعْبَةَ فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ قُلْتُ

يو لښکر پر کعبې د حملې کولو او د هغې د خرابولو اراده وکړي هغه به يو مېداني ځمکي ته ورسيږي نو د اول څخه تر پايه پوري به په ځمکه کي ښخ کړل سي، ما عرض وکړ

يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ وَفِيهِمْ أَسْوَاقُهُمْ وَمَنْ لَيْسَ

اې د الله رسوله! هغوئ به د اول څخه تر پايه پوري ولې په ځمکه کي ښخ کړل سي؟ په هغوئ کي خو به بازاريان (يعني سودا خرڅونکي وغيره) هم وي، او هغه خلک هم چي د هغوئ څخه

مِنْهُمْ قَالَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ ثُمَّ يُبْعَثُونَ عَلَى نِيَّاتِهِمْ. متفق عليه.

نه دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، هغه ټول به په ځمکه کي ښخ کړل سي بيا به د خپلو نيتو سره سم راپورته کړل سي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري)، ۴\۳۳۸، رقم: ۲۱۱۸، ومسلم في الصحيح ۴\۲۲۱۰، رقم: ۸- ۲۸۸۴.

**تشريح**: دا د رسول الله ﷺ د هغه زمانې په باره کي پېشګويي ده کله چي دنيا په آخر دور کي وي چي په هغه آخري زمانه کي به د حضرت مهدي عليه السلام د ظهور څخه وروسته د مصر د

حکمران سفياني يو لښکر کعبې شريفې ته د تاوان رسولو ناپاکه ارادې سره مکې ته روان سي مګر هغه به په خپل ناپاکه اراده کي د کامياب کېدو څخه مخکي په مځکه کي غرق کړل سي.

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي که څه هم داسي خلک به د لښکر د ناپاکې ارادې همنوا نه وي او کعبې شريفې ته به د تاوان رسول يا د هغه سپکاوی کول به د هغوئ مقصد نه وي مګر په هغه لښکر کي د ګډون کولو سره نه يوازي دا چي د هغوئ په لښکر کي به اضافه کوي بلکه يو ډول د هغوئ په ناپاکه اراده کي به د مرستي سبب هم جوړيږي ځکه د ټول لښکر سره به هغوئ په مځکه کي غرق کړل سي، مګر په قيامت کي به ټول د هغوئ د نيتونو مطابق پورته کړل سي چي کوم سړي د يو مجبوري او زور په وجه په لښکر کي شامل سوی وي او د هغه نيت پاک او د هغه زړه د ايمان او اسلام د رڼا څخه منور وي نو هغه به په جنت کي داخليږي او کوم خلک چي واقعي په ناپاکه ارادو سره او د کفر په نيت په لښکر کي شامل سوي وي نو هغوئ به د دوږخ اور ته حواله کړل سي.

﴿۲۶۰۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کعبه به په حبشيانو کي يو سړی خرابه کړي چي د هغه پنډۍ به کوچنۍ او نرۍ نرۍ وي. بخاري او مسلم.

ريج: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۳\ ۴۶۰، رقم: ۱۵۹۶، ومسلم في الصحيح ۴\ ۲۲۳۲، رقم: ۵-۲۹۰۹.

**تشريح**: دا مقدر سوي دي چي د کعبې شريفې بربادي به د يو حبشي په لاس وي، دا د عبرت خبره ده چي کعبې شريفه به د خپل قدر او عظمت سربېره د يو حقير او سپک سړي په لاس تباه کيږي او کله چي کعبه شريفي تباه او برباد سي نو قيامت به راسي چي د هغه په نتيجه کي به دغه ټوله دنيا تباه او برباد سي ځکه چي د دغه عالم ابادي د کعبې شريفې د وجود سره متعلق ده.

﴿۲۶۰۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لکه زه چي وينم چي کعبه

خرابونکی به یو سړی وي چي رنګ به يې تور وي او پنجی به يې په خپلو کي جنګيدلي وي او پوندي او پنډی به يې ليري ليري وي هغه به د کعبې يوه يوه ډبره د بيخه وکاږي. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۳\۴۶۰، رقم: ۱۵۹۵.

**د لغاتو حل**: افحج: الذي يتداني صدور قدميه ويتباعد عقباه يتفحج ساقاه ومعناه يتفرج.

**تشريح**: افحج هغه سړي ته وايي چي د هغه پنجې په خپلو کي يو ځای سوی وي او پنډی يې ليري ليري وي.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### په حرم کي غله ساتل

﴿۲۶۰۳﴾: عَنْ يَّعْلِيْ بْنِ اُمَيَّةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ احْتِكَارُ الطَّعَامِ فِي الْحَرَمِ إِلْحَادٌ فِيهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت يعلي بن اميه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په حرم کي غله (خوراکي توکي) بند ساتل الحاد (يعني حق پرېښودل پر غلطه لاره تګ) دئ. ابوداؤد.

**تخريج**: ابوداود في السنن ۲\۵۲۲، رقم: ۲۰۲۰.

**تشريح**: د احتکار مطلب دادی چي مثلا يو سړی د ګرانۍ په دور کي غله په دې نيت رانيسي چي کله ګراني زياته سي نو خرڅه به يې کړم، دا نه يوازي دا چي يو ټولنيز ظلم دی بلکه پر شرعي توګه هم ګناه ده. د اسلام په رڼا کي دغه د نفرت وړ کار په هر ځای او هر ښار کي حرام دی مګر په حرم کي داسي کول اشد حرام دی چي پر هغه د کجروۍ (يعني حق پرېږدي د باطل و لور ته مائله سي) اطلاق سوي دی او په حرم کي د کجروۍ په اړه الله تعالی داسي فرمايلي دي: ومن يرد فيه بالحاد بظلم نذقه من عذاب اليم: او کوم څوک چي په حرم کي په ظلم سره د کجروۍ اراده وکړي نو موږ به پر هغه دردناک عذاب وڅکو.

مسئله: د ګرانۍ په نيت سره د انسان او د څارويو شيان منع کول په هغه ښار کي مکروه دي چي په هغه سره د هغه ځای اوسيدونکو ته تکليف رسيږي.

### د مکې مکرمې فضيلت

﴿۲۶۰۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَّةَ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مکې ته ،

مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب اسنادا .

کوم وخت چي د مکې د فتح څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه ستون سو نو وه يې فرمايل : څه ښه ښار دئ او ځومره پر ما ګران دئ که زما قوم زه ددې ښار څخه نه وای ايستلی نو زه به د مکې څخه پرته بل يو ځای نه اوسيدم . ترمذي، دا حديث حسن صحيح دئ د اسناد په اعتبار غريب دئ .

**تخريج** : الترمذي في السنن ۵\ ۶۷۹، رقم: ۳۹۲۶.

**تشريح** : دا حديث ددې خبري دليل دی چي مکه مکرمه د مدينې منورې څخه افضله ده د اکثرو علماؤ دا قول دی مګر د امام مالک ؒ په نزد د مدينې فضيلت تر مکې زيات دی .

﴿۲۶۰۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ حَمْرَاءَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عبد الله بن عدي بن حمراء ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه چي په

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الْحَزْوَرَةِ فَقَالَ وَاللَّهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللَّهِ وَأَحَبُّ أَرْضِ

حزوة نامي ځای کي ولاړوو واوريدل : په الله دي مي قسم وي (اې د مکې ځمکي) ته د الله ﷻ په ځمکو کي غوره ځمکه يې او د الله په ځمکو کي ته د الله ﷻ په نزد تر ټولو زياته محبوبه يې

اللَّهِ إِلَى اللَّهِ وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

که زه ستا څخه نه وای ايستل سوی نو هيڅکله به نه وای وتلی . ترمذي او ابن ماجه .

**تخريج** : ابن ماجه في السنن ۲\ ۱۰۳۷، رقم: ۳۱۰۸، والترمذي ۵\ ۶۷۹، رقم: ۳۹۲۵.

**د لغاتو حل** : الحزورة: موضع بمكة. (په مکه معظمه کي يوه سيمه).

**تشريح** : حزوره په مکه مکرمه کي د يو ځای نوم دی ، رسول الله ﷺ په هغه ځای کي په دريدو سره مکې ته په مخاطب کولو سره پورتنۍ جملې وفرمايلې .

په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي د مؤمن د شان تقاضا داده چي هغه په دغه مقدس ښار کي خپل قيام يو عظيم سعادت وګڼي او د مکې هستوګنه تر هغه وخته پوري ترک نه کړي

چي هغه پر دې باندي حقيقتا يا حكما مجبور نه كړل سي ځكه ويل سوي دي چي په مكه مكرمه كي داخلېدل سعادت او د هغه ځخه وتل شقاوت دى.

په درمختار كي ليكلي دي چي د مكې او مدينې مجاورت (يعني په د ئه ه ږدا ړو ښارو كي هستوګنه) د هغه چا لپاره مكروه نه دي چي هغه ته پر خپل نفس باندي واک تر لاسه وي، يعني كوم چا ته چي دا يقين وي چي زما ځخه ګناه نه كيږي نو هغه دي په دغه ښارو كي هستوګنه كوي او كه چا ته دا يقين نه وي نو هغه دي دلته هستوګنه نه كوي.

## اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

﴿۲۶۰۶﴾: عَنْ اَبِيْ شُرَيْحِ الْعَدَوِيِّ اَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ

د حضرت ابو شريح العدوي رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي كله عمروبن سعيد رضي الله عنه د مكې په لور

الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الْأَمِيرُ أُحَدِّثُكَ قَوْلًا قَامَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

لښكر وليږئ نو ما هغه ته وويل: اي اميره! ما ته اجازه راكړه چي زه ستا په وړاندي هغه خبره بيان كړم كومه چي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي وَأَبْصَرَتْهُ

د مكې د فتح ځخه وروسته په دويمه خطبه كي فرمايلې وه، هغه خبره زما غوږو واوريدل، او زما زړه ياد كړه او ما رسول الله ﷺ په خپلو ستر ګو سره ليدلى وو

عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ حَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللَّهُ وَلَمْ

كله چي هغه دا خبره فرمايلې وه، تر ټولو وړاندي رسول الله ﷺ د الله جل جلاله حمد او ثناء بيان كړه بيا يې وفرمايل: مكې ته الله تعالى عظمت بخښلى دئ

يُحَرِّمْهَا النَّاسُ فَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ بِهَا

او خلكو بزرګي نه ده وركړې د هغه چا لپاره چي پر الله جل جلاله او د آخرت پر ورځ ايمان لري جائز نه ده چي په دې كي جګړه وكړي

دَمًا وَلَا يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَةً فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

او نه دا جائز ده چي ددې ځخه درختي ووهي بيا که څوک دا ووايي چي رسول الله ﷺ په دې کي

وَسَلَّمَ فِيهَا فَقُولُوا إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَذِنَ لِرَسُولِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهَا

جګړه کړې ده نو ددې په جواب کي دي دا وويل سي چي الله تعالى خپل رسول ﷺ ته ددې اجازه ورکړې وه او تاسو ته يې اجازه نه ده درکړې ، رسول الله ﷺ فرمايلي دي ما ته په مکه کي د جګړې لپاره يوازي يو ساعت اجازه راکړل سوه

سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ ثُمَّ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ وَلْيُبَلِّغ

او اوس د هغې عظمت او حرمت د معمول سره سم پر خپل ځای دئ يعني نن ددې هغه عظمت او حرمت دئ کوم چي پرون وو او پکار دي چي

الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَقِيلَ لِأَبِي شُرَيْحٍ مَا قَالَ لك عَمْرٌو قال قَالَ أَنَا أَعْلَمُ

کوم خلک دلته شتون لري هغه خلکو ته (دا خبره) ورسوي کوم چي دلته شتون نه لري ، د ابو شريح ځخه پوښتنه وسول چي ددې په جواب کي عمرو تا ته څه وويل ؟ ابو شريح بيان وکړ چي عمرو رضی الله عنه ما ته وويل : اې ابو شريح دا حديث ستا ځخه زيات ما ته ځرګند دئ

بذالك مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ لَا يُعِيذُ عَاصِيًا وَلَا فَارًّا بِدَمٍ وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ .

متفق عليه . وفي البخاري الخربة الجناية .

چي د حرم مځکه نافرمان ته پناه نه ورکوي او نه خوني تېښتنه کونکي ته پناه ورکوي او نه هغه چا ته د يو جرم له کبله تېښتېدلی وي . بخاري او مسلم ، په بخاري کي د خرمه معنا د جنايت ده .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري) : ۱۸\۲۰۱، رقم : ۴۲۹۵، ومسلم ۲\۹۸۷، رقم : ۴۴۶– ۱۳۵۴.

**د لغاتو حل** : لايعيذ : اى لا يجير . (ځای نه ورکوي).

**تشريح** : عمرو بن سعيد د خليفه عبدالملک ابن مروان له خوا د مديني منورې حاکم وو ، کله چي هغه د حضرت عبدالله ابن زبير رضی الله عنه د وژلو لپاره د مديني ځخه مکې ته لښکر وليږی نو حضرت ابوشريح صحابي د هغه ددغه فيصلې ځخه دبيزارۍ اظهارولو سره د رسول الله ﷺ پورتنی حديث بيان کړی ، ددې ځخه د هغه دا مطلب وو چي په حرم کي د قتل ورسرې د وژلو اجازه هم نه سته بيا څه چي د يو جليل القدر صحابي د ويني بيولو لپاره هلته لښکر وليږل سي ،

ددې په جواب کي عمرو ابن سعيد وويل چي د حرم مځکه هغه چا ته پناه نه ورکوي کوم چي د خليفه څخه په بغاوت کولو سره نافرماني کوي ، يعني د عمرو ابن سعيد په گمان کي عبدالملک ابن مروان پر حق وو او حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه باغي وو ، حالانکه عبدالملک ابن مروان خليفه پر حق نه وو چي د هغه د خلافت انکار کونکی په شرعي توگه سره باغي وگرځول سي ، همدارنگه عمرو ابن سعيد دا هم وويل که يو سړی د يو چا په وژلو سره حرم ته ولاړ سي نو حرم هغه ته هم پناه نه ورکوي همدارنگه که يو څوک په تقصير کولو سره يعني په دين کي د فساد کولو سره يا په دين کي د يو جرم کولو سره يا د يو بل قصور کولو سره مثلاً د چا مال تلف کړي يا د يو چا حق غصب کړي او وتښتي او په حرم کي پناه واخلي نو ددې مطلب دا نه دی چي هغه دي معاف کړل سي يعني د عمرو ابن سعيد د جواب مطلب دا وو چي عبدالله ابن زبير رضي الله عنه يو گناه کار او نافرمان سړی دی چي هغه د خليفه د پيروی څخه سرکښي کړې ده که هغه د حرم د مځکي څخه راووځي نو هلته به هغه ته سزا ورکړل سي او که په حرم کي اوسيږي نو هغه ته به په حرم کي سزا ورکړم نو همدارنگه وسوه يعني د حرم په مځکه کي هغه شهيد کړل سو . رضي الله عنه .

﴿۲۶۰۷﴾ : وَعَنْ عَيَّاشِ بْنِ أَبِيْ رَبِيْعَةَ الْمَخْزُوْمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عياش بن ابي ربيعة مخزومي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : دا

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ هٰذِهِ الْأُمَّةُ بِخَيْرٍ مَا عَظَّمُوا هٰذِهِ الْحُرْمَةَ حَقَّ تَعْظِيْمِهَا فَإِذَا ضَيَّعُوْا ذٰلِكَ هَلَكُوْا . رواه ابن ماجة .

امت به هميشه په خير کي وي تر څو پوري چي د مکې عظمت کوي او ددې حرمت په پوره توگه سره کوي او هر کله چي ددې حرمت ضائع کوي نو هلاک به سي . ابن ماجه .

**تخريج** : سنن ابن ماجه ۲\۱۰۳۸، رقم: ۳۱۱۰.

============

# بَابُ حَرَمِ الْمَدِيْنَةِ حَرَّسَهَا الله تعالى

## د مديني حرم ، الله ﷻ دي يې ساتونکی سي

د مديني منورې او د هغه د شاوخوا د حرمت په باره کي هم حديثونه نقل سوي دي مگر په دې اړه د علماؤ مختلف قولونه دي ، د حنفي علماؤ په نزد د مديني او د هغه د شاوخوا د حرمت مطلب دادی چي د دغه مقدس ښار او شاوخوا سيمو تعظيم او تکريم دي وکړل سي نه دا چي د د هغې هم دا حکم دی کوم چي د مکې او د هغې د شاخوا ځکي دی نو د حنفي مذهب مطابق په مدينه او شاوخوا ځکه کي د درختو پرېکول، ښکار کول او داسي نور شيان حرام نه دي مگر د ائمه ثلاثه په نزد د مکې حرم او مديني حرم يو حکم دی ځکه د هغه په مذهب کي مدينه او د هغه شاوخوا کي هغه ټول شيان حرام دي کوم چي په مکه او د هغه په شاوخوا کي حرام دي بيا هم د دغه امامانو په نزد د مديني په حرم کي د دغه شيانو په کولو سره جزاء نه واجبيږي .

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

### د مديني منورې د حرم حدود

﴿۲۶۰۱﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا كَتَبْنَا عَنْ رسولِ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ څخه هيڅ شی نه دئ ليکلی مگر

الْقُرْآنَ وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قرآن او هغه شی چي په دې صحيفه کي دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْمَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا

مدينه حرم دئ د عير څخه تر ثور پوري (دا دوو غرونو نومونه دي) څوک چي په مدينه کي يوه نوې خبره پيدا کړي يا نوې خبره پيدا کونکي ته پناه ورکړي

فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ

پر هغه دي د الله ﷻ، د الله ﷻ د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي د هغه فرض او نفل نه

وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ

قبليږي، د ټولو مسلمانانو عهد يو دئ هغه ادنا سړی هم کولای سي نو د هغه پوره کول پر ټولو مسلمانانو فرض دي، نو څوک چي د يو مسلمان عهد مات کړي پر هغه د الله ﷻ،

اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ وَمَنْ وَالَى

د الله ﷻ د ملائکو او د ټولو مسلمانانو لعنت دئ نه به څيني څه فرض قبول سي او نه يو بل

قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ

بدل، او چا چي موالات (دوستي) وکړه له يو قوم سره بې له اجازې د بادارانو خپلو نو پر ده لعنت د خدای دی او د ملائکو او د خلکو ټولو قبول به نسي

مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ. متفق عليه وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ أَوْ

له ده څخه فرض او نه نفل. بخاري او مسلم. د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي دا الفاظ چي څوک خپل پلار څخه پرته د بل چا په لور ځان منسوب کړي يا

تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ.

د خپل مالک څخه پرته نورو مالکانو ته ځان منسوب کړي نو پر هغه دي د الله ﷻ، د الله ﷻ د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي د هغه فرض او نفل نه قبليږي.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\ ۸۱، رقم: ۱۸۷۰، ومسلم في الصحيح ۱۲\ ۹۹۴، رقم: ۴۶۷-۱۳۷۰.

**تشريح**: څيني خلکو به ويل چي رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته د قرآن کريم څخه پرته يو بل کتاب په خاصه توګه ورکړی دی چي د هغه علم بل چا ته نه سته، کله چي دا خبره حضرت علي رضي الله عنه واورېدل نو د دې ترديد يې وکړ او وه يې فرمايل چي ما خو د رسول الله ﷺ له طرف څخه قرآن کريم ليکلی دی او بيا مي پر څو احکامو باندي مشتمل هغه حديثونه ليکلي دي کوم چي په دغه صحيفه کي دي د دې څخه پرته نه ما بل يو کتاب ليکلی دی او نه رسول الله ﷺ د قرآن

کریم څخه پرته ما ته بل کتاب راکړی دی نو د صحیفې څخه مراد هغه لیکل سوي ورقي وې چي په هغو کي رسول الله ﷺ د آیاتو احکامو او څو نور احکام تحریر کړی وه چي د حضرت علي رضی الله عنه د توري په تیکي (پوښ) کي به وه.

په دغه صحیفه کي د آیاتو د احکامو څخه پرته نور کوم احکام چي لیکل سوي وه په هغه کي د مدینې منورې په اړه دا حکم هم وو کوم چي حضرت علي رضی الله عنه په پورتني حدیث کي بیان کړ نو مدینه د عیر او ثور په مینځ کي احرام ده ددې مطلب دادی چي مدینه منوره او د هغه شاوخوا هغه مځکه چي د عیر او ثور په مینځ کي ده د قدر او عظمت والا ده په دغه مځکه کي د داسي شیانو کول منع دي کوم چي ددغه مقدس ښار او ددغه باعظمته مځکه د توهین او حقارت سبب وي مګر د امام شافعي رحمه الله په نزد د حرام څخه مراد حرم دی یعني مدینه منوره د مکې مکرمې د حرم په ډول ده چي کوم شیان مثلا ښکار وغیره د مکې په حرم کي حرام دي هغه په مدینه کي هم حرام دي همدارنګه د هغوئ په نزد د مدینې د حرم حدود د عیر او ثور په نامه غرونه دي کوم چي د مدینې منورې دواړو خواوو ته واقع دي.

لایقبل منه صرف ولاعدل: دلته لفظ د صرف د فرض په معنی هم اخیستل کیږي او د نفل په معنی هم او توبه او شفاعت هم ددغه لفظ معنی کیدای سي همدارنګه د عدل معنی نفل هم کیدای سي او فرض هم، او ځیني حضرات وایي چي شفاعت او توبه هم ددغه لفظ معنی کیدای سي.

حضرت علي رضی الله عنه د هغه صحیفې څخه د رسول الله ﷺ لیکل سوی دوهم حکم دا بیان کړ چي د مسلمانانو آمان د یو واحد شي په مثل دی چي د هغه تعلق د امت د هر فرد سره کیدای سي که هغه لوړ وي او که کښته، مثلا څرنګه چي یو اعلی حیثیت والا مسلمان ته دا اختیار حاصل دی چي هغه یو چا ته امان ورکړي همدارنګه یو ادنی مسلمان ته هم د امان ورکولو اختیار حاصل دی او د هغه د عهد او امان لحاظ ساتل د هر مسلمان لپاره ضروري دي، یعني ددغه حکم خلاصه دا سوه که په مسلمانانو کي یو څوک که هغه هر څومره حقیر او کمتر وي (لکه غلام وغیره) یو غیر مسلمان ته امان ورکړي او د هغه سره د هغه د سر او مال د ساتني عهد وکړي او هغه په خپل پناه کي واخلي نو د هغه عهد ماتول د بل مسلمان لپاره جائز نه دي، که یو مسلمان د بل مسلمان عهد او امان تر پښنو لاندي کړي په دې توګه چي د هغه په امان کي غیر مسلم ته تاوان ورسوي نو هغه به د الله جل جلاله، د ملائکو او د ټولو مسلمانانو د لعنت مستحق وي.

حضرت علي رضی الله عنه د هغه صحیفې څخه یو حکم دا هم بیان کړ چي کوم څوک د خپلو ملګرو د

اجازې څخه پرته د نورو خلکو سره د دوستۍ تعلق قائم کړي نو هغه هم د لعنت مستحق دی ، په دې باره کې تفصيل دادی چې د ولاء دوه ډولونه دي : اول ډول خو ولاء موالات دی چې د هغه صورت دادی چې مثلا د عربو دا معمول وو چې ځيني خلکو به په خپلو کې د دوستۍ قائمولو سره دا عهد کوی او قسم به یې کوی چې موږ به د یو بل په ښه او بد کې ګډون کوو د ژوند په هر پړاو کې به د یو بل مرسته کونکي یو په خپلو کې به د یو بل دوست سره دوستي کوو او د دښمن سره به د ښمني کوو ، دې ته ولاء موالات وايي ، د جاهليت په زمانه کې په خپلو کې د عهد تعلق صحيح او غلط ، حق او ناحق د هري معاملې سره کيدی یو سړی که پر حق وو او که پر ناحقه د هغه دوهم ملګری به د هغه مرسته په هر حال کې کول مګر کله چې د اسلام رڼا د جاهليت تياره ختمه کړه نو په مسلمانانو کې دومره تصحيح وسوه چې د هغوئ د یو بل سره مرسته به یوازې تر صحيح او حق معاملې پورې محدود وه مګر ددې سربېره دا معمول وو تر دې چې اکثر عجم به عرب ته راتلل او د صحابه کرامو سره به یې دغه سلسله قائمول .

دوهم ډول ولاء عتاقت دی ، ددې صورت دادی چې یو سړی خپل غلام ازادوي نو پر هغه غلام باندې دا حق ولاء ثابتيږي چې د هغه عصبه (زوی ، ملسی وغيره) نه کېدو په صورت کې هغه ازادونکی به د هغه وارث وي نو د ذوي الفروض (پلار ، نيکه او داسې نورو) څخه چې څه پاته سي هغه به د هغه خاوند وي .

اوس په دې پوه سئ چې په پورتني حديث کې د موالات څخه د ولاء اول قسم هم مراد کيدای سي په دې صورت کې ددې حکم معنی به دا وي چې یو موالي يعني د پورتني عهد سره سم دوست او ملګری وي نو هغه ته پکار دي چې هغه د خپلو دغه دوستانو د اجازې څخه پرته بله ډله خپل موالي جوړ نه کړي ځکه چې ددې په وجه یو ډول عهد ماتول هم کيږي او مسلمانانو ته قلبي اذيت او روحاني کيفيت کې اخته کېدل هم کيږي چې د یو مسلمان لپاره قطعا مناسب نه دي او دا احتمال هم دی چې د موالات څخه د ولاء دوهم ډول مراد وي نو په دغه صورت کې به معنی دا وي چې کوم څوک د خپل ازادۍ نسبت د ازادونکي پر ځای بل چا ته وکړي نو هغه د لعنت مستحق کيږي ځکه د خپل پلار پر ځای بل چا ته خپل نسبت کونکی سړی د لعنت مستحق کيږي ، په دغه صورت کې به د بېله اجازې مواليه قيد د اکثريت په اعتبار وي چې اکثر داسې کيږي که ازادی سوی غلام د خپل مالک څخه ددې اجازه وغواړي چې هغه د ازادۍ نسبت د هغه پر ځای بل چا ته وکړي نو هغه به ددې اجازه نه ورکوي مګر دا مطلب نه دی که مالک اجازه ورکړي نو بيا بل چا ته نسبت کول صحيح کيږي ځکه چې بيا به د درواغو صورت جوړ سي چې

په هیڅ صورت کي جائز نه دی.

## د شیعه ګانو د قول تردید

شیعه ګان وایي چي رسول الله ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته یوه وصیت نامه ورکړې وه چي په هغه کي یو خو دا چي خاص خاص خبري وې او بل د حضرت علي رضی الله عنه د اول خلیفه ټاکلو هدایت هم وو، دد غه وصیت نامې علم په اهل بیتو کي څو خاصو کسانو مثلا حضرت علي رضی الله عنه، بي بي فاطمه رضی الله عنها او داسي نورو څخه پرته بل چا ته نه وو، ظاهره ده چي د شیعه حضراتو دغه قول د اختراع څخه زیات بل څه اهمیت نه لري ځکه پورتنی حدیث دد غه قول په تردید کي ټینګ دلیل دی. حضرت علي رضی الله عنه خپله په وضاحت سره فرمایي چي ما د رسول الله ﷺ له طرف څخه د قرآن کریم او پورتنۍ صحیفې څخه پرته نور هیڅ نه دي لیکلي.

په پای کي په دې خبره هم پوه سئ چي دغه حدیث ددې خبري دلیل دی چي د علم خبري لیکل او ترتیب کول مستحب دي چي یو عظیم الشان خدمت هم دی او د اجر باعث هم دی.

### په مدینه کي اوسیدل د دنیا او اخرت نیکي ده

﴿۲۶۰۹﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا

د حضرت سعد رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه د مدینې د دوو غرونو منځ

بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِينَةِ أَنْ يُقْطَعَ عِضَاهُهَا أَوْ يُقْتَلَ صَيْدُهَا وَقَالَ الْمَدِينَةُ خَيْرٌ

حرام ګرځوم ددې ازغني درختي دي نه وهل کیږي یا چي قتلول سي ښکار ددې، بیا یې وفرمایل: مدینه د هغه خلکو لپاره غوره ده

لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ لَا يَدَعُهَا أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلَّا أَبْدَلَ اللّٰهُ فِيهَا مَنْ هُوَ

کوم چي په دې کي اوسیږي که هغوئ په دې پوهیږي هیڅوک به دا په بې خوښي سره نه پرېږدي که څوک داسي وکړي نو الله جل جلاله به د هغه څخه غوره سړی د لته راولي،

خَيْرٌ مِنْهُ وَلَا يَثْبُتُ أَحَدٌ عَلَى لَأْوَائِهَا وَجَهْدِهَا إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم.

او څوک چي په مدینه کي په سختۍ او لوږه او ستونزو باندي ثابت قدم پاته سي نو زه به د

قیامت په ورځ د هغه شفاعت کوم یا د هغه د اطاعت شاهدي به کوم. مسلم.

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۹۹۲، رقم: ۴۵۹ - ۱۳۶۳.

**د لغاتو حل**: عضاهما: وهي کل شجر عظیم، له شوک. (هره لویه ازغي لرونکې ونه). لاوائها: ای شدة جوعها (سخته لوږه).

**تشریح**: په دغه حدیث شریف کي د مدینې منورې د اوسیدونکو لپاره د خیر د خاتمې او د عظیم سعادت زیری دی او دا تنبیه هم ده چي د مؤمن لپاره دا ضروري ده چي هغه د حرمین شریفین (یعني مکه مکرمه او مدینه منوره) پر هستوګني د الله تعالی شکر هم ادا کړي او د هغه ځای پر هره سختۍ او مصیبت باندي صابر هم وي او دا چي هغه د دغه مقدس ښارونو د خیر څخه په صرف نظر کولو سره د نورو ځایونو ظاهري راحت او نعمت باندي نظر ونه کړي ځکه چي اصلي نعمت او راحت خو د آخرت نعمت او راحت دی لکه څرنګه چي دا حدیث: اللهم لا عیش الا عیش الاخرة: اې الله د آخرت د راحت او آرام څخه پرته بل راحت او آرام نه سته.

## په مدینه کي د تکلیف او مصیبت پر وخت د صبر کولو اجر

﴿۲۶۱۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَصْبِرُ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما په امت کي چي څوک

عَلَى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِي إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَوْ شَهِيدًا. رواه مسلم.

د مدینې پر سختۍ او لوږه باندي صبر وکړي نو زه به د قیامت په ورځ د هغه شفاعت کوم. مسلم

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۱۰۰۴، رقم: ۴۸۴ - ۱۳۷۸.

## د مدینې لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۶۱۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرِ جَاءُوا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د خلکو دا عادت وو چي هغوئ به نوې میوه ولیدل نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي به یې وړاندي کول،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا

رسول الله ﷺ به هغه په خپل مبارک لاس کي واخیستل او فرمایل به یې اې الله ! برکت واچوې

فِي ثَمَرِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا اَللّٰهُمَّ

زموږ په میوو کي زموږ لپاره ، زموږ په کورو کي زموږ ، زموږ په پیمانه کي او زموږ په مد (پیمانه) کي ، اې الله !

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ

ابراهیم علیه السلام ستا بنده ، ستا خاص دوست او ستا نبي وو او زه هم دا ستا بنده او ستا نبي یم ، ابراهیم علیه السلام د مکې لپاره دعاء کړې وه

وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ ثُمَّ قَالَ يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ لَهُ فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ . رواه مسلم .

او زه ستا څخه همدا رنګه دعاء لکه ابراهیم علیه السلام چي کړې وه د مدینې لپاره کوم ، او د هغه په ډول یو بله دعاء کوم ، ابوهریرة وایي ددې وروسته به نبي کریم ﷺ د خپل کورنۍ کوچنیان راوغوښتل او هغه میوه به یې هغوئ ته ورکړل . مسلم .

**تخریج** : مسلم في الصحیح ۲\ ۱۰۰۰، رقم: ۴۷۳- ۱۳۷۳.

**تشریح** : د برکت معنی زیاتېدل دي ، په میوه کي د برکت دعاء غوښتلو مطلب خو ظاهر دی البته په ښار کي د برکت مطلب دادی چي په ښار کي وسعت (پراخي) وي په هغه کي دېر خلک هستوګنه کوي او د هغه تهذیبي او تمدني حیثیت مثالي درجه ولري نو د رسول الله ﷺ دعاء داسي قبوله سوه چي د ښار رقبه او ابادي زیاته سوه د مسجد نبوي توسیع وسوه او د لیري لیري څخه مسلمانان په زیات شمېر آباد سول او ددې څخه پرته دغه ښار د خپل تهذیبي او تمدني حیثیت سره مثالي درجې ته ورسیدی ، په صاع او مد کي د برکت څخه مراد دادی چي په رزق کي پراخي وي .

حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی خلیل دی او رسول الله ﷺ د الله تعالی حبیب دی ، ددې سربېره چي د خلیل څخه د حبیب مرتبه زیاته ده رسول الله ﷺ د حضرت ابراهیم علیه السلام د دغه صفت ذکر وکړ مګر د تواضع او انکسارۍ په سبب یې خپل صفت ذکر نه کړ ځان ته یې یوازي د الله بنده او د هغه نبي پر ویلو باندي اکتفاء وکړه .

## د مدینې منورې د حرمت ذکر

﴿۲۶۱۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ

د حضرت ابو سعید ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حضرت ابراهیم علیه السلام

حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا حَرَمًا وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا أَنْ لَا

په عظمت ورکولو سره مکه حرم جوړ کړاو زه مدینې ته عظمت ورکوم او دا حرم جوړوم ددې
دواړو خواوو ته دې نه

يُهْرَاقَ فِيهَا دَمٌ وَلَا يُحْمَلَ فِيهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ وَلَا تُخْبَطَ فِيهَا شَجَرَةٌ إِلَّا
لِعَلْفٍ. رواه مسلم.

جګړه کیږي او نه دې د جګړې لپاره وسله پورته کیږي او نه دې ددې د درختو پاڼې څنډل کیږي مګر نه د حیوانانو د خوراک لپاره. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۱۰۰۱/۲، رقم: ۴۷۵- ۱۳۷۴.

**د لغاتو حل**: مازِمَيها: الموضع الضيق بين الجبال حيث يلتقى بعضها بعضا. (دره)

**تشريح**: علامه توریشتي رحمة الله عليه وايي چي په حدیث کي د (واني حرمت المدينة) د تحریم څخه مراد تعظیم دی، ددې څخه هغه مراد نه کوم چي د حرم سره متعلق دی، نو ددې خبري دلیل خپله د رسول الله ﷺ د غه ارشاد دی: او نه دي د درختو پاڼي څنډل کیږي البته د څارویو لپاره یې څنډلای سئ، (ددې څخه معلومیږي چي د مکې د حرم کوم حکم دی هغه د مدینې د حرم هم دی) ځکه چي د مکې د حرم د درختو پاڼې څنډل په هیڅ حالت کي صحیح نه دي او کوم چي د ښار تعلق دی نو که څه هم ځیني صحابه کرامو په مدینه کي ښکار کولو ته حرام ویلي دي مګر اکثر صحابه کرامو د مدینې د مرغانو د ښکار څخه انکار نه دی کړی او نه په دې باره کي د رسول الله ﷺ هیڅ منع په داسي طریقه سره موږ ته رسېدلې ده چي پر هغه اعتماد وکړل سي، دا د علامه توریشتي اقتباس دی او په دې باره کي ملا علي قاري رحمة الله عليه په ډېر تفصیل سره بحث کړی دی اهل علم د هغه تشریح ته مراجعه کولای سي.

## د سعد بن وقاص ﷺ یوه واقعه

﴿۲۶۱۳﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا رَكِبَ إِلَى قَصْرِهِ بِالْعَقِيقِ فَوَجَدَ

د حضرت عامر بن سعد ﷺ څخه روایت دئ چي سعد ﷺ د خپلي مانۍ عقیق په لور سپور سو

عَبْدًا يَقْطَعُ شَجَرًا أَوْ يَخْبِطُهُ فَسَلَبَهُ فَلَمَّا رَجَعَ سَعْدٌ جَاءَهُ أَهْلُ الْعَبْدِ

(په لاره کي) یو غلام یې ولیدئ چي درخته یې وهل یا پاڼي یې څنډلې، هغه جامې ځیني
واخیستې بیا چي کله راوګرځیدی سعد نو د غلام مالک حاضر سو

فَكَلَّمُوهُ أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ مَا أَخَذَ مِنْ غُلَامِهِمْ فَقَالَ مَعَاذَ اللَّهِ

او وه یې ویل کوم شی چي د غلام څخه اخیستل سوی دی هغه دي غلام ته بیرته ورکړل سي.
سعد وویل: پناه په الله ده

أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ.

رواه مسلم.

چي زه به هغه شی بیرته ورکوم کوم چي رسول الله ﷺ راکړی دئ او د جامو بیرته ورکولو څخه یې انکار وکړ. مسلم

**تخریج**: مسلم في الصحیح ۲\۹۹۳، رقم: ۴۶۱-۱۳۶۴.

**تشریح**: ان یرد علی غلامهم او علیهم: دلته حرف د او د راوي شک ظاهروي چي د هغه مالکانو یا خو دا ویلي وه چي د غلام جامې غلام ته بیرته ورکړي یا یې دا ویلي دي چي کومي جامې زموږ د غلام څخه اخستل سوي دي هغه دي موږ ته راکړي، د حدیث د غه جمله: چي ما ته رسول الله ﷺ راکړی دی ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ ددې اجازه ورکړې وه چي کوم څوک په مدینه کي په ښکار کولو یا درختو پرېکولو باندي ووینئ نو د هغه جامې دي ضبط کړل سي، نو داسي به ویل کیږي چي یا خو د غه حدیث منسوخ دی یا دا چي د رسول الله ﷺ له خوا د غه اجازه د زجر او توبیخ په توګه ورکړل سوې ده.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي چي د امام مالک او امام شافعي مذهب دادی چي په مدینه منوره کي د ښکار کولو یا درختو پریکولو په وجه کفاره نه واجبیږي بلکه په مدینه کي د غه

شیان ببله بدلې حرام دي ، ځیني علماء دا وايي چي څرنګه په مکه کي د دغه شیانو په کولو سره بدله واجبېږي همدارنګه په مدینه کي د دې په وجه بدله واجبېږي مګر د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد په مدینه کي دغه شیان حرام نه دي البته مکروه دي .

**د مدینې منورې د آوبو او هواء لپاره د رسول الله ﷺ دعاء**

﴿۲۶۱۴﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي کله رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړ

وُعِكَ أَبُو بَكْرٍ وَبِلَالٌ فَجِئْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ

نو ابوبکر او بلال (رض) ته تبه راغلل ، زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوم او د هغوئ د ناروغۍ خبر مي ورکړ ، رسول الله ﷺ وفرمایل :

اللّٰهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ وَ صَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِي

اې الله ! ته مدینه زموږ دوسته جوړه کړې لکه څرنګه چي مکه دي زموږ دوسته جوړه کړې وه ، بلکه تر هغه يې زیاته راخوښه کړې او ته د مدینې آب و هواء سمه کړې او زموږ لپاره د مدینې په

صَاعِنَا وَمُدِّهَا وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ. متفق علیه

صاع او مد (د پیمانو نومان دي) کي برکت واچوې او ددوئ تبه لیري کړې او دا ناروغي جحفې ته ولیږې (په جحفه کي یهودیان اوسیدل) . بخاري او مسلم .

**تخریج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۹۹، رقم: ۱۸۸۹، ومسلم ۲\۱۰۰۳، رقم: ۴۸۰- ۱۳۷۶.

**د لغاتو حل** : وُعک: ای حمی (تبه).

**تشریح** : نقل سوي دي چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په سخته تبه کي اخته وو او بي بي عائشې رضي الله عنها د هغه پوښتنه وکړه نو هغه وخت هغه د مکې د آب او هواء د هغه د غرونو او ځایونو ، د صحت څخه ډکي فضا وغیره په لوړ آواز سره ذکر کول شروع کړل ، بي بي عائشې رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته دا حال ووایه نو رسول الله ﷺ پورتنۍ دعاء وغوښتل .

جحفه د یو ځای نوم دی چي د مکې او مدینې په مینځ کي واقع دی په دغه ځای کي یهودیان اوسیدل ، دا حدیث ددې خبري دلیل دی چي د مسلمانانو له خوا د کفارو لپاره د هلاکونکو ناروغیو او د هغوئ د ښارونو د خرابیو ښېرا کول جائز دي ، ددغه حدیث څخه پرته

په يو بل حديث كي هم دا منقول دي چي په مدينه كي د رسول الله ﷺ د هجرت څخه مخكي د ناروغيو او وباوو زياتوب وو ، رسول الله ﷺ هغه وباوي (د الله تعالى په ذريعه) د كفارو سيمو ته وليږلې.

## د رسول الله ﷺ يو خوب او د هغه تعبير

﴿۲۶۱۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ فِيْ رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَدِيْنَةِ

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د خوب ليدو روايت كوي چي رسول الله ﷺ د مديني په اړه ليدلى وو ،

رَأَيْتُ امْرَأَةً سَوْدَاءَ ثَائِرَةَ الرَّأْسِ خَرَجَتْ مِنَ الْمَدِيْنَةِ حَتّٰى نَزَلَتْ بِمَهْيَعَةَ

رسول الله ﷺ وفرمايل : ما يوه توره ښځه وليدل چي د هغې ورېښتان پريشانه (ببر) وه هغه د مديني څخه ووتل او حجفې ته ولاړل

فَتَأَوَّلْتُهَا أَنَّ وَبَاءَ الْمَدِيْنَةِ نُقِلَ إِلٰى مَهْيَعَةَ وَهِيَ الْجُحْفَةُ . رواه البخاري.

بيا يې وفرمايل : ما ددې دا تعبير وكړ چي د مدينې و با به جحفې ته نقل سي . بخاري .

**تخريج** : البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\۴۲۶، رقم: ۷۰۳۹.

**د لغاتو حل** : مهيعة: الارض المبسوطة (غوړېدلې ځمكه).

## د مديني منورې د ځينو خلكو په اړه د رسول الله ﷺ يو پيشګويي

﴿۲۶۱۶﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِيْ زُهَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سفيان بن ابي زهير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

يَقُوْلُ تُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَأْتِيْ قَوْمٌ يُبِسُّوْنَ فَيَتَحَمَّلُوْنَ بِأَهْلِهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ

فرمايل يې: يمن به فتح سي او د مدينې څخه به يو ډله روانه سي چي د خپل كورنۍ او پيروانو سره به كوچ وكړي او كه هغوئ پوهيداى

وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ وَتُفْتَحُ الشَّأْمُ فَيَأْتِيْ قَوْمٌ يُبِسُّوْنَ

نو مدينه ورته غوره وه كه هغوئ پوهيداى او شام به فتح سي يوه ډله به د خپل كورنۍ او

فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ

پیروانو سره روان سي او که هغوئ پوهیدای نو مدینه به ورته غوره وای که هغوی پوهېدای

وَتُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ. متفق عليه.

او عراق به فتح سي نو يو ډله به د خپل کورنۍ او پیروانو سره کوچ وکړي حال دا چي مدینه به ورته غوره وي که هغوئ پوهیدای. بخاري او مسلم.

**تخريج:** البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۹۰، رقم: ۱۸۷۵، ومسلم ۲\۱۰۰۹، رقم: ۴۹۷- ۱۳۸۸.

**د لغاتو حل:** يُبِسون: اى يسيرون سيرا شديدا (سخت تګ).

**تشريح:** رسول الله ﷺ د مدینې منورې د خلکو په باره کي دا پیشګویي فرمایلې ده، کله چي پورتني هیوادونه د مسلمانانو په لاس فتح سي نو هغه خلک به د مدینې د سخت ژوند څخه په ستومانه کېدو سره د معاش د طلب او دنیا د فاني ګټي په خاطر دغه مقدس او بابرکته ښار په پرېښودو سره هغه هیوادو ته ولاړ سي حالانکه په هر اعتبار سره به مدینه د هغوئ لپاره تر ټولو غوره ځای وي که هغوئ په دغه حقیقت پوه سي او د دنیا او آخرت سعادت یې مقصد وي نو مدینه به نه پرېږدي.

## مدينه منوره بد خلک باسي

﴿۲۶۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته د یو داسي آبادۍ په

بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ الْقُرَى يَقُولُونَ يَثْرِبُ وَهِيَ الْمَدِينَةُ تَنْفِي النَّاسَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ. متفق عليه.

لور د هجرت حکم راکړل سوی دئ چي پر ټولو ښارو غالبه ده (یعني دد ې ښار او سیدونکي به پر ټولو ښارو غالب وي) خلک دې آبادۍ ته یثرب وایي او دا مدینه ده چي خراب خلک داسي لیري کوي لکه څرنګه چي بټۍ د اوسپني څخه خیري لیري کوي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۸۷، رقم: ۱۸۷۱، ومسلم ۲\۱۰۰٦، رقم: ۴۸۸- ۱۳۸۲.

**تشريح**: چي پر ټولو کليو باندي به غالبه وي، ددې مطلب دادی چي کوم خلک په مدينه کي اوسيږي هغوئ به پر نورو ټولو خلکو باندي غالب وي او نور ښارونه به فتح کوي، په تاريخي توګه سره ددغه عظيم الشان زيري خصوصيت ثابت دی چي مدينې ته راتلو سره خلک پر نورو اوسيدونکو باندي غالب او د اکثرو ښارونو فاتح راغلي دي، مخکي عمالقه قوم په دغه ښار کي آباد سو هغوئ غلبه تر لاسه کړه او ځومره ښارونه او سيمي يې فتح کړې بيا يهود راغلل نو هغوئ پر عمالقه باندي غالب سول بيا نصاری را ورسيدل نو هغوئ پر يهوديانو باندي خپل اقتدار قائم کړ تر دې چي رسول الله ﷺ او مهاجرينو دغه ښار خپل د هستوګني ځای جوړ کړی هغوئ ته چي کومه غلبه تر لاسه سوه او څرنګه چي هغوئ د مشرق څخه تر مغرب پوري ټول عالم خپل تر اثر لاندي کړی.

ددغه ښار نوم مخکي يثرب او اثرب وو رسول الله ﷺ چي دلته په هجرت تشريف راوړ نو رسول الله ﷺ ددغه ښار د مدنيت او کثرت په وجه ددغه نوم مدينه کښېښودی او حکم يې وکړ چي بيا دي دغه ښار ته يثرب نه ويل کيږي ځکه دا د اسلام څخه مخکي نوم دی چي د هغه څخه د جاهليت د زمانې بوی راتلی دوهم دا چي په معنوي توګه هم دغه نوم بالکل نامناسب وو ځکه چي د يثرب معنی ده هلاک او فساد او دا هم ويل کيږي چي يثرب د يوه بت يا د يو ډېر ظالم سړی نوم وو. بخاري په خپل تاريخ کي يو روايت نقل کړی دی چي د هغه مفهوم دادی چي کوم څوک يو وار يثرب ووايي نو هغه ته پکار دي چي هغه لس واره مدينه ووايي چي ددغه مقدس ښار د منع نوم اخيستلو تدارک او تلافي وسي او يو روايت دا هم دی چي کوم څوک يثرب ووايي نو هغه دي استغفار وکړي.

د خرابو خلکو څخه مراد کفار او مشرکين دي چي د اسلام د غلبې په وجه د هغه ښار څخه وايستل سول نو پر کفارو او مشرکينو باندي ددغه ښار دروازې د همېشه لپاره بندي سوې.

**د الله ﷻ له طرفه د مدينې نوم**

﴿۲٦۱۸﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمرة ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى سَمَّى الْمَدِينَةَ طَابَةَ. رواه مسلم.

الله تعالی د مديني نوم طابه (پاکه) ایښی دئ. مسلم.

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۰۷، رقم: ۴۹۱، ۱۳۸۵.

**تشريح**: الله تعالی د مديني نوم طابه ايښی دی : ددې مطلب دادی چې الله تعالی د خپل حبيب ﷺ په ژبه سره د مدينې نوم طابه ظاهر کړی دی او په يوه روايت کې طيبه دی چې د هغه معنی ده پاک او خوشحاله يعني دغه ښار د کفر او شرک د نجاست څخه پاک دی او د هغه اوبه او هواء د طبائع موافق ده او د هغه اوسيدونکي خوشحاله دي.

## د مدينې منورې خصوصيت

﴿۲٦۱۹﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روايت دئ چې يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کې د

وَسَلَّمَ فَأَصَابَ الْأَعْرَابِيَّ وَعْكٌ بِالْمَدِينَةِ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوسيدو له کبله د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړ هغه ته سخته تبه راغلل، نو هغه نبي کريم ﷺ ته

فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جَاءَهُ

عرض وکړ اې محمد ! ﷺ زما بيعت بيرته راکړئ، رسول الله ﷺ انکار وکړ هغه بيا راغلئ او

فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى فَخَرَجَ الْأَعْرَابِيُّ

عرض يې وکړ زما بيعت بيرته راکړئ، رسول الله ﷺ بيا هم انکار وکړ، هغه بيا حاضر سو او وه يې ويل زما بيعت بيرته راکړئ، رسول الله ﷺ انکار وکړ، بيا هغه صحرائي پرته د اجازې د

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طِيبُهَا. متفق عليه.

مدينې څخه ولاړئ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: مدينه د بټۍ په دول ده خپل خيري ليري کوي او خپله خوشبويي ښه خالص کوي (يعني پاک خلک پريږدي). بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري)؛ ۴\۹٦، رقم: ۱۸۸۳، ومسلم ۲\۱۰۰٦، رقم: ۴۸۹-۱۳۸۳؟

**تشريح**: رسول الله ﷺ د هغه د بيعت فسخ کولو څخه ځکه انکار وکړ لکه څرنګه چې د اسلام بيعت فسخ کول جائز نه وه همدارنګه رسول الله ﷺ ته د اوسيدو د بيعت فسخ کولو اجازه هم نه

وه . علماء وايي چې د مدينې منورې دغه خصوصيت يعني د خرابو خلكو ايستل او د ښه خلكو د خالص كولو تعلق يا خو د رسول الله ﷺ د زمانې سره خاص وو يا په آخره زمانه كي يعني قيامت ته نژدې به د دغه ښار دغه خاصيت ظاهر سي چې كله دجال ظاهر سي نو مدينه به درې واره ولړزول سي هغه وخت چې په مدينه كي څومره خراب خلک وي (كه كافران وي او كه مشركان) هغه به د دغه ښار څخه ووځي او دجال ته به ورسي او دا احتمال هم دى چې د دغه خاصيت تعلق د هري زمانې سره وي .

﴿۲۶۲۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَنْفِيَ الْمَدِينَةُ شِرَارَهَا كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چې مدينه خپل شرير خلک داسي ونه كاږي لكه څرنګه چې بټۍ د اوسپني څخه خيري (او زنګ) ليري كوي . مسلم .

**تخريج**: مسلم في الصحيح ۲\۱۰۰۵، رقم: ۴۸۷ - ۱۳۸۱.

## په مدينه كي طاعون او دجال نه سي داخليداى

﴿۲۶۲۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلَائِكَةٌ لَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ وَلَا الدَّجَّالُ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د مدينې پر لارو يا دروازو ملائكي ټاكل سوي دي په دې كي نه طاعون داخليدلاى سي نه دجال . بخاري او مسلم .

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\۹۵، رقم: ۱۸۸۰، ومسلم ۲\۱۰۰۵، رقم: ۴۸۵ - ۱۳۷۹.

**تشريح**: طاعون يو خاص ناروغى ته هم وايي ، دلته په حديث كي د هغه خاص ناروغى په باره كي فرمايل سوي دي ، د رسول الله ﷺ د دعاء په بركت دغه ناروغي په مدينه كي نه داخليږي يعني دا د رسول الله ﷺ يو څرګنده معجزه ده .

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په خپل كتاب كي د طاعون ترجمه په وباء كړې ده او فرمايي چې په مدينه كي د وباء نه داخلېدل يا خو د دجال د ظاهرېدو په وخت كي به وي يا دا چې د دې تعلق د هري زمانې سره دى .

﴿۲۶۲۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو ښار داسي نسته چي

إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ

هغه به دجال برباد نه کړي مگر مدينه او مکه، ددې په لارو يا دروازو به صف تړلي ملائکي وي

الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا فَيَنْزِلُ بِالسِّبْخَةِ فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا

چي د ساتونکو فرض به سرته رسوي، د جال به د مديني پر يوه ښيرنه مځکه کښته سي او مدينه به سره د خپلو اوسيدونکو

ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ. متفق عليه.

درې واره و ښوري او هر هغه څوک به د مديني څخه ووځي کوم چي کافر او منافق وي او د جال ته به ولاړ سي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۹۵، رقم: ۱۸۸۱، ومسلم في الصحيح ۱۴\۲۶۶۵.

**د لغاتو حل**: السبخة: موضع قريب من المدينة.

## د اهل مدينه سره د مکر او چم کوونکو سزا

﴿۲۶۲۳﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَكِيدُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَحَدٌ إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ. متفق عليه.

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د مديني د اوسيدونکو سره چم او مکر کوي هغه به داسي ويلي سي لکه څرنګه چي مالګه په اوبو کي ويلي کيږي. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۴\۹۴، رقم: ۱۸۷۷، ومسلم ۱۲\۱۰۰۸، رقم: ۴۹۴- ۱۳۷۸.

**د لغاتو حل**: انماع: اى ذاب وهلک.

**تشريح**: د اسلام په تاريخ کي د بدترين کس يزيد دا حال سو چي هغه د حره د واقعي څخه وروسته د دق او سل په ناروغۍ کي په ويلي کېدو سره مړ سو.

## د مدينې سره د رسول الله ﷺ محبت

﴿۲۶۲۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَنَظَرَ إِلَى جُدُرَاتِ الْمَدِينَةِ أَوْضَعَ رَاحِلَتَهُ وَإِنْ كَانَ عَلَى دَابَّةٍ حَرَّكَهَا مِنْ حُبِّهَا. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د سفر څخه ستون سو او د مدينې پر ديوالو به يې نظر ولګېدئ نو خپل اوښ به يې ځغلوئ او که پر آس، غاتره يا بل شي به سپور وو نو هغه ته به يې په تلوار سره حرکت ورکوي او دا له دې کبله چي د رسول الله ﷺ د مدينې سره مينه وه. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۹۸\۴، رقم: ۱۸۸۶،

## دأحد د غره فضيلت

﴿۲۶۲۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ فَقَالَ هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله د أحد غر د رسول الله ﷺ مخته راغلئ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا غر زموږ سره مينه لري او موږ هم دده سره مينه لرو، اې الله! ابراهيم عليه السلام مکه حرم جوړه کړه او زه د مدينې دواړه طرفه حرم جوړوم. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۸۳\۱۶، رقم: ۲۸۸۹، ومسلم ۹۹۳\۲، رقم: ۴۶۲ - ۱۳۶۵.

**تشريح**: دغه غر زموږ سره مينه لري، دغه جمله بېله شکه پر خپل ظاهري معنی محمول ده ځکه الله تعالی په جماداتو کي هم د هغوئ د حال، علم، فهم، ميني او عداوت سره سم په خاصه توګه د انبياء او په خاصه توګه د رسول الله ﷺ مينه پيدا کړې ده.

او بل دا چي الله تعالی د چا دوست سي نو ټول شيان د هغه دوستان سي ځکه هر شی د الله تعالی مخلوق او د هغه تابعدار دی، د رسول الله ﷺ د بېلوالي په وجه د خرما د درختي د ژړا واقعه د دغه دعوې څرګند دليل دی.

واني احرم ما بين لابتيها: ددې مطلب دا دی کوم چي په ترجمه کي ظاهر سوی دی چي زه دغه د مځکي ټوټه په کوم کي چي مدينه ده د قدر وړ او د تعظيم وړ ګرځوم، ددغه جملې څخه دا مراد نه دی چي د مکې مکرمې په ډول مدينه هم په دغه معنی حرم دی چي د هغه درختي

پرېکول او په هغه کي ښکار کول او داسي نور شيان حرام دي.

﴿۲۶۲۶﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ. رواه البخاري.

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د أحد غر زموږ سره محبت لري او موږ د ده سره محبت لرو. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۱۲\ ۳۴۴، رقم: ۱۴۸۲.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

### د مديني د حرم مسئله

﴿۲۶۲۷﴾: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ رَأَيْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ أَخَذَ

د حضرت سليمان بن ابو عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وليدئ چي

رَجُلًا يَصِيدُ فِي حَرَمِ الْمَدِينَةِ الَّذِي حَرَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه يو سړي په مدينه کي په ښکار کولو نيولی وو،

فَسَلَبَهُ ثِيَابَهُ فَجَاءَ مَوَالِيهِ فَكَلَّمُوهُ فِيهِ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

او د هغه جامې يې راکښته کړې وې بيا د هغه سړي مالک سعد رضي الله عنه ته راغلئ او د هغه سړي يا د هغه د جامو په اړه يې د سعد سره خبري وکړې، سعد ورته وويل: رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ حَرَّمَ هٰذَا الْحَرَمَ وَقَالَ مَنْ أَخَذَ أَحَدًا يَصِيدُ فِيهِ فَلْيَسْلُبْهُ فَلَا أَرُدُّ

دا ځای حرم ګرځولی دئ او فرمايلي يې دي څوک چي په دې حرم کي په ښکار کولو ونيول سي هغه دي د هغه ښکاري څخه جامې واخلي نو کوم شی چي رسول الله ﷺ ما ته راکړی دئ

عَلَيْكُمْ طُعْمَةً أَطْعَمَنِيهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ إِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُ إِلَيْكُمْ ثَمَنَهُ. رواه ابوداؤد

زه یې هیڅکله بیرته نه ورکوم مګر که ته غواړې نو زه به دد ې بیه درکړم. ابو داؤد.

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\۵۲۳، رقم: ۲۰۳۷.

﴿۲۶۲۸﴾: وَعَنْ صَالِحٍ مَوْلًى لِّسَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا وَجَدَ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الْمَدِينَةِ

د حضرت صالح رضي الله عنه چې د حضرت سعد رضي الله عنه آزاد سوی غلام دئ څخه روایت دئ چې سعد د

يَقْطَعُونَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ فَأَخَذَ مَتَاعَهُمْ وَقَالَ يَعْنِي لِمَوَالِيهِمْ سَمِعْتُ

مدینې په غلامانو کې یو غلام د مدینې پر درخته پرې کولو باندې ولیدئ نو د هغه سامان یې واخیستئ او بیا د غلام مالکانو ته یې وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چې

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى أَنْ يُقْطَعَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ شَيْءٌ وَقَالَ مَنْ قَطَعَ مِنْهُ شَيْئًا فَلِمَنْ أَخَذَهُ سَلَبُهُ. رواه ابو داؤد.

د مدینې درختې دې نه پرې کیږي او بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د مدینې د درختو څخه یو شی پرې کړي نو د هغه سامان د هغه چا دئ څوک چې هغه ونیسي. ابوداؤد

**تخریج**: ابوداود في السنن ۲\۵۳۳، رقم: ۲۰۳۸.

**تشریح**: عن صالح مولی لسعد: د سعد رضي الله عنه ازاد سوی غلام صالح وایي، دد غه جملې پر ځای صحیح جمله داده چې: عن صالح عن مولی لسعد، صالح د حضرت سعد رضي الله عنه د ازاد سوي غلام څخه روایت کوي یعني د مولی لسعد څخه مخکې لفظ عن یا خو د کاتب په غلطۍ سره نه دی لیکل سوی یا په دې باره کې خپله مصنف څخه سهوه سوې ده ځکه صالح د حضرت سعد رضي الله عنه ازاد سوی غلام نه دی بلکه د توامه ازاد سوی غلام دی او صالح دغه روایت د حضرت سعد رضي الله عنه د ازاد سوی غلام څخه نقل کړی دی.

## په وج کې د ښکار څخه منع

﴿۲۶۲۹﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ صَيْدَ وَجٍّ

د حضرت زبیر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د وج نامې ځای ښکار

وَعِضَاهَهُ حِرْمٌ مُحَرَّمٌ لِلَّهِ. رواه ابوداؤد و قال محي السنة وج ذكروا انها

من ناحية الطائف و قال الخطابي انه بدل انها .

او د هغه ازغني درختي په حرم كي د الله په حكم سره حرامي كړل سوي دي ، ابوداؤد ، د امام محي السنة بيان دئ چي وج د يو ځای نوم دئ چي د طائف په لور واقع دئ ، خطابي د انها پر ځای انه ويلي دي .

**تخريج** : ابوداود في السنن ۲\۵۲۸، رقم: ۲۰۳۲.

**د لغاتو حل** : عضاهه: ای اشجار شوكة.

**تشريح** : علماء كرام وايي چي د وج په ځای كي د ښكار وغيره حرمت د حمی په توګه وو (حمی هغه څر ځای ته وايي چي په هغه كي د نورو ښاروېو د څرولو څخه منع وي) ، د وج په ځای كي به د غازيانو د آسونو لپاره وابنه وغيره منع كيدل ځكه په دغه ځای كي ښكار كول يا د هغه ځای څخه درختي پريكول منع وه ، د حديث مطلب دا نه دی چي د وج حرمت د حرم په توګه وو او كه چيري دغه حرمت د حرم په توګه وي نو بيا به دا وويل سي چي د دغه حرمت تعلق د يوې خاصي زمانې سره وو چي وروسته منسوخ سوی دی .

امام شافعي رحمة الله عليه د دې قائل دی چي په وج كي دي ښكار نه كيږي او نه دي د هغه ځای څخه درختي وغيره پرې كيږي مګر بيا هم هغه د دغه شيانو د كولو په وجه كفاره نه ده ذكر كړې .

## په مدينه منوره كي د مړ كيدو سعادت

﴿۲۶۳۰﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اسْتَطَاعَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د دې توان لري

أَنْ يَمُوتَ بِالْمَدِينَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا فَإِنِّي أَشْفَعُ لِمَنْ يَمُوتُ بِهَا . رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب .

چي په مدينه كي مړ سي نو هغه ته پكار دي چي همدلته مړ سي ځكه زه به د هغه چا شفاعت كوم چي په مدينه كي مړ سي . احمد او ترمذي، امام ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دئ .

**تخريج** : احمد في المسند ۲\۷۴، والترمذي ۵\۶۷۶، رقم: ۲۹۱۷.

**تشريح** : د حديث د اولي برخي مطلب دا دی چي كوم څوک توان ولري چي په مدينه كي تر اخره وخته پوري پاته سي نو هغه ته پكار دي چي هغه په مدينه كي پاته سي تر دې چي هغه ته مرګ په

د غه مقدس ښار کي واقع سي او زه د هغه شفاعت وکړم په دې توګه که هغه ګناه کار وي نو زه به د هغه لپاره بخښنه وغواړم او که هغه نیک وي نو د هغه درجې به لوړي سي .

دلته د شفاعت څخه مراد هغه خاص شفاعت دی کوم چي یوازي په مدینه کي د اوسیدونکو لپاره تر لاسه دی او بل چا ته تر لاسه نه دی البته د رسول الله ﷺ شفاعت به د هر مسلمان لپاره عام وي نو غوره داده چي د چا عمر زیات سي یا د کشف وغیره په ذریعه ورته معلومه سي چي د هغه د مرګ وخت نژدې دی نو هغه دي مدینې منورې ته ولاړ سي چي هلته د مړ کېدو په وجه د رسول الله ﷺ د شفاعت د سعادت حقدار سي ، د حضرت عمر رضي الله عنه څومره ښه دعاء ده :

اللهم ارزقني شهادة في سبيلک واجعل موتي ببلد رسولک .

اې الله ! زما په خپل لار کي شهادت په برخه کړې او د خپل رسول ﷺ په ښار کي ما ته مرګ راکړې . الله تعالی دي زموږ او ستاسو ټولو دغه خوشبختي په برخه کړي . آمين .

## مدینه به تر ټولو ښارو وروسته خرابه سي

﴿۲۶۳۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ آخِرُ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْإِسْلَامِ خَرَابًا الْمَدِيْنَةُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د اسلام په کلیو کي چي کوم کلي خرابیږي په هغو کي به تر ټولو آخر د مدینې ښار وي . ترمذي، دا حدیث حسن غریب دئ .

**تخريج** : الترمذي ٥\٦٧٦، رقم: ٣٩١٩.

**تشريح** : مطلب دادی چي کله قیامت نژدې سي نو ټول ښارونه به وران سي او په هغه کي مدینه منوره به د ټولو په پای کي ورانه سي یعني مدینې منورې ته دغه برکت د رسول الله ﷺ په وجه حاصل سوی دی .

## د رسول الله ﷺ د هجرت لپاره د مدینې تعین

﴿۲۶۳۲﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

د حضرت جریر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی ما ته

اللّٰهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَيَّ هٰؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ نَزَلْتَ فَهِيَ دَارُ هِجْرَتِكَ الْمَدِيْنَةَ أَوِ الْبَحْرَيْنِ

أَوْ قِنَّسْرِينَ . رواه الترمذي .

وحي راليږلې ده چي په دې درو ښارو كي چي ته كوم ښار ته هجرت كوې هغه به ستا د هجرت كور وي يعني مدينه، بحرين او قنسرين . ترمذي.

**تخريج** : الترمذي ۵\۶۷۸، رقم: ۳۹۲۳.

**تشريح** : بحرين د اوسني جغفرافيايي نقشې سره سم د هغه جزيرو د مجموعې نوم دی كوم چي د خليج غربي د جنوب مغربي په كونج كي واقع دي ، په دغه جزيرو كي تر ټولو لويه جزيره د منامه جزيره ده چي د هغه دوهم نوم بحرين هم دی، ددغه جزيرې په نامه هيواد ته بحرين وايي مگر په حديث شريف او د تاريخ په كتابو كي د بحرين لفظ د هغه سيمي په اړه راغلی دي كوم چي جزيرة العرب پر مشرقي ساحل باندي د خليج بصرې څخه تر قطر او عمان پوري خپور سوی دی او د اوسني بحرين په مغرب كي واقع دی، دغه سيمي ته اوس احساء ويل كيږي نو دلته په حديث كي د بحرين څخه مراد هغه سيمه ده چي د هغه نوم اوس احساء دی .

قنسرين د شام د هيود د يو ښار نوم دی، په هر حال د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي الله تعالی ما ته اختيار راكړی دی چي په دغه درو ښارو كي د يو ښار په باره كي ستا خواهش وي چي د مكې څخه د هجرت كولو وروسته هلته ولاړ سې او هغه ښار خپل هستوګن ځای وګرځوې مګر په تاريخ مدينه كي كي دا ليكلي دي كه څه هم په شروع كي رسول الله ﷺ ته په درو ښارو كي د يو ښار د اوسيدو اختيار وركړل سوی وو مګر په آخر كي مدينه و ټاكل سوه نو رسول الله ﷺ د مكې څخه په هجرت كولو سره مدينې منورې ته تشريف راوړ .

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

### د دجال څخه د مدينې منورې حفاظت

﴿۲۶۳۳﴾: عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْمَدِيْنَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ . رواه البخاري.

د حضرت ابو بكرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دجال بيره به مدينې ته نه ننوزي او په هغه ورځ (چي دجال راځي) د مدينې به اووه دروازې وي پر هره دروازه به دوې ملائكي د ساتني لپاره ټاكل سوي وي . بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۹۵، رقم: ۱۸۷۹.

## د مديني منورې د برکت لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۲۶۳۴﴾: وَعَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِيْنَةِ ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مديني لپاره دا دعاء وفرمايل: اې الله! مديني ته د هغه برکت دوه برابر برکت ورکړې کوم چي تا مکې ته ورکړی دئ. بخاري او مسلم.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۴\ ۹۷، رقم: ۱۸۸۵.

**تشريح**: د دعاء مطلب دادی چي اې الله! د مکې مکرمې د شان او شوکت په نسبت مديني منورې ته دوه برابر شان او شوکت ورکړې، دغه دعاء پر مدينه باندي د مکې د فضيلت خلاف په دې اعتبار نه ده چي په مکه کي د نيکيو زياتوب د هغه د افضل کېدو تر ټولو لويه وجه ترجيح ده.

## په حرمينو کي د اوسېدو سعادت

﴿۲۶۳۵﴾: وَعَنْ رَّجُلٍ مِّنْ آلِ الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د خطاب د کورنۍ څخه يو سړی روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ زَارَنِيْ مُتَعَمِّدًا كَانَ فِيْ جِوَارِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَكَنَ الْمَدِيْنَةَ وَصَبَرَ

څوک چي اراده وکړي چي زما زيارت وکړي نو د قيامت په ورځ به هغه زما همسايه وي او زما په پناه کي به وي او څوک چي په مدينه کي استوګن سو

عَلٰى بَلَائِهَا كُنْتُ لَهُ شَهِيْدًا وَّشَفِيْعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ مَاتَ فِيْ أَحَدِ الْحَرَمَيْنِ بَعَثَهُ اللّٰهُ مِنَ الْآمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

او د هغې پر ستونزو يې صبر وکړ نو د قيامت په ورځ به زه د هغه شاهد او شفاعت کوونکی يم، او څوک چي د دواړو حرمو څخه (يعني مکه او مدينه) کي په يوه کي مړ سي الله تعالی به يې د قيامت په ورځ د امن تر لاسه کوونکو څخه را پورته کړي. بيهقي.

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۴۸۸، رقم: ۴۱۵۲.

**تشریح**: څوک چي په قصد سره زما زيارت وکړي: ددې مطلب دادی چي کوم څوک د تجارت يا ځان ښوونې يا داسي بل دنيوي مقصد لپاره نه بلکه د ثواب تر لاسه کولو سره زما زيارت ته راسي نو هغه ته ذکر سوی سعادت تر لاسه کيږي .

## د روضې اطهر د زيارت فضيلت

﴿۲۶۳۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ مَرْفُوْعًا مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِيْ بَعْدَ مَوْتِيْ كَانَ كَمَنْ زَارَنِيْ فِيْ حَيَاتِيْ . رواهما البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه مرفوعا روايت دئ چي (رسول الله ﷺ وفرمايل) چا چي حج وکړ او بيا زما د مرګ وروسته زما د قبر زيارت يې وکړ نو هغه به د هغه چا په ډول وي چي په ژوند کي يې زما زيارت وکړ . دواړه حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړي دي .

**تخريج**: البيهقي في شعب الايمان ۱۳/ ۴۸۹، رقم: ۴۱۵۴.

**تشريح**: د رسول الله ﷺ د روضې زيارت کونکي د رسول الله ﷺ د زيارت کونکي په ډول ځکه دی چي رسول الله ﷺ حيات النبي دی ، دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د روضې زيارت دې د حج د افعالو څخه د فارغه کېدو وروسته وکړل سي .

په يو بل روايت کي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم څوک چي زما د قبر زيارت وکړي نو د هغه لپاره زما شفاعت واجب او لازم دی ، او په يوه روايت کي دي چي کوم څوک حج وکړي او زما زيارت ونه کړي نو هغه پر ما ظلم وکړ ، همدارنګه په يوه روايت کي نقل سوي دي چي کوم څوک د مکې (يعني حج) قصد وکړي او زما زيارت او زما د مسجد د شرف د حاضرۍ قصد وکړي نو د هغه لپاره دوه قبول سوي حجونه ليکل کيږي .

## د مديني منورې سره د رسول الله ﷺ تعلق

﴿۲۶۳۷﴾: وَعَنْ يَّحْيَ بْنِ سَعِيْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ جَالِسًا

د حضرت يحيى بن سعيد رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ تشريف فرما وو او په مدينه

وَقَبْرٌ يُحْفَرُ بِالْمَدِيْنَةِ فَاطَّلَعَ رَجُلٌ فِي الْقَبْرِ فَقَالَ بِئْسَ مَضْجَعُ الْمُؤْمِنِ

کي يو قبر کښل کېدئ ، يو سړي په قبر کي وکتل او وه يې ويل : قبر د مؤمن ډير خراب د خوب ځای دئ ،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا قُلْتَ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي لَمْ أُرِدْ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ډيره بده خبره دي وکړه، هغه سړي وويل زما مطلب دا نه وه

هٰذَا إِنَّمَا أَرَدْتُ الْقَتْلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا

بلکه زما مطلب دا وو چي د الله جل جلاله په لارکي د شهيد کېدو څخه غوره شی نسته (يعني په کور کي مرګ د مؤمن لپاره خراب دئ) رسول الله ﷺ وفرمايل: د

مِثْلَ الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ بُقْعَةٌ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَكُونَ قَبْرِي بِهَا

مِنْهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. رواه مالك مرسلا.

الله جل جلاله په لارکي د شهيد کېدو سره سم هيڅ شی نسته، بيا يې وفرمايل: د ځمکي هيڅ ټوټه ما ته دومره خوښه نه ده چي هلته زما قبر وي څومره چي مدينه ده، رسول الله ﷺ درې واره دا الفاظ وفرمايل: . مالک مرسلا

**تخريج**: الامام مالک في الموطا ۲\۴۶۲، رقم: ۳۳.

**تشريح**: خراب خو هغه څه دي کوم چي تا وويل: ددې مطلب دادی چي ستا دغه خبره خرابه او غلطه ده چي قبر د مؤمن لپاره بد ځای دی ځکه چي تا د مؤمن قبر ته خراب ويلي دي حالانکه د مؤمن قبر د جنت د باغو څخه يو باغ دی نو هغه سړي د خپل خبري وضاحت وکړ چي زما مقصد قبر څخه مطلق د مؤمن خراب ويل نه وه بلکه زما مطلب دا وو چي د الله تعالی په لاره کي شهيد کېدل د کور تر مرګ غوره دي، رسول الله ﷺ د هغه دغه مقصد خوښ کړ او تصديق يې وکړ چي واقعي د الله تعالی په لارکي د شهېد کېدو برابر هيڅ شی نه سته، بيا رسول الله ﷺ د خپل قبر لپاره د مدينې منورې د ځمکي په خوښولو سره د هغه سړي فضيلت ظاهر کړ کوم چي په مدينه کي مړ سي او په مدينه کي دفن کړل سي که هغه شهيد وي او که غير شهيد.

## په وادي عتيق کي د لمانځه فضيلت

﴿۲۶۳۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي عمر بن خطاب رضي الله عنه وويل: ما د نبي کريم ﷺ څخه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِوَادِ الْعَقِيقِ يَقُولُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّي فَقَالَ صَلِّ فِي

په عتيق نامي شېله کې دا واوريدل چې نن شپه يو راتلونکي (ملائکه) زما د پروردګار له

هَذَا الْوَادِ الْمُبَارَكِ وَقُلْ عُمْرَةً فِي حَجَّةٍ. وَفِي رِوَايَةٍ وَّقُلْ عُمْرَةٌ وَّحَجَّةٌ. رواه البخاري

لوري راغلل او ويل يې په دې مبارک شېله کې لمونځ وکړه او ووايه عمره په حج کې ده، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې ووايه عمره او حج (يعني ددې ځای د لمانځه ثواب د هغه عمرې سره سم دئ چې د حج سره وکړل سي يا عمره او حج دواړه) برابر دي. بخاري.

**تخريج**: البخاري في الصحيح (فتح الباري): ۳\۳۹۲، رقم: ۱۵۳۴.

**تشريح**: مخکې په دې پوه سئ چې د عربي قواعدو سره سم لفظ د قول د فعل لپاره هم استعماليږي نو ددغه حديث د آخري جملې : قل عمرة في حجة : معنی داده چې دغه لمونځ هغه عمره وشمېره کوم چې د حج سره کيږي، يعني ددغه جملې په ذريعه په وادي عقيق کې د لمانځه فضيلت بيانول مقصد دي چې په وادي عقيق کې کوم لمونځ وکړل سي د هغه ثواب د هغه عمرې برابر دی کوم چې د حج سره کيږي، همدارنګه د دوهم روايت د الفاظو (وقل عمرة وحجة) مطلب دادی چې په وادي عقيق کې لمونځ کول د عمرې او حج برابر دی.

## د مدينې منورې يو څو نور فضائل

علماء کرامو ليکلي دي چې حکيم مطلق الله جل جلاله ددغه پاک ښار په پاکه خاوره کې او د هغه په ميوو کې د شفاء تاثير ايښی دی، په اکثرو حديثو کې منقول دي چې د مدينې منورې په غبار کې د هر ډول ناروغۍ شفاء ده، په ځينو نورو طريقو منقول حديثو کې دي چې د مدينې منورې په غبار کې د جذام او برص د ناروغيو څخه شفاء ده، رسول الله ﷺ خپل ځينو صحابه کرامو ته حکم کړی وو چې هغوئ د تبې علاج په دغه پاکه خاوره سره کوي نو نه يوازې په مدينه کې پر دغه حکم عمل کيږي بلکه ددغه پاکې خاورې د دواء په توګه د وړلو په اړه ډېر آثار منقول دي او ځيني علماؤ خو ددغه علاج تجربه هم کړې ده، د شيخ مجدد الدين فيروز ابادي رحمه الله بيان دی چې ما خپله ددې تجربه کړې ده چې زما يو خدمتګار د يوه کال څخه په تبه کې اخته وو ما د مدينې منورې لږ پاکه خاوره په اوبو کې په اچولو سره په هغه خدمتګار وڅښنل او هغه په هغه ورځ روغ سو.

شيخ عبد الحق رحمه الله فرمايي چې د مدينې منورې په پاکه خاوره سره د علاج کولو ما ته هم تجربه سوې ده هغه داسي چې په کومو ورځو کې زه په مدينه منوره کې مقيم وم زما په پښو کې يو سخته ناروغي پيدا سوه چې د هغه په باره کې د ټولو طبيبانو دا فيصله وه چې ددې آخري

درجه مرگ دی او روغتیا مشکل ده ما په دغه پاکه خاوره سره علاج وکړ په لږ ورځو کي په ډیري اسانۍ سره مي روغتیا تر لاسه کړه ، دا ډول خاصیتونه د دغه ځای په خرما کي هم منقول دي ، په صحیح حدیث کي راغلي دي چي کوم څوک اووه عجوه (د مدینې منورې د خرما یو ډول دی) په نهاره وخوري نو هیڅ زهر او جادو به پر هغه اثر نه کوي .

د مدینې منورې د فضائلو په لړۍ کي دا خبره هم د فهم وړ ده چي ددغه مقدس ښار د عظمت او بزرگۍ په وجه نبي کریم ﷺ خلکو ته ددغه ښار د اوسیدونکو د تعظیم او تکریم وصیت کړی دی چي زما د امت خلکو ته پکار دي چي هغوئ زما د همسایگانو احترام همېشه وساتي د هغوئ د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي ونه کړي که د هغوئ څخه یو لغزش وسي نو مؤاخذه دي ځیني نه کوي او تر هغه وخته دي د هغوئ خطاوي معافوي تر څو چي هغوئ د کبائرو څخه پرهیز وکړي (یعني که چیري هغوئ په کبائرو گناهو کي اخته سي نو بیا د کبائرو د معافۍ سوال نه پیدا کیږي بلکه د الله تعالی او د بندگانو د حقوق په اړه د شریعت چي کوم حکم وي هغه به جاري کیږي ) ، په یاد لرئ کوم څوک چي د هغوئ د احترام او حرمت همېشه خیال ساتي زه به په قیامت کي د هغه شاهدي او شفاعت کونکی یم، ځکه چي د خلکو یعني د مدینې منورې د انصارو د رسول الله ﷺ او د مهاجرینو او د اسلام خدمت او هر ډول مرسته کړې ده چي اسلام په ټوله نړۍ کي خپور سو نو د دوئ ډېر عزت او احترام پکار دی ، الله پاک دي موږ ټولو ته توفیق راکړي چي د مدینې منورې د خلکو هر ډول خدمت او احترام وکړو ، آمین، او کوم څوک چي د مدینې منورې د اوسیدونکو احترام او عزت نه کوي په هغوئ به د طینة الخبال سیال وڅښېنل سي او واضحه دي وي چي طینة الخبال د دوږخ د یو حوض نوم دی چي په هغه کي د دوږخیانو نو ونه جمع کیږي .

په یوه روایت کي منقول دي چي یوه ورځ رسول الله ﷺ د دعاء لپاره لاس پورته کړی او داسي یې وویل اې الله ! کوم څوک چي زما د ښار او زما د ښار د اوسیدونکو سره د بدۍ اراده وکړي نو هغه ژر هلاک کړې او د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي کوم څوک د مدینې اوسیدونکي بیروي نو هغه زه و بیرولم ، د نسائي په روایت کي دي چي کوم څوک مدینه د خپل ظلم په بیره کي اخته کړي هغه دي الله تعالی په خوف کي اخته کړي او پر هغه دي د الله تعالی، ملائکو او ټولو خلکو لعنت وي ، او په یوه روایت کي دا الفاظ هم دي چي د داسي سړي هیڅ عمل به د الله تعالی په دربار کي مقبول نه وي که فرض وي او که نفل .

## د حج يو ځو مسائل او د حج د ادا کولو طريقه

که څه هم د حديثو په تشريح کي د حج اکثر مسائل بيان سوي دي مګر اوس د کتاب الحج په پای کي مناسب دي چي يو ځو نور مسائل په يو ځای کولو سره بيان کړل سي او د حج د ادا کولو طريقه هم بيان کړل سي.

په حج کي څلور شيان فرض دي: ۱: احرام، ۲: د عرفات په ورځ وقوف عرفات، ۳: طواف زيارت، ۴: په دغه فرضو کي د ترتيب لحاظ ساتل يعني احرام پر وقوف باندي او وقوف پر طواف زيارت باندي مقدم کول.

د حج واجبات دادي: ۱: وقوف مزدلفه، ۲: د صفا او مروه په مينځ کي سعي، ۳: رمي جمار، ۴: د آفاقي لپاره طواف قدوم، ۵: حلق يا تقصير، ۶: احرام د ميقات څخه تړل، ۷: تر لمر لوېدو پوري د عرفات وقوف، ۸: طواف د حجر اسود څخه شروع کول، ځينو علماؤ دې ته سنت ويلي دي، ۹: د طواف شروع د راسته خوا څخه کول، ۱۰: طواف پر پښو باندي کول په شرط د دې چي يو عذر نه وي، ۱۱: طواف په پاکۍ سره کول، ۱۲: په طواف کي د ستر پټول، ۱۳: د سعي شروع د صفا څخه کول په شرط د دې چي يو عذر لاحق نه وي، ۱۴: قارن او متمتع ته پسه يا د هغه په مثل څاروی ذبح کول، ۱۵: د هر او و شوطو يعني يوه طواف څخه وروسته دوه رکعته لمونځ کول، ۱۶: په رمي، حلق او قرباني کي د ترتيب لحاظ ساتل په دې توګه چي مخکي رمي وکړل سي بيا قرباني او بيا حلق او بيا طواف زيارت وکړل سي، ۱۷: طواف زيارت په ايام نحر کي کول، ۱۸: طواف داسي کول چي حطيم په طواف کي دننه راسي، ۱۹: سعي د طواف څخه وروسته کول، ۲۰: حلق په احرام او ايام نحر کي کول، ۲۱: د عرفات د وقوف څخه وروسته د احرام ممنوعات مثلا جماع وغيره څخه پرهيز او هغه شيان هم چي په واجبات حج کي شامل دي چي د هغه په ترک کولو سره دم لازميږي، د دغه شيانو څخه پرته نور ټول د حج مستحبات او ادبونه دي.

د غني حج د فقير تر حج غوره دی، د مور او پلار د فرمانبرداری څخه فرض حج خو اولی دی مګر نفل حج اولی نه دی بلکه د مور او پلار فرمانبرداري د نفل حج څخه افضل ده البته د صدقې په باره کي اختلافي قولونه دي چي ځيني خو صدقې ته افضل وايي او ځيني نفل حج ته افضل وايي، مګر په بزازيه کي دي چي د نفل حج فضيلت ته ترجيح ورکړل سوې ده ځکه چي په حج کي مال هم خرڅ کيږي او بدني مشقت هم دی او په صدقه کي يوازي مال خرڅ کيږي، په کوم حج کي چي د عرفات وقوف د جمعې په ورځ وي هغه حج پر او و يا حجونو باندي فضيلت لري او

په هغه حج کي د هر سړي ببله واسطې مغفرت کيږي، په دې اړه مختلف قولونه دي چي ايا د حج په وجه کبيره گناهونه ساقطيږي که څنگه؟ ، ځيني علماء وايي چي ساقط کيږي لکه څرنگه چي يو حربي کافر اسلام قبول کړي نو د هغه ټول گناهونه ساقط کيږي مگر د ځينو حضراتو قول دادی چي د حج په وجه حقوق الله معاف کيږي مگر د حقوق العباد معافي نه کيږي لکه څرنگه چي يو ذمي کافر اسلام قبول کړي نو د هغه د ذمې څخه حقوق الله ساقط کيږي مگر حقوق العباد نه ساقط کيږي .

قاضي عياض رحمة الله عليه فرمايي چي د ټولو علماؤ پر دې اتفاق دی چي گناه کبيره يوازي په توبې سره ساقط کيږي (محض د حج په وجه نه ساقط کيږي) او هيڅ يو عالم هم د حج په وجه د پور ساقط کېدو قائل نه دی که د هغه تعلق د الله تعالی سره وي لکه لمونځ، زکوة او داسي نور مگر د پور ادا کول يا دلمانځه په ادا کولو کي د تاخير گناه ضرور ساقط کيږي ، کوم علماء چي د گناه کبيره د ساقط کېدو قائل دي د هغوئ مراد هم دادی .

کعبې شريفي ته دننه داخلېدل مستحب دي په شرط د دې چي خپله هغه ته يا بل چا ته د هغه څخه تکليف ونه رسيږي د کعبې شريفې غلاف (پرده) د بني شيبه څخه رانيول جائز نه دي مگر امام يا د هغه د نائب څخه رانيول جائز دي ، د کعبې شريفې غلاف په جامو کي استعمالول جائز دي که څه هم جنب يا حائضه وي، که يو څوک په قتل کولو سره په حرم کي پناه واخلي نو هغه د قصاص په توگه قتل کول تر هغه وخته جائز نه دي تر څو چي هغه په حرم کي وي مگر که چيري قاتل يې په حرم کي قتل کړی وي نو د هغه هم په حرم کي قتل کول جائز دي مگر په کعبې شريفي کي دننه قاتل په دغه صورت کي هم قتلول جائز نه دي کله چي هغه په کعبه شريفه کي دننه قتل کړی وي .

د زمزم په اوبو سره استنجاء کول مکروه دي مگر غسل کول مکروه نه دي . لکه څرنگه چي مکه مکرمه د مدينې منورې څخه افضله ده مگر د مدينې منورې د مځکي هغه ټوټه چي په هغه کي رسول الله ﷺ تشريف فرما دی مطلقا افضل ده تر دې چي د کعبې، عرش او کرسي څخه هم افضله ده . د رسول الله ﷺ د روضې زيارت کول مستحب دي بلکه ځيني علماء وايي چي د هغه چا لپاره واجب دی چي هغه ته فراغت مسير وي ، د فرض حج د ادا کولو په صورت کي حج د روضې د زيارت څخه مخکي کول پکار دي مگر د نفل حج په صورت کي اختيار دی که د حج څخه مخکي يې وکړي او که زيارت مخکي وکړي په شرط د دې چي مدينه منوره په لاره کي نه وي که د مکې په لاره کي مدينه منوره وي نو بيا مخکي د روضې زيارت کول ضروري دي، د

روضې د زیارت سره د مسجد نبوي د زیارت نیت کول هم پکار دي ځکه د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي په مسجد نبوي کي د یوه لمونځ کول د مسجد حرام څخه پرته په نورو ټولو مسجدو کي د زرو لمونځو څخه غوره دی .

## د حج د ادا کولو طریقه

د حج د ادا کولو طریقه داده چي کوم خوشبخته ته الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د حج د سعادت توفیق ورکړي او هغه د حج اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چي خپل نیت صحیح کړي چي د هغه سره سم محض د الله تعالی رضا مندي او د فرض ادا کول مراد وي یو دنیوي غرض یا د ځان ښوونې تصور پکښې نه وي کنه نو ټول محنت به يې ضائع سي، بیا د خپل مور او پلار څخه د اجازې په اخیستلو سره د خپلو ټولو قریبانو او دوستانو څخه رخصت اخیستل او د هغوئ څخه د معافي په اخیستلو سره د خپل هیواد څخه په داسي وخت روان سي چي مکې مکرمې ته د اووم ذي الحجې څخه مخکي ورسیږي، او د اووم تاریخ خطبه واوریدل سي ، کله چي میقات ته ورسیږي (د پاکستان او هندوستان میقات یلملم دی) نو احرام دي وتړي ، که چیري مفرد وي نو یوازي د حج او که قارن وي نو د حج او عمرې دواړو او که متمتع وي نو یوازي د عمرې احرام دي وتړي ، مستحب دادي چي د احرام تړلو څخه مخکي د لاسو او پښو نوکان پرې کړي ، د نامه لاندي او د بغلو وېښتان پاک کړي که د سر خریلو عادي وي نو سر دي وخریي کنه نو وېښتان دي سم کړي او هغه دي ږمونځ کړي ، که ښځه ورسره ملګرې وي نو کوروالي دي وکړي بیا دي اودس وکړي یا غسل دي وکړي مګر غسل کول افضل دي ، ددې څخه وروسته د احرام جامه دي واغوندي یعني یو لونګ دي وتړي او یو څادر دي داسي واچوي چي سر يې خلاص وي دغه دواړي جامې که نوي وي نو افضل دي کنه پاکي جامې دي واغوندي ، که د چا سره دوې جامې نه وي نو یوه داسي جامه دي اغوستل هم جائز دي چي په هغه سره ستر پټ کړل سي او بیا دي خوشبويي ولګوي ددې څخه وروسته دي نیت وکړي که د قران اراده يې وي نو داسي دي ووایي : اللهم اني اريد الحج والعمرة فيسر هما لي وتقبلهما مني، که د تمتع اراده يې وي نو داسي دي ووایي : اللهم اني اريد العمرة فيسر ها لي وتقبلها مني، که د افراد اراده يې وي نو داسي دي ووایي : اللهم اني اريد الحج فيسره وتقبله مني، که د نیت پورتني الفاظ په ژبه سره ادا نه کړي بلکه په زړه کي نیت وکړي نو هم جائز دي ، د نیت څخه وروسته دي لبیک ووایي د حج یا عمرې په نیت سره به په لبیک ویلو سره محرم سي ، د

لبيک الفاظ دادي : لبيک اللهم لبيک لبيک لا شريک لک لبيک ان الحمد والنعمة لک
والملک لا شريک لک ، په دغه الفاظ، کي دي کمي نه کوي مگر زياتوب جائز دي، دا الفاظ
هم منقول دي چي د هغه په ويلو کي څه حرج نه سته : لبيک وسعديک والخير بيديک لبيک
والرغباء اليک والعمل لبيک لبيک اله الخلق لبيک، ددې څخه وروسته په اکثرو وختو کي
دي په لوړ آواز سره لبيک وايي په خاصه توگه د لمانځه څخه وروسته که فرض وي لمونځ وي
او که نفل ، د سهار په وخت کي په خپلو کي د ملاقات پر وخت ، پر لوړ ځای باندي د ختلو پر
وخت، يا پر کښته ځای باندي کښته کېدو پر وخت غرض دا چي د حج سفر د لمانځه په حکم کي
دی لکه څرنگه چي په لمانځه کي د هر حالت په تبديلۍ باندي تکبير ويل کيږي همدارنگه په
دغه سفر کي هم د هر حالت په تبديلۍ سره لبيک ويل پکار دي ، د احرام تړلو څخه وروسته هغه
د هغه ټولو شيانو څخه پرهيز کول ضروري دي کوم چي د احرام په حالت کي منع دي مثلاً
گنډلي جامې اغوستل لکه قميص، کوټ جبه، دست کلې، خولۍ او داسي نور دي نه اغوندي،
کومي جامې چي رنگ داره او خوشبوداره وي لکه زعفران وغيره کي رنگ سوي وي هغه دي
هم نه استعمالوي، مگر د پريوللو څخه وروسته چي د هغه څخه خوشبويي نه راځي استعمال يې
جائز دی ، سر او مخ دي په هيڅ شي سره نه پټوي ، ښځي دي نه وژني د ښځي سره دي نه
کوروالي کوي او نه دي هغه شيان کوي کوم چي د جماع باعث جوړيږي مثلاً مچه اخيستل، په
شهوت سره ښځي ته لاس وروړل يا د هغې په مخکي فحش خبري يا د جماع ذکر کول او داسي
نور، د فسق، فجور او د چا سره د جنگ او جگړې څخه دي پرهيز وکړل سي د صحرائي او
وحشي حيوانانو ښکار دي نه کوي تر دې چي محرم دي يو ښکار ته اشاره هم کوي او نه دي د
ښکار کونکي مرسته کوي، مگر د دريابي حيوانانو مثلاً د ماهي ښکار صحيح دي، خوشبويي
دي نه استعمالوي ، نوکان دي نه پرېکوي، د سر، ږيري بلکه د ټول بدن وېښتان دي نه کوچني
کوي نه دي يې خريي، او نه دي يې کاږي د سر او ږيري وېښتان دي د خطمې څخه پريولي البته
محرم غسل کولای سي په حمام کي داخليدای سي د کور او کجاوې په سايه کي کښېنستلای
سي ، هميانۍ (د روپو کڅوړه) تر ملا تړلای سي او د خپل دښمن سره دفاعي جنگ کولای سي
د احرام په حالت کي چي د کومو حيوانانو وژل جائز دي او د هغه د وژلو په وجه د جزاء توگه نه
دم لازميږي او نه صدقه هغه دادي : کارگه، تپوس، مار، لړم، مږه، شرموښکۍ، شرموښ،
گيدړه، مچ، ميږی، کربوړی، مچ موچۍ، غوماشه، حمله کونکی درنده او تکليف رسونکی ځناور.
کله چي مکې مکرمې ته نژدې سي نو غسل دي وکړي دا مستحب دی ، بيا په ورځ کي يو

وخت دي د باب المعلی څخه مکې مکرمې ته داخل سي او په خپل هستوګن ځای کي د خپل سامان په ایښودو سره تر ټولو مخکي دي د مسجد حرام زیارت وکړي ، مستحب دادي چي په مسجد حرام کي په لبیک ویلو سره او د باب السلام څخه داخل سي او هغه وخت دي ډېر د خشوع او خضوع حالت پر ځان خپور کړي او ددغه مقدم او باعظمته مقام د عظمت او جلال تصور دي په زړه کي راولي او د کعبې شریفې په نظر لګېدو سره څه چي وغواړي د خپل پروردګار څخه دي یې وغواړي بیا دي په تکبیر او تهلیل کولو سره حمد او صلوة ویلو سره د حجر اسود مخته راسي او هغه دي مچ کړي او د مچولو پر وخت دي خپل دواړه لاسونه داسي پورته کړي لکه څرنګه چي د تکبیر تحریمه پر وخت پورته کیږي ، که د رش په وجه حجر اسود مچولای نه سي نو حجر اسود ته په لاس وروړلو سره دي مچ کړل سي که ده هم ممکن نه وي نو په یو لرګي سره دي حجر اسود مسحه کړي او هغه دي مچ کړي او که دا هم ممکن نه وي نو بیا د دواړو لاسو په ورغوو سره دي حجر اسود ته اشاره کوي او هغه دي مچ کړي، د حجر اسود د استلام څخه وروسته دي د حجر اسود د خوا څخه د خپل راسته خوا څخه طواف قدوم شروع کړي ، په طواف کي اووه چکره (شوطه) کیږي او هر شوط دي پر حجر اسود باندي ختم کړي او د هر شوط ختمولو څخه وروسته دي په پورتنۍ طریقې سره د حجر اسود استلام او تکبیر او تهلیل وکړي ، په طواف کي دي مقیم هم شامل کړي په طواف کي دي اضطباع وکړي او په اولو درو چکرونو کي دي رمل وکړي او په هر چکر کي دي د رکن یماني استلام هم وکړي په دغه استلام کي د هغه مچول نه دي پکار ، د طواف کولو څخه وروسته دوه رکعته د طواف لمونځ دي مقام ابراهیم ته نژدې وکړي .

دا لمونځ د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد واجب دی، که چیري د رش په وجه دغه لمونځ مقام ابراهیم ته نژدې ممکن نه وي نو بیا په مسجد حرام کي هر چیري چي وغواړي هلته دي لمونځ وکړي ددغه لمانځه په اول رکعت کي د سورة فاتحې څخه وروسته قل یا ایها الکافرون او په دوهم رکعت کي قل هو الله احد ووایي ، او په دعاء کي چي څه غواړي د الله تعالی څخه دي یې وغواړي ددې څخه وروسته دي د زمزم څاه ته راسي او د زمزم اوبه دي په ماړه نس وڅښي ، بیا دي مقام ملتزم ته راسي او د حجر اسود استلام دي وکړي او حمد او ثناء دي ووایي او تکبیر او تهلیل دي ووایي او ددې څخه وروسته دي د صفا او مروه په مینځ کي سعي وکړي، د مفرد لپاره غوره داده چي هغه د طواف زیارت څخه وروسته سعي وکړي مګر که د طواف قدوم څخه وروسته یې وکړي نو څه پروا نسته .

**د سعي طريقه:** د سعي طريقه داده چي د مسجد حرام څخه په وتلو سره صفاء ته راسي او کله چي صفا ته وخيژي نو بيت الله شريفي ته دي مخامخ ودريږي او تکبير او تهليل دي وکړي درود شريف دي ووايي او د لاسو په پورته کولو سره دي روان سي کله چي وادي بطن ته ورسيږي نو د ميلين اخضرين په مينځ کي دي تيز تيز ولاړ سي او کله چي مروه ته وخيژي نو هلته دي تکبير او تهليل وکړي کوم چي په صفا کي يې کړي دي همدارنگه د صفا او مروه په مينځ کي دي اووه چکره پوره کړي د هر چکر شروع دي د صفا څخه کوي او ختم دي پر مروه باندي کوي او په هر چکر کي دي د ميلين اخضرين په مينځ کي تېز تيز ځي دا خبره دي په ذهن کي وي چي د سعي څخه مخکي طواف کول ضروري دي که يو څوک د طواف څخه مخکي سعي وکړي نو د هغه لپاره ضروري دي چي د طواف څخه وروسته بيا دوهم وار سعي وکړي ، دادي هم معلومه وي چي د سعي، وقوف عرفات، وقوف مزدلفه او رمي جمار لپاره پاکي شرط نه ده مگر افضل ده او حال دا چي د طواف لپاره طهارت شرط دی او د طواف او سعي پر وخت خبري کول مکروه دي ، کله چي د سعي څخه فارغ سي نو مسجد حرام ته په تلو سره دوه رکعته لمونځ دي وکړي چي کول يې غوره دي مگر واجب نه دي، ددې څخه وروسته دي په مکه کي تم سي او په دغه دوران کي چي څومره نفلي طوافونه کولای سي هغه دي وکړي مگر د نفل طواف په مينځ کي رمل او د هغه څخه وروسته سعي دي نه کوي ، بيا په اووم د ذي الحجې دي په مسجد حرام کي خطبه واوري په دغه خطبه کي چي د ماپښين د لمانځه څخه وروسته کيږي امام د حج احکام او مسائل بيانوي ، بيا که چيري احرام يې خلاص کړی وي نو پر اتم د ذي الحجې دي د حج د احرام په تړلو سره د لمر ختلو څخه وروسته منی ته روان سي .

که د ماپښين د لمانځه په کولو سره منی ته ورسيږي نو څه پروا نه سته شپه دي په منی کي تېره کړي او د عرفات په ورځ يعني پر نهم تاريخ دي د سهار لمونځ په اول وخت کي وکړي او د لمر ختلو څخه وروسته دي عرفات ته ولاړ سي که څوک پر اتم تاريخ منی ته ولاړ نه سي بلکه پر نهم تاريخ عرفات ته ورسيږي نو دا هم جائز دي مگر د سنت خلاف کار دی ، په عرفات کي د بطن عرنه څخه پرته کوم ځای چي غواړي تم دي سي مگر جبل عرفات ته نژدې تم کېدل افضل دي بيا په هغه ورځ د لمر د زوال څخه وروسته دي غسل وکړي (چي سنت دی) او په عرفات کي دي وقوف وکړي (چي فرض دی او د هغه څخه پرته حج نه صحيح کيږي) ، امام چي کومه خطبه وايي هغه دي واوري او د امام سره د احرام د شرط پرته د ماپښين او مازديگر لمونځونه دي په

يوه وخت كي وكړي او د جبل رحمت سره په درېدو په ډېر خشوع او خضوع سره تكبير، تهليل او تسبيح وكړي د الله تعالى ثناء دي ووايي پر رسول الله ﷺ دي درود شريف ووايي او د خپل ځان او ټولو خپلوانو او دوستانو لپاره دي استغفار وكړي او د ټولو ديني او دنيوي مقاصدو لپاره دي دعاء وغواړي، بيا د لمر لوېدو څخه وروسته دي د امام سره مزدلفې ته روان سي او په استغفار، لبيک، حمد، صلوة او اذكارو كي دي بوخت اوسي، مزدلفې ته په رسيدو سره دي د امام سره د ماښام او ماخستن لمونځ يو ځاى وكړي او د شپې دي هلته پاته سي ځكه چي د شپې هلته پاته كېدل واجب دي او ټوله شپه په لمانځه، تلاوت، ذكر او دعاء كي بوخت كېدل مستحب دي، كله چي سهار سي نو پر لسم د ذي الحجې دي د سهار د لمونځ په اول وخت كي وكړي او هلته دي وقوف وكړي په مزدلفه كي د بطن محسر څخه پرته چيري چي وغواړي وقوف كولاى سي د دغه وقوف په حالت كي په ډېري عاجزۍ او زارۍ سره خپل ديني او دنيوي مقاصدو لپاره د الله تعالى څخه دعاء غوښتل پكار دي،

د لمر ختلو څخه لږ مخكي دي وقوف ختم كړي بيا چي كله ښه رڼا سي نو د لمر ختلو څخه مخكي منى ته په رسيدو سره دي جمرة العقبه په اووه ډبرو وولي او د اولي ډبري ويشتلو پر وخت دي تلبيه موقوف كړي، ددې څخه وروسته دي قرباني وكړي بيا دي سر وخريي يا وېښتان دي كوچني كړي ددې څخه وروسته هغه ټول شيان چي د احرام په حالت كي منع وه پرته د رفث څخه جائز كيږي بيا د اختر لمونځ په منى كي په كولو سره په هغه ورځ دي مكې ته راسي او طواف زيارت دي وكړي د دغه طواف څخه وروسته رفث هم جائز كيږي، د طواف زيارت څخه وروسته دي بېرته منى ته راسي او په شپه كي دي هلته قيام وكړي پر يوولسم تاريخ دي د درو سره جمراتو رمي وكړي په دې توګه چي اول هغه جمره په اوو ډبرو وولي كوم چي مسجد خيف ته نژدې ده او هغه ته جمره اولى وايي ددې څخه وروسته دي هغه جمره چي هغه ته نژدې ده او هغه ته جمره وسطى وايي په اوو ډبرو وولي بيا دي په سپرېدو سره يا پر پښو باندي جمره عقبه په اوو ډبرو وولي او د هري ډبري ويشتلو پر وخت دي تكبير (الله اكبر) وايي، همدارنګه په دوولسم تاريخ دي درې سره جمرات په ډبرو وولي او په ديارلسم تاريخ كه په منى كي قيام وي نو په هغه ورځ دي بيا ددرو سره جمراتو رمي پر هغه واجبيږي او كه پر دوولسم تاريخ د منى څخه رخصت سو نو بيا پر هغه باندي په ديارلسم تاريخ رمي نه واجبيږي، په يوولسم، دوولسم او ديارلسم تاريخو كي د رمي وخت د لمر دزوال څخه وروسته دى مګر په ديارلسم تاريخ د صبح صادق راختلو څخه وروسته او د لمر د زوال څخه مخكي هم كه رمي وكړل سي نو جائز ده

مګر سنت د لمر دزوال څخه وروسته دی په یوولسم او دوولسم تاریخو کي د لمر دزوال څخه مخکي رمي جائز نه ده، په اخري ورځ د رمي څخه د فارغه کېدو وروسته دي مکې ته روان سي او په لاره کي دي د لږ وخت لپاره په محصب کي تم سي بیا چي د مکې مکرمې څخه خپل هیواد ته روان سي نو طواف وداع دي وکړي په دغه طواف کي هم رمل او د هغه څخه وروسته سعي نه سته ، د طواف څخه وروسته د دوه رکعته لمونځ کولو سره دي د زمزم پاکي اوبه وڅښي او هر وار دي کعبې شریفي ته په کتلو سره په حسرت سره آه وکړي او دغه مبارکي اوبه دي پر مخ ، سر او بدن و موږي.

بیا دي د کعبې شریفي خوا ته راسي که ممکن وي په بیت الله شریف کي دي داخل سي او که ممکن نه وي نو د هغه مقدس پرده دي مچ کړي او خپله سینه او مخ دي پر ملتزم باندي کښېږدي او د کعبې شریفي د پردې په نیولو سره دي دعاء وکړي او وه دي ژاړي او دغه وخت هم تکبیر، تهلیل، حمد، ثناء، دعاء او استغفار کي بوخت کېدل پکار دي او د الله تعالی څخه د خپل مقاصدو د تکمیل لپاره دي دعاوي وکړي ددې څخه وروسته دي کعبې شریفي ته په شا تلو سره د مسجد حرام څخه دباندي ووځي (یعني کعبې شریفي ته په مخ کولو ووځي) . د حج ټول افعال ختم سوه .

**عمرې احکام :** عمره واجب نه ده بلکه په عمر کي یو وار سنت مؤکد ده، د عمرې لپاره د یو خاص زمانې شرط نه سته لکه څرنګه چي د حج لپاره دی بلکه کوم وخت چي وغواړي عمره کولای سي، همدارنګه په کال کي څو واره هم عمره کېدای سي البته غیر قارن ته د حج په ورځو کي عمره کول مکروه دي، د ایام حج اطلاق د عرفات پر ورځ، پر یوم نحر او ایام تشریق باندي کیږي د عمرې رکن طواف دی او په عمرې کي دوه شیان واجب دي یو خو د صفا او مروه په مینځ کي سعي او دوهم سرخریل یا وېښتان کوچني کول کوم شرطونه، سنتونه او ادبونه چي د حج دي هغه د عمرې هم دي .

**د جنایاتو احکام :** د حج په بیان کي جنایات هغه حرام کار ته وایي چي د هغه حرمت د احرام یا حرم په وجه وي او د هغه په کولو سره یو شی مثلا قرباني یا صدقه د جزاء په توګه واجبیږي ، ددې تفصیل داسي دی که چیري محرم پر خپل پوره اندام باندي خوشبویي ولګوي یا د یو خوشبویي لرونکي شي په خوړلو سره خوله خوشبوداره کړي په شرط ددې چي هغه خوشبویي خالص وي او په هغه کي د یو بل شي ګډون نه وي یا نکریزي استعمال کړي که په سر کي یې

ولګوي او كه په ږيره، لاس، پښې وغيره كي، يا د زيتون تېل ولګوي يا يوه پوره ورځ ګنډل سوي جامې استعمال كړي يا د يوه بغل پوره وېښتان يا د نامه لاندي وېښتان يا د غاړي وېښتان ليري كړي يا د دواړو لاسونو يا دواړو پښو يا د يوه لاس او يوې پښې نوكان پرې كړي يا طواف قدوم يا طواف صدر د جنابت په حالت كي وكړي يا طواف زيارت بې اودسه وكړي يا د عرفات څخه د امام تر مخه راسي يا سعي پرېږدي يا وقوف مزدلفه پرېږدي يا د ټولو ورځو رمي يا د يوې ورځي يا د اولي ورځي رمي ونه كړي يا د حلق او تقصير څخه پرته د حرم څخه د باندي راوو ځي يا د احرام په حالت كي د خپل ښځي څخه مچه واخلي يا هغه په شهوت سره مس كړي يا حلق، تقصير، طواف زيارت د ايام نحر د تېرېدو څخه وروسته وكړي يا د حج د واجب افعالو ترتيب بدل كړي مثلاً د قرباني كولو څخه مخكي سر وخريي نو په دغه ټولو صورتو كي د جزاء په توګه يوه قرباني واجبېږي.

او كه محرم تلبيه وكړي يعني د خپل سر وېښتان په كونډرو وغيره لګولو سره ومونښلي يا د قارن كېدو په صورت كي د قرباني څخه مخكي حلق يا تقصير وكړي نو پر هغه دوې قرباني واجبېږي او كه محرم د يوه اندام څخه كم خوشبويي استعمال كړي يا د يوې ورځي څخه كم خپل سر پټ كړي يا ګنډلي جامې واغوندي يا د سر او ږيري د څلورمي برخي څخه كم وخريي يا ښځه نوكان كم پرې كړي يا پنځه نوكان په مختلفو مجلسو كي پرې كړي يا طواف صدر يا طواف قدوم بې اودسه وكړي يا د يوم نحر څخه وروسته د درو جمراتو څخه د يوه جمره رمي ترک كړي نو په دغه ټولو صورتو كي پر هغه صدقه واجبېږي چي د هغه مقدار نيم صاع غنم دي، كه محرم د يو عذر يا ناروغي په وجه خوشبويي استعمال كړي يا سر وخريي يا ګنډلي جامې واغوندي نو په دغه صورتو كي هغه ته اختيار دی كه يو پسه ذبح كړي او كه شپږو مسكينانو ته د صدقه فطر په اندازه صدقه وركړي او كه پرله پسې يا بې ترتيبه روژې ونيسي. د خوشبويي يا خوشبويي لرونكي ګل يا ميوې په بويولو سره پر محرم باندي هيڅ نه واجبېږي مګر مكروه كار دی. كه يو محرم شپږه مړه كړي نو د صدقې په توګه لږ د خوراک شی مثلاً يو موټ اوړه دي وركړي په شرط د دې چي هغه شپږه د خپل بدن يا سر جامې وغيره څخه را وباسي او مړه يې كړي او كه پر مځكه يې ونيسي مړه يې كړي نو پر هغه باندي هيڅ نه واجبېږي او كه چيري هغه خپل جامې په لمر كي په دې نيت وچوي چي په هغه كي شپږي مړې سي او بيا ډيري شپږي مړې سي نو پر هغه باندي نيم صاع غنم صدقه كول واجبېږي مګر كه چيري د جامو وچولو په نيت يې لمر ته كښېږدي او شپږي وژل د هغه مقصد نه وي نو په دغه صورت كي پر هغه باندي هيڅ نه

واجبيږي ، كه چيري محرم ښكار وكړي يا يو چا ته د ښكار لاره وښيي يا ښكار ته يو څوک متوجه كړي نو پر هغه باندي د جزاء په توګه د هغه ښكار قيمت واجبيږي چي دوه عادل كسان يې قيمت وټاكي او دا قيمت په هغه اعتبار دی كوم ځای چي يې ښكار كړی دی يا د هغه نژدې ځای په اعتبار دی ، په دې اړه به محرم ته اختيار وي كه په هغه قيمت د قرباني يو څاروی رانيسي او ذبح يې كړي او كه په هغه قيمت سره غنم وغيره رانيسي او مسكينانو ته يې د صدقه فطر په اندازه وويشي او كه وغواړي نو د هر فقير د صدقې د مقدار په عوض كي دي يوه يوه روژه ونيسي .

په پای كي دا خبره ښوول هم ضروري ده چي ددغه ټولو جنايا تو په كولو كي قصد ، اضطرار ، علم ، لا علمي ، رغبت او جبر ټول برابر دي يعني كه چيري محرم د احرام د منع شيانو څخه يو فعل وكړي نو پر هغه باندي په هر صورت كي جزاء واجبيږي كه د هغه څخه دغه فعل په قصد سره سوی وي او كه بېله قصده د هغه په علم سره سوی دی او كه د هغه د لاعلمۍ په وجه او هغه فعل په رغبت سره سوی وي يا د بل چا په زور سره .

## د روضې مطهرې د زيارت احكام او ادبونه

څوک چي حج ته ولاړ سي نو هغه ته پكار دي كه چيري فرض حج وي نو مخكي دي د خپل حج څخه فارغ سي بيا د روضې مطهرې د زيارت لپاره مدينې منورې ته ولاړ سي او كه حج نفل وي نو هغه ته اختيار دی چي مخكي زيارت وكړي د هغه وروسته حج وكړي او مخكي حج وكړي بيا د هغه وروسته زيارت وكړي په شرط ددې چي د حج لپاره مكې ته تلونكې لار د مدينې منورې څخه نه وي ، كله چي زيارت ته ولاړ سي نو دا نيت دي وكړي چي زه د رسول الله ﷺ د قبر مبارک او د رسول الله ﷺ د مسجد شريف (مسجد نبوي) د زيارت لپاره سفر كوم ، په لاره كي چي څومره مسجدونه راسي په ټولو كي دي لمونځ وكړي ، په لاره كي دي درود شريف وايي كله چي مدينې منورې ته نژدې ورسيږي نو ددغه مقدس ښار عظمت او بزرګي دي په خپل زړه كي ځای كړي .

كله چي مدينه منوره بالكل مخامخ سي نو د ادب په خيال او د شوق په مقتضا سره دي د خپل سپرلۍ څخه كښته سي او كه ممكن وي نو د هغه ځای څخه دي تر مسجد شريف پوري په پښو ولاړ سي ، د ښار په حدودو كي د داخلېدو څخه مخكي كه چيري ممكن غسل دي وكړي او كنه نو په اودس كولو سره دي سپيني جامې واغوندي خوشبويي دي ولګوي ، ښار ته دننه په رسېدو سره تر ټولو مخكي دي مسجد نبوي ته ولاړ سي په مسجد نبوي كي د داخلېدو څخه

مخکې که غسل وکړې نو غوره ده کنه اودس دې وکړي او خوشبويي دې ولګوي، مسجد نبوي ته په رسیدو سره دې تحية المسجد او د شکر لمونځ وکړي، ددې څخه وروسته دې په تصور او یقین سره د قبر مبارک زيارت ته متوجه سي چې زه د هغه باعظمت په دربار کې حاضرېږم چې د هغه په وړاندې د ټولي دنیا د پاچاهانو هم څه وقعت نسته.

بیا قبر مبارک ته په راتلو سره دې په ډېره خشوع او خضوع سره د لمانځه په ډول راسته لاس پر چپه لاس ایښودو سره ودرېږي چې حضرت سید البشر ﷺ ته مخامخ وي او قبلې ته شا او ددې خبرې یقین دې وکړي چې رسول الله ﷺ زما د حاضرېدو څخه خبر دی زما د سلام جواب راکوي او زما پر دعاء آمین وایي او بیا دې په ډېر ذوق او شوق سره په معتدل آواز سره سلام او صلوة وړاندې کړي او عرض او معروض دې وکړي کله چې د خپل عرض او نیاز څخه فارغه سي نو د خپل ټولو قریبانو او دوستانو چا چې د سلام خواست کړی وي د هغوئ سلام دې د رسول الله ﷺ په خدمت کې د هغه له طرف څخه ادا کړي چې اې د الله رسوله! فلاني زوی د فلاني تاسو ته سلام کړی دی تاسو د هغه لپاره الله تعالی ته شفاعت وکړئ، ددې څخه وروسته دې د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ او بیا د حضرت عمر فاروق ﷛ د سر مبارک په مخکې کې ودرېږي او د هغوئ په خدمت کې دې سلام عرض کړي، ددې څخه وروسته دې بیا د رسول الله ﷺ د سر مبارک په مخکې په ادب سره ودرېږي او په ډېر زوق او شوق سره دې د رسول الله ﷺ په خدمت کې سلام عرض کړي او کوم خواهش چې لري هغه دې د رسول الله ﷺ په طفیل د الله تعالی څخه وغواړي، د هغه څخه وروسته د حضرت ابولبابه ﷛ د ستنې سره چې څومره ممکن وي نفلونه وکړي او توبه او استغفار دې وکړي، ددې څخه وروسته دې د نبوي آثارو زيارت وکړي کوم چې معلمین یې ور ښیي او جنت البقیع ته دې ولاړ سي هلته دې د صحابه کرامو او اهل بیتو د قبرو مبارکانو زيارت وکړي،

بیا دې د شهداء اُحد په خاصه توګه د سید الشهداء حضرت امیر حمزه ﷛ د قبر زيارت وکړي او پر ټولو شهیدانو او مزارو دې فاتحه ووايي او شنبې په ورځ یا کومه ورځ چې ممکن وي د مسجد قباء زيارت دې وکړي او دوه رکعته لمونځ دې د تحية المسجد په نیت وکړي،

د مدینې منورې او روضې مبارکې ادبونه دادي چې څومره ورځې په مدینه منوره کې قیام کېدای سي هغه دې غنیمت وګڼي حتی الامکان خپل اکثر وخت دې په مسجد نبوي کې د اعتکاف په نیت تېر کړي هر ډول عبادت یعني لمونځ، روژه، تلاوت، درود، صدقه او خیرات سره دې خپل وختونه اباد کړي، تر څو چې په مسجد نبوي کې وي حجرې شریفې ته دې په ډېر

شوق سره ګوري او که د مسجد نبوي څخه د باندي وي نو د احترام او تعظيم په نظر او په خشوع او خضوع سره دي قبه شريفي ته ګوري ځکه د رسول الله ﷺ پر روضه مبارکه باندي نظر اچول استحبابا د کعبې شريفي د نظر کولو په حکم کي دی ، او د منار څخه د باندي پر قبه شريفه باندي په نظر کولو سره اهل شوق ته چي کوم نورانيت او خوشحالي تر لاسه کيږي د هغه ادراک پر هغه حالت باندي موقوف دی کوم چي د الفاظو په ذريعه څرګند کيدای نه سي . شعر :

زوق اين مي نشناسي بخدا تا نه چشي

په مسجد نبوي کي چي څومره د شب بيداري سعادت تر لاسه سي که څه هم د يوې شپې برخه وي د هغه څخه دي فائده تر لاسه کړي ځکه چي دا د شب قدر په اعتبار د شب قدر څخه کمه نه ده بلکه د هغه څخه هم زياته ده ځکه دغه يوه شپه د خپل ټول عمر ماحصل او خلاصه ګڼلو سره په عبادت کي تېره کړي ، غوره داده چي په دغه شپه کي بل يو عبادت نه کوي بلکه يوازي درود شريف وايي او که خوب ورسي نو د رسول الله ﷺ د جمال يا کمال سرور په تصور کولو سره دي خوب دفع کړي کله چي د رسول الله ﷺ د جمال يا کمال تصور د هغه زړه او دماغ ته د حصورۍ د کيف سرور و بخښي نو بيا نه خوب پاته کيږي نه غفلت، شعر :

قرار چيست صبوري کدام وخواب کجا .

تر څو چي په مسجد نبوي کي وي نو بايد خپل زړه، ژبه او ټول اندامونه د خرابو کلمو او خيالو څخه وساتي او د رسول الله ﷺ د حصورۍ د تصور څخه بل هيڅ طرف ته متوجه نه سي که څوک د هغه په بوختيا کي مُخل سي نو د هغه څخه دي کناره کشي اختيار کړي مګر که د يو چا سره ضروري خبره کول وي نو په مختصره توګه خبرو کولو سره دي هغه مقدس ځای ته متوجه سي ، د مسجد شريف د ادابو بايد په خاصه توګه خيال وساتل سي د توکلو وغيره څخه دي ځان وساتل سي مسجد ته د راتلو څخه مخکي دي د روضې مبارکي او منبر په مينځ کي خپل مصلی د مخکي څخه نه غوړوي بلکه په هغه مقدس ځای کي د لمانځه د ادا کولو د فضيلت د حصول چي کوم شوق وي نو تر ټولو مخکي دي مسجد ته د رسېدو هڅه کوي او هلته دي کښيني ، په دغه مقدس مسجد کي د قرآن کريم د نزول او د جبرائيل ﷺ ځای دی د قرآن کريم په ختمولو کي دي کوتاهي نه کوي کم از کم يو قرآن کريم دي په دغه مسجد کي خامخا ختم کړل سي او که ممکن وي نو داسي کتابونه دي وايي چي په هغه کي د رسول الله ﷺ مبارک حالت ، خصائل او فضائل وي تر څو د رسول الله ﷺ د ملاقات او عبادت شوق يې زيات سي .

د قبر شریف مخته چي کله حاضریږي نو د ټولو ادبونو خیال دي ساتي او د رسول الله ﷺ په خدمت کي دي سلام او صلوة وړاندي کړي ، په مدینه منوره او مسجد نبوي کي د اوسیدونکو او خدمتګارو د محبت او تعظیم دي خیال ساتي که څه هم په هغوئ کي یو خبره د شریعت او سنت خلاف وي ځکه د رسول الله ﷺ د همسایتوب شرف د هغوئ تر ټولو لوی فضیلت دی چي د یو ګناه او بدعت په وجه ختمیدلای نه سي او هغوئ د حسن خاتمې او مغفرت د سعادت څخه نه محروم کوي.

## وطن ته ستنېدل، د حج د دعاوو تفصیلي بیان او د کتاب خاتمه

کله چي په مدینه منوره کي د قیام وخت ختم سي او د دغه مقدس ځای څخه په بېلېدو سره خپل هېواد ته د روانېدو اراده وکړي نو د نبي کریم ﷺ پر مصلی یا هغه ته نژدې دي په لمانځه کولو سره او دعاء کولو سره د مسجد نبوي څخه رخصت سي ددې څخه وروسته دي د رسول الله ﷺ، د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه زیارت وکړي او د الله تعالی څخه دي نه یوازي دځان لپاره بلکه د خپل قریبانو، دوستانو، خپل هېواد او د ټولي اسلامي نړۍ لپاره د کونین د سعادت ، د امن او سلامتۍ دعاوي وغواړي او د خپلو ټولو عبادتو د قبولیت او خپل کورنۍ ته په امن او سلامتۍ سره د رسیدو خواست دي وکړي او دغه دعاء دي ووايي :
اللهم انا نسالک في سفرنا هذا البر والتقوی ومن العمل ما تحب وترضی اللهم لا تجعل هذا آخر العهد بنبیک ومسجده و حرمه ویسرلي العود الیه والعکوف لدیه وارزقني العفو والعافیة في الدنیا والاخرة ورددنا الی اهلنا سالمین غانمین آمنین.

دا خبره دي په ذهن کي وي چي د دعاء د مقبولیت او د مقصد د تر لاسه کېدو نښه داده چي هغه وخت بې اختیاره د سترګو څخه اوښکي جاري سي او زړه د دغه مقدس ځای په بېلوالي باندي د افسوس او غم څخه معموره وي بلکه په حقیقت کي ټول وختونه په دعاء کي ژړا او زارۍ د ذوق د تر لاسه کېدو باعث او د رحمت د امیدوارۍ نښه ده . شعر:

این دلم باغست وچشمم ابروش ابر گرید باغ خند وشاد و خوش

هغه وخت که خدای مه کړه پر یو چا باندي د ژړا حالت خپور نه سي نو هغه دي په تکلف سره پر ځای باندي دغه حالت جاري کړي او د هغه خبرو تصور دي وکړي چي د ذوق او ژړا حالت پیدا کړي ځکه چي دغه وخت د ژړا حالت په هر صورت د قبولیت علامه ده او بیا د هغه ځای د بیلتون څخه به سترګي لندې او په ژړا او افسوس سره رخصت کېدو پر وخت به پرشا نه ستنیږي ځکه

چي دا يوازي د کعبې شريفي سره خاص دی او د رخصت کېدو په وخت کي چي څومره کېدای سي صدقه او خيرات دي وکړي او د هغه ټولو ادبونو خيال دي وساتي کوم چي د سفر څخه د ستنېدو پر وخت منقول دي او بيا چي کله خپل ښار ته نژدې راورسيږي نو دغه دعاء دي وکړي :

اللهم اني اسئلک خيرها وخير اهلها وخير مافيها واعوذبک من شرها وشر اهلها وشر ما فيها اللهم اجعل لنا بها قرارا و رزقا حسنا.

او کله چي ښار ته ورسيږي نو دغه دعاء دي وکړي :

لا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدير آئبون تائبون عابدون ساجدون لربنا حامدون لا الا الا الله وحده صدق وعده ونصر عبده وهزم الاحزاب وحده واعز جنده فلا شئ بعده.

پکار دي چي خپل ښار او سرای ته د رسيدو څخه مخکي خپل خپلوان او دوستان خبر کړي چي زه پر فلاني وخت را رسيدونکی يم بېله خبره ورکولو دي کور ته نه ځي او خپل ښار ته د رسېدو غوره وخت د څاښت وخت دی د ماښام په وخت کي دي نه رسيږي بيا چي کله خپل ځای ته ورسيږي نو په سرای کي د ننه کېدو څخه مخکي که مکروه وخت نه وي نو خپل مسجد ته دي ولاړ سي هلته دي دوه رکعته نفل وکړي دعاء دي وغواړي او په خير او عافيت باندي خپل هيواد ته پر رسيدو باندي دي د الله تعالی شکر ادا کړي او دغه دعاء دي وکړي :

الحمد لله الذي بنعمته وجلاله تتم الصالحات.

صلی الله تعالی علی خير خلقه محمد وعلی آله واصحابه اجمعين

برحمتک يا ارحم الراحمين



